إِنَّ اللّٰهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ

# د قرآن پلوشې

## لومړی جلد

## حکمتیار


بسم الله الرحمن الرحيم

**د کتاب پېژندنه:**

نوم: د قرآن پلوشې اول جلد

ليکوال: حکمتيار

دوهمه طبع: ثور ۱٤۰۳

د چاپ شمېره: ۱۰۰۰ جلده

د پېر بيه: ۱۸۵ افغانۍ

**د چاپ ټول حقوق محفوظ دي**

د ميثاق ايثار نشراتي اداره

کابل - دارالامان

Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷

# د قرآن پلوشې

## لومړی جلد

## حکمتيار

د حزب اسلامي افغانستان  امير

## فهرست

| عنوان | صفحه |
| --- | --- |


ځو مقدماتي خبري ---------------------------------------------------------- ۱
الفاتحة -----------------------------------------------------------------۱۷
البقره -------------------------------------------------------------------٤۱
آل عمران ------------------------------------------------------------- ۲٤۲
النساء ---------------------------------------------------------------- ۳۷٤
دې پوښتنې ته ځواب: ادراك او احساس د زړه كار دئ كه د دماغ؟ -------- ۵۲۱

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

# څو مقدماتي خبري

الحمد للّٰهِ وَ کَفَی وَ سَلامٌ عَلی عِبادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفَی و بعد:

د الله تعالی همغسي حمد او ثناء وايو چي د ده له عظمت سره ښايي؛ د ټولو بې شمېره نعمتونو ئې، په ځانګړې توګه د هغي ستري پېرزويني له امله چي د عظيم الشأن قرآن په بڼه کې ئې پر موږ پيرزو کړی، د خپل مهربان رب په وړاندي تل د دعاء لاسونه لوړولو چي د دې ځلانده لارښود کتاب په لارښوونو د ښه پوهېدا او سم عمل توفيق او سعادت راپه برخه کړي؛ همغسي لکه چي رسول الله صلی الله عليه و سلم او د ده مخلصو يارانو ته ئې ورپه برخه کړ او په همدې قرآن سره وتوانېدل، په لنډې مودې کې د نړۍ لويه برخه؛ د کفر، شرك، ظلم، جهل او فساد له منګولو وژغوري؛ د يوه ستر او سرلوړي امت بنسټ کښېږدي او دومره عظيم او ځواکمن حکومت رامنځته کړي چي په بشري تاريخ کې ئې بېلګه او مثال نه شو موندلی. اما بعد:

د دې کتاب متن ته تر ننوتو وړاندي څو خبرو ته د ګرانو لوستونکو پام رااړوم:

قرآن د الله کتاب دئ، د انسانانو د لارښووني لپاره ئې لېږلی، واضح او آسان کتاب، د خپل مخاطب د فهم مستوی ته (رانازل: راټيټ) شوی، لومړی حامل ئې هغه پيغمبر دئ چي ليك لوست ئې نه وو کړی او په هغه قوم کې مبعوث شوی وو چي په ليك لوست نه پوهېدل، همدا امي قوم په دې قرآن پوه شو، په دې ئې ايمان راوړ، دا ئې ځان ته لارښود کړ، له پلار نيکه ورته پاته دين، مذهب، دود دستور، افکار او اخلاق، فردي او اجتماعي سلوك او هر زوړ رسم او رواج ئې پرېښود، خپل هر څه ئې د قرآن په قالب کې واچول او هر هغه څه ئې لري وغورځول چي له قرآن ئې مخالف موندل. نه يوازي په خپل کور، کلي او ټولني کې ئې قرآن حاکم کړ بلکي د دې لپاره ئې ملا وتړله چي د قرآن بيرغ له شرق تر غرب پوري د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ورپوي. د نړۍ له سترو سترو ځواکونو سره ډغري ووهي، انسان د انسان له بندګۍ وژغوري، غلامان او مظلومان آزاد کړي، د هر مظلوم خوا

ته ودرېږي او د هر ظالم مقابله وکړي، د ظلم ټغر ټول او په ټولي نړۍ کي عدالت قائم کړي. دوی داسي ستر کار ته ملا وتړله چي هيچا ئې تصور نه شو کولی، دا د مهاجرينو يو وړوکی ټولگی وو، له خپل کور کلي شړل شوي او د مدينې په ښار د يوه واړه کلي يوې برخي اوسېدونکو ورته پناه ورکړې وه، هيچا دا گمان نه شو کولی چي دوی به د خپلو ځواکمنو مخالفينو مخي ته تر اوږدې مودې مقاومت وکولی شي، له يوې خوا به د دوی په پرېشان او دردوونکي حالت د هر چا رحم راتلو او له بلي خوا به ئې د دوی دې خبرو ته حيران حيران کتل چي الله تعالی به دا دين پر ټولو اديانو غالبوي او چي چا به په ټوکو ټوکو وپوښتل: په روم او فارس هم؟ نو دوی به له ځنډه پرته ځواب ورکړ: هو په الله قسم چي پر روم او فارس هم، ډېرو ته دا د جنون او ليونتوب خبري او د غمونو په وخت کي غولوونکي رنگين خوبونه معلومېدل، خو الله د دوی دا ټولي خبري او دا رنگين خوبونه رښتيا کړل، د دې تحريك له شروع لا ډېر وخت نه وو تېر شوی او د مخکښانو له ډلي ئې لا ډېر ژوندي وو چي نه يوازي د حجاز پراخه زمکه د دوی په لاس فتح شوه بلکي د روم او فارس د مغرورو واکمنانو ماڼۍ ئې هم تصرف کړې او په خپلو سترگو ئې د کسری او قيصر په ډېرو ماڼيو د اسلام بيرغ رپانده وليد او الله تعالی دوی ته دا توفيق ورکړ چي له شرق تر غرب پوري؛ د نړۍ په گوټ گوټ کي د قرآن بيرغ ورپوي. د دوی د دې حيرانوونکيو برياوو عامل څه وو؟ له دوی سره څه وو چي نورو نه درلودل او د همدې په وجه دوی غالب شوي او مخالفينو ئې ماته خوړلې؟ د دې پوښتني لپاره له دې پرته بل ځواب نه شو موندلی چي له دوی سره د قرآن په څېر هغه کتاب وو چي نورو نه درلود، همغه عظيم قرآن د دوی د بريا، عزت، سرلوړۍ او پر ټولو دښمنانو د غلبې اصلي او اساسي عامل وو. همدغه قرآن له يوه جاهل او ناپوه قوم داسي سرلوړی او فاتح امت جوړ کړ چي د ټولي نړۍ قيادت ئې په لاس کي پرېووت، هم له فکري او اخلاقي لحاظه د خلکو امامت او زعامت وروسپارل شو او هم له سياسي او نظامي پلوه د نړۍ په ستري او پراخي برخي مسلط شول او د مدينې هغه وړوکی کلی د يوه داسي ستر ملك په پلازمېني بدل شو چي له هند تر مراکش پوري او له اسپانيا تر يمن پوري غځېدلی وو، هومره ستر چي د پرون ورځي د فارس امپراطوري ئې يو ولايت شو او د روم له ستري امپراطورۍ د زمکي يوه وړه ټوټه پاته شوه. دا همغه قوم وو چي په قرآن له ايمان مخکي ئې د بتانو عبادت کاوو، خپلي لوڼي ئې ژوندۍ ښخولې، په داخلي خونړيو جگړو کي ښکېل ول، روم او فارس ته ئې جزيې ورکولې، روميان او فارسيان به د دوی بازارونو ته د غلامانو د اخيستلو لپاره راتلل، د يوه مريي بيع د يوه کس د يوې مياشتي تر خوراك کمه وه، د ښه او مضبوط غلام

بيع تر ډنگر آس کمه وه!!

هر څوك په دې پوهېږي چي له پيغمبر عليه السلام سره نه فوځ وو، نه وسائل، نه مال او دولت، نه قومي او اجتماعي نفوذ، فقط دغه قرآن ورسره وو؟ هغه مبارك خو هم دوست او هم دښمن ته، هم مخالف او هم موافق ته، هم عرب او هم عجم ته، هم امي او هم په ليك لوست پوه ته، هم مشرك او هم اهل كتاب ته، يوازي او يوازي قرآن وړاندي كړی، د ده او د ده د يارانو هم بلنه او دعوت قرآن ته وو، هم ئې د بحث او مناقشې موضوع قرآن وو او هم ئې د قضاوت او حكم مرجع قرآن، هغه مبارك خو خپل ياران د احاديثو له ليكلو هم منع كول، نه د دې لپاره چي قرآن له بل څه سره خلط نه شي، بلكې د دې لپاره چي له قرآن توجه او اهتمام بلې خوا ته وانه وړي، د ده احاديث د ده له رحلت نژدې دوه سوه كاله وروسته راغونډ او وليكل شول. ده سلمان فارسي، صهيب رومي او بلال حبشي ته هم قرآن وركړی، دوی ته ئې هم نه وو ويلي چي لومړی عربي او صرف او نحو ئې زده كړئ، په رياضي، فلسفه، منطق او حكمت پوه شئ، بيا راشئ چي قرآن دروښيم. برعكس دوی ته ئې لومړۍ بلنه او لومړی درس قرآن وو.

صحابه وو په قرآن اكتفاء كوله، هغه ئې په هر څه كې كافي گڼو، په هغه پوهېدل، د هغه په هري وينا ئې ايمان وو او په هغه ئې عمل كاوو، د قرآن حرف حرف به ئې د زړه په غوږونو اورېدو او له اورېدو سره سم به ئې سملاسي په هغه د عمل كولو ټينگ هوډ كاوو. كله چي ئې د قرآن دا آيت واورېدو:

هُوَ الَّذِی أَرْسَلَ رَسولَهُ بِالْهُدَی وَ دِینِ الْحَقِّ لِیُظهِرَهُ عَلی الدِّینِ كلِّهِ وَ لَوْ كرِهَ الْمُشرِكُونَ﴿٩﴾ الصف

او الله هغه ذات دئ چي خپل پيغمبر ئې له هدايت او حق دين سره لېږلی چي پر ټولو دينونو ئې غالب كړي.

نو نه يوازي ئې په دې آيت او د هغه په مدعی ايمان راوړ، په ملونځونو كې به ئې وايو، يوه بل ته به ئې ښودو، په دې به ئې كلك باور كاوو چي الله تعالی به دا دين د زمكې د سر پر ټولو اديانو غالبوي، بلكې همدغه د دين غالبول به ئې خپله الهي فريضه گڼله، د دين د غلبې لپاره ئې ملا تړله او د هر هغه ځواك په ضد ئې خپلې توري له تېكيو راايستلې چي د دين د غلبې په وړاندي خنډ كېدو. كله چي ئې د قرآن دا وينا واورېده:

وَمَا لَكُمۡ لَا تُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلۡمُسۡتَضۡعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلۡوِلۡدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا مِنۡ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهۡلُهَا وَٱجۡعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيّٗا

وَٱجۡعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ النساء

او تاسو ولې د الله په لار کې او د هغو مستضعفو نارينه وو، ښځو او ماشومانو (د ژغورنې) لپاره نه جنګېږئ چې وايي: اې زموږ ربه! له دې کلي چې خاوندان ئې ظالمان دي موږ وژغوره او له خپل لوري موږ ته کوم ولي وټاکه او له خپل لوري موږ ته کوم مرستندوی وټاکه.

د دې آيت په اورېدو سره دوی د نړۍ د ټولو مستضعفينو او مظلومانو ژغورنه خپله فريضه وګڼله او د دې فريضې د اداء کولو لپاره ئې ملا وتړله، له روم او فارس سره وجنګېدل او له مدينې تر هند او اسپانيا پورې پلې او په اوښانو سپاره ولاړل، لوېشت لوېشت او تيږه تيږه د دوی په وينو، خولو او د پښو په تناکو لمدې شوې، له هغو کسانو چې د پيغمبر په لاس او د قرآن په مدرسه کې وروزل شول، ډېر کم ئې له شهادت پرته په عادي مرګ مړه شوي او د جنګ له ميدان بهر ئې خپله روح الله ته تسليم کړې.

همغه قرآن زموږ مخې ته پروت دئ، له مؤمنانو سره د الله وعدې همغه دي چې له صحابه وو سره ئې کړې وې، زموږ ديني مسئوليتونه او وجائب همغه دي چې صحابه وو ته متوجه وو، نه قرآن بدل شوی او نه د الله تعالی وعدې او نه د مؤمنانو فرائض او وجائب؛ اوس هم هغه کار کېدی شي چې د صحابه وو په لاس تر سره شو، په دې شرط چې موږ د قرآن په اړه همغه څه وکړو چې صحابه وو کول.

په پښتو کې د قرآن د ښايسته او دقيقې ترجمې نشتوالي ځوروم، غوښتل مې د دې تشې ډکولو ته ملا وتړم، خو دا راته ډېر درونده کار معلومېده، د قرآن ترجمه زيات دقت او زحمت غواړي، لکه څنګه چې له يوې ژبې بلې ته د شعر ترجمه د معمولي نثر تر ترجمې ګران کار دئ او زيات اهتمام، دقت او زحمت غواړي، د قرآن د آيتونو ترجمه تر دې هم ډېر ډېر ګران کار دئ او زيات دقت او زحمت غواړي، په يوازې ترجمې سره که هر څومره هم دقيقه وي؛ د آيتونو ټول مطلب افاده کول ممکن نه دي، مترجم دې ته اړ کېږي چې يوازې په ژباړې اکتفاء ونه کړي بلکې خوا ته ئې مزيد تشريح او توضيح هم وړاندې کړي.

کاش په تفسير د ښه پوه او د پښتو ادب د نامتو ليکوالانو او اديبانو يوې معتبرې جرګې په ګډه د قرآن د ترجمې دا ستره دنده په غاړه اخيستې وی او پښتنو او پښتو ادب ته ئې دا عظيم خدمت کړی وی. هم پښتو ادب له دې اړخه ډېر فقير دئ او هم پښتانه د ډېر زړه سوي وړ.

د قرآن په ترجمه کې معمولاً دوه اسلوبه ګورو: تحت اللفظي ترجمه او آزاده ترجمه. د

تحت اللفظي ترجمې عيب دا وي چې جملې ئې خوندور او جالب ادبي ترکيب نه لري او لوستونکی ښه انتباه نه ترې اخلي، په يوې جملې کې د کلماتو ښه ترکيب او تنظيم ډېر اهميت او ارزښته لري او په لوستونکي د هغه اغېز ډېر زيات وي، له متشتت او بې نظمه الفاظو انسان ستومانه کېږي او اکثراً غلط مفهوم ترې اخلي او احياناً دا گمان کوي چې ښايي ترجمه شوی متن به هم ترجمې ته ورته خواره واره او نامنظم الفاظ وي، حال دا چې قرآن له ادبي لحاظه او د کلماتو د ډېر دقيق، خوندور، ښايسته، جالب او مؤثر ترکيب له مخې هومره اوچت او لوړ دئ چې هيڅ بليغ کلام د هغه پښو ته نه شي رسېدلی.

د قرآن د آيتونو په ترجمه کې نه يوازي دا چې د هر لفظ په دقيقه ترجمه کې بايد پوره اهتمام وشي بلکې بايد د آيت ښايسته او خوندور ادبي ترکيب هم په پام کې وي او هڅه وشي چې ترجمه د آيت په څېر ښه ادبي ترکيب او خاص وزن او سجع ولري. د قرآن ښه ترجمه هغه ده چې هم د هر لفظ دقيقه ترجمه وړاندې کړي او هم د آيتونو خوندور او ژور ادبي ترکيب، خوږ غږ، وزن او سجع انتقال کړي.

ما د ځينو سورتونو په ژباړې کې هڅه کړې چې د آيتونو سجع او وزن هم تر يوه حده انتقال شي او ژباړه مسجع وي، د سورتونو په مقدمه کې مې دې ته اشاره کړې چې د آيتونو فواصل ئې څه وزن لري، هيله ده گران لوستونکي دې ته متوجه وي چې له وزن زموږ مراد صوتي وزن دئ نه صرفي وزن، په صوتي وزن کې عاملون، تعملون، يعملون، فاعلون، تفعلون او يفعلون ټول هموزنه صيغې دي، دا ځکه چې د ټولو په پای کې د (ل و ن) توري راغلي او غږ ئې سره ورته دئ، خو د صرفي اوزانو له مخې دا بېلې بېلې صيغې دي.

د قرآن تحت اللفظي ترجمه د دې لپاره هم صحيح نه ده چې د پښتو د جملاتو ترکيب له عربي ژبې سره ډېر توپيرونه لري، څو مثالونه ئې دا دي: په پښتو کې صفت له موصوف مخکې راځي او په عربي کې وروسته، په پښتو کې مفعول له فعل مخکې وي خو په عربي کې وروسته، په عربي کې مضاف مخکې وي او مضاف اليه وروسته، خو په پښتو کې اکثراً مضاف اليه له مضاف مخکې راځي، په عربي کې مکان او زمان وروسته ذکر کېږي خو په پښتو کې مخکې راځي، دې ته ورته ډېر نور توپيرونه شته، له عربي پښتو ته تحت اللفظي ترجمه نه سم کار دئ او نه صحيح او د داسې ترجمې هره جمله به غلطه وي او لوستونکي ته دا غلطه انتباه ورکوي چې ښايي د قرآن ادبي او هنري کيفيت به همداسې وي. د مثال په توگه:

د (وهو السميع العليم) لاندې ترجمې کېدی شي:

او هغه اورېدونکی او پوه دئ

او هغه اورېدونکی پوه دئ

او هغه پوه اورېدونکی دئ

په دې ترجمو کې دوه لومړۍ ژباړې ناسمې دي، يوازې درېيمه ئې صحيح او دقيقه ده.

يا د (انزل الكتاب) لاندې ژباړې:

ده نازل کړ کتاب.

نازل ئې کړ کتاب

دا کتاب ئې نازل کړ

دلته هم لومړۍ دوه ترجمې ناسمې دي، سمه او دقيقه ترجمه درېيمه ده. دا ځکه چې د (كتاب) او (الكتاب) تر منځ توپير بايد په ترجمه کې مراعات شي، (كتاب) نکره ده او الكتاب معرفه، د عربي کمال دا دئ چې نكرة او معرفة لري، پښتو ترې محرومه ده، په پښتو کې به ناچار د معرفه لپاره هغه يا همغه راوړو او د نکره لپاره به يو يا ځانګړی راوړو، دې ته مو هم بايد پام وي چې کله مفرد د جنس لپاره راځي او د جمع معنی ورکوي، په هر ځای کې له قرائنو معلومېږي چې دلته ئې مراد څه دئ.

يا د (كتب الله لاغلبن انا و رسلي) لاندې ژباړې:

ليکلي دي الله چې هرومرو به غالب شم زه او زما پيغمبران.

الله ليکلي چې هرومرو به زه او زما پيغمبران غالبېږو.

الله ليکلي چې زه او زما پيغمبران به هرومرو غالبېږو.

الله ليکلي چې هم به زه هرومرو غالبېږم او هم زما پيغمبران.

دلته يوازې په څلورمې ژباړې کې د آيت مطلب سم افاده شوی او د ژباړې ادبي ترکيب سم دئ.

يا د (كتاب الله المبين) دغه ترجمې:

کتاب د الله څرګند

څرګند کتاب د الله

د الله څرګند کتاب

يوازې درېيمه ژباړه سمه ده، لومړۍ دوه ژباړې غلطې دي.

يا د (ضرب الله مثلاً) لاندې ژباړې:

بيان کړ الله مثال

الله مثال بيان کړ

الله یو مثال بیان کړ
که څه هم دلته ښه او دقیقه ترجمه درېیمه ترجمه ده او لومړۍ دوه ترجمې ناقصې دي، دا ځکه چې مثال نکره راغلی او معنی ئې یو مثال دئ، خو په پښتو کې د مثال بیانولو پر ځای متل تېرول راځي او پښتون مخاطب له دې ډېر ژر مطلب اخلي، نو د مخکینۍ فقرې ښه ترجمه دا ده: الله یو متل تېر کړ. متل په اصل کې د عربي مثل دئ چې (ث) ئې په (ت) بدله شوې.

ما په ترجمې کې د خپل توان تر حده د دې هڅه کړې چې:

- هر لفظ په ډېر غور او دقت ترجمه شي. په ترجمه کې نه یوازې مفرد، تثنیه، جمع، مذکر، مؤنث، ماضي، حال، مستقبل، معرفه، نکره، تأکید او ټول نور اړخونه په دقت سره مراعات شي بلکې له دې هم ډېره وشي چې څه زائد وګڼل شي او حذف شي او څه مقدر وګڼل شي او علاوه شي، له هر راز زیادت او کمښت پرته ټول الفاظ په پوره امانتدارۍ سره ترجمه شي.
- په هرې جملې کې د الفاظو شمېر باید د آیت د الفاظو د شمېر په اندازه وي.
- د امکان په صورت کې د هر لفظ د ژباړې موقعیت همغه وي چې اصلي لفظ ئې د آیت په متن کې لري، چې لوستونکی د هر لفظ ترجمه په آسانۍ وموندلی شي. خو دا په هغه صورت کې چې د جملې ادبي ترکیب ته تاوان ونه رسېږي.

ما غوښتل چې یوازې په ژباړې او خوا ته ئې په مختصرې شرحې بسنه وکړم، خو تفاسیرو ته د رجوع په دوران کې او د دوی تر منځ زیات اختلاف دې ته اړ کړم چې په مختصرې شرحې اکتفاء ونکړم.

ما ته تر ټولو ګران کار په پښتو د قرآن ژباړه وه، دا ځکه چې په پښتو کې موجودې دوه درې ترجمې یا تحت اللفظي ترجمې دي یا له اردو ترجمه شوې، متأسفانه له افغانانو کوم داسې عالم چې هم د عربي ژبې په صرف او نحو پوه وي او هم د پښتو ښه لیکوال او د پښتو ژبې په ګرامر پوه، دې کار ته نه دئ راوړاندې شوی، زموږ په مدرسو کې پښتو او فارسي لیك لوست نشته، د دیني مدرسو فارغان په پښتو او فارسي سم لیك لوست نه شي کولی، موجودې ترجمې داسې دي چې که څوك په عربي نه پوهېږي او یوازې ترجمه لولي او هلته ئې نامرتب او خواره واره الفاظ ترسترګو کېږي او د هرې جملې ترکیب ئې د پښتو ژبې له قواعدو سره متعارض مومي نو د قرآن په اړه عجیب تصور او احساس ورسره راپیدا کېږي.

د آیتونو د تفسیر او شرحې لپاره مې ټولو معتبرو تفاسیرو ته رجوع کړې؛ په ځانګړې

توګه په هغو مواردو کې چې د مفسرينو تر منځ جدي او زيات اختلاف ترسترګو کېږي. د ځينو تفسيرونو نومونه د کتاب په پای کې ذکر شوي؛ کله کله داسي هم شوي چې ما تقريباً ټولو هغو تفسيرونو ته مراجعه کړې چې د الشامله په مهمي او ګټوري مکتبه کې راغونډ شوي چې شمېر ئې لسګونو ته رسېږي. ما د هغو درنو مفسرينو رأيي رااخيستې چې:

- قرآن ئې په قرآن سره تفسير کړی. د هر آيت هغه تفسير ئې وړاندي کړی چې د قرآن له نورو آيتونو سره اړخ لګوي. د هغه څه له ويلو ئې ډډه کړې چې په قرآن کې ئې د هغه په اړه صراحتاً يا تلويحاً څه نه دي ليدلي.
- د آيت په ترکيب کې ئې له هر راز لاس وهني او تغيير ډډه کړې وي، نه ئې په قرآن کې کوم حرف او لفظ زائد ګڼلی او له پامه غورځول ئې غوښتي او نه ئې څه مقدر او محذوف شمېرلي او د اضافه کولو وړانديز ئې کړی. تر کومه ځايه چې ما ته د تحقيق په دوران کې ثابته شوې د هغو کسانو رأيه مي ضعيفه موندلې چې د آيتونو په ترجمه کې په تصرف قائل دي، کله کوم حرف او لفظ زائد ګڼي او له پامه ئې غورځوي او کله کوم لفظ مقدر ګڼي او علاوه کوي ئې.
- حديث ئې په تأييد کې راوړی.
- داسي موثق روايت ئې وړاندي کړی چې د قرآن له کوم آيت سره تعارض نه لري.
- د کوم خاص مسلك په نسبت ړوند تعصب نه لري او خپلو مخالفينو ته بد رد نه وايي، د خپلي رأيي د هر مخالف په تندي د بدعت، شرك، ارتداد او الحاد ټاپې نه وهي، خپل مخالفين ضاله فرقو ته نه منسوبوي، د استدلال په وخت کې د خپلي رأيي په تأييد کې په ادب سره دلائل وړاندي کوي او د ضعيفي رأيي د ضعف اړخونه په ګوته کوي. ما ته ځای ځای کې د هغو کسانو رأيه کمزورې معلومه شوې چې د آيتونو په تفسير کې يوازي د خپل مسلك خيال ساتي او غواړي چې هر آيت د خپل مسلك په ګټه تعبير او تفسير کړي. همدا راز د هغو کسانو رأيه مي ضعيفه موندلې چې د جدل لپاره او د خپل مخالف د پرځولو او پر کولو لپاره ئې تفسير ته ملا تړلې، د نورو د مسلمانولو لپاره نه بلکې د کافر کولو لپاره، هدف ئې دا وي چې له خپل مسلك ماسوی ټول نور مسلکونه باطل او غلط ثابت کړي، دوی نورو ته په ښکنځلو او بد رد ويلو سره په حقيقت کې خپل ضعف او ناتواني پټوي، دليل نه لري نو ځکه ښکنځلو ته پناه وړي او غواړي چې ناپوه کسان د ده له مخالف فريق سره يو ځای نه شي!! هغه څوك په قرآن له پوهېدو عاجز وي چې ذهن ئې د تعصب په زهرو لړلی وي او د الله کتاب يوازي د مناظرې او جدل لپاره لولي.
- ما نه د هغه مفسر نوم اخيستی چې د ده رأيي ته مي ترجيح ورکړې او نه د هغه چا

چي رأيه مې ضعيفه مونډلې. د دې لپاره چي هم د کلام له بې ځايه اطالې مخنيوی شوی وي او هم د حساسيتونو له پارولو. ډېر کسان داسي دي چي د خاص تفسير او مفسر په نسبت تعصب لري، هره وينا ئې مقدسه ګڼي، د خپل مسلك خلاف هر تفسير په پټو سترګو ردوي، نه د خپل مسلك مربوط تفسير ضعف ته پام کوي او نه د بل قوي استدلال ته څه اعتناء، د نومونو يادول د دوی حساسيتونه پاروي، غوښتل مي دا کسان هم په سړه سينه خبره واوري.

• ځيني کسان داسي دي چي د تفسير او ترجمې په دوران کې د يوه لفظ ټولې هغه معاني رااخلي چي د لغت په کتابونو کې ئې مومي او د مختلفو معانيو له مخي د آيت ګڼ شمېر ترجمې او تفاسير وړاندي کوي، پرته له دې چي يوې ته پر بلې ترجيح ورکړي او دا ووايي چي په دې خاص ځای کې کومه ځانګړې معنی مراد ده!! دوی ګمان کوي چي د يوه کلام کمال په دې کې دئ چي ډېري معاني ولري!! حال دا چي بليغ کلام هغه دئ چي معنی ئې څرګنده وي، مخاطب مشخص، محدد او واضح مفهوم ترې واخلي، دا شك ورته راپيدا نه شي چي د کلام د خاوند هدف څه دئ، برعکس د ويناوال هدف په صراحت او آسانۍ سره درك کړي. قرآن خو خپل ځان داسي معرفي کوي چي مبين، آسان، له شك فارغ او څرګند دئ، يوه برخه ئې په بلې سره توضيح شوې، په واضح عربي ژبې کې لېږل شوی، ابهام او اغماض په کې نشته او د هر څه تفصيلي بيان په کې راغلی.

اصولاً د هر لفظ دقيقه معنی او مفهوم بايد تر ټولو د مخه په هغي جملې کې ولټوو چي دا لفظ په کې راغلی او بيا د همدې جملې مخکې او وروسته جملو کې او بيا په ټول مضمون کې. د قرآن د هر لفظ معنی هم بايد تر ټولو مخکې په هغه آيت کې ولټوو چي دا لفظ په کې راغلی، بيا په مخکينيو او وروستنيو آيتونو کې، بيا په مربوطه سورې کې او بيا په ټول قرآن کې. اکثراً يو لفظ د ډېرو شيانو لپاره استعمالېږي او بېلې بېلې معناوي ترې اخيستل کېږي، خو کله چي د يوې جملې په قالب کې لوېږي، معنی ئې محدده او مشخصه شي، له ټولو معانيو ئې يوازي يوه معنی مراد وي، دا غلط اسلوب دئ چي څوك د آيت په ترجمه او تشريح کې د هر لفظ ګڼ شمېر معاني راواخلي او د آيت لپاره د مختلفو معانيو احتمال ورکړي. هغه کسان چي د يوه آيت ګڼ شمېر معاني نقل کوي هغوی په حقيقت کې د آيت د اصلي مفهوم په بيانولو کې کمزوري او متردد وي او د الفاظو معاني ئې يوازي د لغت په کتابونو کې لټولې وي او د آيت سياق او سباق ته ئې پام نه وي کړی. هر آيت د يوه جامع مضمون يوه برخه وي، د دې مضمون په قالب کې يوازي يوه معنی افاده کوي، له مخکينيو او وروستنيو آيتونو سره په ګډه ئې يو مضمون جوړ کړی وي او يو مشخص او

ثابت مطلب افاده کوي، که کله د قرآن د کوم آيت د مفهوم په معلومولو کې له اشکال سره مخامخ شوو نو تر هر څه د مخه بايد په هغه مجموعي مضمون کې د دې په معنی د پوهېدو سعي وکړو چې دا آيت ئې يوه برخه ده، بيا په ټوله مربوطه سورې کې او بيا په ټول قرآن کې، داسي نه چې مجموعي مضمون ته له پام کولو پرته او يوازې د لغت د کتابونو په مرسته د هغه معنی ولټوو او ګڼ شمېر احتمالات وړاندې کړو!! هر څوك چې دا اصل او قاعده له پامه غورځوي هم په خپله د آيت د اصلي مراد په موندلو کې پاته راځي او هم خپل مخاطب په تردد کې اچوي.

يو بل مشکل چې د تحقيق په دوران کې هر څوك ورسره مخامخ کېږي د ځينو تفسيرونو هغه آراء او نظريات دي چې نه د قرآن پر آيتونو مستند دي او نه د پيغمبر عليه السلام په صحيح الاسنادو احاديثو، په ډېر معمولي دقت سره به وګورئ چې دا آراء په اصل کې له اسرائيلي رواياتو پرته بله مرجع او مأخذ نه لري، اسرائيلي روايات اکثراً، قصې او افسانې دي، عوام ډېر ژر د قصو تر اغېز لاندې راځي، مخصوصاً چې دا ډېرې حيرانوونکې وي او خارق العاده پېښې بيان کړي، دوی هغه تفسير او مفسر خوښوي چې همدا حيرانوونکې او عجيبې قصې رانقل کړي، دا قصې په عوامو کې خورې شوې دي، د دين برخه ئې ګڼې او اوس هرې هغې خبرې ته د شك په سترګه ګوري چې له دغو قصو سره اړخ نه لګوي، که څه هم د قرآن په صريح آيت او صحيح حديث مستنده وي، ای کاش دغو درنو مفسرينو دا اشتباه نه وی کړې او د دغو رواياتو له رانقلولو ئې په کلکه ډډه کړې وی.

يو بل مشکل دا دئ چې ځينو مفسرينو د هر آيت لپاره د يوه شأن نزول راوړل ضروري ګڼلی، په دغو شأن نزولونو کې به ډېر ژور او پراخ اختلاف او تعارض وګورئ، د هر مسلك او مذهب پلويان ځانته ځانته د شأن نزول سلسله لري، شيعه لږ تر لږه د دريو سوو آيتونو شأن نزول داسي ګڼې چې ګواکې د علي رضي الله عنه په اړه نازل شوي، خو له شيعه وو پرته نور بيا دا بې بنسټه ادعاء ګڼې او وايي چې په ټول قرآن کې يو داسي آيت نشته چې صراحتاً يا اشارتاً ئې د علي رضي الله عنه په اړه څه ويلي وي او شأن نزول ئې د ده په اړه وي. ځيني شأن نزول د خپل مسلك په ګټه رانقل کوي او ځيني ئې د دې لپاره چې ګمان کوي دا د قرآن په مطلب باندې په ښه پوهېدو کې مرسته کوي، دا خبره تر يوه حده صحيح ده خو په دې اړه دوه خبرې بايد په پام کې ولرو:

- د هر بليغ کلام يوه ځانګړتيا دا وي چې اورېدونکی په خپله له کلام او الفاظو او فحوی ئې د هغه په شأن نزول هم پوه شي، په دې اړه کوم ابهام او اغماض ورته پاته نه شي چې

دا کلام به په کومو ظروفو او شرائطو کي ويل شوی وي، مقصد به ئې څه وي او د چا په اړه به وي، عظيم الشأن قرآن د الله بليغ کلام دئ اوربېدونکي ته د ابهام هيڅ مجال نه پرېږدي، په لږ دقت سره ورته واضح کېږي چي مقصد ئې څه دئ او چا ته متوجه دئ.

• يو عام مخاطب د شأن نزول له اورېدو دا انتباه اخلي چي ښايي دا اړوند آيت او حکم به ئې خاص وي، همغو خاصو خلکو ته به متوجه وي او نور به ترې مستثنی وي، بديهي ده چي داسي انتباه خطرناکي پايلي لري، د قرآن هغه عام او کلي ارشادات چي تر قيامت او د زمانې په هر پړاو کي هر مخاطب ته متوجه دي، يوازي د نزول په زمانې پوري محدودوي. د شأن نزول ذکر په هغه ځای کي سم کار دئ چي هم ئې اسناد له هر راز شك او شبهې اوچت وي او هم ئې يادول ضروري وي او د مطلب د ښه توضيح په اړه مرسته وکړي.

يو بل مشکل دا دئ چي د آيتونو د تفسير په اړه به هم په تفسيرونو کي د مفسرينو له بېلابېلو او مختلفو آراءو سره مخامخ شئ او هم د يوه آيت په اړه متعددو او متعارضو رواياتو سره، حتی وبه گورئ چي د يوه آيت په ارتباط يوه کس ته څو بېلابېل آراء منسوب شوي، که چېري له داسي اختلاف سره مخامخ شوئ نو پوه شئ چي:

• له پيغمبر عليه السلام په دې اړه موثق حديث نشته. که داسي حديث وی نو هيڅکله به دا مختلف آراء نه وړاندي کېدل.

• که درنو مفسرينو صحابه وو ته منسوب آراء موثق گڼلی هيڅکله به ئې بله رأيه نه ورکوله.

• يوه شخص ته په يوې موضوع کي منسوب دوه متعارض آراء؛ روايت او اعتبار ئې تر سؤال لاندي راولي.

• دا اختلاف نه يوازي له موږ غواړي چي په ټولو آراءو غور وکړو او تر ټولو مضبوطه او مستدله ئې انتخاب کړو، بلکي موږ ته حق راکوي چي د قرآن د نورو آيتونو په رڼا کي د دغو آيتونو د اصلي معنی په لټه کي شو.

• په داسي مواردو کي به دې ته نه گورې چي روايت چا ته منسوب شوی او په دې بنياد به يوه ته پر بل ترجيح نه ورکوې، دې ته به گورې چي کوم يو په قوي دلائلو ولاړ دئ او له قرآن سره سمون خوري.

د صحيح حديث او د قرآن تر منځ هيڅکله تعارض نه شي راتلی، هيڅ مسلمان په دې خبري کي شك نه لري، د چا چي پر خدای او پيغمبر ايمان وي د پيغمبر عليه السلام له هيڅ وينا سره به اختلاف ونکړي، که څوك له يوه روايت سره اختلاف کوي وجه ئې دا وي چي

پر ثقه والي ئې باور نه لري، يو حديث د يوه محدث له نظره صحيح وي خو بل ئې ضعيف گڼي، مگر تاسو نه گورئ چې د ډېرو څرگندو مسئلو په اړه د محدثينو او فقهاءو تر منځ اختلاف شته، د اختلاف وجه همدا ده چې يوه ته يو روايت صحيح معلوم شوی او بل ته ضعيف، د پيغمبر عليه السلام نژدې اتلس زره لمونځونه په زرگونو خلکو په مدينه منوره کې ليدلي، خو سره له دې گورو چې د رفع اليدين، آمين بالجهر، د بسم الله الرحمن الرحيم قرائت، اقامت ... په اړه اختلاف شته، د پيغمبر عليه السلام په ژوند کې په زرگونو کسانو د حجاب څرنگوالی په خپلو سترگو ليدلی، خو دا دئ گورئ چې په دې اړه اختلاف شته، د فقهاءو تر منځ هم او د محدثينو تر منځ هم، دا نن په سعودي کې د مرحوم الباني او مرحوم ابن باز او د دوی د پلويانو تر منځ اختلاف شته!! که د داسې څرگندو قضاياوو په اړه د اختلاف (حتی ژور اختلاف) شاهد يو، نو د قرآن د آيتونو د تفسير په اړه به اختلاف رأی څومره وي؟!! په دې هغه څوك ښه پوهېږي چې د خاص مسلك او په هغه پوري د مربوط تفسير په اړه تعصب ونلري او په سړه سينه مختلف تفاسير له نظره تېر کړي او وگوري چې د يوه آيت په اړه يوه راوي ته متعدد متعارض روايات منسوب شوي!! موږ چې کله وايو د صحيح حديث او د قرآن تر منځ هيڅکله تعارض نه شي راتلی، معنی ئې دا ده چې کله کوم روايت داسې ومومو چې له قرآن سره تعارض لري بايد ووايو چې دا په هيڅ صورت کې د پيغمبر عليه السلام حديث نه شي کېدی؛ او د دې معنی دا نه ده چې نعوذبالله موږ په کوم راوي د درواغو ويلو تور لگوو، معنی ئې دا ده چې د مطلب په انتقال کې حتماً چېرې اشتباه شوې، اورېدونکی په مطلب سم نه دئ پوه شوی، د الفاظو په انتقال کې ترې اشتباه شوې.... د هر مؤمن او غير متعصب محقق له نظره بايد قرآن د هر څه لپاره، د رواياتو په شمول، معيار او ملاك وي، يوازې هغه روايت ومنې چې له قرآن سره تعارض ونلري، کوم روايت چې له قرآن سره اړخ نه لگوي بايد په احترام سره ئې يوې خوا ته کښېږدو، نه ئې وليکو او نه استناد پرې وکړو. بايد له دې وېره ولرو چې پيغمبر عليه السلام ته هغه څه منسوب کړو چې هغه نه دي ويلي، د داسې چا ځای د جهنم اور دئ. ابو بکر رضي الله عنه له همدې وېرې ونه غوښتل چې له ده ليکلي احاديث پاته شي، له همدې وېرې صحابه وو د احاديثو د ليکلو جرأت نه کاوو، د احاديثو موجود کتابونه نژدې درې نسله وروسته ليکل شوي او دا هم د يوه ستر مجبوريت په وجه او له دې کبله چې په لکونو موضوعي احاديث په خلکو کې خواره شول. کاش داسې څوك پيدا شي چې د احاديثو او رواياتو په اړه هغه کار وکړي چې عثمان رضي الله عنه د قرآن عظيم الشأن د مختلفو نسخو په اړه وکړ. په دې سره به هم د امت تر منځ د اختلاف يوه لويه وجه له

منځه ولاړه شي او هم به بېل بېل مذاهب او فرقې متحد شي. دا يوازې مسلمانان نه دي چي د مختلفو رواياتو په وجه په اختلاف اخته شول، تېر امتونه هم د رواياتو له کبله په اختلاف اخته شوي، د همدغو رواياتو په وجه دوی د الله تعالی کتاب شا ته غورځولی او په جعلي رواياتو پسي تللي، تاسو که بايبل وګورئ نو ډېر ژر به متوجه شئ چي دا د څو قصو او رواياتو مجموعه ده، له خرافاتو ډکي قصې، داسي قصې چي هيڅ عقلمن انسان ئې نه شي منلی، انسان حيران پاته شي چي مسيحيان څنګه دا د يوه مقدس الهي کتاب په توګه مني، باور وکړئ چي د دې کتاب په سلو کي تر اتيا زياتي برخي ئې مسخره روايات او بې بنسټه قصې دي، څه چي په دې کتاب کي ډېر لږ تر سترګو کېږي نو هغه د انجيل او د الهي کتاب لارښووني دي.

هغو درنو شخصيتونو چي احاديث ئې راغونډ کړل، وئې چڼل، صحيح، ضعيف او موضوعي ئې سره بېل کړل، هر يوه له لکونو احاديثو يوازې څو زره غوره او وليکل، دوی په امت لوی احسان کړی، الله تعالی دي دوی ته ستر اجر او د جنت لوړي درجې ورکړي، خو بايد دا ګمان ونکړو چي د پيغمبر عليه السلام ټول احاديث په بشپړه توګه نقل شوي، دا خبره يوازې هغه څوك کولی شي چي له غلو او افراط وېره نه لري. د مدينې منورې په لسو کلنو کي پيغمبر عليه السلام څومره د جمعې او اختر لمونځونه کړي، چي په هر يوه کي ئې دوه خطبې ورکړې؟ د څومره جنګونو په اړه ئې خبري او لارښووني کړې؟ د څومره مهمو پېښو او مسئلو په اړه ئې وخت په وخت خطبې ورکړې؟ يوازې له دغو خطبو او لارښوونو ضخيم ضخيم کتابونه جوړېدی شول، خو له دې کبله چي پيغمبر عليه السلام په خپل ژوند کي د احاديثو د ليکلو اجازه نه وه ورکړې، نن ئې د احاديثو په کتابونو کي نه شو موندلی. خو د پيغمبر عليه السلام د ټولو خطبو نچوړ او خلاصه زموږ په واك کي ده، هغه مبارك چي څه ويلي خلاصه ئې دغه قرآن دئ، د ده ويناوي د دغه قرآن شرح او تفصيل وو، د دغه قرآن په رڼا کي ډېر په آسانۍ سره قضاوت کولی شو چي پيغمبر عليه السلام به کومه خبره کړې وي او کومه نه!! تر دې وړاندي چي د يوه روايت د اسنادو په اړه غور وکړو بايد په دې غور وکړو چي دا روايت له قرآن سره سمون خوري که نه!! په اسنادو به ئې له دې وروسته بحث کوو.

درواياتو په اړه دا هم په پام کي ولرئ چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په خپله موږ ته لارښوونه کړې:

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ وَأَبِي أُسَيْدٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: "إِذَا سمِعْتُمُ الْحَدِيثَ عَنِّي تَعْرِفُهُ قُلُوبُكُمْ وَتَلِينُ لَهُ أَشْعَارُكُمْ وَأَبْشَارُكُمْ وَتَرَوْنَ أَنَّهُ مِنْكُمْ قَرِيبٌ فَأَنَا أَوْلَاكُمْ

بِهِ. وَإِذَا سَمِعْتُمُ الْحَدِيثَ تُنْكِرُهُ قُلُوبُكُمْ وَتَنْفِرُ مِنْهُ أَشْعَارُكُمْ وَأَبْشَارُكُمْ وَتَرَوْنَ أَنَّه مِنْكُمْ بَعِيدٌ فَأَنَا أَبْعَدُكُمْ مِنْهُ" مسند احمد

له ابي حُميد او ابي أُسيد روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: كه مو ما ته منسوب داسي حديث واورېد چي ستاسو زړونه ئې خوښوي او پېژني، ستاسو وېښتان او پوستكي ورته نرم شي، او داسي ئې مومئ چي تاسو ته نژدې دئ؛ نو زه تر تاسو هغه ته اولى يم او كه مو ما ته منسوب داسي حديث واورېد چي ستاسو زړونه ئې نه خوښوي او نه ئې پېژني، ستاسو وېښتان او پوستكي ترې نفرت كوي، او داسي ئې مومئ چي له تاسو لري دئ؛ نو زه تر تاسو زيات له هغه لري يم.

يعني د يوه صادق مؤمن؛ زړه، دماغ، مشاعر او حواس داسي وي چي سمه او ناسمه وينا پېژندى شي، د قرآن د لارښوونو له مخي چي په هر څه كي د ده لارښود دئ؛ او د خپل ايمان په رڼا كي؛ د يوې وينا په اړه سم قضاوت كولى شي؛ كه ئې زړه او مشاعرو ومنله چي دا وينا صحيح ده؛ نو بايد ډاډه وي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به دا خبره كړې وي او كه ئې د زړه او دماغ ډېره ورته خلاصه نه شوه؛ او د سموالي په اړه ئې شكمن شو؛ نو بايد د رسول الله صلى الله عليه و سلم له شأن ئې لري وګڼي او هغه ته ئې له منسوبولو ډډه وكړي.

د جهاد په غېږ كي د افغانانو يو نوى نسل راوټوكېدو؛ هغه چي په خبرو د پوهېدو له ورځي تر ځوانۍ پوري ئې تل د قرآن، جهاد، شهادت او هجرت په څېر شعارونه اورېدلي، په خپلو وينو سره زخميان ئې ليدلي، د مهاجرينو قافلې ئې ترسترګو شوې، په كليو ئې وېرووونكې بم ورونې ليدلې، هره ورځ ئې د توپونو او ټانكونو غړونه تر غوږ شوي، په كور كي ئې خپل پلار او مشر ورور، په جومات كي ئې امام او خطيب او په سنګر كي ئې مجاهد ليدلى چي د قرآن آيتونه لولي او نورو ته د صبر او جهاد توصيه كوي، له قرآن سره ئې مينه راپيدا شوې، غواړي په قرآن پوه شي، د دې لپاره نه چي د كوم جومات امامت تر لاسه كړي او دا ئې د امرار معاش وسيله شي، بلكي د دې لپاره چي قرآن ئې لارښود شي، په قرآن د پوهېدو تنده ئې ماته شي، مسلمان دئ، له اسلام سره ئې مينه ده، له اسلام په كلكه دفاع كوي، د اسلام لپاره هري قربانۍ ته چمتو دئ، په عربي نه پوهېږي، صرفي او نحوي تحقيق ته ضرورت نه لري، په ديني مدرسو كي ئې سبق نه دئ ويلى، زده كړې ئې په مكتب او پوهنځي كي كړې، ساينس، فزيك او كيميا ئې لوستي، خاصه ژبه، خاصه سليقه او ځانګړې پوښتني لري، د هر آيت مطلب په پښتو كي اورېدل غواړي، دې ته تږى دئ چي پوه شي قرآن د هغو شيانو په اړه څه ويلي چي ده د كيميا او فزيك په كتابونو كي لوستي،

دا ئې هم په مکتب کې له مخالفينو اورېدلي چې د قرآن ډېرې ويناوې له ساينس سره تعارض لري او هم ئې له خطيب او امام اورېدلي چې د معاصرو علومو ادعاءګانو ته اعتناء مه کوئ، دا د قرآن خلاف دي، غواړي پوه شي چې د قرآن او ساينس تر منځ تعارض او توپير شته که نه؟ ده د انسان، حيوان، نبات، زمکې، آسمان او غرونو د پيدايښت په اړه ډېر څه په خپلو درسي کتابونو کې لوستي، غواړي پوه شي چې په دې اړه قرآن څه ويلي؟ کله ئې له کمونيستانو سره مناقشه راشي او کله له سيکولرانو او غربپالو لاابالي عناصرو سره، دواړه ئې په ګډه مقابله کوي، دوی دواړه له اخلاقي او فکري پلوه يو بل ته ورته دي، د شوروي اتحاد له زوال وروسته خو اوس کمونيست ډېموکراتان غربپال ډېموکراتان شوي او له هغوی سره ئې د اسلام په ضد ګډه جبهه جوړه کړې او د غربپالو تر قومندې لاندې د اسلام په ضد جنګېږي، غربي استعماري ځواکونه د اسلام په ضد په خپل سياسي او فکري تهاجم کې څومره چې په کمونيستانو او نشنلستانو ترکيز کوي او مفيده وسيله ئې ګڼي له غربپالو ډېموکراټانو هومره طمع نه لري، د غربي فرهنګ په ډنډ کې لوېدلي لاابالي عناصر نه خاص فکر لري، نه د مسئوليت قبلولو ته غاړه ږدي، نه د کوم هدف لپاره زيار او زحمت ايستلو ته تيار دي، يوازې د اخلاقي فساد په خورولو کې له دوی ښه استفاده کولی شي، خو د اسلام په ضد په فکري مبارزه کې بايد له هغو کار واخلي چې د يوې مفکورې په نسبت د التزام دعوی کوي او په اسلام باندې د اعتراض مواد په واك کې لري. مسلمان ځوانان له دې مبارزې سره مخامخ دي، د مدرسو په کتابونو کې د مخالفينو د اعتراضاتو ځوابونه نه شي موندلی، د دغو مبارزو ځوانانو لپاره د قرآن داسې ترجمه او شرح ضروري وه چې د دوی تنده رفع کړي، که زه په دې موفق شوم چې د دغه ځوان نسل تنده څه نا څه رفع کړم نو دا به پر ما د الله تعالی ډېره لويه پېرزوينه وي.

هغه مسلمان ليکوال، خطيب، واعظ، داعي او مدرس ډېره لويه اشتباه او جفا کوي چې درسونه، ليکنې، خطبې او موعظې ئې له قرآن پرته له بلې چينې خړوبېږي او له قرآن پرته بل څه ته بلنه ورکوي. اسلامي امت تر هر څه د مخه قرآن ته د راګرځېدو يوه تونده او څپانده خوځښت ته ضرورت لري، راشئ په دې تحريك کې برخه واخلو، په بل څه يوازې هغه وخت مصروف شو چې له قرآن فارغ شوي وو خو که دا ممکن وي، په مدرسه کې بايد لومړی او اساسي مضمون قرآن وي او نور ټول ثانوي، ضمني او ممد مضامين، نه دا چې قرآن وروستی مضمون او صرف، نحو، فقه، حديث، منطق او فلسفه لومړي او اساسي مضامين، داسې نه چې قرآن هم د صرف او نحوي د تمرين لپاره ولوستل شي!! د نشراتو اساسي برخه بايد د قرآن په رڼا کې څېړنې او تبصرې وي نه دا چې په يوه ګوښه کې ئې د

ځو آيتونو تحت اللفظي ترجمه د تبرك لپاره او يا په دې غرض راشي چي وښيي دا نشريه اسلامي ده!! د خطيب او واعظ وينا بايد د قصو او ضعيفو رواياتو پر ځای، په قرآني آيتونو مستنده وي او خلکو ته د ژوند د ټولو ورځنيو مطرحو قضاياوو په اړه د قرآن په استناد لارښووني وکړي، دا همغه کار دئ چي پيغمبر عليه السلام او د ده صحابه وو رضوان الله عليهم اجمعين کاوو او په همدې کار سره هغوی اسلام د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورساوو.

قرآن له هره پلوه مکمل دئ، وينا ئې تر هري وينا مؤثره، استدلال ئې تر هر استدلال قوي او وعظ ئې تر هر وعظ اغېزناك، ځومره چي په قرآن سره کولی شئ خپل مخاطب قانع کړئ په بل څه ئې نه شئ قانع کولی.

اللَّهُمَّ أَرِنَا الْحَقَّ حَقًّا وَأَلْهِمْنَا اتِّبَاعَهُ،

وَأَرِنَا الْبَاطِلَ بَاطِلًا، وَأَلْهِمْنَا اجْتِنَابَهُ

حکمتيار

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

# الفاتحة

## د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې معروف نوم (الفاتحة: پرانیستونکې او کونجي) دئ، اوه آیتونه لري، د مکې دور په لومړيو کې نازله شوې، د ځينو معتبرو رواياتو له مخي دا لومړنۍ سوره ده چي مکمله نازله شوې، تر دې د مخه بله سوره ټوله يو ځای نه ده نازله شوې، د دې مبارکې سورې په اوو آيتونو کې ټول قرآن راخلاصه شوی، په حقيقت کې قرآن د دې سورې شرح او تفصيل دئ، د همدې لپاره ئې مسلمانان د لمانځه په هر رکعت کې لولي او پيغمبر عليه السلام فرمايلي چي له فاتحې پرته لمونځ بشپړ لمونځ نه دئ.

دا سوره په ګڼ شمېر نومونو ياده شوې، هر نوم ئې د پراخو او ژورو مطالبو يو اړخ بيانوي، ځيني نومونه ئې دا دي:

السبع المثانی: تکرار شوي اوه ګوني: يعني هغه اوه آيتونه چي په قرآن کې په مکرره او مشرح توګه راغلي، يعني د دغي سورې اوه آيتونه په ټول قرآن کې په مختلفو الفاظو او په مشرح او مفصله توګه راغلي، قرآن د دې سورې شرح او تفصيل دئ او ټول قرآن په دې سوره کې راخلاصه شوی.

فاتحة الکتاب: د کتاب پرانيستونکې او کونجي: د قرآن د کتاب مقدمه او مفتاح، په دې سره قرآن پرانيستل کېږي، دا د قرآن د اسرارو کونجي ده، په دې سورې ښه پوهېدل په ټول قرآن د ښه پوهېدو مقدمه او ذريعه ده. په دې سره کولی شې د قرآن د اسرارو دروازه پرانيزې، دا په حقيقت کې په قرآن باندي د پوهېدو رمز او کونجي په لاس درکوي.

ام الکتاب: د کتاب اساس او مرکزي او محوري مطلب.

کافيه: که له قرآن يوازې دغه سوره نازله شوې وی کافي وه.

الحمد: دا سوره تا ته د الله د ستايني طريقه او څرنګوالی درښيي.

اساس القرآن: د قرآن بنسټ دئ، د قرآن ستره ماڼۍ په دغه بنياد او بنسټ درېدلې.

الشافيه: شفا بخښونکې؛ د انسان د ټولو فردي او اجتماعي بيماريو درمل، د بيمارو

زړونو معالج، د ټولو دردونو د علاج لپاره کافي.

د دې مبارکې سورې عظمت هغه حديث ښه بيانوي چې پيغمبر عليه السلام فرمايي:

وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ مَا أُنْزِلَ فِى التَّوْرَاةِ وَلَا فِى الْإِنْجِيلِ وَلَا فِى الزَّبُورِ وَلَا فِى الْفُرْقَانِ مِثْلُهَا إِنَّهَا السَّبْعُ الْمَثَانِى وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ الَّذِى أُعْطِيتُ. رواه احمد

په هغه ذات قسم چې زما نفس ئې په واك كې دئ؛ د دې سورې په څېر نه په تورات كې نازله شوې، نه په انجيل كې، نه په زبور كې او نه په خپله په قرآن كې؛ او دا همغه سبع المثاني او القرآن العظيم دئ چې ما ته راكړى شوى.

دې ته مو پام وي چې الله تعالى د قرآن يوه مكمله جمله هم آيت ګڼلى او د دې عالم هر توكى ئې هم د آيت په نامه ياد كړى، يو د مقروء كتاب آيت دئ او بل ئې د مشهود كتاب آيت، يو له حروفو او تورو جوړ شوى او بل ئې له توكو، يو لوستل كېږي او بل ليدل كېږي، يو كتاب هومره وړوكى چې ته ئې په خپل جيب كې ساتلى شې او بل ئې هومره ستر چې ته، ستا زمكه او لمر او سپوږمۍ ئې د تورو او ټكيو حيثيت لري، خو په دغه واړه كتاب كې دا ستر كتاب راغونډ شوى، كه ووايو چې په دې واړه كتاب كې هومره اسرار دي چې په دې ستر كتاب كې نشته مبالغه مو نه ده كړې!! دا ستر غوړېدلى كتاب د دغه واړه كتاب شرح ده او دا ووړ كتاب د دغه پراخ كتاب خلاصه. ته پوهېږې چې دا ستا زمكه له داسې يو سل څوارلسو عناصرو جوړه شوې چې شمېر ئې ثابت دئ او تر دې نه شي زياتېدى؛ ۹۸ ئې په طبيعي توګه په زمكې كې موندل كېږي؛ څيني داسې دي چې په مصنوعي توګه په لابراتوار كې جوړ شوي؛ مجموعي شمېر ئې ۱۱۸ ته رسېږي؛ په مصنوعي توګه جوړ شوي عناصر په حقيقت كې د طبيعي عناصرو په هسته كې د تغيير له لارې جوړ شوي؛ تر ۲۰۱۵ كال پورې؛ د عناصرو تناوبي جدول ۱۱۸ عناصر درلودل؛ چې ۱۱۴ ئې د كيميا نړۍ والې اتحاديې له لورې منل شوي او نومونه ورته وضع شوي؛ او د الله مقروء كتاب قرآن له يو سل څوارلسو سورتونو او د فاتحې سوره؛ د ابن كثير د رأيې مطابق؛ له يو سل څوارلسو حروفو!! تا ته دا هم معلومه شوې چې زمكه اوه طبقې ده، آسمان ئې اوه طبقې او د زمكې او آسمان د هر وړوكى جزء؛ اتم، انتهائي مدارونه هم اوه او د فاتحې د سورې آيتونه هم اوه، دا يو تصادف مه ګڼه، دا هغه حقيقت درپه ګوته كوي چې د دواړو كتابونو مرجع يوه ده، دواړه يو د بل شرح او تفصيل.

مقروء كتاب ئې د دې لپاره ووړ كړى چې ته ئې په خپل جيب كې هم وګرځولى شې او لوستل ئې درته آسان وي او مشهود كتاب ئې د دې لپاره خور او ستر كړى چې ته هرې خوا ته سترګې وغړوې، د ده د قدرت نښې وګورې، هر څه ئې هره شېبه درپه ياد كړي.

سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴿٥٣﴾ فصلت

خپل آیتونه به دوی ته په آفاق او په خپله د دوی په نفسونو کې هرومرو وروښیو، چې ورته څرګنده شي دا حق دئ، آیا دا ستا د رب په اړه کافي نه ده چې هغه پر هر څه باندې شاهد دئ.

ستا په نفس او خپل ځان کې د قدرت نښې او په دې آفاق او عالم کې د قدرت نښې، د دې مقروء کتاب قرآن په حقانیت شهادت ورکوي، دا ځکه چې الله د هر څه شاهد دئ، د هر څه شاهد خو به خود داسې څه وايي چې هر څه د ده د هرې وینا په حقانیت شهادت ورکړي.

نو که دې کله د الله د مقروء کتاب د کوم آیت په اړه داسې تعبیر واورېدو چې د الله له مشهود کتاب سره ئې مغایرت درلود، دا تعبیر په دېوال ووهه او که دې کله د مشهود کتاب د کوم توکي په اړه داسې څه ترغوږ شو چې د مقروء کتاب له کوم آیت سره ئې توپیر درلود، نو لرې ئې وغورځوه او تر پښو ئې لاندې کړه، دا دواړه آیتونه په هیڅ صورت کې یو د بل خلاف خبره نه کوي، ځکه رب ئې یو دئ. ناپوه کسان به د دې یا هغه په اړه داسې تفسیر او تعبیر وړاندې کوي چې یو له بل مغایرت ولري.

د سورې په لومړیو دریو آیتونو کې د الله تعالی درې نومونه ذکر شوي: رب العالمین، الرحمن الرحیم او مالك یوم الدین، که په قرآن کې غور وکړئ وبه ګورئ چې په دغو دریو نومونو کې د الله تعالی ټول نومونه راخلاصه شوي. که د الله تعالی هغه مبارك نومونه چې په قرآنکریم او احادیثو کې راغلي دي، د فاتحې د سورې د دریو لومړنیو آیتونو په رڼا کې وڅېړئ دا به په آسانۍ درته جوته شي چې د فاتحې مبارکه سوره نه یوازې د قرآنکریم اساس او خلاصه ده، بلکې د الله تعالی د نومونو خلاصه هم د همدې سورې په دریو لومړنیو آیتونو کې راغلې ده.

دا درې آیتونه نه یوازې د الله تعالی نومونه او صفات معرفي کوي، بلکې د هغو دلائلو خلاصه هم وړاندې کوي چې قرآن ئې د الله تعالی د شتون د اثبات لپاره د انسان مخې ته ږدي. په لومړي آیت کې ویل شوي چې الله همغه دئ چې په دې عالم کې ئې د ربوبیت، پالنې او روزنې نښې ګورو، همغه چې د عالم هر څه په دې شهادت ورکوي چې دی له هر عیب او نقص منزه او د ټولو ستاینو وړ دئ. د عالمونو رب او پالونکی له هغه الله پرته بل څوك نه شي کېدی چې د عالم ذره ذره دا شهادت ورکوي چې هغه د ټولو ستاینو وړ دئ.

په دوهم آیت کې ویل شوي: د ستاینو وړ الله همغه دئ چې د رحمت او پېرزوینې

نښې او مظاهر ئې د دې پراخ عالَم په هر گوټ کې خورې دي.

په درېيم آيت کې د همغه الله دې صفت ته اشاره شوې چې د جزاء د ورځې ټولواك دئ، په دنيا کې هم د مالك او ټولواك په توگه تصرف کوي او په آخرت کې هم، په دې عالَم کې د ده د واکمنۍ آثار څرگند دي، همغه چې د عالَم هر څه اداره کوي، هر څه په خپل خپل ځای کې ساتي، هر څه ته ئې خپل مسير ټاکلی او هغه چار او ناچار؛ که وغواړي که ونه غواړي؛ په همغه مسير کې درومي. که د الله د اثبات لپاره د قرآن دلائلو ته لږ ځير شو؛ وبه گورو چې د قرآن ټول دلائل په همدغو پورتنيو دريو برخو کې راخلاصه کېږي.

په څلورم آيت کې د کلام لهجه بدلېږي؛ مخکې مو ويل چې د عالَمونو رب، هغه ډېر ډېر مهربان او هغه مالك الملك الله؛ د ټولو ستاينو وړ دئ، خو اوس له همغه الله سره مخامخ خبره کوو، دا ځکه چې هغه مو موندلی، مخکينيو دلائلو موږ ته راښودلی، د عالَمونو دې مهربان او واکمن رب ته دوې اساسي خبرې لرو: يوازې ستا عبادت کوو او يوازې له تا مرسته غواړو. د فاتحې سورې محوري او مرکزي مطلب همدا څلورم آيت، "إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ إِيَّاكَ نَستَعِينُ " دئ، د محتوی له لحاظه هم او د آيت د موقعيت له مخې هم چې درې آيتونه ترې مخکې او درې وروسته دي، نو لکه څنگه چې فاتحه د ټول قرآن اساس دئ او دا آيت د فاتحې اساس او محور، له دې معلومېږي چې د قرآن محوري او اساسي مدعی دا ده چې د انسان او د ده د رب تر منځ همدا رابطه ټينگه کړی شي چې عبادت ئې يوازې د ده لپاره وي او استعانت ئې يوازې له ده وي.

په پنځم آيت کې د عابد او موحد بنده لومړنۍ دعاء د لومړنۍ اړتيا او احتياج په اړه راغلې، خدايه! موږ په سمه لار هدايت کړې؛ د انسان لومړنۍ اړتيا دا ده چې لارښوونه ئې وشي، له نورو مخلوقاتو د ده يو اساسي توپير په دې کې دئ چې نورو ته په فطري توگه خپله لار ښودل شوې، د همغې فطري لارښوونې مطابق ژوند کوي، د غرڅه بچی په هغه لومړۍ ورځ او له پيدايښت څو شېبې وروسته په خپلو پښو ودرېږي، په خپلې مور پسې زغلي، د هغه څه له خوړلو او د هغه کار له کولو ډډه کوي چې ورته تاوان لري، مفيد او مضر بوټي پېژني، خو انسان تر اوږدې مودې مور ته سخت اړ وي، اور، تيږې او لوټي ته لاس کوي، هر څه په خوله منډي، که ئې مور څو شېبې ترې غافله شي، يا په اور کې ځان اچوي يا اوبو کې، هغه ته بايد ښه او بد، مفيد او مضر، شات او زهر، حلال او حرام عملاً وروښودل شي، هغه تر بل هر مخلوق دې ته زيات اړ دئ چې د ښه ژوند کولو ټولې غوښتنې او مقتضيات ورزده کړی شي، فطري ښوونه ورته کافي نه ده، د ده وضع له نورو مخلوقاتو فرق کوي، دی له ځانگړو استعدادونو سره پيدا شوی.

په شپږم آيت کې ويل شوي چې دا سمه او مستقيمه لار مجرده ذهني او فکري لار نه ده، هسې يو اعتقاد او باور نه دئ چې يوازې باور او اعتقاد پرې کافي وي، نه؛ د تلو لار ده، دا تګلاره ده، عملي تګ غواړي، تر تا د مخه ډېر پرې تللي دي او په دې باندې د تلو په وجه د الله د پېرزوينو او انعاماتو مستحق ګڼل شوي، سعادت او نېك بختي ئې په برخه شوې.

په اوم آيت کې د دغو بختورو انسانانو دوه نوري ځانګړتياوې معرفي شوې: دوی نه داسې دي چې په نعمتونو کې ئې ناشکري کړې، د الله نعمتونه ئې په غلطو لارو کارولي او په دې سره د الله د غضب وړ ګرځېدلی وي او نه هم داسې چې د لارې په نيمايي کې تېروتي او ښې يا کيڼ لورې ته منحرف شوي وي او نه داسې چې په ظاهر کې ئې نعمتونه په برخه وي خو په حقيقت کې د الهي غضب مستحق، بې لارې او منحرف وي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١﴾ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٢﴾ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٣﴾ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ﴿٤﴾ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ﴿٥﴾ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ ﴿٦﴾ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴿٧﴾

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

۱- ټولې ستاينې د عالمونو رب الله ته دي. ۲- همغه ډېر مهربان رحم کوونکی. ۳- د بدلې د ورځې ټولواك. ٤- يوازې ستا عبادت کوو او يوازې له تا مرسته غواړو. ۵- په دغې سمې لار مو هدايت کړې. ٦- د هغو کسانو په لار چې تا پرې پېرزوينه کړې. ۷- نه غضب پرې شوی او نه بې لارې دي.

---

(۱)- دا د سورې لومړی آيت دئ، بسم الله الرحمن الرحيم د دې سورې جزء نه دئ، د بسم الله تعلق له دې سورې سره همغسې دئ لکه له ټولو نورو سورتونو سره. په دې

لومړي آيت کې يوې داسې ستري او اساسي خبري ته اشاره شوې چې تر هر څه د مخه ورباندې پوهېدل ضروري او همدا د توحيد بنسټ او د الله د پېژندلو لومړی پړاو دئ. په دې آيت کې ويل شوي: هغه ذات چې دا عالمونه ئې پيدا کړي، د هغه ساتنه او پالنه کوي، په هر څه او ټولو برخو کې ئې د رب (پالونکي) په توګه تصرف کوي او د ربوبيت او پالنې او روزنې دا آثار او مظاهر هري خوا ته په هرګام کې تر سترګو کېږي، بې شکه چې دا ذات د ټولو ستاينو وړ دئ، دا مشهود او ستا تر سترګو لاندې عالم او په هغه کې دا بې شمېره توکې تا دغه حقيقت ته هدايت کوي او په دغه اعتراف دې مجبوروي، دا هري خوا ته تر سترګو کېدونکې ښکلا او ښايست، کمال او جمال، نظم او دقت او دا چې ګورئ هر څه سم پيدا شوي، هر څه د خاص مقصد لپاره پيدا شوي، سمه پالنه او روزنه ئې کېږي، دا ټول په دې شهادت ورکوي چې د دې عالمونو (رب) د ستاينو وړ او له هر عيب او نقص منزه او پاك دئ. د دې پراخ او ستر عالم دا بې شمېره توکې، چې هر يو ئې په ډېر دقت او ظرافت سره، په ډېره غوره او ښايسته بڼه کې پيدا شوی، هر يو ئې د يوه مشخص هدف او ځانګړې غايې د تحقق لپاره په کار ګمارل شوی، چې په منظم او پرله پسې توګه او په کامل انهماك سره په خپل خاص کار او د خپل ځانګړي مأموريت په تر سره کولو کې شپه ورځ لګيا دي، په خپله او په خپل وجود سره ئې هم يوه تشه ډکه کړې او په هغه څه هم چې د ده په کار او هلو ځلو مرتب کېږي هم يوه تشه ډکوي او يوې اړتيا ته ځواب وايي. په ټول خور وور عالم کې، خوشې، بې هدفه، له اړتياوو زيات او له ضرورت کم څه نه شئ موندلی، هغه ذات چې دا بې انتهاء پراخ عالم ئې له ټولو دغو ښکلاوو او ښېګڼو او له دې ژور او دقيق نظم سره پيدا کړی، د عالم پالنه او روزنه ئې په واك کې ده، هره ذره ئې ساتي او پالي، رشد ورکوي، کمال ته ئې رسوي، د کمال په لوري د خوځېدو توفيق ورکوي او له مخکې ټاکل شوې نتيجې پرې مرتب کوي، بې له شکه چې دا ذات د ټولو ښېګڼو واجد او د ټولو ستاينو وړ دئ. دغه ذات؛ الله دئ او ټولې ستاينې همدغه د عالمونو پالونکي او ساتونکي الله ته دي، چې زه په دې خور عالم کې هري خوا ته، د ده د ربوبيت، پالنې او روزنې ځرګند مظاهر او نښې ګورم، د دې عالم هري خوا ته چې مخ واړوم، ګورم چې هر څه له هيڅ پيل شي، ورو ورو ستر شي، د کمال په لوري وده ورکړی شي، د خپلې ارتقاء او کمال آخري پوړ ته ورسول شي، يو ضروري او لازم کار پرې تر سره شي، يو ضرورت پرې رفع کړی شي، يوه خلا او تشه پرې ډکه کړی شي، بيايې زوال پيل شي، په زړښت او مرګ محکوم شي او ځای ئې بل ته خالي کړی شي. دا کار هره شېبه، هري خوا ته تکرارېږي، د دې مظاهرو تر شا، ما ته د ربوبيت او پالنې يو نامرئي او ناځرګند لاس په نظر راځي،

همغه زما الله دئ او همغه د دې عالم الله دئ. زه نه يوازې په دې عالم کې د روزنې او پالنې يو نامرئي لاس احساسوم، بلکې ګورم چې د هر څه پيدايښت، پالنه، روزنه او ساتنه په ډېر دقت سره تر سره کېږي. د دې عالم په هر جزء او د هرجزء په حرکت او خوځښت کې زه ښايست، ښکلا، کمال او هدفوالی ګورم. خوشی، بې مقصده، اضافي او غيرضروري شيء مې په نظر نه راځي. زما هرې خوا ته خواره شيان، هر يو بېل بېل هم او ټول په ګډه هم، د خاص مقصد لپاره په کار لګيا دي، د ټولو تر منځ د نظم، يووالي او ژور تنسيق شاهد يم. د دې عالم همدا ملموس او مشهود کيفيت، زما په ژبه د دې الفاظو د جاري کېدو باعث دئ چې: ټولې ستاينې د عالمونو رب الله ته دي. موږ د دې خور عالم په پراخې غېږ کې داسې شيء نه شو موندلی چې پيدايښت ئې بې مقصده او بې هدفه وي، داسې شيء نه شو په ګوته کولی چې ځای ئې خالي وي، هر څه ښه پيدا شوي او د واضح هدف او مقصد لپاره پيدا شوي، په پيدايښت کې ئې د "علم"، "حکمت" او "قدرت" څرګند آثار ګورو.

د دې عالم هر څه د الله په شتون شهادت ورکوي، پر الله له ايمان پرته نه د دې ستر او خور عالم عظمت او په ډېر دقت سره د هغه ساتنه او پالنه تعبيرولی شو او نه په دې عالم کې نظم، ښايست او هدفوالی تفسيرولی شو. دلته موږ د "ربوبيت" او پالنې آثار ګورو چې د "رب" او "پالونکي" په شتون شهادت ورکوي، ګورو چې هر څه له هيڅ پيل شي، ورو ورو وده کوي، پالنه او روزنه ئې تر سره کېږي، اړتياوو ته ئې ځواب ويل کېږي، د خپلې ودې او تکامل آخري پوړ ته ورسېږي، په هغه سره يوه خلا ډکه شي، يو ضرورت رفع شي، د خپل مأموريت په پای کې د هغه زوال پيل شي، د ضعف او ناتوانۍ په لوري وخوځېږي، په زړښت محکوم شي او عمر ئې پای ته ورسېږي، له منځه ولاړ شي، خپل ځای نوي ځوان توکي ته پرېږدي، زموږ عقل د دې بهير تر شا د يوه داسې پالونکي ذات؛ د قدرت لاس احساسوي چې د هر څه پالنه او روزنه د ده له لوري تر سره کېږي.

که تاسو ټول قرآن په دقت سره تلاوت کړئ، وبه ګورئ چې په ځای ځای کې او په ګڼ شمېر آيتونو کې د الله د اثبات لپاره، د فاتحې د سورې د دغه آيت په څېر، استدلال شوی او ويل شوي: دا زمکه، آسمان چا پيدا کړي؟ د دې لمر، سپوږمۍ ختل او پرېوتل د چا په اراده تر سره کېږي؟ دا له آسمان باران څوک وروي او له زمکې دانه او مېوه څوک راباسي؟ دا د مرګ، ژوند پرېکړه څوک کوي؟ دا مړه خاوره د چا په حکم په ژوندي توکي بدلېږي؟ او دې ته ورته په سلګونو نور دلائل.

(۲)- د فاتحې د دوهم آيت په ترځ کې په دې عالم کې د رحمت او پېرزوينې خورې نښې د رحمن خدای د شتون لپاره د دليل په توګه وړاندې شوي او ويل شوي: همغه ډېر ډېر

مهربان او د ډېرې پېرزوينې خاوند الله، هغه چې د ده رحمت هومره زيات دئ چې د مبالغې يوه صيغه ئې د عظمت او زياتوالي د بيانولو لپاره کافي نه ده، دوه صيغې ورته په کار دي، همغه ډېر زيات مهربان، همغه چې ته ئې په دې عالم کې د رحمت او پېرزوينې ځرگندې نښې او واضح مظاهر گورې: ماشوم لا دنيا ته نه وي راغلی او د خپلې مور په گېډې کې وي خو د ده ټول حياتي ضروريات، د خوندورو شيدو په بڼه کې د مور په تي کې، مخکې له مخکې ورته تيار کړی شوي وي؛ او د مور، پلار په زړه کې ئې هومره مينه ورته ځای پر ځای شوې وي چې د ده لپاره هر کړاو زغمي!! هغه ماشوم ته د ده تر احتياج د مخه؛ څوک روزي برابروي؟ د ده د مور، پلار په زړه کې دا مينه چا اچولې؟ چا د ده څېره، حرکات او غږ داسې جوړ کړي چې نه يوازې د مور پلار بلکې د هر چا مينه پرې راځي او دا هغه څه دئ چې دا ماشوم ورته تر هر څه زيات ضرورت لري! دا څوک دئ چې د انسان، حيوان او نبات هر ضرورت ته ځواب وايي؟ د رڼا، تودوخې، اوبو او هوا انتظام ورته کوي؟ د څښاك اوبه ئې له استعمال وروسته؛ يا د نهرونو له لارې د لويو لويو بحرونو په لور وخوځېږي، تروې او تبزابي شي او يا په زمکه کې ننوځي او انسان ته ئې هم له زمکې راايستل گران شي او هم ئې له بحرونو بېرته راوړل محال شي، خو گورو چې د لمر د وړانگو په ذريعه د بحرونو همدا تروې او تېزابي اوبه تبخير او تصفيه شي، دا بخارات د بادونو په ذريعه د آسمان په لوري اوچت کړی شي، هلته د سړې هوا په وجه په ورېځو بدل شي، مؤظف بادونه دا ورېځې پر سر واخلي، ناڅاپې ووېشل شي، هر يو، خپله برخه، په خپل خاص سمت، خاصې منطقې ته د رسولو لپاره وخوځوي، په بيديا او د آوارې په محتاجو او باران ته سترگې په لاره خلکو باندې باران ووروي او په غرونو باندې واوري. چې د دنگو دنگو غرونو په ژورو او پراخو لمنو کې، د واورې کافي ذخيره، د دوبي لپاره خوندي وساتي او بيا د دوبي په سختې گرمۍ کې چې انسان، حيوان او نبات اوبو ته سخت اړ وي، همدا ذخيره شوې واوره ورو ورو ويلې شي او په نهرونو، کاريزونو او چينو کې د دوی د خړوبولو لپاره راوخوځېږي او د هر يوه ضرورت رفع کړي. بې شکه چې ټولې ستايينې هغه رب ته دي چې په دې عالم کې د ده د بې انتهاء رحمت او پېرزوينې وسيع آثار او نښې هرې خوا ته خورې گورو.

مور په دې عالم کې د "رحمت" او " پېرزوينې" ځرگندې نښې گورو او د نښو تر شا د داسې ذات نامرئي لاسونه چې په پوره زړه سوي او خواخوږۍ د هر څه پالنه او روزنه کوي. "انسان" لا د زمکې پر سر قدم نه وي ايښی چې د مور په تي کې ده ته داسې شيدې برابرې شوې وي چې ټولو اړتياوو ته ئې ځواب وايي، دا کار څوك کوي، د چا په اراده د

راتلونکو پېښو لپاره تیاری نیول شوی، کوم مهربان ذات د انسان اړتیاوې په پام کې نیولې او د ده له پیدایښت مخکې ئې د مهرباني مور په تي کې ورته تیاري کړې؟ کله چې انسان، حیوان او نبات باران ته اړ شي دا څوك دئ چې د هغه په اراده باران وربږي، کله چې رڼا او حرارت ته اړ شي دا څوك دئ چې لمر ئې ورته پیداکړی چې د دوی مېشت ځای روڼ او تود کړي، چا په دوی کې د هري بیمارۍ او د هر میکروب د مقابلې استعداد ایښی؟!

(۳)- په دریېم آیت کې د واکمنۍ، اداري، نظم او ضبط هغه مظاهر چې په دې عالم کې هري خوا ته په نظر راځي، د واکمن او مالك خدای د شتون دلیل گڼل شوی. ته په دې عالم کې د یوه داسې ټولواك ذات د واکمنۍ آثار په څرگند ډول گورې چې د هر څه ساتنه کوي، هر څه د ده په وړاندې منقاد دي. ده چې د هر څه د پیدایښت، خوځښت، کمال او زوال لپاره کوم مسیر او حد ټاکلی، له یوې ذرې انحراف او تغییر پرته په همغه مسیر کې درومي. لمر په خپل وخت، هره ورځ، له خاص ځایه راپورته کېږي، زمکې ته رڼا او تودوخه ورکوي او بیا په ثابت وخت کې په ثابت ځای کې پرېوځي.

د آسمان په دې پراخي او بې انتهاء غېږ کې په ملیونونو ملیونونو ستوري، هریو په خپل مدار کې خوځېږي، د دوی تر منځ د ټکر او تصادم مخنیوی کېږي، نه یو د بل په مدار کې داخلېږي او نه یو بل جذبوي. هغه ذات چې دا هر څه ده ته منقاد دي او د ده له حکم سره سم په ټاکلي مسیر کې خوځېږي، همغه د عالمونو مالك الملك الله دئ. هره ستاینه همغه الله ته ده چې په دې عالم کې د مالك الملك په توگه تصرف کوي او هر څه د ده واکمنۍ ته منقاد دي. د قرآن په گڼ شمېر آیتونو کې به هم وگورئ چې د فاتحې د دغه دریېم آیت په څېر استدلال شوی او په عالم کې د واکمنۍ، نظم او ضبط مظاهر د مالك الملك خدای د شتون دلیل ښودل شوی، لکه چې فرمایي:

أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾ آل عمران

آیا د الله له دین پرته کوم بل څه لټوي، په داسې حال کې چې د آسمانونو او زمکې هر څه، طوعا اوکرها (په خوښۍ او ناخوښۍ) ده ته غاړه ایښې او د ده لوري ته ورگرځول کېږي.

د دې عالم هر څه د هغه د ساتونکي (مالك) خدای وضع کړی شوو سننو ته غاړه ایښې ده. موږ گورو چې د دې عالم هر څه د خاصو سننو او ضوابطو محکوم دي، هري خوا ته د سننو او ضوابطو د حاکمیت شاهد یو، هر څه د دغو سننو مطابق تر سره کېږي، موږ ته وواياست چې دغه ضوابط چا وضع کړي؟ د چا اراده د دغو سننو په څېر څرگنده شوې او هر څه د ده په وړاندې خاضع او محکوم شوي؟!

هر "مخلوق" او "مصنوع" د "خالق" او "صانع" په شتون شهادت ورکوي، د "بې خالقه" مخلوق او "بې صانع" مصنوع تصور د انسان عقل نه شي قبلولی. د هر "رسم" په ليدو سره زموږ عقل فيصله کوي چې دا حتماً يو ماهر رسام لري، هر "تصوير" خپل مصور موږ ته را په يادوي. که تا ته څوك ووايي چې دا "رسم" له "رسام" پرته په خپله جوړ شوی، دا "تصوير" له "مصور" پرته په خپله ترکيب شوی، دا "کتاب" له ليکوال پرته ليکل شوی، ستا عقل حتماً په داسی خبرو تمسخر کوي، نه پوهېږو چې ستا "عقل" څنگه مني چې دا ټوله هستي، په دې کې بې شمېره ښکلي او ښايسته مخلوقات، په هري برخي کې ئې د "علم"، "هنر"، "دقت" او "هدف والي" خورې نښې، له "عليم"، "قدير" او "حکيم" خالق پرته پيدا شوي؟! په يوه "مصنوع" او "جوړ شوي" شي کې د "علم" او پوهې نښې موږ دې ته هدايت کوي چې پيداکوونکی ئې پوه دئ، د "دقيق" او "ظريف" انځورني نښې موږ ته وايي: پيداکوونکی ئې ماهر رسام دئ، په ظرافت پوه دئ، که څه هم موږ د دې توکي "پيداکوونکی" او "رسام" نه دئ ليدلی، فقط د ده په "پيدا کړي" شي کې مو د ده د لاس آثار ليدلي، زموږ عقل له آثارو د خالق، صانع، رسام او مصور په شتون باور کوي.

همدا راز د "مصنوع" هر "صفت" د صانع صفت په گوته کوي. که مصنوع سترگور وي صانع به ئې حتماً بصير او سترگور وي، په مخلوق کې د علم او پوهې صفت په دې شهادت ورکوي چې پيدا کوونکی او خالق ئې حتماً پوه او عليم دئ. بې سترگو طبيعت سترگور انسان نه شي پيدا کولی، مړ طبيعت ژوندی موجود نه شي پيدا کولی، کوڼ طبيعت اورېدونکی مخلوق نه شي پيدا کولی، د هيڅ انسان عقل دا خبره نه شي منلی چې ړوند، کوڼ، مړ او بې عقله طبيعت دې داسي مخلوق پيدا کړي چې سترگې لري، غوږونه لري، ژوندی دئ، خوځېږي، د عقل او ارادې خاوند دئ، د همدې طبيعت مهار په لاس کې نيسي او د خپلي خوښي مطابق په هغه کې تصرف کوي!!

موږ د هغو پرله پسې او منظمو بدلونونو چې د خاصو ضوابطو او سننو مطابق تر سره کېږي، د يوه داسي ذات نامرئي لاسونه په خپل عقل او شعور سره لمس کوو چې په ډېر دقت او انتهائي ظرافت سره چاري سمبالوي، د هر شي پيدايښت له هيڅ پيل کړي، له يوه حالت ئې بل ته واړوي، ورو ورو وده ورکړي، کمال ته ئې ورسوي، ځانگړی له مخکې ټاکلی کار پرې تر سره کړي، خاصي اړتياوي پرې رفع کړي، زړښت ته ئې ورسوي او په پای کې ئې په مرگ محکوم او ځای ئې بل نوي، ځواکمن او وده موندونکي توکي ته خالي کړي.

د دې عالم له ښکلا، نظم او بامقصده بدلونونو هر باشعوره او بااحساسه انسان دې نتيجې ته په آسانۍ رسي چې دا هر څه هرو مرو د هغه حکيم رب او عليم پالونکي د

تصرف مظاهر دي چې په ټولو غورو صفاتو متصف او د ټولو ستاینو مستحق دئ. موږ ته د پلاستيك يوه ټوټه، د مات شوي چيني لوښي يوه برخه، په سپين كاغذ څو كرښي په نظر راشي، ورته ځير شو، په هغه كې د يوه رسام، انجنير، خطاط او ليكوال د لاس اثر گورو او ډېر ژر دې نتيجې ته رسو چې په دې كې دا رسم د هغه چا د لاس نښه ده چې ښه رسام دئ، د پلاستيك دا ټوټه درته وايي چې زه يوه داسي كس جوړه كړې يم چې د پلاستيك له خصوصياتو خبر او له هغه د راز راز شيانو په جوړولو قادر دئ، د چيني لوښي دا ټوټه هم خپل صانع درته معرفي كوي او ته په هغه كې د چيني جوړوونكې د مهارت، علم او هنر نښې گورې، دا ليكنه هم تا د خپل ليكونكي په وړتياوو او استعدادونو خبروي، څنگه ممكنه ده چې انسان دي د عالم دا بې شمېره ښايسته، ښكلي او غوره مخلوقات؛ انسانان، رنگ رنگ ښكلي مرغان، واړه او ستر حيوانات، گټور او مفيد نباتات، ښايسته گلان، خوندوري مېوې، زړه راښكونكې منظرې او ... گوري، خو د هغه پلاستيك د ټوټې، د مات شوي چيني لوښي هغه برخي او پر سپين كاغذ د هغو څو كرښو په اندازه دي هم اهميت ورنكړي، له خالق او صانع دې انكار وكړي؟ ښايي څوك په ژبه انكار وكړي خو گرانه ده چې د چا زړه او دماغ دي له داسي دروغجني ژبې سره ملگرتيا وكړي.

(٤)- په څلورم آيت كې د بيان لهجه بدله شوې، مخكې مو ويل چې د عالمونو رب، هغه ډېر ډېر مهربان او هغه مالك الملك خداى دئ چې د ټولو ستاينو وړ دئ، خو اوس له همغه الله سره مخامخ خبره كوو، دا ځكه چې هغه مو موندلى، مخكينيو دلائلو موږ ته راښودلى، د عالمونو دې مهربان او واكمن رب ته دوې اساسي خبري لرو: يوازي ستا عبادت كوو او يوازي له تا مرسته غواړو. د عبادت معنى مرييتوب ده او ته پوهېږې چې مريى هغه چا ته ويل كېږي چې:

- په بل خرڅ شوى وي او خپل واك ئې په كامل طور هغه ته سپارلى وي.
- د ده په واك كې چې څه وي هغه د ده نه بلكې د ده د آقا او مالك وي.
- هيڅ كار په خپله خوښه او د خپلي مرضۍ مطابق نه شي كولى، يوازي همغه څه كوي چې خپل آقا ورته امر كړى وي.
- په خپلو ټولو كړنو كې د خپل مالك او بادار رضاء لټوي، د خپلي رضاء لپاره هيڅ نه شي كولى.
- مريى نه شخصي دوست لري او نه دښمن، د آقا دوست ئې دوست او دښمن ئې دښمن وي.

مسلمانان په دې مكلف شوي چې په لمانځه كې به هرومرو او مكرر دا سوره لولي او

هره ورځ به ئې لږ تر لږه ۳۲ ځله تکراروي او پر دغي پورتني ژمني به تعهد کوي، دا د دې لپاره چي د دې سورې دا اساسي خبره ئې تل په ياد وي او يوه شېبه ترې غافل نه شي، خو زه له خپل ځان څخه پوښتنه کوم:

• په رښتيا ته چي په لمانځه کي د الله په وړاندې، لاس په سينه ودرېږې او همدغه کلمات تکراروې، آيا کله دي د دې تعهد او ژمني، معنى او مقتضى ته توجه کړې؟ او دې ته دي پام شوى چي په دې سره تا د خپل رب په وړاندي د کومو کومو سترو سترو خبرو تعهدکړى؟ او آيا په دې تعهداتو دي وفا هم کړې؟

• که تا د الله په لار کي خپل ځان، وخت او مال سپمولى وي، خپل مال، نفس او اولاد دي د الله امانت نه وي ګڼلى او د الله په لاري کي د هغوى له قربانۍ دي ډډه کړې وي، هر کار دي د خپلي هوى او هوس په حکم تر سره کړى وي، د هيڅ کار په پيل کي دي؛ دې ته نه وي کتلي چي ستا رب تا ته په دې اړه څه حکم کړى، که تا د الله د سخط او غضب په بيع په وار وار د خپل نفس رضاء لټولي وي، که تا د الله له دوستانو سره دښمني او له دښمنانو سره دوستي کړې وي، نو ستا دغه تعهد يو دروغجن تعهد وو، ګواکي په وار وار دي له الله سره دروغجنه ژمنه کړې او هر ځل دي خپله ژمنه ماته کړې، ته چي وايې: (إِيَّاكَ نَستَعِينُ )، معنى ئې دا ده:

خدايه! يوازي او يوازي تا ته د احتياج لاس اوږدوم، له تا پرته د بل چا لمن نه نيسم، بل ته طمع نه کوم، تا ځانته کافي ګڼم، عقيده مي دا ده چي هر څه ستا په واک کي دي، ته د خپلو بندګانو پالنه او روزنه کوې او په هغوى بې انتهاء مهربانه يې، نو ځکه هر څه فقط له تا غواړو.

په دې ترتيب ته د فاتحې په لوستلو سره، له خپل رب سره مکرر تعهد کوې چي: له تا پرته بل ته د عبادت او مرييتوب سر نه کوزوم او بل ته د سؤال او غوښتني لاسونه نه اوږدوم.

خوکه د دې مکرر تعهد سره سره، ستا طمع له الله پرته بل چا او بل څه ته وه، مستعان خداى دي ځانته کافي نه ګڼلو او د خپلو حاجتونو تر سره کېدو لپاره دي د بل لمنه نيوله او ګمان دي کولو چي په ربوبيت او د عالم په پالني، روزني، ساتني او د مخلوقاتو د حوائجو او اړتياوو په پوره کولو کي الله ځانته شريکان لري او دا شريکان يا په خپله ستا دعاء ته ځواب وايي او يا ئې په الله هرو مرو مني، نو ته ما ته ووايه چي ستا د (إِيَّاكَ نَستَعِينُ) د ويلو معنى څه شوه؟

ښايي په دې پوهېږې چي د فاتحې سوره د ټول قرآن عظيم الشان خلاصه ده، يا په بل

عبارت، ټول قرآن د همدې مبارکې سورې شرح او تفصیل دئ او د فاتحې سورې محوري او مرکزي مطلب همدا څلورم آیت، "إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ إِيَّاكَ نَسْتَعِينُ " دئ، له دې معلومېږي چې د قرآن محوري او اساسي مدعی دا ده چې د انسان او د ده د رب تر منځ همدا رابطه ټینګه کړی شي چې عبادت ئې یوازې د ده لپاره وي او استعانت ئې یوازې له ده وي.

(۵)- په دې ستړي خبري له تعهد او ژمني وروسته ته خپله لومړنۍ غوښتنه او لومړی سؤال خپل مولا ته وړاندې کوې او وایې: (اهْدِنَا الصِرَطَ الْمُسْتَقِيمَ : په سمې لارې مو هدایت کړه)! ستا د دغې دعاء معنی دا ده چې:

- ته په سمې لارې د تلو تلوسه لرې او د همدې لپاره ستا لومړنۍ تمنی او دعاء همدا ده.
- ته یوازې د ځان لپاره نه بلکې د نورو لپاره هم په سمې لارې د تلو توفیق غواړې، ته پوهېږې چې یوازې ستا سموالی کفایت نه کوي، ته دې ته اړ یې چې په سمې لارې د تلو لپاره د یوه صالح ټولګي په خوا کې حرکت وکړې. که ټولنه اصلاح نه وي افرادو ته په هغې کې سم پاته کېدل او په سمه لار تګ ګران وي، همدا راز له نورو انسانانو سره ستا مینه او پېرزوینه تا هڅوي چې د ځان په څنګ کې هغوی هم په خپلو دعاءګانو کې رایاد کړې.
- له سمې لارې ستا مراد همغه په څلورم آیت کې ذکر شوی مطلب دئ، یعني یوازې د الله عبادت او یوازې له هغه استعانت.
- تا په یوې داسې مستقیمې لارې د تلو توفیق غوښتی چې مخامخ دې الله ته رسوي، یوې خوا بلې خوا ته کږېدل په کې نشته. که تا یوازې دومره ویلي وی چې موږ هدایت کړه، معنی به ئې دا وه چې تا ته د سم فکر، صحیح نظریې او علمي رأیي ښوونه وشي. خو تا ویلي دي چې موږ په مستقیمې لارې هدایت کړه! په یوې لارې تګ د نظر او رأیي تر څنګ، عزم، عمل او حرکت او د سرمنزل او هدف ټاکل غواړي، حال دا چې رأی او نظریه یوازې د ذهني اقناع غوښتنه کوي، نو ځکه ته په دې دعاء سره له الله تعالی غواړې چې د رأیي سموالی، د هدف پاکوالی، د عزم رښتینوالی او د تګلارې سموالی دې په برخه شي.

له ځان سره لږ فکر وکړه او قضاوت وکړه چې ته هره ورځ په وار وار د هدایت او لارښوونې تمنی کوې او له الله جل شأنه په خپل لمانځه کې په سمې لارې د تلو توفیق غواړې، خو له لمانځه وروسته او مخکې، نه تا د سمې لارې د پېژندلو هڅه کړې او نه په دې لار دتلو تکل!! نو له دې دعاء ستا مقصد څه دئ؟

ته چې د سهار له لمانځه فارغ شې او د ورځنې کار لپاره منصوبې جوړوې، نو نیت

دي کوږ وي، عزائم دي ناولي، د مال، عزت او اقتدار تر لاسه کولو لپاره کړې وړې لارې لټوې. سمه مستقيمه الهي لار پرېږدې او د شيطان په کږو وږو لارو روان شې. په دې صورت کې به څوك له تا دا دروغجنه ادعاء ومني چې تا په خپل لمانځه کې له الله په مستقيمې لارې د تلو تمنی او دعاء کړې وه؟

(٦)- ستا د دغې دعاء تر څنګ او وروسته، الله جل شأنه هغه غوښتلې مستقيمه لار داسې توضيح کړې: د هغو کسانو لار چې تا پېرزويني پرې کړې او په هغې لارې د تلو په نتيجه کې ئې ستا نعمتونه په برخه شوي.

يعنې دا لار يوازې يو فکري خط، يا يو مجرد ذهني او اعتقادي بهير او سلسله نه ده چې فقط د اعتقاد او باور غوښتنه کوي او بس، بلکې دا د عمل لپاره ترسيم شوی مستقيم خط دئ، دا پلې شوې لار ده، د تاريخ په اوږدو کې په وار وار د الله صالح بندګان په دې لار تللي او د مستعان لارښوونکي رب نعمتونه ئې په برخه شوي، عزت او سرلوړی ته رسېدلي، د زمکې خلافت، د ولسونو فکري، اخلاقي، سياسي او اجتماعي قيادت او مشري او د زمکې د ټولو شتمنيو وراثت ورته سپارل شوی.

قرآن موږ ته په دې لار تلونکي او د الله د پېرزوينو او انعاماتو لاس ته راوړونکي داسې معرفي کوي:

وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَۚ وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ رَفِيقٗا ٦٩ النساء

او څوك چې د الله او پيغمبر اطاعت وکړي نو دوی به له هغو کسانو سره وي چې الله پرې پېرزوينه کړې، د پيغمبرانو، رښتينو، شهيدانو او صالحانو سره او دا خلك څومره غوره ملګري دي.

ته په دغې تمنی سره غواړې چې د پيغمبرانو ملګرتيا دې په برخه شي، په خپل ايمان او له الله جل شأنه سره په خپلو کړو ژمنو او وعدو کې صادق او رښتينی شې او د الله په لارې کې هره شېبه شهادت ته چمتو وې او تل د ځان او ټولنې د اصلاح او رغونې په چارو کې بوخت وې. خو ما ته ووايه:

- آيا کله دې د دې دعاء معنی او ابعادو ته توجه کړې؟ د پيغمبرانو، صديقينو، شهداءو او صالحينو د ملګرتيا او د دوی په لار د تلو عزم او اراده دې کړې؟
- آيا د الله جل جلاله په لارې کې د شهادت جذبه او ولوله دې په زړه کې راولاړه شوې؟

ستا د دغې دعاء معنی خو همدا ده چې ته د الله په لار کې د شهادت تلوسه لرې او له

الله د شهداءو په لار د تلو توفيق غواړي!؟

• ته ښايي په دې هم پوهېږې چي د شهادت جذبه د هغه چا په زړه کي مري او له مرګ وېره او خوف ئې په زړه کي راپيدا کېږي چي: يا ئې په الله ايمان نه وي او يا د الله جل شأنه په ربوبيت باور نه لري، په اجل او د مرګ په معيني له مخکي ټاکل شوې نېټې عقيده نه لري، په دې خبري ايمان نه لري چي مرګ په خپل ثابت ليکل شوي وخت، د الله جل جلاله په اذن او حکم سره راځي او د انسان روح يوازي د مؤظفي او موکلي ملائکي په ذريعه قبضېږي او په دې نه پوهېږي چي مرګ د نوي ژوندون پيل دئ.

(۷)- ته د فاتحې په آخري برخي کي، د هغو کسانو په ډلي کي له محسوب کېدو امان غواړې چي د الله جل جلاله غضب پرې نازل شوی او لار ورکي دي. دا غضب کړی شوي کسان يا هغه دي چي د خپل منعم خدای د نعمتونو ناشکري ئې کړې او په داسي لارو ئې کارولي چي د الله تعالی د غضب موجب دي، يا هغه دي چي منعم خدای جل شأنه په ظاهر کي دوی ته ښه ډېر انعامات ورکړي او يا د دوی ظاهري وضعيت داسي برېښي چي دا نعمتونه ئې ښايي د څه ورتياوو په وجه په برخه شوي وي، خو په حقيقت کي د الله جل جلاله په غضب اخته دي، يا هغه چي د ايمان له راوړلو وروسته ئې داسي څه کړي چي د الله جل جلاله په غضب اخته شوي او دا لار ورکي هغه کسان دي چي له ايمان راوړو وروسته ئې اصلي لاره ورکه کړې که څه هم د دوی ظاهري وضع او يا د دوی ادعاء داسي وي چي ګواکي په سمه لاره روان دي، خو په حقيقت کي سخت بې لاري دي.

د دې سورې په پای کي ته د آمين په ويلو مکلف شوی يې چي معنی ئې دا ده: خدايه! دعاء مو قبوله کړې! ستا د دغي دعاء په ځواب کي الله تعالی د فاتحې له سورې سره متصل، د بقرې د سورې په لومړي آيت کي فرمايي: (ذلك الكتاب لاريب فيه هدى للمتقين: دا همغه کتاب دئ چي شك په کي نشته، هدايت متقيانو ته). تا د فاتحې په سوره کي د هدايت غوښتنه کړې او الله تعالی درته ويلي چي ستا د دعاء ځواب دغه کتاب دئ، د متقيانو لپاره لارښود.

د دې لپاره چي لوستونکو ته دا خبره ښه جوته شي چي د فاتحې د سورې په لومړيو دريو آيتونو کي د الله تعالی ټول نومونه او صفات راخلاصه شوي، لاندي وضاحت ضروري ګڼو:

• په يوه حديث کي د الله تعالی نومونه ۹۹ ښودل شوي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لِلَّهِ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ اسْمًا، مَنْ حَفِظَهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَإِنَّ اللهَ وِتْرٌ، يُحِبُّ الْوِتْرَ» رواه مسلم، بخاری، مسند احمد

له ابو هريره روايت دئ چې نبي صلى الله عليه و سلم فرمايلي: د الله تعالى ۹۹ نومونه دي؛ چا چې حفظ کړل؛ جنت ته به داخل شي؛ او الله طاق دئ؛ طاق خوښوي.

دا هر نوم د الله تعالى يو صفت معرفي کوي؛ ټول نومونه د فاتحې د سورې په دريو صفاتو (رب، رحمن او مالك) کې په دې شرح خلاصه شوي:

- د رب نوم په ټولو هغو نومونو او صفاتو شامل دئ چې د خالق، بارئ، بديع او مصور په څېر دي.
- د رحمن نوم په ټولو هغو نومونو او صفاتو احتواء کړې چې د پېرزوينې او رحمت له صفاتو سره اړخ لګوي، لکه غفور، کريم، عفو، حليم...
- او د مالك نوم ټول هغه صفات او نومونه احتواء کوي چې له پاچايي، ټولواکۍ او اقتدار سره تعلق لري، لکه قهار، جبار، عزيز، قدير، غالب، مؤمن، مهيمن...

لومړی آيت په ټولو لاندنيو نومونو شامل دئ:

الرب، الخالق، البارئ، المصور، الله، الاله، الواحد، الاحد، الوتر، الاول، الآخر، الظاهر، الباطن، الحق، المبين، الحي، الصمد.

دوهم آيت په لاندنيو نومونو:

الرحمن، الرحيم، الرؤوف، الاكرم، البر، التواب، الحليم، العفو، الغفور، الكريم، اللطيف، المجيب، الودود، الوهاب، الولي، المولى، الرفيق، الشافي، المحسن، المعطي، المنان، القريب، الجميل، الطيب، الشاكر، الشكور، الواسع، النصير، البصير، الخبير، السميع، العليم، العالم، الشهيد، الحافظ، الحفيظ، الرقيب.

او درېيم آيت په دغو نومونو:

الملك، المليك، القاهر، القهار، القادر، القوي، الكبير، القدير، المؤمن، المهيمن، المقتدر، المتعال، المتكبر، المجيد، المعز، المذل، المقدم، المؤخر، الحكم، الحكيم، الباسط، القابض، الرزاق، الجبار، الاعلى، العزيز، القيوم، العلي، القدوس، السلام، السبوح، الحميد، الوارد، الغني، المحيط، الفتاح، الوكيل، المقيت.

د الحشر د سورې په دريو لاندنيو ۲۲، ۲۳، ۲٤ آيتونو کې هم د الله نومونه د فاتحې د سورې په څېر په دريو برخو وېشل شوي:

هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ۖ هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٢﴾

هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْمَلِكُ ٱلْقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلْمُؤْمِنُ ٱلْمُهَيْمِنُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْجَبَّارُ ٱلْمُتَكَبِّرُ ۚ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٢٣﴾

هُوَ ٱللَّهُ ٱلْخَٰلِقُ ٱلْبَارِئُ ٱلْمُصَوِّرُ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٤﴾

په قرآن کې اکثراً د سمیع، بصیر او علیم صفات هلته ذکر شوي چې الله تعالی خپلو بندګانو ته دا خبره کوي چې الله ستاسو دعاءګانې اوري، پر تاسو ئې نظر دئ، ستاسو په حالت پوه دئ، یوازې مو نه پرېږدي، هغه د رحمت او پېرزویني خاوند دئ. د الحشر په سوره کې هم ګورئ چې د عالم الغیب و الشهادة صفت د الرحمن الرحیم په څنګ کې راغلی.

همدا راز که د فاتحې د سورې آیتونو ته په دقت سره پام وکړئ نو حتماً به دې ته متوجه شئ چې: د هغو صفاتو په مقابل کې چې په لومړنیو آیتونو کې راغلي:

ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١﴾

ٱلرَّحْمَٰنِ

ٱلرَّحِيمِ ﴿٢﴾

مَٰلِكِ يَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿٣﴾

د وروستیو آیتونو مطالب په دې شکل راغلي:

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴿٤﴾

ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴿٥﴾

صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ﴿٦﴾

غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴿٧﴾

نوموړی ترتیب دا مطلب په ګوته کوي:

- یوازې هغه الله د عبادت وړ دئ چې ستاینې ټولې هغه ته دي.
- یوازې له هغه څخه باید مرسته وغوښتلی شي چې د عالمونو پالونکی او روزونکی رب دئ.
- باید له رحمان خدای د هدایت او لارښوونې تمنی وشي نه له بل چا.
- باید الرحیم رب ته دانعاماتو او پېرزوینو دعاء وشي نه بلې مرجع ته.
- باید د مالك الملك رب له غضب ووېرېږو چې د دنیا او عقبا مالك دئ، نه د بل چا له قهر او غصې.

- او باید یوازې له دې په اندېښنه کې وو چې د قیامت په ورځ د همدې مالك الملك الله جل شأنه په وړاندې د ګمراهانو په ډله کې ونه دربېږو.

ځینې مترجمین د اووم آیت ترجمه داسې کوي: نه د هغو کسانو لار چې غضب کړی شوي او نه د هغو کسانو لار چې ګمراهان دي. خو دغه ژباړه سمه نه ده، غیرالمغضوب علیهم.... د الذین بدل یا صفت دئ او دقیقه ترجمه همغه ده چې موږ لیکلې: (نه غضب کړی شوي او نه بې لارې دي). علامه شبیر احمد عثماني د کابلي تفسیر معروف او منلی مفسر هم د دغو کسانو ترجمه د آیت د ترکیب خلاف ګڼې، دا ځکه چې که تاسو وغواړئ چې د الصراط لفظ په دې ځای کې علاوه کړئ نو د آیت ټول ترکیب باید بدل کړئ، د الصراط په علاوه کولو سره ئې موجود ترکیب په خپل حال نه شي پاته کېدی.

متأسفانه چا چې د علامه عثماني تفسیر په پښتو ترجمه کړی، دا آیت ئې د ده د رأیې او نظر خلاف داسې ترجمه کړی: نه د هغو لار چې غضب پرې شوی (یهودان) او نه د هغو لار چې ګمراهان دي (نصاری).

ځینې نور هم له (المغضوب علیهم) یهود او له (الضالین) نصاری مرادوي، خو د دې دواړو نطاق عام دئ، په هر هغه چا ئې اطلاق کېږي چې د الله تعالی له پېرزوینو وروسته د ده د غضب وړ ګرځېدلي او له هدایت وروسته بې لارې شوي، یهود او نصاری ئې دوه بېلګې دي.

- د فاتحې د سورې په اړه یوه بل مطلب ته هم اشاره کول ګټور برېښي او هغه دا چې: د مذاهبو تر منځ یوه اختلافي موضوع دا ده چې آیا په لمانځه کې د فاتحې سوره لوستل فرض دي که غوره؟ آیا لوستل ئې هم پر امام لازم دي او هم پر مقتدي، که یوازې پر امام؟ آیا مقتدي به په امام پسې په جهري یا خفیه لمونځونو کې قرائت کوي که نه؟ آیا له فاتحې پرته لمونځ صحیح کېږي؟ په دې اړه قرآن څه حکم کوي او احادیث څه وایي؟

راشئ لومړی دا وګورو چې قرآن په لمانځه کې د قرائت په اړه څه حکم کوي؟ قرآن د قرائت په اړه موږ ته څو لارښوونې لري:

- دوه ځلې امر کوي چې په خپلو لمونځونو کې یوه آسانه برخه د قرآن ووایئ: (فَاقْرَءُوا مَا تَيَسرَ مِنَ الْقُرْءَانِ) او (فَاقْرَءُوا مَا تَيَسرَ مِنْهُ).

موږ ته امر کوي چې کله قرآن لوستل کېږي نو غوږ ورته ونیسئ او پټه خوله اوسئ:

وَإِذَا قُرِئَ ٱلْقُرْءَانُ فَٱسْتَمِعُواْ لَهُۥ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٢٠٤﴾ الاعراف

- پیغمبر علیه السلام ته امر کوي چې کله فرشته تا ته قرآن در اوروي نو له ځان سره ئې مه وایه او تلوار مه پرې کوه:

... وَلَا تَعۡجَلۡ بِٱلۡقُرۡءَانِ مِن قَبۡلِ أَن يُقۡضَىٰٓ إِلَيۡكَ وَحۡيُهُۥ ... ﴿١١٤﴾ طه
تر هغه د مخه چې تا ته د قرآن وحي بشپړه شي پر قرائت ئې تلوار مه کوه.

د دغو دريو آيتونو معنی دا ده چې: ١- په لمانځه کې يوازې د قرآن يوه آسانه برخه لوستل فرض دي، دا ځکه چې په قرآن کې دا امر نشته چې په لمانځه کې به د فاتحې سوره لولئ، په احاديثو کې راغلي چې څوك په لمانځه کې د فاتحې سوره ونه لولي لمونځ ئې ناقص دئ. ٢- د امام د قرائت په وخت کې له ځان سره قرآن ويل او شونډې پرې خوزول او غوږ نه نيول د قرآن د صريح حکم خلاف عمل دئ.

که موږ ته داسې دوه متعارضې رأيې يا متضاد روايات مخې ته راشي چې يو ئې وايي: د امام قرائت د مقتدي قرائت هم دئ، مقتدي به د امام د قرائت په وخت پټه خوله وي او قرائت به نه کوي او بل ئې وايي: مقتدي به هم د امام تر څنګ د فاتحې سوره له ځان سره لولي، نو موږ له څنډ پرته ويلی شو چې دا دوهمه رأيه له قرآن سره تعارض لري او لومړۍ رأيه له قرآن سره په بشپړه توګه توافق لري.

اوس راشئ د هغو خلکو رأيه وڅېړو چې په لمانځه کې د فاتحې سوره لوستل فرض ګڼي، دا وګورو چې دوی په کومو رواياتو استناد کوي او څه دليل لري؟ دوی په دغه روايت استناد کوي:

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ ( لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ ) .

له عباده بن صامت (رضي الله عنه) روايت دئ چې رسول الله (صلى الله عليه و سلم) فرمايلي: (څوک چې فاتحه (الحمد لله) ونه لولي، لمونځ ئې لمونځ نه دئ)

دا روايت په بخاري کې يو ځل راغلی.

د دې روايت په تعبير کې د محدثينو او فقهاءو تر منځ اختلاف دئ، ځيني ئې داسې تعبيروي چې ګواکې په لمانځه کې د فاتحې سوره لوستل فرض وي، له دې پرته لمونځ نه صحيح کېږي، هم د جماعت په لمانځه کې او هم په انفرادي لمونځونو کې، هم په جهر لمونځونو کې او هم په خفيه لمونځونو کې، هم د مقتدي لمونځ او هم د امام لمونځ، په جهر لمونځونو کې هم بايد مقتدي له امام وروسته دا سوره ووايي، که نه نو لمونځ ئې صحيح نه دئ!! د دې لپاره چې په دې اړه صحيح رأيه معلومه کړو بايد لاندې ټکي په پام کې ولرو:

- په قرآن کې د لمانځه د ترکيب په اړه څو خبرې شوې دي: د لمانځه په پيل کې د الله نوم يادول (وَذَكَرَ ٱسۡمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ)، قبلې ته مخ کول (فَوَلِّ وَجْهَكَ شطرَ الْمَسجِدِ الْحَرَامِ)، قيام

((إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلاةِ)، قرائت (فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ)، ((وَقُرْآنَ الْفَجْرِ)، رکوع، سجده (يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا ارْكَعُوا وَ اسجُدُوا). په قرآن کې د دې لپاره شاهد نه مومو چې په لمانځه کې د فاتحې د سورې لوستل ترې معلوم شي؛ بلکې په مکرره توګه ویل شوي چې د قرآن کومه آسانه برخه تلاوت کړئ.

• الله تعالی موږ ته امر کوي چې د قرآن د تلاوت په وخت کې ساکت وو او غوږ ونیسو، د دې معنی دا ده چې د امام د قرائت په وخت کې به غوږ نیسو او له څه ویلو به ډډه کوو.

• رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي چې د امام قرائت د مقتدي قرائت دئ: "مَن صَلَّى خَلفَ الإمامِ فإِنَّ قراءةَ الإمامِ له قراءةٌ": څوک چې په امام پسي لمونځ کوي نو د امام قرائت د ده قرائت هم دئ.

• که څوك امام په رکوع کې ونیسي نو بشپړ رکعت ئې نیولی دئ او د دغه رکعت اعاده ورباندي لازمه نه ده، که څه هم نه ئې فاتحه اورېدلې ده او نه ئې ویلې ده, په دې اړه د ټولو فقهاءو اجماع ده.

دغو خبرو ته په پام سره ویلی شو چې:

• په جهر لمونځونو کې او هغه مهال چې امام قرائت کوي د فاتحې سوره یا د قرآن نور آیتونه لوستل د قرآن د صریح حکم خلاف عمل دئ. څوك چې د امام د قرائت په وخت کې له ځان سره قرائت کوي، شونډې خوزوي، په عجله او تلوار سره قرائت کوي، دا کار ئې د قرآن او سنت خلاف دئ، ځکه الله تعالی خپل پیغمبر له داسي کولو منع کړی، رسول الله صلی الله علیه و سلم به د بعثت په لومړیو کې د وحي د نزول پر مهال او د فرشتې د قرائت په دوران کې همدا کار کولو چې الله تعالی ترې منع کړ!!

• اورېدل د لوستلو ځای ناستی دئ، څوك چې قرآن اوري داسي دئ لکه چې په خپله ئې لولي، ډېر ځلي د اورېدو اغېز تر لوستلو هم زیات وي، که اورېدل او لوستل یو شان نه وی نو په هغه چا به د قرائت سجده نه لازمېده چې د سجدې آیت ئې اورېدلی!!

• په خفیه لمونځونو کې په امام پسي قرائت داسي دئ لکه له قرائت پرته نور تکبیرات او تسبیحات ویل، نه یوازي د ممانعت لپاره ئې د منلو وړ دلیل او توجیه نشته بلکې د جهري قرائت اړوند حکم په غلطه توګه تعبیرول او خفیه قرائت ته ئې غزول دي.

• که له فاتحې پرته لمونځ لمونځ نه وی نو د هغه مقتدي لمونځ به صحیح نه ګڼل کېدو چې له قرائت وروسته او په رکوع کې ئې امام نیولی.

• فرض هغه دئ چې الله تعالی ئې د کولو حکم کړی وي، نه د فاتحې د ویلو په اړه په

قرآن کې کوم حکم مومو؛ نه صریحاً او نه اشارتاً؛ او نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم له حدیث داسې معلومیږي چې ویل ئې فرض وي، څکه د رسول الله صلی الله علیه و سلم ګڼ شمېر احادیث داسې مومو چې په نورو امورو کې ئې دې ته ورته الفاظ کارولي، لکه (لَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ، وَلَا دِينَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ)؛ آیا د دې معنی دا ده چې که څوك یو ځل له چا سره خپله ژمنه ماته کړي له اسلامه ووت؟ که څوك په یوه واړه امانت کې یو ځل خیانت وکړي ایمان ئې حبط شو؟ لکه دلته چې کمال د اسلام او ایمان مراد دئ په هغه روایت کې کمال او حسن د ښه لمانځه مراد دئ، نه دا چې له فاتحې پرته لمونځ هیڅ اعتبار نه لري.

د جمعي په لمانځه کې د فاتحې د لوستلو او نه لوستلو په اړه ځینې روایات یو څه وایي او ځینې بل څه.

له عبدالله بن شداد رضي الله عنه، جابر رضي الله عنه او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما راغلي روایات وایي چې د امام قرائت د مقتدي قرائت هم دئ. روایات دا دي:

عن عبدِ اللَّهِ بنِ شَدّادٍ؛ قال رسولُ اللَّهِ صلى اللَّه عليه وسلم: "مَن كان له إمامٌ فإنَّ قراءةَ الإمامِ له قراءةٌ" السنن الكبرى للبيهقى

عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى خَلْفَ إِمَامٍ، فَإِنَّ قِرَاءَةَ الْإِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ» المعجم الأوسط للطبرانى

عن جابر عن النبى صلى الله عليه و سلم قال: مَن كان له إمامٌ فإنَّ قراءةَ الإمامِ له قراءةٌ" مسند عبد بن حميد

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَخَلْفَهُ رَجُلٌ يَقْرَأُ فَنَهَاهُ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا انْصَرَفَ تَنَازَعَا فَقَالَ: أَتَنْهَانِي عَنِ الْقِرَاءَةِ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَتَنَازَعَا حَتَّى بَلَغَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى خَلْفَ إِمَامٍ فَإِنَّ قِرَاءَتَهُ لَهُ قِرَاءَةٌ» رواه البيهقى

عن عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رضى الله عنهما كَانَ إِذَا سُئِلَ: هَلْ يَقْرَأُ أَحَدٌ خَلْفَ الإِمَامِ؟ قَالَ: إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ خَلْفَ الإِمَامِ فَحَسْبُهُ قِرَاءَةُ الإِمَامِ، وَإِذَا صَلَّى وَحْدَهُ فَلْيَقْرَأْ، قَالَ: وَكَانَ

عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ لاَ يَقْرَأُ خَلْفَ الإِمَامِ. أخرجه الموطأ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ فِي الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الإِمَامِ تَكْفِيكَ قِرَاءَةُ الإِمَامِ. سنن الدارقطنى

خو بل لوري ته له عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه، ابو هريره رضي الله عنه او ابو امامه رضي الله عنه راغلي روايات وايي چي له فاتحې پرته لمونځ يا ناقص دئ يا اصلاً لمونځ نه دئ. روايات دا دي:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهُ صلى الله عليه و سلم قَالَ: « كُلُّ صَلاَةٍ لاَ يُقْرَأُ فِيهَا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَهِىَ خِدَاجٌ ». رواه البيهقى

عن أَبِى أُمَامَةَ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: مَنْ لَمْ يَقْرَأْ خَلْفَ الْإِمَامِ فَصَلَاتُهُ خِدَاجٌ. رواه البيهقى.

خو دا په مشخصه توګه د فاتحې يادونه نه كوي.

عن ابن عمرو بن ميمون بن مهران عن أبيه من لم يقرأ بأم القرآن فى صلاته فهى خداج. رواه الطبرانى فى الأوسط

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم قَالَ:« مَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَلاَ صَلاَةَ لَهُ ». سنن الدارمى

عن أبى هريرةَ قال: أَمَرَنِى رسولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أن أُنادِىَ: "لا صَلاةَ إلا بقُرآنٍ، بفاتِحَةِ الكِتابِ السنن الكبرى للبيهقى

سنن الدارقطني كي دوه روايات راغلي چي دواړه ئې ضعيف ګڼلي، يو ئې ابن عباس رضي الله عنهما ته منسوب شوی چي الدارقطني ئې د اعتبار وړ نه ګڼي، روايت دا دئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه و سلم قَالَ: « يَكْفِيكَ قِرَاءَةُ الإِمَامِ خَافَتَ أَوْ جَهَرَ ». عَاصِمٌ لَيْسَ بِالْقَوِىِّ وَرَفْعُهُ وَهَمٌ.

بل ئې محمد بن عبدالله بن عمير روايت كړی چي ضعيف ئې ګڼلی:

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم « مَنْ صَلَّى صَلاَةً مَكْتُوبَةً أَوْ تَطَوُّعًا فَلْيَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْكِتَابِ وَسُورَةٍ مَعَهَا فَإِنِ انْتَهَى إِلَى أُمِّ الْكِتَابِ فَقَدْ أَجْزَأَ وَمَنْ صَلَّى صَلاَةً مَعَ إِمَامٍ

يَجْهَرُ فَلْيَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فِي بَعْضِ سَكَتَاتِهِ فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ فَصَلاَتُهُ خِدَاجٌ غَيْرُ تَمَامٍ». مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ ضَعِيفٌ.

دې ته مو پام وي چې د يوې رأيي پلويانو دغو رواياتو ته صحيح ويلي او د بلې رأيي پلويانو مخکينيو ته، د اسنادو له مخې د دغو رواياتو د صحت او عدم صحت په اړه وروستۍ پرېکړه که محال نه وي نو ډېره گرانه ده، دومره چې د امت محققينو په تېرو څوارلسو پېړيو کې ونشو کړی. خو که د قرآن په رڼا کې د دې رواياتو په اړه قضاوت وکړو نو ويلی شو:

- څوك چې په امام پسې لمونځ کوي د امام قرائت ورته کافي دئ.
- په جهر لمونځونو کې او هغه مهال چې امام قرائت کوي د فاتحې سوره يا د قرآن نور آيتونه لوستل د قرآن د صريح حکم خلاف عمل دئ.
- په خفيه لمونځونو کې په امام پسې قرائت داسي دئ لکه له قرائت پرته نور تکبيرات او تسبيحات ويل.
- که څوك په رکوع کې امام ومومي رکعت ئې بشپړ گڼل کېږي او اعاده ورباندي نشته، ځکه د لمانځه تولي هغه برخي ئې بشپړي کړې دي چې په قرآن کې ورته اشاره شوې: تکبير تحريمه، قيام، رکوع او سجده، يوازي قرائت ترې پاته شوی او دا نقيصه هم په دې سره رفع شوې چې د امام قرائت د ده قرائت گڼل شوی.

دا خبره هم په پام کې ولرئ چې ځيني وايي: د الحجر په سورې کې د ۸۷ آيت معنی دا ده چې د فاتحې سوره د قرآن په نامه ياده شوې، آيت دا دئ:

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَٰكَ سَبْعًا مِّنَ ٱلْمَثَانِي وَٱلْقُرْءَانَ ٱلْعَظِيمَ ﴿٨٧﴾ الحجر

خو دا لويه اشتباه ده، دلته له سبعاً من المثانی د فاتحې سوره مراد ده او له القرآن العظيم ټول قرآن، دا تعبير په بشپړه توگه غلط دئ چې څوك د دې آيت په استناد د فاتحې سوره د ټول قرآن په نامه ياده کړي. که د فاتحې سورې ته د قرآن نوم ورکړی شي نو بيا خو به د فاقرءوا ما تيسر من القرآن معنی دا وي چې د فاتحې يوه آسانه برخه ولولئ!! او په لمانځه کې به د دې سورې يوه برخه ويل هم کافي شمېرل کېده!! خو هيڅوك د دې خبرې جسارت نه کوي!!

د بخاري له مخکيني روايت وروسته چې کوم روايت زموږ مخې ته راځي ښيي چې د فاتحې لوستل فرض نه دي ځکه رسول الله صلی الله عليه و سلم يوه سړي ته د لمانځه په اړه د نورو لارښوونو په ضمن کې وويل: بيا له قرآنه داسي آسانه برخه ولوله چې حفظ دي

وي، که فاتحه فرض وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به ورته ویلي وو چي لومړی فاتحه ولوله او بیا یوه آسانه برخه د قرآن!!

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه و سلم دَخَلَ الْمَسْجِدَ، فَدَخَلَ رَجُلٌ فَصَلَّى فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم فَرَدَّ وَقَالَ « ارْجِعْ فَصَلِّ، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ ». فَرَجَعَ يُصَلِّى كَمَا صَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِىِّ صلى الله عليه و سلم فَقَالَ « ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ » ثَلاَثًا. فَقَالَ وَالَّذِى بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا أُحْسِنُ غَيْرَهُ فَعَلِّمْنِى. فَقَالَ « إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلاَةِ فَكَبِّرْ، ثُمَّ اقْرَأْ مَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ، ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَعْتَدِلَ قَائِمًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا، وَافْعَلْ ذَلِكَ فِى صَلاَتِكَ كُلِّهَا ».

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم جومات ته راغی، په دې وخت کي یو سړی هم جومات ته راغی او لمونځ ئې وکړ، (دا شخص خلاد بن رافع زرقي رضي الله عنه وو)، بیا ئې پر رسول الله صلی الله علیه و سلم سلام واچاوو، رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې د سلام ځواب ورکړ او ورته وئې فرمایل: (لاړ شه، لمونځ وکړه ځکه تا لمونځ نه دئ کړی)، هغه ولاړ او د مخکي په شان ئې لمونځ وکړ، بیا راغی او پر رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې سلام واچاوو، رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته وفرمایل: (لاړ شه، لمونځ وکړه، ځکه تا لمونځ نه دئ کړی) دا کار درې ځلي تکرار شو، هغه سړي وویل: قسم په هغه ذات چي ته ئې په حقه رالیږلی یې؛ زما خو تر دې ښه لمونځ زده نه دئ، نو را وئې ښیه؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: (کله چي لمانځه ته پاڅېدلې، نو تکبیر ووایه، بیا له قرآنه داسي آسانه برخه ولوله چي حفظ دي وي، بیا رکوع وکړه، تر هغه په رکوع کې پاته شه چي ډاډه او آرام شې، بیا پورته شه او سم صحیح ودرېږه، بیا سجده وکړه ښه په آرامۍ سره بیا له سجدې پورته شه او ښه آرام کښېنه، دا کار دي په ټول لمانځه کي کوه).

له دې روایت معلومېږي چي د فاتحې لوستل فرض نه دي، که فرض وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به حتماً دې سړي ته د هغې یادونه کړې وه!! ځوك چي وايي دا حدیث په بل نسخ شوی د خپلي ادعاء لپاره هیڅ موجه دلیل نه لري.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# البقرة

**د سورې پېژندنه:**

د دې مبارکې سورې نوم (البقرة) دئ، دا د سورې د مضامينو عنوان نه؛ بلکې يوازې نوم دئ، يعني هغه سوره چې د البقره ذکر په کې شوی. ٢٨٦ آيتونه لري، له څو معدودو آيتونو پرته ټې نوره ټوله سوره د مدني دور په لومړيو کې نازله شوې. پيغمبر عليه السلام دا سوره د قرآن سنام ګڼلې او فرمايي: هر څه خپله اوچته څوکه او لوړه لري، د قرآن لوړه او اوچته څوکه د بقرې سوره ده.

دا مبارکه سوره د (الف، ل، م) په دريو تورو پيل شوې، د سورې اساسي او محوري مطالب هم په دريو برخو کې راغلي، د دغو دريو برخو خلاصه د سورې په آخرى آيت کې داسي راغلې چې د آيت لومړۍ فقره ئې د لومړۍ برخې لپاره عنوان ګڼلی شو، دوهمه فقره ئې د دوهمې برخې لپاره او پاته برخه ئې د درېيمې برخې لپاره. د سورې له پيل تر ٧١ آيت پورې لومړۍ برخه ده چې عنوان ئې (لا يُكلِّف اللهُ نَفْساً إِلا وُسعَهَا) دئ، له ٧٢ تر ١٤١ آيت پورې دوهمه برخه ده چې عنوان ئې (لَهَا مَا كَسبَت وَ عَلَيهَا مَا اكْتَسبَت) دئ او په دې آيت ختميږي (تِلْك أُمَّةٌ قَدْ خَلَت لَهَا مَا كَسبَت وَ لَكُم مَّا كَسبْتُمْ وَ لا تُسئَلُونَ عَمَّا كانُوا يَعْمَلُونَ) او درېيمه برخه ئې له ١٤٢ آيت د سورې تر پايه ده، چې په دې کې د ژوند د بېلابېلو برخو په اړه لارښوونې او احکام راغلي.

د لومړۍ برخې په سر کې هغه کسان او د دوی ځانګړتياوې ښودل شوې چې د قرآن له لارښوونو د ګټې اخيستو وړتيا او استعداد لري، د دوی پنځه مهم صفات په ګوته شوي: په غيب باور، د صلوة اقامه، انفاق، عدم تعصب، هر ما انزل الله منل او دنيا تلپاته نه ګڼل. ورپسې ويل شوي چې د پورتنيو حقائقو کافران، نه هر کافر، يوازې هغه چې د پورتنيو ځانګړتياوو د نشتوالي له امله کافران دي، په هيڅ توګه ايمان نه راوړي، د دوی پر زړونو او د دوی پر غوږونو مهر لګول شوی او پر سترګو ئې ځانګړې پرده ده، نه په خپله د حقيقت د پېژندو جوګه دي، نه د بل خبره اوري او نه دا بصيرت په کې شته چې د دوی چار چاپېر خورې نښې ئې سمې لارې ته هدايت کړي. بيا د هغو کسانو وضع بيان شوې چې د دغو

پورتنيو دواړو تر منځ دي، ځيني ئې يوې ته ډېر ورنږدې دي او ځيني ئې بلې ته، ځيني ئې داسي دي چي کله ئې رڼا ترسترګو شي، د دې پر ځای چي دا رڼا ځان ته لارښود کړي او له تيارو ووځي، په خلاف ئې دا ځلانده رڼا د دوی د بيمارو سترګو نور او ليد هم ختم کړي او ځيني ئې بيا داسي دي چي کله کله د حق په لوري څو ګامه واخلي، مخصوصاً هلته چي د حق په څنګ کې ئې دنيوی ګټه ترسترګو شي، خو بيا کله چي د خطر احساس وکړي، ودرېږي او تر شا شي. بيا ويل شوي چي څنګه کولی شئ هغه تقوی په ځان کې راپيدا کړئ چي په نتيجه کې ئې دا قرآن ستاسو لارښود ګرځي، دا تقوی د خپل هغه رب د عبادت په نتيجه کې تر لاسه کولی شئ چي تاسو او له تاسو مخکې خلك ئې پيدا کړل، هغه چي زمکه ئې درته فرش او آسمان ئې درته سقف کړ، له آسمان باران وروي او په دې باران سره له زمکې دانه او مېوه راشنه کوي، هغه چي ستاسو د لارښوونې لپاره ئې پيغمبر او د ده په لاس هغه کتاب لېږلی چي هيڅوك ئې د هيڅا په مرسته د يوې وړې سورې په څېر څه نه شي راوړی، په کوم کې چي ستاسو د پوهولو لپاره نه د ماشي د مثال له راوړو ډډه شوې او نه تر هغه د کوم ستر شي، د ايمان خاوندان پرې پوهېږي چي دا هر څه حق او د دوی د رب له لوري دي، يوازې هغه کسان پرې کافران کېږي او له ايمان راوړو ډډه کوي چي فاسق دي، ټولې هغه فطري اړيکې شلوي چي د دوی رب ئې د وصلولو او مضبوط ساتلو امر کوي او په زمکه کې فساد کوي، د دوی د انکار وجه دا نه ده چي د دوی د اقناع لپاره ئې کافي دلائل نه دي وړاندي کړي، وجه ئې د دوی فسق، فساد او له ټولو انساني حدودو سرغړاوی دئ. په دې پسي د آدم عليه السلام د خلافت قصه راځي چي په ترڅ کې ئې همدا مطلب توضيح کېږي چي مکلفيت د ظرفيت په اندازه وي، ده ته د زمکې خلافت له دې کبله وسپارل شو او پر ملائکو د دې مأموريت لپاره غوره وګڼل شو چي د ملائکو په نسبت ئې علم او پوهه جامع وه، د هر څه د پېژندو او د هغه لپاره د خاص نوم وضع کولو هغه ځانګړتيا په کې شته چي نه په ملائکو کې وه او نه د ټولې زمکې پر سر په بل مخلوق کې. ملائکې په دې وګمارل شوې چي د آدم لپاره سجده وکړي او په دې سره د کائنات ټول مخلوقات ده ته مسخر کړی شوو، له شيطان پرته. بيا په جنت کې د آدم او د ده د زوجې عليهما السلام د استقرار او د شيطان د وسوسې له امله د ممنوعه ونې مېوه خوړل او د همدې په وجه له جنت د دوی د کوزېدو ذکر راځي، ګورئ چي له جنت او لوړو مقاماتو راپرېوتل هم د ښويېدو نتيجه ده، که يو د تل لپاره ملعون او مردود کېږي؛ په خپله ئې اسباب برابر کړي او که بل ته د توبې قبلېدو سعادت په برخه کېږي په خپله ئې د دې شرف او سعادت ور ځان ته پرانيستی. همدا مطلب د بني

اسرائيلو په قصې کې څېړل کېږي او د دوی په قصه کې ئې نوري تاريخي بېلګې وړاندې کېږي. په لږ دقت سره په دې پوهېدی شو چې د بني اسرائيلو دا قصې په حقيقت کې په جنت کې د آدم عليه السلام د استقرار او بېرته وتو تاريخي مثال او مزيده شرح وړاندې کوي، دوی ته د من او سلوی ورکړه او له تيري دولس چينې ورته راوتل، په جنت کې د آدم عليه السلام استقرار ته ورته او له فقر لوږي، ذلت او سپکاوي سره د دوی مخامخ کېدل، له جنت زموږ د جد د کوزېدو بله بېلګه ده، آدم عليه السلام ته وويل شو (اهبطوا منها) او بني اسرائيلو ته وويل شو ( اهبطوا مصراً ). هلته هم د ممنوعه ونې مېوه له جنت د محرومېدو باعث او دلته هم په من او سلوی اکتفاء نه کول او مزيد غوښتل د هبوط باعث. بيا په بني اسرائيلو کې د هغه ډلي ناوړه پايله چې د شنبې د ورځې حرمت ئې تر پښو لاندې کړ، د ګناه لپاره ئې مذهبي حيله جوړه کړه او مسخه شوه، بله بېلګه، د الله د عبادت له لوړ مقام راپرېوتل، هومره راپرېوتل چې سخوندر خپل معبود کړي، دا ئې بله بېلګه.

د سورې دوهمه برخه له دې پيل کېږي چې په بني اسرائيلو کې له دين د انحراف په وجه د داخلي قتلونو، له قاتل دفاع او يو د بل د تورنولو لړۍ پيل شوه، زړونه ئې د کاڼو په څېر سخت شول، علماءو ئې په دين کې تحريف وکړ، منافقانه چلند ئې غوره کړ، د مؤمنانو په مخ کې به ئې يو څه ويل او خپلو بې ايمان ملګرو ته بل څه، له خپله لوري به ئې څه وليکل او هغه به ئې د الله له لوري او د الهي کتاب برخه ګڼله، هدف به ئې د خلکو غولول او له دوی څه شکول وو، دين ئې په دنيا خرڅولو، د کورنيو نښتو لړۍ ئې هغه ځای ته ورسېده چې په دوی کې د مظلومانو نه سر خوندي وو او نه مال او عزت، بې وزلي به وژل کېدل او له خپل کور کلي به شړل کېدل، له الهي پيغمبرانو او له زړه سواندو مصلحينو او حق پالونکو داعيانو سره ئې مخالفت وکړ او د دوی د وژلو لپاره ئې ملا وتړله، هغه ځای ته ورسېدل چې سخوندر خپل معبود وګڼي او مخي ته ئې ګونډه شي، د شرك، عصيان او د حق د مخالفت لار ئې غوره کړه، د الله په غضب اخته شول، خو سره له دې ئې ګمان کاوو چې دوی مؤمنان دي، د الله غوره بندګان، د جنت يوازيني مستحق او له دوزخ د تل لپاره په امان کې، له دوی پرته بل څوك جنت ته نه شي ننوتلی!! خو له دغي ادعاء سره سره له مرګ وېرېدل، له دنيا سره د دوی افراطي ميني او د الله په لار کې له جهاد کرکې، دې حد ته رسولي وو چې هر يوه ئې د زرګونو کالو عمر تمنی کوله، که څه هم دا ژوند به ئې د ذلت او سپکاوي ژوند او د پرديو په اسارت او غلامۍ کې ژوند وو. د الله کتاب ئې داسي شا ته وغورځاوو لکه چې په هيڅ ئې نه پوهېږي، د دې پر ځای ئې کوډو،

تعویذونو او فال نیولو ته مخه کړه، لویه مشغله ئې دا وه چې ښځه له خپل مېړه رابېله کړي، د عبادت کوونکو بندګانو مخې ته ئې خنډونه راولاړول او د عبادت او ذکر ځایونو ته د دوی د تلو مانع کېدل، خو له دې ټولو سره سره هغوی ځان د الله د خاصې کورنۍ غړي، د پیغمبرانو ورثه او ځای ناستي ګڼل او ابراهیم علیه السلام ته ئې ځان منسوباوو، الله تعالی د دوی په ځواب کې فرمایي: ابراهیم مشرك نه وو، خپل اولاد ته ئې دا غوښتې وو چې د خلکو د ارشاد او هدایت لپاره ئې امامت او قیادت په برخه شي، خو الله تعالی د ده د غوښتنې په ځواب کې ویلی وو: دا مقام د ظالمانو نه شي په برخه کېدی، ابراهیم علیه السلام خو کعبه د دې لپاره جوړه کړه چې دا د امن کور وي، د امن وسیله وي، دلته خلك په ډاډ او اطمئنان سره د الله عبادت او ذکر وکولی شي، ده خو دا تمنی کړې وه چې د دې سیمې اوسېدونکې د الله شاکر بندګان وي، تل په دوی کې داسې پیغمبران مبعوث شي چې دوی ته دین وښیي او له ګناهونو ئې وژغوري، ده خو خپل اولاد ته د دې توصیه کړې وه چې د یوه الله عبادت به کوئ، د ابراهیم او ستاسو د جد یعقوب علیهما السلام توصیه خو دا وه، تاسو څنګه له خپل شرك، فساد، ظلم، د دین او دیندارانو له دښمنۍ سره سره ځان هغوی ته منسوبوئ؟! دا برخه په دې آیت پای ته رسي:

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَ لَكُم مَّا كَسَبْتُمْ وَ لا تُسْئَلُونَ عَمَّا كانُوا يَعْمَلُونَ

درېیمه برخه په بېلابېلو احکامو شامله ده او د سورې تر پایه دوام کوي، په سر کې د قبلې حکم او مربوط بحثونه ئې، بیا د الله په لار کې ثبات او استقامت او د خوف او لوږې په حالت کې صبر او زغم له لاسه نه ورکول، په کړاوونو کې الله ته رجوع او په لمانځه سره د ده مرسته تر لاسه کول، د حق له کتمان ځان ساتل، په حلال او پاکیزه رزق قناعت او اکتفاء او له حرامو ډډه، د (صدق) او (تقوی) لپاره شرق یا غرب ته مخ اړول، دا او هغه قبله غوره کول، معیار نه ګڼل بلکې په الله، آخرت، ملائکو، کتابونو او پیغمبرانو ایمان، له یتیمانو او مسکینانو سره مالي مرسته او د غلامانو او پوروړو د ژغورنې لپاره خپل غوره او محبوب مال وقف کول، لمونځ، زکات، په خپلو ژمنو وفا، په ستونزو، کړاوونو او خاصه توګه د جنګ په میدان کې صبر، اصلي معیار ګڼل او همدا د صدق او تقوی نښې منل. بیا د قصاص حکم راځي او فرمایي چې په دې به هم باور لرئ، هم به ئې منئ او هم به هغه د ژوند د تحفظ او د خلکو د سر مال د خوندي پاته کېدو وسیله ګڼئ. ورپسې د وصیت کولو او بیا د روژې حکم او د روژې د بحث په منځ منځ کې دا امر شوی چې په ناروا به د خلکو د مالونو له خوړلو او حکامو ته له رشوت ورکولو ځان ساتئ، ورپسې د قتال او د

الله په لار کې د جنګېدو په اړه ابتدائي او مقدماتي لارښووني او احکام راغلي، بيا د حج او عمرې احکام او بيا دا حکم چې په اسلام کې په ټوله معنی داخل شئ، د ژوند هيڅ برخه مو بايد له اسلام بهر پاته نه شي، د انفاق حکم او په دې لړ کې يو ځل بيا د الله په لار کې د جنګ په اړه نور هدايات او د مهاجر او مجاهد فضائلو ته اشاره، د شراب او قمار تحريم، د يتيمانو د مال حفاظت او ښه ساتنه، د نکاح، مهر، طلاق، عدت، رضاعت او د کورني ژوند د ګڼ شمېر نورو قضاياوو په ارتباط تفصيلي او دقيق احکام راځي، ورپسې يو ځل بيا د قتال په اړه او په هغه کې د زعامت او مشرتابه د ونډې په اړه مفصل بحث، له تاريخي مثالونو سره ئې راځي او د الله په لار کې د انفاق په اړه ډېر مفصل بحث کېږي، د سود د تحريم حکم او د بدو پايلو بيان ئې راځي او د دغو احکامو د لړۍ په پای کې د قرض او پور د راکړې ورکړې په ارتباط جامع احکام ذکر کېږي.

دا مبارکه سوره په هغو دريو جامع آيتونو پای ته رسي چې خلاصه ئې دا ده:

- د آسمانونو او زمکې هر څه د الله دي، که د خپل زړه خبرې مو ښکاره کړئ يا ئې پټې کړئ، الله به د هغوی محاسبه درسره کوي، چا ته چې وغواړي بخښنه به ورته وکړي او څوك چې وغواړي تعذيب به ئې کړي او الله په هر څه ښه قادر دئ.
- پيغمبر او مؤمنان پر هغه څه باور لري چې د خپل رب له لوري ورته نازل شوي، ټولو پر الله، پر ملائکو ئې، پر کتابونو ئې او پر پيغمبرانو ئې ايمان راوړی، وينا ئې دا ده چې د الله د پيغمبرانو په هيڅ يوه کې فرق نه کوو او همدا وايي چې موږ ستا حکم ته غوږ نيسو او اطاعت کوو، ستا غفران او بخښنه غواړو او ستا په لور مو درتګ دئ.

او وروستی آيت د ټولې سورې خلاصه او درې فقرې ئې د سورې د دريو برخو لپاره عنوانونه، (الله هيڅوك له خپل ظرفيت لوړ نه مکلف کوي) د لومړۍ برخې عنوان، (ده ته خپلې لاسته راوړنې دي او پر ده ئې خپلې لاسته راوړنې) د دوهمې برخې لپاره عنوان او آخري فقره ئې چې د څو دعاګانو په بڼه راغلې، د ټولو هغو احکامو لپاره عنوان دئ چې په درېيمه برخه کې راغلي: اې زموږ ربه! په دې مو ونه نيسې چې په هېره څه وکړو يا خطاء رانه وشي، اې زموږ ربه! پر موږ هغسې درونډ پېټی مه ږده چې تر موږ پر مخکينيو دي ايښی وو، اې زموږ ربه! او پر موږ هغه پېټی مه ږده چې توان ئې نه لرو، زموږ (له ګناهونو) تېر شه، موږ ته بخښنه وکړه، پر موږ رحم وکړه، ته مو مولا يې، نو پر کافرانو بريا را.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ﴿١﴾ ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ﴿٢﴾

١- الف، لام، ميم، ٢- دا همغه کتاب دئ، شك په کې نشته، د متقيانو لپاره لارښود.

(١)- دا سوره د (ا- ل- م) په دريو حروفو پيل شوې، په دې اړه مو لاندې څو ټکي په پام کې وي:

- د قرآن ٢٩ سورې په دغسې مقطعاتو حروفو پيل شوې.
- د دې حروفو په تفسير کې له پيغمبر عليه السلام هيڅ روايت نشته، په صحابه وو کې هيچا له هغه په دې اړه پوښتنه نه ده کړې.
- صحابه وو ته منسوب آراء مختلف دي او په اسنادو ئې هم ملاحظات وارد شوي. د همدې لپاره مفسرينو بېل بېل آراء وړاندې کړي، طبيعي ده چې د صحيح حديث او موثقو رواياتو په شتون کې مفسرينو بېل بېل آراء نه ورکول.
- د جاهليت د دور په ادبياتو کې هم د دې بېلګې په نظر راځي چې ليکوالو خپلې ليکنې په دغسې حروفو پيل کړې، له دې معلومېږي چې په هغه وخت کې هر څوك د دې په معنى پوهېدو، خو وروسته وروسته دا اسلوب پرېښودل شوى او وروستنيو ته ئې په مطلب پوهېدل ګران شوي.
- که په دغو حروفو پيل شوو سورو ته لږ په دقت سره ځير شئ نو وبه ګورئ چې د هرې سورې د محوري او اساسي موضوعاتو شمېر د همدغو حروفو په تناسب وي، په يوه حرف شروع شوې سورې کې يوه اساسي موضوع او په دوه او دريو شروع شوو کې دوه او درې اساسي موضوعات څېړل شوي. که دا حروف د ا-ل-م په څېر يو په بل پسې په خپل هغه ترتيب راغلي وي چې د هجا حروفو په لړ کې ئې لري، په سر کې (الف) او په پاى کې (ياء)، نو موضوعات هم يو په بل پسې مرتب څېړل شوي او که د ط- س- م په څېر يو په بل پسې مرتب نه وي راغلي، نو موضوعات ئې هم په همدې شکل ګډ او يو ځاى څېړل شوي. که منظم او مرتب راغلي وي نو د موضوعاتو خلاصه د سورې په وروستي آيت کې راځي او که نامرتب وي نو خلاصه ئې په وروستيو څو آيتونو کې راځي. لکه چې د دې سورې په پېژندنه کې مو ويلي دا سوره په دريو برخو وېشل شوې او خلاصه ئې په وروستي آيت کې راغلې.

(٢)- دا کتاب که څه هم مخاطب ئې هر څوك دئ او هر چا ته حقائق بيانوي، هر چا ته

ئې په مطلب پوهېدل آسان کړی شوی او د انسان د فهم مستوی ته راکوز کړی شوی، خو له لارښوونو ئې ګټه اخیستل خاص او ځانګړي صفات غواړي، په چا کې چې دا ځانګړي مواصفات نه وي هغه ئې هم له منلو عاجز دئ او هم ئې په لارښوونو له عمل کولو. په دې آیت کې دا صفات د (تقوی) په لفظ کې راخلاصه شوي او ویل شوي چې (هدایت متقیانو ته) خو په وروستیو آیتونو کې ئې تفصیل او شرح داسې راغلې چې د دغو ځان ساتونکو متقیانو ایجابي صفات بیان شوي، نه هغه څه چې دوی ترې ځان ساتي او په نتیجه کې ئې دا وړتیا تر لاسه کوي چې قرآن ئې لارښود شي. له دې ډېره کوي چې یوازې حاضر، د ده د پښو مخې ته پراته او په سترګو لیدل کېدونکي شیان ومني او له نورو انکار وکړي، د هغو اړیکو له غوڅولو ځان ساتي چې د ده انساني فطرت ئې تقاضی کوي، که دا د ده او د الله تر منځ وي، که له انسانانو سره او که د الله له نور مخلوق سره، له بخل ډډه کوي، له تعصب ځان ساتي، دا دنیا ابدي او تلپاته نه ګڼي، دا مني چې دا دنیا نه تل وه او نه به تل پاته وي.

ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡغَيۡبِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣

٣- هغه چې په غیب ایمان لري، لمونځ اقامه کوي او له هغه څه چې موږ ورروزي کړي انفاق کوي.

(٣)- په دې مبارك آیت کې د دغو متقیانو درې صفتونه په ګوته شوي:

- په دې ئې باور وي چې د ده له سترګو پټ او له حواسو او ادراك بهر هم څه شته، لنډ نظره نه وي، خپلې سترګې، احساس او ادراك د شته والي لپاره معیار او ملاك نه ګڼي، دا مني چې د ده له لنډ او محدود نظر آخوا هم کېدی شي څه وي، څوك چې خپلې سترګې او حواس د شته والي معیار وګڼي د دغه کتاب له لارښوونو هیڅ برخه نه شي تر لاسه کولی، قرآن د بني اسرائیلو په څېره کې د دې بېلګه وړاندې کوي او فرمایي: دوی د همدغې بیمارۍ په وجه موسی علیه السلام ته وویل، تر هغه چې الله په ښکاره او ښکاره ونه ګورو ایمان نه راوړو.
- د هغو اړیکو په ټینګ ساتلو باور لري چې د ده انساني طبیعت ئې غوښتنه کوي، که دا له خپل خالق سره وي او که له خپل همنوع سره، د هغو په څېر نه وي چې الله تعالی په همدې سوره کې داسې معرفي کړي: وَ يَقطَعُونَ مَا أَمَرَ اللهُ بِهِ أَن يُوصلَ و يُفسِدُون فِي الأَرض.

دا مطلب د الرعد په سوره کې په دې صیغه راغلی:

إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٩﴾ ٱلَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهْدِ ٱللَّهِ وَلَا يَنقُضُونَ ٱلْمِيثَٰقَ ﴿٢٠﴾ وَٱلَّذِينَ يَصِلُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُونَ سُوٓءَ ٱلْحِسَابِ ﴿٢١﴾

الرعد:١٩-٢١

يوازي عقلمن کسان پند اخلي، هغه چي د الله په عهد وفا کوي او دا تړون نه ماتوي او دوی هغه څه وصلوي چي الله ئې د وصلولو امر کړی او له خپل رب وېرېږي او له بد حساب ترهه لري.

دا کتاب گام په گام قربانۍ ته بلنه ورکوي، هغه څوك ئې منلی شي چي قربانۍ ته چمتو وي، طماع، حريص او بخيل نه وي، په خلاف ئې دې ته تيار وي چي خپل شته د الله په لار کي، د يوه بې وزلي انسان د لاس نيوي لپاره او يا د يوه مقدس او سپېڅلي هدف د تحقق لپاره وقف کړي.

وَٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَبِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴿٤﴾

[٤]- او هغه چي پر تا نازل شوي (کتاب) هم ايمان راوړي او په هغه هم چي له تا مخکي نازل شوي او دوی په آخرت يقين کوي.

(٤)- دلته د دوی دوه نوري ځانگړتياوي ښودل شوي:

- د خاص فکر او مذهب په اړه تعصب نه لري، حق او حقيقت مني، که څه هم دا د ده د مذهب خلاف وي او د ده د دښمن له لوري وړاندي شوی وي، داسي نه لکه بني اسرائيل چي ويل به ئې: يوازي له خپل پلار، نيکه راپاته مذهب منو او يوازي په هغه څه ايمان راوړو چي د الله له لوري پرموږ او زموږ پر پلار نيکه نازل شوی، خو که په بل چا نازل شوی وي ايمان پرې نه راوړو.
- دا دنيا ابدي او تلپاته نه گڼي، په دې ئې باور وي چي دا دنيا نه تل وه او نه به تل پاته وي، له دې وروسته بله دنيا داسي راتلونکې ده لکه چي دا نه وه او راپيدا شوه. دنياپال او هغه چي هر څه په دې دنيا کي راخلاصه کوي په دې کتاب له ايمان راوړو عاجز دي.

أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدٗى مِّن رَّبِّهِمْۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٥﴾

[۵]- دوی د خپل رب په لارښوونې (سم) دي او همدا دوی بریالي دي.

(۵)- دغو کسانو ته الله تعالی د هدایت دروازې پرانیزي، لارښوونه ئې کوي، د الله دا کتاب ئې لارښود شي او د دنیا او عقبی سعادت او بریا ئې په برخه شي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٦ خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَعَلَىٰ سَمۡعِهِمۡۖ وَعَلَىٰٓ أَبۡصَٰرِهِمۡ غِشَٰوَةٞۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ٧

[٦]- یقیناً هغه چې کافران شوي؛ په دوی برابره ده چې وئې وېروې یا ئې ونه وېروې، ایمان نه راوړي. [٧]- الله د دوی پر زړونو او د دوی پر غوږونو مهر لګولی او پر سترګو ئې ځانګړې پرده ده او دوی ته ستر عذاب دئ.

( ٦) په چا کې چې پورتني صفات نه وي، غیبي شیان نه مني، د صلوة په قائمولو اعتقاد نه لري، بخیل او حریص وي او انفاق ته چمتو نه وي، متعصب وي او دا نه مني چې اوسنۍ دنیا پای او انتهاء لري، هغوی په دې کتاب د ایمان راوړلو جوګه نه دي، دا ظرفیت او استعداد نه لري چې د دې کتاب له لارښوونو ګټه واخلي. نو خپل وخت د داسې کسانو په قانع کولو مه ضائع کوه، د دوی پر ځای هغو خلکو ته مخه کړه چې د حق پېژندو تنده او تلوسه په کې ګورې. د همدې سورې په ۵۵، ۷۵، ٧٦، ٧٧، ٩١، ٩٦، ١٧٠، ١٧٧ او ګڼ شمېر نورو آیتونو کې به وګورې چې بني اسرائیل د همدغو خصلتونو په وجه له ایمان محروم شول.

(٧)- دا آیت موږ ته ښیي چې کله کله انسان داسې مرحلې ته ورسېږي چې د هدایت کېدو ټول امکانات ئې ختم شي، ټولې لارې پرې وتړل شي، زړه ئې سخت، د نصیحت اورېدو استعداد ئې منکوب او بصیرت ئې ختم شي، نه د حق خبره مني، نه نصیحت پرې تأثیر کوي، نه له پېښو پند اخلي او نه د عبرتناکو صحنو له لیدو متأثر کېږي. نه په خپله د حقیقت د پېژندو جوګه وي، نه د بل خبره اوري او نه دا بصیرت په کې وي چې د دوی چار چاپېر خورې نښې ئې سمې لارې ته هدایت کړي، خپل ګناهونه ئې دغه حالت ته ورسوي. الله تعالی هیڅوك په داسې څه نه ګماري او داسې څه ورسره نه کوي چې په خپله د هغه وړتیا ونلري. په لاندې مبارك حدیث کې دا خبره واضح شوې چې د انسان زړه څنګه له نېك او بد عمل متأثر کېږي، څنګه ګناه او عصیان انسان هغه حالت ته ورسوي چې نور نو ښه او بد ورته یو شانته شي:

قَالَ حُذَيْفَةُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ يَقُولُ: «تُعْرَضُ الْفِتَنُ عَلَى الْقُلُوبِ كَالْحَصِيرِ عُودا عُودا؛

فَأَيُّ قَلْبٍ أُشْرِبَهَا نُكِتَ فِيهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ، وَأَيُّ قَلْبٍ أَنْكَرَهَا نُكِتَ فِيهِ نُكْتَةٌ بَيْضَاءُ، حَتَّى تَصِيرَ عَلَى قَلْبَيْنِ، عَلَى أَبْيَضَ مِثْلِ الصَّفَا، فَلاَ تَضُرُّهُ فِتْنَةٌ مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالأَرْضُ، وَالآخَرُ أَسْوَدُ مُرْبَادا كَالْكُوزِ مُجَخِّيا لاَ يَعْرِفُ مَعْرُوفا وَلاَ يُنْكِرُ مُنْكَرا إِلاَّ مَا أُشْرِبَ مِنْ هَوَاهُ». رواه مسلم

حذيفه رضي الله عنه وايي: له رسول الله صلى الله عليه وسلم مي واورېدل چي فرمايل ئې: فتنې پر زړونو باندي داسي راوړاندي کېږي لکه د پيزي کړکي يو په بل پسي، نو هر زړه چي پرې خړوبه شي يو تور ټاپی په کي راپيدا شي او هر زړه چي ترې کرکه وکړي، سپين ټاپی په کي راپيدا شي، تر هغه چي دا زړونه دوه ډوله شي، يو ئې تك سپين لکه سپينه ښوی تيږه، داسي چي تر هغه زمکه او آسمان وي هيڅ فتنه به تاوان ورونه رسوي او بل ئې تك تور لکه توره تيږه، لکه سرلاندي کوزه (چي څه په کي نه شي تم کېدی)، نه ښه ګڼي او نه بد بد، له خپل هوی او هوس پرته بل څه زړه ته نه پرېږدي.

دې ته مو پام چي په (خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَعَلَىٰ سَمۡعِهِمۡۖ وَعَلَىٰٓ أَبۡصَٰرِهِمۡ غِشَٰوَةٞۖ ... ) کي پر زړونو او غوږونو مهر وهل او پر سترګو پرده غوړول؛ استعارې دي چي په قرآن کي به ئې ډېر مثالونه ومومئ؛ په دغو استعارو کي يو لفظ يا جمله او د څو الفاظو خاص ترکيب؛ د يوه مطلب د بيانولو لپاره کارول کېږي؛ پر زړه د مهر لګېدا يعني دا چي د حق له پېژندلو او منلو عاجز شوی؛ داسي پړاو ته رسېدلی چي د حق وينا پرې اغېز نه کوي، لکه هغه خونه چي دړه ئې تړل شوې، کلپ ورلوېدلی او مهر پرې لګېدلی؛ پر غوږونو د مهر لګېدا او پر سترګو د پردې غوړېدا؛ همداسي دي؛ مهر او پرده په مجازي معنی او د استعارې په توګه کارول شوي نه په حقيقي معنی؛ معنی ئې دا نه ده چي د کافرانو پر زړونو او غوږونو داسي کوم مهر لګېدلی چي خلك ئې د پاکټ او لفافې پر سر وهي او د خلاصولولو مخه ئې نيسي؛ بلکي له حقائقو د دوی انکار او نه منل تمثيل او تشبيه شوي؛ د (ختم) او (غشاوه) الفاظ په خپلي اصلي معنی نه دي کارول شوي؛ دا داسي دي لکه چي څوك ووايي: سترګي ئې روغي دي خو زړه ئې ړوند دئ؛ ړوندوالی د سترګي اړوند اصلي صفت کېدی شي اما د زړه لپاره په مجازي معنی او د استعارې په توګه کارول کېږي؛ نه منل ئې د سترګو له ړوندوالي سره تشبيه کېږي (...فَإِنَّهَا لا تَعْمَى الأَبْصَارُ وَلَكِنْ تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ) الحج ٤٦. الله تعالی د قرآن په اړه فرمايي: (وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ...المائدة ٤٨)؛ دلته د قرآن په اړه چي څه وېل شوي؛ تحت اللفظي ژباړه ئې داسي ده: تصديق کوونکي د هغو کتابونو چي د

دواړو لاسونو منځ کې ئې دي او احاطه ئې پرې کړې؛ (لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ) او (مُهَيْمِنًا عَلَيْهِ)؛ دواړه استعارې دي؛ په اصلي معنى ئې نه شو اخيستلی؛ ځکه چې قرآن نه دوه لاسونه لري او نه داسي څه دئ چې مخکيني کتابونه ئې په خپلي غېږ کې نيولي او احاطه کړي ئې وي؛ عرب د ماضي او وړاندي لپاره (مَا بَيْنَ يَدَيْهِ) کاروي؛ لکه پښتانه چې (مخکي) کاروي؛ دا استعارې دي چې الفاظ ئې هيڅکله په اصلي او حقيقي معنى نه شو تعبيرولی.

دا د يوه څرګند اصل په توګه مراعات کړئ چې کله په قرآن کې د معنوي او غيبي شيانو په اړه هغه الفاظ مومئ چې په اصل کې د څرګندو اجسامو لپاره وضع شوي؛ نو مجاز او استعاره به ئې ګڼئ؛ په اصلي معنى به ئې نه تعبيروئ؛ او له تحت اللفظي ژباړي به ئې ډډه کوئ؛ همغسي لکه چې د قرآن په اړه (ما بين يديه) د لاسونو په معنى نه شئ تعبيرولی. همدا راز د يهودانو دا وينا يوه استعاره ده چې وايي:

وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ: او يهودانو وويل: د الله لاس تړلی دئ.

معنى ئې دا ده چې الله تعالی خپلو بندګانو ته له انفاق امتناع کوي؛ لاس ئې له هغه څه راتم کړی چې موږ ئې ترې غواړو؛ او الله تعالی چې د دوی په ځواب کې څه فرمايلي دا هم يوه استعاره ده چې فرمايي:

غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ ... ﴿٦٤﴾ المائدة

د دوی لاسونه دي تړلي وي او د هغه څه له کبله دي پر دوی لعنت وي چې وئې ويل؛ بلکي لاسونه ئې پرانستي دي؛ څنګه چې غواړي انفاق کوي.

دلته د يد په ارتباط د (مغلول) او (مبسوطتان) صيغې د استعارې په توګه راغلي او معنى ئې دا ده چې په انفاق کې يا بخل کوي او يا په خلاص لاس انفاق کوي؛ معنى ئې دا نه ده چې لاس ئې په پړي تړلی يا خلاص دئ؛ نه د يهودانو مراد دا دئ چې د الله تعالی لاس تړلی دئ او نه د دې آيت مراد دا دئ چې الله تعالی دوه لاسونه لري او دواړه ئې يو له بل پرانيستي او خلاص دي؛ دا تعبير همدومره غلط دئ لکه چې څوك د قرآن په اړه دا وينا (مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ)؛ داسي تعبير کړي چې قرآن دوه لاسونه لري او هغه کتابونه تصديقوي چې د لاسونو منځ کې ئې دي!! (يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ) په ورپسې فقره کې توضيح شوي (يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ). دلته بحث د بخل او انفاق په اړه دئ؛ نه د الله تعالی د ذات څرنګوالي په اړه؛ په ټول قرآن کې هيڅ ځای او په هيڅ آيت کې دا نه مومو چې د الله تعالی د ذات څرنګوالي په اړه څه ويل شوي وي؛ نه انسان کولی شي د الله تعالی د ذات څرنګوالی درك کړي او نه په خپل قاموس کې داسي الفاظ لري چې د الله تعالی د ذات څرنګوالی توضيح او بيان کړی شي. نه الله تعالی په خپل ذات او صفاتو کې د ټول عالم له کوم مخلوق سره ورته

دئ او نه کوم مخلوق له ده سره؛ اعضاء او اجزاء د مخلوق صفت دئ او الله تعالی ترې منزه دئ.

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَمَا هُم بِمُؤۡمِنِينَ ﴿٨﴾

[۸]- او د خلکو ځيني داسي دي چي وايي: پر الله او د آخرت پر ورځ مو ايمان راوړی، حال دا چي دوی مؤمنان نه دي.

(۸)- ډېر خلك داسي دي چي وايي پر الله او آخرت ايمان لرو خو ايمان نه لري او ډېر بيا داسي دي چي ځان مؤمن ګڼي خو مؤمنان نه دي او ځيني بيا داسي چي ته ئې له ظاهري حالت او عبا او قبا د مسلمان ګمان پرې کوې، خو مسلمان به نه وي، دا ځکه چي ايمان نه په ادعاء دئ، نه په هيلي او تمنی او نه په لباس، عبا او قبا، عَنْ الحسن رضي الله عنه؛ قَالَ: " لَيْسَ الإِيمَانُ بِالتَّمَنِّي، وَلا بِالتَّحَلِّي، لَكِنْ هُوَ مَا وَقَرَ فِي الْقَلْبِ، وَصَدَّقَهُ الْعَمَلُ : ايمان نه په تمنی دئ او نه په حليې او ظاهري لباس، بلکي هغه داسي څه دئ چي په زړه کي ځای نيسي او عمل ئې تصديقوي او په شتون ئې شهادت ورکوي.

يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَمَا يَخۡدَعُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ ﴿٩﴾ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ فَزَادَهُمُ ٱللَّهُ مَرَضٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمُۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡذِبُونَ ﴿١٠﴾

[۹]- له الله او له مؤمنانو سره خدعه کوي، خو له ځان پرته بل څوك نه شي غولولی، خو نه پوهېږي. [۱۰]- په زړونو کي ئې خاصه بيماري ده، نو الله ئې بيماري ورزياته کړه او دوی ته دردناك عذاب دئ؛ له دې کبله چي دروغ وايي.

(۹)- دوی هم له الله سره خدعه کوي، هم له مؤمنانو سره او هم له خپل ځان سره، خو له ځان پرته بل څوك نه شي دوکه کولی. دوی د خپلي هري ګناه لپاره مذهبي توجيه او شرعی حيلې جوړوي، دا کار ئې داسي دئ لکه له الله سره خدعه او دوکه، له مؤمنانو سره هم خدعه کوي، د هغوی په وړاندي د ايمان او اخلاص تيره په سينه وهي، خو په دروغو او د دوی د غولولو لپاره، خو الله تعالی فرمايي چي په دې خدعو سره يوازي ځان او د ځان په څېر خلك غولولی شي، نه الله او نه مؤمنان، ډېر بې شعوره دئ چي ګمان کوي دا خدعه به ئې خپل مقصد او منزل ته ورسوي.
(۱۰)- د دوی زړونه بيمار او ژبي ئې دروغجني دي او همدا د دوی د نفاق ستري نښې دي. د نفاق بيماري به ئې ورځ په ورځ زياتېږي، په دنيا او آخرت کي به په دردناك الهي

عذاب اخته وي، په دنیا کې به تل په وېره او اضطراب کې وي او د مسلمانانو برياوي به ئې ځوروي او په آخرت کې به ئې د دوزخ تر ټولو ژوره كنده او تر هر چا سخت عذاب په برخه وي.

له دې مبارك آیت معلومېږي چې د نفاق تر ټولو ستره نښه دروغ ويل دي، پیغمبر علیه السلام فرمايي: د منافق درې نښې دي، په چا کې چې دا ټولې نښې وي خالص منافق دئ او په چا کې چې ئې يوه وي په هغه کې د نفاق يوه نښه ده، که څه هم روژه نيسي، لمونځ کوي او د ځان په اړه ئې گمان دا وي چې مؤمن دئ:

- چې خبرې کوي دروغ وايي.
- چې وعده وکړي په شا کېږي.
- چې امين ونيول شي خيانت کوي.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ قَالُوٓا۟ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ﴿١١﴾ أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلْمُفْسِدُونَ وَلَـٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ ﴿١٢﴾

[۱۱] او کله چې ورته وويل شي: په زمکې کې فساد او تباهي مه کوئ، وايي: موږ خو په يقين سره مصلحين يو. [۱۲]- خبردار چې همدا دوی مفسدين دي خو نه پوهېږي.

(۱۱)- له دښمن سره خپلې پټې او ښرگندې اړيکې داسې توجيه کوي چې گواکې د روغې جوړې لپاره لگيا دئ، مصلح دئ او جگړې نه خوښوي، غوارې د نښتو او جگړو مخه ونيسي او د روغې جوړې کوم صورت راپيدا کړي!!

(۱۲)- خو په حقيقت کې لوی مفسد او د فساد اصلي عامل دئ، د مسلمانانو په ليکو کې هم د فساد باعث او پر مسلمانانو باندې د دښمنانو د هر بريد هڅوونکی هم دئ، همدا منافقين دي چې دښمن پر مسلمانانو باندې بريدونو ته هڅوي، دښمن په خپل هر بريد کې تر ټولو د مخه او تر هر څه زيات په دغو منافقينو حساب کوي، اطلاعات له دوی تر لاسه کوي، د مسلمانانو په ليکو کې اختلافات دوی راولاړوي، له مقاومت د لاس اخيستو روحيه دوی راپيدا کوي، که دا منافقين نه وي نه به دښمن پر مسلمانو بريد ته زړه ښه کړي او نه به د دوی د کوم سنگر په نيولو موفق شي. د صلح غوښتنې تر غولوونکې پردې لاندې خپله ناولې څېره پټوي او د مسلمانانو او واقعي صلحې په ضد هغه څه کوي چې ښرگند دښمن ئې له کولو عاجز دئ.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ ءَامِنُواْ كَمَآ ءَامَنَ ٱلنَّاسُ قَالُوٓاْ أَنُؤۡمِنُ كَمَآ ءَامَنَ ٱلسُّفَهَآءُۗ أَلَآ إِنَّهُمۡ هُمُ ٱلسُّفَهَآءُ وَلَٰكِن لَّا يَعۡلَمُونَ ﴿١٣﴾

[١٣]- او كله چې ورته وويلى شي: د دغو خلكو په څېر ايمان راوړئ، وايي: آيا د دغو كمعقلو په څېر ايمان راوړو؟! پام كوه چې همدا دوى په خپله كمعقله دى خو نه پوهېږي.

(١٣)- كله چې منافقينو ته وويل شي: تاسو هم د دغو نورو مؤمنانو په څېر شئ، كوم چې اخلاص لري، له دښمن سره نه پټې اړيكې لري نه څرگندې، د الله په لار كې قرباني وركوي، ستونزې او كړاوونه گالي، د دوى ځواب به دا وي: غواړئ موږ هم د دغو كمعقلو په څېر شو؟ تل او د زمانې په هر پړاو كې به وگورئ چې منافقين ځانته (مصلح) او (روښان فكر) وايي او مخلص مؤمنان افراطي، بې عقله او ناپوه گڼي، د دوى له نظره دا لويه بې عقلي ده چې څوك له خطرونو سره ډغري ووهي، د يوه مقدس هدف او كوم ديني آرمان لپاره خپل سر او مال قرباني كړي، ستونزې او كړاوونه وگالي، د نورو د راحت او آرامۍ لپاره له خپل راحت او آرامۍ تېر شي او خپل آرام ژوند په خطر كې واچوي. د دوى په معيارونو كې هغه كسان هم ناپوه او بې عقله دي چې په چل ول نه پوهېږي، له هر چا سره ئې معامله صادقانه وي، په خاصو اصولو باور لري، خپل دوستان او دښمنان د اغراضو له مخې نه بلكې د اصولو او ضوابطو په رڼا كې ټاكي، په خپلو ژمنو وفا كوي او پر خپله خبره ودرېږي. هوښيار هغه دئ چې په هر كار كې او له هر چا سره په هري معاملى كې خپلې گټې په نظر كې ولري، د گټې لپاره هر كار جائز وگڼي، د اخلاص، همت، مېړانې او ايثار تر نامه لاندې داسې څه ونكړي چې گټې ئې په خطر كې واچوي. شهيد، زخمي، بندي، مهاجر او په سنگر كې پروت مجاهد، د دوى له نظره ډېر ناپوه او نافهمه كسان دي. چې ورته وويل شي: تاسو هم د دوى په څېر اخلاص وښيئ، ايمان مو د دوى په څېر كړئ، وايي: د دغو ليونيو او بې عقلو په څېر ايمان راوړو؟ !

وَإِذَا لَقُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوۡاْ إِلَىٰ شَيَٰطِينِهِمۡ قَالُوٓاْ إِنَّا مَعَكُمۡ إِنَّمَا نَحۡنُ مُسۡتَهۡزِءُونَ ﴿١٤﴾ ٱللَّهُ يَسۡتَهۡزِئُ بِهِمۡ وَيَمُدُّهُمۡ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ﴿١٥﴾

[١٤]- او كله چې له مؤمنانو سره مخامخ شي وايي: ايمان مو راوړى، خو كله چې د خپلو شيطانانو په لور گوښه شي؛ وايي: موږ يقيناً له تاسو سره يو، موږ خو هسې "په

دوی" ملنډې وهونکي يو. [۱۵]- الله پر دوی استهزاء کوي او په خپل طغيان کې ورته مهلت ورکوي، په داسي حال کې چي لالهانده وي.

(۱٤-۱۵)- دوی تل خپله څېره بدلوي، په هري ټولني کې ځان د دوی په څېر کړي، له هر يوه سره د دوستي او ملگرتيا خبره کوي، خو په حقيقت کې نه د چا دوست وي نه ملگری، د خپل غرض په لټه کې وي، د مؤمنانو د برياوو په وخت کې د دوی خوا ته راشي او په ډېر تأکيد سره وايي: موږ هم ايمان راوړی!! خو چي د کفر د جبهې له شيطانو مشرانو سره گوښه شي نو نه يوازي دا چي له خپل کفر او بې ايمانۍ ډاډ ورکوي بلکې د مؤمنانو خوا ته تگ او څه وخت د دوی په څنگ کې پاته کېدل هسي په دوی ملنډې وهل گڼي. دوی گمان کوي چي په دې سره کولی شي دواړه خواوي دوکه کړي او له هر يوه امتيازات تر لاسه کړي، خو په حقيقت کې الله تعالی د دوی د منافقانه عمل مناسبه او ورته جزا ورکوي، هيڅوك پرې باور نه کوي، هيڅوك ئې خپل دوست نه گڼي، هر څوك د ذليل، سپك او بې اعتباره انسان په سترگه ورته گوري.

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشْتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلْهُدَىٰ فَمَا رَبِحَت تِّجَٰرَتُهُمْ وَمَا كَانُواْ مُهْتَدِينَ ﴿١٦﴾

[۱٦]- دا همغه ډله ده چي ضلالت ئې په هدايت پېرلی، خو نه ئې تجارت گټه وکړه او نه هدايت شوي دي.

(۱٦)- دوی د ايمان سودا کوي، د ايمان او اعتقاد په اړه ئې هم معامله داسي وي لکه د يوه بازاري تاجر، خو نه په خپل تجارت کې څه گټه تر لاسه کولی شي او نه خپل غرض ته د رسېدو لار موندلی شي، تل په خپل نفاق او ضلالت کې لالهانده او مضطرب.

مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ ٱلَّذِى ٱسْتَوْقَدَ نَارًا فَلَمَّآ أَضَآءَتْ مَا حَوْلَهُۥ ذَهَبَ ٱللَّهُ بِنُورِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِى ظُلُمَٰتٍ لَّا يُبْصِرُونَ ﴿١٧﴾ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْىٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿١٨﴾

[۱۷]- مثال ئې د هغه چا مثال ته ورته دئ چي اور ئې بل کړ، خو چي کله ئې د ده ماحول روښانه کړ، الله د دوی (د بصيرت) نور ختم کړ او په داسي تيارو کې ئې پرېښودل چي څه نهويني. [۱۸]- کاڼه، گونگيان او ړانده، نو بېرته راگرځېدی نه شي.

(۱۷-۱۸)- په دې مثال کې د منافقينو يوه ډله هغو کسانو ته ورته ښودل شوې چي په

تیاره کې روان وي، ناڅاپه ئې څوك مخې ته اور بل کړي، کله چې دا اور د بلوونکې شا او خوا روښانه کړي او رڼا ئې د دوی ترسترګو شي، د دې پر ځای چې دا رڼا ئې لارښودونکې شي او د دې په مرسته خپله لار بیامومي، په خلاف ئې رڼا د دوی د سترګو د نور د ختمېدو باعث شي. رڼا وګوري خو د دوی خپل حالت داسې دئ چې له رڼا د ګټې اخیستو پر ځای د سترګو مخکینی نور هم له لاسه ورکړي. الله تعالی د دوی د سترګو نور ختم کړي، دا د الله سنت دئ چې بیمارې سترګې د رڼا په لیدو سره خپل نور له لاسه ورکړي. خو داسې ړانده دي چې د بل خبره هم نه اوري، له بله د لارې په اړه د پوښتنې ژبه هم نه لري.

د دې مثال په اړه څو خبرې په پام کې وساتئ:

• له (ذهب الله بنورهم) مراد د دوی د سترګو نور ختمول دي، د آیت په وروستۍ برخې کې د (عمي: ړانده) ذکر همدا مطلب افاده کوي. په ورپسې مثال کې د (و لو شاء الله لذهب بسمعهم و ابصارهم: که الله غوښتې وی نو د دوی سمع او بصر به ئې ختم کړي وو) هم دغه مطلب معلومېږي. له (لایرجعون) معلومېږي چې دا ډله له ړندېدو وروسته د اور خوا ته درومي، نه په خپله لار وینې چې په اور کې له لوېدو ځان وژغوري، نه د بل غږ اوري او نه بل ته غږ کولی شي چې لار وروښيي، ځکه ړانده، کاڼه او ګونګیان شوي، د پتنګانو په څېر ځان په اور ستې کوي. له لاندې حدیث چې بخاري، مسلم او ترمذي هم رااخیستی معلومېږي چې د دې مثال شرح همدا ده چې موږ بیان کړه، حدیث دا دئ:

عن أبی هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّمَا مَثَلِى وَمَثَلُ النَّاسِ كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتَوْقَدَ نَارًا، فَلَمَّا أَضَاءَتْ مَا حَوْلَهُ جَعَلَ الفَرَاشُ وَهَذِهِ الدَّوَابُّ الَّتِي تَقَعُ فِي النَّارِ يَقَعْنَ فِيهَا، فَجَعَلَ يَنْزِعُهُنَّ وَيَغْلِبْنَهُ فَيَقْتَحِمْنَ فِيهَا، فَأَنَا آخُذُ بِحُجَزِكُمْ عَنِ النَّارِ، وَأَنتُمْ تَقْتَحِمُونَ فِيهَا» البخارى

زما او د خلکو مثال داسې دئ لکه څوك چې اور بل کړي، کله چې د ده شا و خوا روښانه کړي، پتنګان او هغه خزندګان چې په اور کې ځان اچوي، ورلوېږي، نو دا کس ئې مخنیوی کوي خو پرې غالب شي او په اور کې ورغورځي، زه هم تاسو رانیسم او له اور مو راګرځوم خو تاسو په کې ننوځئ.

عجیبه ده چې له دغو صراحتونو سره سره ځیني له دې مثال داسې تعبیرونه وړاندې کوي چې هم د آیت له سر او پای سره اړخ نه لګوي او هم له دغه نبوي حدیث سره

مغايرت لري!!

أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فِيهِ ظُلُمَٰتٌ وَرَعْدٌ وَبَرْقٌ يَجْعَلُونَ أَصَٰبِعَهُمْ فِيٓ ءَاذَانِهِم مِّنَ ٱلصَّوَٰعِقِ حَذَرَ ٱلْمَوْتِ ۚ وَٱللَّهُ مُحِيطٌۢ بِٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٩﴾ يَكَادُ ٱلْبَرْقُ يَخْطَفُ أَبْصَٰرَهُمْ ۖ كُلَّمَآ أَضَآءَ لَهُم مَّشَوْا۟ فِيهِ وَإِذَآ أَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوا۟ ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَأَبْصَٰرِهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٠﴾

[١٩]- او يا لكه كوم تېز باران له آسمان چې په كې تيارې، تالنده او برېښنا وي، د تندر په وجه خپلې گوتې په خپلو غوږونو كې نيسي، د مرگ له وېرې، حال دا چې الله په كافرانو احاطه كړې. [٢٠]- نژدې ده چې برېښنا ئې سترگې يوسي، چې كله ئې ورته روښانه كړي، په كې درومي او چې كله ئې ورباندې تياره كړي ودرېږي او كه الله غوښتى نو حتماً به ئې د دوى غوږونه او سترگې ختمې كړې وې، بې شكه چې الله په هر څه قادر دئ.

(١٩-٢٠): په دوهم مثال كې د منافقينو بله ډله له هغه چا سره تشبيه شوې چې په يوې داسې تيارې شپې كې درومي چې تېز باران په كې ورېږي، له برېښنا سره د تالندې درانه غړونه په كې اورېدل كېږي او تندر راپرېوزي، دا لار ورکی د برېښنا په رڼا كې څو گامه مخكې واخلي، خو چې پرې تياره شي، نو په خپل ځاى ودرېږي، له دې وېرې چې تالنده او تندر پرې راپرېنوځي او ژوند ئې پاى ته ونه رسوي، نو د مرگ له وېرې خپل غوږونه په گوتو بند كړي. منافقين همداسې دي، كله چې د اسلام په غېږ كې كومه دنيوى گټه په نظر ورشي نو د اسلام لورې ته راوړاندې شي، خو چې فضاء مجهوله وي او د خطر احساس وكړي، په خپل ځاى ودرېږي او مخ واړوي، له مرگ د ژغورنې په طمع د دوى تدبيرونه داسې دي لكه څوك چې له تندر د ځان ژغورلو لپاره خپل غوږونه په خپلو گوتو بند كړي، په دې سره خو نه څوك له تندر ځان ژغولى شي او نه له مرگ، دوى په دې نه پوهېږي چې د مرگ او ژوند پرېكړه الله كوي او په خپلو منافقانه تدبيرونو سره له مرگ ځان نه شي ژغورلى، دا ځكه چې الله تعالى په كافرانو او د دوى په هر څه احاطه كړې، هيڅ څه ئې د الله له سيطرې او احاطې بهر نه دي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعْبُدُوا۟ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ

تَتَّقُونَ ﴿٢١﴾ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فِرَٰشٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ فَلَا تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٢٢﴾

[۲۱]- اې خلکو! د خپل هغه رب عبادت وکړئ چې تاسو ئې هم پيدا کړي يئ او تر تاسو مخکيني ئې هم، هيله ده ځان ساتنه مو کړې وي. [۲۲]- هغه چې زمکه ئې تاسو ته فرش او آسمان ئې چت کړ او له آسمان ئې اوبه راکوزې کړې او په هغه سره ئې مېوې راوايستې، ستاسو لپاره روزي، نو الله ته سيالان مه نيسئ؛ په داسې حال کې چې پوهېږئ (هغه سيال نه لري).

(۲۱-۲۲)- د هغه ذات عبادت وکړئ چې تاسو او له تاسو مخکې ټول انسانان ئې پيدا کړي، همغه چې زمکه او آسمان ئې داسې پيدا کړي او د دواړو تر منځ ئې داسې تنسيق او يووالی راپيدا کړی چې يو ئې ستاسو د کور د فرش او بل ئې د چت په څېر وي، له يوه اوبه راورېږي او بل په همدغو اوبو تاسو ته دانه او مېوه راشنه کوي او تاسو ته روزي برابروي. ښه پوهېږئ چې نه ستاسو په پيدايښت کې او نه له آسمان نه د باران په ورولو او له زمکې د دانې او مېوې په راايستلو کې له الله پرته بل څوك څه ونډه لري، ښه پوهېږئ چې الله سيالان نه لري.

دلته درې نورې خبرې هم دقت او غور غواړي:

- زمکه ستاسو د کور فرش ده، نه د تيږې په څېر سخته او نه د خټې په څېر نرمه، نه ډېره سړه او نه ډېره توده، نه ئې فشار ډېر زيات نه ډېر کم او آسمان د دې کور لپاره چت دئ، دقرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې آسمان د چت او محفوظ سقف په نامه ياد شوی، نن او له څوارلس پېړيو وروسته انسانان په دې پوهېږي چې د دوی د زمکې په فضاء کې داسې څه شته چې د زمکې لپاره د يوه محفوظ چتر او سقف حيثيت لري، چې هم ئې د لمر له ځينو خطرناکو وړانګو خوندي ساتي او هم له شهاب ثاقب چې په ډېر سرعت سره د زمکې په لوري خوځي خو له دغه سقف سره د تصادم په نتيجه کې يا ذره ذره شي او يا ئې مسير بدل او په بل لوري مخه کړي. که يوه باانصاف ساينس پوه ته ووايئ چې زموږ په يوه کتاب کې چې څوارلس پېړۍ پرې تېرې شوې، څو ځايه راغلي چې دا آسمان ستاسو د زمکې لپاره محفوظ سقف او چت دئ، خو يو وخت به په دې کې چاودونه او سوري راپيدا شي! همغه خبره چې تاسو ئې نن کوئ، د زمکې فضاء د هغې خوندي سقف ګڼئ او د

اوزون پرده ئې د لمر له مضرو وړانگو د خوندي پاته کېدو وسيله، همغه پرده چې اوس د کاربن داى اکسايد گازونو د زياتېدو په وجه ځاى ځاى کې سوليدلې او سوري په کې راپيدا شوي، ما ته ووايئ چې د هغه عکس العمل به څه وي؟ د دې دقيقي علمي وينا او وړاندويني په اړه به څه وايي؟ د قرآن او د هغه د راوړونکي په اړه به څه قضاوت کوي؟ آيا له دې پرته د بلې خبرې مجال ورته شته چې ووايي: دا خبره د يوه انسان خبره نه شي کېدى، هغه څوك ئې کولى شي چې زموږ د فضاء له ډېرو اسرارو خبر وي؛ او په قرآن کې د دغسې خبرو په استناد ويل شوي چې د دې کتاب رالېږونکى هغه ذات دئ چې د زمکې او آسمانانو په اسرارو پوه دئ.

همدا راز د آسمان او زمکې تر منځ دا دقيق يووالى او تنسيق ښيي چې د انسان او د آسمان او زمکې پيدا کوونکى او پالونکى يو ذات دئ، له يوه اوبه راوروي او په همدغو اوبو له بلې شايسته بوټي او دانې او خوندوري مېوې راپيدا کوي او په دې سره د انسان اړتيا ته ځواب وايي او هغه ته رزق او روزي برابروي. دا تنسيق چا راوستى او د کومې خبرې شهادت ورکوي؟ آيا همدا کافي نه دئ چې ووايئ: الله سيالان نه لري.

- د الله په عبادت سره په انسان کې تقوى راپيدا کېږي او دغه تقوى انسان ته د الله په کتاب د پوهېدو دروازه پرانيزي، تاسو د دې سورې په لومړي آيت کې وليدل چې د الله دا کتاب د متقيانو لارښود دئ، که غواړئ د الله کتاب مو لارښود شي او په اسرارو ئې پوه شئ نو په ځان کې تقوى راپيدا کړئ، دا تقوى د عبادت له لاري تر لاسه کولى شئ. د آيت له سياق و سباق هم او له وروستي آيت هم په څرگنده معلومېږي چې دلته هم د کتاب په اړه خبره شوې.

وَإِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّمَّا نَزَّلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا فَأۡتُواْ بِسُورَةٖ مِّن مِّثۡلِهِۦ وَٱدۡعُواْ شُهَدَآءَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٢٣﴾

[۲۳]- او که د هغه څه په اړه شك لرئ چې موږ پر خپل بنده نازل کړي، نو له الله پرته خپل شاهدان راوبلئ او د هغه په څېر يوه سوره خو راوړئ که رښتيني ياست.

(۲۳)- د انسان له پيدايښت او ده ته د رزق او روزي له برابرولو وروسته، په ده باندي د الله تعالى تر ټولو ستره پېرزوينه دا ده چې د ده د لارښوونې لپاره ئې کتاب راولېږو. داسې کتاب چې د هغه په حقانيت هر سالم الفطرت انسان په ډېره آسانۍ پوهېدى شي، له دقيقو څېړنو او ژورو بحثونو ئې ډېر ژر پوهېدى شي چې دا د الله له لوري راغلى کتاب

دئ، هري پوښتني ته ئې ځواب وايي او هر شك ئې ختموي. كه تاسو په دې كتاب كې شك لرئ او گمان مو دا وي چي دا به د الله له لوري نه وي، نو د يوې وړې سورې په څېر ئې كوم څه راوړئ كه رښتيني ياست. ځيني خلك داسي گمان كوي چي دلته يوازي د قرآن اوچت ادبي اړخ ته اشاره شوې او مقابل لورى يوې ادبي مقابلې او مبارزې ته رابلل شوى او ورته ويل شوي چي د قرآن د كومي وړې سورې په څېر ادبي ټوټه نه شئ وړاندي كولى، دا سمه ده چي قرآن له ادبي پلوه هم داسي لويه معجزه ده چي څوك ئې مقابله نه شي كولى، خو د قرآن علمي اعجاز تر دې هم ستره معجزه ده، هغه ژور علمي بحثونه چي د انسان، زمكې، آسمان، لمر، سپوږمۍ، ستورو او ټول عالم په اړه ئې كړي، هغه اسرار چي قرآن په ډاگه كړي، هغه ضوابط چي د انسان د فردي او اجتماعي ژوند د سمون لپاره ئې وضع كړي، د قرآن عميق او جامع مطالب، د حق او باطل، روا او ناروا، حلال او حرام په اړه د قرآن دقيق او عادلانه معيارونه او له ډېرو نورو اړخونو هم قرآن معجزه ده، دا د عربو له شعراءو او ليكوالو علاوه د نورو قومونو لپاره هم او تر قيامت معجزه ده.

فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ وَلَن تَفۡعَلُواْ فَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِي وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُۖ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ﴿٢٤﴾

[٢٤]- او كه ونه توانېدئ او هيڅكله نه شئ توانېدى، نو له هغه اور ځان وساتئ چي سوند ئې خلك او تيږي دي، د كافرانو لپاره تيار كړى شوى.

(٢٤)- د قرآن د علمي اعجاز يوه بېلگه تر دې آيت د مخه ذكر شوې او يوه هم په دې آيت كې او هلته چي فرمايي: (له هغه اور ځان وساتئ چي سوند ئې خلك او تيږي دي)، د قرآن د نزول په وخت كې هيڅا دا خبره نه شوى منلى چي تيږي هم د اور سوند كېدى شي، معلومه نه ده چي مخالفينو به هغه وخت په دې خبري باندي څومره تمسخر كړى وي، څومره به ئې په خپلو مجالسو كې ويلي وي چي دا ليونيان اوس دا خبره هم مني چي تيږي سوزي، هيڅ عاقل انسان د تيږي سوزيدل نه مني!! خو تاسو اوس يوه فزيك پوه ته ووايئ: جنابه! آيا تيږي سوزي؟ هغه به ډېر ژر او له كوم تأمل پرته درته ووايي: هو؛ سوزي، يوازي تيږي نه بلكې هر څه، حتى اوسپنه هم، هر څه د اور په اوچتو درجو كې سوزي، دغه اوبه او دا خاوره هم چي ته ئې د اور وژلو لپاره كاروې؛ او كه هغه ته ووايئ: زموږ په دغه كتاب كې چي څوارلس پېړۍ پرې تېري شوې راغلي چي تيږي به د اور سوند وي، هغه وخت زموږ د كتاب په دې خبري مخالفينو ملنډې وهلې او دا ئې ستر

دروغ ګڼلو، ما ته ووایئ: د دې فزیك پوه غبرګون به څه وي او د دې کتاب او د هغه د وړاندې کوونکي په اړه به څه فکر کوی؟

وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّـٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ ۖ كُلَّمَا رُزِقُوا۟ مِنْهَا مِن ثَمَرَةٍ رِّزْقًا ۙ قَالُوا۟ هَـٰذَا ٱلَّذِى رُزِقْنَا مِن قَبْلُ ۖ وَأُتُوا۟ بِهِۦ مُتَشَـٰبِهًا ۖ وَلَهُمْ فِيهَآ أَزْوَٰجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ وَهُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴿٢٥﴾

[٢٥]-او هغو ته چې ایمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، د دې زېری ورکړه چې دوی ته به داسې جنتونه وي چې ترلاندې به ئې ویالې بهېږي، چې کله ئې له مېوې څه ورروزي کړی شي، وایي به: دا خو همغه دي چې تر دې د مخه راکړی شوې وې، حال دا چې یوې بلې ته ورته مېوې به ورکړی شوې وي او هلته به ئې سپېڅلې جوړې په برخه وي او په هغه کې به تلپاته وي.

(٢٥)- د ایمان او صالح عمل خاوندانو ته د داسې جنتونو زېری ورکړه چې تر ونو او بنګلو لاندې به ئې ویالې بهېږي، د مېوو ظاهري بڼه به ئې سره ورته وي خو هره یوه به ئې په خوند کې تر مخکینۍ غوره او ښه، داسې پاکیزه جوړې به ئې په برخه وي چې هم له انساني کمزوریو پاکې وي او هم له اخلاقي ضعف او ناخوالو، تلپاته ژوند به ئې په برخه وي، نو که تاسو په حلال رزق اکتفاء وکړه، په بدل کې به ئې د جنت مېوې درکول کېږي، که په ګنده کارونو کې له پرېوتو مو ځان لرې وساتو، د جنت سپېڅلې جوړې به مو بدله وي، که د ایمان په لار کې مو د خټو کور له لاسه ورکړ، په عوض کې به ئې د جنت باغونه او بنګلې درکړی شي، که مو خپل لنډ ژوند د الله په لار کې وقف کړ، د جنت تلپاته ژوند به مو په برخه شي.

- له دې معلومېږي چې د جنت مېوې به په رنګ او شکل کې د دنیا مېوو ته ورته وي؛ خو په خوند، ګټې او په بشپړه جذب کېدو کې به توپیر لري؛ د دنیا مېوې داسې دي چې یوه برخه ئې جذب او بله برخه ئې دفع کېږي.

*إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَسْتَحْىِۦٓ أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا ۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فَيَقُولُونَ مَاذَآ أَرَادَ

ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًاۘ يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرًا وَيَهۡدِي بِهِۦ كَثِيرًاۚ وَمَا يُضِلُّ بِهِۦٓ إِلَّا ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٢٦﴾

[٢٦]- يقيناً چي الله له دې حيا نه كوي چي د كوم ماشي مثال راوړي او يا تر هغې د اوچت څه، نو چا چي ايمان راوړی پوهېږي چي دا د دوی د رب له لوري حقيقت دئ او هغه چي كافران شوي نو وايي: الله په دې مثال سره څه اراده او قصد لري، ډېر پرې بې لاري كوي او ډېر پرې هدايت كوي او له فاسقانو پرته بل څوك نه پرې بې لاري كوي.

(٢٦)- دا د الله لويه پېرزوينه ده چي د انسان د پوهولو لپاره ئې د ماشي په څېر له واړه شي نيولې تر ځمكې او آسمان پوري د سترو سترو شيانو مثالونه بيان كړي، قرآن ئې د انسان د فهم مستوی ته (نازل) او راكوز كړی، د ايمان خاوندان پرې پوهېږي، هر څوك چي د ايمان په رڼا كي دې مثالونو ته ځير شي ډېر ژر ئې په مقصد او هدف پوه شي، خو كافران ئې په مقصد له پوهېدو عاجز دي، دوی د وړو شيانو يادول د ستر الله له شأن لري گڼي، په دې نه پوهېږي چي د يوه وړوكي ژوندي مخلوق پيدا كول تر يوه ستر ژوندي حيوان ډېر ډېر گران دئ، په دې كي ډېر ظرافت او لطافت كارول شوی، انسانانو په سر كي لويې لويې راډيوگاني، ټلويزيونونه او كمپيوټر جوړ كړل، خو چي هر څومره مخكي ولاړل، پوهه او تجربه ئې زياته شوه، نو دا ټول ئې ورو ورو كوچني كړل، د څو كاله مخكي ستره او درنه راډيو او لوی كمپيوټر چي يوه كس په آسانۍ نه شو انتقالولی اوس ئې هومره واړه كړي چي ستا د كميس په جيب كي ځائېږي.

ٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهۡدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقۡطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٢٧﴾

[٢٧]- هغه (فاسقان) چي الهي ژمني له ټينگولو وروسته ماتوي او هغه څه غوڅوي چي الله ئې د وصلولو امر كړی او په ځمكه كي فساد كوي، همدا دوی خاسر او تباه شوي دي.

(٢٧)- له دې آيت په ډېر صراحت سره معلومېږي چي د فطري اړيكو شلول او هغه څه قطع كول چي الله ئې د وصلولو امر كوي، د هغو فاسقانو كار دئ چي له الهي هدايت او لارښووني محروم دي او د الله په كتاب د ايمان راوړو سعادت ئې نه په برخه كېږي او دا

همغه مطلب دئ چې د سورې په سر کې راغلی وو، لمونځ په حقیقت کې د اقامه صلوة تر ټولو ستره بېلګه ده، دا هم د انسان او الله تر منځ او هم د انسانانو تر منځ د اړیکو د مضبوطولو تر ټولو مؤثره ذریعه ده، د همدې لپاره الله تعالی د لمانځه اداء کولو لپاره د اقیموا الصلوة صیغه غوره کړې.

كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَاتًا فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٨﴾ هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٩﴾

[٢٨]- څنګه د الله په اړه کفر کوئ! حال دا چې تاسو مړه وئ خو هغه راژوندي کړئ، بیا مو مړوي او بیا مو بېرته راژوندي کوي او بیا د ده په لور ورګرځول کېږئ.
[٢٩]- دی همغه ذات دئ چې د زمکې ټول څه ئې تاسو ته راپیدا کړل، بیا ئې آسمان ته مخه کړه، نو هغه ئې اوه آسمانونه جوړ کړ او دی په هر څه ښه پوه دئ.

(٢٨)- له الله انکار د ډېرې حیرانتیا خبره ده، انسان څنګه خپل زړه او عقل په دې قانع کولی شي؟ له مړې خاورې چا راپیدا کړ؟ د ده له ژوند سره تړلې دا ټول صفات چا ورکړل، علم ئې کوم علیم ورکړی، سترګې ئې کوم سترګه ور، سمع ئې کوم سمیع، د وینا توفیق ئې له کومه کړی او د حافظې استعداد چا په کې ایښی؟ ما ته داسې کوم مخلوق او مصنوع وښیه چې په هغه کې د خپل خالق او صانع د لاس نښې له ورایه نه بریښي؟ په انسان کې دا ټول صفات د کوم خالق ودیعه ګڼې؟ څنګه د یوه پلاسټیك له صانع انکار نه شې کولی خو د انسان له خالق انکار کوې؟ ستا د مرګ پرېکړه څوك کوي؟ دا ته ولې خپل مرګ نه شې ځنډولی؟ هغه څوك دئ چې ته ئې د ارادې په وړاندې مقهور یې او د مرګ د نېټې له بدلولو عاجز؟ چا دا د زمکې پر سر هر څه ستاسو لپاره پیدا کړي، داسې چې که یو ئې هم نه وي او په مقدار کې ئې معمولې کموالی راشي او د دوی تر منځ موجود تناسب ختم شي، نو د زمکې پر سر ستا ژوند ممکن نه دئ، که د زمکې د حرارت درجه کمه یا زیاته شي، که ئې له لمر فاصله ډېره یا لږه شي، که ئې دا او هغه او هر څه له خپل طبیعي حالت ووځي، نو د زمکې پر سر او د آسمان لاندې ژوند درته ګران کړي. دا هر څه په دومره دقیقه توګه او په داسې ضروري او لازمي تناسب چا پیدا کړي؟ د زمکې او آسمان تر منځ دا یووالی او تنسیق او دا چې په ګډه لګیا دي، ستا اړتیاوو ته ځواب وایي، یو اوبه راوروي او بل ئې دانه او مېوه درته راشنه کوي، دا د چا کار دئ؟ دا د زمکې او آسمان په هر څه کې د

(علم) نښې او آثار خو د دې خبرې شهادت ورکوي چې دا هر څه هغه ذات پیدا کړي چې په هر څه پوه دئ.

کوم حقیقت چې په دې مبارك آیت کې ورته اشاره شوې، انسان اوس او څوارلس پېړۍ وروسته پرې پوه شوی، علم نن د قرآن همدا خبره کوي چې دا د زمکې هر څه، که حیوان دئ، که نبات دئ او که عناصر او مرکبات ئې، دا ټول او په همدې موجود مقدار او تناسب کې ئې د انسان د ژوندي پاته کېدو لپاره ضروري دي، ټول ژوي له یوه بل سره داسي تړلي دي چې که یو ئې له منځه ځي نور به ورپسې یو په بل پسي له منځه ځي، داسي لکه د غاړې هار چې وشلېږي او مرغلري ئې یوه په بلې پسې راپرېوځي؛ او دا هغه مطلب دئ چې په دې روایت کې راغلی:

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «خَلَقَ اللَّهُ تَعَالَى أَلْفَ أُمَّةٍ؛ سِتُّمِائَةٍ فِي الْبَحْرِ وَأَرْبَعَمِائَةٍ فِي الْبَرِّ وَأَوَّلُ شَيْءٍ مِنْ هَذِهِ الْأُمَمِ هَلَاكًا الْجَرَادُ فَإِذَا هَلَكَتْ تَتَابَعَتْ مِثْلَ النِّظَامِ إِذَا قُطِعَ سِلْكُهُ»

جابر بن عبدالله رضي الله عنه وايي چې عمر رضي الله عنه وويل: له پیغمبر علیه السلام مي اورېدلي چې فرمایل ئې: الله زر امتونه پیدا کړي چې شپږ سوه ئې په اوبو کې او څلور سوه ئې په وچه کې، لومړی شيء چې له منځه به ځي ملخان دي، نو کله چې دوی له منځه ولاړ شي نور انواع د ژوو به داسي یو په بل پسي له منځه ځي لکه د هار تار چې وشلېږي.

(۲۹)- قرآن وايي چې الله تعالی اوه زمکې او اوه آسمانونه پیدا کړي، نن د علمي ژورو تحقیقاتو په ترځ کې انسان ته معلومه شوې چې زمکه اوه طبقې لري او د زمکې پر سر د زمکې مربوطه فضاء هم اوه طبقې ده. انسانانو ته دا هم جوته شوې چې د اتم د مدارونو اعظمي شمېر هم اوه دي، له دې معلومېږي چې دا کائنات او مربوط ستوري او کهکشانونه ئې یوه داسي مجموعه ده چې اوه آسمانونه پرې راتاو دي.

له دې آیت ځینو دا انتباه اخیستې چې ښايي زمکه به له آسمان مخکې پیدا شوې وي، دا اشتباه ده، په څو دلیله:

- په خپله په دې آیت کې ویل شوي چې بیا الله تعالی آسمان ته متوجه شو، د دې معنی دا ده چې آسمان تیار موجود وو.
- دا توجه د آسمان د تسویې او د اوه آسمانونو په څېر ئې د جوړولو په ارتباط شوې، نه د پیدایښت لپاره.

- قرآن په صریح الفاظو وايي چې زمکه او آسمان سره یو ځای وو موږ سره بېل کړل. له دې په وضاحت سره معلومېږي چې دواړه په یوه وخت پیدا شوي، له یوه بل وروسته ئې یادونه د لومړي پیدایښت په ارتباط نه ده د تسویه او برابرولو په ارتباط ده. قرآن په دې اړه فرمايي:

أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾ الانبیاء

آیا کافران په دې نه پوهېږي چې آسمانونه او زمکه سره نښتي وو، نو موږ سره بېل کړل او هر ژوی مو له (اوبو) پیدا کړی، نو آیا ایمان نه راوړي؟!

له دې آیت په څرګنده معلومېږي: چې په سر کې ټول کائنات، زمکه، لمر او د آسمان ټول اجرام یوه کتله وه او الله تعالی په یوې چاودنې سره دوی بېل بېل کړل او اوسنۍ بڼه ئې ورکړه؛ او دا هغه حقیقت دئ چې انسان نن پرې پوه شوی.

---

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّى جَاعِلٌ فِى ٱلْأَرْضِ خَلِيفَةً ۖ قَالُوٓاْ أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ ٱلدِّمَآءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ۖ قَالَ إِنِّىٓ أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾

[۳۰]-او کله چې ستا رب ملائکو ته وويل: زه پر زمکه د یوه خلیفه او نائب راپیداکوونکی یم، دوی وويل: آیا داسې څوك په کې پیدا کوې چې فساد به په کې کوي او وینې به تویوي؛ حال دا چې موږ ستا له ستاینې سره لګیا یو او ستا لپاره په تقدیس بوخت یو. وئې فرمایل: زه په هغه څه ښه پوه یم چې تاسو پرې نه پوهېږئ.

---

(۳۰)- قرآن اکثراً د یوې مهمې خبرې له کولو وروسته، د مزید وضاحت لپاره تاریخي مثال او د دې خبرې عملي بېلګه راوړي، دا تاریخي مثال او عملي بېلګه د (إذ) په لفظ پیل کېږي. دلته له دغه ستر او مهم مطلب وروسته چې الله تعالی د زمکې هر څه ستاسو لپاره پیدا کړي، ستاسو د خدمت او ګټې اخیستو لپاره؛ اوس د خلیفه په توګه د آدم علیه السلام د پیدایښت قصه او ملائکې ده ته په سجده ګمارل د پورتني مطلب د مزید توضیح لپاره وړاندې کوي.

په دې مبارك آیت کې څو اساسي لارښوونې شوې:

- آدم علیه السلام په زمکې کې پیدا شوی، دلته د (جاعل) معنی (پیدا کوونکی) دئ.

- الله تعالی ملائکو ته خبر ورکړ چي زه پر زمکه داسي څوك راپیدا کوم چي هغه به د خلیفه او نائب په څېر عمل کوي، د دې خلیفه ځیني مواصفات او ځانګړتیاوي ئې وروښودې، فرشتو د دې تصور نه شو کولی چي یوه بااختیار او د استقلال او ارادې خاوند موجود ته دي د زمکي واګي وسپارل شي، ګمان ئې کاوو چي داسي کس به هرو مرو له خپل واك او اختیار غلطه استفاده کوي، فساد به خوروي او قتلونه به کوي. وئې ویل: په داسي حال کي چي موږ ستا د اوامرو په تعمیل کي په پوره انهماك سره لګیا یو، په زمکي کي د تقدیس او سُتره ساتلو امور هم تر سره کېږي، د دې خلیفه او نائب د پیدا کولو څه ضرورت دئ، په داسي حال کي چي له ده د فساد کولو او وینو تویولو احتمال هم شته؟ ملائکي د آدم علیه السلام له ټولو وړتیاوو خبري نه وې، یوازي دومره پوه شوې وې چي دا به خلیفه وي، یا ئې د خلیفه له مفهوم دا مطلب اخیستی وو او یا ورته ویل شوي وو چي دی به د واك او اختیار خاوند وي، هم به ښه کار کولی شي او هم بد، ستاسو په څېر به نه وي چي هیڅ څه په خپله خوښه او استقلال سره نه شئ کولئ، د همدې لپاره ئې وویل: مبادا هغه د فساد او وینو تویولو باعث شي، الله تعالی وفرمایل: زه په هغه څه ښه پوه یم چي تاسو پرې نه پوهېږئ، تاسو ته هغه ځانګړتیاوي نه دي معلومي چي ده ته ئې ورپه برخه کوم. نه ملائکو ته دا وینا د مشورې په توګه شوې او نه ملائکو د اعتراض په توګه دا پوښتني کړې، الله تعالی له مشورې بې نیازه دئ او ملائکي له اعتراض کولو نه بریٔ دي. دا خبره هم بې دلیله او بې بنیاده خبره ده چي ملائکو د پیریانو مخکینیو کړنو ته په پام سره ویلي چي د آدم علیه السلام اولاد به هم د دوی په څېر شي. په خلاف ئې الله تعالی دوی ته د آدم علیه السلام په اړه هومره معلومات ورکړی چي له دوی سره ئې دغه سؤالونه راپیدا کړي.
- په دې آیت کي درې ځله ویل شوي چي آدم علیه السلام به په زمکي کي پیدا کېږي او د زمکي خلافت به ورسپارل کېږي، یو ځل د الله له لوري ویل شوي او دوه ځله د ملائکو له لوري، دا کافي ده چي ووایو آدم علیه السلام په زمکي کي پیدا شوی او د زمکي خلافت ورسپارل شوی، د قرآن په هیڅ آیت کي نه صراحتاً داسي څه موندلی شو چي د دې مطلب خلاف خبره ترې معلومه شي او نه تلویحاً. ډېره عجیبه ده چي څوك د قرآن د دې وضاحت او صراحت سره سره د اسرائیلي روایاتو تر تأثیر لاندي راشي او ګمان وکړي چي آدم علیه السلام له زمکي پرته په بل ځای کي پیدا شوی!!

وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلۡأَسۡمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمۡ عَلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِي بِأَسۡمَآءِ

هَٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٣١﴾ قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ لَا عِلۡمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمۡتَنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٣٢﴾

[٣١]- او آدم ته ئې نومونه ورزده كړل، ټول ئې، بيا ئې ملائكو ته وړاندي كړل، نو وئې ويل: د دغو پر نومونو مي خبر كړئ؛ كه رښتيني ياست. [٣٢]- وئې ويل: پاكي ده تا ته، موږ. له هغه پرته چي تا راښودلي هيڅ علم نه لرو، ته خو بې شكه چي ښه پوه او ښه د حكمت خاوند يې.

(٣١-٣٢) - الله جل شأنه آدم عليه السلام او د ده نسل ته پر ملائكو باندي دا فضيلت وركړى چي علم ئې تر فرشتو جامع دئ، د هر څه پېژندلو او هغه ته د خاص نوم وركولو استعداد په كي ايښودل شوى، خو ملائكي داسي دي چي هر صنف ئې د خپل خاص كار په اړه علم لري او د نورو شيانو په اړه نه پوهېږي، هر څه پېژندل او بيا هغه ته خاص نوم وركول؛ د انسان ځانگړتيا ده، دا خصوصيت په بل هيڅ مخلوق كي نشته، د زمكي د خلافت لپاره همداسي يوه مخلوق ته ضرورت وو، ملائكو دا كار نه شو كولى. متأسفانه ځيني داسي گمان كوي چي ملائكو غوښتل د زمكي خلافت د دوى په واك كي وي او بل چا ته ورنكړى شي، الله غوښتل دوى په دې ملامت كړي او ورته ثابته كړي چي تر تاسو آدم عليه السلام د دې مقام لپاره وړ دئ، نو آدم عليه السلام ته په غوږ كي وويل شو چي د دې او هغه شيانو نومونه څه دي، بيا د همدغو شيانو د نومونو په اړه له ده او ملائكو امتحان واخيستل شو، ملائكي ناكامه او دى بريالى شو!! حال دا چي نه دا كار د امتحان اخيستو لپاره تر سره شوى، نه ملائكي داسي دي چي د الله له حكم مخالفت وكړي او د ځان لپاره كومه دنده وغواړي او نه په داسي امتحان سره د آدم عليه السلام وړتيا ثابتېدى شي. دا له اسرائيلي رواياتو اخيستل شوي آراء دي، په دې كي هم الله تعالى ته د عدل او عقل خلاف كارونه منسوب شوي او هم ملائكو ته د گناه كارونه! الله تعالى خو نه د عدل خلاف كار كوي او نه د عقل، دا تأويل هم د عدل منافي دئ هم د مشاهدې، داسي امتحان چي په هغه كي يوه ته نقل وركړى شي، د عدالت منافي امتحان دئ او موږ په مشاهدې سره گورو چي آدم عليه السلام او اولاد ته ئې د ټولو شيانو نومونه نه دي ښودل شوي، په څو دلائلو:

- كه نومونه ورښودل شوي وى نو بايد تر قيامت د ده په ټول اولاد كي همدا نومونه پاته وى، د ده عرب او عجم زامنو بايد ورته نومونه كارولى او د ټولو ژبه يوه وى. خو عملاً گورو چي نه ژبه يوه ده او نه نومونه. دا دوى ولي د قرآن د آيتونو داسي تعبيرات كوي چي د مشاهدې خلاف دي، آدم عليه السلام ته به نومونه همغسي ښودل شوي وي لكه د

ده اولاد ته چې ئې ښيي، د آدم علیه السلام قصه خو د دې لپاره راوړي چې د ده اولاد ته وښيي چې پر تاسو مې دا او دا نعمتونه پېرزو کړي، تاسو ته مې پر ټولو مخلوقاتو فضيلت درکړ، پر ملائکو هم، د هر څه پېژندل او خاص نوم ورته وضع کول ستاسو هغه ځانګړتيا ده چې هيڅ مخلوق ته نه ده ورکړی شوې، په کوم ترتيب چې الله تعالی د آدم عليه السلام اولاد ته نومونه ښيي همداسي ئې آدم عليه السلام ته ښودلي، د آدم عليه السلام هر لمسی چې پيدا شي نو هر څه ته لاس اچوي، يوه خوا بله خوا ئې ګوري، نوم ورته ړدي، مور، پلار، ډوډۍ او اوبو ته له خپلي خوا نومونه ړدي، په سر کې خوراك او څښاك په ژړا غواړي، چې لږ لوی شي خپلو ضروري شيانو ته داسي وړوکي وړوکي نومونه کښېږدي چې خپله مور پرې پوهولی شي، که ئې مور پلار خپله ژبه پرې تحميل نه کړي نو ځان ته به نوې ژبه او نومونه غوره کړي، آدم عليه السلام ته د نومونو د ښودلو معنی دا ده، نه هغه چې په اسرائيلي رواياتو کې راغلي.

- د ټولو شيانو علم له الله پرته هيچا ته ممکن نه دئ، آدم عليه السلام او اولاد ئې دا توان نه لري چې د ټولو شيانو نومونه زده او حفظ کړی شي، حافظه ئې دومره ظرفيت نه لري.
- دا خبره مو بايد تل په پام کې وي چې قرآن د حق او باطل د پېژندو لپاره وروستی معيار او ملاك دئ، هره اختلافي خبره بايد قرآن ته محول شي او يوازې هغه خبره حق وګڼو چې له قرآن سره موافق وي، روايت به د قرآن په تله تلو، نه دا چې د قرآن آيت د روايت لپاره تأويل کړو! دا خو هغه کار دئ چې اهل کتاب وکړ او په نتيجه کې ئې د الله کتاب شا ته وغورځاوو، په رواياتو پسې او په اختلافاتو اخته شول، حاشا و کلا چې صحابه دې هغه خبره وکړي چې قرآن نه وي کړې، صحابه خو د قرآن لومړي زده کوونکي او حاملان وو، تر هر چا ښه پرې پوه شوي وو، له هغه چا ئې مخامخ اورېدلی وو چې دا قرآن پرې نازل شوی، څنګه به هغوی د قرآن خلاف خبره کوي؟ که کله له داسي روايت سره مخامخ کېږو چې له قرآن سره اړخ نه لګوي نو د دې پر ځای چې د قرآن آيتونه د روايت لپاره تأويل کړو بايد ووايو چې يا راوي اشتباه کړې او يا مروي عنه د اهل کتاب خبره کوله او اورېدونکي ګمان کړی چې دا د ده خپله خبره او رأيه ده او نورو ته ئې د ده د خبرې په توګه انتقال کړې. په رواياتو کې بې شمېره داسي روايات شته چې په اصل کې د اهل کتاب روايات دي خو صحابه وو ته منسوب شوي.

د (وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلۡأَسۡمَآءَ كُلَّهَا) تفسير بايد تر هر څه د مخه په خپله په قرآن کې ولټوو او وګورو چې (عَلَّمَ) په کومه معنی راغلی، قرآن موږ ته د دې وضاحت کړی، د قرآن په رڼا کې

په دې پوهېدل آسانه دي چې آدم علیه السلام ته د اسماءو تعلیم او ښوونه داسې ده لکه چې د ده اولاد ته د بیان د تعلیم په اړه ئې فرمایلی: (علمه البیان: خبرې کول ئې وروښودل). الله تعالی انسان ته د وینا استعداد ورکړی، دا ښوونه داسې نه ده چې د پیدایښت له لومړۍ ورځې خبرې کولی شي، بلکې ورو ورو ئې زده کړې، همدا راز ئې د ټولو شیانو د پېژندو او هر یوه ته د خاص نوم ورکولو استعداد ورکړی.

قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ أَنۢبِئۡهُم بِأَسۡمَآئِهِمۡۖ فَلَمَّآ أَنۢبَأَهُم بِأَسۡمَآئِهِمۡ قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكُمۡ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ غَيۡبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَأَعۡلَمُ مَا تُبۡدُونَ وَمَا كُنتُمۡ تَكۡتُمُونَ ٣٣

[٣٣]- وئې ویل: اې آدمه! په نومونو ئې خبر کړه، نو چې کله ئې پر نومونو خبر کړل، وئې ویل: آیا تاسو ته مې نه وو ویلي چې زه د آسمانونو او زمکې په پټو ښه پوهېږم او په هغه څه هم ښه پوهېږم چې څرګندوئ ئې او په هغه هم چې پټوئ ئې؟

(٣٣)- له دې مبارك آیت په څرګنده معلومېږي چې ملائکو ته د آدم علیه السلام دا علمي استعداد او فضیلت نه وو معلوم د کوم له امله چې الله تعالی د زمکې د خلافت لپاره غوره کړی وو. د ده (اختیار) او استقلال ته په پام سره ئې دا اندېښنه څرګنده کړې وه چې مبادا په زمکې کې د فساد او وینو تویولو باعث شي. دا خبره بې بنیاده ده چې ګواکې ملائکو غوښتل د خلافت مقام دوی ته ورکړی شي.

وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰ وَٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٣٤

[٣٤]- او کله چې مو ملائکو ته وویل: د آدم لپاره سجده وکړئ، ټول په سجده شول مګر ابلیس، ډډه او تکبر ئې وکړ او له کافرانو وو.

(٣٤)- دلته څو خبرې د خاص پام وړ دي:

- له دې سجدې یا یوازې اطاعت او تسلیمېدل مراد دي او یا د اطاعت او تسلیمېدو تر څنګ سجدې ته ورته کوم حرکت هم، دا ځکه چې ملائکې او ابلیس د انسان په څېر نه دي، سجده ئې هم د انسان سجدې ته ورته نه ده، د ملر، سپوږمۍ، ونو او غرونو سجده هم د انسان د سجدې په څېر نه ده. په دې توجیه سره هغه اشکال هم رفع کېږي چې د

ملائکو سجده آدم علیه السلام ته وه که د آدم لپاره الله تعالی ته؟ ځکه له الله پرته بل څه ته سجده کول جائز نه دي.

• له دې آیت دا هم معلومېږي چې د ملائکو مقام او منزلت په دې عالم کې داسې دئ چې چا ته د دوی په انقیاد او سجدې سره به د زمکې او آسمانونو هر څه هغه ته غاړه ږدي، آدم علیه السلام ته د دوی د سجدې په نتیجه کې به هر څه ده ته مسخر او منقاد کېږي، ځکه وروسته ویل شوي چې له ابلیس پرته ټولو سجده وکړه. یوازینې چا چې له سجدې ئې ډډه وکړه ابلیس وو، نور هر څه آدم ته مسخر شول، د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې دا مطلب ذکر شوی چې د زمکې او آسمانونو هر څه انسان ته مسخر کړی شوي.

• د زمکې پر سر لومړی ګناه تکبر وو، د الله له رحمت لومړی رټل شوی کس متکبر دئ، متکبر څوك دئ؟ هغه چې په نسب کې ځان تر بل غوره ګڼي. خپل قوم تر بل قوم او خپل ټبر تر بل ټبر او ځان تر بل غوره ګڼل همغه کار دئ چې په لومړي ځل شیطان وکړ. په دې سوره کې راغلي چې د بني اسرائیلو سردارانو د طالوت علیه السلام د زعامت له منلو انکار کاوو، دا همغه کار وو چې شیطان کړی وو، هغه قصه د دغي لپاره تاریخي بېلګه او شرح ده.

وَقُلْنَا يَـٰٓـَٔادَمُ ٱسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَـٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٣٥﴾ فَأَزَلَّهُمَا ٱلشَّيْطَـٰنُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ ۖ وَقُلْنَا ٱهْبِطُوا۟ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ وَلَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَـٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٣٦﴾

[۳۵]- او مو ویل: اې آدمه! ته او مېرمن دې په دې جنت کې مېشت شئ او له کوم ځای چې غواړئ پرېمانه وخورئ، خو دې ونې ته مه نژدې کېږئ، که نه نو له تېري کوونکو به شئ. [۳٦]- خو شیطان له هغه وښویول او له هغه څه ئې وایستل چې په کې ول؛ او مو ویل: له دې کوز شئ، ځیني د ځینو نورو لپاره دښمن او تاسو ته په زمکې کې د تېکي ځای دئ او څه متاع، تر یوه وخته.

(۳۵)- د دې مبارك آیت څو اساسي ټکي خاصه توجه غواړي:

• انسان داسې پیدا شوی چې هغه ته باید مفید او مضر، حلال او حرام او ښه او بد وروښودل شي، له نورو ژوندیو مخلوقاتو سره ئې یو اساسي توپیر په دې کې دئ چې نورو

ته په فطري توګه خپله لار ښودل شوې، د همغي فطري لارښوونې مطابق ژوند کوي، د غرڅه بچی په هغه لومړی ورځ او له پیدایښت څو شېبې وروسته په خپلو پښو ودرېږي، په خپلې مور پسي زغلي، د هغه څه له خوړلو او د هغه کار له کولو ډډه کوي چي ورته تاوان لري، مفید او مضر بوټي پېژني، خو انسان تر اوږدې مودې مور ته سخت اړ وي، اور، تیږي او لوټي ته لاس کوي، هر څه په خوله منډي، که ئې مور څو شېبې ترې غافله شي، یا په اور کې ځان اچوي یا اوبو کې، هغه ته باید ښه او بد، مفید او مضر، شات او زهر، حلال او حرام عملاً وروښودی شي، هغه تر بل هر مخلوق دې ته زیات اړ دئ چي د ښه ژوند کولو ټولي غوښتني او مقتضیات ورزده کړی شي، فطري ښوونه ورته کافي نه ده. د ده وضع له نورو مخلوقاتو فرق کوي، دی له ځانګړو استعدادونو سره پیدا شوی، دا دئ ګورئ چي په هغه جنت کې هم ورته ویل شوي: له هر ځایه هر څه پرېمانه خوړلی شئ خو هغي خاصي ونې ته به نه نژدې کېږئ. په دې سره عظیم الشأن قرآن د انسان د فطرت یوه ډېر مهم او اساسي اړخ ته اشاره کړې.

- د انسان لپاره دحلالو شیانو شمېر د حرامو په نسبت دومره زیات وګڼئ لکه په یوه ستر باغ کې چي راز راز وني او مېوې ولري، یوازي یوه ونه ئې داسي وي چي د مېوې خوراك ئې منع شوی وي. عجیبه ده چي انسان په دومره زیاتو حلالو اکتفاء نه کوي او حرام ته لاس غځوي!!
- اما دا چي آدم علیه السلام په کوم جنت کې ځای پر ځای شو؟ د زمکي پر سر کوم جنت کې او که په موعود جنت کې؟ کومي وني ته له نژدې کېدو منع شوی وو؟ شیطان څنګه وتوانېدو چي دې جنت ته ننوځي او آدم او حواء علیهما السلام د ممنوعه مېوې خوړلو ته وهڅوي؟ د دغو پوښتنو پر سم ځواب د پوهېدو لپاره باید لاندي خبري په پام کې ولرو:

۱. په دې اړه هم په روایاتو کې کافي او زیات اختلاف شته او هم د مفسرینو تر منځ، هم د جنت د موقعیت په اړه او هم د دې ونې د نوعي په اړه، له دې اختلاف معلومېږي چي له پیغمبر علیه السلام صریح او صحیح حدیث نه دئ نقل شوی.

۲. قرطبي او ځیني نور مفسرین دا موعود جنت ګڼي، خو هیڅ دلیل ورته نه لري، ټول مفسرین ورسره موافق نه دي، ما دغه رأیه له قرآن سره موافق نه ده موندلې. په داسي حال کې چي د البقرة د سورې په یوه آیت (۳۰ آیت)کې درې ځلي ویل شوي چي آدم علیه السلام به په زمکه کې پیدا کېږي او دلته به خلیفه وي، اولاد به ئې په همدې زمکې کې پیدا کېږي، همدلته به مري؛ او له همدې زمکې به د قیامت په ورځ بیا ژوندي راپاځي؛ او په داسي حال کې چي نه د قرآن په کوم آیت کې صراحتاً یا اشارتاً دا مطلب راغلی چي آدم علیه

السلام په آسمان کې پیدا شوی او نه په احادیثو کې، او په هیڅ آیت او حدیث کې نه دي ویل شوي چې آدم علیه السلام له پیدایښت وروسته آسمان ته اوچت کړی شوی، نو دا ادعاء به څنګه منو چې د ده لومړی اسکان د آسمان په جنت کې وو، که داسي وی نو دا مطلب به په ډېر صراحت سره په قرآن کې راغلی وو، چې آدم علیه السلام په آسمان کې پیدا شوی یا په زمکه کې له پیدایښت وروسته آسمان ته بېول شوی. په قرآن د ایمان تقاضی خو دا ده چې له خپله ځانه کوم مطلب ورته منسوب نه کړو او د دې آیت مصداق ونه ګرځو (ام تقولون علی الله ما لاتعلمون) نه؛ په همغه څه اکتفاء وکړو چې قرآن په خپله ویلي.

۳. آدم علیه السلام له خاوري او د زمکي پر سر او د زمکي د خلافت لپاره پیدا شوی. دلته وفات شوی او له دې به بېرته راژوندی کېږي؛ او همدا د ده د اولاد برخلیك هم دئ.

٤. ځینو د (اهبطوا) له لفظ دا مطلب اخیستی چې دوی ته له آسمان د کوزېدو امر شوی، دا خبره په دوه دلیله ضعیفه ده: لومړی دا چې په همدې سورې کې او څو آیتونه وروسته، بني اسرائیلو ته په همدغه صیغه ویل شوي چې (اهبطوا مصرا: نو مصر ته کوز شئ) او د بنی اسرائیلو دا قصه په حقیقت کې له جنت د آدم علیه السلام د کوزېدو لپاره بل مثال او مزید شرح ده. دوهم دا چې د (اهبطوا: کوز شئ) امر هغه چا ته کېږي چې د کوزېدو له ځایه په خپله او په خپلو پښو کوزېدی شي. آدم علیه السلام ته له آسمان په خپله راکوزېدل ممکن نه وو.

۵. آدم علیه السلام له پیدایښت وروسته په داسي جنت کې ځای پر ځای شوی چې هلته هم شجرة ممنوعه وه او هم شیطان ورتلی شو. په موعود جنت کې نه شجرة ممنوعه شته او نه شیطان ورتلی شي. شیطان لا دمخه رټل شوی وو، موعود جنت ته د ده ننوتل ممکن نه وو.

٦. د جنت لغوي معنی باغ دئ او په قرآن کې د جنت لفظ یوازي د موعود جنت لپاره نه دئ کارول شوی. په داسي حال کې چې جنت د مېوې باغ ته ویل کېږي او له دې معلومېږي چې شجره ممنوعه به د مېوې یوه ونه وه، قرآن نه ده ښودلې، موږ ته په کار ده چې په دې اړه له ځانه څه ونه وایو، خو متأسفانه ځینو په دې اړه هم له اسرائیلي روایاتو ډېر څه رانقل کړي، هغه ئې د (غنمو ونه) ګڼلې، نه ئې دې ته پام کړی چې د (غنمو نه ونه وي او نه ئې باغ)!! او نه هم دې ته چې الله تعالی یوازي هغه څه انسان ته حراموي چې ضرر ئې تر ګټي زیات وي.

۷. موعود جنت ته داخلېدل له محاسبې وروسته تر سره کېږي. دا جنت په اصل کې د انسان د عملونو محصول دئ، لکه چې په روایاتو کې راځي: ابراهیم علیه السلام د معراج

په رؤيا کې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته وفرمايل:

مُرْ أُمَّتَكَ فَلْيُكْثِرُوا مِنْ غِرَاسِ الْجَنَّةِ، فَإِنَّ تُرْبَتَهَا طَيِّبَةٌ وَأَرْضَهَا وَاسِعَةٌ؛ قَالَ: وَمَا غِرَاسُ الْجَنَّةِ؟ قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ ". مسند أحمد

خپل امت ته امر وکړه چې د جنت نيالګي زيات کړي؛ د جنت خاوره پاکه او زمکه ئې پراخه ده؛ وئې ويل: د جنت نيالګي څه دي؟ وئې ويل: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ؛

يعني چې ستاسو له تسبيح د جنت وني او له نېکو عملونو مو د جنت قصرونه جوړېږي.

٨. له دې دلائلو په څرګنده معلومېږي چې دا جنت د زمکې پر سر وو نه په آسمان کې، د هغو مفسرينو رأيه صحيح ده چې دا جنت د زمکې پر سر ګڼي او دا رأيه چې دا همغه موعود جنت او په آسمان کې وو له اسرائيلي رواياتو اخيستل شوې رأيه ده، د دې په تأييد کې ټول استدلالات ډېر ډېر ضعيف دي، نه په نقل سره دا خبره ثابتولی شي او نه هم په عقل سره، د دوی ځيني خبري خو د ډېر تعجب وړ دي، مخصوصاً جنت ته د شيطان د ننوتو په اړه د دوی وينا، ځينو ئې ويلي چې شيطان د مار په خوله کې پټ ورننوتی او ځينو ويلي چې له بهر د دېوال له شا، يا د جنت په دروازه کې، يا له جنت د وتلو په وخت کې او حتی له زمکې ئې د آسمان په جنت کې هغوی وسوسه کړي!! او ځينو خو هومره بې باکي کړې چې ويلي ئې دي: شيطان د ملائکو له ډلي او حتی د دوی استاد وو!! دوی دې ته هم پام نه دئ کړی چې که آدم عليه السلام شيطان په خپلو سترګو ليدی نو نن به د ده اولاد هم هغه په خپلو سترګو ليدو او دې ته ئې هم توجه نه ده کړې چې آدم عليه السلام ته د شيطان وسوسه بايد همغسې وي لکه نن چې د ده اولاد وسوسه کوي. که د دوی د استدلالونو په اړه لږ غور وکړئ نو هر يو به ئې د عقل او مشاهدې خلاف ومومئ. نه پوهېږو چې ولې نه وايي: د آدم عليه السلام جنت داسې وو لکه بني اسرائيلو ته د من او سلوی ورکول او د ورېځو سيوري پرې جوړول، له جنت ئې هبوط داسې وو لکه د بني اسرائيلو هبوط، شيطان داسې وسوسه کړل لکه د ده اولاد چې وسوسه کوي، دا ځکه چې د آدم عليه السلام په قصه کې الله تعالی موږ ته (انسان) او د هغه ځانګړتياوي او خصوصيات معرفي کوي، د انسان د عروج او زوال عوامل راښيي، شيطان او د هغه وسوسې را په ګوته کوي، دا زموږ د جد قصه ده، د دې قصې په هينداره کې بايد خپل مخ وګورو او خپل ځان وپېژنو، مګر نه ګورئ چې د آدم عليه السلام له دغې قصې وروسته د بني اسرائيلو د عروج او هبوط قصه راغلې، مګر دا قصه د هغې لپاره شرح نه ده؟!

٩. په دې مبارك آيت کې دا خبره هم توضيح شوې چې آدم او حواء عليهما السلام ته ويل شوي وو چې دغې ونې ته مه نژدې کېږئ، که ورنږدې شوئ نو تېری به درنه وشي او

ممنوعه مېوه به ئې وخورئ. له ګناه د ځان ساتلو په اړه، قرآن په څو نورو ځايونو کې هم دې ته ورته لارښوونه کړې او ويلي ئې دي چې د ګناه له ځايه ځان لرې وساتئ، نژدې مه ورځئ، د حلالو شيانو تر آخري پولې مخکې مه ځئ او د حرامو د پولې پيل کېدو ته مه ورنږدې کېږئ که نه په حرامو کې به پرېوځئ. څوک چې خپله رمه د نورو د پټي خوا ته څروي هرومرو ئې څاروي د بل پټي ته ننوځي.

(٣٦)- شيطان وښويول او د هغه جنت له ټولو نعمتونو ئې محروم کړل، قرآن په دې سره موږ ته دا لارښوونه کوي چې د شيطان وسوسو ته تسليمېدل؛ له يوې خوا د انسان د ښويېدو باعث شي، له الهي نعمتونو ئې محروم کړي او د عزت له لوړو ئې راپرېږي باسي او له بلې خوا ئې په عداوت او دښمنيو سر کړي.

فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَٰتٖ فَتَابَ عَلَيۡهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ٣٧

[٣٧]- نو آدم له خپل رب داسې څو ټکي تر لاسه کړل چې د هغه له امله ئې توبه قبوله کړه، بې شکه چې هغه ډېر مهربان توبه منونکی دئ.

(٣٧)- آدم عليه السلام د توبې اراده وکړه، د داسې الفاظو په لټه کې شو چې خپل ندامت پرې بيان کړی شي او الله ئې توبه قبوله او اشتباه ئې عفو کړي! الله تعالی ورته هغه الفاظ تلقين کړل چې په کوم سره ئې هم خپل ندامت څرګندولی شو او هم ئې د الله تعالی د مغفرت او رحمت غوښتنه پرې کولی شوه، د همدې الفاظو په ويلو سره الله تعالی د ده توبه قبوله کړه. قرآن د دغو کلماتو په اړه داسې فرمايي:

قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ *

دواړو وويل: اې زموږ ربه! په رښتيا چې موږ په خپل ځان ظلم وکړ، که ته راته بخښنه ونه کړې او راباندې رحم ونکړې، نو هرومرو به له زيانمنو وو.

په دې سره قرآن موږ ته وايي چې له هر چا خطاء او غلطي کېدی شي، غلطي او اشتباه کول ستاسو فطري کمزوري ده، خو که له غلطي وروسته توبه وکړئ، ندامت وښيئ، الله ته رجوع وکړئ او د خپلې غلطۍ د جبران په لټه کې شئ، الله تعالی به بخښونکی او مهربان ومومئ.

قُلۡنَا ٱهۡبِطُواْ مِنۡهَا جَمِيعٗاۖ فَإِمَّا يَأۡتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدٗى فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلَا

خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٣٨﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٣٩﴾

[۳۸]- ومو ویل: له دې ځایه ټول کوز شئ، خو که کله زما له لوري کومه لارښوونه درته راغله، نو څوک چې زما د لارښوونې متابعت وکړ، نو نه په دوی څه ویره شته او نه به دوی غمجن شي. [۳۹]- او هغه چې کافر شول او زما آیتونه ئې تکذیب کړل، دوی دوزخیان دي، په هغه کې تلپاته.

(۳۸-۳۹)- آدم علیه السلام ته په هغه جنت کې لازمي روزنه ورکړی شوه، دا ئې عملاً او په خپلو سترګو ولیدل چې شیطان ئې دښمن دئ، حرام ته ئې هڅوي، حرام ته لاس کول له الهي نعمتونو د محرومېدو او له لوړ مقام د راپرېوتو سبب دئ، له غلطۍ وروسته ندامت او توبه په کار ده، څو چې له توبې ډډه وکړه او په خپلې ګناه ئې ټینګار وکړ د شیطان په څېر د الله له رحمت رټل کېږي، اوس هغه د خپل مأموریت د تر سره کولو لپاره تیار شوی، باید ولاړ شي او د خلافت دنده تر سره کړي. که څه هم د ده توبه قبوله شوې، خو د خپلې دندې لپاره باید له جنت ووځي. ده ته وویل شو: تاسو ته به الهي هدایات راځي، دا ځکه چې ورته اړ یاست، له هغه پرته د خیر او شر له تفکیك عاجز یئ، شیطان هغه څه درته ښایسته کوي چې ستاسو په ضرر او تاوان وي، مثال ئې آدم علیه السلام په جنت کې ولید، نو څو چې د الهي لارښوونو متابعت وکړ هغه ته نه له هیڅ څه ویره په کار ده او نه په هیڅ څه ویر او څو چې د کفر لار غوره کړه او زما آیتونه ئې تکذیب کړل، دوزخ ئې ځای دئ.

يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِيٓ أُوفِ بِعَهۡدِكُمۡ وَإِيَّٰيَ فَٱرۡهَبُونِ ﴿٤٠﴾

[٤٠]- اې د اسرائیل زامنو! زما هغه نعمتونه درپه یاد کړئ چې پر تاسو مې پېرزو کړل او له ما سره په کړو ژمنو وفا وکړئ چې زه له تاسو سره په خپلو ژمنو وفا وکړم او یوازې له ما ووېرېږئ.

(٤٠)- له دې مبارك آیت معلومېږي چې د دینداره قوم لومړني انحرافات درې دي: ۱- د الهي پېرزوینو او نعمتونو هېرول او ناشکري، ۲- له الله سره په کړو ژمنو کې بې وفايي، ۳- او له الله تعالی پرته له بل څه ویره درلودل. همدا راز دا مبارك آیت موږ ته وایي چې د

الله ژمني مشروطې دي؛ هلته به تر سره کېږي چې ته له الله سره په خپلو کړو ژمنو وفا وکړې.

وَءَامِنُواْ بِمَآ أَنزَلۡتُ مُصَدِّقٗا لِّمَا مَعَكُمۡ وَلَا تَكُونُوٓاْ أَوَّلَ كَافِرِۭ بِهِۦۖ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗا وَإِيَّٰيَ فَٱتَّقُونِ ﴿٤١﴾

[٤١]- او په هغه څه ایمان راوړئ چې ما نازل کړی، له تاسو سره د شته (کتاب) تصدیقوونکی او لومړي انکار کوونکی او کافر ئې مه کېږئ، زما آیتونه په لږه بیع مه پلورئ او یوازې له ما څخه ساتنه او وېره ولرئ.

(٤١)- له دې مبارك آیت معلومېږي چې د دین لومړني او تر ټولو خطرناك دښمنان هغه دین پلورونکي دي چې دین په ډېره ارزانه بیع خرڅوي، د دې پر ځای چې دوی د هر واقعي دیني تحریك لومړني مؤیدین او حامیان وي، په خلاف ئې تل به ګورئ چې دین خرڅوونکي دکاندار علماء په لومړي خط کې د دیني تحریکونو مقابله کوي، دښمن به ئې په ډېره کمه بیع اخلي او په لومړي خط کې به ئې د واقعي علماءو او دیندارانو په ضد جنګوي.

وَلَا تَلۡبِسُواْ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُواْ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٤٢﴾ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾

[٤٢]- او حق له باطل سره مه خلطوئ، ( باطل ته د حق جامه مه وراغوندئ) او حق مه پټوئ، په داسې حال کې چې پوهېږئ. [٤٣]- او لمونځ قائم کړئ، زکات ورکړئ او له رکوع کوونکو سره رکوع وکړئ.

(٤٢)- دوی به کله په خپلو غلطو توجیهاتو سره حق ته د باطل جامه وراغوندې او کله به باطل ته د حق؛ او که په خپلو غلطو او دروغجنو توجیهاتو او تأویلاتو په دې موفق نه شول چې باطل حق ثابت کړي او حق باطل؛ نو حق به پټوي، دا کار په داسې حال کې کوي چې پوهېږي حق کوم دئ او باطل کوم، په ناپوهۍ سره دا کار نه کوي، د غرض او مرض له کبله ئې کوي، اخیستل شوي او استخدام شوي، د خپل مزد او اجورې په مقابل کې دا کار کوي، مزد ئې هم ډېر کم: کومه چپنه، کومه سپینه پګړۍ، یو نس مړۍ او حتی یوازې یو شاباش!

(٤٣)- په دې مبارکو آیتونو کې د بې لارو او منحرفو دین خرڅونکوو علماءو څو نوري ځانګړتیاوې بیانېږي: له الله سره ئې تعلق ضعیف او کمزورې وي، لمونځ ئې یا پرېښی او یا له حقیقي روح عاري او په شکلیاتو لګیا وي، د دې پر ځای چې زکات ورکړي د زکات او صدقو تر لاسه کول ئې عادت شي، له عام ولس سره ئې هم اړیکې سستې شي، له نورو سره یو ځای عبادت هم پرېږدي، د همدې لپاره دوی ته د دغو څو خبرو امر شوی: لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ او له نورو رکوع کوونکو سره یو ځای رکوع وکړئ، ستاسو د ټولو انحرافاتو علاج په همدې کې دئ.

أَتَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ ٱلْكِتَٰبَ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾

[٤٤]- آیا خلك په ښېګڼو ګمارئ او خپل ځان هېروئ، په داسې حال کې چې تاسو کتاب لولئ! آیا تعقل نه کوئ؟

(٤٤)- په ریاء او نفاق اخته شول، نورو ته ئې د خیر خیرات ورکولو او احسان او نېکې کولو بلنه ورکوله خو ځان ئې هېر کړی وو، په داسې حال کې چې دوی باید تر نورو زیات نېك عمل درلودی او د الله په لار کې ئې تر هر چا زیاته قرباني ورکولی، دا ځکه چې دوی خو په کتاب د پوهېدو دعوی کوې او ځان ته عالم او د الله د کتاب حامل او د پیغمبرانو وارث وایي!!

وَٱسْتَعِينُوا۟ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ ۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى ٱلْخَٰشِعِينَ ﴿٤٥﴾ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُوا۟ رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَٰجِعُونَ ﴿٤٦﴾

[٤٥) او په صبر او لمانځه سره مرسته تر لاسه کړئ او دا خو یقیناً چې ګران او ستر کار دئ مګر خاشعینو ته. [٤٦]- هغه (خاشعین) چې ګمان کوي له خپل رب سره مخامخېدونکي دي او هرومرو د ده په لوري ورګرځېدونکي دي.

(٤٥-٤٦)- له حق دفاع، په حق عمل او حق ته بلنه، هغه څه ته ضرورت لري چې یوازې په لمانځه او صبر سره ئې تر لاسه کولی شئ او دا لمونځ او صبر د هر چا کار نه دئ، دا کار هغه څوك کولی شي چې په الله او آخرت ئې کلك باور وي او په دې ئې یقین وي چې خپل رب ته ورتلونکی او له هغه سره مخامخېدونکی دئ.

يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾ وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا يُؤۡخَذُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴿٤٨﴾

[٤٧]- اې بني اسرائيلو! زما هغه نعمتونه درپه ياد كړئ چې پر تاسو مې پېرزو كړل او تاسو ته مو پر ټولو نړۍ والو فضيلت دركړ. [٤٨]- او له هغې ورځې ووېرېږئ چې نه يو كس د بل كس مجازات په غاړه اخيستى شي، نه د ده په اړه كوم شفاعت قبلېدى شي، نه څه بدله ترې اخيستل كېدى شي او نه ئې مرسته كېدى شي.

(٤٧)- بني اسرائيلو ته د ايمان، جهاد، هجرت، صبر او د موسى عليه السلام د ملګرتيا له امله په ټولو نړۍ والو فضيلت او لوړوالى وركړى شو، د فرعون واكمني د دوى په لاس نسكوره شوه، د فرعون شتمني او د ده د لښكرو وسائل د دوى په لاس كې پرېوتل او د خلكو فكري او اخلاقي قيادت د دوى په برخه شو، خو د بې صبرۍ او له جهاد د لاس اخيستو له كبله ئې دا ټول افتخارات بېرته له لاسه ووتل.

(٤٨)- په دنيا كې اكثراً مجرمان يا له دې كبله له مجازات ژغورل كېږي چې بل ئې د جرم مسئوليت پر غاړه واخلي، يا ئې كوم مخور شخصيت شفاعت وكړي، يا جريمه وركړي او يا ئې كوم د زور او ځواك خاوند مرسته وكړي او له مجازات ئې وژغوري، په دې مبارك آيت كې منحرفو ديندارانو ته ويل شوي چې د قيامت په ورځ به نه ستاسو هغه پيران، شيخان او منلي شخصيتونه ستاسو شفاعت كولى شي چې تاسو د دوى لاس او لمن نيولې او د شفاعت طمع ترې لرئ، نه به مو مال او دولت ژغورلى شي او نه خپل زور ځواك او نه د هغه چا زور ځواك چې تاسو پرې تكيه او بروسه كوله. د مسيحيانو عقيده دا وه چې عيسى عليه السلام د خپل امت د ټولو ګناهونو پېټى په خپلو اوږو واخيست، د همدې لپاره په صليب ځوړند شو، د قيامت په ورځ به د دغې قربانۍ له امله د ده امت له هر راز پوښتني او ګروېږني پرته جنت ته درومي، له اصل مذهب بې خبره جاهل مذهبيان اكثراً همداسي وي چې ګمان كوي د قيامت په ورځ به د دوى شيخ، پير او مذهبي مشران دوى له هر راز محاسبې او مجازات ژغوري، د داسي چا لمن ئې نيولې چې جنت ته د دوى د رسولو ذمه وار دئ او د الله په وړاندې د دوى شفاعت كافي دئ چې ګناهونه ئې ورته معاف شي. په بني اسرائيلو كې همدا انحرافات راپيدا شول نو ځكه الله تعالى هغوى ته فرمايي چې د قيامت په ورځ داسي شفاعت، معاوضه او مناصره نشته چې تاسو د الله له

محاسبې او عذاب وژغوري.

وَإِذۡ نَجَّيۡنَٰكُم مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُونَ نِسَآءَكُمۡۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ ﴿٤٩﴾

[٤٩]- او هغه وخت درپه یاد کړئ چې له فرعونیانو مو وژغورلئ، په بد عذاب ئې تعذیبولئ، ستاسو زامن ئې ذبح کول او ستاسو لوڼې ئې ژوندۍ پرېښودې او په دې کې تاسو ته ستاسو د رب له لوري لویه آزموینه وه.

(٤٩)- هغه بني اسرائیل چې د یوسف علیه السلام د اقتدار په کلونو کې ئې په مصر کې عزت او اعتبار وو او هر چا ورته په درنه سترګه کتل، د یوسف علیه السلام له رحلت وروسته د دوی وضع ورو ورو بدله شوه، داسې شپې ورځې پرې راغلې چې فرعونیانو به د دوی زامن ذبح کول او لوڼې به ئې د وینځو په څېر ساتلې او د خدمت لپاره به ئې ژوندۍ پرېښودې، قرآن په دې صراحت کوي چې فرعونیانو د موسی علیه السلام تر بعثت مخکې هم د بني اسرائیلو زامن د دې لپاره وژل چې د دوی شمېر زیات نه شي او د فرعون د قوم؛ قبطیانو سلطه او واکمني له کوم ګواښ سره مخامخ نه کړي او د ده له بعثت وروسته ئې هم د دې لپاره وژل چې مبادا د دوی ځلمیان له موسی علیه السلام سره ملګري نه شي او په بغاوت لاس پورې نه کړي. دا توجیه ضعیفه ده چې فرعون خوب لیدلی وو او یا کاهنانو ورته ویلي وو چې په بني اسرائیلو کې به داسې څوك راپیدا شي چې دی به له تخت او تاج محروم کړي، نو د همدې لپاره ئې د بني اسرائیلو د زامنو د ذبح کولو فیصله وکړه. په ټول قرآن کې د دې توجیه لپاره هیڅ مدرك نه مومو، په خلاف ئې د قرآن الفاظ په دې اړه پوره وضاحت لري چې فرعون، هامان او د دوی لښکري ټول د بني اسرائیلو له راتلونکې په وېره کې وو، دا وېره ئې هلته زیاته شوه چې موسی علیه السلام له مدین راستون شو، د بني اسرائیلو د آزادۍ خبره ئې وکړه او له فرعون ئې وغوښتل چې دوی خپلې مخې ته پرېږده او په غلامۍ کې د دوی له ساتلو لاس واخله. د القصص د سورې په څلورم آیت کې په ډېر وضاحت سره ویل شوي چې د بني اسرائیلو د زامنو ذبح کول د دوی د تضعیف په قصد تر سره کېدو:

إِنَّ فِرۡعَوۡنَ عَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَجَعَلَ أَهۡلَهَا شِيَعٗا يَسۡتَضۡعِفُ طَآئِفَةٗ مِّنۡهُمۡ يُذَبِّحُ أَبۡنَآءَهُمۡ وَيَسۡتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٤﴾ القصص:٤

بې شکه چې فرعون په زمکې کې لويي وکړه او اوسېدونکي ئې په ډلو ډلو ووېشل، يوه ئې ترې ناتوانه کوله، زامن ئې ورحلالول او ښځې ئې ژوندۍ پرېښودې، يقيناً چې هغه له مفسدينو وو.

ګورئ چې دلته په صريح الفاظو ويل شوي چې د ذبح کولو موخه او مقصد د بني اسرائيلو استضعاف او ناتوانه کول وو، غوښتل ئې د دوی شمېر زيات نه شي او د فرعون اقتدار له ګواښ سره مخامخ نه کړي. عجيبه ده چې د قرآن دا وضاحت له پامه غورځوي او د ذبح کولو لپاره داسې توجيهات وړاندې کوي چې هم د عقل خلاف دي او هم د قرآن خلاف.

قرآن دا د فرعوني نظام يوه اساسي نښه ګڼي چې د مظلوم، مستضعف او بې وزلې قوم له ډېرېدو به وېره لري او د دوی د شمېر راکمولو هڅه به کوي. قرآن د بني اسرائيلو لپاره د (مستضعف) اصطلاح کارولې، په دې لفظ کې دغه معنی نغښتې ده چې حاکم نظام په ناتوانۍ او ضعف کې د دوی د ساتلو هڅه کوله. دا اوس چې تاسو ګورئ غرب او په سر کې ئې امريکا؛ په ټول توان طاقت د دې هڅه کوي چې د درېيمې نړۍ ولسونه دې ته اړ کړي چې د اولاد پيدا کولو بهیر کنټرول کړي او د خپل نفوس د سريع زياتوالي مخه ونيسي، دوی خلکو ته دا وايي چې د نفوس زياتوالی د فقر باعث دئ، حال دا چې په زمکه کې د رزق او روزي موجود وسائل هومره دي چې د موجوده شمېر څو برابره انسانانو ته روزي ورکولی شي، په ټولنه کې فقر او لوږه له دې کبله نه ده راولاړه شوې چې د رزق او روزي وسائل د نفوس په تناسب نه دي، نه؛ د فقر اصلي عامل د زمکې د وسائلو او شتمنيو غیرعادلانه وېش دئ، دا ستونزه له طبقاتي نظام راولاړه شوې، دا د غرب د پانګوال او ظالمانه اقتصادي نظام زېږنده ده. دا د انسانانو له خپلو ظالمانه تصرفاتو او غیرعادلانه وېش راولاړه شوې ستونزه ده چې د شتمنيو لويه برخه ئې د معدود شمېر شتمنو په لاس کې ده او اکثريت ئې د ژوند له ضروري اړتياوو محروم دي او همدغو محرومانو ته په دروغو ويل کېږي چې ستاسو د فقر او لوږې وجه د نفوس زياتوالی دئ، شمېر مو کم کړئ چې ستونزه مو حل شي. د هغې زمانې فرعونيانو ئې زامن په چاړو حلالول خو د اوس زمانې فرعونيان ئې په څو تابليتونو د مور په رحم کې وژني.

- دې ته مو بايد پام وي چې د بني اسرائيلو د عروج او زوال په قصه کې هغه ثابت الهي سنن توضيح شوي چې تل تکرارېږي، انساني تاريخ په حقيقت کې د هغو پېښو د تکرار اوږده قصه ده چې د بني اسرائيلو په قصه کې ئې تاريخي بېلګې ګورو. هره زمانه ځانته فرعون لري او په مقابل کې ئې د موسی عليه السلام په څېر يو مجاهد، تل به ګورئ چې د

مجاهدینو په لیکو کې ټګمار سامري راپیدا شي او مجاهدین د الله له بندګۍ د سخوندر په څېر د یوه جعلي او کاذب معبود بندګۍ ته بیايي، د زمانې په هر پړاو کې به د بلعم باعور په څېر د ټګمارو مذهبي مشرانو شاهد وئ، هغه چې دین په دنیا پلوري، د مذهب تر نامه لاندې د فرعون ملګرتیا او د موسی مقابله کوي.

وَإِذۡ فَرَقۡنَا بِكُمُ ٱلۡبَحۡرَ فَأَنجَيۡنَٰكُمۡ وَأَغۡرَقۡنَآ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ﴿٥٠﴾

[۵۰]- او هغه وخت هم چې بحر مو تاسو ته پرانیست، نو تاسو مو وژغورلئ او فرعونیان مو په داسې حال کې غرق کړل چې تاسو (ئې) ننداره کوله.

(۵۰)- الله تعالی دلته بني اسرائیلو ته خپله هغه پېرزوینه ورپه یادوي چې له مصر د وتلو په وخت کې ئې مخې ته بحر حائل شو، له شا د فرعون لښکرې ورپسې راورسېدې، د ژغورنې هیڅ امکان ئې نه تر سترګو کېدو، موسی علیه السلام ته ئې ویل چې نور نو د دښمن په لاس کې پرېوتو، نه مخ ته تلی شو او نه د لښکر د مقابلې توان لرو، خو الله تعالی په همغه بحر کې دوی ته د تېرېدو لار پرانیسته او په همدغه بحر کې ئې فرعون او د ده لښکرې غرق کړې او د دوی هر څه ئې بني اسرائیلو ته په میراث ورکړل. په دې سره الله تعالی مجاهدینو ته اطمئنان ورکوي چې له وروستي بریې مخکې شایې له داسې حالت سره مخامخ شئ چې د نجات او ژغورنې ټولې لارې په خپل مخ تړلې وګنئ، خو مطمئن اوسئ چې په همدې سخت حالت کې به الله تعالی ستاسو مرسته کوي او ستاسو دښمن به په همدغه حالت کې له منځه وړي.

وَإِذۡ وَٰعَدۡنَا مُوسَىٰٓ أَرۡبَعِينَ لَيۡلَةٗ ثُمَّ ٱتَّخَذۡتُمُ ٱلۡعِجۡلَ مِنۢ بَعۡدِهِۦ وَأَنتُمۡ ظَٰلِمُونَ
﴿٥١﴾ ثُمَّ عَفَوۡنَا عَنكُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٥٢﴾

[۵۱]- او بیا هغه وخت چې موسی ته مو د څلوېښتو شپو وعده ورکړه، بیا تاسو په ظالمانه توګه سخوندر (د معبود په توګه) ونیو. [۵۲]- خو له دې سره سره مو تاسو ته عفو وکړه چې شکر وکړئ.

(۵۱-۵۲)- د بني اسرائیلو او د هر جاهل قوم یوه ستونزه دا ده چې د صالح مشر او زعیم په شتون کې په سمه لار راشي، خو چې هغه ترې لږ یوې خوا ته شي، په بې لارې او منحرف مشر راغونډ شي او سمه لار پرېږدي، بني اسرائیل خو داسې ول چې د موسی علیه السلام د دعوت په نتیجه کې ئې نه یوازې په الله ایمان راوړ، بلکې په دې لار کې د کړاوونو

او ستونزو ګاللو او له مصر هجرت ته هم چمتو شول، خو چې موسی علیه السلام څو ورځې میقات ته ترې ولاړ، د سامري په شا و خوا راغونډ شول، په هغه پسې ئې اقتداء وکړه او د هغه په وینا (سخوندر) ته په سجده پرېوتل، دوی د څارویو او بوده وو په څېر دي، شپون ئې په هر لوري بېولی شي. د دوی دا جرم د سختې نیونې وړ وو، که موسی علیه السلام نه وی، هغه دروغجن معبود ئې نه وی نسکور کړی او سامري ئې نه وی مجازات کړی، نو د الله ستر عذاب به وربانديې نازلېدو، خو الله تعالی له همدې امله ورته عفو وکړه. د دې نعمت تقاضی خو دا وه چې تاسو تل د الله شاکر بندګان وئ او هیڅکله مو د شرك او عصیان لار نه وی غوره کړې.

---

وَإِذْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿٥٣﴾ وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنفُسَكُم بِٱتِّخَاذِكُمُ ٱلْعِجْلَ فَتُوبُوٓاْ إِلَىٰ بَارِئِكُمْ فَٱقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِندَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥٤﴾

[۵۳]- او هغه وخت چې موسی ته مو کتاب او فرقان ورکړ چې هدایت شئ. [۵٤]- او کله چې موسی خپل قوم ته وویل: اې زما قومه! بې شکه چې د سخوندر په نیولو سره تاسو پر خپل ځان ظلم کړی، نو د خپل رب لوري ته مخه او توبه وکړئ او (مشرك شوي) خپلوان مو ووژنئ، دا د خپل رب په نزد کې درته غوره دئ، ستاسو توبه به قبوله کړي، بې شکه چې هغه ډېر مهربان توبه منونکی دئ.

---

(۵۳-۵٤)- له مصر وتلو او د آزادۍ لاس ته راوړلو وروسته، دوی یوه داسې لارښود کتاب ته اړ وو چې فردي او اجتماعي ژوند ئې تنظیم کړي، الله ورته تورات ولېږو، چې هم ضروري احکام او قوانین په کې وو او هم د ښه او بد د پېژندو او د مفید او مضر تر منځ د فرق کولو او تفکیك روښانه او څرګند معیارونه، د همدغه کتاب په ترځ کې دوی ته حکم وشو چې د سامري په متابعت او له سخوندر ځان ته په معبود جوړولو سره مو ستر ظلم او جفا کړې، د دې لوی جرم د جبران لپاره باید په یوه ستر جهاد لاس پورې کړئ. ځینې ګناهونه داسې وي چې په یوازې توبې سره ئې الله نه بخښي، د توبې قبلېدل ئې شرائط او لوازم لري، د بني اسرائیلو دا ګناه دومره ستره وه چې د توبې قبلېدا ئې په دې مشروطه شوې وه چې وسله به اخلي او د هغو کسانو په خلاف به جهاد اعلانوي چې د شرك لار ئې

غوره کړه او سخوندر ئې ځان ته معبود کړ. لکه څنګه چي (وَلا تُخْرِجُونَ أَنْفُسَكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ)؛ په ورپسې آيت کې داسي توضيح شوی: (وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِنْكُمْ مِنْ دِيَارِهِمْ)؛ همداسي له (تَقْتُلُونَ أَنْفُسَكُمْ) په خپلو منځونو کې يو بل وژل مراد دي؛ نه خپل ځان وژل. نو د فَٱقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ معنی هم د خپل قوم همغه مشرك کسان وژل دي چي د سامري په دام کې ونښتل او د سخوندر لمانځنه ئې وکړه. له دې معلومېږي چي په ځينو حالاتو کې يوازي ګناه کوونکی نه؛ بلکي د ګناه ليدونکی به هم کفاره ورکوي. د بني اسرائيلو دا ګناه د هغو افغانانو ګناه ته ورته ده چي د روسانو په ضد له جهاد وروسته امريکايانو ته تسليم شول او پر خپل هېواد ئې د دوی سلطه او د دوی په لاس تپل شوي حکام ومنل.

وَإِذۡ قُلۡتُمۡ يَٰمُوسَىٰ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ فَأَخَذَتۡكُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ٥٥ ثُمَّ بَعَثۡنَٰكُم مِّنۢ بَعۡدِ مَوۡتِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٥٦

[۵۵]- او کله چي تاسو وويل: اې موسی! هيڅکله به تر هغه درته ايمان رانه وړو چي الله ښکاره ونه ګورو، نو په داسي حال کې تندر ونيولئ چي (ورته) کتل مو. [۵٦]- بيا مو له مرګ وروسته بېرته راژوندي کړئ چي شکر وکړئ.

(۵۵-۵٦)- خو بني اسرائيل جهاد ته تيار نه وو، موسی عليه السلام ته ئې ځواب ورکړ چي ستا دا خبره يوازي په هغه صورت کې منلی شو چي الله مخامخ وګورو او دا راته ثابته شي چي په رښتيا د جهاد دا حکم د ده له لوري دئ. له مرګ د وېري له کبله ئې له جهاد ډډه وکړه او په مرګ محکوم شول، خو الله تعالی د خپلو پېرزوينو له مخي بېرته راژوندي کړل، دغه د الله سنت دئ؛ هر څوك چي له مرګ د وېري له کبله له جهاد ډډه وکړي د ذلت په مرګ محکوم کېږي. په دې سوره کې به د دې اصل نور مثالونه هم وګورئ. د سورې په سر کې دغه مطلب ته اشاره شوې چي د الله کتاب د هغه چا لپاره لارښود کېدی شي چي يو صفت ئې په (غيب) باور لرل وي، دا دئ بني اسرائيل ئې ښه بېلګه ده، موسی عليه السلام ته ئې وويل: تر هغه چي الله ښکاره ونه ګورو په خبرو دي باور نه کوو.

وَظَلَّلۡنَا عَلَيۡكُمُ ٱلۡغَمَامَ وَأَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَنَّ وَٱلسَّلۡوَىٰۖ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡۚ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٥٧

[۵۷_ او د ورېځو مو پر تاسو سيوری جوړ کړ او پر تاسو مو من او سلوی نازل کړل، له هغو پاکيزه وو خوړئ چي درروزي کړي مو دي، پر موږ ئې ظلم نه دئ کړی

بلکې پر خپل ځان ئې ظلم کاوو.

(۵۷)- په دې آيت سره نه يوازې بني اسرائيلو ته هغه نعمتونه ورپه ياد شوي چې د هجرت په دوران کې الله تعالى ورپه برخه کړل، له مصر د شام په لوري د تلو په وخت کې، د سينا په تودې او وچې بيديا کې او هغه وخت چې د دوی کيږدۍ هم شړېدلې وې او د صحرا ګرمي هوا سخت ځورول، الله تعالى پر دوی يوه په بلې پسې داسې وربځې راوستې چې هم ئې له تودوخې وساتي او هم ئې د اوبو ضرورت رفع کړي، سېل سېل مرزان به راتلل او دوی به نيول، هر سهار به د بيديا د بوټو پر سر داسې خوندور څه راپيدا کېدل چې دوی به راغونډول او په خوند خوند به ئې خوړل، خو دوی د هجرت په دې ژوند او يو ډول خوړو صبر ونشو کړی، موسی عليه السلام ته ئې په ځرګندو الفاظو وويل چې نور نو تر دې زيات صبر نه شو کولی، د دغه بې صبرۍ له کبله له دې نعمتونو محروم او په فقر، لوږه او ذلت محکوم شول، د بني اسرائيلو په دې قصې کې هر مسلمان ته د دې سبق ورکړی شوی: که د الله په لار کې هجرت وکړئ، د رزق او روزي ضامن مو الله دئ، د بني اسرائيلو د من او سلوی په څېر به تاسو ته روزي درکوي، خو که بې صبري وکړئ او په نيمه لار کې ودرېږئ او سفر نيمګړی پرېږدئ، د دوی په برخليك به اخته شئ. الله تعالى پر هيچا ظلم نه کوي، د خپلې لارې پر مجاهد او مهاجر خو ئې په هيڅ صورت کې نه کوي، څنګه ممکنه ده چې دوی يوازې او بې اسرې پرېږدي، بني اسرائيل چې له کومو بدو پايلو سره مخامخ شول؛ دا د دوی د ظلمونو سزا وه.

وَإِذْ قُلْنَا ٱدْخُلُواْ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةَ فَكُلُواْ مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَٱدْخُلُواْ ٱلْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُواْ حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطَٰيَٰكُمْ ۚ وَسَنَزِيدُ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٨﴾ فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ قَوْلًا غَيْرَ ٱلَّذِى قِيلَ لَهُمْ فَأَنزَلْنَا عَلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ رِجْزًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ يَفْسُقُونَ ﴿٥٩﴾

[۵۸]- او هغه وخت چې ومو ويل: دې کلي ته ننوځئ، نو له هر ځايه ئې چې غواړئ پرېمانه او تازه تازه وخورئ او له سجدې سره په دروازې ننوځئ او وايئ: رېژونه (د ګناهونو)، چې خطاءګانې مو دروبخښم او ژر به ئې نېکانو ته زيات کړم. [۵۹]- خو د دوی ظالمانو د هغې وينا په عوض کې چې ورته ويل شوې وه بله وينا خپله کړه، نو په ظلم کوونکو مو له دې کبله له آسمان د اضطراب عذاب نازل کړ چې فسق ئې

کاوو.

(۵۸-۵۹)- بني اسرائيلو ته وويل شو چي پر دښمن بريد ته چمتو شئ، خو دې ته مو پام وي چي د بريا او فتحې له امله مغرور نه شئ، مفتوحه سيمو ته د مغرورو فاتحانو په څېر داخل نه شئ، د دوی ويناوو ته ورته ويناوې مو په ژبه رانشي او برياوې د خپل تدبير او د خپلو متو د زور نتيجه ونه ګڼئ. نه؛ الله ته د مطيع او ساجد بنده په څېر داخل شئ او له الله د خپلو ګناهونو او اشتباهاتو معافي وغواړئ. خو دوی په برياوو مغرور شول او د ظالمو او فاسقو فاتحانو کړه وړه او وينا ئې خپله کړه، له همدې امله هغه له بريا او فتحې تر لاسه شوې خوشحالي، سکون او اطمئنان ئې بېرته په اضطراب او پرېشانۍ بدل شو. په دې کې د الله د لارې مجاهدينو ته ډېرې مهمې لارښووني شوې، له برياوو او فتوحاتو وروسته له کبر او غرور ځان وساتئ، د نيول شوو سيمو له اوسېدونکو سره د مغرورو فاتحانو سلوك مه کوئ، دا ستاسو فتح په اضطراب او ماتې بدلوي.

وَإِذِ ٱسۡتَسۡقَىٰ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ فَقُلۡنَا ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡحَجَرَۖ فَٱنفَجَرَتۡ مِنۡهُ ٱثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡنٗاۖ قَدۡ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٖ مَّشۡرَبَهُمۡۖ كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ مِن رِّزۡقِ ٱللَّهِ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ۝٦٠

[٦٠]- او کله چي موسی عليه السلام د خپل قوم لپاره د څښوبه کېدو غوښتنه وکړه، نو (ورته) ومو ويل: دا تيږه په خپلې عصا ووهه، نو په دې سره له هغې دوولس چينې راوخوټېدې، هرې ډلې خپل اوبه خور وپېژندو، د الله له رزق وخورئ او وڅښئ او په زمکې کې فساد کوونکی مه ګرځئ.

(٦٠)- په دې آيتونو کې د الله د لارې مجاهد او مهاجر ته ډاډ ورکړی شوی چي الله ستا د رزق او روزي ذمه وار دئ، که الله وغواړي نو له سختي تيږي تاسو ته چينې راايستی شي، همغسي لکه چي بني اسرائيلو ته ئې د سينا په لويي وچې صحرا کې له تيږي دوولس چينې راوايستې، د هرې قبيلې لپاره بېله چينه، د دې لپاره چي د اوبو په سر ئې لانجه راولاړه نه شي. الله تعالی هغه ولس ته د ډاډه او پراخ رزق او روزي تضمين ورکوي چي ايمان راوړي، دين ته التزام ولري او د الله په لار کې جهاد ته ملا وتړي، د روزي په سر د دوی تر منځ د شخړو راولاړېدو مخه به هم نيسي او الله به عزت او سوکالي ورپه برخه کوي.

وَإِذۡ قُلۡتُمۡ يَٰمُوسَىٰ لَن نَّصۡبِرَ عَلَىٰ طَعَامٖ وَٰحِدٖ فَٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُخۡرِجۡ لَنَا مِمَّا
تُنۢبِتُ ٱلۡأَرۡضُ مِنۢ بَقۡلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَاۖ قَالَ أَتَسۡتَبۡدِلُونَ
ٱلَّذِي هُوَ أَدۡنَىٰ بِٱلَّذِي هُوَ خَيۡرٌۚ ٱهۡبِطُواْ مِصۡرٗا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلۡتُمۡۗ وَضُرِبَتۡ
عَلَيۡهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلۡمَسۡكَنَةُ وَبَآءُو بِغَضَبٖ مِّنَ ٱللَّهِۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَانُواْ يَكۡفُرُونَ
بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقۡتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۗ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ ٦١

[٦١]- او هغه وخت چې تاسو وويل: اې موسی! په يوه ډول خوراك هيڅكله صبر نه شو كولی!! نو خپل رب ته دې زموږ لپاره دعاء وكړه چې موږ ته هغه څه راوباسي چې ځمكه ئې راشنه كوي: له ساګ سابه ئې، تره او بادرنګ ئې، غنم ئې، نسك ئې او پياز ئې، وئې ويل: آيا د هغه څه په عوض كې چې غوره دئ هغه څه غواړئ چې راټيټ او ناغوره دئ؟ كوم ښار ته كوز شئ، چې هلته هغه څه تر لاسه كړئ چې تاسو ئې غوښتنه وكړه، نو سپكاوی او خواري وربانديې وتپل شوه او د الله په غضب اخته شول، دا له دې كبله چې د الله له آيتونو ئې انكار كولو او پيغمبران ئې په ناحقه وژل، دا هم په دې سبب چې عصيان ئې وكړ او تيرى ئې كاوو.

(٦١)- خو كه دوی په خپل حلال رزق قناعت ونكړي او د الله په لار كې د جهاد په سنګرونو كې صبر له لاسه وركړي، نو له ذلت، سپكاوي او خوارۍ سره به ئې مخامخ كوي. په دوی كې به تر ټولو د مخه د عصيان او د دين له حدودو تيرى او د بل په حقوقو د تجاوز او تعدي بيماري خوربږي، دا بيماري به هغه حد ته رسي چې د پيغمبر او حق پالونكو داعيانو د مخالفت حتى وژلو لپاره به ملا وتړي او د الله له آيتونو به انكار وكړي. دې مطلب ته مو بايد پام وي چې د آدم عليه السلام په قصې كې هم په جائز رزق عدم اكتفاء او ممنوعه شجرې ته لاس غځول له جنت د وتو باعث شو او ورته وويل شو (اهبطوا) او بني اسرائيلو ته هم په همدې سبب وويل شو: (اهبطوا)، له دې معلومېږي چې د انسان د سقوط او له لوړو معنوي پوړو د راپرېوتو يوه اساسي وجه همدا بې صبري او په خپل جائز رزق قناعت نه كول دي. د بني اسرائيلو په دې قصې كې هغه مطلب په لا زيات تفصيل سره راغلی چې په جنت كې د آدم عليه السلام د ځای پر ځای كيدو او بيا له هغه د وتو په قصې كې په اختصار سره راغلی. دا قصه د هغې شرح ده، په دې كې د شجره ممنوعه حقيقت په ډاګه شوی، دا يوه مېوه وه نه بل څه، له شجره ممنوعه هر بل تعبير

بې بنسټه او غلط دئ او د قرآن د دغې شرحې مخالف. شکاك ذهنیتونه د آدم علیه السلام د پیدایښت، په جنت کې ځای پر ځای کېدل، شجره ممنوعه او له جنت کوزېدل او د دې قصې له ټولو برخو داسې څه جوړوي چې غیر طبیعي، خارق العاده او د ده د اولاد له هر څه سره توپیر ولري، حال دا چې قرآن د آدم علیه السلام په قصه کې موږ ته خپل ځان رامعرفي کوي، په دې هینداري کې باید موږ خپله څېره وګورو او د انسان د عروج او زوال په عواملو پوه شو!!

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾

[٦٢]- بې شکه هغه چې ایمان ئې راوړی او هغه چې یهودان شوي او نصاری او صابئین، (که هر څوك وي) چې ایمان راوړي او نېك عملونه وکړي، نو دوی ته د خپل رب خوا ته اجرونه دي، نه پر دوی څه وېره شته او نه به دوی غمجن شي.

(٦٢)- خبره داسې نه ده لکه چې له دین بې خبره خلك ئې انګېري، نومونه اهمیت نه لري، دې ته نه کتل کېږي چې ستا نوم مسلمان، یهودي، مسیحي یا صابئي دئ، که بل څه، نه؛ دې ته کتل کېږي چې ستا عقیده څنګه ده او عمل دې څنګه، هغه څوك دې ډاډه او مطمئن وي چې ایمان ئې سم او عمل ئې صالح دئ.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُواْ مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ وَٱذْكُرُواْ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّيْتُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ فَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ لَكُنتُم مِّنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ ٱلَّذِينَ ٱعْتَدَوْاْ مِنكُمْ فِى ٱلسَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُواْ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ﴿٦٥﴾ فَجَعَلْنَٰهَا نَكَٰلًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٦٦﴾

[٦٣]- او کله چې مو ستاسو ژمنه واخیسته او طور مو ستاسو له پاسه رااوچت کړ، (او ومو ویل:) هغه څه په ښه زور سره کلك ونیسئ چې تاسو ته مو درکړ او هغه

څه تل په یاد وساتئ چې په دې کې (راغلی) دئ، د دې لپاره چې ځان مو ساتلی وي. [٦٤]- خو بیا تاسو له دې وروسته مخ واړاوو، خو که پر تاسو د الله فضل او پېرزوینه نه وی نو له تباه شوو به وئ. [٦٥]- او خپل هغه خلك مو هم ښه پېژندلي چې د شنبې په ورځ ئې تېری وکړ نو موږ ورته وویل: ذلیلي بیزوګاني شئ. [٦٦]- نو دا (پېښه) مو له دې مخکینیو او وروستنیو ته د عبرت وسیله او متقیانو ته موعظه کړه.

---

(٦٣-٦٦)- لکه چې له بني اسرائیلو د الله په کتاب د تمسك او اعتصام کلکه ژمنه واخیستی شوه، په داسي حال کې چې د طور غر ئې د سر د پاسه وو، همداسې الله تعالی په هر هغه قوم چې د ایمان دعوی کوي خو ګام په ګام د ایمان له غوښتنو انحراف کوي، داسې حالت راولي چې د مصیبتونو غر ئې د سر د پاسه وي، په دې حالت کې له الله سره کلکه ژمنه وکړي او دین ته مخه کړي، خو ډېر ژر ئې دا ژمنه هېره شي او بېرته خپل مخکیني حالت ته واوړي. د بني اسرائیلو د هغې قبیلې وضع ئې ښه بېلګه ده چې د بحر خوا ته اوسېدل، د کبانو (ماهیانو) په ښکار ئې ګوزاره کوله، دوی ته ویل شوي وو چې د شنبې ورځ مو عبادت ته مختص کړئ او په دې ورځ له ښکار ډډه وکړئ، خو دوی (مذهبي حیله) جوړه کړه، د شنبې په ورځ به ئې ماهیان په ډنډونو کې راګېر کړل، بیا به ئې سبا ته راوایستل، ګمان ئې دا وو چې په دې کار سره ئې هم په خپل مذهب عمل کړی او د شنبې د ورځې احترام ئې ساتلی او هم ئې خپل ښکار کړی.

زموږ لپاره د جمعې ورځ ټاکل شوې، چې د لمانځه لپاره ئې باید په جوماتو کې راغونډ شو او خطبه ئې واورو او د همدې لمانځه او خطبې اورېدو لپاره څو شېبې کار کسب پرېږدو. دغو الهي شعائرو ته د یوه ولس احترام او عدم احترام د دې نښه ده چې هغه د دین په نسبت التزام لري که نه. له دین د یوه قوم د وتلو لویه نښه همدا ده چې هغه د دغسې مبارکو ورځو احترام تر پښو لاندې کړي او مخصوصاً چې همدا د شعائرو عدم احترام ئې له (مذهبي حیلې) سره یو ځای وي.

---

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تَذْبَحُوا۟ بَقَرَةًۖ قَالُوٓا۟ أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًاۖ
قَالَ أَعُوذُ بِٱللَّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا۟ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا
هِىَۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَلَا بِكْرٌ عَوَانٌۢ بَيْنَ ذَٰلِكَۖ فَٱفْعَلُوا۟

مَا تُؤۡمَرُونَ ﴿٦٨﴾ قَالُواْ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا لَوۡنُهَاۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا
بَقَرَةٞ صَفۡرَآءُ فَاقِعٞ لَّوۡنُهَا تَسُرُّ ٱلنَّٰظِرِينَ ﴿٦٩﴾ قَالُواْ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا
هِيَ إِنَّ ٱلۡبَقَرَ تَشَٰبَهَ عَلَيۡنَا وَإِنَّآ إِن شَآءَ ٱللَّهُ لَمُهۡتَدُونَ ﴿٧٠﴾ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا
بَقَرَةٞ لَّا ذَلُولٞ تُثِيرُ ٱلۡأَرۡضَ وَلَا تَسۡقِي ٱلۡحَرۡثَ مُسَلَّمَةٞ لَّا شِيَةَ فِيهَاۚ قَالُواْ
ٱلۡـَٰٔنَ جِئۡتَ بِٱلۡحَقِّۚ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُواْ يَفۡعَلُونَ ﴿٧١﴾

[٦٧]- او كله چي موسى خپل قوم ته وويل: الله درته امر كوي چي يوه غوا ذبح كړئ، وئې ويل: آيا په موږ ملنډې وهې؟ وئې ويل: الله ته له دې پناه وړم چي له جاهلانو وم. [٦٨]- وئې ويل: خپل رب ته زموږ لپاره دعاء وكړه چي موږ ته ئې څرګنده كړي چي دا څه دئ؟ وئې ويل: هغه فرمايي: دا داسي غوا ده چي نه زړه ده، نه وړه، ځوانه د دې تر منځ، نو په څه چي ګمارل شوي يئ هغه تر سره كړئ. [٦٩]- وئې ويل: خپل رب ته زموږ لپاره دعاء وكړه چي موږ ته ئې څرګنده كړي چي رنګ ئې څنګه دئ؟ وئې ويل: هغه فرمايي: دا داسي تكه زيړه غوا ده چي ليدونكي ښادوي. [٧٠]- وئې ويل: خپل رب ته زموږ لپاره دعاء وكړه چي موږ ته ئې څرګنده كړي چي دا څه ده، موږ خو دې غوا په شك كې اچولي يو او كه الله كول موږ به حتماً هدايت موندونكي شو. [٧١]- وئې ويل: هغه فرمايي: دا داسي غوا ده چي نه خواركې ده چي زمكه يوې كوي او نه كښت خړوبوي، روغه رمټه چي هيڅ ټاپى په كې نشته، وئې ويل: اوس دې سمه ( د حق) خبره راوړه، نو هغه ئې په داسي حال كې ذبح كړه چي نژدې وو وئې نه كړي.

(٦٧-٧١)- دلته د بني اسرائيلو په څېره كې د هغو خلكو حالت انځور شوى چي د الله د عبادت له لوړ مقام د سخوندر په څېر د يوه دروغجن معبود د عبادت ټيټ او پرېوتي مقام ته راپرېوځي، بيا په دې دروغجن معبود داسي كلك ودرېږي چي د هغه په ضد د پيغمبر د هغي خبري په منلو كې زړه نازړه وي چي الله ورته ويلي، دا دئ ګورئ چي بني اسرائيلو د هغه (الله) پر ځاى چي دوى ته ئې موسى عليه السلام ولېږو او له فرعون ئې وژغورل، (سخوندر) غوره كړ او چي موسى عليه السلام ورته وويل: د دې خبري د اثبات لپاره چي تاسو بېرته الله ته راګرځېدلي يئ او د سخوندر عبادت مو پرېښى، نو يوه غوا ذبح كړئ، خو دوى چي له زړه دې كار ته چمتو نه وو نو كله به ئې ويل: په موږ خو به

ملنډې نه وهې؟ او کله دا چې عمر ئې څومره دئ، رنګ ئې څنګه دئ، څه کار ترې اخيستل کېږي؟ دا ټولې خوشې حيلې او بهانې وې، اصلي خبره دا وه چې د دوی په زړونو کې د دې دروغجن معبود احترام او مينه په خپل حال پاته وه او پرېښودلو ته ئې چمتو نه وو. د هر جاهل او مشرك قوم وضع همداسې وې، په خپل شرك ټينګار کوي، شيطان ئې دې ته نه پرېږدي چې له خپلو (جعلي او دروغجنو معبودانو) لاس واخلي. د ايمان دروغجن مدعيان هم د بني اسرائيلو په څېر وي، کله چې د دين د کوم داسې څرګند او صريح حکم عملي کولو ته راوبلل شي چې د دوی له نفسي غوښتنو سره تصادم کوي نو په راز راز بهانو او حيلو لاس پورې کړي او خپلې سرغړونې ته رنګ رنګ مذهبي توجيهات برابروي.

وَإِذۡ قَتَلۡتُمۡ نَفۡسٗا فَٱدَّٰرَٰٔتُمۡ فِيهَاۖ وَٱللَّهُ مُخۡرِجٞ مَّا كُنتُمۡ تَكۡتُمُونَ ﴿٧٢﴾ فَقُلۡنَا ٱضۡرِبُوهُ بِبَعۡضِهَاۚ كَذَٰلِكَ يُحۡيِ ٱللَّهُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَيُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴿٧٣﴾

[٧٢]- او کله چې تاسو يو کس ووژلو او بيا د ده په اړه په خپلو کې يو بل تورنولو او دفع کولو اخته شوئ او الله د هغه څه رابرسېره کوونکی وو چې تاسو پټولو. [٧٣]- نو ومو ويل: هغه په يوې برخې ئې ووهئ، همدا راز الله مړي راژوندي کوي او خپلې نښې درښيي چې تعقل وکړئ.

(٧٢-٧٣)- د موسی عليه السلام له بعثت د مخه په بني اسرائيلو کې له دين د انحراف له کبله د خپلمنځي قتلونو، له قاتل دفاع او د بل د تورنولو لړۍ پيل شوې وه. د موسی عليه السلام په زمانه کې يوه کس بل ووژلو، د قاتل قبيلې بل څوك په قتل تورن کړ، نژدې وه د دوو کورنيو او بيا د دوو قبيلو تر منځ يوه بله خونړۍ جګړه پيل شي، الله تعالی اراده وکړه چې دا شخړه د موسی عليه السلام په لاس حل شي، بني اسرائيلو ته ئې د يوې غوا د ذبح کولو امر وکړ، دوی له ډېر ځنډ او ډېرو پوښتنو وروسته دې کار ته چمتو شول او هغه ئې ذبح کړه، ورته وويل شو چې اوس نو د دغې غوا په يوې برخې دا مړی ووهئ، همداسې ئې وکړل، هغه د څو شېبو لپاره راژوندی شو او خپل قاتل ئې وښود، په دې سره له يوې خوا د هغې خونړۍ محتملې جګړې مخه ونيول شوه او له بلې خوا بني اسرائيلو ته وښودل شوه چې ستاسو د دغه دروغجن مقدس معبود په ذبح کولو سره ستاسو لانجې حل کېږي، نه هغسې چې تاسو ګمان کولو چې معمولي بې احترامي به ئې د سترو سترو مصيبتونو

راپېرېوتو باعث شي. دا مبارك آيت موږ ته دغه مطلب په گوته كوي چي يوازې دين كولی شي د خلكو د سر او مال خوندي پاته كېدا تضمين كړي او په يوه بل د تېري مخه ونيسي، چېري چي دين نه وي نه به د خلكو سر خوندي وي، نه مال او نه عزت. ممكنه نه ده چي له دين پرته په بل څه امنيت راشي او پر يوه بل د تېري مخه ونيول شي.

ځيني داسي انگېري چي په ۷۳ آيت كې د مړي جسد د ذبح شوې غوا په كومي برخي نه بلكې په خپله د ده د جسد په كومي برخي وهل افاده كوي؛ خو پورتنۍ رأيه په دوه دليله ارجح ده: ۱- د مړي جسد د هغه په كومي برخي وهل مناسب او د فهم وړ نه برېښي؛ ۲- په دې توجيه سره د وروستۍ برخي ارتباط له مخكيني مطلب سره په بشپړه توگه قطع كېږي.

ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ فَهِيَ كَٱلْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً ۚ وَإِنَّ مِنَ ٱلْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ ٱلْأَنْهَٰرُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ ٱلْمَآءُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٧٤﴾

[۷٤]- بيا له دې وروسته ستاسو زړونه سخت شول، داسي لكه چي تيږي وي او تر دې هم ډېر سخت او له تيږو خو ځيني داسي دي چي ويالې ترې بهېږي او ځيني داسي چي ټوټې ټوټې شي نو اوبه ترې راوځي او ځيني ئې داسي چي د الله له وېري راپرېوځي او الله له هغه څه غافل نه دئ چي تاسو ئې كوئ.

(۷٤)- په دې مبارك آيت كې كه له يوې خوا د سخت زړو بني اسرائيلو دا حالت انځور شوی چي د مړي د راژوندي كېدو له ستري پېښي وروسته هم د دې پر ځای چي ايمان راوړي، په خلاف ئې زړونه مزيد سخت شول، هومره لكه كلكه ډبره او تر دې هم زيات، خو له بلې خوا يو داسي حقيقت په كې توضيح شوی چي انسان فقط په شلمه پېړۍ كې او د قرآن له نزول څوارلس سوه كاله وروسته او له ډېرو علمي تحقيقاتو بعد پرې پوه شو او هغه دا چي د سختو تيږو په تركيب كې د اوبو ماليكولونه شته، په دې حقيقت هلته پوه شو چي تيږي او منرالونه ئې تجزيه كړل او د ټولو په تركيب كې ئې د اوبو ماليكولونه وموندل او دا همغه حقيقت دئ چي قرآن په دې الفاظو سره بيان كړی: او له تيږو خو ځيني داسي دي چي ويالې ترې بهېږي او ځيني داسي چي ټوټې ټوټې شي نو اوبه ترې راوځي!! چي كله قرآن دا خبره كوله هيڅا دا گمان هم نه شو كولی چي د كلكو ډبرو په تركيب كې به د اوبو ماليكولونه وي!!

اما دا چې قرآن دلته ويلي چې ځيني تيږي د الله له وېرې راپرېوځي، آيا په رښتيا تيږي احساس لري او که دلته کومه استعاره کارول شوې او مقصد ئې فقط دا دئ چې تيږي هم په خپل زړه کې نرمي اوبه لري او هم له خپل الله وېرېږي؛ خو د اهل کتاب علماءو نه په خپلو زړونو کې ترحم درلود او نه له الله وېره؟ بايد پوه شې چې دا تيږي چې تا ته بې احساسه او بې شعوره ښکاري او سخت زړي او بې رحمه انسانان ورسره تشبيه کوې، داسې نه دي، ته اشتباه کوې، دا تيږه احساس لري، خپل رب پېژني او کله کله د الله له وېرې راپرېوځي، ستا د وجود غوښه، مغز، وينه او عصبي رشتې له هغې خاورې جوړ شوي چې يو وخت سخته تيږه وه، ورو ورو په خاورو تبديل شوه، له دې خاورې ونې، بوټي، مېوې او دانې راوټوکېدې او همدا ستا په غوښه، مغز، وينې او عصبي رشتو بدلې شوې، که په دې تيږو کې دا کمال نه وی نو په ژونديو شيانو به د هغوی بدلون ممکن نه وو، له هغې به ژوندي شيان نه راپيدا کېدل، تا ته به دا ونې او بوټي هم بې احساسه برېښي، دا حيوانات به هم بې شعوره ګڼې، خو دا هر يو په ډېرو برخو کې تر تا مخکې دي، د ونې د ستې پوستکی په لور وشکوه، وبه ګورې چې ډېر ژر په هغه زخمي ځای کې ښويه او سريښناکه مائع راپيدا کړي، زخم پټ کړي، له چينجيو او ميکروبونو ئې خوندي کړي، څو ورځې وروسته به ګورې چې دا زخمي ځای تر نور پوستکي هم سخت شوی دئ، د ونې د يوه اړخ يو ښاخ پرې کړه، څو ورځې وروسته به وګورې چې د همدې ځای خوا ته، ترې لاندې يا بر، نوې څانګه راټوکېدلې، دا د دې لپاره چې ونه غواړي خپل تعادل بېرته برابر کړي، آبله خوا ئې درنه نه شي او په هغه لورې ئې کږه نه کړي. په کوټه کې د ګل بوټی کښېږده، څو ورځې وروسته ئې وګوره چې د کړکۍ په لوري به مائل شوی وي او دا هڅه به کوي چې ځان نور او رڼا ته ورسوي، هر بوټی پوهېږي چې له زمکې کوم مواد جذب کړي او څنګه له دې خوندوره دانه يا مېوه جوړه کړي، په محفوظ پوستکي کې او داسې چې ته ئې هم له شکل او رنګ خوند اخلې او هم له بوی او ذائقې او که ته دا خپل ټول (شعور)، (عقل) او (علم) او خپل ټول مخکې تللې وسائل دي په کار واچوې، د دې واړه بوټي او دغي ونې په څېر څه نه شې پيدا کولی. د شاتو موچۍ چې څه جوړوي ستا ټول لابراتوارونه ترې عاجز دي، ډېر حيوانات په خپلو ډېرو حواسو کې له تا مخکې دي، ځنګلي حيوانات، پشۍ، سپی، غرڅه، مارغان په ليدو اورېدو او د بوی په احساسولو او پېژندلو کې تر تا ډېر ډېر وړاندې دي. ډېر حيوانات د باران، طوفان او زلزلې راتګ تر تا د مخه احساسوي، ته هسې مغرور شوی يې او دوی ته د حقارت په سترګه ګورې.

قرآن په دې اړه موږ ته ډېرې عبرتناکې ويناوې لري، وايي: سليمان عليه السلام؛ دا په

انساني تاريخ کې تر ټولو ستر واکمن، د ډېرو لښکرو خاوند، چې بادي کښتۍ په لومړي ځل ده جوړه کړې، خو له هغه څه خبر نه وو چې هدهد ترې خبر وو، د سبأ له هېواد او د هغه ځای له وضعي هدهد خبر کړ، له لښکرو سره روان وو، له ده څو ګامه مخکې یوه مېږي نورو ته غږ کړ چې خپلو کورونو ته ننوځئ، داسې نه چې سليمان او د ده لښکري مو په ناپوهۍ کې تر پښو لاندې کړي.

حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوۡاْ عَلَىٰ وَادِ ٱلنَّمۡلِ قَالَتۡ نَمۡلَةٞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمۡلُ ٱدۡخُلُواْ مَسَٰكِنَكُمۡ لَا يَحۡطِمَنَّكُمۡ سُلَيۡمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ۝١٨ النمل: ۱۸

دلته د (هُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ) خبره ډېره جالبه او د خاص توجه وړ ده؛ ته هغوی بې احساسه ګڼې خو هغوی ستاسو د ستر سالار په اړه وايي: دوی نه پوهېږي.

دا يوازې تيرې نه دي چې قرآن د هغوی په اړه دا وينا کوي، قرآن د کائناتو هر څه داسې معرفي کوي چې طوعاً او کرهاً خپل رب ته منقاد دي، په ټول انهماك سره خپل مأموريت او ورکړی شوې دنده تر سره کوي او هر يو ئې د خپل رب تسبيح وايي، خو موږ د دوی د تسبيح په څرنګوالي نه پوهېږو.

نو د قرآن دا خبره حق ده چې ځينې تيرې د الله له وېرې راپرېوځي، دا تيرې، لوټې، بوټې، ستاسو لاسونه، پښې او پوستکی به د قيامت په ورځ ستاسو په ټولو کړنو او هر څه شهادت ورکوي او دا هغه حقيقت دئ چې ساينس ئې د پوهېدو لومړي پړاو ته نژدې شوی، ډېر نور مزل بايد ووهي چې مزيد حقائق ورته څرګند شي.

أَفَتَطۡمَعُونَ أَن يُؤۡمِنُواْ لَكُمۡ وَقَدۡ كَانَ فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ يَسۡمَعُونَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُۥ مِنۢ بَعۡدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ۝٧٥

[۷۵] آيا دا طمع لرئ چې دوی به ايمان درته راوړي، حال دا چې د دوی يوه ډله د الله کلام اوري خو د هغه په مطلب له پوهېدو وروسته ئې تحريفوي په داسې حال کې چې پوهېږي.

(۷۵)- مسلمانانو ته ويل شوي د بني اسرائيلو له مذهبي مشرانو دا طمع مه کوئ چې ايمان به راوړي، له هغه چا چې د الله کلام ئې اورېدلی، د الله په کتاب پوه شوی، خو سره له دې په هغه کې تحريف کوي، غلط ئې تعبيروي، غلطې او د ظالمو حکامو په ګټه فتوی ګانې ترې راباسي، له دوی د ايمان راوړو طمع بې ځايه ده.

وَإِذَا لَقُوا۟ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَا بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٍ قَالُوٓا۟
أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمۡ لِيُحَآجُّوكُم بِهِۦ عِندَ رَبِّكُمۡۚ أَفَلَا
تَعۡقِلُونَ ﴿٧٦﴾ أَوَلَا يَعۡلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَ ﴿٧٧﴾

[٧٦]- او كله چې له مؤمنانو سره مخامخ شي وايي: ايمان مو راوړی او كله چې په خپلو كې سره گوښه شي وايي: آيا هغه خبري ورته كوئ چې الله تاسو ته پرانيستې، چې د خپل رب په وړاندې مو پرې پر كړي، آيا له عقل كار نه اخلئ؟ [٧٧]- آيا په دې نه پوهېږي چې الله په هر هغه څه پوهېږي چې دوی ئې پټوي يا ئې څرگندوي؟

---

(٧٦-٧٧)- له هغو خلكو چې ځان ته (اهل كتاب او په كتاب پوه) وايي خو له دين ئې ځان ته دوكان جوړ كړی، دين په دنيا خرڅوي، په كتاب كې تحريف كوي، د مؤمنانو په وړاندې د ايمان دعوی كوي خو تل د باطل په څنگ كې ولاړ وي او د ظالمانو ملگرتيا كوي، له دوی دا طمع كول چې د الله د لارې د مخلصو داعيانو او مجاهدينو ملگرتيا به وكړي او د حق په څنگ كې به مخلصانه ودرېږي، بې ځايه طمع ده. دوی خو تل خپلو ملگرو ته په خلوت كې دا وايي چې د (كتاب) له هغو برخو پرده مه اوچتوئ چې ستاسو د رسوايۍ باعث او د الله په وړاندې ستاسو د ملامتيا موجب گرځي او واقعي داعيانو او مجاهدينو ته پر تاسو برلاسي وركوي!! الله تعالی دوی ته په ځواب كې فرمايي: آيا په دې نه پوهېږي چې الله په هر هغه څه پوهېږي چې دوی ئې پټوي يا ئې څرگندوي؟

---

وَمِنۡهُمۡ أُمِّيُّونَ لَا يَعۡلَمُونَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّآ أَمَانِيَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٧٨﴾ فَوَيۡلٌ
لِّلَّذِينَ يَكۡتُبُونَ ٱلۡكِتَٰبَ بِأَيۡدِيهِمۡ ثُمَّ يَقُولُونَ هَٰذَا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ لِيَشۡتَرُوا۟
بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلًاۖ فَوَيۡلٌ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتۡ أَيۡدِيهِمۡ وَوَيۡلٌ لَّهُم مِّمَّا يَكۡسِبُونَ ﴿٧٩﴾

[٧٨]- او له دوی ځينې امي (نالوستي) دي، له څه هيلو پرته نور په كتاب نه پوهېږي او دوی نه دي مگر گمان كوونكي. [٧٩]- افسوس د هغو په حال چې كتاب په خپل لاس ليكي بيا وايي: دا د الله له لوري دئ، د دې لپاره چې ناڅيزه بيع پرې تر لاسه كړي، افسوس د دوی د لاسونو پر ليكنې او افسوس په هغه څه چې دوی ئې تر لاسه كوي.

(۷۸-)- علماء او اهل کتاب ئې داسي دي چي په خپل لاس ليکلې او له خپل غرض او مرض راخوتېدلې فتوی؛ الله او د هغه دين ته منسوبوي، هدف ئې دا وي چي په دې سره څه متاع، يو ټوك ډوډۍ او کومه چپنه او پګړۍ تر لاسه کړي، خو عوام ئې داسي چي په کتاب او د هغه په لارښوونو خبر نه دي، په کتاب د ايمان دعوی فقط دومره کړي چي په دوی کې ئې څه دروغجني هيلي او طمعي راولاړي کړې او څه ګمانونه ورسره راپيدا شوي، هيلي ئې دا دي چي جنت ته به درومي او ګمان ئې دا چي د کتاب او الهي لارښوونو په اړه چي دوی کوم تصور لري او خپلو منحرفو مذهبي مشرانو ورته څه ويلي، همدا حقيقت دئ او د الهي حقيقي دين اصلي غوښتنه، دا دواړه ډلي ( ټګمار او دين پلورونکي علماء او له دين بې خبره عوام) د تأسف وړ دي خو اصلي مجرمان او د ډېر تأسف وړ هغه علماء دي چي دين تحريفوي او د دنيا په متاع ئې پلوري!!

وَقَالُواْ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامٗا مَّعۡدُودَةٗۚ قُلۡ أَتَّخَذۡتُمۡ عِندَ ٱللَّهِ عَهۡدٗا فَلَن يُخۡلِفَ ٱللَّهُ عَهۡدَهُۥٓۖ أَمۡ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٨٠﴾ بَلَىٰۚ مَن كَسَبَ سَيِّئَةٗ وَأَحَٰطَتۡ بِهِۦ خَطِيٓـَٔتُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٨١﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٨٢﴾

[۸۰]- او وئې ويل: اور نه شي رارسېدی مګر د څو ورځو لپاره، ووايه: آيا له الله مو کومه داسي ژمنه تر لاسه کړې چي الله هيڅکله له خپلي دې ژمني نه په شا کېږي او يا د الله په اړه هغه څه وايئ چي نه پرې پوهېږئ؟ [۸۱]- داسي نه ده بلکې هر څوك چي بدي وکړي او خپلي خطاګاني ئې رااحاطه کړي، نو دوی دوزخيان دي چي په هغه کې به تلپاته وي. [۸۲]- او هغه چي ايمان ئې راوړ او نېك عملونه ئې وکړل، دوی جنتيان دي چي په هغه کې به تلپاته وي.

(۸۰-۸۲) په دې آيتونو کې د يوه جاهل قوم دا غلط تصور انځور شوی چي تر ستوني به په ګناه کې غرق وي خو سره له دې به ګمان کوي چي دا يا هغه څه به ئې له دوزخ ژغوري او که احياناً دوزخ ته درومي نو د لږ وخت لپاره به وي، دلته په صريح الفاظو د بني اسرائيلو او هر هغه چا دا غلطه عقيده رد شوې چي له ايمان او صالح عمل پرته نور څه له دوزخ د نجات او جنت ته د رسېدو سبب او وسيله ګڼي.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَانًا وَذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَقُولُوا۟ لِلنَّاسِ حُسْنًا وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنكُمْ وَأَنتُم مُّعْرِضُونَ ﴿٨٣﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَكُمْ لَا تَسْفِكُونَ دِمَآءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُونَ أَنفُسَكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿٨٤﴾

[٨٣]- او کله چې مو د بني اسرائيلو دا ژمنه تر لاسه کړه چې له الله پرته به د بل څه عبادت نه کوئ او له مور پلار سره او له خپلوانو، يتيمانو او مسکينانو سره به احسان کوئ او خلکو ته به په ښه توګه وينا کوئ او لمونځ به اداء کوئ او زکات به ورکوئ، بيا ستاسو له لږو کسانو پرته، تاسو ټولو شا کړه په داسي حال کې چې ډېره کوونکي وئ. [٨٤]- او کله چې مو ستاسو دا ژمنه تر لاسه کړه چې يو د بلويني به نه تويوئ او يو به بل له خپل کور کلي نه باسئ، بيا مو اقرار وکړ په داسي حال کې چې (د دې ژمني او اقرار) شاهد وئ.

(٨٣-٨٤)- دلته د دين له بنيادي غوښتنو د يوه منحرف ولس اساسي انحرافات په ګوته شوي، د دين اساسي غوښتني دا دي: يوازې د يوه الله عبادت، له مور پلار، خپلوانو، يتيمانو او مسکينانو سره مرسته، که احسان او مرسته نه شې کولی نو لږ تر لږه له ښې وينا سره خلکو ته مخامخ کېدل، لمونځ کول او زکات ورکول، له ناحقه وينو تويولو ډډه کول او له خپل کور کلي د مظلومانو د ايستلو اسباب نه برابرول. بني اسرائيلو په ايمان راوړو سره په دغو ټولو خبرو له الله سره ژمنه کړې وه، خو خپلې ټولې ژمني ئې ترپښو لاندې کړې، له دغو ټولو ديني وجائبو ئې سرغړونه وکړه، خو له دې سره سره ئې د ايمان او ديندارۍ دعوی کوله.

ثُمَّ أَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِّنكُم مِّن دِيَٰرِهِمْ تَظَٰهَرُونَ عَلَيْهِم بِٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَإِن يَأْتُوكُمْ أُسَٰرَىٰ تُفَٰدُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ ۚ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ ٱلْكِتَٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ ۚ فَمَا

جَزَآءُ مَن يَفۡعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ إِلَّا خِزۡيٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلۡعَذَابِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿٨٥﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا بِٱلۡأٓخِرَةِۖ فَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴿٨٦﴾

[۸۵]- بیا تاسو همغه یاست چې یو بل وژنئ او خپله یوه ډله له خپل کور کلي باسئ، د دوی په ضد په ګناه او تېري کې د (تېري کوونکو) مرسته کوئ او که د اسیرانو په توګه درته راشي نو فدیه ئې ورکوئ، حال دا چې د دوی ایستل درباندې حرام دي، آیا د کتاب په یوې برخې ایمان راوړئ او په بلې برخې ئې کافران کېږئ؟! او له تاسو چې هر څوك دا کار وکړي، نو سزا ئې په دنیا کې له سپکاوي پرته بل څه نه ده او د قیامت په ورځ به د شدید عذاب په لور ګرځول کېږي او الله له هغه څه چې تاسو ئې کوئ غافل نه دئ. [۸٦]- دا همغه خلك دي چې دنیوي ژوند ئې د آخرت په بیع وپېرو، نو نه به عذاب ترې سپك کړی شي او نه به ئې مرسته وشي.

(۸۵-۸٦)- د خپل قوم پر بې وسه او بې وزلو به ئې ظلمونه کول، له خپل کور کلي به ئې ایستل، د دوی د وینو له تویولو ئې هم ډډه نه کوله، خو چې کله به د بل په لاس کې اسیر پرېوتل نو د هغوی د ژغورنې لپاره به ئې بسپنې راټولولې، دا کار به ئې د خپل قومي تعصب په اساس کولو خو هغه ته به ئې دیني او مذهبي رنګ ورکاوو، نو ځکه الله تعالی هغوی ته فرمایي: آیا د کتاب په یوې برخې ایمان راوړئ او په بلې برخې ئې کافران کېږئ؟!

دلته دا خبره هم د زیات دقت وړ ده چې په کتاب عمل او نه عمل ئې په کتاب له ایمان او کفر سره مترادف ګڼلی، د دې معنی دا ده چې په کتاب د ایمان لومړنۍ او اساسي غوښتنه پر هغه عمل کول دي، په کتاب د هغه چا د ایمان ادعاء دروغجنه ده چې عمل پرې نه کوي.

دا آیت موږ ته دا هم راښیي چې د یوه دیندار ولس د ذلت او سپکاوي ستر عامل دا وي چې د کتاب پر یوې برخې عمل کوي او بله ئې شا ته غورځوي.

همدا راز موږ ته راښیي چې د الله کتاب وېشل، په یوې برخې ئې عمل او بله ئې شا ته غورځول د هغه چا کار دئ چې دین په دنیا پلوري، دوی به په دنیا او آخرت کې له الهي عذاب سره مخامخ وي، هیڅ څه به ئې له دې عذاب ونه ژغوري، هیڅوك او هیڅ څه به

ئې مرسته ونشي کړی.

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ وَقَفَّيْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ بِٱلرُّسُلِ ۖ وَءَاتَيْنَا عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَأَيَّدْنَٰهُ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ ۗ أَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُكُمُ ٱسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴿٨٧﴾

[۸۷]- او په يقين سره مو موسی عليه السلام ته کتاب ورکړ او له ده وروسته مو نور پيغمبران ورپسې کړل او عيسی د مريمې زوی ته مو هغه څرګندې نښې ورکړې او په روح القدس سره مو د ده ملاتړ وکړ؛ نو آيا هر کله چې کوم پيغمبر درته هغه څه راوړل چې ستاسو نفسونو نه خوښول؛ کبر او لويي غوښتنه مو وکړه، نو ځيني مو تکذيب کړل او ځيني وژنئ!!

(۸۷)- له پيغمبرانو او له زړه سواندو داعيانو سره د مخالفت يوه لويه وجه دا وي چې ځان غوښتونکي او د هوی او هوس بندګان د دوی په بلنې او دعوت کې د خپلو نفسي غوښتنو خلاف لارښوونې ګوري. د دوی د مخالفت وجه دا نه وي چې په حقيقت نه پوهېږي يا دعوتګرانو کافي او مقنع دلائل د دوی مخې ته نه وي ايښي. موسی عليه السلام بني اسرائيلو ته څومره څرګندې نښې راوړې؟ ورپسې عيسی عليه السلام تر هغه زياتې څرګندې نښې او معجزې؛ خو د دې پر ځای چې ايمان پرې راوړي، يو ئې تکذيب کړ او د بل د وژلو لپاره ئې ملا وتړله، د ده ياران ئې په صليب وځړول، په اور کې ئې واچول او د دوی د ځورولو لپاره ئې له هيڅ جنايت ډډه ونکړه.

وَقَالُوا۟ قُلُوبُنَا غُلْفٌۢ ۚ بَل لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾

[۸۸]- او وئې ويل: زړونه مو په پرده کې دي؛ نه؛ داسې نه ده؛ بلکې الله د دوی د کفر له کبله پر دوی لعنت لېږلی، نو ځکه لږ ايمان راوړي.

(۸۸) د دوی لجوجو علماءو به ويل: ستا تبليغات پر موږ اغېز نه شي کولی، زموږ زړونه له علومو ډك دي، زموږ او ستا تر منځ ډېرې پردې حائل دي، د دې لجاجت او سرزورۍ وجه په اصل کې دا وه چې د خپلو کافرانه عقائدو او کړنو په سبب الله تعالی رټلي او د لعنت وړ ګرځېدلي وو، نو ځکه له ايمان راوړو محروم شوي وو.

وَلَمَّا جَآءَهُمۡ كِتَٰبٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٞ لِّمَا مَعَهُمۡ وَكَانُواْ مِن قَبۡلُ
يَسۡتَفۡتِحُونَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا عَرَفُواْ كَفَرُواْ بِهِۦۚ فَلَعۡنَةُ
ٱللَّهِ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾ بِئۡسَمَا ٱشۡتَرَوۡاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمۡ أَن يَكۡفُرُواْ بِمَآ أَنزَلَ
ٱللَّهُ بَغۡيًا أَن يُنَزِّلَ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ فَبَآءُو بِغَضَبٍ
عَلَىٰ غَضَبٖۚ وَلِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴿٩٠﴾

[۸۹]- او كله چي د الله لخوا داسي كتاب ورته راغی چي له دوی سره د شته (كتاب) تصديقوونكی وو او دوی د هغه (له راتلو) د مخه ( د همداسي يوه كتاب په راتلو سره) پر كافرانو د بريا غوښتنه كوله، خو كله چي همغه څه ورته راغی چي ښه ئې پېژندو، په هغه كافران شول، نو پر دغو كافرانو دي د الله لعنت وي. [۹۰]- څومره بد دئ هغه څه چي خپل ځان ئې پرې وپلورو، په دې چي په باغيانه توگه پر ما انزل الله كافران شول، له دې كبله چي الله ولې له خپلو بندگانو (له دوی پرته په بل هغه چا) چي دی ئې غواړي له خپل فضل او پېرزويني څه رانازلوي، نو د الله په پر له پسې غضب اخته شول او دغو كافرانو ته سپكوونكی عذاب دئ.

(۸۹-۹۰)- دوی د پيغمبر له راتلو د مخه تل دا تلوسه كوله چي كاش يو ځل بيا په دوی كې كوم پيغمبر مبعوث شي او د كافرانو له سلطې ئې وژغوري، خو كله چي پيغمبر راغی او له ځان سره ئې همغه څه راوړو چي مخكينيو پيغمبرانو راوړي وو او بني اسرائيل ښه پوه شول چي دا د دوی د اصلي دين په څېر دئ، خو د دې لپاره ئې ايمان رانه وړ چي پيغمبر د دوی له قوم؛ نه وو، د دوی مذهبي قيادت او هغه گټې چي د دين تر نامه لاندي ئې له غولېدليو مذهبي عوامو تر لاسه كولې؛ په خطر كې ولوېدې، نو د پيغمبر د مخالفت لپاره ئې ملا وتړله او د الله تعالی د پرله پسې غضب وړ وگرځېدل. هم له مخكيني كتاب د مخالفت له كبله او هم له نوي كتاب سره د مخالفت په سبب.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ ءَامِنُواْ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ نُؤۡمِنُ بِمَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا وَيَكۡفُرُونَ
بِمَا وَرَآءَهُۥ وَهُوَ ٱلۡحَقُّ مُصَدِّقٗا لِّمَا مَعَهُمۡۗ قُلۡ فَلِمَ تَقۡتُلُونَ أَنۢبِيَآءَ ٱللَّهِ مِن قَبۡلُ
إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٩١﴾ ۞وَلَقَدۡ جَآءَكُم مُّوسَىٰ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ ثُمَّ ٱتَّخَذۡتُمُ ٱلۡعِجۡلَ

مِنۢ بَعۡدِهِۦ وَأَنتُمۡ ظَٰلِمُونَ ﴿٩٢﴾

[٩١]- او كله چي ورته وويل شي: په هغه څه چي الله نازل كړي ايمان راوړئ، وايي: په هغه څه ايمان راوړو چي پر موږ نازل شوى او له دې علاوه په هر څه كافران كېږي، كه څه هم هغه حق وي او له دوى سره د شته كتاب تصديقوونكى، ورته ووايه: نو كه تاسو مؤمنان وئ ولې مو تر دې د مخه د الله پيغمبران وژل؟ [٩٢]- او په يقين سره چي موسى ځرگندي نښي درته راوړې خو له دې وروسته تاسو سخوندر (معبود) ونيو، په داسي حال كې چي ظالمان وئ.

(٩١-٩٢)- يو له هغو سترو خنډونو چي هر صالح داعي ورسره مخامخ كېږي، هغه قومي تعصب دئ چي كله كله مذهبي بڼه غوره كړي او مذهب د يوې خاصي ډلي او قوم په لاس كې د ناروا سياسي، اقتصادي او اجتماعي امتيازاتو د لاس ته راوړو وسيله شي، دغه ډله بيا د هر دعوت مقابله د مذهب په توره كوي، حتى د هغه دعوت هم چي د دوى مذهب ته ورته وي او د دوى د اصلي مذهب تأييد او تصديق كوي. د بني اسرائيلو مذهبي مشران ښه پوهېدل چي قرآن همغه څه وايي چي تورات ئې وايي او محمد عليه السلام همغه څه وايي چي موسى عليه السلام ويل، خو سره له دې ئې تر هر چا زيات د اسلام مخالفت كاوو. د دوى په ځواب كې ويل شوي: له اسلام سره ستاسو دا مخالفت نه د الله لپاره دئ، نه د تورات لپاره او نه د موسى عليه السلام لپاره، تاسو خو همغه خلك ياست چي تر دې د مخه مو د موسى او عيسى عليهما السلام او د تورات او انجيل مخالفت وكړ، دا كوم ايمان دئ چي تاسو ته د سخوندر د عبادت اجازه دركوي؟

وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَكُمۡ وَرَفَعۡنَا فَوۡقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُواْ مَآ ءَاتَيۡنَٰكُم بِقُوَّةٖ وَٱسۡمَعُواْۖ قَالُواْ سَمِعۡنَا وَعَصَيۡنَا وَأُشۡرِبُواْ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡعِجۡلَ بِكُفۡرِهِمۡۚ قُلۡ بِئۡسَمَا يَأۡمُرُكُم بِهِۦٓ إِيمَٰنُكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٩٣﴾

[٩٣]- او كله چي مو ستاسو ژمنه درنه واخيسته او د طور غر مو ستاسو له پاسه رااوچت كړ، (او مو ويل:) په هغه څه منگولې كلكې ولگوئ چي تاسو ته مو دركړي او غوږ شئ، وئې ويل: غوږ شوو خو سرغړونه كوو او د خپل كفر په سبب ئې سخوندر په زړونو كې ننه ايستى شو، ووايه: كه تاسو مؤمنان ياست؛ دا ايمان خو مو په ډېرو بدو شيانو گماري!!

(۹۳)- له الله تعالی سره ئې په داسي حال کي کړې ژمني ماتي کړې چي د طور غر ئې د سر له پاسه وو، په همدغه وخت کي ئې په ژبه د منني او اطاعت الفاظ وو خو په زړونو کي ئې د عصيان هوډ او اراده، له همدې تعهد وروسته ئې جعلي معبود غوره کړ، دوی ته ويل شوي: که ستاسو دا ټول ناوړه اعمال د کوم ايمان په حکم او د کومي عقيدې له مخي وي نو دا خو ډېر کرغېړن ايمان او بده عقيده ده چي په داسي بدو کارونو مو گماري.

قُلۡ إِن كَانَتۡ لَكُمُ ٱلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ عِندَ ٱللَّهِ خَالِصَةٗ مِّن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ ٱلۡمَوۡتَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٩٤﴾ وَلَن يَتَمَنَّوۡهُ أَبَدَۢا بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٩٥﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمۡ أَحۡرَصَ ٱلنَّاسِ عَلَىٰ حَيَوٰةٖ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْۚ يَوَدُّ أَحَدُهُمۡ لَوۡ يُعَمَّرُ أَلۡفَ سَنَةٖ وَمَا هُوَ بِمُزَحۡزِحِهِۦ مِنَ ٱلۡعَذَابِ أَن يُعَمَّرَۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ﴿٩٦﴾

[۹٤]- ورته ووايه: که د الله په خوا کي د آخرت کور؛ له خلکو پرته يوازي ستاسو لپاره وي؛ نو د مرگ تمنی وکړئ که رښتيني ياست. [۹٥]- او په خپلو لاسونو ئې چي څه وړاندي کړي د هغه له کبله به هيڅکله د مرگ تمنی ونکړي او الله په دې ظالمانو ښه پوه دئ. [۹٦]- او دوی به تر ټولو زيات په ژوند حريص ومومې او له مشرکانو هم، هر يو ئې دا خوښوي چي کاش زر کاله عمر ورکړی شي، خو همدا د عمر اوږدوالی له عذاب د دوی ژغورونکی نه دئ او الله د هغه څه ډېر ښه ليدونکی دئ چي دوی ئې کوي.

(۹٤-۹٦)- سره له خپل ټول شرك، عصيان، له جهاد ډډه، د ظالمانو ملگرتيا او د پيغمبرانو او حقپالو مخالفت، دوی گمان کاوو او مذهبي مشرانو ئې ورته همدا ويل چي جنت يوازي ستاسو لپاره پيدا شوی او تاسو د جنت لپاره، د دوی په څواب کي ويل شوي: که داسي وي نو تاسو خو بايد له مرگ نه وېرېدی او د الله په لار کي د شهادت تلوسه مو په زړونو کي نه وی مړه شوې، دا ولي له مرگ وېرېږئ؟ دا ولي ستاسو هيڅ مذهبي مشر په سنگر کي نه دئ ليدل شوی؟ ولي مو تل خپل پيغمبران په جهاد کي يوازي پرېښي؟ له دې خو په ډاگه معلومېږي چي په خپلي دعوی باور نه لرئ. په دې آيتونو کي او دې ته ورته په ډېرو نورو کي له مرگ وېره، د ډېر اوږده ژوند تمنی او د الله په لار کي له شهادت ډډه، د هغه قوم نښي گڼل شوې چي د ايمان په دعوی کي دروغجن دي، نه په آخرت او جنت باور لري او

نه په دې چې د مرګ ژوند پرېکړې الله کوي.

قُلۡ مَن كَانَ عَدُوّٗا لِّـجِبۡرِيلَ فَإِنَّهُۥ نَزَّلَهُۥ عَلَىٰ قَلۡبِكَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَهُدٗى وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ۝٩٧ مَن كَانَ عَدُوّٗا لِّلَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَجِبۡرِيلَ وَمِيكَىٰلَ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَدُوّٞ لِّلۡكَٰفِرِينَ ۝٩٨

[۹۷]- ووايه: څوك چې د جبريل دښمن وي؛ نو هغه خو د الله په اذن او حكم سره ستا پر زړه نازل كړ، له ده د مخكينيو تصديقوونكى او مؤمنانو ته لارښود او زېرى.
[۹۸]- څوك چې د الله، د ده د ملائكو، د ده د پيغمبرانو، د جبريل او ميكائيل دښمن وي، نو الله د دغو كافرانو دښمن دئ.

(۹۷-۹۸)- يهودانو به ويل: كوم جبرائيل چې محمد عليه السلام وايي پر ده ئې د الله وحي نازله كړې، هغه تل له موږ سره دښمني كړې، زموږ پر قوم ټول عذابونه د ده په لاس نازل شوي او دا دئ ستره دښمني ئې لابله چې له يهودو پرته ئې بل ته وحي راوړه!! د دوى په ځواب کې ويل شوي: له جبرائيل سره دښمني په اصل کې له الله سره دښمني ده، ده خو له دې پرته بل څه نه دي كړي چې دا كتاب ئې د الله په حكم پر محمد عليه السلام نازل كړ، دا خو همغه كتاب دئ چې ستاسو او د ټولو مخكينيو كتابونو تأييد كوي، له دې كتاب سره مخالفت په اصل کې له تورات او انجيل سره مخالفت دئ. له دې كتاب او د هغه له څرګندو آيتونو ستاسو د انكار ستره وجه ستاسو فسق او فجور دئ، په ګناهونو ككړ زړونه مو د دغو څرګندو نښو منلو او ايمان راوړلو ته نه پرېږدي.

وَلَقَدۡ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖۖ وَمَا يَكۡفُرُ بِهَآ إِلَّا ٱلۡفَٰسِقُونَ ۝٩٩

[۹۹]- او يقيناً چې تا ته مو څرګندي نښې رانازل كړې، (هغه چې) له فاسقانو پرته بل څوك ترې انكار نه كوي.

(۹۹)- لكه څنګه چې مخكينيو پيغمبرانو ته مو څرګندې معجزې او آيتونه وركړل خو بني اسرائيلو له ټولو انكار وكړ، تا ته مو هم داسې واضح آيتونه دركړي چې له فاسقانو پرته بل څوك ترې انكار نه كوي. د دوى د انكار او مخالفت وجه د دوى خپل فسق دئ، نه د دلائلو او څرګندو نښو كموالى.

أَوَ كُلَّمَا عَٰهَدُواْ عَهۡدٗا نَّبَذَهُۥ فَرِيقٞ مِّنۡهُمۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٠٠ وَلَمَّا
جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٞ لِّمَا مَعَهُمۡ نَبَذَ فَرِيقٞ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ
ٱلۡكِتَٰبَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمۡ كَأَنَّهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ١٠١ وَٱتَّبَعُواْ مَا تَتۡلُواْ
ٱلشَّيَٰطِينُ عَلَىٰ مُلۡكِ سُلَيۡمَٰنَۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيۡمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ
كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحۡرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلۡمَلَكَيۡنِ بِبَابِلَ هَٰرُوتَ
وَمَٰرُوتَۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنۡ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحۡنُ فِتۡنَةٞ فَلَا تَكۡفُرۡۖ
فَيَتَعَلَّمُونَ مِنۡهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيۡنَ ٱلۡمَرۡءِ وَزَوۡجِهِۦۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ
مِنۡ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡۚ وَلَقَدۡ عَلِمُواْ لَمَنِ
ٱشۡتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنۡ خَلَٰقٖۚ وَلَبِئۡسَ مَا شَرَوۡاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمۡۚ لَوۡ كَانُواْ
يَعۡلَمُونَ ١٠٢ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَمَثُوبَةٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ خَيۡرٞۖ لَّوۡ كَانُواْ
يَعۡلَمُونَ ١٠٣

[١٠٠]- او چې کله هم دوی کومه ژمنه کړې نو یوې ډلې ئې (دا ژمنه) لرې غورځولې، بلکې اکثر ئې ایمان نه راوړي. [١٠١]- او کله چې د الله له لوري کوم داسې پیغمبر ورته راغلی چې له دوی سره د شته (کتاب) تصدیقوونکی وو، نو د اهل کتاب یوې ډلې د الله کتاب داسې شا ته وغورځاوو لکه (په هیڅ) چې نه پوهېدل. [١٠٢]- او د هغه څه متابعت ئې پیل کړ چې شیطانانو به د سلیمان علیه السلام د پاچاهی (په اړه) لوستل، دا په داسې حال کې چې سلیمان د کفر لار نه وه غوره کړې، بلکې په خپله دا شیطانان کافران شوي وو، خلکو ته ئې جادو او هغه څه ورښودل چې د بابل په دوو ملائکو: هاروت او ماروت نازل شوي وو، (دې ملائکو) به هیچا ته څه تعلیم نه ورکاوو مگر دا چې ورته ویل به ئې: موږ (خو د یوه) امتحان (لپاره راغلې) یو، نو ته مه کافر کېږه، خو دوی له دې دواړو هغه څه زده کول چې په هغه سره نارینه او مېرمنه ئې سره بېل کړې، دا په داسې حال کې چې په دې سره دوی د الله له اذن پرته هیچا ته تاوان رسوونکې نه وو او په داسې حال کې چې هغه څه ئې زده کول چې

تاوان ئې وررساوو او ګټه ئې نه وررسوله او يقيناً په دې پوه شوي وو چې هر څوك دا وپېري نو په آخرت کې به ئې هيڅ برخه نه وي او يقيناً چې ډېر بد دئ هغه څه چې خپل ځان ئې پرې وپلورو، کاش پوهېدلی. [۱۰۳]- او که دوی ايمان راوړی وی او تقوی ئې غوره کړې وی نو د الله له لوري ثواب ډېر غوره دئ، کاش پوهېدلی.

(۱۰۰-۱۰۳)- دلته په اصل کې د بني اسرائيلو په څېره کې د يوه بې لارې ديندار ولس څو سترو سترو انحرافاتو ته اشاره شوې: په خپلو ژمنو نه ودرېدل، د الله کتاب داسې شا ته غورځول لکه چې په هيڅ څه ئې نه پوهېږي او د الله د کتاب پر ځای کوډو، جادو او تعويذونو ته مخه کول، دا حرام کارونه نه يوازې حلال ګڼل بلکې د سليمان عليه السلام هغه ستره واکمني؛ چې بېلګه ئې په تاريخ کې نه ده ليدل شوې، د يوې جادوئې ګوتې او د څه کوډو او منتر نتيجه ګڼل، نه د ده او د ده د مجاهد پلار داؤد عليه السلام د جهادونو نتيجه، د دوی لويه مشغله دا وې چې په کوډو سره د مېړه او مېرمنې تر منځ ئې بېلتون راولې. بني اسرائيل هم ورو ورو له الهي دين لرې شول، په دوی کې فکري او اخلاقي انحرافات راپيدا شول، له اخلاقي لحاظه هومره راپرېوتل چې يو د بل ناموس ته په کمين کې کښېناستل، يو به په دې لټه کې وو چې څنګه د بل مېرمن د ځان لپاره ترې رابېله کړي، د الله کتاب ئې شا ته وغورځاوو، کوډو، جادو او تعويذونو ته ئې مخه کړه. الله تعالی د اتمام حجت لپاره دوی ته دوې ملائکې د انسانانو په څېره کې ولېږلې، چې دوی له انحرافاتو، جاهلانه دودونو او کافرانه مشغلو وژغوري او دوی ته ووايي چې کوډو او جادو ته په پناه وړلو سره مه کافران کېږئ، خو دوی له ملائکو هم د هغه څه زده کولو هڅه کوله چې ښځه له خپل خاوند پرې ببله کړی شي.

دا آيتونه په واضح الفاظو د سحر دا ډول اغېز ردوي او وايي چې د ګټې او تاوان پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي نه د جادوګرانو په جادو سره!!! دې ته مو پام وي چې دغو دوو فرشتو خلکو ته داسې جادو نه ورښودو چې په هغه سره مېړه او مېرمن ئې سره بېل کړی شي، حاشا و کلا چې الله تعالی به فرشتې په دې ګمارلې وي چې خلکو ته داسې کوډې ورزده کړي، دا هم د الله تعالی په اړه تور دئ او هم د فرشتو په اړه، دا خو ستره ګناه ده، فرشتې په خپله دوی ته وايي چې مه کافران کېږئ، نو څنګه به هغوی ته داسې کوډې ورښيي؟!! د آيت معنی دا ده چې دغو مفسدينو به حتی له فرشتو هم د داسې څه زده کولو هڅه کوله چې سړی او د ده مېرمن سره بېل کړی شي، يوه به غوښتل چې د بل مېرمن ترې ببله کړي او پر خپل ځان ئې مينه کړي، نو د همدې لپاره به ئې کوډو ته پنا وړه؛ حتی غوښتل ئې چې له فرشتو هم دغسې څه زده کړي، په همدې موخه فرشتو ته

ورتګ د دوی لپاره اتمام حجت وو او په همدې سره په الهي عذاب اخته شوي. د جادو د دا ډول اغېز خبري هغه تېګماران تکراروي چې خلك غولوي او ورته وايي: جنابه! جادو حق دئ، انکار ترې کفر، پر رسول الله صلى الله عليه و سلم جادو شوى وو، ما ته راشه چې په يوه جادو سره ستا مرادونه تر سره کړم، سرکښ محبوب درته تسليم کړم، که د بل د کوډو له کبله بيمار شوى يې؛ کوډې راوباسم او د جادو اغېز شنډ کړم، خو دا ډېر ګران کار دئ او شکرانه ئې لويه ده، له ما ډېر وخت، ډېر زحمت او ډېر مصرف غواړي، د سور سېرلي او سپين چرګويني، د زعفرانو زېړ رنګ، د ورېښمو ټوټه او دا او دا غواړي!!! زعفران به زه راپيدا کړم، د سېرلي او سپين چرګ بندوبست به ته وکړې، د محبوبې د وېښتانو څو تارونه، د زړې ږمنځې څو ښاخونه او.... به هم ته راپيدا کړې، نور هر څه پر ما!!!

د ځينو خلکو په ذهن کې به ښايي دا اندېښنه راولاړه شي چې په قرآن کې ويل شوي چې د نفاثات في العقد له شره الله ته پنا يوسو؛ او ځينو مفسرينو د نفاثات في العقد په اړه ويلي چې له دې مراد هغه کوډګري ښځي دي چې تارونه به ئې غوټه کول او په هري غوټې کې به ئې پو کول او په دې توګه به ئې پر خلکو کوډې کولې!! د دوى د اندېښنې رفع کولو لپاره بايد ووايو: دا د الفلق سورې په څلورم آيت کې راغلې فقره ده، د دې فقرې شرح او تفسير د الناس سورې په څلورم آيت کې زموږ په وړاندې ايښودل شوي، کوم څه ته چې په يوې سورې کې د نفاثات في العقد نوم ورکړى شوى په ورپسې سوره کې او همغسي په څلورم او پنځم آيتونو کې د (...ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ ٤ ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ ٥ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ٦)په الفاظو ورته اشاره شوې، دا دواړه سورې د محتوى له پلوه په بشپړه توګه سره ورته دي، او دواړه په يوه نامه؛ معوذتين يادي شوې. د دې تفصيل د الفلق د سورې په تفسير کې وګورئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقُولُواْ رَٰعِنَا وَقُولُواْ ٱنظُرۡنَا وَٱسۡمَعُواْۗ وَلِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١٠٤

[۱۰٤]- اې مؤمنانو! راعنا (زموږ رعايت وکړه) مه وايئ او انظرنا (موږ ته نظر وکړه) ووايئ او په غور سره واورئ او دغو کافرانو ته دردناك عذاب دئ.

(۱۰٤)- يهودانو به د پيغمبر عليه السلام په مجلس کې هغه ته داسي الفاظ استعمالول چې ظاهري معنى ئې د ښه لفظ وي؛ خو د ژبې په لړ کږولو سره داسي بد مفهوم افاده کوي چې دوى ئې د ښکنځلې په معنى اخلي، لکه د (راعنا) لفظ چې ظاهري معنى ئې (زموږ

رعايت وکړه) ده خو د ژبې په کږولو او د (راعينا) په ويلو سره دا معنی ورکوي چې (زموږ شپون) او په خپله يهودانو دا لفظ د ناپوه او بې عقله په معنی اخيستو، مسلمانانو ته وويل شو چې په خپلو خبرو کې داسي الفاظ وکاروئ چې معنی ئې صفا او واضح وي، له دوه مخې او د دوه مخو الفاظو له کارولو ډډه وکړئ. همدا راز ورته ويل شوي: د پيغمبر عليه السلام په مجلس کې بايد د هغه هري خبري ته په غور او دقت سره پام وکړئ، داسي چې د ده مبارك د کومي خبري په اړه د پوښتني ځای درته پاته نه شي او هر څه مو په همغه سر کې ښه اوريدلي او په هر څه ئې ښه پوه شوي وئ. د راعنا ويلو ته هغه څوك اړ کيږي چې خبرو ته ئې پام نه وي او په غور سره ئې نه اوري.

مَّا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ وَلَا ٱلْمُشْرِكِينَ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْكُم
مِّنْ خَيْرٍ مِّن رَّبِّكُمْۗ وَٱللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ
ٱلْعَظِيمِ ﴿١٠٥﴾ ۞مَا نَنسَخْ مِنْ ءَايَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ أَوْ مِثْلِهَآۗ أَلَمْ تَعْلَمْ
أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٠٦﴾ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلْأَرْضِۗ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١٠٧﴾

[١٠٥]- نه د اهل کتاب کافران او نه هم مشرکان دا خوښوي چې پر تاسو دي د الله له لوري کومه ښېگڼه رانازله کړی شي، په داسي حال کې چې الله تعالی په خپلې پيرزويني سره هغه څوك مختص کوي چې دی ئې په خپله غوره کړي او الله خو د ستر فضل خاوند دئ. [١٠٦]- که کوم آيت منسوخ کوو يا ئې (درباندي) هېروو نو يا تر هغه غوره رالېږو او يا د هغه په څېر، آيا په دې نه پوهېږې چې الله په هر څه ښه قادر دئ؟ [١٠٧]- آيا په دې نه پوهېږې چې د آسمانونو او زمکي واکمني الله ته ده او له الله پرته نه کوم مولا لرئ او نه مرستندوی.

(١٠٥-١٠٧)- اهل کتاب به پر مسلمانانو دا اعتراضونه کول چې دا ولې په قرآن کې داسي احکام راغلي چې وروسته منسوخ شوي او پر ځای ئې نوي حکمونه راغلي؟ ولې ئې ځيني مخکيني هدايات وروسته وروسته کاملاً له پامه غورځول شوي؟ ولې بايد تورات چې د الله کتاب دئ پريښودل شي او پر ځای ئې نوی کتاب راشي؟ الله ته خو ماضي او مستقبل معلوم دي، ولې به داسي لارښووني کوي چې وروسته ئې بدلې کړي؟ له عادي مسلمانانو به ئې دې ته ورته ډېري نوري داسي پوښتني کولې چې په دوی کې شکوك او شبهات راولاړ

کړي، په حقائقو پوه مسلمانانو خو به دوی ته مناسب ځوابونه ورکول، خو هغه چي نوي مسلمان شوي وو، د دغو پوښتنو تر اغېز لاندي به راتلل او له پیغمبر علیه السلام به ئې ځواب غوښتو، په دې آیتونو کې مسلمانانو ته د دغو پوښتنو په اړه ځو لارښووني شوې، دې ته مو پام وي چي دا ځوابونه یهودانو ته مخامخ نه دي ورکړی شوي بلکې په خپله مسلمانانو ته ویل شوي:

- که الله کوم آیت منسوخوي، یا ئې د هېرولو او پرېښودو حکم کوي، نو یا خو هغه ته ورته او یا تر هغه غوره او د خپلو بندګانو له حالت او وضعیت سره مناسب حکم لېږي، قضاوت باید پر دې بنیاد نه وي چي ولې د یوه حکم پر ځای بل راغی، دا ځکه چي د انسان وضع بدلېږي رابدلېږي، د ده د وضعي له بدلېدو سره سم به مناسبي لارښووني ورته کېږي، په داسي حال کې به د یهودانو د اعتراض څه ارزښت او اهمیت وي چي وروستی حکم د مخکیني په څېر یا تر هغه هم غوره وي؟
- په دنیا کې خو د واکمنانو حکمونه له دې کبله بدلېږي رابدلېږي چي ناچار د خپل ضعف او بې وسۍ په وخت کې یو حکم صادر کړي او د خپل قوت او غلبې په وخت کې بل، نه د ضعف په وخت کې د غلبې او ځواکمنۍ د وخت امرونه کولی شي او نه د قدرت په وخت کې د ضعف دوران ته ورته احکام صادرول خوښوي، الله تعالی خو په هر څه قادر دئ، په احکامو کې تبدیلي ستاسو ضعف ته په پام سره راځي؛ نه د الله تعالی د عدم قدرت له کبله.
- دا احکام خو د هغه چا له لوري دي چي د زمکي او آسمانونو د هر څه ټولواك او ستاسو ولي او نصیر دئ، نه خو د داسي ذات په اوامرو اعتراض کېدی شي او نه خو له انسان سره دا ښایي چي د خپل ولي او نصیر خدای د لارښوونو په اړه دا شك ولري چي په مخکینیو یا وروستنیو کې به د ده خیر او مصلحت په تمامه معنی نه وي مراعات شوی.
- مشرکان او اهل کتاب خو د کینې او حسد له کبله دا سؤالونه کوي، نه د دې لپاره چي که په حقیقت پوه شي نو ایمان راوړي. اعتراضونه ئې له دې راخوټېدلي چي پر تاسو ئې د الله تعالی فضل نه لورېږي.

---

أَمْ تُرِيدُونَ أَن تَسْـَٔلُوا۟ رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ۗ وَمَن يَتَبَدَّلِ ٱلْكُفْرَ بِٱلْإِيمَـٰنِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿١٠٨﴾

[۱۰۸]- آیا غواړئ له خپل پیغمبر همغسي پوښتني وکړئ چي تر دې د مخه له موسی علیه السلام وشوې او څوك چي ایمان په کفر بدل کړي نو له شکه پرته ئې سمه لار

ورکه کړي.

(۱۰۸)- داسې نه چې له خپل پیغمبر د هغو کسانو په څېر پوښتنې وکړئ چې له موسی علیه السلام ئې پوښتنې کولې، خو د ځواب له تر لاسه کولو وروسته ئې هم ایمان رانه وړ. د دې سورې له ٦٧ آیت تر ۷۱ آیت پورې تاسو له موسی علیه السلام د بني اسرائیلو ځینې پوښتنې ولیدې، د دې پوښتنو اصلي وجه دا وه چې د الله تعالی د امر تعمیل ته چمتو نه وو، د ځنډولو له حربې ئې کار اخیست، مبادا ستاسو پوښتنې د بني اسرائیلو په څېر له شك راولاړې شوې وي، هغوی خپل ایمان په کفر بدل کړی وو، د پوښتنو اصلي وجه ئې همدا وه.

وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّنۢ بَعْدِ إِيمَٰنِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلْحَقُّ ۖ فَٱعْفُوا۟ وَٱصْفَحُوا۟ حَتَّىٰ يَأْتِيَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦٓ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٠٩﴾ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ۚ وَمَا تُقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١٠﴾

[۱۰۹]- له اهل کتاب ډېر دا خوښوي چې له خپل ایمان وروسته مو بېرته کفر ته راوګرځوي، د خپل حسد له امله او له هغه وروسته چې حق ورته څرګند شوی. نو ترې تېر شئ او مخ ترې واړوئ، تر هغه چې الله خپله پرېکړه وکړي، بې شکه چې الله په هر څه ښه قادر دئ. [۱۱۰]- او لمونځ اداء کړئ او زکات ورکړئ او له ښېګڼو چې څه هم د ځان لپاره مخکې لېږئ د الله په خوا کې به ئې بیاموئ، یقیناً چې الله ستاسو د کړنو ښه لیدونکی دئ.

(۱۰۹-۱۱۰)- د اهل کتاب هغه مذهبي مشران چې تاسو داسې پوښتنو ته هڅوي، هغوی دا غواړي چې تاسو بېرته کافر شئ، په داسې حال کې چې دوی ته حقیقت ښه په ډاګه شوی، دا پوښتنې ئې ټولې د کینې او حسد محصول دي، د دوی پوښتنو ته اعتناء مه کوئ، له دوی سره په بې فائدې بحثونو کې مه لوېږئ، د الله پرېکړې ته انتظار وکړئ، قدیر خدای به د دوی چاره کوي. خپل اصلي کار ته توجه وکړئ، د دې پر ځای چې خپل وخت له دوی سره په بحثونو ضائع کوئ، لمونځ، زکات او د خیر او ښېګڼې نورو کارونو ته مخه کړئ، ستاسو معامله له هغه الله سره ده چې ستاسو د هر کار شاهد او لیدونکی دئ.

وَقَالُواْ لَن يَدۡخُلَ ٱلۡجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوۡ نَصَٰرَىٰۗ تِلۡكَ أَمَانِيُّهُمۡۗ قُلۡ هَاتُواْ
بُرۡهَٰنَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿١١١﴾ بَلَىٰۚ مَنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ فَلَهُۥٓ
أَجۡرُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿١١٢﴾

[۱۱۱]- او وئې ويل: هيڅكله به جنت ته داخل نه شي مگر هغه چې يا يهودي وي او يا نصراني!! دا (خو هسې) د دوی هيلې دي، (ورته) ووايه: كه رښتيني ياست دليل مو راوړئ، [۱۱۲]- نه؛ بلكې خبره دا ده چې څوك الله ته ځان تسليم كړي او په خپله نېك انسان وي، نو ده ته خپل اجر د خپل رب خوا كې دئ او نه به پر دوی څه وېره وي او نه به غمجن شي.

(۱۱۱-۱۱۲)- گورئ چې مذهب په قوم بدل شوی، څوك چې له يهودي مور پلار پيدا شوی وي، هغه يهودي دئ او د جنت يوازينی مستحق، له يهودي پرته بل څوك جنت ته نه شي تلی، لكه چې اوس گورئ له سني مور پلار پيدا شوی سني دئ، له سلفي پيدا شوی سلفي، له شيعه مور پلار پيدا شوی شيعه، د جنت يوازينی مستحق او له دوزخ د ائمه په طفيل د تل لپاره خوندي. خو الله تعالی دوی ته په ځواب كې فرمايي: د دې مزعومي ادعاء د ثبوت لپاره خپل دليل وړاندې كړئ! د الله په كوم كتاب كې مو لوستي چې يوازې تاسو به جنت ته درومئ، د الله په هر كتاب كې خو دا راغلي چې: څوك الله ته ځان تسليم كړي او نېك انسان وي، نو اجر ئې د خپل رب خوا كې دئ، نه څه وېره پرې شته او نه به غمجن شي. د الله په دين كې خو معيار ايمان او صالح عمل دئ، نه دا چې په كوم قوم پورې تړلی، په كومې كورنۍ كې پيدا شوی او نوم ئې څه دئ.

وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ لَيۡسَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ لَيۡسَتِ ٱلۡيَهُودُ
عَلَىٰ شَيۡءٖ وَهُمۡ يَتۡلُونَ ٱلۡكِتَٰبَۗ كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ مِثۡلَ قَوۡلِهِمۡۚ
فَٱللَّهُ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ﴿١١٣﴾ وَمَنۡ أَظۡلَمُ
مِمَّن مَّنَعَ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ أَن يُذۡكَرَ فِيهَا ٱسۡمُهُۥ وَسَعَىٰ فِي خَرَابِهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ مَا
كَانَ لَهُمۡ أَن يَدۡخُلُوهَآ إِلَّا خَآئِفِينَۚ لَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ

عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١٤﴾

[۱۱۳]- او یهودانو وویل: نصرانیان په هیڅ (سم دین او مذهب) نه دي، او نصرانیانو وویل: یهودان په هیڅ (سم دین او مذهب) نه دي، په داسي حال کې چي دوی کتاب لولي، همدا راز هغو کسانو هم دوی ته ورته وینا وکړه چي نه پوهېږي، نو الله به د قیامت په ورځ د دوی تر منځ په هغه څه کې قضاوت کوي چي دوی په کې اختلاف کاوو. [۱۱٤]- او تر هغه چا به ستر ظالم څوك وي چي د الله په جوماتونو کې د الله د نوم د یادولو مخنیوی او یا ئې د ورانولو هڅه کړې، دوی خو هغه دي چي نه ښایي ورداخل شي مگر وېرېدونکي، په دنیا کې ورته سپکاوی دئ او په آخرت کې دوی ته ستر عذاب.

---

(۱۱۳)- له مسلمانانو سره د دوی اختلاف نوی نه دئ، دوی په خپلو کې هم یو له بل سره تل په اختلاف کې پاته شوي، په شدید او نه پخلا کېدونکي اختلاف کې، هومره چي یهودانو به ویل: نصاری خو اصلاً کوم دین او مذهب نه لري او مسیحیانو به دغه خبره د یهودانو په اړه کوله؛ حال دا چي دواړو به په الهي کتاب د ایمان دعوی کوله، د الله کتاب خو یو دئ، تورات او انجیل یو د بل مؤید او د الله دا کتابونه خو د اختلافاتو د حل لپاره راغلي، څنگه دوی د الله کتاب د اختلاف وسیله گرځولی؟!! ناپوهو مشرکانو به هم د دوی دواړو په اړه دغه خبره کوله چي د دوی مذهب خو اصلاً څه مذهب نه دئ، د دوی د اختلافاتو په اړه پرېکړه الله تعالی ته پرېږده، هغه به د قیامت په ورځ دا فیصله کوي. هر قوم چي د الله کتاب شا ته وغورځوي له همدې برخلیك سره به مخامخ کېږي او په ډلو ډلو به وېشل کېږي، دا یوازې د الله کتاب دئ چي د انسانانو د وحدت او یووالي ضامن او باعث دئ.

(۱۱٤)- دوی خو هغه دي چي تل د الله د بندگانو مخې ته خنډ شوي، د عبادت ځایونو ته د دوی د تلو مانع شوي، یوه د بل معبدونه وران کړي، خپل عبادت ځایونه ئې هم له معنوي لحاظه ویجاړ کړي، دوی څنگه د دین او مذهب خبره کوي، کوم الهي مذهب د داسي ستر ظلم اجازه ورکوي؟! دوی د دې وړ نه دي چي د معبدونو او عبادت ځایونو مجاور او متولي وي، په کار خو دا ده چي دا معبدونه د داسي صالحو خلکو په لاس کې وي چي دا مشرکین د هغوی له وېرې دې ځایونو ته د نژدې کېدو او ننوتو جرأت هم نه شي کولی.

وَلِلَّهِ ٱلْمَشْرِقُ وَٱلْمَغْرِبُ ۚ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا۟ فَثَمَّ وَجْهُ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿١١٥﴾

[١١٥]- او دا مشرق او مغرب خو (دواړه) د الله دي، نو چې هري خوا ته مخه کړئ؛ الله هملته دئ؛ يقيناً چې الله ښه پوه واسع دئ.

(١١٥)-اهل کتاب په داسي حال کې چې الله ئې هېر کړی او مشرکان شوي وو، د الله کتاب ئې شا ته غورځولی وو، د ژوند په هري برخي کې ئې جهل، فساد، ظلم او تېري ځاله کړې وه، له دين فقط څه شکلي مراسم او دود دستور ورته پاته شوي وو، خو په دې سخت پارېدلي وو چې پيغمبر عليه السلام ولي مخکينۍ قبله بدله کړه، د دوی په ځواب کې ويل شوي: اصلي مسئله الله ته مخه کول دي، ټولي خواوي د الله دي، هري خوا ته چې مخه کړئ الله هملته دئ، الله نه محدود دئ او نه مکان ته محتاج، د قبلې معنی دا نه ده چې الله په دغه خاص ځای او خاص سمت کې محدود شوی، يوه امت ته قبله د دې لپاره ټاکي چې د دوی سمت او جهت يو کړي او همدا قبله ئې د يووالي وسيله او د يوه الله لور ته د مخه کولو نښه وي، د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام د دعوت سيمه حجاز وو، د دوی لپاره ئې کعبه قبله وګرځوله، د موسی او عيسی عليهما السلام د دعوت سيمه داسي وه چې بايد بيت المقدس ئې ورته قبله کړې وی.

وَقَالُوا۟ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدًا ۗ سُبْحَٰنَهُۥ ۖ بَل لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ﴿١١٦﴾ بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿١١٧﴾

[١١٦]- او وئې ويل: الله ځانته زوی نيولی!! الله ته پاکي ده، داسي نه ده، بلکې د آسمانونو او زمکي هر څه د ده دي، ټول ده ته منقاد دي. [١١٧]- (همغه) د آسمانونو او زمکې د پيدايښت پيل کوونکی او کله چې د کوم کار پرېکړه وکړي نو فقط ورته وايي: وشه، نو کېږي.

(١١٦-١١٧)- د مشرکو او لار ورکو اهل کتاب مذهبي مشرانو به خلکو ته ويل: الله خاص نازولي بندګان لري، هغوی ته ئې خاص خاص اختيارات سپارلي، د عامو بندګانو عبادت او دعاء د دغو نازولو له لاري او د دوی په سپارښتنه او وساطت قبلوي، که څوك غواړي الله ته ورسېږي، حاجتونه ئې تر سره او دعاګاني ئې قبولي شي، بايد د دغو نازولو لاس او لمن ونيسي!! يهودانو به ويل: عزير د الله زوی دئ، مسيحيانو به ويل: عيسی د الله زوی دئ،

دا خبره دغو ټګمارو مذهبي مشرانو د دې لپاره نه کوله چې د عیسی او عزیر علیهما السلام د مقام په درناوي باندې خلك قانع کړي، نه؛ هدف ئې دا وو چې له دې لارې ځانته په عوامو کې خاص مقام تر لاسه کړي، دوی ځانونه د دغو پیغمبرانو وارثان ګڼل او په دې سره ئې په عوامو کې دا باور راپیدا کاوو چې اوس د دغو پیغمبرانو هغه مقام دوی ته راانتقال شوی، که څوك غواړي دعاګاني ئې قبولې او حاجتونه ئې تر سره شي باید دوی ته رجوع وکړي، د دوی لمن ونیسي او د شکرانو په ورکولو سره د دوی رضاء حاصل کړي، د دوی په رضاء کې د الله رضاء نغښتې ده. دوی به ویل: موږ د الله زامن او نازولي یو:

وَ قَالَتِ الْيَهُودُ وَ النَّصرَى نحْنُ أَبْنَؤُا اللَّهِ وَ أَحِبَّؤُهُ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُم بَلْ أَنتُم بَشرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ.... ﴿١٨﴾ المائدة

- يهودانو او مسيحيانو به ويل: موږ د الله زامن او محبوبان يو، ورته ووايه: نو ولې مو په خپلو ګناهونو تعذيبوي؟ داسې نه ده بلکې تاسو همغه عادي انسانان يئ چې الله پيدا کړي.

د هر انحرافي مذهب بې لارې او ټګمار مذهبي مشران همداسې شي، همداسې د پيغمبر اولاد د الله ځای ناستي او ځانونه د هغوی ځای ناستي وګڼي او له دې لارې له مذهب دکان او د عوامو د غولولو دام جوړ کړي.

دلته الله تعالی د دوی په ځواب کې فرمايي: چې د زمکې او آسمانونو هر څه د چا په واك کې وي او هر څه ده ته منقاد او تابع وي، زمکه او آسمانونه ئې پيدا کړي وي او چې د هر کار اراده وکړي نو په محض امر سره تر سره کېږي، هغه به ولې ځانته شريك، ځای ناستی او زوی غوره کوي؟ د څه لپاره به د خپل ملك د ځينو چارو واك بل ته سپاري؟ دا کار خو هغه څوك کوي چې ټولو چارو ته په خپله او يوازې او د بل له مرستې پرته نه شي رسېدی. په دې ژور او دقيق ځواب سره نه يوازې د دغو ټګمارو مذهبي مشرانو ادعاء رد شوې، بلکې د هر هغه باور او عقيدې جرړې ايستل شوې چې وايي: الله تعالی داسې خاص نازولي بندګان لري چې هغوی ته ئې خاص خاص اختيارات سپارلي او د عامو بندګانو عبادت او دعاء د دغو نازولو له لارې او د دوی په سپارښتنه او وساطت قبلوي!!

---

وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ لَوۡلَا يُكَلِّمُنَا ٱللَّهُ أَوۡ تَأۡتِينَآ ءَايَةٞۗ كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِم مِّثۡلَ قَوۡلِهِمۡۘ تَشَٰبَهَتۡ قُلُوبُهُمۡۗ قَدۡ بَيَّنَّا ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ﴿١١٨﴾ إِنَّآ

أَرۡسَلۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗاۖ وَلَا تُسۡـَٔلُ عَنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡجَحِيمِ ﴿١١٩﴾ وَلَن
تَرۡضَىٰ عَنكَ ٱلۡيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمۡۗ قُلۡ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ
ٱلۡهُدَىٰۗ وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم بَعۡدَ ٱلَّذِي جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ
مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١٢٠﴾

[۱۱۸]- او د غو بې علمو او ناپوهو هم وویل: الله ولې له موږ سره (مخامخ) خبرې نه کوي او ولې کومه څرګنده نښه نه راځي؟! همدا راز له دوی مخکینیو هم د دوی په څېر خبره وکړه، زړونه ئې سره ورته دي، بې شکه چې موږ یقین کوونکو ته دا آیتونه بیان کړي. [۱۱۹]- او بې شکه چې ته مو په حقه بشارت ورکوونکی او انذار ورکوونکی لېږلی یې او ته خو د جهنمیانو په اړه نه پوښتل کېږې. [۱۲۰]- او نه به یهودان هیڅکله له تا راضي شي او نه نصارې، تر هغه چې چې د دوی په دین پسې روان نه شې، (ورته) ووایه: یوازې د الله لارښوونه لارښوونه ده او که د دوی په هوی او هوس پسې له هغه وروسته ولاړې چې تا ته د علم څه برخه راغله، نو له الله به نه کوم مولا تر لاسه کړې او نه کوم مرستندوی.

(۱۱۸)- مشرکینو به پیغمبر علیه السلام ته ویل: دا ستا خدای ولې له موږ سره مخامخ خبره نه کوي، ولې داسې نښې نه رالېږي چې هیڅ ته د شك مجال پاته نه شي؟ دا یوازې د دوی خبره نه ده، له دوی مخکې ډېرو ناپوهانو دغه خبره کړې او له دوی وروسته به ئې ډېر نور وکړي، د دوی زړونه سره ورته دي، یو رنګ افکار او خیالات ئې په سینو کې دي. دوی نه په ټول عالم کې په دې خورو ورو بې شمېره نښو قانع کېږي او نه ستا په قوي او قانع کوونکو دلائلو، په چا کې چې د حقائقو د منلو او په واقعیتونو د اعتراف ماده وي، هغوی هرومرو په دغو دلائلو قانع کېږي، خو په دوی کې دا ماده ځپل شوې، هیڅ دلیل ئې نه شي قانع کولی.

(۱۱۹-۱۲۰)- په دې مبارکو آیتونو کې پیغمبر علیه السلام ته او د ده له لارې هر داعي ته ډېرې مهمې لارښوونې شوې، هغه ته ویل شوي:

- ته مو په حقه بشیر او نذیر لېږلی یې، د دوی د مخالفتونو پروا مه کوه، د دوی د ایمان نه راوړو پوښتنه له تا نه کېږي.
- ځیني داسې وي چې په هیڅ صورت کې او د هر راز دلائلو اورېدو او نښو له لیدو سره سره ایمان نه راوړي او له کفر او فساد لاس نه اخلي.

• د دوی د ایمان نه راوړو له کبله مه مأیوس کېږئ، مه د خپل دعوت د حقانیت په اړه شکمن کېږئ، مه دا تلوسه کوئ چي کاش د دوی د قناعت لپاره مو کافي دلائل درلودی، د الله له لوري وړاندي شوي دلائل کافي وګڼه او یوازي همدا اصلي لارښود ګڼه، خپل ګران وخت له دوی سره په بې فائده مناقشو مه ضائع کوه، په دوی کې د هدایت ماده ختمه شوې او زړونه ئې د توري تیرې په څېر دي، د هیڅا د حق وینا پرې اغېز نه کوي.

• د دوی پر ځای هغو کسانو ته مخه کړئ چي د حق منلو او له حقپالو سره د ملګرتیا چمتو والی او وړتیا په کې ګورئ.

• د دوی د راضي کولو او د دوی د دښمنۍ د راکمولو هڅه مه کوئ، تر هغه چي تاسو له حق ویلو لاس وانخلئ او خپل دین او خپله لار پرې نژدئ او د دوی لار او مذهب ونه منئ؛ دوی نه درنه راضي کېږي.

• که په دې حقائقو له پوهېدو وروسته مو د دوی د راضي کولو هڅه وکړه، د دوی شرائطو ته تسلیم شوئ او د دوی له هوی او هوس راولاړه شوې لاره مو غوره کړه، نو پوه شئ چي له الله سره مو ټولې اړیکي شلېدلې، نه مو هغه مولا او مرستندوی دئ او نه به بل مولا او مرستندوی پیدا کړئ.

ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَتۡلُونَهُۥ حَقَّ تِلَاوَتِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۗ وَمَن يَكۡفُرۡ بِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿١٢١﴾

[۱۲۱]- هغه چي کتاب مو ورکړی او په حقه ئې تلاوت کوي، هغوی به پرې ایمان راوړي او څوک چي ترې انکار کوي نو دوی زیانمن او خاسر دي.

(۱۲۱)- څوک چي د الله کتاب په حقه او هغسي لولي چي له دې کتاب سره ښایي، هغه به هرو مرو په دې کتاب هم ایمان راوړي او څوک چي په دې کتاب ایمان نه راوړي؛ دنیا او آخرت ئې تباه دئ؛ هیڅ څه ورته ګټه نه شي رسولی.

يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٢٢﴾ وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا تَنفَعُهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴿١٢٣﴾

[۱۲۲]- اې بني اسرائیلو! زما هغه نعمتونه درپه یاد کړئ چي پر تاسو مي پېرزو کړل

او تاسو ته مو په ټولو نړۍ والو فضیلت درکړ. [۱۲۳]- او له هغې ورځې ووېرېږئ چې نه یو کس د بل کس مجازات په غاړه اخیستی شي، نه څه بدله ترې منل کېږي او نه کوم شفاعت ورته ګټه رسولی شي او نه ئې مرسته کېدی شي.

(۱۲۲-۱۲۳)- دا مبارك آیتونه مخکې هم تېر شوي، په تکرار سره د دې مطلب راتلل دا ښیي چې په دې کې د بني اسرائیلو د عملي او اعتقادي انحرافاتو اساسي ټکو ته اشاره کېږي، دا د دوی د شرك او فساد جرړې په ګوته کوي.

وَإِذِ ٱبْتَلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٍ فَأَتَمَّهُنَّ ۖ قَالَ إِنِّى جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا ۖ قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِى ۖ قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٢٤﴾

[۱۲٤]- او کله چې خپل رب ئې ابراهیم په څو خبرو وآزمویلو، چې ده تر سره کړې، وئې فرمایل: زه خو دې د خلکو لپاره د یوه امام او پیشوا جوړونکی یم، وئې ویل: او زما له اولاد هم، وئې فرمایل: زما ژمنه ظالمانو ته نه رسېږي.

(۱۲٤)- ابراهیم علیه السلام له ګڼ شمېر الهي آزموینو سره مخامخ شو، د پلار او قوم مخالفت، زندان ته تګ، په اور کې لوېدل، هجرت او وطن پرېښودل، د مکې په وېرووونکې وچې بیدیا کې هاجر او اسمعیل یوازې پرېښودل، د اسمعیل په ذبح کولو ئې ګمارل، ... هغه په ټولو دغو الهي آزموینو کې بریالی شو، د دې بریا بدله او جزاء دا وه چې د خلکو د امامت او مشرۍ مقام ئې په برخه شي، الله تعالی ورته وفرمایل چې اوس نو ته د خلکو د امامت وړ یې، دا مقام تا ته سپارم. تمنی ئې وکړه چې کاش د خلکو د لارښوونې دا مقام د ده د اولاد هم په برخه شي! الله تعالی وفرمایل: زما په دې فرمان کې ظالمان نه دي شامل، ظالمان که څه هم ستا زامن وي د دې جلیل مقام وړ نه دي.

ډېره عجیبه او د حیرانتیا وړ خبره ده چې دلته هم ځینو خلکو د دې پر ځای چې دا ابتلاءات همغه وګڼي چې په قرآن کې راغلي؛ په خلاف ئې د نوکانو د قطع کولو او د اضافي ویښتانو د خریيلو په څېر څو کارونه ئې ګڼي!!

بني اسرائیل په دې غره وو چې د ابراهیم علیه السلام اولاد دي، ګڼ شمېر پیغمبران په دوی کې مبعوث شوي، دوی د دغو پیغمبرانو ورثه دي، د خلکو امامت او زعامت د دوی حق دئ، دوی د جنت لپاره او جنت د دوی لپاره پیدا شوی،... دلته د دوی د دې غلطو او بې بنسټه تصوراتو د نفي لپاره ویل شوي چې له ابراهیم علیه السلام سره د الله تعالی په هغې وعدې کې چې د خلکو امامت به د ده اولاد ته سپاري، ظالمان نه دي شامل، تاسو د

ابراهیم علیه السلام له طریقې عدول کړی، ستاسو ظلم او شرك تاسو د هغه له وراثت او امت ایستلي یاست، د الله په وړاندې د خپلوۍ اړیکې، قومي او نسلي تعلقات هیڅ ارزښت نه لري، په دې اساس د خلکو په اړه فیصله نه کوې، ټول ئې له یوې مادې او له یوې جوړې پیدا کړي، له بندګانو سره د الله معامله د دوی د ایمان او عمل له مخې وي؛ نه د جاه او نسب له مخې.

وَإِذۡ جَعَلۡنَا ٱلۡبَيۡتَ مَثَابَةٗ لِّلنَّاسِ وَأَمۡنٗا وَٱتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبۡرَٰهِـۧمَ مُصَلّٗىۖ وَعَهِدۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيۡتِيَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلۡعَٰكِفِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ﴿١٢٥﴾ وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ رَبِّ ٱجۡعَلۡ هَٰذَا بَلَدًا ءَامِنٗا وَٱرۡزُقۡ أَهۡلَهُۥ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ مَنۡ ءَامَنَ مِنۡهُم بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ قَالَ وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُۥ قَلِيلٗا ثُمَّ أَضۡطَرُّهُۥٓ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلنَّارِۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ﴿١٢٦﴾

[١٢٥]- او کله چې مو دا (د کعبې) کور د خلکو لپاره د غونډېدو ځای او د امن سبب وګرځاوو او (ومو ویل:) د ابراهیم د اقامت ځای، د لمانځه ځای وګرځوئ او ابراهیم او اسمعیل ته مو دا حکم ولېږو چې زما کور د طواف کوونکو، اعتکاف کوونکو او رکوع سجده کوونکو لپاره پاك کړئ. [١٢٦]- او کله چې ابراهیم وویل: اې زما ربه! دا یو خوندي ښار وګرځوه او هغو اوسېدونکو ته ئې له مېوو روزي ورکړه چې پر الله او آخرت ئې ایمان راوړ، وئې فرمایل: او څوك چې کافر شو نو لږ به ئې (د دنیا له متاع) برخمن کړم، بیا به ئې د اور په لوري (تلو ته) اړ کړم او څومره بده ده دا ورګرځېدنه.

(١٢٥-١٢٦)- په دې مبارکو آیتونو کې څو مهمې خبرې د خاص پام وړ دي:

- مشرکینو ته ویل شوي: دا تاسو څنګه ځان ابراهیم علیه السلام ته منسوبوئ، حال دا چې هغه مأمور شوی وو چې د کعبې په جوړولو سره دا ټوله سیمه له شرك، کفر، فساد او ظلم پاکه کړي، خو تاسو همغه کعبه له بتانو ډکه کړې، د ده د دعاء او تمنی خلاف تاسو د همغه کعبې شا و خوا ته د بې امنیو اورونه بل کړي او د الله کور ته د طواف کوونکو د راتلو مخه نیسئ!!
- دا اصل توضیح شوی چې الله تعالی هغه دعاګانې نه قبلوي چې د ده د سننو خلاف وي، که دا حتی د ابراهیم علیه السلام په څېر د ستر شخصیت له لوري هم وي، نه ئې د

ده هغه دعاء قبوله کړه چې د خپل اولاد په اړه ئې وکړه او نه دا چې يوازې مؤمنانو ته رزق او روزي ورکړي، دا ځکه چې د روزي په اړه د الله سنت دا دئ چې له محاسبې پرته مؤمن او کافر ته روزي ورکوي او د امامت په اړه ئې سنت دا دئ چې ظالمانو ته ئې نه سپاري؛ هغه چا ته ئې سپاري چې په الهي آزموينو کې بريالی شي. له دې آيت دا هم معلومېږي چې هر زعامت او واکمني د امامت په زمره کې نه راځي، ظالم واکمنان او په زور مسلط شوي مشران په اصل کې د بې لارې ولسونو د مجازات وسيله وي. ځيني وګړي دا دواړه نه شي تفکيکولی، هر واکمن ته د داسې چا په سترګه ګوري چې ګواکې د الله تعالی ستره پېرزوينه ئې په برخه شوې او د دې سترې الهي پېرزوينې وړ او مستحق دئ!! حال دا چې يو امامت داسې دئ لکه د ابراهيم عليه السلام امامت او بل ئې داسې دئ لکه د فرعون، يو ئې د خلکو د لارښوونې لپاره او د دوی د صالح عملونو بدله وي او بل ئې د خلکو د بدو عملونو محصول او د دوی د تعذيب وسيله.

وَإِذۡ يَرۡفَعُ إِبۡرَٰهِـۧمُ ٱلۡقَوَاعِدَ مِنَ ٱلۡبَيۡتِ وَإِسۡمَٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿١٢٧﴾ رَبَّنَا وَٱجۡعَلۡنَا مُسۡلِمَيۡنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَآ أُمَّةٗ مُّسۡلِمَةٗ لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبۡ عَلَيۡنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٢٨﴾ رَبَّنَا وَٱبۡعَثۡ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُزَكِّيهِمۡۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿١٢٩﴾

[۱۲۷]- او کله چې ابراهيم او اسمعيل د دې کور بنسټونه جګول، (او ويل ئې:) اې زموږ ربه! له موږ ئې قبول کړه، بې شکه چې ته خو ښه پوه اورېدونکی يې. [۱۲۸]- اې زموږ ربه! موږ دواړه درته منقاد او تابع وګرځوه او له اولادې مو تا ته يو منقاد امت او موږ ته زموږ ديني مناسك راوښيه او توبه مو قبوله کړه، يقيناً چې ته ډېر مهربان توبه قبلوونکی يې. [۱۲۹]- اې زموږ ربه! په دوی کې په خپله له دوی داسې پيغمبر مبعوث کړه چې ستا آيتونه پرې لولي، کتاب او حکمت ورښيي او روزنه ئې کوي، بې شکه چې همدا ته باحکمت عزتمن يې.

- (۱۲۷)- الله تعالی اراده کړې وه چې په مکه کې د توحيد بنسټ کېښودی شي او دلته کعبه او د موحدينو د راغونډېدو مرکز جوړ شي، غوښتل ئې دا مرکز د يوه ستر موحد او بت ماتوونکي په مبارك لاس بناء شي، ابراهيم او د ده سرتېری زوی اسمعيل عليهما السلام

ئې د دې ستر کار لپاره غوره کړل، هغه په عراق کې د یوه بت لمانځونکي او بت جوړوونکي په کور کې پیدا شو، د نمرود تر سلطې لاندې یوې شرك وهلې جاهلې ټولنې کې، هلته چې خلك هم د ژوندي نمرود په وړاندې سر ټیټوي او هم له مرگ وروسته د ده مجسمې ته!! خو ابراهیم علیه السلام ته نه د مړه بت لمانځل د منلو وو او نه د ظالم نمرود واکمني، پلار او قوم ته ئې ویل: دا ستاسو د لاس او ذهن مولود جعلي خدایان نه منم، نه دا بتان، نه دا لمر، سپوږمۍ او ستوري او نه هیڅ فنا کېدونکی په خدایئ منم، الله همغه دئ چې هر څه ئې پیدا کړي. خو کله چې ئې ولیدل دا خلك یوازې د ده په بلنې او استدلال له شرك لاس نه اخلي، پرېکړه ئې وکړه چې دا بتان رانسکور کړي، پوهېدو چې هم د نمرود ظالمانه واکمني د دغو بتانو په بنسټ ولاړه ده او هم د ولس د مظلومیت او په خوارۍ، ذلت او جهل کې د ژوند کولو عامل ئې همدا بتان او د هغوی لمانځنه. نه ئې د ولس د انتقام پروا وکړه او نه د نمرود له غضب وېره، یوازې وو، له یوه تبر پرته ئې بل څه نه شو برابرولی، خو دغو اندېښنو د ده اراده او عزم نه شو بدلولی، تبر په لاس د بتانو خونې ته ننوت، ټول ئې یو په بل پسې رانسکور کړل او تبر ئې د ستر بت په غاړه کې ځوړند کړ او له خونې په ډاډه زړه ووت. خلك له مېلې راوگرځېدل، هلته ئې نمرود لمانځلی وو، کور ته له تلو مخکې باید د نمرود بتان هم ولمانځي، خو دلته ئې ناڅاپه ټول بتان مات، نسکور او نړېدلي وموندل او ستر بت مزید سپك شوی، تبر ئې په غاړه کې، د نورو د ماتولو اتهام ورته متوجه، خو نه اتهام ردولی شي او نه اصلي ماتوونکی ښودلی شي، دا همغه خدایان وو چې خلکو له دوی د خپلو حاجتونو تر سره کېدو او د ستونزو د حل طمع کوله او دا ورته تلقین شوې وه چې د ستونزو د حل مرجع دغه ده، ستاسو د مشکلاتو عامل نظام او واکمنان ئې او د دوی تصرفات نه دي، مشکلات مو له دې راولاړ شوي چې دا خدایان له تاسو ناراض دي؛ او دا هغه څه دي چې هر نمرودي نظام تر هر څه مخکې او زیات ورته ضرورت لري. له ابراهیم پرته بل څوك په دې کار نه شو تورن کېدی، هغه ئې راحاضر کړ، پوښتنه ئې وکړه: دا کار تا کړی؟ ابراهیم علیه السلام د داسي غونډې، همدې حالت او د بت لمانځونکو داسي یوې پوښتنې ته منتظر وو، وئې ویل: تبر خو د ستر بت په غاړه کې دئ، له هغه پوښتنه وکړئ که خبرې کولی شي!! ځواب ئې ورکړ: ابراهیمه! ته خو پوهېږې چې دوی خبرې نه شي کولی! هغه همدا ځواب غوښتو، وئې ویل: نو دا تاسو څنگه د هغه څه عبادت کوئ چې نه خبرې کولی شي، نه له ځانه ضرر دفع کولی شي، نه بل ته گټه رسولی شي، افسوس پر تاسو او ستاسو پردغو معبودانو!! د قوم او د دوی د سالار نمرود پرېکړه معلومه وه، زندان، په اور سوزول، داسي سزا چې د نورو لپاره عبرت شي. خو

ابراهيم عليه السلام د نمرود له لوري د ده د مرگ او سوزولو د پرېکړې د اورېدو په ځواب کې وويل: د مرگ ژوند پرېکړه هغه ذات کوي چې دا لمر له مشرق راپورته کوي او په مغرب کې ئې پرې باسي!! اور ته د لوېدو په وخت کې ئې ويل: الله راته کافي دئ، همغه تر ټولو غوره وکيل او نصير. دا ابراهيم ئې د کعبې د جوړولو لپاره له سوزېدو وژغورو، له عراق ئې شام ته او بيا له هغه ځايه مکې ته راوست، دلته ئې په بې اوبو او وحشتناك بيابان کې د هاجر او تې خور اسمعيل يوازې پرېښودو امر ورته وکړ، په دې ستر امتحان کې هم بريالی شو، کله چې اسمعيل ځوانۍ ته ورسېد، په خوب کې ئې داسي څه وليدل چې د اسمعيل د قرباني کولو اشاره ئې ور ته کوله، د ده لپاره همدا اشاره کافي وه، زوی ته ئې دا خبره وکړه، هغه په ځواب کې ورته وويل: پلار جانه! څه چې درته ويل شوي، هغه تر سره کړه، ما به صابر او مطيع ومومې، په دې لوی او خطرناك امتحان کې دواړه بريالي شول او اوس نو دوی د هغه ستر کار لپاره جوگه شوي چې د زمکې پر سر د الله مبارك کور، کعبه، د موحدينو قبله د دوی په لاس جوړه شي، کله چې دوی د دېوالونو په اوچتولو لگيا او تيږې ئې يوه د بلې پر سر اېښودې، دا وينا ئې په ژبه وه: اې زموږ ربه! له موږ ئې قبول کړه، بې شکه چې ته خو ښه پوه اورېدونکی يې. اې زموږ ربه! موږ دواړه درته منقاد او تابع وگرځوه او له اولاد مو تا ته يو منقاد امت، او موږ ته زموږ ديني مناسك راوښيه او توبه مو قبوله کړه، يقيناً چې ته ډېر مهربان توبه قبلوونکی يې. په هغې وېروونکې بېديا کې د دوو مهاجرو او له خپل هېواد؛ شړل شوو په لاس چې کوم کور جوړ شو، دا دئ څلور زره کاله وروسته هم، هر کال تر شلو لکو زيات خلك د هغه طواف کوي، همته د دوی پر پله گام ږدي او همغه څه کوي چې دوی دواړو له خپل رب غوښتي وو.

(۱۲۸-۱۲۹)- په دې مبارکو آيتونو کې د بني اسرائيلو او هرې هغې مذهبي ډلې غلط تصورات رد شوي چې مذهب او مذهبي مقام موروثي گڼي او گمان کوي چې له پلار اولاد ته په ميراث رسي او دا طمع لري چې پيغمبرانو او د الله دوستانو ته د انتساب له امله د الله د پېرزوينو وړ، د امامت وارث او د جنت مستحق دي، دوی ته ويل شوي چې نه مذهب او عقيده داسي شيء دئ چې په ميراث وړل کېدی شي او نه مذهبي مقام داسي مقام دئ چې له پلار اولاد ته په ميراث رسېدی شي، د الله په دين کې له هر چا سره معامله د ده د عقيدې او عمل له مخې کېږي، له هر چا به د خپلو کړنو پوښتنه کېږي، پيغمبرانو ته ځان منسوبول او ځان د دوی د مقام او منزلت وارث گڼل او له دې لارې د امتيازاتو تر لاسه کول، دا هغه کارونه دي چې د بني اسرائيلو ټگمارو مذهبي مشرانو کول. دوی ځان د الله د خاصې کورنۍ غړي، د پيغمبرانو ورثه او ځای ناستي گڼل او ابراهيم

عليه السلام ته ئې ځان منسوباوو، الله تعالی د دوی په ځواب کې فرمايي: ابراهيم مشرك نه وو، خپل اولاد ته ئې دا غوښتي وو چې د خلکو د ارشاد او هدايت لپاره ئې امامت او قيادت په برخه شي، خو الله تعالی د ده د غوښتني په ځواب کې ويلی وو: دا مقام د ظالمانو نه شي په برخه کېدی، ابراهيم عليه السلام خو کعبه د دې لپاره جوړه کړه چې دا د امن کور وي، د امن وسيله وي، دلته خلك په ډاډ او اطمئنان سره د الله عبادت او ذکر وکولی شي، ده خو دا تمنی کړې وه چې د دې سيمي اوسېدونکي د الله شاکر بندگان وي، تل په دوی کې داسي پيغمبران مبعوث شي چې دوی ته دين وښيي او له گناهونو ئې وژغوري، ده خو خپل اولاد ته د دې توصيه کړې وه چې د يوه الله عبادت به کوي، د ابراهيم او ستاسو د جد يعقوب عليهما السلام توصيه خو دا وه، تاسو څنگه له خپل شرك، فساد، ظلم، د دين او ديندارانو له دښمنۍ سره سره ځان هغوی ته منسوبوئ؟!!

وَمَن يَرْغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبْرَٰهِـۧمَ إِلَّا مَن سَفِهَ نَفْسَهُۥۚ وَلَقَدِ ٱصْطَفَيْنَٰهُ فِى ٱلدُّنْيَاۖ وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٣٠﴾ إِذْ قَالَ لَهُۥ رَبُّهُۥٓ أَسْلِمْۖ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٣١﴾ وَوَصَّىٰ بِهَآ إِبْرَٰهِـۧمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ يَٰبَنِىَّ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰ لَكُمُ ٱلدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٣٢﴾

[١٣٠]- له هغه چا پرته چې خپل ځان ئې تحميق کړی وي بل به څوك د ابراهيم له دين مخ واړوي، په داسي حال کې چې هغه مو په دنيا کې غوره کړ او په آخرت کې به هغه له صالحينو وي. [١٣١]- هغه وخت چې خپل رب ورته وويل: تابع او تسليم اوسه، وئې ويل: د عالمونو رب ته (لا د مخه) تسليم او تابع يم. [١٣٢]- او په دې باندې خو هم ابراهيم خپلو زامنو ته وصيت کړی وو او هم يعقوب؛ چې اې زما زامنو! الله تاسو ته دا دين غوره کړی؛ نو مه مرئ مگر په داسي حال کې چې مسلمان وئ.

(١٣٠-١٣٢)- د ابراهيم عليه السلام خو لويه نښه دا وه چې الله ته منقاد او تسليم وو، ده او لمسي ئې، يعقوب عليه السلام خپل اولاد ته د دې سپارښتنه کړې وه چې مرگ ژوند به مو په اسلام او د الله په بندگۍ کې وي، تل به د الله اوامرو ته غاړه ږدئ. تاسو په کومه خوله او کوم مخ ځان دوی ته منسوبوئ؟

أَمۡ كُنتُمۡ شُهَدَآءَ إِذۡ حَضَرَ يَعۡقُوبَ ٱلۡمَوۡتُ إِذۡ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعۡبُدُونَ مِنۢ بَعۡدِيۖ قَالُواْ نَعۡبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ ءَابَآئِكَ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗا وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ۝١٣٣ تِلۡكَ أُمَّةٞ قَدۡ خَلَتۡۖ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَلَكُم مَّا كَسَبۡتُمۡۖ وَلَا تُسۡـَٔلُونَ عَمَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ۝١٣٤

[۱۳۳]- آیا هغه وخت تاسو حاضر وئ چې یعقوب ته مرګ رانږدې شو، هغه وخت چې ده خپلو زامنو ته وویل: له ما وروسته به د څه عبادت کوئ؟ وئې ویل: ستا د معبود او ستا د پلار نیکه، ابراهیم، اسمعیل او اسحاق معبود، هغه یوازینی معبود او موږ ورته تسلیم شوي یو. [۱۳٤]- دا خو یوه تېره شوې ډله ده، چې دوی ته به خپله لاسته راوړنه وي او تاسو ته خپله لاسته راوړنه او تاسو به د دوی له کړنو نه پوښتل کېږئ.

(۱۳۳-۱۳٤)- یعقوب علیه السلام خو له خپلو زامنو دا ژمنه اخیستې وه چې د یوازیني رب عبادت به کوئ او هغه ته به تسلیم وئ، یو مشرك قوم چې له الله علاوه د ګڼ شمېر معبودانو عبادت کوي، د الله مطیع بندګان ئې له هغه سره په خدایۍ کې شریك کړي، په هر څه کې د الله له اوامرو سرغړونه کوي، دوی څنګه ځان د ابراهیم علیه السلام په څېر د یوه ستر موحد وارث ګڼي. تېرو شخصیتونو ته ځان منسوبول څه ګټه لري چې الله تعالی هر چا ته د خپل عمل له مخې سزا ورکوي، هر چا ته خپلې لاسته راوړنې په لاس ورځي او یو د بل په کړنو نه نیول کېږي.

وَقَالُواْ كُونُواْ هُودًا أَوۡ نَصَٰرَىٰ تَهۡتَدُواْۗ قُلۡ بَلۡ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِـۧمَ حَنِيفٗاۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ۝١٣٥ قُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَمَآ أُنزِلَ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَآ أُوتِيَ ٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ۝١٣٦

[۱۳۵]- او وئې ویل: یا یهودي شئ یا نصراني چې سمه لار وموموئ! ورته ووایه: نه؛ بلکې د ابراهیم دین (سم لارښود دئ) چې حنیف وو او له مشرکانو؛ نه وو. [۱۳٦]- ووایئ: پر الله مو ایمان راوړی او په هغه څه چې موږ ته نازل کړی شوي او ابراهیم،

اسمعیل، اسحاق، یعقوب او اولادې ته ئې نازل کړی شوي او په هغه څه چې موسی او عیسی ته ورکړی شوي او په هغه چې نورو ټولو پیغمبرانو ته د خپل رب له لوري ورکړی شوي، د دوی په هیڅ یوه کې هم فرق نه کوو او موږ هغه ته منقاد او تسلیم یو.

(۱۳۵-۱۳۶)- د دوی گمان او ادعاء دا وه چې په یهودي او نصراني کېدو سره خلك سمه لار موندلی شي، الله تعالی د دوی په ځواب کې فرمايي: سمه لار خو د ابراهیم علیه السلام لار ده، حق ته مائل او له شرك بریٔ، هغه خو تل حق ته تسلیم او له شرك بېزار وو، تاسو خو د حق مخالفت کوئ او مشرك شوي یئ، د دې وړ نه یاست چې ابراهیم علیه السلام ته ځان منسوب کړئ، د هغه په لار خو تاسو نه بلکې موږ روان یو، دا موږ یو چې ټول پیغمبران او په دوی نازل شوي کتابونه منو، د حق هره خبره منو، د هر چا له خوا چې وي او په هر کتاب کې چې راغلې وي.

فَإِنۡ ءَامَنُواْ بِمِثۡلِ مَآ ءَامَنتُم بِهِۦ فَقَدِ ٱهۡتَدَواْۖ وَّإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا هُمۡ فِي شِقَاقٖۖ فَسَيَكۡفِيكَهُمُ ٱللَّهُۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿١٣٧﴾

[۱۳۷]- نو که ئې همغسې ایمان راوړ چې تاسو پرې راوړی نو هدایت شوي به وي او که ئې مخ واړاوو نو دوی به په داسې اختلاف کې (پرېوتي) وي چې الله به حتماً د دوی (د مخالفت) په مقابل کې تا ته کفایت وکړي او هغه خو ښه پوه اورېدونکی دئ.

(۱۳۷)- مسلمانانو ته لارښوونه شوې چې د اهل کتاب د مذهبي مشرانو تبلیغاتو ته اهمیت مه ورکوئ، دوی سمه لار ورکه کړې، یوازې په هغه صورت کې ئې په سمې لارې برابر وگڼئ چې عقیده او عمل ئې د مؤمنانو په څېر وي، د دوی د مخالفتونو او دښمنۍ په وړاندې الله درته کافي دئ، هغه هم د دوی د مخالفت خبري او هم ستاسو د حق بلنه اوري، هم ستاسو له حالت ښه خبر دئ او هم د دوی له حالت.

صِبۡغَةَ ٱللَّهِ وَمَنۡ أَحۡسَنُ مِنَ ٱللَّهِ صِبۡغَةٗۖ وَنَحۡنُ لَهُۥ عَٰبِدُونَ ﴿١٣٨﴾ قُلۡ أَتُحَآجُّونَنَا فِي ٱللَّهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمۡ وَلَنَآ أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ أَعۡمَٰلُكُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُخۡلِصُونَ ﴿١٣٩﴾

[۱۳۸]- (همدا راز ووایئ:) الهي رنگ (مو غوره کړی) او تر الله به څوك په رنگ کې

غوره وي او موږ د ده عبادت کوونکي يو. [۱۳۹]- ورته ووايه: آيا له موږ سره د الله په اړه شخړه کوئ؟! په داسې حال کې چې هغه هم زموږ رب دئ او هم ستاسو رب او موږ ته به خپل عملونه وي او تاسو ته خپل عملونه او موږ هغه ته مخلص يو.

(۱۳۸)- نصرانيانو د نورو جاهلو قومونو په څېر د الله پر دين عمل کول پرېښود او له ځانه ئې د دين تر نامه لاندې څو داسې مسخره دودونه جوړ کړل چې گمان ئې کاوو په دې سره الله تعالى د دوى له ټولو گناهونو تېرېږي او د جنت ټولې دروازې ئې پر مخ پرانيستل کېږي، همدا چې ماشوم به ئې پيدا شو په زيړو اوبو کې به ئې غوټه کړ او په همدې سره به هغه مسيحي او د عيسى عليه السلام په مخلصو امتيانو کې شامل شو، داسې چې نور نو هيڅ گناه هغه له دې ډلې نه شي ايستلى او هيڅ عمل ئې له جنت نه شي محرومولى، په اونۍ کې يوه ورځ د يکشنبې په ورځ کليسا ته تگ، يوه ترانه ويل او د سينې په ښي او کيڼ اړخ او تندي باندې داسې لاس اېښودل چې د صليب نښه تمثيل کړي، همدا کافي ده چې الله درنه راضي او جنت دې په برخه شي!! نور نو شرك، شراب، سود، زنا، د خوگ غوښه، د بل په حق تېرى او بله هره گناه د زيړو اوبو په پاشلو سره محو کېږي. مؤمنانو ته ويل شوي: دغو بې عقله او لار ورکو اهل کتاب ته ووايئ: اصلي خبره دا ده چې څوك په الهي رنگ رنگ شي، هغه صفات په کې راپيدا شي چې الله ئې خوښوي، ژوند ئې داسې وي چې په هرې برخې کې ئې د الهي دين رنگ احساس شي، دعاء او عبادت ئې يوازې د يوه الله لپاره وي او په دې کې بل رنگ ونه ليدى شي.
(۱۳۹)- په داسې حال کې چې موږ په همغه الله باور لرو چې تاسو هم پرې د ايمان دعوى کوئ او په داسې حال کې چې موږ ته به د خپلو عملونو سزا راکول کېږي او تاسو ته د خپلو عملونو سزا او په داسې حال کې چې موږ خپل عبادت او ديانت د شرك له هرې گندگۍ سوچه کړى دئ، له موږ سره ستاسو د مخالفت او دښمنۍ وجه څه ده؟!!

أَمۡ تَقُولُونَ إِنَّ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطَ كَانُواْ هُودًا أَوۡ نَصَٰرَىٰۗ قُلۡ ءَأَنتُمۡ أَعۡلَمُ أَمِ ٱللَّهُۗ وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن كَتَمَ شَهَٰدَةً عِندَهُۥ مِنَ ٱللَّهِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿١٤٠﴾

[۱٤۰]- آيا تاسو دا وايئ چې ابراهيم، اسمعيل، اسحاق او يعقوب او اولاد ئې يهوديان او نصرانيان وو؟! ورته ووايه: تاسو ښه پوهېږئ او که الله؟ او تر هغه به لوى ظالم څوك وي چې له ځان سره کوم الهي شهادت پټ کړي؟ او الله خو له هغه

څه چې تاسو ئې کوئ غافل نه دئ.

(۱٤۰)- يهودو او مسيحيانو دواړو دا دعوی کوله چې د دوی مذهب همغه دئ چې د ابراهيم، اسمعيل، اسحاق او يعقوب عليهم السلام او د دوی د اولاد وو، خو هري ډلي بله تکفيروله، دواړو حقيقي دين پېژنولو، دواړه په عمل کې له دين بې لاري شوي وو. نه ئې عقيده سمه وه او نه عمل.

تِلۡكَ أُمَّةٞ قَدۡ خَلَتۡۖ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَلَكُم مَّا كَسَبۡتُمۡۖ وَلَا تُسۡـَٔلُونَ عَمَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٤١﴾

[۱٤۱]- دا خو يوه ډله وه چې تېره شوه، دوی ته به خپله لاسته راوړنه وي او تاسو ته خپله لاسته راوړنه او تاسو به د دوی له کړنو نه پوښتل کېږئ.

(۱٤۱)- دا مختصر آيت د دې مبارکې سورې د دوهمي برخي عنوان دئ او د ټولو هغو جامع او ژورو مطالبو خلاصه وړاندې کوي چې په تېرو۷۱ آيتونو کې په مشرح او مفصله توګه راغلي. په دې کې نه يوازې د دين يو بنيادي اصل توضيح شوی، بلکې د مذهبي انحراف يوه اساسي او بنيادي اړخ ته هم ګوته نيول شوې، د دين اساسي خبره دا ده چې هر څوك به د خپل عمل سزا ګوري، يو د بل پېټی نه شي وړی، يو د بل لپاره نه مجازات کېږي، نه پلار د زوی په ګناه نيول کېږي او نه زوی د پلار د ښو عملونو له امله جنت ته درومي، هر څوك به د خپلو لاسته راوړنو پېټی په اوږو وړي؛ او د مذهبي انحراف تر ټولو ستره او اساسي خبره دا ده چې د الله صالحو بندګانو ته د انتساب تر نامه لاندې څوك ځان د جنت مستحق او د مذهب وارث وګڼي او له دې لاري د امتيازاتو د تر لاسه کولو په لټه کې وي، مذهب قومي رنګ غوره کړي، قومي تعصب ته د مذهب جامه ورواغوستل شي او مذهبي مشران ئې ځان د پيغمبرانو د امتيازاتو وارث وګڼي نه د دوی د مسئوليتونو او دندو وارث. الله تعالی دا نه خوښوي چې څوك د ده صالحو بندګانو ته خپل ناوړه عمل او ناسمه عقيده منسوب کړي، هم د مذهب نوم بد کړي او هم د الله د صالحو بندګانو نوم.

الله تعالی په دې آيت کې مسلمانانو ته لارښوونه کوي چې د مخکينيو صالحانو په اړه له جاهلانو سره په شخړو او منازعاتو کې ځان مه مصروفوئ، د دې پر ځای خپل عمل ته پام وکړئ، هغه څه چې تاسو له عذاب ژغورلی شي ستاسو خپل عمل دئ نه بل څه.

دا مسئله نه يوازې په مکه او مدينه کې او له مشرکانو او يهودانو سره يوه کشاله وه

بلکې دا اوس هم اکثر مذهبي اختلافات له دغه ذهنيت خروبېږي چې يو دې مخکيني منلي شخصيت ته ځان منسوبوي او بل ئې بل ته، يو ځان د پيغمبر د اهل بيت محب او وارث ګڼي او له پيغمبر عليه السلام وروسته علي رضي الله عنه او زامن ئې د هغه ځای ناستي او د خلافت اصلي او يوازيني وارثين بولي او ابو بکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم او ټولو هغو صحابه وو ته د غاصب په سترګه ګوري چې له علي رضي الله عنه پرته ئې له بل چا سره بيعت کړی او د بل په خلافت راضي شوي، حال دا چې علي رضي الله عنه په خپله له مخکينيو خلفاءو سره بيعت کړی او خپله لور ئې عمر ته په نکاح ورکړې. د امام حسين رضي الله عنه لپاره به د محرم په ورځو کې توره جامه اغوندي او په کربلا کې به د هغه د شهادت وير کوي، خو په عمل کې به په کربلا او نجف باندې د صليبي ځواکونو د بريد په وخت کې د يرغلګرو مرسته کوي او د دوی په لاس د زرګونو هغو مسلمانانو د وژلو به هيڅ پروا نه کوي چې د امام حسين په څېر د ظلم او تېري مقابله کوي!! پر يزيد به لعنت وايي خو په عمل کې به تر يزيد د لا زيات ظالمو واکمنانو ملګرتيا او له بې دينه، منافق، ظالم او مفسدو واکدارانو سره بيعت کوي!! که د پيغمبر عليه السلام په ژوند کې دومره مسلمانان په عراق او افغانستان کې وژل شوي وی؛ مګر هغه مبارک به د کربلا تر شهيدانو په دغو شهيدانو زيات نه وو خواشينی شوی؟!!

سَيَقُولُ ٱلسُّفَهَآءُ مِنَ ٱلنَّاسِ مَا وَلَّىٰهُمۡ عَن قِبۡلَتِهِمُ ٱلَّتِي كَانُواْ عَلَيۡهَاۚ قُل لِّلَّهِ
ٱلۡمَشۡرِقُ وَٱلۡمَغۡرِبُۚ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿١٤٢﴾ وَكَذَٰلِكَ
جَعَلۡنَٰكُمۡ أُمَّةٗ وَسَطٗا لِّتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ وَيَكُونَ ٱلرَّسُولُ
عَلَيۡكُمۡ شَهِيدٗاۗ وَمَا جَعَلۡنَا ٱلۡقِبۡلَةَ ٱلَّتِي كُنتَ عَلَيۡهَآ إِلَّا لِنَعۡلَمَ مَن يَتَّبِعُ
ٱلرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِۚ وَإِن كَانَتۡ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى ٱلَّذِينَ هَدَى
ٱللَّهُۗ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَٰنَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ﴿١٤٣﴾

[۱٤۲]- ژر ده چې د خلکو ناپوهان به ووايي: څه شي له خپلې هغې قبلې واړول چې پرې (معتقد) ول، ورته ووايه: ختيځ او لوېديځ (دواړه) د الله دي، هغه څوک مستقيمې لارې ته هدايت کوي چې دی ئې په خپله وغواړي. [۱٤۳]- او همدا راز مو تاسو غوره امت وګرځولئ، چې تاسو پرخلکو شاهدان وئ او پيغمبر پر تاسو

شاهد وي؛ او ستا مخکینۍ قبله مو له دې پرته د بل څه لپاره نه وه ګرځولې چې معلومه کړو څوك د پیغمبر متابعت کوي او څوك پر خپلو پوندو بېرته ګرځي؛ او دا خو یقیناً ګران کار دئ مګر هغو ته چې الله هدایت کړي وي او الله داسي نه دئ چې ستاسو عملونه ضائع کړي، یقیناً چې الله پر خلکو ډېر مهربان رؤف دئ.

(١٤٢-١٤٣)- په دې مبارك آیت سره د دې سورې درېیمه برخه شروع کېږي، له دې وروسته د سورې تر پایه د ژوند د بېلو بېلو قضایاوو په اړه احکام راغلي، پیل ئې د قبلې له حکم شوی. پیغمبر علیه السلام په مکه او مدینه کې د دې آیت تر نازلېدو پورې په لمانځه کې د بیت المقدس لوري ته مخامخ ودرېدو، دا په داسي حال کې چې د قریشو قبله کعبه وه، د پلار نیکه قبله بدلول او د کعبې پر ځای بیت المقدس قبله کول او بیا دا قبله بېرته پرېښودل او کعبه د قبلې په توګه ټاکل، له سختو اعتراضاتو سره مخامخ کړل، په دغو مبارکو آیتونو کې اعتراض کوونکو ته څو ځوابونه ورکړی شوي:

- مشرق او مغرب د الله دي، قبله د ده له لوري ټاکل شوې، دا د ده خوښه ده چې چا ته کوم لوری د قبلې لپاره غوره کړي.
- تاسو دا وړتیا له لاسه ورکړې چې د الله تعالی هدایت مو په برخه شي.
- مسلمانانو ته د نوې قبلې په غوره کولو سره الله تعالی وغوښتل چې د هدایت مرکز مکې ته راانتقال کړي او د دیني قیادت دا لوړ مقام مسلمانانو ته وسپاري.
- له دې وروسته به د هدایت ډیوې د مسلمانانو په لاس کې وي، د دوی د کړنو له مخي به خلك په دې پوهېږي چې حقیقت څه ته ویل کېږي، حقیقي دین کوم دئ، د الله په اړه مو عقیده څنګه وي او څنګه د ده عبادت وکړو او څنګه د یوه واقعي مخلص بنده په څېر ژوند وکړو؟ دوی، د دوی فکر او عقیده او د دوی عملي ژوند به د نورو لپاره د شاهد حیثیت لري او د مسلمانانو لپاره به پیغمبر شاهد وي.
- مخکې مو د دې لپاره دوی ته د کعبې پر ځای بیت المقدس قبله ټاکلې وه چې معلومه کړو دا خلك د پیغمبر په متابعت کې د خپل پلار نیکه له قبلې تېرېدو ته تیار دي که نه او د ایمان لپاره ټولو قومي او ژبني تعصباتو ته لغته ورکوي که نه؟
- دوی دې مطمئن وي چې د مخکینۍ قبلې په اړه د دوی باور او اعتقاد او د همدې عقیدې له مخي د دوی مخکیني لمونځونه نه دي ضائع شوي، الله پر خلکو د رأفت (زړه سوي) او رحمت (پېرزویني) خاوند دئ.
- دې ته مو پام وي چې ځینو په دغه آیت کې (وَمَا كَانَ اللهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ: او الله ستاسو ایمان نه ضائع کوي.)، ایمان د لمانځه په معنی اخیستی چې یقیناً دا یو احتمالي او

کمزوری تفسیر دئ، غوره تفسیر دا دئ چې دلته ایمان په اصلي معنی واخیستل شي، ځکه په قبلې باندې باور یوه عقیده ده، د بیت الله پر ځای بیت المقدس د قبلې په توګه منل او له خپلې پلرنۍ قبلې لاس اخیستل د عربو لپاره یوه ستره آزموینه وه، مسلمانان په دې آزموینې کې بریالي شول، خپله پلرنۍ قبله ئې پرېښوده او په داسې حال کې ئې بیت المقدس د نوې قبلې په توګه قبول کړ چې د الله تعالی له لوري کوم ځرګند حکم هم نه وو راغلی، یوازې د دې لپاره ئې دا نوې قبله ومنله چې دا تر محمد علیه السلام د مخکې پیغمبرانو (له سلیمان علیه السلام تر عیسی علیه السلام پورې) قبله وه، په دې آیت کې دوی ته ویل شوي چې ستاسو هغه مخکینی باور او اجر ئې د الله تعالی په وړاندې حبط او ضائع شوی نه دئ، الله تعالی ئې نه ضائع کوي. که الله تعالی غوښتی چې ورته ووایي ستاسو لمونځونه نه ضائع کوي نو یقیناً چې د ایمان پر ځای به ئې حتماً د لمانځه صیغه راوړله.

د پیغمبر په متابعت کې د پلار نیکه قبله پرېښودل، بلې قبلې ته مخ کول او بیا هغه بېرته پرېښودل، دا ګران کار یوازې هغه څوك کولی شي چې د الله تعالی لارښوونه ئې په برخه شوې وي.

---

قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي ٱلسَّمَآءِۖ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَىٰهَاۚ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِۚ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّواْ وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُۥۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٤٤﴾

[۱٤٤]- مونږ خو د آسمان لوري ته ستا د مخ اړول راړول وینو، نو هرو مرو به دې هغې قبلې ته مخامخ کړو چې ته ئې خوښوې، نو مخ دې د مسجد الحرام په لوري وګرځوه او چې هر ځای وئ د هغې په لوري مخ کړئ او بې شکه چې اهل کتاب په دې ښه پوهېږي چې دا د دوی د رب لخوا یو حقیقت دئ او الله له هغه څه غافل نه دئ چې دوی ئې کوي.

---

(۱٤٤)- له دې آیت معلومېږي چې پیغمبر علیه السلام د قبلې د بدلېدو طمع درلوده او دا ئې خوښوله چې د بیت المقدس پر ځای کعبه ورته قبله وټاکل شي، تل ئې دا تمنی په زړه کې وه چې په دې اړه الهي فرمان راشي.

اهل کتاب په دې پوهېدل چې د وروستي پیغمبر قبله به کعبه وي، په دې هم پوهېدل چې هر پیغمبر ته د ده د دعوت او امت په سیمې کې قبله ټاکل کېږي، د دوی د اختلاف وجه ناپوهي نه وه، خپلو کړنو او عملونو دې اختلاف ته هڅول، د دې اختلاف تر

شا ناروا او ناوړي اغراض پټ وو، اختلاف ئې له مذهبي او قومي تعصب راولاړ شوی وو.

وَلَئِنْ أَتَيْتَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ بِكُلِّ ءَايَةٍ مَّا تَبِعُواْ قِبْلَتَكَ ۚ وَمَآ أَنتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ وَمَا بَعْضُهُم بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ۚ وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم مِّنۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ إِنَّكَ إِذًا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٤٥﴾ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يَعْرِفُونَهُۥ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَآءَهُمْ ۖ وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ ٱلْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤٦﴾

[۱٤٥]- او كه ته اهل كتاب ته هر دليل راوړې، ستا د قبلې متابعت نه كوي او ته هم د دوی د قبلې متابعت كوونكی نه يې او دوی هم يو د بل قبلې متابعت كوونكي نه دي او كه له هغه وروسته چي (په دې اړه ضروري) علم دركړی شو، تا د دوی د هوی او هوس متابعت وكړ، نو ته به يقيناً چي له ظالمانو وې. [۱٤٦]- هغه چي كتاب وركړی شوی، داسي ئې پيژني لكه خپل زامن چي پيژني، خو د دوی يوه ډله حق په داسي حال كي پټوي چي ( ښه پرې) پوهيږي.

(۱٤٥-۱٤٦)- اهل كتاب ستا قبله نه مني، ستا په قبلې دا اعتراض كوونكي هغه دي چي په حق له پوهيدو وروسته د غرض او مرض له كبله اعتراضونو ته ملا تړي، دوی په دلائلو نه قانع كيږي، پر دوی خپل وخت مه ضائع كوه، دا گمان هم مه كوه چي د دوی د قبلې په منلو سره به هغوی له لجاجت او مخالفت لاس واخلي، د قبلې له بدلولو د مخه ئې هم ستا مخالفت كولو، دوی د خپل هوی او هوس بندگان دي، د دوی د متابعت معنی يوازي دا ده چي د دوی هوی او هوس ته تسليم شې او دا خو هم په حق او حقيقت باندي ظلم دئ او هم په خپل ځان.

ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴿١٤٧﴾ وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا ۖ فَٱسْتَبِقُواْ ٱلْخَيْرَٰتِ ۚ أَيْنَ مَا تَكُونُواْ يَأْتِ بِكُمُ ٱللَّهُ جَمِيعًا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٤٨﴾

[۱٤٧]- حق همغه دئ چي ستا د رب له لوري دئ، نو له شك كوونكو مه كيږه.

[١٤٨]- او هر چا ته (د مخ كولو) يوه قبله ده چې هغه ئې پالي، نو تاسو په ښېګڼو كې يو له بل د مخته كېدو هڅه وكړئ، چې هر ځاى وئ الله به تاسو ټول راغونډ كړي، بې شكه چې الله په هر څه قادر دئ.

(١٤٧)- د اهل كتاب مخالفتونه او اعتراضات دې تاسو په شك كې وانه چوي، الله چې د قبلې په اړه څه حكم كړى حقيقت همدا دئ.
(١٤٨)- قبله خو يوازې يو رمز دئ، د الله لوري ته د مخ كولو رمز، اصلي خبره خو دا ده چې د خير او ښېګڼو په لوري هڅه وكړئ، له دوى سره د قبلې په سر له بحثونو ډډه وكړئ، دا هيڅ ګټه نه لري، نه دوى ستاسو قبله مني او نه تاسو د دوى، د خير په كارونو كې مسابقې او يو له بل مخكې كېدو ته راوړاندې شئ. په دې مبارك آيت كې نه يوازې دا حقيقت بيان شوى چې الله تعالى د ټولو انسانانو په راغونډولو قادر دئ، بلكې د قبلې د بحث په ضمن كې ئې د راتلو معنى دا ده چې الله تعالى قبله د يوه امت د راغونډولو او وحدت وسيله ګرځوي.

وَمِنۡ حَيۡثُ خَرَجۡتَ فَوَلِّ وَجۡهَكَ شَطۡرَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۖ وَإِنَّهُۥ لَلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ١٤٩ وَمِنۡ حَيۡثُ خَرَجۡتَ فَوَلِّ وَجۡهَكَ شَطۡرَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۚ وَحَيۡثُ مَا كُنتُمۡ فَوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ شَطۡرَهُۥ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيۡكُمۡ حُجَّةٌ إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡ فَلَا تَخۡشَوۡهُمۡ وَٱخۡشَوۡنِي وَلِأُتِمَّ نِعۡمَتِي عَلَيۡكُمۡ وَلَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ١٥٠

[١٤٩]- او چې له هر ځاى (د لمانځه لپاره) راووځې نو مخ دې د مسجد الحرام په لوري وګرځوه او يقيناً چې دا ستا د رب له لوري يو حقيقت دئ او الله له هغه څه غافل نه دئ چې تاسو ئې كوئ. [١٥٠]- او له هر ځاى چې ووځې نو مخ دې د مسجد الحرام په لوري وګرځوه او چې هر ځاى وئ نو مخ مو د هغه په لوري وګرځوئ، د دې لپاره چې خلكو ته ستاسو په خلاف هيڅ اعتراض (پاتنه) نه وي، مګر ظالمانو ته ئې، نو لدوى مه وېرېږئ، له ما ووېرېږئ او د دې لپاره چې خپله پېرزوينه پر تاسو بشپړه كړم او د دې لپاره چې تاسو هدايت شئ.

(١٤٩-١٥٠)- چې هر ځاى وئ، په سفر او حضر كې، يوازې او په ګډه، په لمانځه كې د قبلې

په لوري مخ کړئ، حقپالونکي ستاسو په قبلې اعتراض نه کوي، يوازې مغرض کسان به پر تاسو اعتراض کوي، د سرټمبه او متعنتو مخالفينو د غرضناکو اعتراضونو پروا مه کوئ، يوازې له خپل رب ووېرېږئ، دا د قبلې تبديلي په حقيقت کې پر تاسو د الله تعالی يوه ستره پېرزوينه ده، الله تعالی خو تاسو سمې لارې ته هدايت کوي.

كَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِيكُمۡ رَسُولٗا مِّنكُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِنَا وَيُزَكِّيكُمۡ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمۡ تَكُونُواْ تَعۡلَمُونَ ﴿١٥١﴾ فَٱذۡكُرُونِيٓ أَذۡكُرۡكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِي وَلَا تَكۡفُرُونِ ﴿١٥٢﴾

[۱۵۱]- همداسې لکه چې په تاسو کې مو ستاسو له منځ داسې پيغمبر درولېږو چې زما آيتونه درباندې لولي، ستاسو روزنه کوي، علم او کتاب درښيي او هغه څه درښيي چې نه پرې پوهېدئ. [۱۵۲]- نو ما ياد کړئ چې ياد مو کړم او ما ته شکر وباسئ او ناشکري مې مه کوئ.

(۱۵۱-۱۵۲)- ستاسو په خپلې سيمې او په يوه مرکزي ښار کې تاسو ته قبله ټاکل داسې ده لکه چې الله تعالی په خپله له تاسو يو پيغمبر درته غوره کړ او د دغه پيغمبر د تعليم او روزنې له امله تاسو د نړۍ تر ټولو غوره امت او د ټولو لپاره شاهد شوئ. د الله تعالی د دغو سترو پېرزوينو شکر وکړئ او ناشکري مه کوئ.

د قبلې د بحث په پای کې لازمه ده چې وګورو قبله څه ته وايي او هدف ئې څه دئ او په لمانځه کې د قبلې په لوري د مخ کولو معنی څه ده؟

ته د دنيا له ټولو مسلمانانو سره يو ځای هره ورځ څو څو ځله، د يوه خاص ځای په لوري مخ کوې او لمونځ اداء کوې چې هغه ستا او د دوی ګډه يوازينۍ قبله (مخ لوری) دئ. هغه د الله کور(بيت الله) دئ، يعني ته له خپلو نورو مسلمانو ورونو سره يو ځای په وار وار د الله تعالی د کور په لوري مخه کوې او په دې سره عملاً دا عزم اعلانوې چې له الله تعالی پرته د بل چا کورته نه مخه کوم، نه پناه وړم او نه ئې دروازه ټکوم.

ته ډېر خلك داسې ګورې چې قبله ئې د الله تعالی کور نه، بلکې د دنيا د واکمنانو قصرونه وي، مخه ئې همدې قصرونو ته، طمع ئې له همدې قصرونو، وېره ئې له همدې قصرونو، طواف ئې د همدې قصرونو، د دې قصرونو د خاوندانو احترام ئې په زړه کې او د دوی لويي او عظمت ئې پر دماغ مسلط.

آه، څومره ډېر خلك داسې ګورم چې په ظاهر کې ئې مخه د الله د کور په لوري وي

خو په حقیقت کې د دوی د زړونو قبلې نورې وې، په همغه وخت کې چې د بیت الله په لورې ئې مخه وي؛ زړه ئې نورو قبلو ته متوجه وي.

هغه څوك چې د ورځې پنځه ځله په واقعي معنی او له دې شعور سره قبلې ته مخه کوي چې زه د ځمکې او آسمانونو او ټول عالم د رب د کور لورې ته مخه کوم او د هغه دروازه ټکوم، آیا ممکنه ده بلې درې ته ودرېږي او د بل کور طواف وکړي؟

د کور یووالی د هغه کور اوسېدونکې سره متحد کوي او په دوی کې د یووالي احساس راولاړوي، د یوې کورنۍ غړي له دې کبله یوه کورنۍ او یو موټی وي چې کور ئې شریك دئ، د یوه ټبر خلك د کور د بېلوالي له کبله ورو ورو هومره سره لرې شي لکه پردي.

له نورو سره یو ځای د الله د کور په لورې مخ کول او د یوه معبود درې ته د ودرېدلو معنی دا ده چې ستا د قبلې ورور، ستا ورور او ستا د لويې دیني کورنۍ غړی دئ.

ډېر خلك داسې دي چې د قبلې د سم او دقیق استقامت معلومولو لپاره ښه غور او احتیاط کوي، حتی قطب نما په جیب کې ګرځوي، خو که د دوی د زړه کیفیت معلوم کړې پوه به شې چې د دوي د زړونو قبلې څومره کږې دي او څومره له اصلي قبلې په معنوی لحاظ کاږه ودرېږي.

ډېر د تقوی مدعیان بیا داسې دي چې بل کس په څو سانتي متره، د ده له تخمیني قبلې یوې بلې خوا ته په ودرېدو تکفیروي، په داسې حال کې چې د قبلې مالك خدای، هغه چا ته چې نیت ئې سم وي او د قبلې په لورې د خپل استقامت سمولو لازم دقت او احتیاط ئې کړی وي وایي:

فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ ... ﴿١١٥﴾ البقرة

نو هرې خوا ته چې مخه کړئ، الله په همغه لورې کې دئ.

په دې حالت کې چې هرې خوا ته لمونځ وکړې ستا لمونځ قبلېږي که څه هم اشتباهاً له قبلې بل لورې ته ودرېدلی وې. ډېر جنابان بیا داسې دي چې له بل سره په یوې فرعي او جزئي مسئلې کې د اختلاف له کبله؛ د خپلې قبلې ورور تکفیروي او د هغه په خلاف هر څه ویل او هر څه کول جائز ګڼي. حال دا چې د قبلې په مقصد پوه، زموږ د مذهب امام ابو حنیفه رحمه الله وایي: لانُکفرُ اهل قبلتنا: موږ د خپلې قبلې اهل نه تکفیروو.

په داسې حال کې چې د قبلې د یووالي یو ستر مقصد او هدف دا دئ چې د دنیا ټول مسلمانان متحد کړي، خو متأسفانه ناپوهان او جاهلان له همغه څه چې علیم او حکیم خدای جل جلاله د مؤمنانو د یووالي لپاره ټاکلې؛ د اختلاف او افتراق وسیله جوړوي.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسْتَعِينُواْ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴿١٥٣﴾ وَلَا
تَقُولُواْ لِمَن يُقْتَلُ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتُۢ بَلْ أَحْيَآءٌ وَلَـٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴿١٥٤﴾
وَلَنَبْلُوَنَّكُم بِشَىْءٍ مِّنَ ٱلْخَوْفِ وَٱلْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَنفُسِ
وَٱلثَّمَرَٰتِۗ وَبَشِّرِ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴿١٥٥﴾ ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَـٰبَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ
إِلَيْهِ رَٰجِعُونَ ﴿١٥٦﴾ أُوْلَـٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَٰتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌۖ وَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ
ٱلْمُهْتَدُونَ ﴿١٥٧﴾

[۱۵۳]- اې مؤمنانو! په صبر او لمانځه سره مرسته تر لاسه کړئ، يقيناً چې الله له صبر کوونکو سره دئ. [۱۵٤]- او هغو ته چې د الله په لار کې وژل کېږي؛ مړه مه واياست؛ بلکې ژوندي دي خو تاسو نه پوهېږئ. [۱۵۵]- هرومرو به تاسو په څه وېرې، لوږې او د مال، ځان او مېوو( د حاصلاتو) په کمښت او تاوان وآزمويو، نو صابرانو ته زېری ورکړه. [۱۵٦]- هغو (صابرانو) ته چې کله مصيبت ورورسېږي وايي: موږ د الله يو او د ده په لوري ورتلونکي. [۱۵۷]- دا هغه ډله ده چې د خپل رب له لوري پرې صلوات (درودونه) او رحمتونه دي او همدا دوی هدايت موندونکي دي.

(۱۵۳-۱۵۷)- په دې مبارکو آيتونو کې مؤمنانو ته څو لارښووني شوې دي:

- په صبر او لمانځه سره د الله مرسته تر لاسه کولی شئ، الله د صابرانو مل او ملاتړ دئ.
- نه به شهيدان مړه ګڼئ او نه به هغوی ته مړه واياست، نه به په ذهن کې دا خبره درګرځوئ چې هغوی مړه شوي او نه به په خوله دا خبره کوئ چې هغوی مړه شول، دوی ژوندي دي؛ تاسو د دوی د دې ژوندون په کيفيت نه پوهېږئ.

يعني نه به شهيدان مړه ګڼئ او نه به هغوی ته مړه واياست، نه به په ذهن کې دا خبره درګرځوئ چې هغوی مړه شوي او نه به په خوله دا خبره کوئ چې هغوی مړه شول، دوی ژوندي دي؛ تاسو د دوی د دې ژوندون په کيفيت نه پوهېږئ.

په دې بايد پوه وئ چې د الله لار له ستونزو او آزموينو ډکه لار ده، الله ته رسېدل او د ده رضاء تر لاسه کول، آسان او ارزان کار نه دئ، په دې لار کې د سر، مال او کور تاوانونه شته، له خطرناکو دښمنانو سره مخامخ کېدل شته، وېره او لوږه شته، دا له اغزيو ډکه لار ده؛ خو که دې صبر وکړ؛ نو د دې لارې هر اغزی به درته ګل شي، د برې زېری هغه چا ته

انتظار کوي چې صابر وي، لوی عزم لري او د الله په لار کې کړاوونه په ورین تندي قبلوي.

صابر هغه دئ چې له مصیبتونو سره د مخامخ کېدو په صورت کې وایي: زموږ هر څه د الله دي، هر څه ده راکړي، دی ئې د بېرته اخیستو حقدار دئ، د الله په لار کې ئې له لاسه ورکول داسې دي لکه د چا امانت چې بېرته ورته وسپارې، هسې هم الله ته ورتلونکي یو، له مرگ خلاصون نشته، ولې مو مرگ د ده په لار کې نه وي، ولې مو ورتگ په جگ سر او په داسې حال کې نه وي چې هر څه مو د ده په لار کې وقف کړي وي.

دغو صابرانو ته الله تعالی د دریو خبرو وعده ورکوي: الله تعالی به ئې ستاینه کوي، خپل رحمت او پېرزویني به ورپه برخه کوي او د هدایت دروازې به ورته پرانیزي.

إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِۖ فَمَنْ حَجَّ ٱلْبَيْتَ أَوِ ٱعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَاۚ وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ ٱللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٥٨﴾

[۱۵۸]- یقیناً چې صفا او مروه له الهي شعائرو او نښو دي، نو څوك چې د بیت (الله) حج وکړي او یا عمره تر سره کړي نو څه گناه پرې نشته چې د دوی طواف وکړي او چا چې په خپله خوښه د خیر کوم کار وکړ نو الله ښه پوه شاکر دئ.

(۱۵۸)- صفا او مروه هغه دوه غونډۍ دي چې هاجر رضي الله عنها د دوی تر منځ د دې لپاره منډې وهلې وې چې خپل زوی اسمعیل له لوږې، تندې او مرگ وژغورې، الله تعالی د دغه مخلص بنده چې ابراهیم علیه السلام ته ئې د رخصتېدو په وخت کې ویلي وو: چې د الله په امر مو دلته په دې بیدیا کې یوازې پرېږدې، د هغه امر ته تابع یم، هغه به مو نه ضائع کوي، الله تعالی د دې مخلص بنده دا سعی د حج له مناسکو وگرځوله او د بیت الله ټول حج کوونکي او عمره کوونکي ئې تر قیامت پورې په دې مکلف کړل چې د الله کور ته د راتلو په ورځ به د هاجر خاطره تازه کوئ او د دې په څېر به د دغو غونډیو تر منځ سعی کوئ. دا ځکه چې الله پوه او شاکر دئ، هم خپل مخلص بندگان پېژني او هم د خپل بنده د اخلاص قدر کوي. په مخکیني آیت کې د صبر او صبر کوونکو د اجر ذکر راغی او دلته د صفا او مروې په ذکر سره د مخکیني مطلب لپاره تاریخي مثال وړاندې شو. دا هم د یوه صبر کوونکي بنده نښې دي، وگوره چې الله تعالی د صابرانو څنگه قدر کوي؟

که څه هم دلته صفا او مروه د دې خبرې لپاره د یوې بېلگې په توگه ذکر شوي چې الله تعالی د صابرانو تقدیر او تمجید کوي خو په داسې ترتیب او الفاظو ئې ذکر شوی چې په ضمن کې ئې د مدینې د خلکو دا تشویش هم رفع کړی شي چې د دغو غونډیو طواف

ئې له دې کبله د گناه کار گاڼو چې مشرکينو پرې بتان درولي وو. الله تعالی ورته وفرمايل چې د دوی په طواف سره د گناه احساس مه کوئ.

په وروستيو آيتونو کې د بې صبرو کسانو بد عاقبت بيان شوی، د هغه چا بد عاقبت چې له حق د دفاع په کار کې د صبر پر ځای حق پټوي او په دې سره قليله متاع تر لاسه کوي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلۡهُدَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ
فِي ٱلۡكِتَٰبِ أُوْلَٰٓئِكَ يَلۡعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلۡعَنُهُمُ ٱللَّٰعِنُونَ ﴿١٥٩﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ
وَأَصۡلَحُواْ وَبَيَّنُواْ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَتُوبُ عَلَيۡهِمۡ وَأَنَا ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٦٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كُفَّارٌ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ لَعۡنَةُ ٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ
أَجۡمَعِينَ ﴿١٦١﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ﴿١٦٢﴾
وَإِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٦٣﴾

[١٥٩]- له څرگندو آيتونو او لارښوونې چې موږ کوم څه نازل کړي، څوك چې دا پټوي، وروسته له هغه چې موږ خلکو ته په کتاب کې بيان کړي، نو يقيناً چې په دغو کسانو هم الله لعنت وايي او هم هر لعنت ويونکی پرې لعنت وايي. [١٦٠]- مگر هغه چې توبه او رجوع ئې وکړه او خپل کړه ئې اصلاح کړل او بيان ئې کړ، نو د دوی توبه به قبوله کړم او زه خو يقيناً چې ډېر مهربان توبه منونکی يم. [١٦١]- بې شکه هغه چې کافران شول او په داسې حال کې مړه شول چې کافران ول، په دغو د الله، د ملائکو او ټولو خلکو لعنت دئ. [١٦٢]- تلپاته په هغه کې، نه به عذاب ترې سپك کړی شي او نه به مهلت ورکړی شي. [١٦٣]- او ستاسو معبود يوازينی معبود دئ، له ده پرته بل معبود نشته، همغه ډېر مهربان رحم کوونکی.

(١٥٩-١٦٣)- دلته هغو دين په دنيا پلورونکو ته اشاره شوې چې حق پټوي او په دې سره د فساد او فتنو خورولو باعث گرځي، د دوی دا حق پټول د الله په دين کې دومره ستره گناه گڼل شوې چې د الله، ملائکو او ټولو خلکو د لعنت وړ ئې گڼي، خو که دوی له دې جرم توبه وکړي، هغه فتنې او فسادونه چې په همدې پټولو سره ئې راولاړ کړي هغه اصلاح کړي او پټ کړي حقائق بيان کړي، يوازې په دې صورت کې الله د دوی توبه مني،

له دې پرته که په خپل مخکيني حالت کې ومري نو همداسې به د تل لپاره په لعنت کې پاته وي. دلته گورئ چې د توبې قبلېدو لپاره درې شرطونه ايښودل شوي: له خپلې گناه بېرته راگرځېدل او الله ته مخه کول، د حق په پټولو سره چې کوم فساد رامنځته شوی، د هغه اصلاح او جبران او پټ کړي حقائق بيانول.

إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱلْفُلْكِ ٱلَّتِي تَجْرِي فِي ٱلْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن مَّآءٍ فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ وَتَصْرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ وَٱلسَّحَابِ ٱلْمُسَخَّرِ بَيْنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ لَأَيَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿١٦٤﴾

[١٦٤]- يقيناً چې د آسمانونو او زمکې په پيدايښت کې او د شپې او ورځې په اختلاف (يوه په بلې پسې راتلو) کې او په هغو بېړيو کې چې په بحر کې درومي، له هغه څه سره چې خلکو ته ئې گټه رسي او په هغو اوبو کې چې الله له آسمان نازل کړې، چې په هغه سره ئې زمکه له خپلې مړيني وروسته بيا راژوندۍ کړې او په هغې کې ئې ډول ډول خوځېدونکي خواره کړي او د بادونو په گرځولو راگرځولو او د آسمان او زمکې تر منځ په دې مسخر شوو ورېځو کې؛ هرومرو عقلمنو ته ښرگندې نښې دي.

(١٦٤)- په داسې حال کې چې زمکه او آسمانونه الله پيدا کړي، شپه او ورځ د ده په اراده ځي راځي، په بحرونو کې بېړۍ د ده په إذن او اراده خوځي، له آسمان اوبه هغه رانازلوي، په دې سره مړه زمکه راژوندۍ کوي او دانه او مېوه په کې راشنه کوي او ډول ډول ژوي په کې راپيدا کوي، بادونه د ده په حکم چلېږي، ورېځې د ده په امر د آسمان او زمکې تر منځ يوې خوا بلې خوا ته درومي، نو که څوك عقل لري ولې به له الله پرته له بل چا طمع او وېره لري، ولې به په خپل رزق او روزي او په خپل مرگ ژوند له الله پرته له بل چا وېره کوي او د دې وېرې او طمعې له کبله به حق پټوي؟! دا کار يوازې هغه څوك کوي چې نه ئې پر الله ايمان وي او نه هر څه د الله په واك او اختيار کې گڼي.

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ ٱللَّهِ ۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ ۗ وَلَوْ يَرَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ إِذْ يَرَوْنَ ٱلْعَذَابَ أَنَّ ٱلْقُوَّةَ لِلَّهِ

جَمِيعًا وَأَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعَذَابِ ﴿١٦٥﴾ إِذْ تَبَرَّأَ ٱلَّذِينَ ٱتُّبِعُوا۟ مِنَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوا۟
وَرَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ ٱلْأَسْبَابُ ﴿١٦٦﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوا۟ لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً
فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوا۟ مِنَّا ۗ كَذَٰلِكَ يُرِيهِمُ ٱللَّهُ أَعْمَٰلَهُمْ حَسَرَٰتٍ عَلَيْهِمْ ۖ
وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنَ ٱلنَّارِ ﴿١٦٧﴾

[١٦٥]- او له خلكو ځيني له الله پرته داسي سيالان نيسي چي له الله سره د ميني په څېر ورسره مينه كوي او هغه خلك چي ايمان ئې راوړی؛ د الله په ميني كې تر ټولو شديد دي؛ او كاش ظالمان په هغه څه پوه شي چي د عذاب د ليدو په وخت كې ئې په خپلو سترګو ګوري چي يقيناً ځواك ټول د الله دئ او الله سخت عذاب وركوونكی دئ. [١٦٦]- هغه وخت چي متبوعان (پيشوايان) به له خپلو تابعانو (پلويانو) بې زار وي او عذاب به وګوري او ټولې اړيكې به ئې وشلېږي. [١٦٧]- او هغه چي متابعت ئې كولو وبه وايي: كاش (دنيا ته) بېرته ګرځېدل مو (په برخه شوی) وی، چي له دوی داسي بې زار شو لكه چي دوی له موږ بې زار شوي، همداسي به الله دوی ته خپل عملونه په خپل ځان د حسرتونو په بڼه كې وښيي او له اور به وتونكي نه وي.

(١٦٥-١٦٧)- ځيني په محبت كې شرك كوي، په محبت كې الله ته سيالان نيسي، د الله په څېر او احياناً تر هغه زيات ورسره مينه كوي؛ خو واقعي مؤمنان له الله سره تر هر څه زياته او كلكه مينه لري، له الله سره مينه د ايمان تقاضی او د مؤمن نښه ګڼل شوې، انسان يا له دې كبله له يوه شي سره مينه كوي چي ده ته ئې كومه ګټه رسولې، له ده سره ئې كوم احسان كړی او داسي كوم څه ئې له هغه تر لاسه كړي چي دی ورته اړ وو او يا له دې كبله چي په هغه شي كې ئې د ښكلا، حسن او كمال داسي څه ليدلي وي چي د ده په ذهن او زړه ئې اغېز كړی او جذبات او احساسات ئې راپارولي، له الله تعالی سره د شديدي ميني وجه هم دا ده چي پر موږ د ده احسان او پېرزوينه تر هر چا زياته ده، موږ ته ئې ټول هغه څه راكړي او ټول هغه څه ئې راته پيدا كړي چي موږ ورته اړ وو، هغه ژوند راكړی، هغه رزق او روزي راكوي، هغه مو ساتي او هغه مو پالي او له دې كبله هم ورسره مينه لرو چي په عالم كې د ښكلا او ښايست بې شمېره مظاهر او آثار د هغوی له خالق سره زموږ مينه راپاروي، چي هري خوا ته سترګي واړوو نو زړه وړونكې ښكلا مو تر سترګو شي، په ګلانو، بوټو، مرغانو، غرونو، درو، دښتو كې، د آسمان په ستورو كې او د زمكي او آسمان په هر څه كې ښايست ګورو، دغه ښايست چي زموږ په زړونو كې كومه

مینه راپاروي، همدا مینه له الله سره په مینې بدله شي. لکه څنګه چې ځینې په مینه کې د شرك مرتکب کېږي، همدا راز ځیني نور په وېره کې د شرك مرتکب شي، له الله پرته له نورو هومره وېرېږي چې داسې وېره یوازې له الله ښایي، انسان له هغه څه وېرېږي چې ده ته ګټه یا تاوان رسولی شي، د ده په ژوند کې او ده ته د رزق او روزي په ورکړې کې ئې څه اغېز او ونډه وي، موږ ته ژوند الله راکړی او رزق روزي هغه راکوي، نو ځکه باید یوازې له هغه ووېرېږو. هغه وګړي چې په دنیا کې ئې د ظالمو او مفسدو سیاسي او مذهبي مشرانو قیادت منلی، یا ئې د دې لپاره د ظالمانو ملاتړ کړی چې له دوی ئې طمع وه او یا د دوی له مؤاخذې او نیونې وېرېدل او یا د جهل او ناپوهۍ او کوم بل غرض او مرض له کبله، نو د قیامت په ورځ او هغه وخت چې الهي عذاب او له دوی د خپلو مشرانو بې زارې په خپلو سترګو وګوري، په خپلې غلطۍ به پوه شي چې ولې ئې د الله عذاب هېر کړی وو او د ظالمو واکمنانو له ځواك او عذاب د وېرې له کبله ئې د الله د دښمنانو ملګرتیا کړې وه، وبه ګوري چې د ځواك اصلي خاوند الله دئ او دا په ظاهر کې ځواکمن مشران د ده په وړاندې څومره ناتوانه او ضعیف دي، له چا چې دوی د مرستې طمع کوله په خپله د الله په عذابونو اخته دي، نه یوازې د دوی مرسته نه شي کولی بلکې له دوی بې زار دي، دا طمع به کوي چې کاش بېرته دنیا ته وګرځي او هلته له دوی خپله بې زاري اعلان کړي.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُوا۟ مِمَّا فِى ٱلْأَرْضِ حَلَـٰلًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا۟ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَـٰنِ ۚ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿١٦٨﴾ إِنَّمَا يَأْمُرُكُم بِٱلسُّوٓءِ وَٱلْفَحْشَآءِ وَأَن تَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿١٦٩﴾

[۱٦٨]- اې خلکو! په ځمکې کې شته حلال او پاکیزه شیان وخورئ او د شیطان په پلونو پسې مه ځئ، بې شکه چې هغه ستاسو څرګند دښمن دئ. [۱٦٩]- یقیني خبره دا ده چې هغه تاسو په کرکجنو او قبیح کارونو ګماري او په دې چې د الله په اړه هغه څه ووایئ چې نه پرې پوهېږئ.

(۱٦٨-۱٦٩)- دلته څو اساسي لارښووني ګورو:

• په ځمکې کې حلال او پاکیزه شیان وخورئ، نه حرام او نه ګنده او ناپاك شیان؛ که څه هم حلال وي.

- په حلال او حرام کې د شیطان متابعت مه کوئ، شیطان ستاسو دښمن دئ، همغه دښمن چې ستاسو غور نیکه آدم علیه السلام ئې د ممنوعه مېوې خوړلو ته وهڅاوو.
- شیطان تاسو په کرکجنو او قبیح کارونو ګماري، تاسو حرام خوړلو، له حرامو لارو مال تر لاسه کولو، حرص او بخل ته هڅوي، د الله په اړه مو هغه څه ویلو ته تشویقوي چې نه پرې پوهېږئ، د الله په اړه به همغه څه وایئ چې الله تعالی په خپله درښودلي.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ بَلْ نَتَّبِعُ مَآ أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوْ كَانَ ءَابَآؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْـًٔا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٧٠﴾ وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ كَمَثَلِ ٱلَّذِى يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ إِلَّا دُعَآءً وَنِدَآءًۚ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْىٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٧١﴾

[۱۷۰]- او کله چې ورته وویل شو: د هغه څه متابعت وکړئ چې الله نازل کړی، وئې ویل: نه بلکې د هغه څه متابعت کوو چې پلار نیکه مو پرې موندلي، که څه هم د دوی پلرونه داسې وي چې نه په څه پوهېږي او نه په سمه لار روان وي؟! [۱۷۱]- او د کافر شوو مثال هغه چا ته ورته دئ چې نارې وهي؛ هغه ته چې له چیغې او نارې پرته بل څه نه اوري، کاڼه، ګونګیان او ړانده، نو خود به نه پوهېږي.

(۱۷۰)- د شیطان د وسوسو تر اغېز لاندې راغلي وګړي داسې وي چې د الله تر دین د خپل پلار نیکه دین غوره ګڼي، تاسو به د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې وګورئ چې د هر پیغمبر د دعوت په مقابل کې مفسدو او منحرفو مذهبي او سیاسي مشرانو خلکو ته ویلي: د خپل پلار نیکه په دین ټینګ پاته شئ، دا غواړي تاسو له خپل غوره دین واړوي، د ده دا خبرې خو موږ مخکې نه وې اورېدلې، له خپل پلار نیکه خو موږ ته داسې خبرې نه دي راپاته!!
(۱۷۱)- د حق په لور دغو کافرانو ته د بلنې او دعوت مثال داسې دئ لکه چې کوم شپون او غوبه څارویو ته له لرې غږ کوي او هغوی له غږ پرته بل څه نه اوري، د شپون د غږ په محتوی نه پوهېږي، یوازې چیغه اوري، دوی نه د حقپالو داعیانو خبره اوري، نه په خپله له بل د پوښتنې تکل په کې شته او نه دا بصیرت لري چې په خپله حق له باطل تفکیك کړی شي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ وَٱشْكُرُواْ لِلَّهِ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿١٧٢﴾ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحْمَ ٱلْخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ

بِهِۦ لِغَيۡرِ ٱللَّهِۖ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ
رَّحِيمٌ ١٧٣

[۱۷۲]- اې مؤمنانو! د هغه رزق پاکيزه پاکيزه وخورئ چې موږ درروزي کړی او د الله شکر پر ځای کړئ، که په رښتيا د ده عبادت کوئ. [۱۷۳]- خبره دا ده چې په تاسو مرداره غوښه، وينه، د خنزير غوښه او هغه چې د غيرالله غږ پرې شوی وي (له الله پرته د بل چا په نوم ذبح شوی وي) حرام کړی شوي، او څوك چې اړ شو؛ په داسي حال کې چې نه باغي وي او د هغه غوښتونکي وي او نه تېری کوونکی، نو څه گناه پرې نشته، يقيناً چې الله مهربان بخښونکی دئ.

(۱۷۲)- د الله د بندگۍ تقاضی دا ده چې د ده حلال او پاکيزه رزق به خورئ، له حرامو او ناولو به ډډه کوئ او د الله تعالی شکر به پر ځای کوئ، د ده نعمتونه به همغسي استعمالوئ چې ده امر کړی، په حرامو او ناروا لارو کې به د ده له رزق گټه نه اخلئ.

(۱۷۳)- حلال او حرام به په خپله خوښه نه ټاکئ، د حلال او حرام په اړه الله تعالی خپله فيصله کړې، لکه څنگه چې حرام شيان حلال گڼل گناه ده، همدا راز د تقوی په نامه حلال شيان حرامول هم گناه ده، الله تعالی دغه پورتني شيان پر تاسو حرام کړي، خو که څوك ډېر اړ شو، د مرگ وېره ئې وه، بله چاره ئې نه درلوده، د ضرورت په اندازه ترې استفاده کولی شئ، په دوو شرطونو: نه به د بغاوت په جذبې سره او په داسي حال کې چې په خپله ئې غوښتونکي وئ؛ دا کار کوئ او نه به له ضروري حد تېری کوئ.

مرداره د هغه څاروي غوښه ده چې په شرعي توگه نه وي ذبح شوی، له لوړې رالوېدلی وي، په وهلو يا خفه کولو مړ شوی وي، د بې هوشۍ په دوا يا پر سر په گولۍ ويشتلو وژل شوی وي.

د هغي ويني خوړل حرام دي چې له رگونو بهېږي، نه هغه چې د غوښي په منځ کې پاته وي.

له الله پرته د بل چا په نامه او يا د بل چا د عزت او رضاء لپاره څاروی ذبح کول؛ نه يوازي حرام دي او د څاروي د غوښي د حرامېدو باعث کېږي بلکې يو ظلم دئ، دا حيوان ستا په څېر ژوند لري، درد احساسوي، مور، پلار او اولاد لري، که الله د هغه د ذبح کولو اجازه نه وی کړې نو په هيڅ عقلي دليل ئې څوك ذبح کول نه شي توجيه کولی، دا الله پيدا کړی، د ژوند په اړه ئې له الله پرته بل هيڅوك د پرېکړې حق نه لري، الله د يوه خاص ضرورت لپاره د هغه د ذبح کولو اجازه ورکړې، د ذبح کولو په وخت کې ئې بايد يوازي د

ده نوم واخيستل شي، له هغه پرته د هيچا په نامه د هغه ذبح کول جائز نه دي، نه يوازې د هغه ذبح شوي څاروي غوښه حرامه ده چې د ذبحې په وخت کې ئې د الله نوم نه وي ياد شوی، هغه هم حرامه ده چې د بل د تعظيم لپاره ذبح شي که څه هم د الله نوم پرې ياد شي. د پاچا، پير، بت، قبر او بل هر چا او هر څه د تعظيم او د هغه د رضاء حاصلولو لپاره د ذبح شوي څاروي غوښه حرامه ده. د مېلمه لپاره د څاروي ذبح کول جائز دي، خو د هغه او د بل هر چا په پېښو کې ئې ذبح کول نا جائز دي. مسلم روايت کوي چې پيغمبر عليه السلام فرمايلي: لَعَنَ اللهُ مَن ذَبَحَ لِغَيرِ اللهِ: په هغه چا دې د الله لعنت وي چې غيرالله ته د تقرب او تعظيم لپاره څاروی ذبح کوي.

که څه هم دلته په ځانګړې توګه د حرامو غوښو په اړه بحث شوی؛ خو محقق مفسرين او فقهاء په (ما اهل به لغيرالله) کې ټول هغه څه شامل ګڼي چې د غير الله په نامه وقف شي، که خوراك وي، که جامه، يا پيسه.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَشۡتَرُونَ بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ مَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ إِلَّا ٱلنَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٤﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡعَذَابَ بِٱلۡمَغۡفِرَةِۚ فَمَآ أَصۡبَرَهُمۡ عَلَى ٱلنَّارِ ﴿١٧٥﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ نَزَّلَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِي ٱلۡكِتَٰبِ لَفِي شِقَاقِۭ بَعِيدٖ ﴿١٧٦﴾

[١٧٤]- يقيناً هغه چې د الله کوم نازل کړی کتاب پټوي او لږ بدله پرې پېري، نو دا ډله له اور پرته بل څه په خپلو ګېډو کې نه خوري ( نه اچوي) او الله به نه د قيامت په ورځ ورسره خبرې کوي او نه به ئې پاکوي او دوی ته به دردناك عذاب وي. [١٧٥]- دا همغه دي چې بې لارتيا ئې په هدايت او عذاب ئې په مغفرت وپېرلو، نو څه شي پر اور صبر کوونکي کړل؟! [١٧٦]- دا له دې امله چې الله دا کتاب په حقه نازل کړی او چا چې په دې کتاب کې اختلاف وکړ؛ نو دوی په ژور اختلاف کې دي.

(١٧٤-١٧٦)- چا چې د الله د کتاب له بيانولو ډډه وکړه، د کومې دنيوي ګټې لپاره ئې د الله د کتاب کوم څه پټ کړل، د ظلم او فساد په خلاف ئې غږ اوچت نه کړ، له جهل او شرك د خلکو د ژغورنې لپاره ئې جهاد ونکړ، يا د دې لپاره چې ژوند او مال متاع ئې په خطر کې ونه لوېږي او يا د دې لپاره چې په دې کتمان سره له ظالمو واکمنانو څه تر لاسه

کړي، نو د قيامت په ورځ به الله تعالی له ده سره تکلم نه کوي، همغسي لکه چي ده د الله په کتاب تکلم نه وو کړی، له گناه به ئې پاك نه کړي، همغسي لکه چي ده له فساد سره مقابله نه وه کړې او ټولنه ئې له ظلم او شرك نه وه پاکه کړې، ده ته به دردناك عذاب وي، همغسي لکه چي ده مظلومان په دردناکو عذابونو کې يوازي پرېښي وو، څه چي په دې سکوت او مداهنت تر لاسه کوي په اصل کې د دوزخ اور دئ چي په خپلې گېډې کې ئې اچوي، دوی د هدايت پر ځای ضلالت غوره کړی او د مغفرت پر ځای الهي عذاب؛ د الله له کتاب د دوی هر اختلاف له حق او حقيقت اختلاف دئ.

لَّيْسَ ٱلْبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأٓخِرِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلْكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ وَءَاتَى ٱلْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِي ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَٰهَدُواْۖ وَٱلصَّٰبِرِينَ فِي ٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلْبَأْسِۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾

[١٧٧]- نېکي دا نه ده چي مخونه مو د مشرق او مغرب په لوري وگرځوئ، نه؛ نېکي دا ده چي چا پر الله، د آخرت پر ورځ، پر ملائکو، پر کتاب او پيغمبرانو ايمان راوړ او په داسي حال کې چي له مال سره ئې مينه هم وه خو هغه ئې خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو، مسافرانو او سؤالگرو ته ورکړ او د (محکومانو) د آزادولو لپاره (ئې ولگولو)، لمونځ ئې اداء کړ، زکات ئې ورکړ، په خپلو ژمنو وفا کوونکي؛ هر کله چي ئې ژمنه کړې، په کړاوونو، تاوانونو او د جگړې په دوران کې صبر کوونکي، همدا دوی (په خپل دين او ايمان کې واقعي) رښتيني او صادقان دي او همدا دوی متقيان دي.

(١٧٧)- د (صدق) او (تقوی) رښتينی معيار دغه دئ، همدا صفات چي په دې آيت کې تشريح شوي. (صادق) او (متقي) هغه څوك دئ چي دا صفات ولري، مبادا بل چا ته د نورو صفاتو له امله د (صادق او متقي) خطاب وکړئ، مبادا دا گمان وکړئ چي له دې پرته له نورو لارو د صدق او تقوی مقام ته رسېدل ممکن دي، مبادا هغه کسان د دې مقام خاوند وگڼئ چي د قبلې په اړه خو ډېر اهتمام کوي، مشرق او مغرب ته مخ کول ورته

مهم برېښي، په فرعي مسائلو ئې تأکید حیرانوونکی وي، خو نه ئې د الله په لار کې د جهاد لپاره ملا تړلې، نه ئې قرباني ورکړې، نه له خپل سر او مال د الله په لار کې تېرېدو ته چمتو شوی، نه ئې د دین په لار کې ستونزې او کړاوونه ګاللي، نه ئې په سنګرونو کې د جګړو په دوران کې د صبر او ثبات مظاهره کړې. ناپوه خلك داسې اساسي مسائلو ته د پام پر ځای او د هغه پر بنیاد د قضاوت کولو پر ځای، فرعي او ثانوي مسائلو ته اهتمام کوي او همدا د خپلو قضاوتونو بنیاد ګرځوي، پام کوئ چې تاسو د دوی په څېر نه شئ.

په دې مبارك آیت کې له زکات علاوه هم خپل مال انفاقول راغلي، له دې معلومېږي چې د مسلمان په مال کې له زکات علاوه هم حقوق شته، له ډېرو احادیثو هم دا خبره معلومېږي، په احادیثو کې خو په دې اړه هومره تأکید ګورو چې انسان مکلف کوي هر هغه څه انفاق کړي او حاجتمن ته ئې ورکړي چې د ده له حاجتونو زیات وي. قرآن په دې ارتباط فرمايي:

وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ ... البقرة: ٢١٩: او تا پوښتي چې څه انفاق کړي؟ ورته ووایه: همغه زیات ئې؛ د انفاق په اړه دلته دا ځواب ورکړی شوی چې له خپلو ضروري اړتیاوو چې څه زیات وي همغه د الله په لار کې انفاق کړئ، له دې لارښووني په ډاګه معلومېږي چې له ضروري اړتیاوو د اضافي شیانو په اړه د الله حکم دا دئ چې هغه به انفاق کېږي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِصَاصُ فِي ٱلۡقَتۡلَىۖ ٱلۡحُرُّ بِٱلۡحُرِّ وَٱلۡعَبۡدُ بِٱلۡعَبۡدِ وَٱلۡأُنثَىٰ بِٱلۡأُنثَىٰۚ فَمَنۡ عُفِيَ لَهُۥ مِنۡ أَخِيهِ شَيۡءٞ فَٱتِّبَاعُۢ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَأَدَآءٌ إِلَيۡهِ بِإِحۡسَٰنٖۗ ذَٰلِكَ تَخۡفِيفٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَرَحۡمَةٞۗ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿١٧٨﴾ وَلَكُمۡ فِي ٱلۡقِصَاصِ حَيَوٰةٞ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴿١٧٩﴾

[١٧٨]- اې مؤمنانو! د وژل شوو په اړه قصاص دربندي فرض کړی شوی، آزاد په آزاد، مریي په مریي او ښځه په ښځې، خو که چا ته د خپل ورور له لوري څه وبخښل شو، نو په ښه توګه ورپسې کېدل دي او په نېکه وجه ئې ده ته اداء کول، دا ستاسو د رب له لوري تخفیف او پېرزوینه ده، نو چا چې له دې وروسته تېری وکړ؛ هغه ته دردناك عذاب دئ. [١]- او اې عقلمنو! په قصاص کې تاسو ته ژوندون دئ؛ د

دې لپاره چې ځان ساتنه مو کړې وي.

(۱۷۸)- قصاص درباندې فرض کړى شوى، قاتل به دې ته غاړه ږدي، د آزاد په بدل کې آزاد، د مريي په بدل کې مريي او د ښځې په بدل کې ښځه، همدا راز نارينه د ښځې، ښځه د نارينه، مريي د آزاد او آزاد د مريي په مقابل کې. يوازې قاتل به وژل کېږي، که قاتل نارينه وي، يا ښځه، آزاد وي يا مريي، د قتل بدل به له بل چا نه اخيستل کېږي، داسې نه چې د قاتل خپلوان ووژل شي. د قصاص پرېکړه به د اسلامي حکومت قاضي کوي، داسې نه چې د مقتول ورثه په خپل سر دا کار وکړي. حکومت مکلف شوى چې د قصاص حکم به نافذوي، د مقتول ورثه ته به دا شرائط برابروي چې قاتل قصاص کړي.

قرآن د جاهليت د دور ټول هغه ناروا او ظالمانه دود دستور ختم کړ چې د قصاص او بدلې په اړه رائج وو. دوى خلك په عزيز او ذليل، شريف او رذيل، حر او عبد وېشلي وو، د قتلونو په اړه هم د دوى دا ناروا وېش په نظر کې نيول کېدو، شتمن د بې وزلي، شريف د رذيل او بادار د غلام په بدل کې نه وژل کېدو، اسلام راغى د خلکو تر منځ ئې د مساوات اعلان وکړ، وئې ويل چې ټول انسانان د يوه الله مخلوق او بندگان دي، په رگونو کې ئې يوه وينه خوځېږي، يو پر بل له تقوى پرته په بل څه کې فضيلت او شرف نه لري، د بدلې لپاره ئې د قصاص نوم کېښود چې معنى ئې برابري ده؛ او وئې ويل: نفس د نفس په مقابل کې، (أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ) دا د انسانانو تر منځ د برابرۍ هغه اعلان وو چې زر کاله وروسته هم د نړۍ د هيڅ هېواد په مدني قوانينو کې ئې بېلگه نه ليدل کېده، په عمل کې خو تر اوسه حتى په هغو هېوادونو کې چې په دروغو ځان د بشري حقوقو مخکښان گڼي او د انسانانو تر منځ د برابرۍ دعوى کوي، يوه هم دا اصل نه دئ مراعات کړى، امريکا خپلو فوځيانو ته په اشغال شوو سيمو کې د هر جنايت اجازه ورکوي، د جنگي جناياتو په نړۍ والو محاکمو کې د دوى د محاکمې مخالفت کوي، د بگرام، ابو غريب او گوانتانامو په جهنمي زندانونو کې چې دوى له بې وزلو بنديانو سره څه وکړل او عکسونه ئې د ټولې نړۍ په ورځپاڼو او ټلويزيونونو کې خپاره شول، دې ټولو ثابته کړه چې دا بې رحمه متمدن کافران لا څومره له هغه څه لرې دي چې اسلام ئې د انسان د کرامت د ساتنې، مساوات او د قصاص په اړه وايي، عجيبه لا دا ده چې دغه د تمدن او ترحم دروغجن، مکار او رياکار مدعيان د قصاص په اړه اسلامي قوانينو د اعتراض وړ گڼي او وايي چې د قتل په مقابل کې د قتل حکم بايد لغوه شي او د نړۍ د ټولو هېوادونو له اساسي قوانينو او جزائي احکامو حذف شي، خو اسلام که له يوې خوا وايي چې قصاص د خلکو ژوند خوندي کوي، په قصاص سره عدالت تأمينيږي، په قصاص سره د قتلونو مخنيوى کېږي، له بلې خوا د

دیت په قانون سره قاتل او د مقتول د کورنۍ تر منځ د روغې جوړې لار پرانیزي او د قصاص واك د مقتول ورثه ته ورکوي، خو یوه ته ئې ویلي: قصاص ته به غاړه ږدې، بل ته ئې ویلي: یوازې له قاتل به قصاص اخلې نه د ده له خپلوانو. یوه ته ئې وویل: که د مقتول ورثه له قصاص منصرف او په دیت راضي شول نو په ښه توګه به هغه اداء کوې او بل ته ئې وویل: په دیت له رضایت وروسته به په ښه توګه د هغه مطالبه کوې، مبادا د دیت تر لاسه کولو وروسته له قاتل د غچ او انتقام اخیستو هڅه وکړې.

په قصاص سره د قتلونو مخنیوی کېږي، د خلکو ژوند د هغو قاتلانو له ګواښونو خوندي پاته کېږي چې د قصاص د نشتوالي په صورت کې په هر بې وزلي تېری کوي او د ټولني امنیت او د خلکو ژوند له خطر سره مخامخ کوي. په ټولني کې واقعي امنیت نه په پولیسي او جاسوسي نظام او د پولیسو په زیاتولو راتلی شي او نه د زندانونو په جوړولو او ډکولو سره، له دې لارې راغلی امنیت تل کاذب او موقتي وي، د نیویارك په څېر د امریکا په لویو لویو ښارونو کې چې په هر ګام کې پولیس او د استخباراتو غړي ولاړ وي او هرې خوا ته کامرې نصب دي، خو څوك نه په جیب کې له ځان سره پیسې ساتي او نه لاسي بکس ګرځوي، له دې وېرې چې بدمعاشان به ئې په چاړه تهدید او هر څه به ترې واخلي، که د څو ساعتونو لپاره برېښنا ولاړه شي؛ هومره جنائې پېښې رامنځته شي چې د آسیا په لویو لویو ملکونو کې په یوه کال کې هم دومره پېښې نه کېږي.

كُتِبَ عَلَيۡكُمۡ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ إِن تَرَكَ خَيۡرًا ٱلۡوَصِيَّةُ لِلۡوَٰلِدَيۡنِ وَٱلۡأَقۡرَبِينَ بِٱلۡمَعۡرُوفِۖ حَقًّا عَلَى ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿١٨٠﴾ فَمَنۢ بَدَّلَهُۥ بَعۡدَ مَا سَمِعَهُۥ فَإِنَّمَآ إِثۡمُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴿١٨١﴾ فَمَنۡ خَافَ مِن مُّوصٖ جَنَفًا أَوۡ إِثۡمٗا فَأَصۡلَحَ بَيۡنَهُمۡ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٨٢﴾

[١٨٠]- کله چې مو کوم یوه ته مرګ راوړاندې شي، که څه مال تر شا پرېږدي؛ نو د مور پلار او خپلوانو په اړه په معروفه توګه وصیت پر تاسو فرض کړی شوی، دا پر متقیانو یو لازمي حق دئ. [١٨١]- او چا چې له اورېدو وروسته هغه (وصیت) بدل کړ، نو ګناه ئې په هغو ده چې بدل ئې کړ، بې شکه چې الله ښه پوه اورېدونکی دئ. [١٨٢]- نو که څوك د وصیت کوونکي له کوم ظلم یا کومې ګناه ووېرېدو او د دوی تر منځ ئې روغه جوړه وکړه؛ نو کومه ګناه پرې نشته؛ یقیناً چې الله ډېر مهربان بخښونکی دئ.

(۱۸۰-۱۸۲)- پر مالدارو متقیانو؛ له مرگ مخکې وصیت کول لازم دي، په معروفه توگه وصیت. که څه هم د زکات له فرض کېدو او د ورثه وو د حقوقو له تعیین وروسته د وصیت ضرورت منتفي برېښي، خو بیا هم داسې حالات راوړاندې کېږي چې په وصیت سره ډېرې ستونزې حل کېدی شي، د میراث له برخو د محرومو بې وزلو خپلوانو مشکل پرې حل کېږي، وصیت کوونکی کولی شي د خپل مال له درېیمې برخې له دغو مستحقو بې وزلو خپلوانو سره مناسبه مرسته وکړي. مثلاً د پلار په ژوندون کې د ده کوم زوی مري، د دې زوی ښځه او اولاد په میراث کې ثابت حق نه لري، خو پلار کولی شي له دغې درېیمې برخې له دوی سره د مرستې وصیت وکړي. په وصیت کې دوه شرطونه وضع شوي: لومړی دا چې د هغه چا په اړه به وصیت نه کوي چې الله تعالی په خپله په میراث کې ورته حصه او سهم ټاکلی، دوهم دا چې د مال له درېیمې برخې د زیات څه وصیت حق نه لري. که وصیت کوونکې دا ضوابط مراعات نه کړل او په وصیت کې څه تېری ترې وشو، د وصیت اورېدونکې ته دا صلاحیت ورکړی شوی چې وصیت سم کړي او مناسبه تبدیلي په کې وکړي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾ أَيَّامٗا مَّعۡدُودَٰتٖۚ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٖ فَعِدَّةٞ مِّنۡ أَيَّامٍ أُخَرَۚ وَعَلَى ٱلَّذِينَ يُطِيقُونَهُۥ فِدۡيَةٞ طَعَامُ مِسۡكِينٖۖ فَمَن تَطَوَّعَ خَيۡرٗا فَهُوَ خَيۡرٞ لَّهُۥۚ وَأَن تَصُومُواْ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿١٨٤﴾

[۱۸۳]- اې مؤمنانو! پر تاسو روژه داسې فرض کړی شوې لکه له تاسو پر مخکینیو چې فرض کړی شوې وه، د دې لپاره چې ځان ساتنه مو کړې وي. [۱۸٤]- څو شمېرلې ورځې، خو که څوك له تاسو بیمار وي او یا په سفر لگیا وي، نو بیا ئې له نورو ورځو د شمېر پوره کول دي؛ او پر هغه چا چې په تکلیف سره ئې نیولی شي؛ د یوه مسکین (د ورځنې) خوراك فدیه ده؛ نو که څوك په خپله خوښه د خیر کار تر سره کړي، دا ورته غوره دئ او که روژه ونیسئ دا درته غوره ده، که وپوهېږئ.

(۱۸۳)- روژه په مخکینیو امتونو هم فرض وه، د روژې هدف دا دئ چې په تاسو کې د تقوی او ځان ساتنې ماده پیاوړې شي، اراده مو مضبوطه شي، څوك چې یوه میاشت له

حلال رزق لاس اخیستل تمرین کړي، نفس ئې په وار وار له هغه مکرر غوښتني وکړي خو هغه ئې غوښتنو ته تسلیم نه شي، ځان وساتي، په دې سره د ده اراده مضبوطه او پیاوړې شي او له روژې وروسته د نفس د ناجائزو او ناروا غوښتنو په وړاندې مقاومت او ځان ساتل ورته آسان شي.

پیغمبر علیه السلام د روژې میاشت د صبر میاشت ګڼلې، یعني روژه په تاسو کې صبر راپیدا کوي؛ او د صبر اجر جنت دئ. همدا راز مسلم او بخاري روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: الصِّيَامُ جُنَّةٌ فَلاَ يَرْفُثْ وَلاَ يَجْهَلْ، وَإِنِ امْرُؤٌ قَاتَلَهُ أَوْ شَاتَمَهُ فَلْيَقُلْ: إِنِّي صَائِمٌ مَرَّتَيْنِ: روژه ډال ده نو روزه نیوونکی دې نه د بې حیائې کار کوي او نه جاهلانه عملونه او که چا ورسره جګړه کوله او یا ئې وښکنځلو؛ نو دوه ځله دې وwایي: زه روژتي یم.

په سفر کې د روژې د نه نیولو رخصت ورکړی شوی، په عوض کې به ئې بل وخت روژه نیول کېږي، د سفر حد له احادیثو معلومېږي، د دریو ورځو عادي مزل د سفر حد ګڼل شوی او دا د میل په حساب تقریباً ٤٨-٥٠ میله او د کیلو متر په حساب نژدې ٧٨ -٨٤ کیلومتره کېږي.

(١٨٤)- دا آیت اکثرو مفسرینو داسي ترجمه کړی: که څوك د روژې طاقت لري خو نه ئې نیسي؛ پر ده فدیه لازمه ده، د دې ترجمې له مخې دا آیت د روژې په اړه لومړی لارښوونه ده چې په وروسته راتلونکي آیت سره منسوخ شوی، په ابتداء کې د روژې نیول د مسلمانانو خوښې ته پرېښودل شوې وه، که ئې نه نیوله فدیه به ئې ورکوله. خو ځیني نور ئې داسي ترجمه کوي لکه چې موږ پورته نقل کړې، په دې صورت کې آیت منسوخ نه دئ؛ بلکې د هغو ناتوانه کسانو او بوډاګانو په اړه دئ چې د روژې نیول ورته ډېر ګران وي، دوی کولی شي د روژې پر ځای یوه مسکین ته د یوې ورځې خوراك ورکړي او که تر دې زیات ورکړي نو دا ورته غوره دئ او که له تکلیف سره سره او په داسي حال کې چې الله تعالی ورته رخصت ورکړی؛ روژه ونیسي دا لا ورته غوره دئ. دا خبره د توجه وړ ده چې د روژې فدیه د یوه کس ورځنی خوراك ټاکل شوی، د روژې یو هدف دا دئ چې مسلمانان له بې وزلو سره مرستې ته تیار کړي.

شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٖ

فَعِدَّةٌ مِّنۡ أَيَّامٍ أُخَرَۗ يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلۡيُسۡرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلۡعُسۡرَ وَلِتُكۡمِلُواْ ٱلۡعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُواْ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمۡ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿١٨٥﴾

[۱۸۵]- د روژې مياشت هغه ده چې په هغې کې قرآن نازل شوی؛ د خلکو لپاره لارښود، د هدايت څرګندې نښې او فرقان، نو چې څوك دا مياشت بيامومي هغه دې روژه ونيسي او څوك چې بيمار وي او يا په سفر کې، نو پر ده د نورو ورځو شمېر پوره کول دي، الله تاسو ته د آسانتيا اراده لري او د سختۍ اراده درته نه لري، دا د دې لپاره چې شمېر پوره کړئ او د دې لپاره چې الله د هغه څه لپاره په لويي ياد کړئ چې تاسو ئې هدايت کړئ او چې شکر وکړئ.

---

(۱۸۵)- په دې مبارك آيت کې څو اساسي لارښووني مومو:

- د دې مياشتې روژه د دې لپاره فرض کړی شوې چې په دې کې قرآن نازل شوی، دا د خلکو لپاره لارښود کتاب، دا د څرګندو لارښوونو او د حق او باطل تر منځ د فرق کولو لپاره روڼ څراغ په کې نازل شوی، د دې ستر نعمت د شکر اداء کولو لپاره بايد روژه ونيسئ.
- په دې روژې سره به تاسو د الله په لويي او عظمت اعتراف کړی وي او د همدې روژې او د قرآن د درناوي په وجه به مو هدايت په برخه شي.
- له دې آيت دا هم په څرګنده توګه معلومېږي چې د روژې مياشتې په داخلېدو سره د نړۍ پر ټولو مسلمانانو روژه نيول فرض کېږي او د روژې مياشت هغه وخت پيل کېږي چې د دې مياشت سپوږمۍ له محاق ووځي او د نړۍ په کوم ځای کې وليدل شي، له محاق وتل او چېري د هغې څرګندېدلو معنی دا ده چې نوې مياشت پيل شوې او په ټولو روژه نيول لازم شوي، د دې آيت له مخې د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري، داسې نه ده چې مياشتې په هر هېواد کې بېل بېل پيل او پای لري؛ بلکې په ټولې نړۍ کې يو پيل او يو پای لري؛ پيل او پای ئې په يوه معينه ورځ، ساعت، دقيقه او ثانيه. د نړۍ په هر ځای کې چې د نوې مياشت سپوږمۍ وليدل شي؛ نو نوې مياشت پيل شوې؛ د ليدو لپاره ئې د دوو عادل شاهدانو ګواهي کافي ده؛ د نړۍ پر ټولو مسلمانانو ئې روژه نيول فرض کېږي.

په آيت کې ويل شوي: (فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ: نو چې څوك دا مياشت بيامومي هغه دې روژه ونيسي)؛ داسې نه دي ويل شوي (فمن رأى منكم القمر: څوك چې له تاسو سپوږمۍ وګوري)؛ يعنې د روژې نيول د روژې مياشتې په پيل پوري مربوط ده؛

هر څوك چې دې میاشت ته ننوځي؛ نو روژه نیول پرې فرض شوه. البته د روژې میاشتې پیل او پای د سپوږمۍ له مخې ټاکلی شو.

• داسې ګمان مه کوئ چې الله تعالی له خپلو بندګانو سره د سختې کولو اراده لري، نه هغه په خپلو بندګانو ډېر ډېر مهربان دئ، قرآن رالېږل او روژه فرض کول د ده د پېرزویني او رحمت نښې او اسباب دي، له سختیو د ژغورنې لپاره ئې دا قرآن رالېږلی او د قرآن د راتلو د میاشتې روژه ئې فرض کړې.

له دې آیت دا هم په څرګنده توګه معلومېږي چې د روژې میاشتې په داخلېدو سره د نړۍ پر ټولو مسلمانانو باندې روژه نیول فرض کېږي او د روژې میاشت هغه وخت پیل کېږي چې د دې میاشت سپوږمۍ له محاق ووځي او د نړۍ په کوم ځای کې ولیدل شي، له محاق وتل او چېرې د هغې څرګندېدلو معنی دا ده چې نوې میاشت پیل شوې او په ټولو روژه نیول لازم شوي، د دې آیت له مخې د مطالعو اختلاف اعتبار نه لري، داسې نه ده چې میاشتې په هر هېواد کې بېل بېل پیل او پای لري.

د میاشتو لپاره دوه معروف تقویمونه لرو؛ یو ئې د لمر پر محور د زمکې په حرکت پوري او بل ئې د زمکې پر محور د سپوږمۍ په حرکت پوري مربوط دئ، زمکه په درې سوه پنځه شپېته ورځو او څه د پاسه شپږو ساعتونو کې یو ځل د لمر پر محور څرخي، دې ته ځینو د یوه کال نوم ورکړی، هغه ئې په دولسو میاشتو وېشلی، ځینې ئې دېرش او ځینې ئې یو دېرش ورځې دي. او سپوږمۍ په (۲۹ ورځو ۱۲ساعتونو ٤۳ دقیقو او ۱۲ ثانیو) کې د رؤیت پړاو بشپړوي؛ دا موده ثابته ده، که څوك علمي محاسبې ته ارزښت ورکړي نو د بشپړ کال ټولې قمري میاشتې داسې ټاکل کېدی شي چې کمی او زیاتی به په کې نه راځي، د محاسبې له مخې دا معلومېدی شي چې سپوږمۍ کله خپل میاشتنی مدار بشپړوي، په کوم ځای کې، په کوم ساعت، دقیقه او ثانیه له سترګو پټېږي او چېرې، په کوم ساعت، دقیقه او ثانیه راڅرګندېږي او د نوې میاشتې مدار پیلوي. دا چې اسلام د میاشتې د پیل او پای لپاره رؤیت ته اعتبار ورکړی دا ډېره دقیقه او علمي وینا ده، ځکه د سپوږمۍ په لیدو سره ثابته کېږي چې هغه د نوې میاشتې مدار ته داخله شوې. څوك چې رؤیت ته اعتبار نه ورکوي او د هرې سیمې لپاره د مستقل او بېل رؤیت خبره کوي ډېر کم عقله او له دین او علم بې خبر دئ. اوس او د مخکې تللو وسائلو په مرسته؛ هغه ثانیه او سیمه هم په دقیقه توګه معلومولی شو چې سپوږمۍ له محاق وځي، د مخکینۍ میاشتې مدار ئې بشپړ کېږي او د نوې میاشتې مدار پیلوي. دا هم ډېره علمي خبره ده چې د رؤیت لپاره د دوه متقي انسانانو شهادت کافي ګڼل شوی. ناپوهان او هغه ټګماران

چي د دښمن له لوري ګمارل شوي چي په امت کې اختلافات راولاړ کړي؛ له دې موضوع هم د اختلاف وسیله جوړوي، شیعه او بریلویان له سعودي او سلفیانو سره د سیاسي او مذهبي اختلاف له کبله روژه او اختر یوه او حتی دوه ورځي وروسته اعلانوي!! احناف د سپوږمۍ د مطالع (راڅرګندېدو) اختلاف د اعتبار وړ نه ګڼي؛ د قرآن، حدیث او علم وینا همدا ده.

راشئ دا موضوع په دې توګه ستاسو مخي ته کښېږدم: تاسو کولی شئ په خپل کمپیوټر کې داسي سافټ ویر (پروګرام) نصب کړئ چي د میاشتي په پیل کې د سپوږمۍ د راڅرګندېدو او په پای کې له سترګو پټېدو او په نوې میاشت کې د بیا راڅرګندېدو دقیقه نېټه، وخت، ساعت، دقیقه او ثانیه، هره ورځ د سپوږمۍ د طلوع او غروب وخت دروښیي؛ داسي لکه چي د لمر د طلوع او غروب وخت درښیي او همغسي لکه چي ستاسو ساعت د لمر طلوع، غروب او د لمانځه وختونه درښیي. اوس که تاسو د روژې په نه ویشتمه او د ماښام په ٦ بجو؛ چي همدا ستاسو په ځای کې د ماښام د أذان وخت دئ؛ له خپل کمپیوټر وپوښتئ چي سپوږمۍ به کله او چېري راڅرګندېږي؛ او تاسو ته ووایي: د راڅرګندېدو لپاره ئې لا دوه ساعته او دېرش دقیقې پاته دي؛ د دې معنی دا ده چي سپوږمۍ به په هغه هېواد کې لیدل کېږي چي ستاسو د اوسني موقعیت په غرب کې او له تاسو دومره لري پروت دئ چي د وخت توپیر ئې ستاسو له موقعیت سره دوه نیم ساعته دئ؛ یعني چي سپوږمۍ به په مصر او د مصر په غرب کې هېوادونو لکه لیبیا او المغرب کې لیدل کېږي؛ که تاسو د سعودي د مفتي په فتوی عمل کوئ او منتظر یئ چي په سعودي کې د تلسکوپ شا ته ناست مفتي به د سپوږمۍ په اړه تاسو ته دقیق او صحیح معلومات درکړی شي؛ نو یقیناً چي اشتباه مو کړې؛ او که مو له مصر، لیبیا او مراکش واورېدل چي سپوږمۍ ولیدل شوه نو پر تاسو لازمه ده چي د هغوی په فتوی همداسي عمل وکړئ لکه چي په خپل هېواد یا په سعودي کې د یوه مفتي په فتوی روژه نیسئ او اختر کوئ؛ آیا د دې لپاره کومه عقلي او شرعي توجیه موندلی شو چي د سعودي په فتوی عمل کولی شو خو د نورو هېوادو د مسلمانو مفتیانو او شاهدانو په وینا عمل نشو کولی؟! آیا دا صحیح ده چي د لمانځه د وختونو په ارتباط پر ساعت باور او عمل کولی شو خو د هلال په ارتباط په خپل کمپیوټر باور او عمل نه شو کولی؟ پیشلمی او روژه ماتی یا د ساعت له مخي کوو یا د هغه مؤذن په أذان چي د یوه داسي جدول له مخي أذان کوي چي د ساعت په مرسته جوړ شوی؛ او د سپوږمۍ د مطالع او د میاشتي د پیل او پای په اړه د ساعت او کمپیوټر دقیق او علمي معلومات د اعتبار وړ نه ګڼو؟!!

رسول الله صلی الله علیه و سلم د قمري میاشتي د عمر په اړه څوارلس پېړۍ وړاندې فرمایلي چي قمري میاشت ۲۹ ورځې ده؛ په داسي حال کي چي هغه مهال عام ذهنیت دا وو چي قمري میاشت دېرش ورځې ده!! دا هغه دقیقه او علمي وینا ده چي انسانان ئې اوس په حقیقت پوه شوي؛ ساینس پوهان وایي چي قمري میاشت ۲۹ ورځې ۱۲ساعتونه ٤٤ دقیقې او ۳ ثانیې ده؛ راشئ دې روایاتو ته لږ ځیر شئ:

عن ابن عُمَرَ قال: قال رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: "الشَّهرُ تِسعٌ وعِشرونَ لَيلَةً لا تَصوموا حَتَّى تَرَوه ولا تُفطِروا حَتَّى تَرَوه إلَّا أن يُغَمَّ عَلَيكُم فإن غُمَّ عَلَيكُم فاقدُروا له" السنن الكبرى للبيهقى

له ابن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: میاشت نه ویشت ورځې ده؛ نو تر هغه روژه مه نیسئ چي وئې ګورئ او مه ئې ماتوئ تر هغه چي وئې ګورئ او که دربانديي وپوښل شوه نو ورته پیاوړي شئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: ذَكَرْنَا لَيْلَةَ الْقَدْرِ عِنْدَ رَسُولِ الله صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: "كَمْ مَضَى مِنَ الشَّهْرِ " فَقُلْنَا: مَضَى اثْنَانِ وَعِشْرُونَ يَوْماً وَبَقِي ثَمَانٍ فَقَالَ: "لا" بَلْ مَضَى اثْنَانِ وَعِشْرُونَ يَوْماً وَبَقِي سَبْعٌ؛ الشَّهْرُ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ يَوْماً فَالْتَمِسُوهَا اللَّيْلَةَ" رواه ابن حبان

له ابو هریره روایت دئ چي وئې ویل: د رسول الله صلی الله علیه و سلم خوا ته مو د قدر شپې یادونه وکړه نو وئې فرمایل: د میاشتي څومره تېره شوې؟ نو ومو ویل: دوه ویشت ورځې تېري شوې او اته پاته دي. نو وئې فرمایل: نه؛ بلکي دوه ویشت ورځې تېري شوې او اوه پاته دي؛ میاشت نه ویشت ورځې ده؛ نو له مخي ئې دا شپه ولټوئ.

دې ته ورته روایات زیات دي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم په مختلفو مواردو کي ویلي چي میاشت ۲۹ ورځې ده؛ همدا باید د روژې د میاشتي د روژو اصلي شمېر ونیسو او دېرشمه به ئې یوازي هغه مهال نیسو چي د سپوږمۍ لیدل تثبیت نه شي؛ د لیدني لپاره ئې هم د دوو مسلمانو شاهدانو شهادت کافي دئ؛ دې روایت ته ځیر شئ:

عن ابى هريرةَ: قال رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: "صوموا لِرُؤيَتِه وأَفطِروا لِرُؤيَتِه فإن غُمَّ عَلَيكُمُ الشَّهرُ فعُدّوا ثَلاثينَ". رَواه مسلمٌ

له ابو هریره روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وویل: په لیدو سره ئې روژه ونیسئ او په لیدو سره ئې ماته کړئ. او که میاشت دربانديي شکمنه شوه نو دېرش ئې

وګڼئ.

عن عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زَيْدِ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ أَلَا إِنِّي قَدْ جَالَسْتُ أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَأَلْتُهُمْ أَلَا وَإِنَّهُمْ حَدَّثُونِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَنْ تَشَكُّوا لَهَا فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَأَتِمُّوا ثَلَاثِينَ وَإِنْ شَهِدَ شَاهِدَانِ مُسْلِمَانِ (ذَوَا عَدْلٍ) فَصُومُوا وَأَفْطِرُوا " مسند أحمد

له عبدالرحمن بن زيد بن خطاب روايت دئ چي وايي: د رسول الله صلى الله عليه و سلم له اصحابو سره کښېنستلی يم او ترې پوښتلي مي او هغوی راته ويلي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ويلي: په ليدو سره ئې روژه ونيسئ او په ليدو سره ئې ماته کړئ؛ او که مياشت درباندي شکمنه شوه نو دېرش ئې وګڼئ او که دوه عادل مسلمانان ئې د ليدو شهادت ورکړي نو روژه شئ او إفطار ئې کړئ.

---

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴿١٨٦﴾

[١٨٦]- او کله چي زما بندګان زما په اړه له تا پوښتنه وکړي، نو زه يقيناً نژدې يم، کله چي دعاء کوونکی راته دعاء وکړي نو دعاء ئې قبلوم، نو زما بلنه دي ومني او پر ما دي ايمان راوړي چي رشد او کمال ته ورسېږي.

---

(١٨٦)- د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کي دا مطلب توضيح شوی چي الله تاسو ته درنږدې دئ، ډېر نژدې، د غاړي تر رګ هم درنږدې، که دوه ياست دريېم مو الله دئ او که درې وئ څلورم مو الله دئ، چي هر ځای وئ الله درسره دئ، ستاسو دعاءګاني اوري او قبلوي ئې، نه الله له تاسو لري دئ، نه ستاسو او د الله تر منځ پراوونه او حجابونه شته، نه الله ته د رسېدو او د خپلو دعاءګانو د وړاندي کولو لپاره واسطې او وسيلې ته ضرورت شته، هره شېبه، په هر ځای او هر حالت کي، مخامخ خپل الله ته خپل عرائض وړاندي کولی شې او مطمئن اوسه چي الله ئې په خپله مخامخ اوري او قبلوي ئې. په دې سره د هغه شرکي عقائدو جرړي ايستل کېږي چي الله ته د دعاءګانو په اورېدو او قبلېدو کي شريك ثابتوي او وايي: ستا دعاء او عبادت په هغه صورت کي تر خدايه رسي او قبلېدی شي چي د ده د نازولو له لاري وړاندي شي او هغوی ئې د قبلېدو سپارښتنه وکړي!!

چي الله درنږدې دئ، نو په دعاءګانو کي مو دا مطلب مراعاتوئ، په چيغو چيغو دعاء

کول د دې باور خلاف کار دئ، په چیغو چیغو خو هغه چا ته دعاء کېږي چې لرې وي، دعاء خپل آداب لري، يو ئې همدا دئ. د روژې په بحث کې د دې خبرې له کولو دا هم معلومېږي چې د روژې په حالت کې انسان خپل رب ته ډېر ورنږدې وي او دعاء ئې اجابت ته قريب.

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ ٱلصِّيَامِ ٱلرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَآئِكُمْۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّۗ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْۖ فَٱلْـَٰٔنَ بَٰشِرُوهُنَّ وَٱبْتَغُواْ مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْۚ وَكُلُواْ وَٱشْرَبُواْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ ٱلْخَيْطُ ٱلْأَبْيَضُ مِنَ ٱلْخَيْطِ ٱلْأَسْوَدِ مِنَ ٱلْفَجْرِۖ ثُمَّ أَتِمُّواْ ٱلصِّيَامَ إِلَى ٱلَّيْلِۚ وَلَا تُبَٰشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَٰكِفُونَ فِي ٱلْمَسَٰجِدِۗ تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَاۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ ءَايَٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿١٨٧﴾

[۱۸۷]- له خپلو مېرمنو سره د روژې د شپې نژدې والی (جماع) درته حلال کړی شوې؛ هغوی ستاسو لپاره لباس او تاسو د دوی لپاره لباس يئ؛ الله په دې پوه شوی چې تاسو له ځان سره خيانت کولو؛ نو پر تاسو (له خپل رحمت سره) راوگرځېدو او عفو ئې درته وکړه؛ نو اوس له دوی سره مباشرت کوئ او هغه څه وغواړئ چې الله درته مقدر کړي (د اولاد درلودو په نيت نژدې والی وکړئ) او وخورئ او وڅښئ تر هغه چې د سباوون سپينه کرښه له توري درته څرگنده شي؛ بيا مو روژه تر شپې پوري پوره کړئ او له دوی سره په هغه وخت کې مباشرت مه کوئ چې په جوماتونو کې معتکف وئ؛ دا الهي حدود دي نو هغوی ته مه نژدې کېږئ؛ همدا راز الله خلکو ته خپل آيتونه بيانوي چې ځان وساتي.

(۱۸۷)- مسلمانانو داسي گمان کاوو چې د روژې په شپه له ويدېدو وروسته بايد له مېرمنو سره له نژدې والي ډډه وکړي، په دې اړه دوی ته کوم حکم نه وو شوی، که څه هم ځيني په دې باور دي چې دا کار په دوی حرام کړی شوی وو، خو نه په قرآن کې د داسي حرمت په اړه څه حکم راغلی او نه په حديث کې، په خپله ئې همداسي انگېرله، خو احياناً به ئې د خپل دغه ذهنيت خلاف کار وکړ او په دې سره به ئې د گناه او خيانت احساس کاوو، الله تعالی په صريحو الفاظو د دې اجازه ورکړه او وئې فرمايل چې مېرمن د خاوند

لپاره او خاوند د مېرمني لپاره له گناهونو د حفاظت سبب دئ، داسي لکه لباس چي انسان له تودوخي او يخنۍ ساتي، همدا راز ئې ورته وويل چي د مباشرت هدف او غايه بايد د اولاد درلودل وي، نه فقط د جنسي غريزې اشباع. دا وضاحت ئې هم وکړ چي د روژې وخت د سباوون د سپيني گاري له راڅرگندېدو د شپې تر پيل پوري دئ، شپه د لمر په لوېدو سره پيل کېږي.

رسول الله صلى الله عليه و سلم د روژه ماتي او سحري په اړه فرمايي: تر هغه چي زما امت په افطار کي تلوار او په سيمي( پيشلمي) کي تأخير کوي؛ د خير طمع ئې کېدی شي، دا ځکه چي دا کار د دې نښه ده چي دوی د بې ځايه تقوی په نامه په دين کي له ځانه څه نه دي زيات کړي، د اکثرو امتونو انحراف له همدې ځايه پيل شوی، مذهبي مشرانو او علماءو ئې له خپله لوري په دين کي زياتوالی راوستی، د قرآن په اصطلاح د خلکو پېټي ئې درانه کړي او په لاس پښو کي ئې ورته زنځيرونه او زولنې اچولي، د هر پيغمبر يوه لويه دنده دا گڼل چي راغلی دا اضافي پېټي د خلکو له اوږو راکوز کړي او دا زنځيرونه وشلوي. پيغمبر عليه السلام به د لمر له لوېدو سره سم خپله روژه ماتوله.

عَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ...كَانَ يَقُولُ: «لَا تَزَالُ أُمَّتِي بِخَيْرٍ مَا أَخَّرُوا السَّحُورَ، وَعَجَّلُوا الْفِطْرَ» مسند احمد

له ابو ذر رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به ويل: امت مي تر هغه په ښه حالت کي دئ چي سحري ځنډوي او په روژه ماتي کي تلوار کوي.

په پورتني مبارك آيت کي دا هم ويل شوي چي په احتياط سره د الله د حدودو خيال ساتئ، تر آخري پولي پوري مه ځئ؛ لږ لري پاته شئ، ځکه په آخري حد کي د دې احتمال وي چي د پښې لږ ښوييدو سره له پولي واوړئ او له حد تېری وکړئ.

وَلَا تَأْكُلُوٓاْ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ وَتُدْلُواْ بِهَآ إِلَى ٱلْحُكَّامِ لِتَأْكُلُواْ فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ بِٱلْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٨﴾

[۱۸۸]- او مالونه مو په خپلو کي په ناحقه مه خورئ او واکمنانو ته ئې د دې لپاره مه وړاندي کوئ چي د خلکو د مال کوم څه په ناروا وخورئ، په داسي حال کي چي پوهېږئ.

(۱۸۸)- له ناروا معاملاتو ډډه وکړئ، يو د بل مال په ناروا مه خورئ، حاکمانو ته د دې لپاره رشوتونه مه ورکوئ چي د دوی په زور د بل مال په ناحقه غصب کړئ، په داسي حال

کې چې ښه پوهېږئ دا د بل مال دئ او غصب کول ئې درته حرام دي.

د روژې په بحث کې د دې حکم راتګ دا مطلب په ګوته کوي چې روژه په اصل کې له حرامو د ځان ساتني او په حلال رزق د قناعت کولو لپاره فرض شوې، څوك چې د الله لپاره حلال رزق پرېږدي هغه به څنګه حرام خوري او د دې لپاره به حکامو ته رشوت ورکوي چې د بل مال په ناروا توګه غصب کړي.

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْأَهِلَّةِ ۖ قُلْ هِىَ مَوَٰقِيتُ لِلنَّاسِ وَٱلْحَجِّ ۗ وَلَيْسَ ٱلْبِرُّ بِأَن تَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَـٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنِ ٱتَّقَىٰ ۗ وَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَٰبِهَا ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٨٩﴾

[١٨٩]- د سپوږمۍ رابره کېدو په اړه له تا پوښتنه کوي، ورته ووايه: دا د خلکو لپاره د وختونو او د حج د تعيين وسيله ده او ښېګڼه دا نه ده چې کورونو ته له شا راشئ، بلکې ښېګڼه دا ده چې څوك ځان وساتي؛ او کورونو ته له دروازو ننوځئ او له الله ووېرېږئ چې بريالي شئ.

(١٨٩)- خلکو به له پيغمبر عليه السلام راز راز پوښتني کولې او دا انتظار ئې درلود چې د دوی د هري پوښتني ځواب به ورکوي، د سپوږمۍ په اړه ئې هم ترې پوښتنه کوله چې دا څنګه راڅرګنده شي، وړه وي، ورو ورو لويه شي، بېرته وړه شي او د مياشت په پای کې له سترګو غائبه شي؟ دلته د دوی په ځواب کې دوه خبري شوې: دا الله تعالی د وخت د تعيين لپاره په دې بڼه کې پيدا کړي، د وخت د تعيين لپاره داسي وسيله ده چې هر څوك، لوستی او نالوستی، هم د ساعتونو تعيين پرې کولی شي، هم د مياشتو او هم د کلونو، که ئې کوم کال د دوبي په لومړۍ مياشت کې روژه نيولې وه او سږ کال بيا په همدې مياشت کې روژه نيسي، ډېر ژر کولی شي پوه شي چې په ده باندي شپږ ديرش کاله تېر شوي، د وخت دا محاسبه له بلي لاري ډېره ګرانه ده. خو دا چې د مياشتي حالت څنګه بدلېږي رابدلېږي، قرآن هغوی ته وايي: اوس په دې پوهېدل تاسو ته ګران کار دئ، په يوه څه پوهېدل ځانته وخت او ځانته خاصه لار لري، په خپل وخت او له خپلي لاري ئې د پوهېدو لپاره صبر وکړئ، لکه چې کورونو ته بايد له خپلي دروازې ننوځئ نه له شا، همدا راز په دې پوهېدل چې د سپوږمۍ حالت څنګه بدلېږي رابدلېږي، دا هم خاص وخت او داسي خاصي پوهي ته ضرورت لري چې اوس ئې تاسو نه لرئ، تر هغه صبر وکړئ چې په دې پوهېدل درته ممکن شي. احياناً له خپله وخته مخکې د يوه څه په اړه پوښتني د دې پر ځای چې

ګټه وکړي انسان ته ستونزي راولاړوي، قرآن دغه مطلب ته په دې آيت کې داسي اشاره کوي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَسۡـَٔلُواْ عَنۡ أَشۡيَآءَ إِن تُبۡدَ لَكُمۡ تَسُؤۡكُمۡ وَإِن تَسۡـَٔلُواْ عَنۡهَا حِينَ يُنَزَّلُ ٱلۡقُرۡءَانُ تُبۡدَ لَكُمۡ عَفَا ٱللَّهُ عَنۡهَاۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٞ ﴿١٠١﴾ المائدة

اې مؤمنانو! د هغو شيانو په اړه پوښتني مه کوئ چي که درته څرګند شي نو خفه به مو کړي او که په اړه ئې هغه وخت پوښتنه وکړئ چي قرآن نازلېږي نو درته څرګند به شي، الله دي د دې عفو وکړي او الله حليم بخښونکی دئ.

په تفاسيرو کې دا هم راغلي چي ځيني عرب به له حج وروسته خپلو کورونو ته د دروازې له لاري ننوتل، يا به ئې د شا له دېواله کور ته دانګل، يا به ئې نوې دروازه پرانيسته او کور ته به داخل شول. دا ئې د تقوی نښه ګڼله، په دې آيت کې له يوې خوا مؤمنانو ته لارښوونه شوې چي هر کار له خپلي طبيعي لاري تر سره کړئ، عجله مه کوئ، په يوه څه د پوهېدو لپاره له دروازې داخل شئ مه له شا او غير طبيعي لاري، له بلي خوا د سعادت او فلاح د عواملو په اړه د يوه جاهل قوم انګېرنه او تصور معرفي شوی، دوی په داسي منحطو شکلياتو کې دين راخلاصه کړي، دې ته د تقوی نوم ورکړي او په دې سره دنيوي سعادت او اخروي فلاح تر لاسه کول غواړي، د دين له روح غافل شي، د دين اساسي خبري شا ته وغورځوي، الله هېر کړي، د شرك مرتکب شي، منافقت او خيانت کوي، د يوه بل ويني تويوي خو همدا دوی به له خپلو ټولو سترو سترو انحرافاتو سره سره په فروعي مسائلو سخت نښتي وي او دا به د خپلي تقوی نښي ګڼي!! په دې سوره کې د دې بد خصلت څو بېلګي وړاندي شوې، د غوا د رنګ، عمر او کار په اړه د بني اسرائيلو پوښتني، د قبلې په اړه د دوی اعتراضات او دا دئ د مدينې د خلکو دا تصور چي له حج وروسته د دروازې له لاري کور ته ننوتل ئې د تقوی خلاف کار ګڼلو، دوی ته ويل شوي چي بِر او ښېګڼه دا نه ده، ښېګڼه له الله وېرېدل او له حرامو ځان ساتل دي.

---

وَقَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَكُمۡ وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ﴿١٩٠﴾ وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوهُمۡ وَأَخۡرِجُوهُم مِّنۡ حَيۡثُ أَخۡرَجُوكُمۡۚ وَٱلۡفِتۡنَةُ أَشَدُّ مِنَ ٱلۡقَتۡلِۚ وَلَا تُقَٰتِلُوهُمۡ عِندَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَٰتِلُوكُمۡ فِيهِۖ فَإِن قَٰتَلُوكُمۡ فَٱقۡتُلُوهُمۡۗ كَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٩١﴾ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ

غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٩٢﴾ وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ لِلَّهِ فَإِنِ ٱنتَهَوْا۟ فَلَا عُدْوَٰنَ إِلَّا عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٩٣﴾

[۱۹۰]- او د الله په لار کې له هغو سره وجنګېږئ چې له تاسو سره جنګېږي او تېری او زياتی مه کوئ، يقيناً چې الله تېری کوونکي نه خوښوي. [۱۹۱]- او هر ځای چې دوی مومئ وئې وژنئ او له هغه ځای ئې وباسئ چې تاسو ئې ترې ايستلي يئ او فتنه تر وژني سخته (لويه ګناه) ده او د مسجد الحرام په خوا کې مه ورسره جنګېږئ، تر هغه چې دوی له تاسو سره په کې نه وي جنګېدلي؛ که درسره وجنګېدل؛ نو وئې وژنئ؛ د کافرانو سزا دغسي ده. [۱۹۲]- خو که ئې ډډه وکړه؛ نو الله مهربان بخښونکی دئ. [۱۹۳]- او له دوی سره تر هغه وجنګېږئ چې هيڅ فتنه نه وي (پاته) او دين ټول الله ته وي، خو که ډډه ئې وکړه؛ بيا نو له ظالمانو پرته دي پر بل چا تېری نه کېږي.

(۱۹۰-۱۹۲)- له هغو کسانو سره د جګړې اجازه درکړی شوې چې له تاسو سره جنګېږي، خو په جنګ کې به هم د اسلام د اصولو مراعات کوئ، له تېري او زياتي به ځان ساتئ؛ له دې تېري به هم ډډه کوئ چې څوك له تاسو سره نه جنګېدلی او نه جنګېږي؛ تاسو ورسره وجنګېږئ؛ ښځې، ماشومان او بوډاګان به نه وژنئ؛ څکه هغوی نه له تاسو سره جنګېدلي او نه جنګېدی شي؛ ونو او فصلونو ته به اور نه اچوئ، د دښمن مړي به نه مُثله کوئ، له زخميانو او اسيرانو سره به زياتی نه کوئ، له خپلو ژمنو به عدول نه کوئ، د مسجد الحرام او د حج او عمرې د مياشتو احترام به ساتئ، خو که دوی په مسجد الحرام او حرام مياشتو کې درسره وجنګېدل؛ بيا ئې همدلته او په همدغو مياشتو کې وژلی شئ، فتنه او د کفر سلطه تر وژنو هم زيات کرکجن کار دئ، د فتنې د ختمولو لپاره تاسو ته د دوی د وژلو اجازه درکړی شوې.

(۱۹۳)- له دې مبارك آيت په څرګنده توګه معلومېږي چې له (فتنې) مراد د کفر سلطه او واکمني ده، د اسلام له نظره د جنګ غايه او مقصد دا دئ چې دغه فتنه او د کفر سلطه پای ته ورسېږي او اقتدار په تمامه معنی او په ټوله نړۍ کې د الله د دين په واك کې راشي.

لکه څنګه چې تر دې د مخه د ۱۷۷آيت په ترڅ کې مؤمنانو ته ويل شوي چې له مخالفينو سره پر فروعي او ثانوي مسائلو د بې فائدې مناقشاتو پر ځای اصلي او بنيادي امورو ته توجه وکړئ، او اصلي مسائل دا دي: پر الله تعالی، د آخرت پر ورځې، پر ملائکو، کتابونو او انبياءو ايمان، خپل غوره مال د الله په لار کې او د محتاجو د لاس نيوي لپاره

لګول، لمونځ، زکات، پر خپلو ژمنو وفا، د جنګ په ډګر کې او د کړاوونو او ستونزو په وړاندې صبر، دلته هم له همداسې يوې فرعي قضيې وروسته دوی ته ويل شوي: جاهلان پرېږدئ چې ديانت او مذهب ئې په شکلياتو کې خلاصه کړی او د (ښېګڼې) په اړه غلط معيارونه کاروي، ستر او اساسي کار ته مخه کړئ چې هغه د الله تعالی په لار کې له هغو خلکو سره جنګېدل دي چې د ظلم او تېري لار ئې غوره کړې او له تاسو سره جنګېدلي.

ٱلشَّهۡرُ ٱلۡحَرَامُ بِٱلشَّهۡرِ ٱلۡحَرَامِ وَٱلۡحُرُمَٰتُ قِصَاصٞۚ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَٱعۡتَدُواْ عَلَيۡهِ بِمِثۡلِ مَا ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿١٩٤﴾

[۱۹۴]- د حرام (محترمه) مياشت د محترمې مياشتې په مقابل کې او محترم شيان سره برابر، نو چا چې پر تاسو تېری وکړ، نو داسې تېری پرې وکړئ لکه چې پر تاسو ئې تېری کړی او له اللهووېرېږئ او پوه شئ چې الله له متقيانو سره دئ.

(۱۹۴)- که دښمن د شعائرو او مقدساتو احترام نه کاوو او په حرام (محترمو) مياشتو کې يا په مسجد الحرام کې ئې پر تاسی تېری کاوو نو تاسو مکلف نه ياست چې په يوه اړخيزه توګه به د هغوی احترام کوئ او له مقابلې او دفاع به لاس اخلئ؛ نه؛ تاسو دا حق لرئ چې ځواب ورکړئ، بالمثله معامله ورسره وکړئ، خو په دې کې به تر هر څه د مخه د الله د محاسبې خيال ساتئ، داسې څه به نه کوئ چې الله پرې ناراض کېږي، که مو تقوی درلوده نو د الله تعالی مرسته او ملاتړ به درسره وي. دلته هم ګورئ چې قرآن د الله د لارې مجاهدينو ته د تقوی سپارښتنه کوي؛ تقوی د مخلصو او متقي جنګياليو يوه ځانګړتيا ګڼي او په جهاد پوري اړوند خصلت ئې بولي؛ يعني اصلي تقوی دغه ده؛ نه هغه چې ځيني ئې په اذکارو او اورادو کې راخلاصه کوي.

وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلۡقُواْ بِأَيۡدِيكُمۡ إِلَى ٱلتَّهۡلُكَةِۛ وَأَحۡسِنُوٓاْۛ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٩٥﴾

[۱۹۵) او د الله په لار کې انفاق وکړئ او په خپل لاس ځان په هلاکت کې مه اچوئ او احسان وکړئ چې الله محسنين خوښوي.

(۱۹۵)- د الله په لار کې به د سر او مال له قربانۍ دريغ نه کوئ؛ د عدم قربانۍ له کبله له

تباهۍ سره مخامخ کېږئ، په خپل لاس ځان په دې تباهي کې مه غورځوئ، له جهاد او د الله په لار کې له قربانۍ ډډه د تباهي او هلاکت باعث او د دښمن په لاس د سپکاوي او تذليل سبب کېږي، په هيڅ پلمه او بهانه به له دې ډډه نه کوئ. عجيبه ده چې ځيني بې لاري او منحرف وګړي په دې څرګند آيت په غلطه سره دا استدلال کوي چې له زورور دښمن سره مقابله؛ په خطر کې ځان اچول، له کم عدد او عدة سره د ځواکمن او په وسلو سمبال دښمن مخې ته ودرېدل؛ ځان په هلاکت کې غورځول دي او قرآن هغه تحريم کړي او يا دا چې شهادت طلبانه عمليات روا نه دي، دا ډېر ډېر ناروا او غلط استدلال دئ، دلته عدم انفاق او له قربانۍ ډډه کول د هلاکت باعث معرفي شوي، له دې دا مفهوم اخيستل چې د زورور او ځواکمن دښمن له مقابلې بايد ډډه وشي او يا په دې سره د شهادت طلبانه عملياتو په ضد استدلال کول؛ ډېر غلط او شرمناك استدلال دئ، نه د ايمان خاوند داسي استدلال کولی شي او نه د عقل او پوهي خاوند؛ که داسي وی نو قرآن به يو مسلمان د لسو کافرانو پر مقابلې نه مکلف کولو، د مسلمانانو د ترغيب لپاره به ئې د ابراهيم عليه السلام هغه قصه نه بيانوله چې په يوازې سر ئې د نمروديانو بتان رانسکور کړل، دا به ئې نه ويل چې: کم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَت فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللهِ وَ اللهُ مَعَ الصبِرِينَ * د الله په اذن سره څومره لږکي ټولګي په لوی ټولګي غالب شوي، الله خو له صابرانو سره دئ. د بې صبرۍ له کبله ځان وژنه او له الله سره د کلکې مينې له امله شهادت طلبانه عمليات کول؛ يو له بل ډېر ډېر توپير لري، يو له الله د يأس او ناهيلۍ په سبب دا کار کوي او بل په الله او آخرت د کلك باور او د الله له دين د دفاع په لار کې د سر قرباني کولو په جذبه دا کار کوي، يو کس چې د لسو مقابله کوي په حقيقت کې شهادت طلبانه عمليات کوي، د ده او هغه چا تر منځ هيڅ توپير نشته چې ځونه په ځان پسې تړي او د دښمن هغه ځای ته ځان رسوي او داسي ګوزار ورکوي چې له بلې لارې ورته ممکن نه وي.

له دې آيت مخکې ويل شوي چې که څوك په تاسو تېری وکړي نو تاسو هم بالمثله ځواب ورکړئ (فَمَنِ اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ) له دې معلومېږي چې په دې وروستي آيت کې له انفاق مراد د دښمن په ضد جهاد کې مال مصرفول دي. که دا دواړه آيتونه يو ځای او د يوه مضمون د متصلو برخو په توګه په پام کې ولرو نو له دې دوه خبرې معلومېږي: لومړۍ دا چې له انفاق په دې ځای کې د دښمن په خلاف په جهاد کې د مال انفاق مراد دئ او دا مطلب په ګوته کوي چې د جهاد په سامان او وسائلو باندي د مال د نه مصرفولو عاقبت خطرناك او په خپل لاس ځان مرګ ته سپارل دي او دوهمه خبره دا چې له دښمن سره بالمثله معامله جائز ده.

له دې آیت دا انتباه اخیستل چې ځان په خطر کې مه اچوئ؛ یوه غلطه انتباه ده؛ دا سمه نه ده چې ځوك د یوه كلام نیمایي برخه راواخلي او مخکینۍ او وروستنۍ برخي ته له پام پرته؛ له هغې خاصه معنی راوباسي. په دې آیت استناد کول او دا خبره ترې ایستل چې شهادت طلبانه عملیات جائز نه دي؛ نه یوازې بې بنسټه او غلط استناد دئ بلكې له آیت معکوسه معنی او انتباه اخیستل دي. آیت د قربانۍ بلنه ورکوي او د عدم قربانۍ عواقب او پایله تهلکه ګڼي؛ خو دوی ترې معکوس مطلب راباسي!!

د شهادت طلبانه عملیاتو په اړه پوښتنه هغه وخت په شدت سره مطرح شوه چې پر نیویارك او واشنګټن همداسي بریدونه وشول، امریکا د تروریزم تر نامه لاندې د اسلام او مسلمانانو په ضد د پراخ جنګ اعلان وکړ او له ټولو حکومتونو ئې وغوښتل چې په دې جنګ کې د امریکا تر قومندې لاندې برخه واخلي، که نه نو د تروریستانو ملګري به ئې ګڼو او په تور لست کې به ئې نومونه لیکو. د دې حکومتونو بې همتو چارواکو نه یوازې د امریکایانو غوښتني ته سر ټیټ کړ بلکې له سرکاري مفتیانو ئې وغوښتل چې دا عملیات وغندي او هغه د اسلام خلاف وګڼي. په دې اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- دا د شهادت طلبانه عملیاتو مخالفین ولې دې ته توجه نه کوي چې قرآن له دښمن سره بالمثله معامله جائز ګڼي؟! قرآن مضطر انسان ته حرام روا کړي، قرآن مجبور انسان ته د کفر د کلمې ویل هم روا کړي، قرآن مظلوم انسان په بدي وینا او ښکنځلو د مؤاخذې وړ نه ګڼي، د ده د مظلومیت له امله، د یوه ناروا او ناجائز کار سره سره؛ هغه ته معافي اعلانوي. ځوك چې د اسرائیلو او امریکا په ضد شهادت طلبانه عملیات تر سره کوي؛ له یوې خوا مظلوم دئ، له بلې خوا له ظلم د نجات بله لار نه ګوري، له بلې خوا بالمثله عمل کوي او بالآخره دې ته مجبور شوی.
- کوم کسان چې د امریکایانو په ضد شهادت طلبانه عملیات ناجائز ګڼي، هغوی په عراق او افغانستان کې پر امریکایانو د مجاهدینو نور بریدونه هم نه تأییدوي، دا سرکاري مفتیان دي، هغه خبره کوي چې د دوی حکومتونه ئې کوي، هغه فتوی ورکوي چې حکومت ورته لیکلې وي او پر هغې د مهر لګولو امر ورته شوی وي. که یو سرکاري مفتي په فرانسه کې د حجاب ممنوعیت د فرانسې داخلي مسئله ګڼي او همغه فتوی ورکوي چې د مصر حکومت ئې ترې غواړي؛ نو دا به د امریکا په ضد د شهادت طلبانه عملیاتو څنګه ملاتړ کوي او څنګه به د هغه د جواز فتوی ورکوي؟!! ځوك چې یوه شېبه هم د الله په لار کې جهاد ته نه وي وتلی، نه ئې وسله په لاس کې اخیستې، نه په سنګر کې پاته شوی، نه ئې زندان ګاللی، نه ئې د ظالمو حکامو په ضد یوه د حق خبره کړې، له دې څنګه دا طمع

کوئ چې د شهادت طلبانه عملیاتو ملا تړ وکړي او هغه جائز وګڼي؟!! د جهاد فتوی باید له مجاهد عالِم او مجاهد مفتي وغوښتی شي نه د قاعد او د جهاد مخالف سرکاري مفتي.

• که څوك شهادت طلبانه عملیات له هغې ځان وژني سره مقایسه کوي چې یو کس د بې صبرۍ او د الله تعالی له رحمت د یأس او ناهیلۍ په وجه ځان وژني، دا ډېره غلطه مقایسه ده؛ د قرآن هغه آیتونه چې د خوف او وېرې له امله له ځان وژنې ممانعت کوي؛ په شهادت طلبانه عملیاتو تطبیقول ډېر ناروا تطبیقول دي. دا خو د وېرې او یأس په وجه نه بلکې له الله سره د شدیدې مینې او د ده پر دین د غیرت کولو په وجه ځان قرباني کوي.

نه پوهېږو دا کار چې څوك په خپلې چاننې کې بمونه، کارتوس او د راکټ مرمۍ اچوي او د هغه دښمن مقابلې ته درومي چې هم ئې تر ده وسائل زیات او مخکې تللې دي او هم ئې شمېر زیات دئ او له هغه سره د ده د نښتې لوی او قوي احتمال دا دئ چې دی په شهادت ورسېږي، خو سره له دې محتمل قوي خطر؛ هغه سنګر ته درومي او د دښمن مقابله کوي او بالآخره په شهادت رسېږي، دا کار له دې څه فرق لري چې یو کس همدا بمونه په ځان پسې وتړي او د دښمن صف منځته ننوځي او هلته دا بمونه منفجر کړي او دښمن له منځه یوسي؟!! دا په داسې حال کې چې دی دغه کار ته اړ وو، بله چاره ئې نه لرله، له څرګندې وسلې سره دښمن ته نه شو نژدې کېدی، د دښمن د وژلو نورې لارې چارې ورته نه وې. ډېره عجیبه ده چې څوك هغه کار جائز او د مکافات وړ وګڼي او دا ناجائز او د سزا وړ. په کار خو دا ده چې دا کار د دې لپاره تر هغه بل هم د لوړ اجر مستحق وګڼل شي چې دلته د الله په لار کې وژل کېدل یقیني او په هغه بل کې احتمالي دئ. یو د الله په لار کې د شهادت وروستۍ او یقیني فیصله کوي او هغه بل د شهادت تر څنګ د دې طمع هم لري چې ژوندی بېرته راوګرځي، دا د برید په وخت کې ځان ته هم پام کوي او دا احتیاط کوي چې ده ته صدمه ونه رسېږي؛ خو هغه بل د ځان هیڅ پروا نه کوي، ټول هم او غم ئې دا وي چې د الله دښمن ته زیات تلفات واړوي. که د هر معیار له مخې دا دواړه مقایسه کړو نو د عدالت تقاضی دا ده چې د دې شهادت غوښتونکې کار تر هغه بل ډېر ډېر لوړ وګڼو. دا به ډېره عجیبه وي چې څوك دا یو کار شهادت وګڼي او هغه بل ته د شك په سترګه وګوري او له شهادت ګڼلو ئې ډډه وکړي.

مخکې له دې چې څوك په دې اړه څه ووایي چې په نیویارك او اسرائیلو کې د غیر محاربو کسانو د وژل کېدو حکم څنګه دئ، هغه باید دا خبره په پام کې وساتي چې آیا امریکایانو او اسرائیلو دې ته ورته کار کړی که نه، غیر محارب کسان ئې وژلي که نه،

لاسونه ئې د بې ګناه خلکو په وینو سره دي که نه، د قاتلانو مرسته کوي که نه، قاتل ته ئې پیسې او وسلې ورکړې که نه، په ښار، کلي او جومات ئې بمونه ورولي که نه، که هغوي دا کارونه کړي وي نو د دوی مقابل طرف ته له هره لحاظه دا حق حاصل دئ چې د دوی په ضد همداسي وکړي، له دې لحاظه هم چې هغه مظلوم دئ او د انتقام اخیستو حق لري او له دې لحاظه هم چې هغه ته هر عدالت د بالمثله عمل اجازه ورکوي. لکه څنګه چې اسرائیلیان هر فلسطینی محارب ګڼي، د هغه په وژلو صرفه نه کوي، نه په لوی رحم کوي نه په ووړ، نه په ښځو رحم کوي نه په سړیو، د شیخ احمد یاسین په څېر یو سپین ږیری؛ له دواړو سترګو او پښو محروم، له جومات د راګرځېدو په حال کې؛ له امریکایي هلیکوپټر په راکټ ولي او له ګڼ شمېر کسانو سره ئې یو ځای په شهادت رسوي، امریکایان همدا ستر جنایت یو جائز عمل ګڼي او وایي چې اسرائیل له ځان د دفاع حق لري!! اوس که څوك د امریکایانو او اسرائیلو په ضد دې ته ورته عمل کوي؛ هغه شرعاً، عدلاً او عقلاً د دې حق لري. امریکایانو او اسرائیلو په هغه څه چې دوی ئې په فلسطین، افغانستان او عراق کې کوي؛ هر فلسطیني او هر مسلمان ته د دې مجوز ورکړی چې هر امریکایي او اسرائیلي محارب وګڼي او خپل انتقام ترې واخلي. دا بېله خبره ده چې څوك مجاهدینو ته مشوره ورکړي او ورته ووايي: په کار ده په خپلو بریدونو کې دې ته توجه وکړئ چې غیر محاربو کسانو ته تاوان ونه رسېږي، بریدونه د دښمن هغو ځواکونو او ځایونو ته متوجه کړئ چې د دښمن جنګي ماشین پرچاو او د ملا تیر ئې ورمات کړي. خو که هغه دا ونکړی شي او ووايي چې هلته مي لاس نه رسي، هلته د رسېدو توان نه لرم، نو چې د خپل دښمن پر هر ځای برید وکړي او خپل غچ ترې واخلي؛ دا د ده مشروع حق دئ.

وَأَتِمُّواْ ٱلْحَجَّ وَٱلْعُمْرَةَ لِلَّهِۚ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا ٱسْتَيْسَرَ مِنَ ٱلْهَدْيِۖ وَلَا تَحْلِقُواْ رُءُوسَكُمْ حَتَّىٰ يَبْلُغَ ٱلْهَدْيُ مَحِلَّهُۥۚ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ بِهِۦٓ أَذًى مِّن رَّأْسِهِۦ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍۚ فَإِذَآ أَمِنتُمْ فَمَن تَمَتَّعَ بِٱلْعُمْرَةِ إِلَى ٱلْحَجِّ فَمَا ٱسْتَيْسَرَ مِنَ ٱلْهَدْيِۚ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ أَيَّامٍ فِى ٱلْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْۗ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌۗ ذَٰلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُۥ حَاضِرِى ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿١٩٦﴾

[١٩٦]- او حج او عمره د الله لپاره تر سره کړئ، که مو مخنیوی وشو نو بیا (ئې فدیه) د قربانۍ هغه څاروی دئ چې میسر وي او خپل سرونه تر هغه مه خرېیئ چې دا څاروی د حلالېدو خپل ځای ته ورسېږي، نو که ستاسو کوم څوك بیمار وي او یا د سر له کومې برخې ځورېږي؛ نو بیا فدیه ده د روژې یا صدقې یا قربانۍ او بیا کله چې په امن شئ نو که څوك تر حج پورې له عمرې ګټه واخلي نو بیا د قربانۍ هغه څاروی دئ چې میسر وي؛ او که چا ونه موندو نو بیا د حج په ورځو کې درې ورځې روژه او له راستنېدو وروسته اوه ورځې روژه ده؛ چې دا پوره لس ورځې کېږي، دا د هغه چا لپاره ده چې کورنۍ ئې د مسجد الحرام (د شا و خوا) اوسېدونکې نه وي؛ او له اللهووېرېږئ او په دې پوه شئ چې الله سخت عذاب ورکوونکی دئ.

(١٩٦)- حج او عمره مو باید د الله لپاره وي؛ کله چې د حج او عمرې اراده وکړئ؛ باید تر سره ئې کړئ؛ که له خنډ سره مخامخ شوئ نو له احرام تر وتلو د مخه باید یو څاروی؛ لږ تر لږه یو پسه؛ د حرم زمکې ته د ذبحې لپاره ولېږئ؛ تر هغه به خپل سر نه خرېیئ او له احرام به نه وځئ؛ چې دا څاروی خپل ځای ته نه وي رسېدلی، هغه بیمار ته چې د سر له وېښتانو ځورېږي او خرېیلو ته ئې اړ وي؛ دا کار کولی شي خو فدیه به ورکوي؛ درې ورځې روژه، یا معادل ئې شپږو مسکینانو ته خواړه ورکول او یا د یوه څاروي ذبح. که په حج کولو موفق شوئ او غوښتل مو چې تر حج د مخه عمره اداء کړئ؛ نو فدیه ئې د یوه څاروي ذبح کول دي، یو پسه یا د غویي او اوښ اومه برخه؛ خو که څوك په دې موفق نه شو؛ نو لس روژې به نیسي؛ درې ورځې د حج په دوران کې؛ د ذي الحجې له لسمي د مخه او اوه له ستنېدو وروسته. دا د تمتع اجازه هغو کسانو ته ورکړی شوې چې د مکې مکرمې اوسېدونکی نه وي. د مکې اوسېدونکې به حج او عمره بېل بېل اداء کوي، له بهر راغلو حجاجو ته دا سهولت ورکړی شوی چې حج او عمره یو په بل پسې په یوه احرام سره اداء کړي او یا لومړی عمره اداء کړي، له احرام ووځي او بیا د حج لپاره نوی احرام وتړي. یوه ته قِران او بل ته تمتع ویل شوي؛ د قران او تمتع په صورت کې هدیه لازمه کېږي.

ٱلۡحَجُّ أَشۡهُرٞ مَّعۡلُومَٰتٞۚ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ ٱلۡحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي ٱلۡحَجِّۗ وَمَا تَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ يَعۡلَمۡهُ ٱللَّهُۗ وَتَزَوَّدُواْ فَإِنَّ خَيۡرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقۡوَىٰۖ وَٱتَّقُونِ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ١٩٧

[١٩٧]- د حج څو معلومې مياشتې دي؛ نو چا چې په دې کې حج (په ځان) فرض کړ؛ نو بيا په حج کې نه له مېرمنو سره نژدې والی شته، نه فسق او گناه او نه جدال او شخړې، او د خير هر کار چې وکړئ الله پرې پوهېږي او توښه درسره واخلئ چې ښه والی د توښې ځان ساتل دي او له ما ووېرېږئ اې د عقل خاوندانو.

(١٩٧)- حج ځانته خاص وخت لري او خاص آداب؛ په دې کې نه له مېرمنو سره نژدې والی شته، نه فسق او گناه او نه جدال او شخړې. د (حج) لغوي معنی (قصد او هوډ) دئ؛ په حج سره ته د يوه ډېر ستر او درونډ کار هوډ کوې؛ د الله کور ته د رسېدو هوډ؛ د الله په کور کې له هغه سره د نوې ژمنې هوډ.

زما حج کوونکيه وروره! آيا کله دې په زړه کې دا طمع راولاړه شوې چې کاش د الله دربار ته د رسېدو مجال وی او ده ته مخامخ د حاجتونو د وړاندې کولو مکان او امکان، چې په دغه او هغه دروازه کې د ودرېدو پر ځای د الله دروازې ته ودرېدلی وی او د حاجتونو تر سره کېدو لپاره مې يوې بلې مرجع ته د لاس اوږدولو پر ځای الله ته مخه کړې وی او خپل عرائض مې د ده مخې ته ايښی وی؟ (حج) دغې تلوسې، هيلې او هوډ ته الهي ځواب دئ، په حج سره ته دا اراده کوې چې له بل هر درشل د تل لپاره مخ اړوم، الله ته مخه کوم، هغه ځان ته کافي گڼم، د ده د کور طواف کوم، د ده د کور درې ته ودرېږم، له ده سره ژمنه کوم، چې بيا به نه د بل قصر، کور او گور طواف کوم او نه به د مرستې لپاره د بل د کور دړه ټکوم. حج له بل هر کور او دروازې استغنی او يوازې د الله کور ته ورتگ او د ده د دروازې د ټکولو اراده کول دي، يوازې نه او د خپلې خوښې په وخت کې هم نه؛ په معين وخت کې او د نړۍ له نورو حج کوونکو سره يو ځای او ټول په يو رنگ جامو کې؛ کفن ته ورته جامه؛ يو څادر او يو لونگ؛ دلته به د نړۍ له ټولو حجاجو سره د يووالي مظاهره کوې، ټول تفاوتونه به شا ته غورځوې، له ځان سنگارولو، د عطر له استعمال، د نوکانو او وېښتانو له اخيستلو، له خپلو مېرمنو سره له نژدې والي او له هرې گناه او له يوه بل سره له شخړو به کلکه ډډه کوې، د ښکيا د حيواناتو له ښکار او د هغه په ښکار کې له بل سره له هر راز مرستې به هم ډډه کوې، ته خو د الله کور ته روان يې، غواړې د الله د کور طواف وکړې، غواړې له الله سره خپلې ژمنې تازه کړې او د همدې لپاره په حجرالاسود لاس ږدې، ته غواړې د ابراهيم په مقام کې ودرېږې، غواړې د هاجر خاطره رايادہ کړې او د دې په څېر د صفا او مروې تر منځ سعی وکړې، ته غواړې د اسمعيل عليه السلام د قربانۍ خاطره ژوندۍ کړې، تا اراده کړې چې له منی (د ايمان ځای) عرفات ( د معرفت خلاص ميدان) ته په رڼا ورځ کې ولاړ شې او هلته له خپل رب سره راز

او نياز وکړي او بيا له هغه ځای راتلونکې شپه هغه ځای ته رسوې چې د دريو خطرناکو دښمنانو د ځلو ځای ته نژدې دئ ( مزدلفه)، دلته به د سبا ورځې د مقابلې او د دښمن د ويشتلو لپاره تياری نيسې، سبا او په لومړۍ ورځ به يوازې لوی ځلی د لومړي او دوهم شا ته ولاړ ځلی، جمرة الکبری ولې؛ اوه تيږې، د اوني د ورځو په شمېر، هره تيږه د کارتوس د مردکي په اندازه، په دې ورځ به د لومړيو دوو جمرة الاولٰی او جمرة الوسطٰی له ويشتلو ډډه کوې، د دوی له څنگ به تېرېږې، درېيم او تر ټولو ستر ته به ځان رسوې، په دې لومړۍ ورځ به يوازې دغه په نښه کوې، خو په سبا او بل سبا او تر هغه چې په منٰی کې وې، هره ورځ به؛ درې واړه؛ يو په بل پسې ولې. دا درې ځلي هغه درې خطرناك دښمنان تمثيلوي چې ټول پيغمبران ئې مقابلې ته تللي؛ د الله د دين په لار کې ستر خنډونه؛ د الله پر مظلومو او بې وسه بندگانو ظلم کوونکي؛ هغه چې د هر واقعي عالم، هر مخلص دعوتگر، هر عدالت غوښتونکي او هر مصلح مخې ته ودرېدلي، د حق په خلاف ئې د باطل ملگرتيا کړې، د زر، زور او تزوير څواکونه؛ فرعون، هامان او قارون؛ يو د لښکرو خاوند، بل د کوډگرو مشر، درېيم د خزانو څښتن؛ جعلي سردار، سؤالگر سيد او خائن ثروتمن، جاني ملك، جبون ملا او جابر زمکه وال؛ غدار پاچا، مکار پير او سود خور بډای؛ يو ماليه اخلي، بل شکرانه، بل سود او د بې وزلي او محتاج ټول شته.

لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَبۡتَغُواْ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّكُمۡۚ فَإِذَآ أَفَضۡتُم مِّنۡ عَرَفَٰتٖ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ عِندَ ٱلۡمَشۡعَرِ ٱلۡحَرَامِۖ وَٱذۡكُرُوهُ كَمَا هَدَىٰكُمۡ وَإِن كُنتُم مِّن قَبۡلِهِۦ لَمِنَ ٱلضَّآلِّينَ ١٩٨

[١٩٨]- په دې کې په تاسو هيڅ گناه نشته چې د خپل رب کوم فضل ولټوئ، نو کله چې له عرفات راکوز شوئ نو د مشعرالحرام خوا ته د الله ذکر وکړئ او همغسې ذکر ئې وکړئ چې تاسو ته ئې درښودلی؛ په داسې حال کې چې تر دې وړاندې تاسو له لار ورکو وئ.

(١٩٨)- په دې نه پوهېدئ چې الله څنگه ياد کړئ، نه مو خپل رب پېژندو او نه هم د ده د ذکر طريقه او آداب. د حج په موسم کې تجارت کول د حج خلاف عمل مه گڼئ، دا گمان مه کوئ چې په داسې کار سره گناهگارېږئ، له دې موقع جائزه گټه اخيستی شئ.

د مشعر الحرام لفظي ترکيب او دغې سيمې ته دا نوم ورکول هم د خاص تأمل وړ دئ، مشعرالحرام (د درانه او محترم شعور ځای) د مزدلفې د وروستۍ برخې نوم دئ، دلته

باید الله په خاصه توګه زیات یاد کړئ، سبا یوه جګړه په مخکې لرئ، جمرة الکبری به په نښه کوئ، دا داسې ده لکه چې له دښمن سره د مخامخ کېدو په وخت کې د الله تعالی د زیات یادولو امر شوی، یوازې دا نه چې په ژبه به الله الله وایې، بلکې دلته به په خاصه توګه دا درپه یادوې چې الله د هر څه مالك او په هر څه قادر دئ، هر څه د ده په اراده تر سره کېږي، ماته او بریا د ده په لاس کې ده، د مرګ ژوند پرېکړه دی کوي، وېره دې باید یوازې له الله وي، نه د دښمن له زور ځواك او وسلو او لښکرو. د مزدلفې دا شپه چې تر شنه آسمان لاندې ئې په بېدیا کې تېروې؛ داسې ده لکه چې دښمن ته د شپې له لورې نژدې شوی یې، د برید لپاره دې پوره تیاری نیولی، شپه د دښمن د مرکز خوا ته په تیاره کې او تر شنه آسمان لاندې تېروې او سبا به پرې برید کوې.

ثُمَّ أَفِيضُواْ مِنۡ حَيۡثُ أَفَاضَ ٱلنَّاسُ وَٱسۡتَغۡفِرُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٩٩
فَإِذَا قَضَيۡتُم مَّنَٰسِكَكُمۡ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَذِكۡرِكُمۡ ءَابَآءَكُمۡ أَوۡ أَشَدَّ ذِكۡرٗاۗ
فَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا وَمَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنۡ خَلَٰقٖ ٢٠٠
وَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ حَسَنَةٗ وَقِنَا عَذَابَ
ٱلنَّارِ ٢٠١ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ نَصِيبٞ مِّمَّا كَسَبُواْۚ وَٱللَّهُ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ٢٠٢

[١٩٩]- بیا له هغه ځایه ببرته راکوز شئ چې خلك ترې راکوزېږي او له الله بخښنه وغواړئ؛ بې شکه چې الله مهربان بخښونکی دئ. [٢٠٠]- نو کله چې خپل مناسك تر سره کړئ؛ نو الله داسې یاد کړئ لکه د خپلو پلرونو یادونه مو؛ یا تر دې هم شدید یادول؛ خو له خلکو ځیني داسې دي چې وایي: اې زموږ ربه! موږ ته ئې په دنیا کې راکړه؛ چې ده ته به په آخرت کې هیڅ برخه نه وي. [٢٠١]- او له دوی ځیني داسې دي چې وایي: اې زموږ ربه! موږ ته هم په دنیا کې ښېګڼه راپه برخه کړه او هم په آخرت کې ښېګڼه او د اور له عذاب مو وساته. [٢٠٢]- دې ډلې ته به د خپلو لاسته راوړنو خاصه برخه وي او الله ژر محاسبه کوونکی دئ.

(١٩٩)- په حج کې به ستاسو راکوزېدل هم ټولو ته ورته وي؛ نه د قریشو په څېر چې تر عرفات به نه تلل؛ عرفات ئې له حرم بهر ګڼلو؛ له مزدلفې به مکې ته د طواف لپاره راکوز شول. دوی له عوامو او غیر قریشو ځان لوړ ګڼلو؛ خو دې کار ته ئې هم مذهبي حیله جوړه کړې وه؛ ویل ئې چې عرفات له حرم بهر دئ؛ موږ غواړو د حرم په حدودو کې پاته

شو؛ دوی د کعبې جوړښت هم له هغه حالت وایست چې ابراهیم علیه السلام جوړه کړې وه، د کعبې د فرش سطح ئې له زمکې لوړه کړه، یوه دروازه ئې بنده کړه، بلې دروازې ته ئې کولپ (قلف) واچاوو، هر چا ته ئې د ننوتو اجازه نه ورکوله، یوازې د خپلې خوښې شخصیتونو ته به ئې د ننوتو اجازه ورکوله، هغه کور چې الله د (الناس) لپاره جوړ کړی وو، دوی دروازې ئې وې، هر څوك له کومې مانع پرته ورننوتی شو، قریشو هغه طبقاتي کړه او د خواصو د ننوتو لپاره ئې مختص کړه.

لکه څنګه چې الله تعالی له عرفات د راکوزېدو په اړه فرمایي چې له نورو سره یو ځای راکوز شئ، دا یو ځای راکوزېدل په جهاد کې هم ستر اهمیت لري، له دښمن سره د نښتو په وخت کې به هم له میدان ستاسو وتل منظم وي، له نورو سره یو ځای، نه بېل بېل او نامنظم، نامنظم او متشتت راکوزېدل اکثراً ستر ستر مشکلات راولاړوي او ډېر ځله د فاتح لښکر فتح په ماتې بدلوي. دې ته دي باید پام وي چې پیغمبر علیه السلام حج ته د ټول اسلام نوم ورکړی، د حج په مناسکو کې ټول اسلام تمثیلېږي، جامه ئې د جامې د حلال او حرام حدود، حجاب ئې د حجاب حدود، جمع صلاتین ئې د جمع صلاتین څرنګوالی، ... بیانوي، داسې نه ده چې یو څه دې په حج او حرم کې جائز وي او له حرم بهر ناجائز، د تقوی او احتیاط تر ټولو ستر او خاص ځای همدا حرم دئ، دلته چې الله تعالی څه جائز ګڼلې، له دې ځایه بهر په اولٰی درجه جائز دي او دلته چې څه حرام ګڼل شوي له دې ځایه بهر هم حرام دي، فسق او جدال ئې دلته حرام کړی، بهر ئې هم حرام کړی، په احرام کې له خپلو مېرمنو سره مباشرت ئې منع کړی، له دې ځایه بهر ئې هم په روژه او اعتکاف کې مباشرت منع کړی. د ښځې او نارینه د ستر او حجاب ضروري او فرضي حد همغه دئ چې د حج په دوران کې باید مراعات شي او د جمع صلاتین او د تقدیم او تأخیر حکم ئې همغه دئ چې په عرفات او مزدلفه کې تر سره کېږي.

(۲۰۰-۲۰۲)- ستا د حج حاصل به دا وي چې له خپل رب سره دې اړیکې مضبوطې شي، له دې وروسته به دې تل په ژبه د ده نوم وي، تر هر څه او هر چا به ئې زیات یادوې، تر خپل پلار هم زیات، له هغو کسانو به نه وې چې یوازې د دنیا په لټه کې وي، که له الله څه غواړي نو یوازې دنیا غواړي، ته به له خپل رب د دنیا او آخرت ښېګڼې غواړې.

---

وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ فِيٓ أَيَّامٖ مَّعۡدُودَٰتٖۚ فَمَن تَعَجَّلَ فِي يَوۡمَيۡنِ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِ وَمَن تَأَخَّرَ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۖ لِمَنِ ٱتَّقَىٰۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُمۡ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ٢٠٣

[۲۰۳]- او په (دغو) څو شمېرلو ورځو کې د الله ذکر وکړئ؛ خو چا چې تلوار او بیړه

وکړه؛ په دوو ورځو کې؛ څه گناه پرې نشته او چا چې ځنډ وکړ؛ په هغه هم څه گناه نشته؛ دا د هغه چا لپاره چې تقوی ئې وکړه؛ او له الله ووېرېږئ او پوه شئ چې د الله په لور به راغونډ کړی شئ.

(٢٠٣)- په منٰی کې د قیام په ورځو کې خپل رب زیات یاد کړئ؛ که دوه ورځې وي او که درې، نه په تلوار کوونکي څه الزام شته او نه په ځنډ کوونکي.

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُۥ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَيُشْهِدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا فِى قَلْبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ ٱلْخِصَامِ ﴿٢٠٤﴾ وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِى ٱلْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ ٱلْحَرْثَ وَٱلنَّسْلَ ۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلْفَسَادَ ﴿٢٠٥﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُ ٱتَّقِ ٱللَّهَ أَخَذَتْهُ ٱلْعِزَّةُ بِٱلْإِثْمِ ۚ فَحَسْبُهُۥ جَهَنَّمُ ۚ وَلَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ﴿٢٠٦﴾

[٢٠٤]- او د خلکو ځیني داسي دي چې د دنیا په اړه د ده وینا دې حیرانوي او په هغه څه الله شاهد نیسي چې په زړه کې ئې دي، په داسي حال کې چې دی تر ټولو کلك دښمن دئ. [٢٠٥]- خو کله چې (د چارو) متولي شي نو په زمکه کې د دې هڅه کوي چې فساد په کې خور کړي او فصل او نسل تباه کړي او الله خو فساد نه خوښوي. [٢٠٦]- او چې ورته وویل شي: له خدای ووېرېږه! عزت النفس ئې گناه ته وپاروي، نو جهنم ورته کافي دئ او څومره بد ټاټوبی!

(٢٠٤)- له مخکینیو دوو ډلو وروسته اوس هغه ډله معرفي کوي چې ظاهر ئې د دوست، وینا ئې حیرانوونکې، د دنیوي چارو په اړه وینا ئې ډېره جالبه او جاذبه، خو په حقیقت کې تر بل هر دښمن خطرناك او کینه کښ، له مسلمانانو سره د مخامخ کېدو په وخت کې ځان د دوی له ډلې ښیي، قسمونه خوري چې په زړه کې ئې پوخ ایمان دئ او له مسلمانانو سره کلکه مینه.

(٢٠٥)- خو چې بېرته خپلو ملگرو ته ستون او یا قدرت په لاس ورشي او د خلکو د چارو متولي شي، نو بیا ئې ټوله هڅه دا وي چې فساد خور کړي، د جگړو اور ته لمن ووهي، کافران پر مسلمانانو برید ته وهڅوي او د وینو تویولو او د فصلونو د تباهۍ باعث شي؛ دوی الله د خپل زړه په حال شاهد نیسي حال دا چې د دوی زړونه له فساد ډك دي او الله فساد نه خوښوي.

(٢٠٦)- کله چې ئې په کړنو انتقاد وشي او دا ورته وویل شي چې له گناه لاس واخله او له

الله ووېرېږه؛ نو دا انتقاد په خپل عزت تېرى ګڼي، له خپلې ګناه دفاع کوي او مزيد ګناهونو ته هڅول کېږي. له دې مبارك آيت معلومېږي چې د نصيحت په مقابل کې حساسيت ښودل او سالم انتقاد په خپل عزت تېرى ګڼل د نفاق نښه ده.

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشْرِى نَفْسَهُ ٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ رَءُوفٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿٢٠٧﴾

[۲۰۷]- او له خلکو ځيني داسي دي چې خپل نفس د الله د رضاء په لټه کې پلوري او الله په خپلو دغو بندګانو رءوف دئ.

(۲۰۷)- د پورتنيو منافقينو په مقابل کې بيا ځيني خلك داسي دي چې خپل هر څه د الله په لار کې قرباني کوي؛ يوازې د دې لپاره چې د الله رضاء تر لاسه کړي؛ الله تعالى پر خپلو دغو مخلصو بندګانو ډېر زړه سواند او مهربان دئ.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱدْخُلُوا۟ فِى ٱلسِّلْمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا۟ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَـٰنِ ۚ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٢٠٨﴾ فَإِن زَلَلْتُم مِّنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْكُمُ ٱلْبَيِّنَـٰتُ فَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٠٩﴾

[۲۰۸]- اې مؤمنانو! په اسلام کې په مکمله توګه ننوځئ او د شيطان په پلونو پسې مه ځئ؛ هغه خو له شکه پرته ستاسو څرګند دښمن دئ. [۲۰۹]- خو که له هغه وروسته چې څرګندې نښې درته راغلې وښويېدئ، نو پوه شئ چې الله باحکمت عزتمن دئ.

(۲۰۸-۲۰۹)- په اسلام کې به په کامله توګه داخلېږئ، د ژوند هيڅ برخه مو بايد له اسلام بهر پاته نه شي، يو ګام به هم د شيطان پر پله نه ږدئ، په هيڅ څه کې به د ده متابعت نه کوئ، هغه به د ځان دښمن ګڼئ او که وښويېدئ؛ نو پوه شئ چې الله هم د عزت او غلبې خاوند دئ او هم حکيم دئ، کولى شي او پوهېږي چې څنګه له خپل دين دفاع وکړي؛ ستاسو ښويېدل ده او د ده دين ته تاوان نه شي رسولى.

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأْتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِى ظُلَلٍ مِّنَ ٱلْغَمَامِ وَٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ وَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿٢١٠﴾

[۲۱۰]- آيا له دې پرته د بل څه انتظار کوي چې الله د وريځو په سيورې کې ورته

راشي او ملائکې هم او د کار تر سره کېدو پرېکړه وشي، په داسې حال کې چې کارونه ټول الله ته راجع کېږي.

(۲۱۰)- له دغو ټولو دلائلو وروسته چې دوی ایمان نه راوړي او په اسلام کې نه ننوځي؛ نو آیا له دې پرته د بل څه انتظار لري چې الله او ملائکې ئې د وریځو په سیوري کې راڅرګند شي او د عذاب کومه وعده چې له دوی سره شوې هغه تر سره شي؟! د هري پرېکړې او کار مرجع الله دئ؛ د هر کار پرېکړه دی کوي؛ دوی دې ډاډه وي چې کار به هرومرو تر سره کېږي؛ هیڅ څه او هیڅوك ئې مخه نه شي نیولی.

د قرآن له دې وینا معلومېږي چې دلته د بایبل هغې غلطې ادعاء ته اشاره شوې چې وایي: خدای په وار وار اسرائیلو ته ځان ښودلی؛ په وریځو کې راڅګند شوی او د انسان په بڼې کې ئې دوی ته ځان ښودلی.

له مصر د اسرائیلیانو د وتلو په ارتباط بایبل وایي: خدای په وریځو او د اور په ستنو سره اسرائیلیانو ته لار ښوده!! دا وریځې او د اور ستنې فرشتې وې، ... خدای د اور او وریځو له منځه اسرائیلو ته ځان وښود؛ په پورتنې آیت کې قرآن په حیرت او تعجب سره پوښتي: آیا دوی د دې انتظار لري چې خدای د وریځو په لوخړو کې دوی ته راشي؛ او فرشتې هم؛ او کار پای ته ورسېږي؟!! په داسې حال کې چې کارونه ټول الله ته راجع کېږي.

قرآن د دې وریځو په اړه وایي: په دې سره مو د سینا په وچې او تودې بېدیا کې پر بني اسرائیلو سیوری جوړ کړ؛ او دوی ته مو د اوبو انتظام وکړ.

بایبل تر دې عنوان لاندې (له نوح سره د خدای ژمنه)؛ د وریځو او قوس قزح په ارتباط ډېر مسخره اظهارات لري؛ هلته چې وایي: بیا خدای نوح او د ده زامنو ته وویل: زه له تاسو سره او ستاسو له راتلونکو نسلونو سره او حتی له ټولو حیواناتو، مرغانو او خزنده وو سره ژمنه کوم چې له دې وروسته به هیڅکله ژوي په طوفان سره هلاك نه کړم او زمکه به هم بیا د طوفان په واسطه نه ویجاړوم، له تاسو سره زما د دې عهد نښه دا ده چې: خپل قوس قزح (د بوډۍ ټال، هغه لیندۍ ته ورته رنګیني ګاري چې په باراني ورځ په آسمان کې راڅرګندې شي)؛ په وریځو کې ږدم او دا به زما د هغې ژمنې نښه وي چې له نړۍ سره مې کړې، کله چې وریځې د زمکې پر سر خورې کړم او قوس قزح راڅرګند شي؛ هغه وخت به ما ته خپله هغه ژمنه رایادېږي چې له تاسو او نورو ژوو سره مې کړې؛ نو ځکه به بیا نړۍ په طوفان سره له منځه نه ځي!!

دا د بایبل بله لویه بې باکي او جسارت دئ چې د الله تعالی په شأن کې ئې کوي او وایي: د خدای حافظه ضعیفه ده، په وریځو کې ئې خپله رنګینه لیندۍ ایښې ده چې د

وربځو خورېدو په وخت کې راڅرګنده شي او خدای ته خپله هغه ژمنه ورپه یاد کړي چې له نوح علیه السلام او د ده له زامنو سره ئې کړې وه؛ که دا نښه نه وی نو کېدی شو یو ځل بیا ئې په طوفان سره دا زمکه او ټول ژوي له منځه وړي وی!! د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: الله تعالی خو له دغي ژمني وروسته هم ډېر ځلي په طوفانونو سره ډېر انسانان او نور ژوي له منځه وړي، کله کله خو ئې شمېر لکونو ته رسېدلی، بایبل خو د الله تعالی له قوله داسي لیکي: ژمنه کوم چې له دې وروسته به هیڅکله ژوي په طوفان سره هلاك نه کړم!! د بایبل لیکنه ناقصه او غلطه ده که په دې وخت کې نعوذ بالله خدای خپله ژمنه هېره کړې او یا قوس قزح نه دئ څرګند شوی؟!!

ساینس او علم موږ ته وايي چې د انسان سترګي د انرژي، نور، جاذبې او ساحې په څېر شیانو له لیدو عاجزي دي، نو دا سترګي به لطیف خدای څنګه ولیدلی شي؟ خو بایبل د قرآن او علم خلاف دعوی کوي چې خدای د بني اسرائیلو اکثرو پیغمبرانو او حتی کاهنانو ته په وار وار راڅرګند شوی او تل د انسان په څېره کې او د وربځو له منځه راوتلی، حتی له یعقوب علیه السلام سره ئې غېږې نیولې دي او په دې نه دئ توانېدلی چې هغه راځملوي، خو د غېږو په وخت کې په یعقوب علیه السلام دومره زور راغلی چې د ښي ورون یوه عضله ئې خوږ شوه!! د دغي پېښې په سبب بني اسرائیل تر اوسه د حیواناتو دغه عضله نه خوري!!

سَلۡ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ كَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُم مِّنۡ ءَايَةِۭ بَيِّنَةٖۗ وَمَن يُبَدِّلۡ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿٢١١﴾ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَيَسۡخَرُونَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۘ وَٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَٱللَّهُ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ﴿٢١٢﴾

[۲۱۱]- له بني اسرائیلو وپوښته چې څومره څرګندي نښې مو ورکړې؟ او څوك چې د الله نعمت له هغه وروسته بدل کړي چې ورته راشي؛ نو بې شکه چې الله سخت عذاب ورکوونکی دئ. [۲۱۲]- کافر شوو ته دنیوی ژوند ښایسته کړی شوی او په هغو پسي ټمسخر کوي چې ایمان ئې راوړی؛ او هغه چې ځان ساتنه ئې وکړه؛ د قیامت په ورځ به تر دوی بر وي او الله چې چا ته وغواړي بې حسابه روزي ورکوي.

(۲۱۱)- چا چې د الله د نعمتونو ناشکري کړې او د ده نعمتونه ئې د ده د منشأ او رضاء

خلاف په غلطو لارو لګولي، د الله تعالی په شدید عذاب اخته شوي؛ بني اسرائیل ئې ښه مثال دئ.

(۲۱۲)- د کافرانو له نظره مال او متاع د حق او باطل لپاره معیار دئ؛ دوی چي له حرامو لارو مال تر لاسه کړی؛ په خپل مال نازېږي او همدغه مال ئې دې ته هڅوي چي پر مؤمنانو له دې امله تمسخر وکړي چي له حرام مال ئې ځان ساتلی او نه یوازي دا چي په خپل حلال رزق ئې اکتفاء کړې؛ بلکي هغه ئې د الله په لار کي وقف کړی؛ داسي کار د کافرانو له نظره د خندا او تمسخر وړ دئ، دوی به د قیامت په ورځ پوه شي چي مؤمنان څومره له دوی لوړ او اوچت دي. په دنیا کي خو الله تعالی خپلو ځینو بندګانو ته له محاسبې پرته رزق او روزي ورکوي؛ دې ته ئې نه ګوري چي هغه د دې رزق مستحق دئ که نه؛ د رزق او روزي په اړه د الله سنت دا نه دئ چي یوازي صالح او مستحق ته به ئې ورکوي؛ دلته خو الله تعالی کافر ته هم روزي ورکوي؛ که څه هم په اصل کي الله تعالی دا روزي د مؤمنانو لپاره پیدا کړې.

كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ فِيمَا ٱخْتَلَفُواْ فِيهِ ۚ وَمَا ٱخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ أُوتُوهُ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۖ فَهَدَى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَا ٱخْتَلَفُواْ فِيهِ مِنَ ٱلْحَقِّ بِإِذْنِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ يَهْدِى مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢١٣﴾

[۲۱۳]- خلك ټول یو امت او ټولی وو؛ نو الله زېری ورکوونکي او انذار ورکوونکي پیغمبران ولېږل او له دوی سره ئې حقیقي کتاب راولېږو چي د خلکو تر منځ په هغه څه کي پرېکړه وکړي چي دوی په کي اختلاف کړی وو او اختلاف خو له هغو پرته بل چا نه وو کړی چي کتاب ورکړی شوی وو او دا هم په خپلو کي د کینې له کبله او وروسته له هغه چي څرګندي نښې ورته راغلې؛ نو الله په خپل حکم سره هغه کسان په مختلف فیه شیانو کي هدایت کړل چي ایمان ئې راوړی وو او الله خو چي هر څوك وغواړي د سمي لاري په لوري ئې هدایت کوي.

(۲۱۳)- خلك د پیغمبرانو تر بعثت وړاندي یو شانی له حق بې خبره، په اختلافاتو اخته، بې لاري او په ظلم، جهل او فساد کي غرق وو؛ الله تعالی د دوی د لارښوونې لپاره داسي

پیغمبران راولېږل چې بې لارې انسانان له خپل بد عاقبت ووېروي او ورته ووايي چې ستاسو د دې اوسني فردي ژوند، اجتماعي او اقتصادي نظام، اخلاقي روابطو او د راکړې ورکړې طريقه بدې پايلې لري، هم په دې دنيا کې او هم په بلې دنيا کې؛ خو که له دې لاس واخلئ، حق ته غاړه کښېږدئ، پر الله او آخرت ايمان راوړئ، د الله دين ته تسليم شئ؛ نو د دنيا او آخرت نېك بختي او سعادت به مو په برخه شي. پيغمبر هم بشير وي او هم نذير، د ده د دعوت وارثان به هم بشير او هم نذير وي، د بدانو او ظالمانو مخې ته به ودرېږي او د ظلم او فساد له بدو پايلو به ئې وېروي او مظلومانو ته به د حق لار ښيي او په سمه لار د تلو د نېکو پايلو زېرى به ورکوي. چا چې ايمان راوړ نو په حقه لار هدايت شو او په ټولو هغو حقائقو پوه شو چې مخکې ده او نورو په کې اختلاف کاوو.

د (كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً) صحيح او دقيقه معنى همدا ده چې د پيغمبرانو تر بعثت مخکې خلك ټول يوه ډله، سره ورته او په اختلافاتو کې غرق وو، ظلم او جهل خور وو او فساد په بر او بحر باندې خپل سيورى غوړولى وو؛ د پيغمبرانو په راتلو سره ځينې د حق په لورې هدايت شول او سمه لار ئې وموندله او نور له تباهۍ وژغورل شوه. خو پيغمبرانو چې کومې ډېوې بلې کړې وې؛ تر يوه وخته ئې خلکو ته رڼا ورکوله او سمه لار ئې ورښوده؛ خو د زمانې په تېرېدو سره خلك ورو ورو له دې ډېوو لرې شوي او بيا ئې په ظلم او فساد لاس پورې کړى. په دې آيتونو کې د پيغمبرانو تر بعثت مخکې حالت ته اشاره شوې او د يونس د سورې په ۱۹ آيت کې د دوى له تلو وروسته حالت بيان شوى:

وَمَا كَانَ ٱلنَّاسُ إِلَّآ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَٱخْتَلَفُوا۟ ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِىَ بَيْنَهُمْ فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٩﴾ يونس

او خلك خو يوازې يو امت وو؛ بيا ئې په خپلو کې اختلاف وکړ او که ستا د رب له لورې مخکينۍ وينا نه وى نو حتماً به ئې د دوى تر منځ په هغه څه کې فيصله کړې وه چې اختلاف په کې کوي.

ځينې د (فاختلفوا) لفظ په مخکيني آيت کې هم مقدر ګڼي، حال دا چې نه دې ته ضرورت شته او نه د آيت ترکيب دا اجازه ورکوي او نه له مخکې او وروسته فقرو سره اړخ لګوي؛ د احتياط تقاضى خو دا ده چې د الله په کلام کې تصرف ونکړو او په خپل سر او بې ضرورته څه اضافه نه کړو.

د قرآن په آيتونو کې بې ضرورته څه زائد ګڼل او هغه له نظره غورځول او يا څه مقدر او کم ګڼل او په خاصو الفاظو سره دا کموالى پوره کول، دا کار اکثراً يا هغه څوك کوي چې د آيت له اصلي الفاظو او د هغوى له ترکيب سم مطلب نه شي اخيستى او يا هغه څوك

چې له مخکې خاص نظر او رأیه ورسره وي او غواړي دا آیت داسې جوړ کړي چې د ده رأیه او نظر تأیید کړي، نو ځکه د آیت په ترکیب کې تصرف کوي؛ کله څه ترې راکم کړي او هغه ته د زائد نوم ورکړي او کله څه پرې اضافه کړي او په هغه د مقدر نوم کښېږدي.

أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُواْ ٱلْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُم مَّثَلُ ٱلَّذِينَ خَلَوْاْ مِن قَبْلِكُمۖ مَّسَّتْهُمُ ٱلْبَأْسَآءُ وَٱلضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُواْ حَتَّىٰ يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ مَتَىٰ نَصْرُ ٱللَّهِۗ أَلَآ إِنَّ نَصْرَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ ﴿٢١٤﴾

[۲۱٤]- آیا داسې مو انګېرلې چې جنت ته به داخل شئ حال دا چې لا تر اوسه پر تاسو هغو کسانو ته ورته حالت نه دئ راغلی چې تر تاسو مخکې تېر شوي؛ ستونزې او کړاوونه ورورسېدل او ولړزول شول؛ هومره چې پیغمبر او د ده په خوا کې مؤمنانو به ویل: دالله نصرت او مرسته به کله راځي؟ خبردار چې د الله مرسته نژدې ده.

(۲۱٤)- له دې آیت په ډېر صراحت سره دا خبره معلومېږي چې د ایمان لار له آزموینو او ابتلاءاتو ډکه لار ده، جنت ته د رسېدو او پر دښمن د بریا تر لاسه کولو طمع؛ یوازې په هغه صورت کې پر ځای طمع ده چې له ابتلاءاتو بریالی تېر شې او له دې مخکې داسې طمع هسې یو اټکل، ګمان او هیله ده. د تاریخ په اوږدو کې هر پیغمبر او امت ئې په دې لار کې آزمویل شوي، له خطرونو سره مخامخ شوي، کړاوونه ئې ګاللي، سختې ورځې پرې راغلې؛ هومره سختې ورځې او کړاوونه چې د با عزم پیغمبرانو او د دوی د صابرو یارانو حوصله ئې ختمېدو ته نژدې کړې او د دغې خبرې کولو ته ئې اړ کړی چې وواېي: د الله هغه د نصرت وعده به کله تر سره کېږي؟ په دغه وخت کې او د سختو ابتلاءاتو په دغه پړاو کې هغوی ته ویل شوي: ډاډه اوسئ چې د الله نصرت په لار دئ او رارسېدو ته نژدې شوی. څوك چې د ایمان دعوی کوي؛ خو له داسې ابتلاءاتو سره نه مخامخ کېږي، د ده په اړه یوازې یوه خبره کولی شو او هغه دا چې: دا جناب په هغه لار نه دئ روان چې د الله پیغمبران پرې تللي، د ده لار هغه نه ده چې په جنت منتهي کېږي؛ ده د شر او فساد له ځواکونو سره د روغې جوړې لار غوره کړې؛ د همدې لپاره له کړاوونو خوندي پاته دئ؛ ممکنه نه ده چې څوك دې په حقیقي معنی د ایمان په لار روان وي او د کفر، شر او فساد له ځواکونو سره دې همغه څه وکړي چې ایمان ئې د کولو امر کوي؛ خو سره له دې دې له ابتلاءاتو سره مخامخ نه شي او د حق او عدالت دښمنان دې هغه آرام پرېږدي او د ده د ځورولو لپاره دې ملا ونه تړي.

يَسۡـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَۖ قُلۡ مَآ أَنفَقۡتُم مِّنۡ خَيۡرٖ فَلِلۡوَٰلِدَيۡنِ وَٱلۡأَقۡرَبِينَ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۗ وَمَا تَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٞ ٢١٥

[۲۱۵]- له تا پوښتنه کوي چي څه (د الله په لار کي) ولګوي؟ ورته ووايه: د غوره (مال) چي هر څه لګوئ؛ نو هغه دي د مور پلار لپاره، د خپلوانو، مسکينانو، يتيمانو او بې وزلو مسافرانو لپاره وي او هر غوره کار چي وکړئ نو الله پرې پوهېږي.

(۲۱۵)- دوی دا پوښتنه کړې وه چي څه خرڅ کړي؛ په ځواب کي له يوې خوا ورته د انفاق غوره موارد ښودل شوي او له بلې خوا مال او شته د خير په نامه ياد شوی، يعني که ته له حلالې لارې مال تر لاسه کړې او په دغو مواردو کي ئې مصرف کړې؛ نو که کم وي يا زيات؛ الله پرې پوهېږي او غوره بدله به ئې درکوي.

كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِتَالُ وَهُوَ كُرۡهٞ لَّكُمۡۖ وَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ شَرّٞ لَّكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٢١٦

[۲۱٦]- پر تاسو قتال (جګړه) فرض کړی شوی؛ په داسي حال کي چي هغه درته کرکجن برېښي؛ خو ښايي تاسو يو څه بد وګڼئ حال دا چي هغه ډېر درته غوره وي او ښايي تاسو له يوه شي سره مينه وښيئ خو هغه تاسو ته ډېر بد وي او الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

(۲۱٦)- انسان طبيعتاً له شخړو او جګړو کرکه لري او دا خوښوي چي له جګړې لرې د صلحې او امنيت په غېږ کي ژوند وکړي، خو دا آرمان هسې وړيا او آسانه نه شي تر لاسه کېدی، د شر او فساد ځواکونه نه پرېږدي چي امن خوښي انسانان په آرامه فضاء کي ژوند وکړي؛ عدالت، صلح او امنيت له جګړې پرته نه شي تأمينېدی، د همدې لپاره الله تعالی پر مسلمانانو جګړه فرض کړې ده؛ دا د هغه عليم خدای له لوري فرض کړی شوې چي د انسان له فطرت او طبيعت، د ده د ټولني له اړتياوو، د عدالت او امنيت د تأمين لپاره د جګړې له ضرورت؛ تر هر چا ښه خبر دئ؛ مه د شيطان او خپل نفس وسوسو ته اعتناء کوئ او مه د هغو امنيت خوښو استدلال ته اهميت ورکوئ چي د جګړې مخالفت کوي او امنيت غواړي؛ خو د امنيت لپاره قربانۍ ورکولو ته چمتو نه دي او د شر او فساد د ځواکونو د مقابلې همت او جرأت نه لري. که څه هم دلته او د قتال د فرضيت په دې

لومړنۍ لارښوونې کې ویل شوي چې تاسو قتال بد ګڼئ؛ خو په وروستیو آیتونو کې ویل شوي چې څوک د الله په لار کې له جهاد (قتال) سره هومره مینه ونه لري چې دا مینه ئې له مور، پلار، اولاد، وروڼو، خپلوانو، مېرمنې، مال، دولت، تجارت او له ښایسته ماڼیو زیات نه وي؛ هغه فاسق دئ او د الله له هدایت محروم:

قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَٰنُكُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَٰلٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِى سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُوا۟ حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٤﴾ التوبة

ورته ووایه: که مو پلرونه، زامن، وروڼه، مېرمنې، خپلوان، هغه مالونه چې راغونډ کړي مو دي، هغه تجارت چې د بازار له سوړوالي ئې وېرېږئ او هغه کورونه چې خوښوئ ئې؛ تاسو ته له الله، د هغه له پیغمبر او د ده په لار کې له جهاد زیات محبوب وي؛ نو د الله د پرېکړې انتظار وکړئ چې الله داسې فاسق قوم نه هدایت کوي.

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلشَّهْرِ ٱلْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ ۖ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ ۖ وَصَدٌّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَكُفْرٌۢ بِهِۦ وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِۦ مِنْهُ أَكْبَرُ عِندَ ٱللَّهِ ۚ وَٱلْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ ٱلْقَتْلِ ۗ وَلَا يَزَالُونَ يُقَٰتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ ٱسْتَطَٰعُوا۟ ۚ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُو۟لَٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢١٧﴾

[٢١٧]- په حرامه میاشت کې د جګړې په اړه له تا پوښتي؛ ورته ووایه: په دې کې جنګ کول ستره ( ګناه) ده، خو د الله د لارې خنډ کېدل او له هغې انکار او له مسجد الحرام مخنیوی او اوسېدونکي ئې ترې ایستل؛ تر دې هم د الله په نزد کې ستره ده او فتنه تر قتل هم ستره؛ او تل به له تاسو سره جنګېږي تر هغه چې تاسو له خپل دین واړوي؛ که وتوانېږي؛ او له تاسو چې هر څوک له خپل دین واوړي او په

داسې حال کې ومري چې کافر وي؛ نو د دوی عملونه په دنيا او آخرت کې تباه شول او دوی هغه دوزخيان دي چې په هغه کې به تلپاته وي.

(۲۱۷)- پيغمبر عليه السلام يو ځلې د حرامې مياشتې له رارسېدو د مخه يوه ډله مجاهدين پر دښمن د بريد لپاره ولېږل؛ خو دا بريد له حرامې مياشتې يوه ورځ د مخه يا په بل روايت په لومړۍ ورځ وشو؛ قريشو هم دا تبليغات پيل کړل چې دا دئ محمد عليه السلام د حرامو مياشتو احترام هم تر پښو لاندې کړ او ځينو د جهاد هغو مخالفينو او امنيت خوښو چې په حقيقت کې منحرف او بې لارې وو؛ خو په خپل انحراف، بې زړه توب او منافقت ئې د تقوی پرده غوړوله؛ هم دا شور او شر جوړ کړ چې مجاهدينو د حرامو مياشتو احترام تر پښو لاندې کړ؛ الله تعالی دوی ته په ځواب کې فرمايي: دا صحيح ده چې په حرامه مياشت کې جګړه کول ستره (ګناه) ده، خو تاسو پر دې د اعتراض او استدلال څه حق لرئ؛ تاسو خو مظلوم مسلمانان له مسجد الحرام وايستل، د دوی د حج او عمرې مخنيوی مو وکړ، د الله د لارې خنډ شوئ، د الله د حق دين پر ځای د کفر سلطه غواړئ؛ دا خو د الله په نزد کې تر جنګ او وژنې هم ستره ګناه ده. تاسو خو په هغه صورت کې د اعتراض حق درلود چې د مسجد الحرام او د حرام مياشتو احترام مو ساتلی؛ مسلمانانو ته هم ويل شوي چې د شر او فساد دا کفري ځواکونه ستاسو او د ټولو حق پالو دائمي دښمنان دي؛ که له وسه ئې پوره وی تر هغه به تل له تاسو سره جنګېدل چې تاسو له خپل دين واړوي؛ نه به ئې د الله د حکم پروا کوله او نه د مسجد الحرام او د حرام مياشتو؛ په دغو مياشتو کې د جګړې نه کولو وجه ئې دا نه ده چې دوی دې مياشتو ته احترام لري؛ وجه ئې د دوی بې وسي ده؛ پام کوئ چې د امنيت او صلحې د دروغجنو مدافعينو او حاميانو د غلطو تبليغاتو تر تأثير لاندې رانشئ، له خپل دين وانه وړئ او جهاد پرې نږدئ؛ ځوك چې په شا ولاړ شي او له دين او جهاد لاس واخلي؛ ټول عملونه ئې داسې تباه کېږي چې نه ئې دنيوي نتيجه تر لاسه کولی شي او نه د آخرت بدله؛ او دوزخ به ئې ځای وي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ يَرۡجُونَ رَحۡمَتَ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٢١٨﴾

[۲۱۸]- بې شکه هغه چې ايمان ئې راوړی او هغه چې هجرت ئې کړی او د الله په لار کې ئې جهاد کړی؛ دوی د الله د رحمت او پېرزوينو طمع لري او الله مهربان

بخښونکی دئ.

(۲۱۸)- دوی دا هر څه د دې لپاره کوي چې الله تعالی پرې رحم وکړي، نو که له دوی د جهاد په دوران کې کومه اشتباه کېږي؛ مهربان او بخښونکی خدای ئې ورته بخښي.

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْخَمْرِ وَٱلْمَيْسِرِ ۖ قُلْ فِيهِمَآ إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا ۗ وَيَسْـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ ۖ قُلِ ٱلْعَفْوَ ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١٩﴾ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ ۗ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْيَتَٰمَىٰ ۖ قُلْ إِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ۖ وَإِن تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَٰنُكُمْ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ ٱلْمُفْسِدَ مِنَ ٱلْمُصْلِحِ ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَعْنَتَكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٢٠﴾

[۲۱۹]- د شراب او قمار په اړه له تا پوښتنه کوي؛ ورته ووايه: په دوی کې ستره ګناه ده او څه ګټې د خلکو لپاره؛ خو ګناه ئې تر ګټې ډېره ستره ده؛ او تا پوښتي چې څه انفاق کړي؟ ورته ووايه: همغه زيات ئې؛ همدا راز الله تاسو ته دا آيتونه بيانوي چې تفکر وکړئ. [۲۲۰]- په دنيا او آخرت کې؛ او د يتيمانو په اړه تا پوښتي؛ ورته ووايه: د دوی لپاره اصلاحي عمل غوره دئ او که ئې درسره ګډ کړئ نو هغوی مو وروڼه دي؛ الله مفسد له مصلح پېژني او که الله غوښتلی نو حتماً به ئې په کړاو کې اچولي وئ؛ بې شکه چې الله باحکمت غالب ذات دئ.

(۲۱۹-۲۲۰)- ګورئ چې دلته د (اثم: ګناه) په مقابل کې د (منفعت: ګټې) ذکر شوی؛ له دې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د حلال او حرام د ټاکلو په اړه دا اصل په پام کې نيول شوی چې څه انسان ته ګټه لري او څه تاوان؛ هر څه چې انسان ته ئې تاوان تر ګټې زيات وي؛ الله تعالی هغه حرام کړي او هر څه چې ګټه ئې تر تاوان زياته وي؛ هغه ئې حلال کړي؛ شراب او قمار د دې لپاره حرام کړی شوي چې تاوان ئې تر ګټې زيات دئ؛ هم فرد ته او هم ئې ټولني ته؛ شراب انسان له خپل طبيعي حالت باسي؛ په خپلو حواسو او مشاعرو د ده واك کمزوری کوي، له سده ئې باسي او داسي کارونو ته ئې هڅوي چې په طبيعي حالت کې ترې ځان ساتي نه يوازي حواسو او اعصابو ته ئې صدمه رسوي بلکې د مرض په وړاندي ئې مقاومت کمزوری کوي. او قمار په ناحقه د بل د مال غصبولو وسيله ده؛ په دې سره هغه حريص انسان په دام کې اچول کېږي چې غواړي له آسانه لاري د ډېر

مال او ثروت خاوند شي؛ د ده له دغه کمزورۍ په استفادې سره زرنګ او ماهر ټګماران د ده موجود ثروت هم ترې غارت کړي؛ اوس خو متأسفانه حکومتونه له خپلو ولسونو سره همدا دوکه کوي؛ د لاټرۍ په غولونکو اعلاناتو کې وايي: خپل بخت وآزمویئ، د ملیونر کېدو دا طلايي موقع له لاسه مه ورکوئ، کېدی شي د شلو روپو یو ټکټ تاسو ته هومره څه په لاس درکړي چې ټول آرمانونه مو تر سره کړي!! ناپوه او حريص کسان په دې غولوونکو اعلاناتو دوکه کړي، له زرګونو کسانو پیسې تر لاسه کړي او د هغه پنځه په سلو کې څو (په اصطلاح بختورو ګټونکو) ته ورکړي او باقي ئې د غلو او خائنو چارواکو د عیش عشرت سامان شي.

د انفاق په اړه دلته دا ځواب ورکړی شوی چې له خپلو ضروري اړتیاوو چې څه زيات وي همغه د الله په لار کې انفاق کړئ، له دې لارښوونې په ډاګه معلومېږي چې له ضروري اړتیاوو د اضافي شیانو په اړه د الله حکم دا دئ چې هغه به انفاق کېږي، که ستا خوا ته داسي محتاج انسان وي چې ستا مرستي ته اړ وي؛ ته الله تعالی مکلف کړی یې چې له خپل اضافي مال به د ده مرسته کوې، ستا په مال کې د دغو محتاجو خلکو خاص حق دئ؛ دا حق باید ورکړې.

د یتیمانو په اړه مسلمانانو ته لارښوونه شوې چې د دوی مال به ورته په ښه توګه ساتئ او پالئ؛ داسي لکه خپل مال چې ساتئ او داسي به ئې پالئ چې یتیمانو ته ئې ښه ګټه ورسېږي؛ که د دوی مال بېل او مستقل نه شئ پاللی نو له ځان سره ئې شریك کړئ؛ دا د الله تعالی یوه پېرزوینه وګڼئ چې د یتیمانو په اړه ئې تر دې دروند پېټی ستاسو پر اوږو نه دئ ایښی؛ الله تعالی عزیز دئ په هر څه کولو قادر او حکیم دئ؛ په هر حکم کې ئې حکمتونه مضمر دي.

وَلَا تَنكِحُواْ ٱلۡمُشۡرِكَٰتِ حَتَّىٰ يُؤۡمِنَّۚ وَلَأَمَةٞ مُّؤۡمِنَةٌ خَيۡرٞ مِّن مُّشۡرِكَةٖ وَلَوۡ أَعۡجَبَتۡكُمۡۗ وَلَا تُنكِحُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَتَّىٰ يُؤۡمِنُواْۚ وَلَعَبۡدٞ مُّؤۡمِنٌ خَيۡرٞ مِّن مُّشۡرِكٖ وَلَوۡ أَعۡجَبَكُمۡۗ أُوْلَٰٓئِكَ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلنَّارِۖ وَٱللَّهُ يَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱلۡجَنَّةِ وَٱلۡمَغۡفِرَةِ بِإِذۡنِهِۦۖ وَيُبَيِّنُ ءَايَٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٢١﴾

[۲۲۱]- مشرکې ښځې تر هغه ځان ته مه نکاح کوئ چې ایمان راوړي او باایمانه وینځه له مشرکې ښځې ډېره غوره ده که څه هم ستاسو خوښه شوې وي او تر هغه

مشرکانو ته (ځوك) په نکاح مه ورکوئ چې ايمان راوړي او باايمان مريي تر مشرك ډېر غوره دئ که څه هم ستاسو خوښ شوی وي؛ دوی خو د اور لوري ته بلنه ورکوي او الله په خپل اذن او حکم سره د جنت او مغفرت لوري ته بلنه ورکوي او خپل آيتونه خلکو ته بيانوي چې پند واخلي.

(۲۲۱)- دلته دوو خبرو ته پام کول ضروري دي:

- قرآن په مخکينيو کتابونو ايمان درلودونکو ته د (اهل کتاب) نوم غوره کړی او د بت لمانځونکو لپاره ئې د (مشرك) نوم؛ کله چې دواړه فرقې يو ځای يادوي نو يوه د مشرك په نامه او بله د اهل کتاب په نامه يادوي. خو په ځای ځای کې د اهل کتاب په اړه فرمايي چې دوی هم شرك کړی او مشرکان دي. په دې آيت کې له هر مشرك سره نکاح منع شوې، خو په بل ځای کې د اهل کتاب ښځې په نکاح کول جائز ګڼل شوې؛ د دې معنی يا دا ده چې له دې عام حکم د اهل کتاب ښځې مستثنی شوې او يا دا چې له اهل کتاب هغه ښځې په نکاح کړئ چې موحدې وي. دا دوهمه توجيه غوره ده.

په نکاح سره د يوې نوې کورنۍ بنسټ ايښودل کېږي؛ دوه کسان په خپلو کې تعهد کوي چې د ژوند په دې سفر کې به يو د بل مخلص او صادق ملګري وي، په دې اوږده سفر کې د دوی تر منځ فکري وحدت تر بل هر څه زيات مهم او ضروري دئ؛ د دوی دواړو لپاره هم او د اولاد لپاره ئې هم؛ د دې همسفر او ملګري په غوره کولو کې تر هر څه زيات د هغه ايمان او عقيدې ته اهميت ورکړه؛ يوازې يو مؤمن همسفر به د ژوند په لوړو ژورو کې ستا ډاډمن مټ وي، بل ته به پر تا ترجيح نه ورکوي، نه به له تا سره خيانت کوي او نه ستا له اولاد سره؛ که د همسفر په غوره کولو کې؛ دې ته توجه ونکړې او د مال، جمال او حسب او نسب له مخې ئې غوره کړې، نو يا به دا ملګرتيا لنډه ثابته شي، يا به کور درته تنور شي او يا به ئې پايله د جهنم اور شي؛ ستا لپاره هم او ستا د اولاد لپاره هم؛ پيغمبر عليه السلام په دې اړه څومره عبرتناکه وينا لري:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَنْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً لِعِزِّهَا لَمْ يُزِدْهُ اللَّهُ إِلَّا ذُلًّا، وَمَنْ تَزَوَّجَهَا لِمَالِهَا لَمْ يُزِدْهُ اللَّهُ إِلَّا فَقْرًا، وَمَنْ تَزَوَّجَهَا لِحُسْنِهَا لَمْ يُزِدْهُ اللَّهُ إِلَّا دَنَاءَةً، وَمَنْ تَزَوَّجَهَا لَمْ يَتَزَوَّجْهَا إِلَّا لِيَغُضَّ بَصَرَهُ وَيُحْصِنَ فَرْجَهُ أَوْ يَصِلَ رَحِمَهُ بَارَكَ اللَّهُ لَهُ فِيهَا وَبَارَكَ لَهَا فِيهِ " رواه الطبرانی

انس رضي الله عنه وايي: له رسول الله صلی الله عليه و سلم مې واورېدل چې فرمايل ئې: چا چې کومه ښځه د هغې عزت ته په پام سره نکاح کړه؛ الله به ئې له

ذلت پرته بل څه ورته زيات نه کړي او چا چي د هغې د مال له امله په نکاح کړه نو الله تعالی به له فقر پرته بل څه ورته زيات نه کړي او چا چي د هغې د حسن له امله په نکاح کړه؛ نو الله تعالی به له دنائت پرته بل څه ورته زيات نه کړي او چا چي کومه ښځه يوازي د دې لپاره په نکاح کړه چي خپلي سترګي (له ګناه) راټم کړي او خپل عورت حفظ کړي او د خپلوۍ اړيکي ټينګي کړي؛ نو الله تعالی به دوی دواړه يوه بل ته د برکت باعث کړي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ: لِجَمَالِهَا، وَلِحَسَبِهَا، وَلِمَالِهَا، وَلِدِينِهَا، فَعَلَيْكَ بِذَاتِ الدِّينِ

له ابو هريرة رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: ښځي د څلورو خصلتونو له مخي په نکاح کېږي: ښايست ئې، حسب و نسب ئې، مال ئې او ديانت ئې، نو ته ئې ديندار غوره کړه.

---

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْمَحِيضِ ۖ قُلْ هُوَ أَذًى فَٱعْتَزِلُوا۟ ٱلنِّسَآءَ فِى ٱلْمَحِيضِ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ ۖ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ ٱللَّهُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلْمُتَطَهِّرِينَ ﴿٢٢٢﴾ نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوا۟ حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ ۖ وَقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُمْ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّكُم مُّلَٰقُوهُ ۗ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٢٣﴾

[٢٢٢]- او د حيض په اړه له تا پوښتنه کوي؛ ورته ووايه: دا يوه ستونزه ده؛ نو له مېرمنو په حيض کې ډډه وکړئ او تر هغه نژدې وائى مه ورسره کوئ چي (له حيض) پاکې شي؛ خو کله چي پاکې شوې؛ نو له هغه لوري ورته راتګ وکړئ چي الله درته امر کړی؛ بې شکه چي الله توبه کوونکي خوښوي او له ځان پاك ساتونکو سره محبت کوي. [٢٢٣]- مېرمني مو ستاسو لپاره يو کرځای دئ؛ نو چي څنګه مو خوښه وي همغسي خپل کرځای ته ورشئ او د ځان لپاره څه وړاندي ولېږئ او له اللهووېرېږئ او په دې پوه شئ چي له هغه سره مخامخ کېدونکي يئ او مؤمنانو ته (ئې) زېرى ورکړه.

---

(٢٢٢-٢٢٣)- حيض ته اذيت او بيماري ويل شوې؛ يقيناً چي دا د ښځي لپاره يوه ستونزه

او بیماري ده؛ په دې حالت کې له خاص نژدې والي ممانعت شوی؛ له جماع پرته نور هر نوع مشروع مباشرت او یو ځای ملاسته او ناسته ولاړه جائزه ده؛ له حیض له وتلو او طهارت وروسته؛ د مباشرت اجازه شوې؛ خو څو شرطونه ایښودل شوي: له مېرمنو سره ستاسو نژدې والی به داسي وي لکه بزګر چي خپل کرځي ته ورځي؛ د فصل او حاصل په غرض او نیت؛ چي په دې سره له یوې خوا نیت او موخه په ګوته کوي او له بلي خوا طبیعي او د انسان د فطرت مطابق مباشرت ته اشاره کوي. په دې مبارکو آیتونو کې همدا راز د مباشرت او نژدې والي مقصد او هدف هم په ګوته شوی؛ دا باید یوازي د نفساني حظ او د جنسي غریزې د اشباع لپاره نه وي؛ د نکاح اصلي مقصد او هدف د اولاد پیدا کول او د نسل دوام دی؛ که څوك د دې لپاره او له دغي تلوسې سره د خپلو مېرمنو خوا ته ځي؛ نو دا داسي ګڼل شوی لکه چي له مخکي ئې ځان ته غوره ثواب لېږلی وي؛ اسلام د انسان هغه کارونه هم د ثواب مستحق شمېري چي په حلاله طریقه او په نېك نیت تر سره شوي وي که څه هم دا په خپله د ده د یوه نفسي غوښتني تر سره کېدل وي؛ په دغه مباشرت سره که څه هم هغه خپله جنسي غریزه اشباع کړې خو چي په نېك نیت او مشروع طریقه ئې تر سره کړی؛ د الله په دین کې د ثواب مستحق ګڼل کېږي.

علم نن همدا خبره کوي چي د حیض په دوران کې هم د ښځو صحي وضعیت له عادي حالت سره توپیر لري او هم ئې روحي او مزاجي حالت؛ په دې حالت کې د عدم مجامعت سپارښتنه کوي او مجامعت مېړه او مېرمني ته مضر ګڼي.

میاشتنی عادت (حیض) څه دی؟ د ښځي رحم په هره میاشت کې د نطفې منلو ته ځان چمتو کوي، په دې پړاو کې د رحم داخلي جدار شاوخوا څلور ملي پرېړ شي؛ که د دوو میاشتني عادتونو تر منځ إلقاح تر سره نه شي او نطفه رحم ته داخل نه شي نو دغه جدار رژېږي او د ویني په رنګ کې له بدنه وځي؛ کله چي په دې پړاو کي د ښځینه او نارینه تر منځ جنسي نژدې والی ونشي نو څوارلس ورځي وروسته یا هغه وخت چي رحم ډاډه شو چي امیداوري نده پېښه شوي نو دا طبقه رژېږي او د ښځینه میاشتنی عادت (حیض) په بڼه له بدنه بهر ته وځي. دا پېښه د ښځینه میاشتنی عادت (حیض) په نوم یادېږي او له دریو تر اووه ورځو پوري دوام کوي.

وَلَا تَجۡعَلُواْ ٱللَّهَ عُرۡضَةٗ لِّأَيۡمَٰنِكُمۡ أَن تَبَرُّواْ وَتَتَّقُواْ وَتُصۡلِحُواْ بَيۡنَ ٱلنَّاسِۚ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ۝٢٢٤ لَّا يُؤَاخِذُكُمُ ٱللَّهُ بِٱللَّغۡوِ فِيٓ أَيۡمَٰنِكُمۡ وَلَٰكِن

يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿٢٢٥﴾

[٢٢٤]- او الله د خپلو قسمونو لپاره داسي مه په نښه کوئ چي نه به نېکي، نه به تقوی او نه به د خلکو تر منځ روغه جوړه کوئ او الله ښه پوه اورېدونکی دئ. [٢٢٥]- الله تاسو په خوشي قسمونو نه نيسي، بلکي په هغو مو نيسي چي ستاسو زړونو ئې قصد کړی وي او الله حليم بخښونکی دئ.

(٢٢٤-٢٢٥)- د الله په نامه به داسي قسمونه نه کوئ چي له نېکي، تقوی او د خلکو تر منځ د روغي جوړي له هڅو به لاس اخلئ؛ داسي قسمونه بايد مات شي او کفاره ئې ورکړی شي. الله تعالی هم ستاسو لوړه اورېدلې او هم پوهېږي چي تاسو د کوم او څنګه کار د نه کولو لوړه کړې. خو الله تعالی تاسو په هغو قسمونو نه نيسي چي لغو او خوشي وي، هسي مو له خولې د تکيه کلام په توګه ووځي او يا په هېره د ماضي کار په اړه لوړه وکړئ او يا دا چي ووايئ: قسم دئ چي ته به له ما سره ځې، په خدای چي نن به باران وورېږي، والله چي يخني په زياتېدو ده، په دې او دې ته په ورته خبرو لوړه له دې کبله لغو او خوشی قسم دئ چي دا کارونه ستا خپل کارونه نه دي، تر سره کېدل ئې ستا په واك کي نه دي؛ الله تعالی تا په هغه قسم نيسي چي تا ئې له زړه اراده کړې وي؛ لکه په راتلونکې زمانه کي د کوم کار د کولو يا نه کولو قسم وکړې او يا د دروغ خبري د رښتيا ثابتولو لپاره لوړه وکړې. په لغو قسمونو نه نيول د دې لپاره دي چي الله بخښونکی او حليم دئ؛ په کار خو دا وه چي د الله په نامه په هره لوړه ئې له تاسو سره محاسبه کولی؛ خو د دې لپاره چي الله حليم بخښونکی دئ تاسو ته عفو کوي.

که د کوم کار د کولو قسم وکړې؛ که جايز وو تر سره کوې به ئې؛ که دي قسم مات کړ کفاره به ورکوې؛ که ناجائز وو قسم حتماً مات کړه؛ که د نېك کار د نه کولو قسم دي وکړ؛ نو قسم به ماتوې او کفاره به ئې ورکوې؛ خو لغو قسم نه کفاره لري او نه مؤاخذه.

لِّلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَإِن فَآءُو فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٢٦﴾ وَإِنْ عَزَمُواْ ٱلطَّلَٰقَ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٢٧﴾

[٢٢٦]- هغو کسانو ته چي له خپلو مېرمنو سره د نه نژدې والي لوړه کوي؛ د څلورو مياشتو انتظار کول دي؛ نو که ئې (په دغي مودې کي) رجوع وکړه؛ نو الله مهربان بخښونکی دئ. [٢٢٧]- او که ئې د طلاق هوډ وکړ نو الله ښه پوه اورېدونکی دئ.

(۲۲۶-۲۲۷)- که څوك له خپلو مېرمنو سره د نه نژدې والي لوړه کوي؛ نو يوازې تر څلورو مياشتو پورې دا کار کولی شي؛ په دغه موده کې به يا د طلاق پرېکړه کوي يا به بېرته رجوع کوي؛ په دغه موده کې نه رجوع طلاق ګڼل کېږي؛ په ايلاء کې د امام ابو حنيفه رأيه دا ده چې د څلورو مياشتو په تېرېدو سره طلاق بائن واقع کېږي؛ خو د نورو رأيه دا ده چې د طلاق پرېکړه به قاضي کوي.

له دې حکم دوه خبرې معلومېږي: لومړی دا چې څوك حق نه لري تر څلورو مياشتو زيات له خپلې مېرمنې سره د نه نژدې والي لوړه وکړي، بله دا چې ښځې همدومره موده د صبر کولو حوصله او وس لري؛ عمر رضي الله عنه د همدې لپاره مجاهدين تر څلورو مياشتو زيات په سنګر کې په پاته کېدو نه مکلف کول.

وَٱلْمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٍۚ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِىٓ أَرْحَامِهِنَّ إِن كُنَّ يُؤْمِنَّ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِۚ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِى ذَٰلِكَ إِنْ أَرَادُوٓاْ إِصْلَٰحًاۚ وَلَهُنَّ مِثْلُ ٱلَّذِى عَلَيْهِنَّ بِٱلْمَعْرُوفِۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٢٨﴾

[۲۲۸]- طلاقې شوې ښځې دې د ځان په اړه تر درې وارې حيضه انتظار وکړي او د هغه څه پټول ورته روا نه دي چې الله تعالی د دوی په رحم کې پيدا کړی؛ که پر الله او د آخرت په ورځ ايمان لري، په دې (موده) کې؛ د دوی مېړونه تر هر چا زيات د دې وړ او مستحق دي چې دوی بېرته راوګرځوي. (په دې شرط چې) د روغې جوړې اراده ولري. دوی ته (د هغو حقوقو) په شان (حقونه دي) لکه پر دوی چې (د دوی د مېړونو) دي، خو د نارينه وو پر دوی يوه خاصه مرتبه ده او الله با حکمته عزتمن دئ.

(۲۲۸)- طلاقې شوې ښځې به تر درې وارې حيضه انتظار کوي؛ چې دا خبره په يقيني توګه څرګنده شي چې په رحم کې څه لري که نه؛ د انتظار په دې موده کې د هغې مخکينی خاوند تر بل هر چا د دې مستحق او وړ دئ چې ورسره روغه جوړه او بيا نکاح وکړي، خو په دې شرط چې دواړه د جوړ جاړي او اصلاح اراده ولري او يو د بل د حقوقو مراعات وکړي، مېړه بايد دې ته متوجه وي چې مېرمن ئې پر ده هومره حقوق لري لکه دی چې ئې پر خپلې مېرمنې لري او مېرمن بايد دې ته متوجه وي چې مېړه د کورنۍ د قيم او

مدير په توګه ومني او دا هڅه به نه کوي چې دا د کور واکمنه وي او مېړه ئې دې ته تابع او منقاد وي؛ کورنۍ او وړه او لويه ټولنه يوه قيم، رئيس او ناظم ته ضرورت لري؛ له مدير او قيم پرته ټولنه د تشتت او بدنظمۍ ښکار کېږي، اسلام دا وظيفه نارينه ته سپارلې او د دې لپاره ئې دوه دلائل وړاندې کړي: لومړی دا چې د کورنۍ ټول مصارف ئې پر غاړه دي؛ له مهر نيولې بيا تر کور، جامو او نفقې پورې او دوهم دا چې د دې وظيفې لپاره نارينه تر ښځې مناسب دئ. د ښځې د عاطفې او عقل تر منځ انډول داسې دئ چې د عاطفې اړخ ئې کافي دروند دئ، ځواکمنه عاطفه ورکړی شوې، هومره چې اکثراً عقل تر خپل اغېز لاندې راولي، د اولاد د روزنې لپاره همدې صفت ته اړه وه، د همدغې عاطفې په حکم د اولاد د هوسايۍ او سوکالۍ لپاره خپله هوسايي قرباني کوي، دا هغه څه دي چې نارينه ترې محروم دئ، د نارينه عاطفه د دې په څېر ځواکمنه نه ده، د عقل او عاطفې تر منځ ئې نسبي انډول شته، د قيموميت او مديريت لپاره دغه انډول ته ضرورت دئ، که څه هم د دغو دوو دلائلو له مخې اسلام نارينه د کورنۍ قيم ټاکلی خو دواړه مخصوصاً نارينه ئې په ښه سلوك او د کورنۍ په ټولو کارونو کې په مشوره مکلف کړی.

دې پوښتنې ته هم بايد ځواب وړاندې کړو چې مېرمنې ولې په دې مکلفې شوې چې تر بل ازدواج وړاندې به؛ د طلاق په صورت کې درې حيضونه او د مېړه د وفات په صورت کې به څلور مياشتې او لس ورځې انتظار کوي؟

ځواب دا دئ: الله تعالی انسان ته داسې حساس بدن، د بدن ځانګړی جوړښت او فعال او ځيرك مغز ورکړی چې که هر اجنبي شیء؛ له هرې لارې؛ خولې، پزې، پوستکې، غوږ، سترګې او نورو لارو د انسان بدن ته ننوځي نو ژر او له ځنډ پرته فوراً مناسب او ضروري غبرګون ښيي؛ که مضر وي چاره ئې کوي، که ميکروب، بکټريا او ويروس وي مقابله ئې کوي، لومړی ئې د پېژندو هڅه کوي، بيا هغه دواء تشخيصوي او توليدوي چې دا دښمن له منځه وړی شي، په شپږو مياشتو کې د بدن ټول حجرات چې شمېر ئې په ملياردونو دئ؛ بدلوي؛ د زړو په عوض نوي راپيدا کوي؛ نوې ژوندۍ نطفه جوړوي؛ او دا هغه کار دئ چې د نړۍ ټول ډاکټران؛ له خپلو ټولو وسائلو او تجهيزاتو سره ئې نه شي کولی؛ نه ژوندۍ حجره جوړولی شي او نه ژوندۍ نطفه؛ د ويروس ضد اغېزمنې دواء له جوړولو هم عاجز دي؛ اغېزمنه چاره ئې واکسين ده چې هغه هم د انسان په بدن کې د هغه سپينو کروياتو تحريکولو له لارې د ويروس ضد دواء جوړول دي؛ نه په لابراتوار کې د دواء جوړول. نن په ۲۱ پېړۍ کې د نړۍ هيڅ مخکې تللی کمپيوټر نه شي کولی د انسان د مغز سلمه برخه کارونه وکړی شي.

اوس او په ۲۱ پېړۍ کې له ساينسي او علمي پلوه دا حقيقت څرګند شوی چې له لومړي جنسي مباشرت سره سم؛ د مېرمنې په بدن کې داسې خاص تغييرات رامنځته کېږي او خاص هورمونونه راپيدا کېږي چې د مېرمنې رحم او وجود ئې د دې نوي جنسي تعلق او نوې نطفې لپاره عيار کړي؛ دا تغييرات او نوي هورمونونه د همدغو دوو؛ مېرمن او مېړه په مباشرت پوري مربوط او مختص دي؛ که د دوی تر منځ بېلتون رامنځته شي؛ نو مېرمن مخکيني طبيعي حالت ته د ستنېدو او د دغو تغييراتو او هورمونو د ازالې لپاره لږ تر لږه؛ درېو حيضونو ته ضرورت لري؛ که تر دې مودې وړاندې له بل کس سره جنسي مباشرت وکړي؛ او په نتيجه کې ئې د هغې بدن کې نوي او له بل جنسي مباشرت راټوکېدلي هورمونونه راپيدا شي؛ دا د مېرمنې بدن کې د هورمونونو د عدم تعادل او حتی تعارض باعث کېږي او دې او اولاد ته ئې بدې پايلې لري. اوس په لابراتوار کې د دې امکان شته چې معلومه شي؛ تر معايناتو لاندې يوې مېرمنې؛ له يوه تن سره جنسي مباشرت کړی که له دوو او زياتو سره. له اړوند هورمونونو او د دوی تر منځ له توپيرونو په دې اسرارو پوهېدی شو. نو د اسلامي لارښوونو له مخې د کونډو او طلاق شوو مېرمنو لپاره عدت يوازې د دې لپاره نه دئ چې معلومه شي له مخکيني مېړه په خپل رحم کې څه لري که نه؛ بلکې طبيعي حالت ته د ستنېدو او د نوې جنسي رابطې لپاره د چمتو کېدو په موخه؛ عدت ورته ټاکل شوی.

ٱلطَّلَٰقُ مَرَّتَانِۖ فَإِمۡسَاكُۢ بِمَعۡرُوفٍ أَوۡ تَسۡرِيحُۢ بِإِحۡسَٰنٖۗ وَلَا يَحِلُّ لَكُمۡ أَن تَأۡخُذُواْ مِمَّآ ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ شَيۡـًٔا إِلَّآ أَن يَخَافَآ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِۖ فَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَا فِيمَا ٱفۡتَدَتۡ بِهِۦۗ تِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِ فَلَا تَعۡتَدُوهَاۚ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٢٩﴾ فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُۥ مِنۢ بَعۡدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوۡجًا غَيۡرَهُۥۗ فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَآ أَن يَتَرَاجَعَآ إِن ظَنَّآ أَن يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِۗ وَتِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ﴿٢٣٠﴾

[۲۲۹]- طلاق دوه ځلې وي، نور ئې يا په ښه توګه ساتل دي او يا ئې په ښايسته توګه پرېښودل او دا درته روا نه ده چې دوی ته مو د ورکړو شيانو کوم څه بېرته واخلئ،

مګر دا چې دواړه د الهي حدودو له نه ساتلو ووېرېږي، نو که دا وېره مو درلوده چې دوی به الهي حدود تر سره نه کړي، بیا په دې کې په دوی څه ګناه نشته چې ښځه څه فدیه ورکړي (او طلاق تر لاسه کړي) همدا الهي حدود دي، نو تېری ترې مه کوئ او چا چې له الهي حدودو تېری وکړ؛ همدا دوی ظالمان دي. [۲۳۰]- نو که ئې (درېیم ځل) طلاق ورکړ، بیا نو تر هغه (ئې بیا نکاح کول) روا نه دي چې له ده پرته له بل مېړه سره نکاح وکړي، نو که هغه طلاقه کړه؛ بیا په دوی دواړو څه ګناه نشته چې یو بل ته رجوع وکړي، که ئې دا ګمان کولو چې الهي حدود پالل<br>ی شي، همدا الهي حدود دي چې پوهېدونکو وګړو ته ئې بیانوي.

---

(۲۲۹-۲۳۰)- اسلامي شریعت د نکاح او یوې نوې کورنۍ د جوړلو لپاره د جانبینو توافق شرط کړی، دواړو ته په ښه سلوك او په خپلو کې په مشوره توصیه کوي، د لانجو غوڅولو لپاره دواړو ته د صبر، زغم او عفوې سپارښتنه کوي او که په دې ئې لانجه حل نه شوه؛ د دواړو خپلوانو ته وایي چې مداخله وکړي او ستونزه حل کړي، د روغي جوړي لپاره دي په ګډه د مصالحې کوم هیئت او جرګه غوره او لانجه دي حل کړي، که په دې هم مشکل حل نه شو نو مېړه ته ئې د طلاق واك ورکړی؛ په داسي حال کې چې وایي: د الله په وړاندي تر ټولو کرکجن حلال کار طلاق دئ. طلاق ئې له هغي ترخې دوا سره تشبیه کړی چې ډاکټر ئې د علاج لپاره ناچار خپل بیمار ته ورکوي. د نکاح او طلاق په اړه د اسلامي شریعت لارښووني داسي دي چې هم د مېړه او ښځې تر منځ ګډ ژوند د مینې، پېرزوینې او احترام په فضاء کې وي او هم ئې د مجبوریت په صورت کې بېلیدل په ښه او غوره توګه؛ داسي ضوابط ئې وضع کړي چې دا معامله د دوو کورنیو تر منځ د نژدې والي ذریعه وي نه د منافرت او دښمنۍ باعث.

د طلاق واك نارینه ته او په مقابل کې ئې د مهر حق ښځې ته ورکړی شوی؛ دا مهر د ښځې د مستقبل لپاره ډېر حکیمانه او غوره تضمین دئ؛ چې مېړه ونشي کولی بې موجبه خپلي مېرمني ته طلاق ورکړي؛ یا د دې لپاره چې د هغې پېغلتوب ختم او د ځوانۍ ښایست ئې نه وي پاته او مېړه ئې غواړي له دې ځان خلاص کړي او بله پېغله او ښایسته وکړي؛ یا هسي تر دې ئې بله خوښه شوې وي؛ دې ته طلاق ورکړي او په بلي ئې بدله کړي؛ د دې لپاره چې څوك د ښځو په برخلیك لوبي ونکړی شي؛ اسلامي شریعت د مهر حق ښځې ته ورکړی او د همدې لپاره شریعت د مهر لپاره خاص حد نه دئ ټاکلی، دا اختیار ئې ښځې ته ورکړی چې د خپل مستقبل د تضمین لپاره له مېړه څه تر لاسه کول ضروري ګڼي؛ که مېړه ښځې ته طلاق ورکوي نو دا حق نه لري چې دې ته له ورکړو شیانو د مهر

په شمول څه ترې بېرته واخلي، خو كه ښځه د طلاق غوښتنه كوي نو بيا به دې ته خود تيارېږي چې له مېړه د اخيستي مهر يوه برخه بېرته مسترد كړي او په دې سره د دوى لانجه پاى ته ورسېږي. د درېيم ځل طلاق معنى دا ده چې دا دواړه نور د ګډ ژوند وړتياوي نه لري؛ خو كه دې ښځې له بل سره نكاح وكړه او دا نوې نكاح هم په طلاق منتج شوه؛ ښايي دې ترخې تجربې لومړنى جوړه دې نتيجې ته رسولې وي چې يو ځل بيا ګډ ژوند پيل كړي؛ دوى ته د دې كار اجازه وركړى شوې؛ خو په دې شرط چې يو د بل د حقوقو د مراعات اراده او توان په ځان كې وګوري.

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍۚ وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُواْۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُۥۚ وَلَا تَتَّخِذُوٓاْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ هُزُوٗاۚ وَٱذْكُرُواْ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمَآ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ وَٱلْحِكْمَةِ يَعِظُكُم بِهِۦۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٞ ﴿٢٣١﴾

[۲۳۱]- او كله چې مېرمني طلاقې كړئ او دوى د خپل عدت (پاى) ته ورسېږي، نو يا ئې په ښه توګه وساتئ او يا ئې په ښه توګه خوشې كړئ او په كړاو كې ئې د دې لپاره مه ساتئ چې تېرى وكړئ؛ او هر څوك چې دا كار وكړي نو يقيناً چې په خپل ځان ئې ظلم كړى او د الله له آيتونو سره ملنډې مه وهئ او د الله هغه نعمت چې پر تاسو ئې پېرزو كړى او له كتاب او حكمت ئې چې څه پر تاسو نازل كړي؛ په كوم سره چې تاسو ته نصيحت كوي؛ دا درياد كړئ او له الله ووېرېږئ او په دې پوه شئ چې الله په هر څه ښه پوهېږي.

(۲۳۱)- الله تعالى د رجعت جواز د دې لپاره وركړى چې مېړه او مېرمني ته ئې د تجديد نظر او په خپلو كړنو د بيا كتني فرصت وركړي، د موقت بېلتون په دوران كې دواړه دا وګوري چې د تل لپاره يو له بل بېلتون؛ دوى دواړو او اولادونو ته ئې څومره ستونزې راپيدا كوي؛ خو مبادا له دې رخصت او جواز غلطه استفاده وشي او مېړه د ښځې د ځورولو لپاره ترې كار واخلي. الله تعالى داسې كار په الهي آيتونو ملنډې وهل او په خپل ځان له ظلم كولو سره مترادف ګڼلى او دا ئې د هغه الهي نعمت ناشكري ګڼلې چې د كتاب او حكمت په بڼه كې د دوى په برخه شوى. دوى بايد متوجه وي چې معامله ئې له

هغه علیم خدای سره ده چې په هر څه پوه دئ او د دوی هیڅ څه ترې پټ نه پاته کېږي.

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَٰجَهُنَّ إِذَا تَرَٰضَوْاْ بَيْنَهُم بِٱلْمَعْرُوفِۗ ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ مِنكُمْ يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأٓخِرِۗ ذَٰلِكُمْ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَأَطْهَرُۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢٣٢﴾

[۲۳۲]- او کله چې مو مېرمنو ته طلاق ورکړ او دوی د خپل عدت پای ته ورسېدې؛ نو دوی له دې مه راګرځوئ چې د خپلې خوښې مېړه سره نکاح وکړي؛ که په ښه توګه په خپلو کې سره راضي شوي وي؛ په دې سره ستاسو هغه چا ته پند ورکول کېږي چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري؛ دا درته غوره او د تزکیې او پاکۍ سبب ده او الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

(۲۳۲)- طلاقې شوې ښځې د خپلې خوښې له مېړه سره له نکاح مه منع کوئ؛ که دا د دې پخوانی مېړه وي او که نوی؛ نه ئې د کورنۍ غړي باید دا کار وکړي او نه ئې پخوانی مېړه؛ په ټولنې کې د اخلاقي مفاسدو د مخنیوي لپاره همدا طریقه تر ټولو غوره ده چې پرېږدئ دا کونډې ښځې د خپلې خوښې له مېړه سره نکاح وکړي؛ په زور نکاح کول او د خپلې خوښې له خاوند سره له نکاح مخنیوی؛ په ټولنې کې د فتنو او اخلاقي مفاسدو باعث کېږي.

اسلام له یوې خوا د کونډې اولیاءو ته ویلي چې هغه د خپلې خوښې له خاوند سره له نکاح مه منع کوئ؛ خو له بلې خوا ئې ښځه په دې مکلفه کړې چې د نکاح په اړه د خپل ولي رضایت په پام کې ولري؛ دا د دې لپاره چې نکاح د کورنیو تر منځ د نژدې والي سبب شي نه د دښمنۍ او نفرت سبب.

په دې اړه دوه اساسي خبرې باید په پام کې ولرو:

- د ښځې اولیاء باید خپله خوښه پر هغې تحمیل نه کړي؛ له بې ځایه ځورولو او تنګولو ئې ډډه وکړي؛ هغه دې پرېږدي چې د خپلې خوښې له کس سره نکاح وکړي؛ دا هم په خدای او آخرت د ایمان تقاضی ده او هم له اخلاقي فساد د مخنیوي ذریعه.
- ښځه باید په پټه او د اولیاءو په غیاب کې دا کار ونکړي؛ له دې فتنې راولاړېږي؛ د کورنیو تر منځ کرکه او نفرت راپیدا کوي.

لاندې روایات دغه قضیه توضیح کوي:

عَنْ قَتَادَةَ عن الْحَسَن أَنَّ مَعْقِلَ بْنَ يَسَارٍ كَانَتْ أُخْتُهُ تَحْتَ رَجُلٍ فَطَلَّقَهَا ثُمَّ خَلَّى عَنْهَا حَتَّى انْقَضَتْ عِدَّتُهَا ثُمَّ خَطَبَهَا فَحَمِيَ مَعْقِلٌ مِنْ ذَلِكَ أَنَفًا فَقَالَ خَلَّى عَنْهَا وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَيْهَا ثُمَّ يَخْطُبُهَا فَحَالَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ { وَإِذَا طَلَّقْتُمْ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ } إِلَى آخِرِ الْآيَةِ فَدَعَاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَ عَلَيْهِ فَتَرَكَ الْحَمِيَّةَ وَاسْتَقَادَ لِأَمْرِ اللَّهِ. رواه البخارى

له قتاده روايت دئ چي د معقل بن يسار خور د يوه سړي په نكاح كې وه، هغه طلاق وركړ، بيا ترې بېل شو تر هغه چي عدت ئې تېر شو، (خو په خپل كار پښېمانه شو)؛ د بيا نكاح پيغام ئې ورولېږو، (دا هم راضي شوه)؛ خو معقل ته ننګ ورغی او وئې ويل: له هغې ئې لاس واخيست په داسي حال كې چي پرې برلاسی وو؛ اوس ئې بيا پيغام ورلېږلی؛ نو د دوی دواړو تر منځ خنډ او حائل شو؛ بيا په همدې ارتباط الله تعالی دا آيت نازل كړ: كله چي ښځو ته طلاق وركړی او هغوی د عدت بشپړوالي نېټې ته ورسېږي؛ نو له دې ئې په زور مه راستنوئ چي له خپلو مخكينيو خاوندانو سره نكاح وكړي... نو رسول الله صلى الله عليه و سلم دا آيت ورته ووايو؛ په همدې سره هغه بې ځايه ننګ او حميت پرېښود او د الله امر ته ئې غاړه كښېښوده.

عن عائشةَ رضى اللَّه عنها قالَت: قال رسولُ اللَّهِ صلى اللَّهُ عليه وسلم: "أيُّما امرأةٍ نَكَحَت بغَيرِ إذنِ وليِّها وشاهِدَىْ عَدلٍ فنِكاحُها باطِلٌ، فإن دَخَلَ بها فلَها المَهرُ، وإنِ اشتَجَروا فالسُّلطانُ ولِىُّ مَن لا ولِىَّ له" السنن الترمذى

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: كومه ښځه چي د خپل ولي او پالونكي له اجازې او د دوو عادل شاهدانو له حضور پرته په نكاح شي؛ نو نكاح ئې باطله ده، خو كه ئې نژدېكت ورسره وكړ؛ دې ته د مهر وركړه لازمه ده؛ او كه ئې په خپلو منځونو كې مشاجره وكړه؛ نو د وخت واكمن د هغه چا ولي دئ چي ولي نه لري.

وعَنْ عَايِشَةَ رضى اللَّهُ عنها قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى اللَّهُ عليه وسلم : (أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ وَلِيِّهَا، فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ، فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ، فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ، فَإِنْ دَخَلَ بِهَا فَلَهَا الْمَهْرُ بِمَا اسْتَحَلَّ مِنْ فَرْجِهَا، فَإِنْ اشْتَجَرُوا فَالسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ. ابن ماجه

له عائشې رضي الله عنها روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: كومه

ښځه چي د خپل ولي او پالونكي له اجازې پرته په نكاح شي؛ نو نكاح ئې باطله ده، نكاح ئې باطله ده، نكاح ئې باطله ده؛ خو كه ئې نژدېكت ورسره وكړ؛ دې ته د مهر وركړه لازمه ده؛ له دې امله چي له دې سره نژدېكت ئې ځان ته حلال كړی؛ او كه ئې په خپلو منځونو كې مشاجره وكړه؛ نو د وخت واكمن د هغه چا ولي دئ چي ولي نه لري.

- په دې خبري د هغه چا اعتراض ډېر بې بنسټه او غلط دئ چي وايي د ولي موافقه د ښځي د بشري حقوقو خلاف ده!! هغوي نه پوهېږي چي دا موافقه څومره اهميت لري او له عدم مراعات ئې څومره ستونزي راولاړېږي. هومره چي مور او پلار د خپلي لور مستقبل په پام كې ساتي او د خپلو تجربو له مخي هغې ته سمه لار ښودلی شي او ښه مشوره وركولی شي، په خپله دا ئې نه شي كولی. دا خو نه د مور پلار په اندازه تجربه لري او نه معرفت، ډېر ځله داسي واقع كېږي چي هغه د جذباتو او احساساتو له مخي فيصله وكړي، د چا حسن، لباس او ظاهري وضع ئې تر اغېز لاندي راولي، جذباتي فيصلې ته ئې وهڅوي، خو مور پلار ئې ډېرو نورو اړخونو ته هم توجه كوي او د خپلي لور مستقبل او ښه ژوند په پام كې نيسي.

په داسي حال كې چي اسلام د ښځي موافقه د نكاح لپاره اساسي شرط ګڼلی، نو د داسي بې بنسټه اعتراض لپاره څه مجال پاته كېږي. دا جنابان دې ته تيار نه دي چي كومه سيرلی ئې د بل له سيرلي سره په خپل سر ولاړه شي؛ بل ته څنګه وايي چي ستا لور كولی شي له هغه چا سره په خپل سر او ستا له خبرولو پرته ولاړه شي چي ته ئې ورته مناسب نه ګڼې!!

---

وَٱلۡوَٰلِدَٰتُ يُرۡضِعۡنَ أَوۡلَٰدَهُنَّ حَوۡلَيۡنِ كَامِلَيۡنِۖ لِمَنۡ أَرَادَ أَن يُتِمَّ ٱلرَّضَاعَةَۚ وَعَلَى
ٱلۡمَوۡلُودِ لَهُۥ رِزۡقُهُنَّ وَكِسۡوَتُهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ لَا تُكَلَّفُ نَفۡسٌ إِلَّا وُسۡعَهَاۚ لَا
تُضَآرَّ وَٰلِدَةُۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوۡلُودٞ لَّهُۥ بِوَلَدِهِۦۚ وَعَلَى ٱلۡوَارِثِ مِثۡلُ ذَٰلِكَۗ فَإِنۡ أَرَادَا
فِصَالًا عَن تَرَاضٖ مِّنۡهُمَا وَتَشَاوُرٖ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَاۗ وَإِنۡ أَرَدتُّمۡ أَن
تَسۡتَرۡضِعُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُمۡ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ إِذَا سَلَّمۡتُم مَّآ ءَاتَيۡتُم بِٱلۡمَعۡرُوفِۗ
وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿٢٣٣﴾

[۲۳۳]- او كه څوك غواړي چي د تي وركولو موده دي پوره شي؛ نو ميندي دي خپلو

اولادونو ته تر پوره دوو کلونو تی ورکړي او د اولاد پر خاوند باندې په مناسب ډول سره د دوی روزي او جامه ده او هيڅوك نه شي مكلف کېدی مګر د خپل وس په اندازه؛ نه به مور د خپل اولاد په سر کړول کېږي او نه هم پلار په خپل اولاد سره او په وارث باندي هم دې ته ورته (حقوق او وجائب دي) او که دواړو په خپله خوښه او رضايت او په خپلو کې په مشوره له تې بېلول وغوښتل نو څه ګناه پرې نشته او که مو وغوښتل چي اولاد ته دايي ونيسئ؛ کومه ګناه درباندي نشته؛ په دې شرط چي منل شوې اجوره په ښه طريقه وروسپارئ او له الله ووېرېږئ او په دې پوه شئ چي الله ستاسو د کړنو ښه ليدونکی دئ.

(۲۳۳)- له طلاق وروسته هم ښځه او مېړه په دې مكلف شوي چي د خپل تې خور ماشوم په اړه به مشوره کوي؛ په دې موده کې به مور تی ورکوي او پلار به د دې د رزق روزي او جامو ذمه وار وي، خو نه به مور په خپل زوی ځورول کېږي او نه پلار، که پلار نه وي نو په ورثه وو دا ذمه واري راځي، د تي ورکولو پوره موده دوه کاله ده؛ خو که مور پلار وغواړي چي د کوم ضرورت يا مصلحت له مخي دا موده رالنډه کړي؛ نو په دوه شرطه دا کار کولی شي: دواړه به په دې کار راضي وي او په خپلو کې به ئې مشوره کړې وي. مشوره او د دواړو رضايت او موافقه ئې شرط کړی. ګورئ چي اسلام په کورني ژوند کې مېړه او مېرمن په دې مكلف کړي چي کار به ئې په مشوره او د طرفينو په رضايت وي. له دې آيت د اسلام له نظره د مشورې حقيقت هم څرګندېږي؛ له مشورې به هغه پرېکړه راوځي چي دواړه خواوي پرې راضي او متفق وي؛ مشوره دا نه ده چي يو طرف به له بل فقط نظر او رأيه غواړي او وروستۍ پرېکړه به دی په خپله کوي؛ مشوره د بل د رأيي معلومولو لپاره نه وي؛ داسي مشوره هيڅ ارزښت نه لري چي يو کس دې د نورو رأيه واوري خو پرېکړه دې په خپله او د نورو له موافقې او رضايت پرته وکړي؛ مشوره دې ته ويل کېږي چي د تفاهم او بحث په نتيجه کې د طرفينو د خوښې هغه پرېکړه ترې راووځي چي دواړه پرې راضي او متفق وي. ځيني خلك له مشورې داسي تعبير وړاندي کوي چي د ديکتاتورانو او مستبدينو خوښ وي، امير او زعيم ته دا حق ورکوي چي د نورو خبره واوري خو د وروستۍ پرېکړي حق د ده وي!! دا مبارك آيت دغه غلط تعبير له بنسټه ردوي. که پلار په دې مكلف وي چي خپل اولاد ته د تي ورکولو په اړه به له خپلي مېرمني سره مشوره کوي؛ په خپل سر به فيصله نه کوي، هره پرېکړه به د دواړو په مشوره او رضايت وي، نو امير څنګه دا حق لري چي د عام ولس د شتمنيو او په دوی پوري اړوند قضاياوو کې په خپل سر او د نورو له مشورې او رضايت پرته فيصله وکړي؟ په

ټولني کې د ده حيثيت او مقام په هيڅ توګه هومره نه دئ لکه د پلار او مېړه حيثيت او مقام په خپلې کورنۍ کې، اسلام خو مېړه ته د (قيم) نوم او لقب ورکړی او امير ته ئې د قيم پر ځای د (خليفه او امين) نوم غوره کړی؛ يعنی دی د عام ولس د امانتونو امين او ځای ناستی دئ، په هيڅ امانت کې په خپله خوښه د تصرف کولو حق نه دئ ورکړی شوی؛ د ده حيثيت هومره دئ لکه د جَمعي په لمانځه کې د امام حيثيت.

وَٱلَّذِينَ يُتَوَفَّوۡنَ مِنكُمۡ وَيَذَرُونَ أَزۡوَٰجٗا يَتَرَبَّصۡنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرۡبَعَةَ أَشۡهُرٖ وَعَشۡرٗاۖ فَإِذَا بَلَغۡنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيمَا فَعَلۡنَ فِيٓ أَنفُسِهِنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ﴿٢٣٤﴾

[۲۳٤]- او له تاسو چې څوك مري او مېرمنې (تر شا ) پرېږدي، دا مېرمنې دې تر لس باندې څلورو مياشتو د ځان په اړه انتظار وکړي، نو کله چې د خپلې دغې مودې پای ته ورسېدې، بيا نو په دې کې پر تاسو څه ګناه نشته چې د ځان په اړه ئې په ښه توګه هر څه وکړل او الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

(۲۳٤)- په مکرره توګه دا خبره کول چې کونډې کولی شي د شريعت او د ټولني د غوره دود دستور مطابق د ځان په اړه او د خپل مېړه د انتخاب په ارتباط پرېکړه وکړي او په دې کې نه پر تاسو کوم الزام راتلی شي او نه دا د ګناه کار دئ؛ له دې معلومېږي چې دا واك په کامله توګه کونډو ته سپارل شوی؛ د دې خپله کورنۍ دي هم د دې مخه نه نيسي او د مېړه کورنۍ ئې هم، هيڅوك بايد خپله خوښه پرې تحميل نه کړي، داسې تحميل د ګټې پر ځای تاوان لري، فساد او فتنو ته لار آواروي. د ښځې او مېړه کورنۍ بايد په دې خبرې د عار او پېغور احساس ونه کړي او هغې ته د ګناه په سترګه ونه ګوري.

وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيمَا عَرَّضۡتُم بِهِۦ مِنۡ خِطۡبَةِ ٱلنِّسَآءِ أَوۡ أَكۡنَنتُمۡ فِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمۡ سَتَذۡكُرُونَهُنَّ وَلَٰكِن لَّا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّآ أَن تَقُولُواْ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗاۚ وَلَا تَعۡزِمُواْ عُقۡدَةَ ٱلنِّكَاحِ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ ٱلۡكِتَٰبُ أَجَلَهُۥۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ فَٱحۡذَرُوهُۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ

حَلِيمٌ ﴿٢٣٥﴾

[۲۳۵]- او د دغو ښځو د غوښتلو (او نکاح کولو) په اړه چې تاسو کوم څه څرګندوئ يا ئې په خپل زړه کې پټ ساتئ؛ په دې کې پر تاسو هيڅ ګناه نشته، الله ته معلومه ده چې تاسو به ئې هرومرو ورته ياده کړئ؛ خو په پټه ورسره وعده مه کوئ؛ مګر دا چې کومه غوره او مناسبه خبره وکړئ او تر هغه د نکاح تړلو هوډ مه کوئ چې دا مقرره نېټه تر سره شي او په دې پوه شئ چې الله ستاسو د زړونو په حال ښه پوهېږي؛ نو له ده ووېرېږئ او پوه شئ چې الله حليم بخښونکی دئ.

(۲۳۵)- د هغو کونډو د نکاح اراده کولی شئ چې لا ئې عدت نه دئ پوره شوی، خپله اراده هم هغوی ته په همدې وخت کې په اشاره او مجملو الفاظو سره بيانولی شئ، خو په غوره او مناسبه طريقه؛ دوی ته په دې وخت کې د نکاح په اړه داسې خبرې کول منع دي چې ډېرې واضح او څرګندې وي. دا ځکه چې په دغه وخت کې له داسې خبرو په فتنه کې د لوېدو احتمال شته؛ مه ځان په فتنه کې اچوئ او مه هغوی، الله تعالی ستاسو کمزورۍ ته په پام سره او د دې لپاره چې هغه حليم او صبرناك بخښونکی دئ؛ دا اجازه ئې درکړې؛ خو داسې نه چې دا اجازه په ګناه کې ستاسو د لوېدو باعث شي؛ دې ته مو پام وي چې هغه ستاسو د زړه له اسرارو خبر دئ؛ په کار ده چې احتياط وکړئ.

لَّا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ إِن طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ مَا لَمۡ تَمَسُّوهُنَّ أَوۡ تَفۡرِضُواْ لَهُنَّ فَرِيضَةٗۚ وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى ٱلۡمُوسِعِ قَدَرُهُۥ وَعَلَى ٱلۡمُقۡتِرِ قَدَرُهُۥ مَتَٰعَۢا بِٱلۡمَعۡرُوفِۖ حَقًّا عَلَى ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٢٣٦﴾ وَإِن طَلَّقۡتُمُوهُنَّ مِن قَبۡلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ وَقَدۡ فَرَضۡتُمۡ لَهُنَّ فَرِيضَةٗ فَنِصۡفُ مَا فَرَضۡتُمۡ إِلَّآ أَن يَعۡفُونَ أَوۡ يَعۡفُوَاْ ٱلَّذِي بِيَدِهِۦ عُقۡدَةُ ٱلنِّكَاحِۚ وَأَن تَعۡفُوٓاْ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰۚ وَلَا تَنسَوُاْ ٱلۡفَضۡلَ بَيۡنَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٣٧﴾

[۲۳۶]- په دې کې هم پر تاسو څه الزام او ګناه نشته چې ښځې له نژدې والي يا دوی ته د کوم مهر له ټاکلو د مخه طلاق کړئ، خو څه مال متاع ورکړئ، په توانمن د خپل توان په اندازه او په نادار د خپل وس په اندازه؛ مناسبه متاع په غوره توګه؛ دا يو

حق دئ پر محسنينو. [۲۳۷]- او که مو له نژدې والي د مخه هغه وخت طلاق کړې چې کوم مهر مو ورته ټاکلی وي نو د دې مهر نیمایي دئ؛ مګر دا چې ښځې ترې تېرې شي او یا هغه کس تېر شي چې د نکاح غوټه ئې په لاس کې ده او که عفو وکړئ؛ دا تقوی ته نژدې ده او په خپلو کې فضل او احسان مه هېروئ؛ بې شکه چې الله ستاسو د کړنو ښه لیدونکی دئ.

(۲۳٦-۲۳۷)- که له نژدې والي او صحیحه خلوت د مخه په هغه وخت کې ښځې طلاقې کړئ چې لا مو مهر ورته ټاکلی نه دئ، نو په دې صورت کې نه کوم مکلفیت درپه غاړه دئ او نه دا د ګناه کار دئ؛ خو دغو ښځو ته د خپل وس او توان په اندازه څه ورکړئ؛ په دې سره به د دواړو کورنیو تر منځ د تاو تریخوالي مخه نیول شوې وي او له بلې خوا به د هغې ښځې تسلي شوې وي؛ خو که مهر مو ورته ټاکلی وو؛ نو بیا د دغه ټاکلي مهر نیمایي درباندې لازمه ده، مګر دا چې ښځه ترې تېره شي او یا دا چې نارینه پاته نیمایي هم ورکړي؛ همدغه یو بل ته عفو، له خپل حق بل ته تېرېدل او فضل او احسان کول درته غوره دئ.

حَٰفِظُواْ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلۡوُسۡطَىٰ وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ﴿٢٣٨﴾ فَإِنۡ خِفۡتُمۡ فَرِجَالًا أَوۡ رُكۡبَانٗاۖ فَإِذَآ أَمِنتُمۡ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمۡ تَكُونُواْ تَعۡلَمُونَ ﴿٢٣٩﴾

[۲۳۸]- د ټولو لمونځونو او د هغه غوره ئې ښه حفاظت کوئ او الله ته قانت ( غاړه ایښودونکې او منقاد) ودرېږئ. [۲۳۹]- خو که وېرېدلئ نو بیا یا پلي او یا سپاره؛ خو کله چې د امنیت احساس وکړئ نو الله همغسې یاد کړئ لکه چې تاسو ته ئې درښودلی، همغه څه چې نه پرې پوهېدئ.

(۲۳۸-۲۳۹)- له (الصلوة الوسطى) مراد هغه لمونځ دئ چې په ټولو شرائطو برابر وي او په قنوت، خشوع او خضوع او د زړه او حواسو په حضور تر سره شي، داسې لمونځ د خطر او سفر په وخت کې نه شي تر سره کېدی؛ د همدې لپاره الله تعالی وفرمایل چې د خطر په وخت کې کولی شئ چې په تلو تلو کې، که پلی وئ یا سپاره؛ لمونځ اداء کړئ، په اشاره، د اصل لمونځ نیمایي او د قبلې په لوري له مخ کولو پرته، له لنډ قرائت او مختصرو تسبیحاتو سره. خو د امن په وخت کې به همغسې لمونځ کوئ چې الله درښودلی. دلته

(وسطى) په هغه معنى راغلى چې د همدې سورې په ۱۴۳آيت کې راغلى: وَ كَذَٰلِكَ جَعَلْنَٰكُمْ أُمَّةً وَسطاً: لکه دلته چې له وسطى زماني او مکاني وسط مراد نه دئ؛ همدا راز له الصلوة الوسطى هغه لمونځ مراد نه دئ چې د وخت له پلوه د نورو لمونځونو په منځ کې وي؛ د آيت وروستۍ برخه په ډېر صراحت سره دا مطلب په ګوته کوي چې له الصلوة الوسطى غوره لمونځ مراد دئ؛ هغه چې د خطر او سفر په وخت کې ئې تر سره کول ګران وي. له دې د مازديګر لمونځ اخيستل داسي توجيه ده چې له ټول آيت او مخصوصاً له وروستۍ برخي سره ئې هيڅ اړخ نه لګوي.

خو دا چې ولې دلته او د هغه بحث په منځ کې د لمانځه ذکر راځي چې په کورنی ژوند پورې اړه لري؛ ځواب ئې دا دئ چې لمونځ د ټولو ښېګڼو سرچينه او د فردي او اجتماعي ژوند د اصلاح لپاره تر ټولو غوره وسيله ده؛ په دې لمانځه سره هم د انسان رابطه له الله سره ټينګېږي او هم له نورو انسانانو سره، له انفراديت وځي، په اجتماع کې ننوځي، هره ورځ له نورو سره يو ځای او په يوه صف کې د الله په وړاندې ودرېږي، د الله د بندګۍ او اطاعت او په خپلو کې د يووالي او برابرۍ مظاهره کوي، د انساني ټولني اکثره ستونزې له ځان غوښتني، انفراديت، ترنورو ځان لوړ ګڼلو او د نورو په نسبت د لويي له احساس راولاړېږي، لمونځ دا ټولي ناخوالې ختموي؛ د همدې لپاره ګورو چې د مختلفو مسائلو په اړه د بحث په منځ منځ کې د لمونځ ذکر راځي.

وَٱلَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَٰجًا وَصِيَّةً لِّأَزْوَٰجِهِم مَّتَٰعًا إِلَى ٱلْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ ۚ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِي مَا فَعَلْنَ فِىٓ أَنفُسِهِنَّ مِن مَّعْرُوفٍ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٤٠﴾ وَلِلْمُطَلَّقَٰتِ مَتَٰعٌۢ بِٱلْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٢٤١﴾ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٤٢﴾

[۲۴۰]- او له تاسو چې څوک مري او مېرمني تر شا پرېږدي؛ پر دوی د خپلو مېرمنو په اړه تر پوره يوه کال؛ د نه ايستلو د متاع وصيت لازم دئ؛ خو که (په خپله) ووتلې نو پر تاسو ئې د هغه معروف کار په ارتباط څه ګناه نشته چې دوی ئې د ځان په اړه تر سره کوي او الله باحکمت عزتمن دئ. [۲۴۱]- او طلاق شوو ښځو ته په ښه توګه څه مال متاع ورکول دي دا پر متقيانو لازمه ده. [۲۴۲]- همدا راز الله خپل آيتونه درته بيانوي چې تعقل (عاقلانه عمل) وکړئ.

(٢٤٠)- د دې آيت په اړه هم د صحابه وو تر منځ دوه رأيي ګورو او هم له دوی وروسته د مفسرينو تر منځ، ځيني ئې منسوخ ګڼي او وايي چې د ميراث له تعيين مخکې نازل شوی؛ د ميراث په احکامو کې د مېړه له مال د ښځې برخه وټاکل شوه او د عدت موده هم مشخص شوه؛ له هغه وروسته ښځه خپل اختيار او خپلې مخې ته پرېښودل شوې، د مړي ورثه د خرڅ او کور په اړه څه مکلفيت نه لري؛ او ځيني په دې نظر دي چې دلته د عدت په اړه بحث نه دئ شوی؛ بلکې مېړه ته دا حق ورکړی شوی چې که په هغه کور کې د خپلې مېرمنې د پاته کېدو ضرورت احساس کړي چې په ميراث کې دې ته نه رسي، کولی شي تر يوه کال له هغه کور د مېرمنې د نه ايستلو وصيت وکړي. د آيت له الفاظو د دغې رأيي تأييد مومو.

(٢٤١-٢٤٢)- اسلام کورنۍ ته د ټولنې د لويې ماڼۍ د يوې اساسي خښتې په سترګه ګوري؛ په کورنۍ کې ناخوالې د ټولنې د ټولو ناخوالو بنسټ ګڼي؛ پيغمبر عليه السلام فرمايي چې شيطان تر بل هر کار په دې ډېر خوشحاله کېږي چې د مېړه او ښځې تر منځ داسې اختلاف راولاړ شي چې د کورنۍ په متلاشي کېدو منتج شي، شيطان چې د فتنو راولاړولو لپاره خپلې لښکرې هرې خوا ته لېږي، ځيني ئې خلك قتلونو ته هڅوي، ځيني ئې غلا، شراب، زنا او نورو ګناهونو ته، خو ابليس تر بل هر چا د هغه شيطان په شرارت خوښ شي او هغه په شا وټپوي چې يوه کورنۍ ئې تباه کړې او ښځه مېړه ئې سره بېل کړي.

عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ إِبْلِيسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ، ثُمَّ يَبْعَثُ سَرَايَاهُ، فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً، يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ: فَعَلْتُ كَذَا وَكَذَا، فَيَقُولُ: مَا صَنَعْتَ شَيْئًا، قَالَ ثُمَّ يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ: مَا تَرَكْتُهُ حَتَّى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ، قَالَ: فَيُدْنِيهِ مِنْهُ وَيَقُولُ: نِعْمَ أَنْتَ " احمد ومسلم

له جابر رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: "ابليس خپل کټ پر اوبو کښېږدي؛ بيا خپل ټولې ولېږي؛ نو د مقام له پلوه ده ته تر ټولو ډېر نژدې هغه وي چې د فتنې له پلوه تر ټولو ستر وي؛ يو ئې راشي او ووايي: دا او دا مې وکړل؛ نو (ورته) ووايي: هيڅ څه دې نه دي کړي؛ بيا ئې يو راشي او ووايي: تر هغه مې پرېنښود چې د ده او د مېرمنې تر منځ مې بېلتون رامنځته کړ؛ وايي: نو ځان ته ئې ورنږدې کړي او ورته وايي: ته ډېر ښه يې"

د همدې لپاره دا دئ ګورئ چې د کورنې ژوند د مختلفو قضياوو په اړه څومره په دقت او تفصيل سره بحث کوي او څنګه د ټولو مسائلو په ارتباط واضح او ژورې لارښوونې کوي.

دلته د کورني ژوند په اړه بحث پای ته رسي او بل باب پیل کېږي، په دې مبحث کې د جهاد مربوط مسائل څېړل کېږي.

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ ٱلْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ ٱللَّهُ مُوتُواْ ثُمَّ أَحْيَٰهُمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٢٤٣﴾

[٢٤٣]- آیا هغو ته دې پام نه دئ کړی چې د مرگ له وېرې په داسې حال کې له خپلو کورونو ووتل چې په زرگونو ول؛ نو الله ورته وفرمایل: ومرئ؛ خو بیا ئې راژوندي کړل؛ یقیناً چې الله پر خلکو د فضل او پېرزوینې خاوند دئ؛ خو اکثر خلك شکر نه کوي.

(٢٤٣)- دلته په هغه قوم نیوکه شوې چې که څه هم شمېر ئې زیات وو، زرگونو ته رسېدو، خو د مرگ له وېرې ئې خپل کور کلی دښمن ته پرېښود او وتښتېدل؛ دې تېښتې دوی له مرگ ونه ژغورل؛ په خلاف ئې الله تعالی دا جبون قوم په مرگ محکوم کړ؛ له مرگ د وېرېدونکې ولس پای مرگ دئ؛ الله تعالی د هغه قوم د مرگ پرېکړه کوي چې له مرگ د وېرې له کبله خپل ملك دښمن ته پرېږدي او تښتي؛ په داسې حال کې چې شمېر ئې ښه ډېر دئ او که د دوی یوه برخه هم د دښمن مقابله وکړي؛ نو دښمن ته ماته ورکولی شي. پام کوئ چې تاسو د دغه جبون قوم په څېر د دښمن له مقابلې ونه تښتئ او د الله له لوري په مرگ محکوم نه شئ. داسې تېښته ښایي له معدودو کسانو او له یوه واړه ټولگي د توجیه وړ وي؛ خو له یوه ولس او له داسې ډلې چې شمېر ئې زرگونو ته رسېږي په هیڅ صورت د منلو نه ده. الله جل شأنه په خپلو بندگانو د فضل خاوند دئ؛ د همدې فضل له کبله په داسې حالت کې دوی ته بیا مهلت ورکوي چې د دائمي مرگ مستحق وي.

وَقَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٤﴾ مَّن ذَا ٱلَّذِي يُقْرِضُ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥٓ أَضْعَافًا كَثِيرَةًۚ وَٱللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٤٥﴾

[٢٤٤]- او د الله په لار کې وجنگېږئ او (په دې) پوه شئ چې بې شکه الله ښه پوه

اورېدونکی دئ. [۲۴۵]- هغه څوك دئ چې الله ته حسنه او ښايسته پور ورکړي، (داسې پور) چې الله ئې ورته په څلونو څلونو زيات کړي او دا خو الله دئ چې تنګول او پراخول کوي او د ده په لوري بېرته ګرځول کېږئ.

(۲۴٤)- د جنګ په اړه چې تاسو څه وايئ او څه کوئ الله ئې اوري او پرې پوهېږي.

(۲۴۵)- دلته او په ګڼ شمېر نورو آيتونو کې د الله په لار کې ځاني او مالي قرباني داسې ګڼل شوې لکه چې څوك الله ته پور ورکړي؛ الله به د دې پور څو برابره بدله ورکوي؛ د الله په لار کې وقف کړی مال به الله څو څو ځله ورته زيات کړي؛ دا ځکه چې کمول او زياتول خو د الله تعالی په واك کې دي.

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلْمَلَإِ مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰٓ إِذْ قَالُوا۟ لِنَبِىٍّ لَّهُمُ ٱبْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِن كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ أَلَّا تُقَٰتِلُوا۟ ۖ قَالُوا۟ وَمَا لَنَآ أَلَّا نُقَٰتِلَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِن دِيَٰرِنَا وَأَبْنَآئِنَا ۖ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ تَوَلَّوْا۟ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٤٦﴾ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ ٱللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا ۚ قَالُوٓا۟ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ ٱلْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِٱلْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ ٱلْمَالِ ۚ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُۥ بَسْطَةً فِى ٱلْعِلْمِ وَٱلْجِسْمِ ۖ وَٱللَّهُ يُؤْتِى مُلْكَهُۥ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٧﴾

[۲۴٦]- آيا د بني اسرائيلو هغه ډله دې ونه ليده چې له موسی وروسته وه؛ هغه مهال چې خپل پيغمبر ته ئې وويل: موږ ته يو پاچا وټاکه چې د الله په لار کې وجنګېږو؛ ورته وئې ويل: آيا داسې خو به نه وي چې جنګېدل درباندې فرض شي بيا ونه جنګېږئ؟ وئې ويل: نو پر موږ به څه شوي وي چې د الله په لار کې به نه جنګېږو؛ په داسې حال کې چې له خپل کور کلي او ټبر ايستل شوي يو؟ خو کله چې جنګېدل پرې فرض کړی شو نو ټول په شا شول غير له لږ شمېر ئې او الله خو د دغو ظالمانو پر حال ښه پوه دئ. [۲۴۷]- او پيغمبر ئې ورته وويل: الله خو طالوت درته پاچا ټاکلی؛ وئې ويل: څنګه به پر موږ باندې ده ته پاچايي وي؛ حال دا چې موږ په

پاچايي کې تر ده ډېر وړ او مستحق يو او ده ته د مال پراخوالی هم نه دئ ورکړی شوی؟ وئې ويل: بې شکه چې هغه الله پر تاسو غوره کړی او په علم او جسم کې ئې پراخوالی او زياتوالی ورکړی او الله چې چا ته وغواړي پاچايي ورکوي او الله ښه پوه واسع دئ.

(۲۴۶-۲۴۷)- له موسی عليه السلام وروسته او هغه وخت چې بني اسرائيل په شرك او فساد اخته او له سمي لاري منحرف شول، نو د جالوت په نامه يو ظالم او بې رحمه پاچا پرې مسلط شو، ډېر ئې ووژل، د دوی کورونه ئې لوټ او تاراج کړل او دوی ئې له خپل کور کلي وشړل؛ په دې وخت کې اشموئيل عليه السلام د دوی لارښوونه کوله؛ هغه ته راغلل، له خپلو مخکينيو کړنو او د الله په لار کې د جهاد له نه کولو ئې ندامت وښودو او له هغه ئې د الله په لار کې د جهاد اجازه وغوښته؛ هغه د دوی مخکيني حالت ته په پام سره ورته وويل: مبادا جهاد درباندي فرض شي او بيا تاسو ترې ډډه وکړئ. دوی ورته وويل: په داسي حال کې چې پر موږ ظلمونه شوي، له خپل کلي کور شړل شوي يو؛ هيڅ داسي دليل نه گورو چې د الله په لار کې ونه جنگېږو؛ خو چې ورته وويل شو اوس نو وسله واخلئ او له دښمن سره وجنگېږئ؛ يوازي معدودو کسانو تياری وښود، نور ټول له خپلي ژمني او د الله په لار کې له جنگېدو په ډډه شول. د الله پيغمبر ورته وويل: تاسو د يوه پاچا د ټاکلو غوښتنه کړې وه؛ دا دئ الله تعالی طالوت درته غوره کړی. د الله له دين اوښتي قوم ورته وويل: دی خو پر موږ د مشرۍ وړ نه دئ، نه د نسب له مخي او نه د مال او شتمنۍ له مخي، د ټول ولس قيادت او زعامت خو بايد داسي چا ته وسپارل شي چې قيادت او زعامت له پلار نيکه ورته په ميراث پاته شوی وي، د کومي درنې او معتبري کورنۍ غړی وي، ښه ډېر مال او دولت ولري!! پيغمبر د دوی په ځواب کې وايي: دی خو الله غوره کړی، د زعامت او قيادت وړتيا هغه ورکړې، ښه پوه دئ او د ښه صحت او قوي بدن خاوند دئ، د مشرتابه غوره مواصفات خو همدا دي. خو دوی دې ته تيار نه وو چې د طالوت قيادت ومني، د دوی معيارونه بدل شوي وو، د زعامت د مواصفاتو په اړه ئې همغسي انگېرله چې بې دينه او لار ورکي قومونه ئې انگېري، د پيغمبر دا وينا ئې نه منله چې الله تعالی د دوی په څېر نه دئ چې نسب او مال د قيادت لپاره ضروري وگڼي او د طالوت په څېر يو نادار او بې نوم نښانه څوك د دوی د مشرۍ لپاره مناسب ونه گڼي؛

مسلمانان په دې گمارل شوي چې د ټولني افضل او اعلم (تر ټولو غوره او پوه) به د مشر او زعيم په توگه غوره کوي، قرآن موږ ته د آدم عليه السلام د خلافت په قصې کې همدا لارښوونه کوي او فرمايي چې الله تعالی د ملائکو پر ځای آدم عليه السلام له دې

امله د زمکې د خلافت لپاره غوره کړ چې تر فرشتو ئې علم جامع او پراخ وو؛ د طالوت په قصې کې هم موږ ته همدا لارښوونه کوي؛ دا لارښووني که له یوې خوا موږ ته وایي چې د (خلافت) لپاره باید (اعلم: ښه پوه) غوره کړو؛ له بلې خوا د هغه علم څرنګوالی هم موږ ته ښیي چې د خلافت لپاره ضروري دئ؛ د پیغمبر په شتون کې؛ د طالوت امارت او د اشیاءو د نومونو د پېژندلو په وجه آدم علیه السلام ته پر فرشتو ترجیح؛ ښیي چې د دې منصب لپاره یوازې کتابي علم کافي نه دئ؛ بلکې جامع پوهې او بصیرت ته ضرورت دئ؛ د اسلامي ټولني د مشرۍ لپاره هم دیني علم او هم د دنیایي چارو په اړه علم او پوهه ضروري ده؛ د آدم علیه السلام په انتخاب کې د اشیاءو پېژندنه او د طالوت په غوراوي کې د هغه جنګي مهارت او پوهه؛ دواړو ته د خپل سیال په پرتله امتیاز او فضیلت ورپه برخه کړی وو.

اسلام موږ ته لارښوونه او امر کړی چې د خپلې ټولني افضل به د امیر په توګه غوره کوو؛ هغه مواصفات او ځانګړتیاوې ئې هم په تفصیلي توګه زموږ مخې ته ایښې چې یو امیر او زعیم باید پرې متصف وي او له مخې ئې مسلمانان وکولی شي افضل او غوره شخصیت تشخیص کړي. موږ ته ئې په ډېر تفصیل سره ښودلې چې یو امیر باید کوم مواصفات ولري؟ د پنځه ویشتو پیغمبرانو یادونه په قرآن کې راغلې؛ دا هریو د دې لپاره یاد شوی چې د هغه په ژوند کې د قیادت او زعامت؛ یوه برخه مواصفات او خصلتونه بیان شوي؛ هر یو ئې زموږ لپاره اسوه او قدوه وي؛ او د همدې په رڼا کې تشخیص کړو چې د اسلامي صف امارت؛ باید کوم مواصفات او ځانګړتیاوې ولري؟ په قرآن کې د پیغمبرانو یادونه د دې لپاره نه ده شوې چې موږ ته د هغوی قصې بیان کړي؛ بلکه موږ ته ئې عملي، تاریخي او عیني بېلګې او د اسلامي صف د زعامت ځانګړتیاوې انځور کړې؛ د همدې په رڼاکې موږ تشخیصولی شو چې کوم شخص د اسلامي امارت لپاره وړ او مستحق دئ؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: چا چې د افضل په شتون کې تر هغه ټیټ او مفضول غوره کړ او هغه ته ئې پر افضل ترجیح ورکړه؛ هغه له خدای، پیغمبر او له ټولو مسلمانانو سره خیانت کړی.

عن ابنِ عباسٍ رضى الله عنهما عن رسولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قال: "مَنِ استَعمَلَ عامِلًا مِنَ المُسلِمِينَ وهو يَعلَمُ أن فيهم أولَى بذَلِكَ مِنه وأعلَمَ بكِتابِ اللهِ وسُنَّةِ نَبيِّه فقَد خانَ اللَّهَ ورسولَه وجَميعَ المُسلِمينَ" السنن الكبرى للبيهقى

له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: چا

چي له مسلمانانو کوم عامل او آمر توظيف کړ؛ په داسي حال کي چي پوهېږي په دوی کي بل داسي کس شته چي د دې کار لپاره تر ده غوره او د الله په کتاب او د پيغمبر په سنت؛ زيات پوه وي؛ يقيناً چي له الله، د ده له رسول او له ټولو مسلمانانو سره ئې خيانت کړی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَنِ اسْتَعْمَلَ عَامِلًا عَلَى قَوْمٍ وَفِي تِلْكَ الْعِصَابَةِ مَنْ هُو أَرْضَى لِلَّهِ مِنْهُ فَقَدْ خَانَ اللَّهَ وَخَانَ رَسُولَه وَخَانَ جَمِيعَ الْمُسْلِمِينَ».

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: چا چي کوم عامل او آمر پر يوه قوم مأمور او توظيف کړ؛ په داسي حال کي چي په دې ولس کي تر ده بل ښوك؛ الله تعالی ته زيات محبوب او مقبول شخص وي؛ يقيناً چي له الله سره ئې خيانت کړی، د ده له رسول سره ئې خيانت کړی او له ټولو مسلمانانو سره ئې خيانت کړی.

قال عمرُ بنِ الخَطّاب رضى الله عنه: مَن استعمل رجلاً لِمودَّةٍ أو لِقَرابةٍ لا يستعملُهُ إلا لذلك فقد خان اللهَ ورسولَه والمؤمنين. مسند الفاروق لابن كثير

عمر رضي الله عنه فرمايلي: چا چي کوم سړی د دوستي له کبله، يا د خپلوي له کبله توظيف کړ؛ نه ئې گماري مگر له همدې کبله؛ يقيناً چي له الله، د ده له رسول او له ټولو مسلمانانو سره ئې خيانت کړی.

---

وَقَالَ لَهُمۡ نَبِيُّهُمۡ إِنَّ ءَايَةَ مُلۡكِهِۦٓ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلتَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَبَقِيَّةٞ مِّمَّا تَرَكَ ءَالُ مُوسَىٰ وَءَالُ هَٰرُونَ تَحۡمِلُهُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٢٤٨﴾

[۲٤۸]- او پيغمبر ئې ورته وويل: د ده د پاچايۍ نښه دا ده چي تاسو ته به هغه صندوق راشي چي په هغه کي ستاسو د رب له لوري يوه ډاډېينه او د موسی او هارون د اولادې پاته شوني دي، هغه چي ملائکي به ئې حمل کوي؛ په دې کي تاسو ته ځرگنده نښه ده که مؤمنان ياست.

---

(۲٤۸) بني اسرائيلو ته له پلار نيکه داسي يو صندوق په ميراث پاته شوی وو چي په هغه کي څه لرغوني او د قدر وړ شيان لکه د تورات لوحې او د موسی او هارون عليهما السلام د

لاس څه نښې وې؛ دوی داسې انګېرله چې تر کله دا صندوق زموږ په واك کې وي نو تل به بريالي وو او دښمن به پر موږ غلبه نه شي موندلی. ناڅاپې د دوی په سيمو د بريد په ترڅ کې دا صندوق د دښمن په لاس کې پرېووت، په دې سره د دوی پاته مېړانه او همت هم ختم شو، د دښمن له مقابلې ئې لاس واخيست او وتښتېدل. پيغمبر ئې ورته وويل: دا صندوق به الله تعالی بېرته تاسو ته مسترد کړي، ملائکې به ئې تاسو ته راوړي او دا به د دې نښه ګڼئ چې طالوت د الله له لوري تاسو ته غوره شوی. همداسې وشول. د دې قصې په ترڅ کې الله تعالی مؤمنانو ته دا لارښوونه کوي چې مبادا د جهاد له فرض کېدو وروسته تر شا شئ، مبادا د قيادت لپاره هغه معيارونه وکاروئ چې جاهلو قومونو کارولې، مبادا له علمي استعداد او جسمي پياوړتيا پرته د نورو مواصفاتو له مخې څانته قيادت غوره کړئ، مبادا له هغه چا سره د مخالفت لار غوره کړئ چې الله تعالی د قيادت غوره صفات ورکړي وي. تاسو د آدم عليه السلام د خليفه کېدو په بحث کې هم وليدل چې الله تعالی د ده علمي استعداد او د هر څه پېژندل او مناسب نوم ورته غوره کول؛ د خلافت د وړتيا دليل وښودو، تاسو په هغې قصې کې هم وليدل چې شيطان د آدم عليه السلام له خلافت سره مخالفت وکړ، څان ئې له نسبي پلوه تر ده غوره وګڼلو؛ دا قصه د هغه مطلب بله بېلګه ده او د هغې مزيد شرح او تفصيل وړاندې کوي.

---

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِٱلۡجُنُودِ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ مُبۡتَلِيكُم بِنَهَرٖ فَمَن شَرِبَ مِنۡهُ
فَلَيۡسَ مِنِّي وَمَن لَّمۡ يَطۡعَمۡهُ فَإِنَّهُۥ مِنِّيٓ إِلَّا مَنِ ٱغۡتَرَفَ غُرۡفَةَۢ بِيَدِهِۦۚ فَشَرِبُواْ
مِنۡهُ إِلَّا قَلِيلٗا مِّنۡهُمۡۚ فَلَمَّا جَاوَزَهُۥ هُوَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ قَالُواْ لَا طَاقَةَ لَنَا
ٱلۡيَوۡمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦۚ قَالَ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُواْ ٱللَّهِ كَم مِّن فِئَةٖ
قَلِيلَةٍ غَلَبَتۡ فِئَةٗ كَثِيرَةَۢ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٢٤٩﴾ وَلَمَّا بَرَزُواْ
لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالُواْ رَبَّنَآ أَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرٗا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا عَلَى
ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٢٥٠﴾ فَهَزَمُوهُم بِإِذۡنِ ٱللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُۥدُ جَالُوتَ وَءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ
ٱلۡمُلۡكَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَعَلَّمَهُۥ مِمَّا يَشَآءُۗ وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ
لَّفَسَدَتِ ٱلۡأَرۡضُ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ ذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢٥١﴾ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ

نَتۡلُوهَا عَلَيۡكَ بِٱلۡحَقِّۚ وَإِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٢٥٢﴾

[۲۴۹]- نو کله چې طالوت لښکري راوایستې؛ وئې ویل: الله په یوې ویالې سره ستاسو آزمویونکی دئ؛ نو چا چې ترې اوبه وڅښلې زما له ډلې نه دئ او چا چې (ئې خوند) ونه څکو؛ نو هغه زما دئ؛ مگر دا چې د خپل یوه لاس یوه لپه (اوبه) غوړپ کړي. خو د دوی له لږو کسانو پرته نورو هغه وڅښلې؛ نو کله چې دی او د ده مؤمن ملگري ترې واوښتل؛ وئې ویل: نن خو موږ د جالوت او د ده د لښکرو (د مقابلې) توان نه لرو؛ خو هغو چې په دې ئې باور وو له الله سره مخامخ کېدونکي دي؛ وویل: څومره لږکي ټولگي د الله په اذن سره په ډېرکیو ټولگیو غالب شوي؛ الله خو له صابرانو سره دئ. [۲۵۰]- او کله چې جالوت او لښکرو ته ئې راڅرگند شول؛ وئې ویل: اې زموږ ربه! پر موږ صبر نازل کړه او گامونه مو ټینگ کړه او پر دې کافر قوم بری را، [۲۵۱]- نو د الله په حکم سره ئې دوی ته ماته ورکړه او داؤد جالوت وواژو او الله ورته پاچایي او حکمت ورپه برخه کړ او چې څه ئې غوښتل هغه ئې وروښودل او که د الله دا د خلکو ځیني په ځینو نورو دفع کول نه وی؛ نو زمکه به تباه شوې وه؛ خو الله په نړۍ والو د فضل خاوند دئ. [۲۵۲]- دا د الله آیتونه دي چې پر تا ئې لولو او یقیناً چې ته له پیغمبرانو یې.

(۲۴۹-۲۵۱)- جهاد د صابرانو کار دئ، بې صبره، بې همته، بې عزمه، بې ارادې او هغه ضعیف النفسه کسان چې د کړاوونو د گاللو همت او حوصله نه لري؛ جهاد نه شي کولی، د جهاد مشران باید خپل مجاهدین وآزمویي او وگوري چې په دوی کې څوك د ستونزو او کړاوونو گاللو ته تیار دئ، پیاوړې متې، غښتلی زړه، لوړ همت، کلك عزم لري او د صبر او زغم خاوند دئ؛ یوازې په دغو کسانو حساب وکړئ او د همدوی په ملگرتیا بسنه وکړئ، بې همته او بې صبره کسان د نیمي لارې ملگري وي او په سختو شېبو کې له خپل صف بېلبړې او خپل سنگر دښمن ته پرېږدي؛ د داسې کسانو ملگرتیا د گټې پر ځای تاوان کوي؛ د همدې لپاره طالوت خپلو ملگرو ته وویل: له ما سره هغه څوك ملگرتیا کولی شي چې د دې راتلونکې نهر اوبه ونه څښي، په تنده کې صبر وکړي، هغه هم راسره تلی شي چې په یوه غوړپ اکتفاء وکړي، خو هغه چې ډك نس اوبه څښي؛ زما د ملگرتیا وړ نه دئ. (د طالوت دا آزموینه داسې ده لکه موږ چې په روژې مکلف شوي یو، دا په اصل کې د روژې لپاره یو مثال او بېلگه ده، په روژې سره په انسان کې د صبر او ځان ساتنې خصلت وده کوي). د ده له لوی لښکر یو وړوکی ټولگی په دې آزموینې کې بریالي وختل او همدغو ته

الله پر هغه مغرور او ظالم دښمن برى وركړ. برى د صابرانو په برخه کېږي، هغه چي پر الله ئې باور وي، د هغه نصرت ته سترګي په لار وي، له الله په سنګر کي او د دښمن په وړاندي د صبر او استقامت غوښتنه کوي؛ نه د هغه چا په برخه چي د جنګياليو شمېر ئې زيات وي. دا په وار وار ليدل شوې چي الله تعالى يوه وړوکي ټولګي ته پر لوى لښکر فتح او برى ورکړى؛ دا ځکه چي الله د صابرانو مل دئ.

په دې نښتي کي د دښمن د فوځ سالار د داؤد عليه السلام په لاس ووژل شو او د همدغه زړه وري اتلولۍ په وجه الله تعالى داؤد عليه السلام ته د دغه ملك پاچايي او اقتدار وسپارو، علم او حکمت ئې ورکړ او د پيغمبرۍ مقام ته ئې ورساوو، د الله تعالى سنت دا دئ او په دې راضي کېږي چي د مؤمنانو قيادت د دغسي مجاهدو مشرانو په لاس کي وي.

له دې آيت څو خبري په ډېر وضاحت سره معلومېږي: له تباهۍ د زمکي د مصون ساتلو يوازينۍ لار دا ده چي د مؤمنانو د صالح ډلي په لاس د کافرانو د فاسدي ډلي مخنيوى وشي، الله تعالى د دوى په ذريعه د هغوى شر دفع کوي او په دې سره زمکه له تباهۍ ژغوري. د دغه الهي سنت مطابق به تل د مؤمنانو يوه مجاهده ډله راپيدا کېږي، د مفسدو ځواکونو مقابله به کوي او الله تعالى به هغوى ته د شر او فساد پر ځواکونو غلبه ورکوي. رسول الله صلى الله عليه و سلم همداسي فرمايلي:

عن جابِرِ بن عبدِ الله: سَمِعتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يقولُ: "لا تَزالُ طائفَةٌ من أُمتِي يُقاتِلونَ على الحَق ظاهِرينَ إِلَى يَومِ القيامَةِ". رَواه مسلم

له جابر بن عبد الله رضي الله عنه روايت دئ: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چي ويل ئې: تل به زما د امت يوه ډله داسي وي چي په حق سره به جنګېږي؛ برلاسي به وي؛ د قيامت تر ورځي.

عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِينَ عَلَى الْحَقِّ، لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ، حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللهِ وَهُمْ كَذَلِكَ» رواه البخارى و مسلم

له ثوبان رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: تل به زما د امت يوه ډله داسي وي چي په حق سره به برلاسي وي، هغه څوك به ئې نه شي زيانمن کولى چي دوى يوازي پرېږدي، تر هغه چي الله تعالى خپله پرېکړه وکړي او دوى په همدې حالت کي وي.

(٢٥٢)- په مخکينيو آيتونو کي چي د پيغمبرانو او د دوى د جهادونو په اړه څه ويل شوي

دا خو الهي ارشادات دي، ټول ئې حقائق دي، پيغمبران او د دوی مأموريت همداسي وي، ته هم (اې پيغمبره!) يو له دغو پيغمبرانو يې او ستا مأموريت هم دوی ته ورته دئ.

تِلْكَ ٱلرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ ٱللَّهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَٰتٍ وَءَاتَيْنَا عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَأَيَّدْنَٰهُ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقْتَتَلَ ٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ وَلَٰكِنِ ٱخْتَلَفُوا۟ فَمِنْهُم مَّنْ ءَامَنَ وَمِنْهُم مَّن كَفَرَ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقْتَتَلُوا۟ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿٢٥٣﴾

[٢٥٣]- دا همغه پيغمبران دي چي ځينو ته مو پر ځينو نورو فضيلت ورکړی، ځيني ئې هغه دي چي الله ورسره تکلم کړی او د ځينو ئې درجې لوړې کړې او عيسی د مريمې زوی ته مو څرګندي نښې ورکړې او په پاکې روح سره مو د ده مرسته وکړه او که الله غوښتلی نو له دوی وروسته به په داسي حال کې نه وو سره جنګېدلي چي څرګندي نښې ورته راغلې، خو په خپلو کې ئې اختلاف وکړ، چي ځينو ئې ايمان راوړ او ځيني ئې کافر شول او که الله غوښتي وی نو په خپلو کې به نه سره جنګېدل؛ خو الله هغه څه کوي چي اراده ئې وکړي.

(٢٥٣)- ډېر پيغمبران تېر شوي، له راز راز معجزو سره، له راز راز ځانګړتياوو سره، خو سره له دې په هيڅ پيغمبر ټولو خلکو ايمان نه دئ راوړی، خلك په ډلو ډلو وېشل شوي، ځينو ايمان راوړی، ځينو انکار کړی او ځينو د پيغمبرانو په ضد جنګ ته ملا تړلې؛ دا د الله سنت دئ، تل به همداسي کېږي؛ نو ته اې پيغمبره! او تاسو اې د پيغمبر امتيانو! دا انتظار مه کوئ چي له مخالفتونو سره بايد مخامخ نه شئ؛ هم اختلاف يو طبيعي بهير دئ او هم د مؤمنانو او کافرانو تر منځ شخړي او جګړي. که د موسی او عيسی عليهما السلام په څېر پيغمبرانو سره هم مخالفت شوی او د دوی هغو حيرانوونکو بې شمېرو معجزو د دې مخالفت مخه ونه نيوله، نو تاسو به هم ورسره مخامخ کېږئ، له مخالفتونو سره مخامخ کېدو ته تيار اوسئ، د باطل مقابلې ته چمتو شئ، تصادم حتمي دئ او د الله د سننو مطابق.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَـٰكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ
وَلَا خُلَّةٞ وَلَا شَفَـٰعَةٞۗ وَٱلۡكَـٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ﴿٢٥٤﴾ ٱللَّهُ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ
ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا
ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا
يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا
يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾

[٢٥٤]- اې مؤمنانو! زموږ له لوري درکړل شوې روزۍ د هغې ورځې له رارسېدو مخکې انفاق کړئ چې نه پېرل او پلورل په کې شته او نه دوستي او نه شفاعت؛ او دا کافران ظالمان دي. [٢٥٥]- الله هغه دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، همغه ژوندی قیوم ذات، نه ئې پرکالي نيسي او نه خوب، هر هغه څه د ده دي چې په آسمانونو کې دي او چې په زمکې کې دي؛ دا به څوك وي چې د ده له اجازې پرته د ده په وړاندې سپارښتنه او شفاعت وکړی شي، په داسې حال کې چې دی په هر هغه څه پوهېږي چې د دوی مخې ته دي یا ئې شاته دي او دوی د ده له علم یوازې په دومره څه احاطه کولی شي چې دی ئې وغواړي، (د قدرت او واکمنۍ) کرسۍ ئې پر آسمانونو او زمکې حاوي ده او د دوی دواړو (زمکې او آسمان) ساتنه ئې نه ستومانه کوي او هغه ستر لوړ دئ.

(٢٥٤)- دلته د رکوع په پیل کې د الله په لار کې انفاق ته بلنه ورکړی شوې او مؤمنانو ته ویل شوي چې د هغې ورځې له رارسېدو مخکې د الله په لار کې خپل شته انفاق کړئ چې نه په کې پېرل پلورل شته، نه څوك داسې خپلوي پاللی شي چې مجرم خپلوان د الله له مؤاخذې وژغوري او نه د یوه سپارښتنه او شفاعت بل ته ګټه رسولی شي، معامله به مو یوازې له الله تعالی سره وي.
(٢٥٥)- دا مبارك آیت آیة الکرسي نومېږي او د عظمت په اړه ئې ګڼ شمېر احادیث راغلي:
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَيِّدَةُ آيِ الْقُرْآنِ آيَةُ الْكُرْسِيِّ» رواه احمد والترمذی

- له ابو هريرة رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

آية الكرسي د قرآن د ټولو آيتونو سيد او سالار دئ.

عن الحسن بن علی قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ فِي دُبُرِ الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ كَانَ فِي ذِمَّةِ اللهِ إِلَى الصَّلَاةِ الْأُخْرَى» رواه الطبرانی

له حسن بن علي رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: چا چي له فرض لمانځه وروسته آية الكرسي تلاوت کړه تر بل لمانځه پوري به د الله تعالی په ذمه او امان کې وي.

په دغه عظيم الشأن آيت کې الله تعالی په ډېر جامع او دقيقه توګه معرفي شوی؛ په داسي توګه چي د توحيد ټول بنيادي اساسات ئې هم ښودلي او د الله په اړه ئې ټول مشرکانه تصورات هم. د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- له الله پرته بل معبود نشته، له ده پرته هيڅوك او هيڅ څه د دې وړ نه دي چي څوك ئې عبادت وکړي او يا دعاء ورته وکړي.
- هغه ژوندی او تلپاته دئ.
- د ټول عالم ساتنه او پالنه کوي، دی د عالم هر څه قائم ساتي او هر څه ته دی قوام ورکوي، د عالم له اداري، پالني او ساتني يوه شېبه هم نه غافل کېږي، پرکالي او خوب پرې نه راځي چي د هغه له کبله له پالني او ساتني غافل شي.
- د آسمانونو او زمکي هر څه د ده دي، ده پيدا کړي او ده ته تابع او منقاد دي، هيڅوك ئې شريك نه دئ، داسي نه ده چي د آسمانونو يا زمکي کوم څه د بل چا وي او يا بل څوك له الله سره په کوم څه کې شريك وي او په ورکولو او يا اخيستلو کې ئې د بل چا خوښه او رضايت هم ضروري وي.
- هيڅوك نه شي کولی د ده له اذن او اجازې پرته ده ته کومه سپارښتنه وکړي، داسي نه ده چي د چا دعاء د بل په سپارښتنه مني او داسي هم نه ده چي په آخرت کې به څوك د بل په سپارښتنه د ده له نيوني او مؤاخذې ژغورل کېږي، دا پرېکړه دی په خپله کوي چي د چا دعاءګاني قبولي کړي، د چا په اړه شفاعت ومني او چا ته د شفاعت کولو اجازه ورکړي.
- د دنيوي حکامو او واکمنانو په څېر نه دئ چي مقرب درباريان ئې د چا له وړتيا خبر کړي او ورته ووايي: صاحبه! دا تا ته مخلص دئ، د ترحم وړ دئ، نېك انسان دئ، په دې ارزي چي سؤال ئې ومنې، غوښتنه ئې قبوله کړې او له ګناه ئې ورته تېر شې؛ هيله ده په راتلونکي کې مفيد ثابت شي!! الله تعالی د دوی په څېر نه دئ، په هر څه پوهېږي، د خلکو له پټ او څرګند، عمل او نيت، ماضي او مستقبل خبر دئ، څنګه به څوك د ده په وړاندي د چا ستاينه، سپارښتنه او شفاعت کوي؟!

- هر چا ته علم او پوهه دی ورکوي، سترګي، زړه، غوږونه، دماغ او اعصاب ئې د ده په اراده ورته کار کوي، لار ورته ښيي او د ښه او بد، مفيد او مضر په پېژندلو کې ئې مرسته کوي، په هر څه چې انسان علماً احاطه کوي او په کوم څه د پوهېدو توفيق تر لاسه کوي نو دا ټول د الله په خوښه او اذن او په همغه حد کې وي چې الله ئې وغواړي.
- د قدرت او واکمنۍ کرسۍ ئې پر آسمانونو او زمکې حاوي ده، دی ئې مالك، واکمن او حاکم دئ، دلته هر څه د ده په اراده تر سره کېږي، داسي نه ده چې د دې ملك د ادارې، حفاظت او ساتني کومه برخه او ځيني چارې ئې بل ته سپارلې وي او اوس همغه واکمن ذوات د خپلي خوښي مطابق په کې تصرف کوي.
- د آسمانونو او زمکې ساتنه او پالنه په خپله کوي، د دوی دواړو ساتنه او پالنه ئې نه ستومانه کوي، داسي نه ده چې د بل مرستي ته اړ وي او نور ئې له ځان سره په دې کار کې شريك کړی وي، د دنيوي واکمنانو په څېر نه دئ چې د بې وسۍ او ستومانۍ له امله د خپل ملك ځيني چارې بل ته وسپاري.
- هغه لوړ ستر ذات دئ، له هر عيب او نقص لوړ، له هر چا او هر څه ستر، د مشرکينو له مشرکانه تصوراتو اوچت، هغسې لوړ او ستر چې نه څوك ورسره برابري کولی شي، نه څوك د عالَم په ساتني او پالني کې ورسره شريك کېدی شي او نه داسي کوم ستر کار شته چې دی عاجز کولی شي.

لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشۡدُ مِنَ ٱلۡغَيِّۚ فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَاۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ۝٢٥٦ ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَوۡلِيَآؤُهُمُ ٱلطَّٰغُوتُ يُخۡرِجُونَهُم مِّنَ ٱلنُّورِ إِلَى ٱلظُّلُمَٰتِۗ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ۝٢٥٧

[۲۵۶]- په دين کې اکراه (او په زور منل) نشته، (په دين) سره هدايت له ضلالت او بې لاريتوب څرګند شوی؛ نو څوك چې له طغيان کوونکي انکار وکړي او بيا په الله ايمان راوړي نو په داسي کلکي کړۍ ئې منګولې ټينګې کړې چې شلېدل ئې نشته او الله خو ډېر پوه اورېدونکی دئ. [۲۵۷]- الله د هغو ولي دئ چې ايمان ئې راوړی، له تيارو ئې د رڼا په لوري باسي؛ او هغه چې کافر شوي؛ پالونکي اولياء ئې طاغوتان دي،

**چې له نور ئې د تیارو په لوري باسي، دوی دوزخیان دي، په کې تلپاته.**

(۲۵٦)- په دې آیت کې ویل شوي: د الله تعالی سنت دا نه دئ چې خلك د دین په منلو مجبور کړي، د ده په دین کې څوك په زور سره دین ته اړ کول نشته، جهاد ئې د دې لپاره نه دئ فرض کړی چې دا دین د توري په زور په نورو تحمیل کړي، جهاد د دې لپاره فرض شوی چې د مظلومو انسانانو د لاس پښو هغه زولنې ماتې کړی شي چې ظالمانو د دوی په لاس پښو کې اچولې، ټول هغه خنډونه چې د انسان د آزادۍ مخه نیسي او هغه د بل غلامۍ ته اړ کوي؛ له منځه ولاړ شي، پر مظلومو او مستضعفو انسانانو د ظالمانو جابرانه او ظالمانه واکمني ختمه شي، د جبر او زور سلطه پای ته ورسېږي، د انسان سر له خپل رب پرته هیچا ته ټیټ نه شي، هیڅوك ئې حقیر او ذلیل ونه ګڼي، هیڅوك ئې پر سر، مال او عزت د تېري کولو جرأت ونکړي، دا جهاد انسانانو ته دا موقع برابروي چې په پوره آزادۍ سره او د هر انسان له ګواښ او وېرې پرته د حق او باطل په اړه قضاوت وکړي، هیڅوك حق نه لري چې تا د دغه یا هغه څه منلو ته مجبور کړي، الله تعالی ته همداسې پیدا کړی یې چې د ښه او بد، حق او باطل، مفید او مضر له منځه چې کوم غواړې هغه غوره کولی شې، نه دي د حق په منلو مجبوروي او نه دي له باطل په زور راګرځوي، ستا د لارښوونې لپاره پیغمبر رالېږي، د هغه په لاس خپل کتاب ستا مخې ته ږدي، حق او باطل درښیي، دلائل ئې درته بیانوي او له هغه وروسته دا اختیار تا ته سپاري چې کوم یو غوره کوې او په کومې لارې د تلو اراده کوې؛ خو په دې پوه شه چې که څوك له طاغوت انکار وکړي او بیا پر الله ایمان راوړي؛ په داسې کړۍ منګولې لګوي چې شلېدل ئې نشته، دا داسې رابطه ده چې هیڅ څه او هیڅوك ئې نه شي قطع کولی، دا ځکه چې له طاغوت په انکار او پر الله تعالی ایمان سره تا ټول هغه خنډونه او موانع له خپلې مخې لرې کړې چې د انسان او د ده د رب تر منځ خنډ کېږي او دا ځکه چې اوس تا له هغه چا سره خپلې اړیکې ټینګې کړې چې تل ستا غږ اوري، دعاء دې قبلوي، له حال دې خبر او په اړتیاوو دې پوه دئ، له داسې (سمیع: ښه اورېدونکي او علیم: ښه پوه) ذات سره اړیکې تل ټینګې وي او هیڅکله نه شلېږي.

په دې مبارك آیت کې دا هم ګورئ چې په طاغوت کافر کېدل پر الله له ایمان راوړلو مخکې ذکر شوی، د دې معنی دا ده چې لومړی به له طاغوت انکار کوې، بیا به پر الله د ایمان راوړلو جوګه کېږې، تر هغه چې له طاغوت انکار ونکړې او د هغه له منلو خپل برائت اعلان نه کړې، الله ستا د ایمان دعوی نه قبلوي، د توحید په کلمه کې هم تا ته د همدې درس درکړی شوی، لومړی له الله پرته بل هر اله نفی کوې، بیا د الله د اثبات خبره

کوې: لا اله الا الله، وايې، ډېر خلك داسي وي چي پر الله د ايمان دعوی کوي، گمان ئې هم دا وي چي پر الله ايمان لري، خو طاغوت ئې نه وي نفی کړی، له طاغوت ئې طمع او وېره وي، د هغه واکمنۍ ته سر ټيټوي، خپل منازعات او شخړي د حل و فصل لپاره هغه ته وړاندي کوي او د هغه پرېکړو ته غاړه ږدي، د داسي کسانو په اړه قرآن په مکرره توگه او پرېکنده الفاظو وايي چي د ايمان دعوی ئې دروغجنه ده؛ لکه چي فرمايي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا۟ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓا۟ أَن يَكْفُرُوا۟ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴿٦٠﴾ (النساء)

هغو ته دي ونه کتل چي گمان کوي پر تا نازل شوي کتاب هم ايمان لري او له تا په مخکي نازل شوي کتاب هم، خو غواړي چي د تحاکم (او پرېکړي) لپاره طاغوت ته ورشي، په داسي حال کي چي دا امر ورته شوی چي له هغه به انکار کوي او شيطان غواړي چي په دې سره دوی په ژور ضلالت سره بې لاري کړي.

(۲۵۷)- څوك چي ايمان راوړي؛ نو الله ئې مولا او پالونکي شي، له راز راز تيارو ئې د رڼا په لوري بيايي، په داسي وخت کي چي په نورو لار ورکه وي، تيارې خورې او د سمي لار موندل گران شوی وي، الله تعالی د دوی لاس نيسي او له دغو تيارو ئې باسي، د سخت اضطراب، پرېشانۍ او وېري په حالت کي دوی يوازي نه پرېږدي او له کړاوونو د وتلو لار ورته پرانيزي، خو د کافرانو اولياء او پالونکي طاغوتان وي، چي له نور او رڼا ئې د تيارو په لوري بيايې، کله ئې هغه طاغوت بې لاري کړي چي د اقتدار خاوند دئ، کله ئې زرنگ او چالاك سياسي مشران او کله ئې د مذهب په نامه دين پلورونکي ټگماران.

په دې آيت کي چي له ډول ډول تيارو د وتلو په اړه د الله تعالی کوم سنت بيان شوی؛ په راتلونکو آيتونو کي ئې درې عملي مثالونه زموږ مخي ته انځور شوي: ۱- د موحد ابراهيم عليه السلام او پر خپل قدرت د مغرور او دوکه شوي نمرود؛ تر منځ د يوې مناقشې مثال، ۲- يوه مؤمن بنده ته دا عملاً ښودل چي الله تعالی څنگه مړي راژوندي کوي؛ ۳- د ابراهيم عليه السلام دې پوښتني ته ځواب چي د بيا راژوندي کولو کيفيت څنگه دئ؛ غوښتل ئې په دې پوه شي چي د ژوو د خلقت عمليه څنگه تر سره کېږي؛ څه وشي چي مړه خاوره او په خاوره کي تجزيه شوي ژوي؛ د ژوندي مخلوق په توگه خلق شي.

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِى حَآجَّ إِبْرَٰهِۦمَ فِى رَبِّهِۦٓ أَنْ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَٰهِۦمُ

رَبِّيَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا۠ أُحۡيِۦ وَأُمِيتُۖ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَأۡتِي بِٱلشَّمۡسِ مِنَ ٱلۡمَشۡرِقِ فَأۡتِ بِهَا مِنَ ٱلۡمَغۡرِبِ فَبُهِتَ ٱلَّذِي كَفَرَۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝٢٥٨

[٢٥٨]- آيا هغه ته دي نه دي کتلي چي له ابراهيم سره ئې د دې لپاره شخړه کوله چي الله ورته پاچايي ورکړې وه، کله چي ابراهيم وويل: زما رب همغه دئ چي ژوندي کول او وژل کوي، وئ ويل: زه يم چي د ژوند مرگ فيصله کوم!! ابراهيم وويل: الله خو لمر له مشرقه راخېژوي ته ئې له مغربه راوله که رښتينى يې؛ نو هغه چي کافر شوى وو مبهوت او حيران شو ( څه ئې د ويلو لپاره نه موندل) او الله دا ظالمان نه هدايت کوي.

(٢٥٨)- په دې مبارك آيت کې د ابراهيم عليه السلام او نمرود د قصې په ترڅ کې همدغه پورتنى حقيقت تشريح کوي او تاريخي بېلگه ئې وړاندې کوي، هم د هغه چا چي الله تعالى ئې مولا وي او له تيارو ئې د رڼا په لوري بيايي او هم د هغه چا چي مولا ئې طاغوت وي او له رڼا ئې تيارو ته بيايي. يوې خوا ته نمرود دئ چي خپل اقتدار مغرور کړى، گمان کوي چي د خلکو مرگ ژوند د ده په لاس کې دئ، سلطنت او پاچايي ئې "طاغوت" دئ چي دى ئې دوکه کړى، د حقيقت له منلو ئې منع کوي او په تيارو کې د ده د پاته کېدو باعث کېږي؛ خو بلې خوا ته ابراهيم عليه السلام دئ، د مرگ پرېکړه ئې شوې، د ده د سوزولو لپاره ستر اور بل شوى، ټول ولس راغونډ شوى چي په سره اور کې د ده د وريتېدو ننداره وکړي، دى ئې له زندان رااېستلى، اوس د نمرود په دربار کې ولاړ دئ، جلاد ئې خوا ته او آخوا خلك په اور کې د ده د اچولو شېبې ته منتظر، په همدې حساسي او هيبتناکې شېبې کې ابراهيم عليه السلام په ټول ډاډ او اطمئنان وايي: د مرگ ژوند پرېکړه زما رب کوي. په هغه حالت کې د دې خبرې د کولو په عظمت هر څوك نه پوهېږي، داسې خبره يوازې هغه څوك کولى شي چي الله تعالى ئې هادي او لارښود وي. دا دئ گورئ چي الله تعالى د مؤمنانو مولا دئ، له تيارو ئې د نور په لوري بيايي، د همدغې وينا په سبب الله تعالى هغه د نمرود له اوره وژغورو.

دا مبارك آيت څو مهمې خبرې زموږ مخې ته ږدي:

- ابراهيم عليه السلام دا خبره چي د مرگ ژوند واك زما د رب په لاس کې دئ؛ د هغه چا په وړاندې کړې چي اقتدار مغرور کړى وو، ځان ئې د خلکو د مرگ ژوند واکدار گڼلو،

ابراهیم علیه السلام ئې بندي کړی وو او د هغه د وژلو او په ستر اور کې د سوزولو فیصله ئې کړې وه. د ابراهیم علیه السلام د دې وینا په اهمیت هلته پوهېدی شو چې دا حالت په نظر کې ونیسو. په عادي حالت کې د دې خبرې کول یوه معنی لري خو په داسې حالت کې بېله معنی لري چې د چا د وژلو او په اور کې د سوزولو فیصله دې یوه مغرور او بې رحمه واکمن کړې وي، د ده د سوزولو لپاره دې ستر اور بل شوی وي، ټول ولس دې د ده په سوزولو اتفاق کړی وي او د دې مقصد لپاره دې ستر اور بل کړی شوی او په اور کې د ده د اچولو لپاره دې منجنیق تیار شوی وي او ټول ولس دې د تماشا لپاره راغونډ شوی وي!! هغه دې دا هر څه په خپلو سترګو ګوري او سره له دې دې ووايي: د مرګ ژوند پرېکړه خو زما رب کوي!!

- مغرور واکدار د ده په ځواب کې وايي: د خلکو د مرګ ژوند واک خو له ما سره دئ، دا دئ په خپلو سترګو وګوره چې له دوو بندیانو یو چې د خلاصولو مستحق دئ په مرګ محکوموم او بل چې د وژلو مستحق دئ خوشې کوم!!
- ابراهیم علیه السلام په ځواب کې وايي: زما رب خو هغه ذات دئ چې لمر له ختیځه راخېژوي، ته ئې له لوېدیځه راوخېژوه که رښتینی یې!! یعني لکه څنګه چې شپه ورځ د الله په اراده ځي راځي او لمر د ده په اراده له خپله ځایه راخېژي او په خپل ځای کې پرېوځي او د نړۍ هیڅ ځواك نه د هغه د تلو راتلو وخت بدلولی شي او نه ئې ځای، همداسې د مرګ او ژوند پرېکړه هم یوازې د الله له لورې کېږي او په دې کار کې هم د نړۍ هیڅ ځواك هیڅ برخه نه لري.
- ظالمان له الهي لارښوونو محروم او د حقیقت له درك عاجز دي، ظلم د دوی زړونه کاږه او عقل مختل کړی. د مرګ ژوند په اړه د دوی باورونه د کږو زړونو او مختل عقل زېږنده دي.
- ګورئ چې ابراهیم علیه السلام د مرګ ژوند په طبیعي او ورځني بهیر او د شپې ورځې په تګ راتګ او د لمر په راختو او لوېدو استدلال کوي او همدا د الله د شتون او قدرت نښې ګڼي، خو کافر نمرود په دې نه دئ قانع او خارق العاده نښې غواړي!! که قرآن ته ځیر شئ نو وبه ګورئ چې کافران تل پر الله د ایمان راوړو لپاره خارق العاده معجزې غواړي او قرآن ورته همدا طبیعي حوادث د دلیل په توګه وړاندې کوي. دا موږ ته دوه ذهنیتونه راپه ګوته کوي؛ یو هغه چې په عالم کې دا خورې ورې نښې او آیتونه ئې نه قانع کوي، له پیغمبر هم خارق العاده معجزې غواړي، دا نه مني چې یو عادي انسان هم د الله پیغمبر کېدی شي، د قرآن له هر آیت هم داسې تعبیر راایستل خوښوي چې غیر عادي

او خارق العاده مفهوم افاده کړي!! خو په دې آیت کې موږ ته ویل شوي چې چا ته په عالم کې خواره آیتونه کافي نه وي هغه کافرانه ذهن لري او د نمرود په لار روان دئ او چا ته چې دغه آیتونه کافي وي هغه مؤمنانه ذهن لري او د ابراهیم علیه السلام په لار درومي.

دې ته مو توجه وي چې دا هسې د مناظرې کومه غونډه نه وه، چې یوې خوا ته نمرود او بلې خوا ته ابراهیم علیه السلام، دا ورته دلائل بیانوي چې الله شته او هغه ترې انکار کوي، متأسفانه ځینو د دې آیت په تشریح کې همداسې څه ویلي چې ګواکې ابراهیم علیه السلام د نمرود دربار ته ورغلی، له هغه سره په کومې دوستانه مناقشې کې مصروف شوی، الله ته ئې رابللی او دا دلیل ئې ورته وړاندې کړی چې د مرګ ژوند پرېکړه الله کوي!! دغو دوستانو د قرآن ټول هغه آیتونه له پامه غورځولي چې د ابراهیم علیه السلام قصه په کې راغلې او په ډېر صراحت سره وایي چې د بتانو له نسکورولو وروسته په اور کې د ده د سوزولو پرېکړه وشوه، د نمرود دربار ته باید د یوه داسې ستر باغي په توګه بېول شوی وي چې د نمرود او د ده د قوم خدایان ئې مات او نسکور کړي، له نیول کېدو وروسته ئې نه یوازې په خپل کار اعتراف کړی بلکې له هغه ئې په مېړانه او جرأت دفاع کړې او بتان او بت لمانځونکي ئې مزید تحقیر کړي، که د ابراهیم علیه السلام د قصې دا برخه د قرآن د نورو آیتونو په رڼا کې وڅېړو نو شرح به ئې داسې وي: ابراهیم علیه السلام به د بت لمانځونکو له معبد زندان ته لېږل شوی وي، په اور کې د ده د اچولو لپاره چې کومه ورځ ټاکل شوې وه؛ په دغه ورځ ئې هغه د نمرود مخې ته حاضر کړی، ده ته ویل شوي: تا څنګه زموږ د معبودانو د ماتولو بې باکې کوله اوس به دې څوک له مرګ ژغوري؟ ابراهیم علیه السلام ویلي: زما رب، همغه چې د مرګ ژوند پرېکړه د ده له لوري کېږي؛ نمرود ویلي: اوس به درته وښیم چې د مرګ ژوند پرېکړه ستا رب کوي که زه، ابراهیم علیه السلام په ځواب کې ورته ویلي: که ته دومره زورور یې چې د خلکو د مرګ ژوند اختیار په خپل واک کې ګڼې نو دغه لمر چې زما رب ئې له مشرق راخېژوی ته ئې له مغرب رااوچت کړه!! نمرود د دې غاښ ماتوونکي ځواب په وړاندې له دې پرته بل څه د ویلو لپاره نه موندل چې ووايي: دا بې باکه په اور کې واچوئ چې هم دی د خپلې بې باکۍ سزا وګوري او هم نورو ته د عبرت سبب شي.

أَوْ كَٱلَّذِى مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَهِىَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ يُحْىِۦ هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۖ فَأَمَاتَهُ ٱللَّهُ مِا۟ئَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُۥ ۖ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ۖ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا

أَوْ بَعْضَ يَوْمٍۖ قَالَ بَل لَّبِثْتَ مِاْئَةَ عَامٍ فَٱنظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْۖ وَٱنظُرْ إِلَىٰ حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ ءَايَةً لِّلنَّاسِۖ وَٱنظُرْ إِلَى ٱلْعِظَامِ كَيْفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًاۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٥٩﴾

[٢٥٩]- او يا لکه هغه چې په يوه داسې کلي تېر شو چې په خپلو بامونو راپرېوتی وو، وئې ويل: الله به دا له خپلې داسې مړينې وروسته څنګه بيا راژوندي کوي، نو الله هغه په سل کلن مرګ مړ کړ، بيا ئې بېرته راژوندی کړ، ورته وئې ويل: څومره وځنډېدې؟ وئې ويل: يوه ورځ ځنډېدلی يم او يا خو د يوې ورځې يوه برخه؛ وئې فرمايل: داسې نه ده؛ بلکې سل کاله ځنډېدلی يې، نو خوراك او څښاك ته دې وګوره چې نه دي ګنده شوي او خره ته دې وګوره او دا د دې لپاره چې تا د خلکو لپاره يوه نښه وګرځوو؛ او هډوکو ته ځير شه چې څنګه ئې خوځوو او بيا ئې په غوښې پټوو؛ نو کله چې ورته څرګنده شوه؛ وئې ويل: (اوس) ښه پوهېږم چې الله په هر څه ښه قادر دئ.

(٢٥٩)- دا د الله يو مؤمن بنده وو (که څه هم په يوه روايت کې عزير ګڼل شوی؛ هغه چې يهودانو د الله زوی ګڼلو)، په سفر روان وو، د خوراك او څښاك لپاره څه د سفر توښه ورسره، په يوه وران او نسکور شوي زاړه کلي تېرېدو، هرې خوا ته ئې د کليوالو وراسته هډوکي تر سترګو شول، ناڅاپه ئې دا خبره په زړه کې راتېره شوه چې الله تعالی به دا وراسته هډوکي څنګه بيا راژوندي کوي؛ الله تعالی غوښتل هم د ده دا پوښتنه ځواب کړي او هم د ده په واسطه هغه خلك قانع کړي چې بياژوندون ئې نه منلو، د همدې لپاره ئې هغه په سل کلن مرګ محکوم کړ، سل کاله وروسته ئې بيا راژوندی کړ، پوښتنه ئې ترې وکړه؛ دلته څومره وځنډېدې؟ ځواب ئې ورکړ: نه پوهېږم، ښايي يوه ورځ يا خو د يوې ورځې يوه برخه، الله تعالی ورته وفرمايل: نه؛ دلته سل کاله ځنډېدلی يې، د سورلۍ ورستو هډوکو ته وګوره، خو خوراك او څښاك ته دې سترګې واړوه چې روغ رمټ پاته دي، وګوره چې څنګه دا وراسته هډوکي خوځوم، غوښه پرې راټوکوم او بيا ئې راژوندی کوم، دغه مؤمن بنده د دې صحنې په ليدو سره د خپلې پوښتنې ځواب تر لاسه کړ او وئې ويل: اوس ښه پوه شوم چې الله په هر څه قادر دئ.

په دې قصې کې د بياژوندون په اړه څو بنيادي او اساسي خبرو ته ځواب ويل شوی:

• يوه له هغو خبرو چي د بيا ژوندون په اړه د انسان ذهن تر خپل سيوري لاندي نيسي او باور کول ورته گرانوي؛ د اوږدې زمانې تېرېدل دي، که په يوه مړي يوه دوه ورځي تېري شوې وي بياژوندی کېدل ئې ورته دومره گران نه برېښي لکه د هغه چي اوږده موده پرې تېره شوې وي، د د غي قصې په ترڅ کي ويل شوي چي زمانه نسبي امر دئ، له يوه تر بل او له يوه حالت تر بل ئې وضع بدلېږي، ويښ او ويده، مړ او ژوندی، لټ او تېز ته يو شان نه وي؛ هغه زمانه چي يوه ته په يوه حالت کي بې انتهاء برېښي بل ته د څو ثانيو او دقيقو وي، کومه فاصله چي مېږي ته بې انتهاء برېښي د يوې مرغۍ لپاره د څو ثانيو وي، که په يوه اطاق کي له يوه ويده او ويښ؛ چي ټوله شپه ئې په خوب او ويښه تېره کړې، پوښتنه وکړئ، ويښ به درته وايي: ډېره اوږده شپه وه، لټ په لټ اوښتم، سخته راباندي تېره شوه او ويده به درته وايي: زه نه يم پوهېدلی چي شپه څنگه تېره شوه او څومره خوب مي کړی، دې مؤمن بنده ته عملاً وښودی شو چي سل کاله ورته يوه ورځ او حتی تر هغه هم کم؛ د يوې ورځي څو ساعتونه معلوم شول، قرآن همدغه حقيقت ته په څو نورو مواردو کي هم اشاره کړې او فرمايي: د الله لپاره يوه ورځ هومره ده لکه ستاسو پنځوس زره کاله، دا تاسو يئ چي کلونه او پېړۍ درته اوږده زمانه برېښي او په واړه ذهن مو د دې سيوری پروت دئ چي په مړو باندي د اوږدې مودې له تېرېدو وروسته به څنگه بيا راژوندی کېږي. د نسبيت په اړه د قرآن دغه خبره دولس پېړۍ وروسته؛ د الماٰن يوه ساينس پوه انشټين؛ د ساينس په ژبه وکړه او په دې سره ئې د فزيك د پلار نوم وگاټو.

• دوهم څه چي په دې اړه د انسان ذهن ته راځي هغه دا دئ چي په مرگ سره د انسان ټول بدن په خاورو بدل شي، د اوږدې زمانې په تېرېدو سره ئې له غوښي او هډوکو هيڅ اثر پاته نه شي، دا به څنگه بېرته راژوندی کېږي؟ په دې قصې کي هغه مؤمن بنده ته وښودی شو چي د انسان وجود دوه برخي لري: جسد او روح؛ په مرگ سره ئې يوه برخه له منځه ځي خو بله برخه ئې روغه پاته کېږي، دا داسي وگڼه لکه (ستا سورلۍ) او (خوراك څښاك)، يو ختم شوی وو خو بل روغ رمټ پاته وو، ستا جسد د روح لپاره داسي دئ لکه ستا دغه سورلۍ او ستا روح داسي لکه دا خوراك څښاك او ستا د قوت او ځواك منبع، په مرگ سره ستا هر څه له منځه نه ځي، يوه برخه روغه پاته کېږي، روح له منځه نه ځي، يوازي د روح سورلۍ او کالبوت خپل حالت بدل کړي، غوښه او هډوکي ئې په خاوره کي تجزيه شي، دا بياژوندون داسي وگڼئ لکه چي په مني کي ټول نباتات ومري، وراسته او په خاوره بدل شي، په خاوره کي موږ ته د دوی هيڅ اثر په نظر نه راځي، ټول

ژمی پرې تېر شي، خو په پسرلي کې په یوه باران سره له زمکې سر رااوچت کړي.

که د ساینس په ژبه دا مطلب توضیح کړو نو ویلی شو چې د انسان بدن؛ کالبوت او غړي ئې داسې دي لکه د یوه کمپیوټر پرزې (Hardware) او روح ئې داسې ده لکه د کمپیوټر پروګرامونه او (Software)؛ او له خوراك څښاك چې کومه انرژي تر لاسه کوي؛ داسې ده لکه د کمپیوټر برق؛ له برق او سافټ ویر پرته کمپیوټر داسې دئ لکه مړی؛ د کمپیوټر فزیکي توکي زړېږي او مري؛ خو سافټ ویر ئې مرګ نه لري؛ د تل لپاره پاته وي. کله چې د کمپیوټر زړې او له کاره لوېدلي اجزاء تعویض شي؛ کولی شې مخکیني سافټ ویر په کې نصب کړې؛ په دې سره دي مړ کمپیوټر بېرته راژوندی شي.

وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ رَبِّ أَرِنِي كَيۡفَ تُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰۖ قَالَ أَوَلَمۡ تُؤۡمِنۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطۡمَئِنَّ قَلۡبِيۖ قَالَ فَخُذۡ أَرۡبَعَةٗ مِّنَ ٱلطَّيۡرِ فَصُرۡهُنَّ إِلَيۡكَ ثُمَّ ٱجۡعَلۡ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٖ مِّنۡهُنَّ جُزۡءٗا ثُمَّ ٱدۡعُهُنَّ يَأۡتِينَكَ سَعۡيٗاۚ وَٱعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٢٦٠﴾

[٢٦٠]- او کله چې ابراهیم وویل: اې زما ربه! راوښیه چې مړي څنګه راژوندي کوې؟ وئې فرمایل: آیا په دې باور نه لرې؟ وئې ویل: څنګه نه؛ خو غواړم چې زړه مې ډاډه شي، وئې ویل: نو د مرغانو څلور درواخله او له ځانه سره ئې آموخته کړه، بیا ئې په هر غره یوه برخه کښېږده، بیا ئې راوبوله چې تا ته به په منډه راشي او په دې پوه شه چې الله باحکمت غالب ذات دئ.

(٢٦٠)- د دې خبرې چې الله د مؤمنانو مولا او لارښود دئ، له تیارو ئې د نور طرف ته بیائي، درېیمه بېلګه بیا هم د ابراهیم علیه السلام لارښوونه ده؛ ده هم وغوښتل چې د بیاژوندون د کیفیت او څرنګوالي په اړه ئې زړه ډاډه او مطمئن شي، په دې پوه شي چې الله تعالی مړی څنګه او په څه ډول راژوندی کوي؟ د خلقت دا عملیه څنګه تر سره کېږي؟ الله تعالی ورته وفرمایل: څلور مرغان راونیسه، له ځان سره ئې آموخته کړه، بیا ئې ځیني پر یوه، ځیني پر بل او بل غره کښېږده، څلور مرغان ښایي د دې لپاره یاد شوي وي چې په څلورو سمتونو شرق، غرب، شمال او جنوب کې یو یو ځای په ځای کړي؛ او غرونه د دې لپاره یاد شوي چې له ځان ډېر لرې ئې پر غرونو کښېښودل افاده کړي؛ بیا ئې ځان ته راوبله، ګورې به چې ټول په منډه ستا په لوري راشي. که دا مرغان ستا د څو ورځو

پاللو او روزلو په نتیجه کې له لرې ستا غږ ته لبیك وايي او په منډه ستا خوا ته راځي، په داسې حال کې چې نه تا پیدا کړي او نه ته د دوی په روح، زړه او دماغ څه سلطه لرې، نو د الله هغه مخلوق چې هر څه ئې د ده په واك کې دي، ژوند ده ورکړی، روح او جسد ئې ده پیدا کړی، زړه او دماغ ده ورکړی، دا به څنګه د الله بلنې ته لبیك نه وايي، له خپلو قبرونو به نه راپورته کېږي او د ده په لورې به نه روانېږي. مګر الله عزیز او حکیم نه دئ؟ که څه هم ځینو درنو مفسرینو د دې آیت په تفسیر کې ویلي چې ابراهیم علیه السلام ته د دغو مرغانو د ذبح کولو، قطع قطع کولو، د غوښو د ګډولو او په هر غره د دوی د ګډې غوښې د یوې برخې د ایښودلو وینا شوې او ده همدا کار کړی او بیا د ده په وینا دا مرغان بېرته راژوندي شوي او د ده خوا ته راغلي. خو په آیت کې نه د ذبح کولو او وژلو ذکر راغلی او نه هم دا ویل شوي چې ابراهیم علیه السلام دا کار وکړ او مرغان راژوندي شول او د ده خوا ته راغلل. داسې نه دي ویل شوي؛ بلکې له ځان سره د آموخته کولو او د ده په بلنه د ده لورې ته د راتلو خبره شوې او په پای کې ورته ویل شوي: په دې پوه شه چې الله باحکمت غالب ذات دئ. د آیت له وروستۍ برخې هم معلومېږي چې ابراهیم علیه السلام ته دا وینا د یوه استدلال بڼه لري نه د یوې مشاهدې بڼه، د مشاهدې صورت په مخکیني مثال کې راغلی، تکرار ته ئې ضرورت نشته. د ابراهیم علیه السلام شخصیت هم هومره اوچت دئ چې د زړه د ډاډ او اطمئنان لپاره ئې همدا استدلال کافي دئ. دا همغه ابراهیم دئ چې په یوې مشرکې، له الله او آخرت منکرې ټولنې او کورنۍ کې، د یوه بت لمانځونکي پلار په غېږ کې دنیا ته راغی، خو په خپل عقلي استدلال سره ئې خپل رب وپېژاندو، خپل پلار او قوم ته ئې وویل: نه دا لمر، سپوږمۍ او ستوري او نه هم ستاسو دا بتان په خدايي منم، زما رب همغه دئ چې دا هر څه ئې پیدا کړي، زه پیدا شوي او فنا کېدونکي په خدايي نه منم.

که په مخکینۍ قصې کې د هغه مؤمن بنده په الفاظو کې غور وکړئ او هغه د ابراهیم علیه السلام د دغې قصې له الفاظو سره مقایسه کړئ نو وبه ګورئ چې په دواړو کې ژور توپیرونه شته: یو وايي: الله به د دې کلي دا وراسته هډوکي څنګه بېرته راژوندي کوي؟ (أَنَّىٰ يُحْيِـي هَـٰذِهِ اللهُ بَعْدَ مَوْتِهَا) دا الفاظ شك افاده کوي، خو بل وايي: اې زما ربه! ما ته ئې راوښیه چې ته مړي څنګه ژوندي کوې؟ له یوه سره پوښتنه ده، له بل سره دا غوښتنه او تلوسه چې د بیا راژوندي کولو په کیفیت پوه شي؟ ابراهیم علیه السلام خپل رب ته دعاء کوي چې ما ته د بیا راژوندي کولو کیفیت راوښیه، په بیا راژوندي کېدو مې باور شته، خو زړه مې غواړي په کیفیت ئې پوه شي، د خپل زړه د ډاډه کولو لپاره دا غوښتنه کوم. هغه

مؤمن بنده ته مشاهده په کار وه او ابراهیم علیه السلام ته استدلال کافي وو. ابراهیم علیه السلام خو د نمرود په دربار کې او په اور کې د اچول کېدو په ورځ ویلي وو چې مرگ ژوند زما د رب په واك کې دئ، دی خو د نمرود له اوره روغ رمټ راوتلی او اوس د پیغمبرۍ مقام ته رسېدلی او له الله سره تکلم کوي، داسي چا ته یوازي یوه اشاره بس ده. څه چې ابراهیم علیه السلام د خپل زړه د اطمئنان لپاره غوښتل؛ هغه ئې واورېدل او هغه دا: لکه چې ستا په یوه غږ به دا مرغان له څلورو خواوو او له لوړو غرونو ستا خوا ته راځغلي؛ همداسي به د قیامت په ورځ؛ ټول مړي؛ د خپل رب په یوه امر؛ له قبرونو راپاڅي او د ده لوري ته به درومي.

که هدف دا وی چې دا مرغان ووژل شي نو حتماً به د (قتل) یا (ذبح) صیغه راغلې وه، قرآن خپل مخاطب په ابهام کې نه اچوي، د (صرهن) لغوي معنی فقط ځان ته مایل کول، نژدې کول او آموخته کول دي؛ نه ذبح، قتل او قطع کول؛ که په تکلف سره د وژلو په معنی واخیستی شي له (الیك) سره نه جوړېږي، په دې صورت کې د آیت ترجمه داسي کېږي: (د ځان په لوري ئې ووژنه) او دا قطعاً غلطه جمله ده، صرهن چې اصلي او لغوي معنی ئې آموخته کول دي، ورپسې ئې د (الی) صله راوړل شوې چې ښیي همدغه معنی ترې مراد ده، ځکه دا (صله) د وژلو او ذبح کولو له معنی سره نه شي جوړېدئ. له الیك سره ئې یوازي دغه معنی جوړه راځي، چې ترجمه ئې داسي کېږي: له ځان سره ئې آموخته کړه.

ځیني په آیت کې د جُزْءاً له لفظ داسي پوهېدلي چې ښایي مراد ئې یوه ټوټه غوښه وي، نه د مرغانو یوه برخه او ډله، دا انتباه صحیح نه ده، په قرآن کې دوه ځایه نور هم د جُزْء لفظ راغلی چې په دواړو کې ئې معنی یوه ډله خلك ده:

وَجَعَلُواْ لَهُۥ مِنۡ عِبَادِهِۦ جُزۡءًاۚ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَكَفُورٞ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ الزخرف

لَهَا سَبۡعَةُ أَبۡوَٰبٖ لِّكُلِّ بَابٖ مِّنۡهُمۡ جُزۡءٞ مَّقۡسُومٌ ﴿٤٤﴾ الحجر

څوك چې له صرهن د قطعهن معنی اخلي هغه دې ته اړ کېږي چې په خپل تعبیر کې ښه ډېر تکلف وکړي او کافي خبري له ځان علاوه کړي، دوی به دې ته اړ کېږي چې لاندي خبري له ځان علاوه کړي:

- ابراهم علیه السلام دا مرغان ذبح کړل.
- بیا ئې ښه وځپل او سره گډ وډ ئې کړل.
- بیا ئې د دوی د گډي غوښي یوه یوه ټوټه په یوه یوه غره کښېښوده.
- بیا ئې ورته غږ کړ.

- ټول راژوندي شول.
- راوالوتل او د ده خوا ته په منډه راغلل.

خو په دې آیت کې دا یو هم نشته، نه د وژلو صیغه راغلې او نه د مرغانو د بیا ژوندی کېدو صیغه او نه دا چې ابراهیم علیه السلام دا کار کړی. دا خبرې به ټولې له خپل ځان راوړي که نه نو تعبیر به ئې ناقص وي!! همدا راز دوی دې ته اړ کېږي چې ووایي: د (الی) لفظ یا زائد دئ او یا د کوم لري لفظ لپاره (صله) ده!! پوښتنه دا ده: آیا موږ دا حق لرو چې په قرآن کې څه له ځانه علاوه کړو؟ آیا صحیح ده موږ د هغه چا تعبیر او تفسیر ومنو چې ډېري فقرې او الفاظ ئې له ځانه علاوه کړي؟ آیا صحیح ده چې د یوه لفظ اصلي او لغوي معنی پرېږدو او له کوم ضرورت پرته ئې غیر اصلي او محتمله معنی راوړو؟ که د انسان په کلام کې داسي تصرف جائز نه وي؛ د الله تعالی په کلام کې به ئې څنګه جائز ګڼو؟

موږ دغو دوستانو ته وایو: دې تکلف ته څه ضرورت دئ؟ ولې د الله په کلام کې داسي تصرفات جائز ګڼئ؟ ولې د الله د مبین کلام په اړه دا غلط ذهنیت راپیدا کوئ چې له دومره تکلف او تصرف پرته ئې په معنی پوهېدل ممکن نه دي؟ ولې ئې صافه او واضح معنی پرېږدئ او له تکلف ډکه معنی ئې غوره کوئ؟ همدا راز دوی ته وایو: که ستاسو دا خبرې صحیح وي نو د آیت په پای کې به د مخکیني مثال په څېر د ابراهیم علیه السلام کومه داسي وینا ذکر کېده چې اوس یوه شوم او زړه مي ډاډه او مطمئن شو، لکه هلته چې راغلي: قَالَ أَعۡلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ داسي به نه ویل کېدل چې وَٱعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ. دا الفاظ خو په دې شهادت ورکوي چې پورتنی مطلب یو استدلال دئ نه یوه مشاهده. د آیتونو له کومي برخي او لفظ دا مطلب راباسئ چې ابراهیم علیه السلام مرغان ذبح کړي، ټوټې ټوټې او سره ټکولي، یوه یوه برخه ئې پر غرونو ایښې، بیا ئې رابللي، ټول ژوندي شوي او خوا ته ئې راغلي؟! ولې له ځانه دا خبرې علاوه کوئ؟!

ابراهیم علیه السلام ته خو همدا استدلال کافي وو، دغه ستر موحد ته یوه اشاره کافي وه، خو څه وکړو چې ځیني یوازې په هغسي ځواب مبهوت او متقاعد کېدی شي چې ابراهیم علیه السلام د نمرود مخې ته کښېښود: فَإِنَّ ٱللَّهَ يَأۡتِي بِٱلشَّمۡسِ مِنَ ٱلۡمَشۡرِقِ فَأۡتِ بِهَا مِنَ ٱلۡمَغۡرِبِ فَبُهِتَ ٱلَّذِي كَفَرَۗ.

الله تعالی خپل کتاب قرآن داسي معرفي کړی چې له شك منزه، مبین، آسان، کامل، کافي، او مفصل دئ؛ امي رسول او امي امت ئې پرې پوه شوی؛ نو د آیتونو هغه تفسیر او تأویل د منلو وړ نه دئ چې د قرآن له دې صفاتو سره نه ښایي؛ او قرآن ته دا نقص او عیب منسوبوي چې غامض، مبهم، پېچلی او غیر واضح دئ او له شرحي او ډېر څه زیاتولو او

علاوه کولو پرته ئې څوك په اصلي معنى نه شي پوهېدى او په آسانه واضح مفهوم نه شي ترې اخيستلى.

نن د انسان علمي توان او د حکمت کچه؛ هغه پړاو ته رسېدلې چي په لسګونو زره ضخيم کتابونه په يوه واړه کمپيوټر کي داسي تعبيه کوي چي که ته وغواړې په دغو ټولو کتابونو کي يو لفظ ولټوې؛ کولى شې په يوه فرمان او امر او پر يوې بټني فشار سره؛ د دې لسګونو زرو کتابونه همدا ګړ لفظ؛ په څو ثانيو کي درته راباسي او ستا مخي ته ئې ږدي؛ عزيز او حکيم رب ته د زمکي له زړه د ټولو انسانانو بيا راايستل، راپاڅول او خپلي خوا ته راغونډول؛ تر دې هم ډېر آسان دئ.

د موضوع دا اړخ هم توجه ايجابوي چي موږ د مخلوقاتو د پيدايښت او رشد مختلف پړاوونه په خپلو سترګو ګورو؛ اما د دوى د پيدايښت په کيفيت نه نن پوهېږو او نه تر دې وروسته پوهېدى شو؛ دا چي څنګه الله تعالى له خاوري زموږ او د نورو ژوو نطفه جوړوي؟ څنګه مړه او بې روح خاوره په ژوندۍ نطفې بدلوي؟ دا ګورو چي الله تعالى سپېره ډاګ په يوه باران سره وخوځوي او له زړه ئې ښکلي بوټي او ګلان راشنه کړي؛ خو د دې عجيب بدلون په کيفيت پوهېدا انسان ته محال ده؛ ابراهيم عليه السلام د پيدايښت په کيفيت د پوهېدا غوښتنه کړې او الله تعالى د ده مخې ته همدا ښکلى او دقيق ځواب او استدلال ايښى؛ او په پاى کي ئې ورته فرمايلي: وَٱعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ: او په دې پوه شه چي الله باحکمت غالب ذات دئ.

هغه چي وايي: ابراهيم عليه السلام څلور مرغان ونيول؛ ځيني دا څلور ډوله مرغان ګڼي؛ چا ويلي: باز، طاؤس، چرګ او کوتره وو، او چا ويلي يوازي يو يو نه بلکي له څلورو ډولونو تر يوه زيات، دا ئې ذبح کړل، وئې وژل، سرونه ئې له ځان سره وساتل، نور ئې ټوټه ټوټه کړل، ټول ئې سره وټکول، له دې ئې يوه يوه برخه پر څلورو يا شاوخوا غرونو کښېښوده؛ د ځان لوري ته ئې راوبلل، د هر مرغه وينه، رګونه، پوستکي، بڼکي رااالوتلې او له خپل خپل سر سره يو ځاى کېدلې، او په دې توګه ټول ژوندي شول!!! او دا هغه څه دي چي نه ئې په ټول قرآن کي مومو، نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم په کوم حديث کي او نه په کوم داسي روايت کي چي چا رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د هغه د منسوبولو جسارت کړى وي؛ آيا دا خلك به د قرآن د دې آيت مصداق نه وي چي فرمايي:

وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُونَ أَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتَابِ لِتَحْسَبُوهُ مِنَ الْكِتَابِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ

وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٨﴾ آل عمران

او د دوی یوه ډله داسې ده چې په خپلې لیکنې او کتاب خپلې ژبې داسې اړوي چې ته هغه د الله د کتاب یوه برخه وبولې؛ په داسې حال کې چې هغه د الله د کتاب برخه نه ده، دوی وايي: دا خبرې ټولې د الله له لوري دي په داسې حال کې چې د الله له خوا نه دي، په الله پوري دروغ تړي سره له دې چې ښه پوهېږي.

دې ته مو پام وي چې د ابراهیم علیه السلام د ژوند اړوند پېښو په اړه له قرآن پرته بله معتبره مرجع نه مومو؛ یوازې همغه څه به وایو چې قرآن ویلي؛ نه به څه پرې اضافه کوو او نه کموو؛ نه بایبل د اعتماد وړ مرجع ده او نه اسرائیلي روایات؛ هغه مفسرین چې اسرائیلي روایات د استناد او اعتبار وړ ګڼي؛ یقیناً ستره اشتباه کوي!! راشئ وګورو چې بایبل په دې اړه څه وايي؟

بایبل تر دې عنوان لاندې (له ابرام سره د خدای ژمنه) په پنځمه فقرې کې لیکي: خدای په شپه کې ابرام (ابراهیم علیه السلام ) له خپل کور بهر راوغوښت او هغه ته ئې وویل: د آسمان ستورو ته نظر وکړه آیا کولی شې وئې شمارې؟ ستا نسل به هم دې ته ورته بې شمېره وي!! دلته نو ابرام په خدای اعتماد وکړ او د همدې لپاره خدای ترې راضي شو او دی ئې قبول کړ، خدای ابرام ته وویل: زه همغه خدای یم چې ته مې له اورکلدانیان راوایستې چې دغه سیمه تا ته درکړم، ابرام وویل: خدایه! څنګه مطمئن شم چې دا سیمه ما ته راکوې؟ خدای ورته وویل: یوه درې کلنه سخوندره، یوه درې کلنه وزه، یو درې کلن پسه، یوه قمري او یوه کوتره درواخله، سرونه ترې پرې کړه، هر یو له سره تر پښو نیمايي کړه، ټوټې ئې یوه د بلې خوا ته کښېږده، خو مرغان مه نیمايي کوه، ابرام همداسې وکړل، تر ماښام ئې غوښه خوړونکي مرغان چې پر دغو غوښو به کښېناستل؛ ترې ایسار کړل، د ماښام په وخت کې ابرام په ژور خوب ویده شو او یوې وحشتناکې تیارې احاطه کړ!!)؛ ګمان مو دا ده چې د البقره سورې د ۲٦۰ آیت په اړه د غلطو تعبیرونو او تفسیرونو منشأ؛ ښايي دغه وي.

دلته څو خبرې د بحث وړ دي:

- بایبل دلته او په ګڼ شمېر نورو ځایونو کې د دې هڅه کوي چې ثابته کړي د بني اسرائیلو خدای د مصر له پولو تر فرات پورې دا ټوله سیمه دوی ته ورکړې، دلته وايي چې له ابراهیم علیه السلام سره خدای ژمنه وکړه چې د ده نسل به د ستورو تر شمېر هم زیات کړي او دا سیمه به د ده اولاد ته وسپاري!! دا د آسمان تر ستورو او د زمکې تر شګو د بني اسرائیلو د نسل د زیاتېدو مبالغه د بایبل په څو ځایونو کې مخې ته راځي، د بایبل

لیکوال په دې نه پوهېدو چې د بني اسرائیلو ټول شمېر (د یعقوب علیه السلام له پیدایښته تر قیامت پورې) به دومره هم نه شي لکه د آسمان د یوې وړې برخې د ستورو شمېر، که تاسو د بایبل دا خبره هغه چا ته وکړئ چې د ستورو په اړه تحقیق کوي او په دې پوهېږي چې په آسمان کې څومره ستور لیکې او په هر ستور لیکې کې څومره ستوري دي، هغه به درته ووایي چې د انسان له پیدایښته تر نن پورې د ټولو انسانانو شمېر د یوه ستور لیکې د ټولو ستورو د یوې وړې برخې په اندازه هم نه دئ او په آسمان کې نژدې دوه ټریلیون (دوه زره ملیارډ) ستور لیکې دي (نږدې لس کاله وړاندې دا شمېره یو سل شل ملیارډه ګڼل کېده خو په دې لسو کلونو کې او د مخکې تللو وسائلو په مرسته؛ د کشف شوو ستورلیکو شمېر دوه ټریلیون ته ورسېد)!! آیا ممکنه ده علیم خدای داسې له مبالغې ډکې او د حقیقت خلاف خبره وکړي او ووایي چې د ابراهیم علیه السلام د اولاد شمېر به د آسمان تر ستورو او د زمکې تر شګو هم زیات شي، داسې خبره خو یوازې یو شاعر کولی شي نه یو عالِم او محقق انسان!!

- خدای ابرام ته وایي چې قرباني وکړه، که ستا قرباني قبوله شوه نو باید مطمئن شې چې زما ژمنه حتماً تر سره کېږي، د قربانۍ د قبلېدو نښه دا ده چې د قربانۍ په غوښه به یوه لوخړه راشي، همداسې وشول.
- قرآن د بایبل دا ټولې خبرې ردوي، ستورو ته د کتلو په اړه د بایبل د وینا خلاف فرمایي چې دا په څوانۍ کې له خپل قوم سره د ابراهیم علیه السلام د مناقشې یوه صحنه وه، بتانو ته ئې وکتل او وئې ویل چې دا خو تاسو په خپلو لاسونو جوړ کړي؛ څنګه ئې خدایان ګڼئ؟! د آسمان ستورو، سپوږمۍ او لمر ته ئې ګوته ونیوله او وئې ویل: دا خو پرېوځي، زه پرېوتونکي په خدایۍ نه منم! د مرغانو د ذبح کولو په اړه فرمایي: ابراهیم علیه السلام دعاء وکړه: خدایه! ما ته راوښیه چې مړي څنګه بېرته راژوندي کوې، الله تعالی وفرمایل: آیا په بیا راژوندي کېدو باور نه لرې؟ وئې ویل: ولې به باور نه لرم، غواړم زړه مې ډاډه شي، الله تعالی وفرمایل: څلور مرغان راواخله، له ځان سره ئې روږدي کړه، بیا ځیني پر یوه، ځیني پر بل او ځیني پر بل غره کښېږده او بیا ورغږ کړه، چې خوا ته دې په منډه راشي، که دا مرغان ستا په یوې اشارې ستا خوا ته راځغلي، مړي به همداسې زما په یوې اشارې له قبرونو راپاځي او زما خوا ته به راځي.

بایبل د هغې قربانۍ په اړه چې خلك ئې خدای ته وړاندې کوي وایي: کومه قرباني چې خدای ئې قبوله کړي، لوخړه راشي او وئې سوزوي، همدا راز وایي: د دې قربانۍ په وینو به د معبد خاص خاص ځایونه سره کېږي، یوه برخه به د معبد په خاص ځای کې

سوزول کېږي، د غوښې تر ټولو خوندوري برخې به ئې د معبد مجاور کاهن (د دوی ملا) ته ورکول کېږي!! خو قرآن وايي چې خدای نه د دې قرباني وينو ته ضرورت لري او نه ئې غوښې ته، د خدای برخه فقیرانو ته ورکړئ، دا د کاهن نه بلکې د فقیرانو برخه ده: لکه چې فرمايي:

لَن يَنَالَ ٱللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلَٰكِن يَنَالُهُ ٱلتَّقْوَىٰ مِنكُمْ .... ﴿٣٧﴾ الحج

الله ته ئې نه غوښه رسي او نه ئې ويني، خو ستاسو تقوی وررسي.

همدا راز فرمايي:

... فَكُلُواْ مِنْهَا وَأَطْعِمُواْ ٱلْبَآئِسَ ٱلْفَقِيرَ ﴿٢٨﴾ الحج

... نو په خپله هم ترې وخورئ او پر بې وزلي فقير ئې هم وخورئ.

---

مَّثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِى كُلِّ سُنۢبُلَةٍ مِّاْئَةُ حَبَّةٍۗ وَٱللَّهُ يُضَٰعِفُ لِمَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦١﴾ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَآ أَنفَقُواْ مَنًّا وَلَآ أَذًى لَّهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٦٢﴾

[۲٦۱]- د هغو کسانو مثال چې خپل مالونه د الله په لار کې لګوي؛ هغې دانې ته ورته دئ چې اوه وږي راوټوکوي، په هر وږي کې سل دانې او الله چې چا ته وغواړي ورته مضاعف کوي ئې او الله ښه پوه د وسعت خاوند دئ. [۲٦۲]- همغه چې خپل مالونه د الله په لار کې لګوي او بيا په خپلو انفاق کړو مالونو پسې نه کړول کوي او نه منت بارول. دوی ته د خپل رب په خوا کې خپل اجر دئ، نه په دوی څه وېره شته او نه به غمجن شي.

---

(۲٦۱-۲٦۲)- څوك چې خپل مال د الله په لار کې لګوي، دا کار د ده پر زړه، دماغ او شخصيت ژوري اغېزې او اثرات پرېږدي، ډېر ناوړه او خراب صفات او عادات ئې په غوره صفاتو او عاداتو بدلوي، حرص، بخل، له مال سره افراطي مينه، کبر، د مال له کبله په بل د لويي احساس، بې وزله او نادار انسان ته په سپکه سترګه کتل او ډېر نور اخلاقي رذائل له منځه وړي او پر ځای ئې ترحم، زړه سوی، ايثار، قناعت، په حلال رزق اکتفاء او ډېرو نورو انساني ارزښتونو او اخلاقو ته وده ورکوي، په پورتني آيت کې د انفاق دا اثرات هومره

ژور او پراخ ګڼل شوي لکه یوه دانه چې اوه داسې وږي راشنه کړي چې په هر یوه کې ئې سل دانې وي او تر دې هم زیات، دا ځکه چې الله ښه پوه د وسعت خاوند دئ، په دې پوهېږي چې څوك د دې وړ دئ چې پر انفاق ئې تر دې هم زیاتې نتیجې مرتب کړي. خو په دې شرط چې له انفاق وروسته نه د هغو کسانو د کړولو او ځورولو باعث شي چې مرسته ئې ورسره کړې او نه منت پرې بار کړي، هغوی ته په سپکه سترګه ونه ګوري، تل خپله مرسته ورياده نه کړي، د دې انتظار ترې ونه لري چې د مرستو له کبله به د ده تر احسان لاندې وي او د ده لويي به مني. که څه هم ځينو مفسرينو د انفاق کوونکي پر ځای د دوی انفاق کړی مال له دغسې دانې سره تشبيه کړی او ويلي ئې دي چې د دوی مال او يا د دوی اجر به الله تعالی ورته څو څو ځله زيات کړي، خو نه يوازې د آيت په الفاظو کې د دې مجال نه تر سترګو کېږي، بلکې دا توجيه د آيت له وروستۍ برخې سره هم اړخ نه لګوي، که دلته د انفاق اجر مراد وی نو د آيت په پای کې به دا مطلب بيا نه تکرارېدو چې د دوی اجر له الله سره دئ، د آيت له الفاظو نه يوازې دا مطلب اخيستل کېږي چې په خپله منفق او انفاق کوونکی له دغسې دانې سره تشبيه شوی، (مثل الذين ينفقون) ويل شوي، نه (مثل ما انفقوا)، په دوو وروسته راتلونکو مثالونو کې به هم وګورئ چې دا مطلب په لا ډېر صراحت سره راغلی او په ډېر وضوح سره معلومېږي چې په دې مثالونو کې انفاق کوونکی تشبيه شوی نه د دوی انفاق، رياکار منفق له سختې تيږې سره او مخلص منفق د لوړې غونډۍ پر سر له سمسور باغ سره تشبيه شوی.

---

قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَآ أَذًى ۗ وَٱللَّهُ غَنِىٌّ حَلِيمٌ ﴿٢٦٣﴾

[۲٦۳]- غوره وينا او بخښنه تر هغې صدقې ډېره غوره ده چې کړول ورپسې وي او الله حليم غني دئ.

---

(۲٦۳)- تر هغې مرستې چې ځورول او منت ورپسې وي، يوه ښه وينا او د بل له اشتباهاتو تېرېدل ډېر غوره دئ.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُبْطِلُوا۟ صَدَقَٰتِكُم بِٱلْمَنِّ وَٱلْأَذَىٰ كَٱلَّذِى يُنفِقُ
مَالَهُۥ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۖ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ
عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُۥ وَابِلٌ فَتَرَكَهُۥ صَلْدًا ۖ لَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَىْءٍ مِّمَّا كَسَبُوا۟ ۗ

وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِى ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٢٦٤﴾

[٢٦٤]- اې مؤمنانو! خپل صدقات په منت او اذیت سره مه باطلوئ، د هغه چا په څېر چې خپل مال خلکو ته د ځان ښودنې لپاره انفاق کوي، په داسې حال کې چې پر الله او د آخرت پر ورځې ایمان نه لري. نو د ده مثال هغې ښویې تیږې ته ورته دئ چې څه خاوره ورباندې پرته وي او داسې زوروර باران پرې وشي چې صفا او ښویه ئې کړي، د خپلو لاسته راوړنو د هیڅ څه په تر لاسه کولو به نه توانېږي او الله داسې کافر قوم نه هدایت کوي.

(٢٦٤)- دلته هغه د مال انفاق کوونکی چې انفاق ئې پر الله او آخرت له ایمان نه دئ راولاړ شوی، بلکې د ځان ښودنې لپاره انفاق کوي، له هغې ښویې سختې تیږې سره تشبیه شوی چې پر سر ئې لږ غوندې خاوره پرته وي، ظاهر ئې داسې بریښي چې سمسوره زمکه او د کښت لپاره جوګه وي، خو چې تېز باران پرې راشي، خاوره ئې له ځان سره یوسي او حقیقت ئې راڅرګند شي، دا ریاکار منفق هم دغسې وي، له انفاق ئې خلك داسې انګېري چې په زړه کې به ئې ترحم او عاطفه وي، انفاق به ئې د ایمان او عقیدې په حکم وي، خو ډېر ژر ئې اصلي څېره بربنډه شي، د زړه اصلي کیفیت ئې په هغه کړولو او منت بارولو کې راڅرګند شي چې له انفاق وروسته ئې خلك د ده په چلن کې ګوري. داسې کافران له الهي هدایت محروم دي، له انفاق چې د څه تر لاسه کولو طمع لري هغه به هم تر لاسه نه کړي. له دې مثال هم په ډاګه معلومېږي چې په لومړي مثال کې هم تشبیه د منفق په اړه ده، نه د ده د انفاق شوي مال په اړه.

وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِ وَتَثۡبِيتٗا مِّنۡ أَنفُسِهِمۡ كَمَثَلِ جَنَّةِۭ بِرَبۡوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٞ فَـَٔاتَتۡ أُكُلَهَا ضِعۡفَيۡنِ فَإِن لَّمۡ يُصِبۡهَا وَابِلٞ فَطَلّٞۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٦٥﴾

[٢٦٥]- او مثال د هغو چې خپل مالونه د الله د رضاء په لټه کې او د خپل نفسي ثبات په وجه انفاق کوي، د یوې لوړې زمکې پر سر یوه باغ ته ورته دئ چې که زوروර باران ئې په برخه شي نو دوه برابره مېوه ورکړي او که زوروර باران ورونه رسېږي نو پرخه؛ او الله ستاسو د کړنو ښه لیدونکی دئ.

(٢٦٥)- هغه چې انفاق ئې د الله د رضاء تر لاسه کولو لپاره وي او پوخ ایمان ئې انفاق ته

هڅوي، مثال ئې هغه باغ ته ورته دئ چي په لوړي زمکي راشين شوی وي، د ونو جرړي ئې د لوړي زمکي په پربړی خاوري کي ژوري ننوتې وي، که تېز باران ئې په برخه شي نو دوه برابره حاصل ورکړي او که تېز باران نه وو نو نرم باران او پرخه هم ورته کافي وي.

أَيَوَدُّ أَحَدُكُمۡ أَن تَكُونَ لَهُۥ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعۡنَابٍ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ لَهُۥ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَأَصَابَهُ ٱلۡكِبَرُ وَلَهُۥ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ فَأَصَابَهَآ إِعۡصَارٌ فِيهِ نَارٌ فَٱحۡتَرَقَتۡۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٦٦﴾

[٢٦٦]- آيا ستاسو کوم يو دا خوښوي چي د کجورو او انگورو داسي باغ دې وي چي ويالې ترې لاندي بهېږي او په هغه کي ده ته هر ډول (نوري) مېوې هم وي او ده ته زوړوالی رسېدلی وي او کمزوري زامن ئې وي، خو ناڅاپه ئې باغ ته داسي سخته سیلۍ ورسېږي چي په کي اور وي او باغ ئې وسوزي، الله دغسي آيتونه درته بيانوي چي تفکر وکړئ.

(٢٦٦)- په خپل لاس، په رياء، منت او د مسکين په کړولو سره د خپلو نېکو عملونو او انفاق جوړ هغه باغ مه سوزوئ چي په سختي ورځي به ورته سخت اړ وئ، که نه نو مثال به مو دغه کس ته ورته وي چي د احتياج په ورځي ئې باغ په اورنۍ سيلۍ وسوزېدو.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبۡتُمۡ وَمِمَّآ أَخۡرَجۡنَا لَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِۖ وَلَا تَيَمَّمُواْ ٱلۡخَبِيثَ مِنۡهُ تُنفِقُونَ وَلَسۡتُم بِـَٔاخِذِيهِ إِلَّآ أَن تُغۡمِضُواْ فِيهِۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٢٦٧﴾

[٢٦٧]- اې مؤمنانو! له خپلو لاس ته راوړو شيانو او له هغه چي موږ له زمکي درته راايستلي؛ پاکيزه پاکيزه ئې انفاق کړئ او د هغه ناپاکو قصد ئې مه کوئ چي بل ته ئې ورکوئ خو په خپله ئې اخيستونکي نه يئ؛ مگر دا چي سترگي پرې پټې کړئ؛ او په دې پوه شئ چي الله ستايلی غني دئ.

(٢٦٧)- د الله په لار کي د خپل حلال مال پاکيزه شيان انفاق کړئ، نه هغه ردي او ناپاك

شیان چي که بل ئې تاسو ته درکړي نه ئې اخلئ مګر دا چي سترګي پرې پټې کړئ، الله ستاسو انفاق ته اړ نه دئ، هغه غني دئ، الله له دې لوړ دئ چي داسي ردي او ناپاك شیان قبول کړي.

ٱلشَّيۡطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلۡفَقۡرَ وَيَأۡمُرُكُم بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ وَٱللَّهُ يَعِدُكُم مَّغۡفِرَةٗ مِّنۡهُ وَفَضۡلٗاۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ﴿٢٦٨﴾

[۲٦۸]- شیطان د فقر وعده درکوي او په فحشاء مو ګماري او الله د خپل مغفرت او پېرزویني وعده درکوي او الله ښه پوه د وسعت خاوند دئ.

(۲٦۸)- شیطان مو له خوارۍ او فقر وېروي، په بخل مو ګماري او همدا درته ښایسته کوي، خو الله تعالی تاسو انفاق ته رابلي، د انفاق په بدله کي د مغفرت او بخښني او د خپلي پراخي پېرزویني وعده درکوي، الله پوهېږي چي څوك د شیطاني القاءاتو تر تأثیر او اغېز لاندي درومي، له فقر وېرېږي او له انفاق ډډه کوي او څوك د الله بلني ته لبیك وایي او په انفاق سره د ده د مغفرت او فضل تر لاسه کول غواړي.

يُؤۡتِي ٱلۡحِكۡمَةَ مَن يَشَآءُۚ وَمَن يُؤۡتَ ٱلۡحِكۡمَةَ فَقَدۡ أُوتِيَ خَيۡرٗا كَثِيرٗاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٢٦٩﴾

[۲٦۹]- چا ته چي وغواړي حکمت ورکوي او چا ته چي حکمت ورکړی شو؛ نو هغه ته یقیناً چي ډېره ښېګڼه ورکړی شوه او له عقلمنو پرته بل څوك پند نه اخلي.
(۲٦۹)- د حکمت خاوند همغه دئ چي د الله بلني ته لبیك وایي، د الله د مغفرت او فضل په لټه کي وي او د همدې لپاره خپل مال د الله په لار کي لګوي؛ چا ته چي دا حکمت ورکړ شي په حقیقت کي ئې ستر خیر او ښېګڼه په برخه شوې.

وَمَآ أَنفَقۡتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوۡ نَذَرۡتُم مِّن نَّذۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُهُۥۗ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٍ ﴿٢٧٠﴾

[۲۷۰]- او تاسو چي کوم څه انفاق کړي دي او په ځان منلی کوم نذر مو تر سره کړی دئ، نو الله پرې پوهېږي او د ظالمانو هیڅ مرستندوی نشته.

(۲۷۰)_ کوم نذر چې تاسو پر ځان منئ او کومه صدقه چې تاسو ورکوئ، که دا کمه وي که زياته، په ښه نيت وي او که په بد نيت، له حلال مال وي که له حرام؛ الله پرې پوهېږي؛ که د انفاق او نذر په اړه په غلطه لار ولاړئ او ظلم او تېرى درنه وشو؛ نو په دې پوه شئ چې ظالمان هيڅ مرستندوى نه شي موندلى. د کوم ښه او جائز کار د تر سره کېدو په طمع او د الله په نامه څه نذر په ځان منل جائز دئ؛ خو دې ته مو پام وي چې پيغمبر عليه السلام د نذر په اړه فرمايلي: په نذر سره الله تعالى له بخيل انسان څه راباسي. دا هغه بخيل دئ چې د الله د رضاء لپاره او له کوم شرط پرته انفاق ته تيار نه وي، د کوم حاجت تر سره کېدو لپاره پر ځان نذر مني او وايي: که مي دا حاجت تر سره شو؛ نو دا او دا به انفاق کړم.

عن عبد الله بِنِ عُمَر رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا؛ يَقُولُ: قال النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ النَّذْرَ لاَ يُقَدِّمُ شَيْئًا وَلاَ يُؤَخِّرُ، وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِالنَّذْرِ مِنَ البَخِيلِ». مسند احمد

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: يقيناً چې نذر نه څه راوړاندې کولى شي او نه څه ځنډولى شي؛ او خبره فقط دا ده چې په نذر سره له بخيل څه راايستل کېږي.

إِن تُبْدُواْ ٱلصَّدَقَٰتِ فَنِعِمَّا هِىَ ۖ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا ٱلْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّـَٔاتِكُمْ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٧١﴾

[۲۷۱]- که صدقات په ښکاره ورکړئ نو دا هم ښه کار دئ او که ئې پټ کړئ او فقيرانو ته ئې ورکړئ؛ نو دا درته غوره دئ او (په دې سره به الله تعالى) ستاسو ځيني سيئات ختم کړي او الله ستاسو له کړنو ښه خبر دئ.

(۲۷۱)_ ستاسو معامله له هغه الله سره ده چې له هر څه خبر او په هر څه پوهېږي؛ کوم څه چې تاسو د دې لپاره په پټه کوم مسکين او فقير ته ورکوئ چې د هغه عزت خوندي پاته شي او ستا په انفاق کې د رياء او ځان ښودنې څه شائبه راولاړه نه شي؛ نو په دې سره به الله تعالى ستا ځيني سيئات تکفير کړي، ستا ځيني بد خويونه، بد اخلاق، بد عادات او بدي کړنې به له منځه يوسي، د تغفير الذنوب معنى د ګناهونو بخښنه ده او د تکفير السيئات معنى د بدو اخلاقو ازاله ده؛ په انفاق سره د بخل او حرص په څېر د انسان ډېر ناوړه اخلاق اصلاح کېږي. ته بايد ډاډه وې چې ستا په هر نذر او انفاق او نيت دې؛ خبير خداى پوهېږي.

لَّيۡسَ عَلَيۡكَ هُدَىٰهُمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يَشَآءُۗ وَمَا تُنفِقُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَلِأَنفُسِكُمۡۚ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ ٱللَّهِۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِنۡ خَيۡرٖ يُوَفَّ إِلَيۡكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ ﴿٢٧٢﴾

[۲۷۲]- پر تا د دوی هدایت کول نه دي فرض شوي او دا خو الله دئ چي ځوك وغواړي هدایت کوي ئې؛ او له مال چي څه انفاق کړئ نو دا په خپله ستاسو (په ګټه) دئ او تاسو خو د الله له رضاء لټولو پرته د بل څه لپاره انفاق نه کوئ؛ او له مال چي څه هم تاسو انفاق کړئ؛ پوره به (بېرته) درکړی شي او پر تاسو به ظلم ونشي.

(۲۷۲)- دا ستاسو ذمه واري نه ده چي ځوك په سمه لار برابر کړئ، دا ستاسو نه بلکې د الله کار دئ چي وګوري ځوك په سمه لار د تلو وړتيا لري چي دا توفيق ئې په برخه کړي، مبادا د دې لپاره له يوه مسکين او محتاج انسان خپله مرسته وسپموئ چي ولې ئې ايمان نه دئ راوړی او نه دئ هدايت شوی، د هر انفاق ګټه تر بل د مخه په خپله تاسو ته رسي، تاسو په انفاق سره د الله رضاء لټوئ او ثواب ئې په مکمله توګه تاسو ته درکول کېږي.

لِلۡفُقَرَآءِ ٱلَّذِينَ أُحۡصِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا يَسۡتَطِيعُونَ ضَرۡبٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ يَحۡسَبُهُمُ ٱلۡجَاهِلُ أَغۡنِيَآءَ مِنَ ٱلتَّعَفُّفِ تَعۡرِفُهُم بِسِيمَٰهُمۡ لَا يَسۡـَٔلُونَ ٱلنَّاسَ إِلۡحَافٗاۗ وَمَا تُنفِقُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ﴿٢٧٣﴾

[۲۷۳]- هغو فقيرانو ته دي وي چي د الله په لار کې مصروف کړی شوي، په وس کې ئې نه ده چي په زمکه کې سفر وکړي، د عفاف (او نه سؤال کولو) په وجه ئې جاهل او ناپوه انسان غنيان ګڼي، له څېرو به ئې وپېژنې، له خلکو په ټينګار سره څه نه غواړي او تاسو چي هر څه انفاق کړئ؛ الله پرې ښه پوه دئ.

(۲۷۳)- د مرستي اصلي مستحق کسان هغه مجاهدين دي چي د الله په لار کې ئې ځان وقف کړی، له بل هر مصروفيت ئې لاس اخيستی، شپه ورځ ئې د دين په خدمت کې وي، د تجارت او مال دولت ګټلو لپاره ئې سفرونه کول پرېښې، که څه هم محتاج وي خو لوړ همت ئې دې ته نه پرېږدي چي چا ته لاس اوږد کړي او مرسته ترې وغواړي، د دوی ځان

ساتني، قناعت او عفاف ته په پام سره ناپوه کسان په دوی د غنیانو او شتمنو گمان کوي، له څېرې به ئې وپېژنې، د لوړې د نښو په څنګ کې به د دوی په څېرو کې ټولې پورتنۍ نښې وګورې، که هر څومره اړ وي له چا په الحاح، ټینګار او تأکید سره څه نه غواړي. له محتاج کافر سره هم مرسته کولی شئ، خو د مرستې اصلي مستحق کسان دغه دي.

ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ
وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٤﴾ ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ
إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِى يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيْطَٰنُ مِنَ ٱلْمَسِّ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوٓاْ إِنَّمَا
ٱلْبَيْعُ مِثْلُ ٱلرِّبَوٰاْ ۗ وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلْبَيْعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْ ۚ فَمَن جَآءَهُۥ مَوْعِظَةٌ مِّن
رَّبِّهِۦ فَٱنتَهَىٰ فَلَهُۥ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ ۖ وَمَنْ عَادَ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ
ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٧٥﴾

[۲۷٤]- هغه چې خپل مالونه شپه او ورځ، په پټه او ښکاره انفاق کوي نو د دوی اجر له خپل رب سره دئ، نه پر دوی څه وېره شته او نه به غمجن شي. [۲۷۵]- هغه چې سود خوري نه پاځي مګر د هغه چا د پاڅېدو په څېر چې شیطان په مس (لاس راښکلو) سره د ده حواس خراب کړي وي، دا له دې کبله چې وايي: بیع خو هم د سود په څېر ده! حال دا چې الله بیع حلاله کړې او سود ئې حرام کړی، نو چا ته چې د خپل رب له لوري موعظه راغله، نو ډډه ئې وکړه، ده ته همغه پخوا تېر شوی دئ او کار ئې الله ته (محول) دئ او څوك چې بیا وروګرځېدو نو دوی دوزخیان دي؛ په هغه کې تلپاته.

(۲۷٤-۲۷۵)- څوك چې خپل مالونه شپه او ورځ، په پټه او ښکاره انفاق کوي؛ اجر ئې له خپل رب سره دئ، نه پر دوی څه وېره شته او نه به غمجن شي، خو څوك چې سود خوري؛ هغه په حقیقت کې یو مخبوط الحواس انسان دئ چې شیطان ئې حواس ګډ وډ کړي، له مال سره افراطي مینې او د زیات مال د تر لاسه کولو شدید حرص؛ د جنون او لېونتوب حد ته رسولی، د ده له کاږه نظره بیع د سود په څېر ده، د ده ذهن د شیطانی القاءاتو تر اغېز لاندې دئ، په ذهن ئې شیطان سپور دئ، له همدې کبله وايي چې په بیع او تجارت کې هم یو له بل ګټه تر لاسه کېږي، نو که په سود کې همدا کار کېږي ولې باید

حرام وګڼل شي؟! شیطاني استدلال همداسي وي، ژور توپیرونه له پامه غورځول او شکلي ورته والي ته ګوته نیول او په هغه استناد کول؛ د شیطان او د هغه تر اغېز لاندي انسانانو خصلت دئ. هر سلیم العقله انسان پوهېږي چي په سود کي د یوه بې وزلي انسان له مجبوریت ګټه اخیستل کېږي، یوې خوا ته ئې د پانګي خاوند دئ چي له کوم کار پرته یقیني او حتمي ګټه تر لاسه کوي او بلي خوا ته ئې یو مجبور بې وسه انسان دئ چي دې معاملې ته د مجبوریتونو په سبب اړ شوی، له تاوان پرته ئې بل څه نه په برخه کېږي، څه چي په سود تر لاسه کوي یا به ئې په خپلو ضروري اړتیاوو لګوي او یا به ئې په داسي کار چي خولې د ده په کي توی شي او ګټه ئې د سود خور په جیب کي پرېوځي. سود د هغه پانګوال نظام بنیادي اړخ دئ چي خلك په کي په دوو ډلو وېشل شوي وي؛ یوې خوا ته د ټولني د ټولو شتمنیو خاوندان او بلي خوا ته هغه نادار او بې وزلي انسانان چي د دغو شتمنو لپاره باید شپه ورځ کار وکړي او د خپلو تنباکو او خولو په بیع تر لاسه کړی عاید د شتمنو مخي ته کښېږدي. په دې نظام کي شتمن حاکم دئ او واکمني د شتمنو په لاس کي او نظام او ټول فردي او اجتماعي قوانین او مناسبات ئې د شتمنو په خدمت کي. پانګوال نظام له سود پرته نه شي چلېدی، د امریکا اوسنی نظام د دې ښه بېلګه ده؛ هلته د سترو سترو شرکتونو او کمپنیو خاوندان او د پراخو زمکو مالکان؛ پر امریکا او پر ټولو زېرمو ئې حکومت کوي، د هېواد په سلو کي نوي شتمنۍ په سلو کي د پنځو شتمنو په لاس کي دي، له دغو شتمنو پرته او د دوی له خوښي پرته نه څوك د هېواد جمهور رئیس کېدی شي، نه د کوم ایالت ګورنر، نه د کانګریس او پارلمان غړی. د ملګرو ملتونو د ۱۳۸۳کال راپور وایي چي د امریکا ۳٤ ملیونه وګړي په فقر کي ژوند کوي، یعني په هرو اوه امریکایانو کي یو په فقر کي ژوند کوي، کار، روزګار او معاش نه لري، دا په داسي حال کي چي امریکا د نړۍ ډېر هېوادونه له اقتصادي پلوه په خپلي استعماري ولکې کي نیولي او هر کال له دغو مستعمراتو په ملیاردونو ډالر تر لاسه کوي؛ کله دلته او کله هلته د جګړو اور بل کړي او په دې سره له یوې خوا د خپلو وسلو لپاره د خرڅلاو بازار پیدا کړي او له بلي خوا په دغو جنګ ځپلو هېوادونو کي د ډار، وېري او بې امنیۍ داسي حالت راپیدا کړي چي شتمن واکمنان، تاجران او بډایان ئې له خپل هېواد د خپلو شتمنیو ایستلو او د امریکا بانکونو ته په انتقال مجبور شي، د امریکا د ډېرو بانکونو د پانګو یوه لویه برخه په هغو شتمنیو شامله ده چي عربي شیخانو ورانتقال کړې.

دې ته مو باید پام وي چي د پورتني آیت د دې برخي (يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيْطَٰنُ مِنَ ٱلْمَسِّ) معنی دا نه ده چي کوم مجسم یا غیر مجسم شیطان پرې لاس راکاږي او یا د عوامو په

اصطلاح پیریان وربانديې کښېني او په دې کښېناستو یا لاس راکښو سره ئې پیریاني کوي!! بلکې په دې سره د شیطان تلقین او د انسان په زړه او دماغ د هغه اغېز ته اشاره شوې؛ قرآن په بل ځای کې په همدې ارتباط او د متقي مؤمنانو په اړه فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْاْ إِذَا مَسَّهُمْ طَٰٓئِفٌ مِّنَ ٱلشَّيْطَٰنِ تَذَكَّرُواْ فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ ﴿٢٠١﴾ الاعراف

یقیناً هغه چې تقوی ئې کړې؛ کله چې ئې د شیطانانو کوم طائف (چورلېدونکی)؛ مس کړي (کوم شیطاني تلقین ورته وکړي)؛ سملاسی متوجه شي، نو هغه وخت ئې بصیرت په برخه (او د خپلې لارې د پېژندو وړ) شي.

چا چې د سود په اړه د الله حکم واورېدو او له هغه وروسته ئې لاس ترې واخیست، په مخکیني اخیستي سود به بسنه کوي، له خپلو پوروړو به یوازې خپل اصلي پور تر لاسه کوي؛ نه سود ئې او کار ئې الله ته محول شوی، هیله ده الله ورته عفو وکړي، خو څوك چې د سود له تحریم وروسته بیاهم سودي معاملاتو ته پناه وړي، دوی دوزخیان دي، تل به په دوزخ کې پاته وي. د آیت له وروستۍ برخې معلومېږي چې سود څومره ستره ګناه ده؟

يَمْحَقُ ٱللَّهُ ٱلرِّبَوٰاْ وَيُرْبِي ٱلصَّدَقَٰتِۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴿٢٧٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٧﴾

[۲۷٦]- الله سود تباه کوي او صدقاتو ته وده ورکوي او الله هیڅ ګناهګار کافر نه خوښوي. [۲۷۷]- بې شکه هغه چې ایمان ئې راوړی، نېك عملونه ئې کړي، لمونځ ئې اداء کړی او زکات ئې ورکړی؛ دوی ته خپل اجر دئ؛ د خپل رب خوا کې، نه پر دوی څه وېره شته او نه به غمجن شي.

(۲۷٦-۲۷۷)- سود د تباهۍ ذریعه ده او صدقه د ودې او پراخوالي باعث، په سود سره هم ګټه تباه کېږي او هم اصلي پانګه؛ او په صدقې سره به هم ستاسو په شتمنیو کې الله برکت اچوي او هم په صدقاتو او په اجر او ثواب کې ئې. سود د سخت زړو کافرانو او سختو ګناهګارانو کار دئ؛ ځان ترې وساتئ چې الله ئې نه خوښوي. د دوی په مقابل کې هغه کسان چې ایمان راوړي، صالح عملونه کوي، لمونځ کوي او د سود خوړلو پر ځای زکات ورکوي؛ الله د دوی اجر تضمین کړی، نه وېره پرې شته او نه به غمجن شي.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓاْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾
فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ فَأْذَنُواْ بِحَرْبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ۖ وَإِن تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ
أَمْوَٰلِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٩﴾ وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ
مَيْسَرَةٍ ۚ وَأَن تَصَدَّقُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٨٠﴾ وَٱتَّقُواْ يَوْمًا تُرْجَعُونَ
فِيهِ إِلَى ٱللَّهِ ۖ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٨١﴾

[۲۷۸]- اې مؤمنانو! له الله ووېرېږئ او پاته سود پرېږدئ؛ که ايمان لرئ. [۲]- او که دا کار ونکړئ نو د الله او پيغمبر يوې جګړې ته تيار شئ او که مو توبه وکړه؛ نو بيا تاسو ته ستاسو رأس المال (لومړنی له سود پرته مال) دئ، مه تاسو ظلم کوئ او نه دې پر تاسو ظلم کېږي. [۲۸۰]- او که (پوروړی) له تنګسې سره مخ وو نو بيا تر پراخۍ انتظار کول دي او که ئې وبخښئ ډېر درته غوره دئ؛ که وپوهېږئ. [۲۸۱]- او له هغي ورځي ووېرېږئ چي الله ته په کي ورګرځئ؛ چي بيا به هر چا ته خپلې لاسته راوړني پوره ورکړی شي او ظلم به پرې نه کېږي.

(۲۷۸-۲۸۱)- که ايمان لرئ نو له سود ډډه وکړئ، سود خوړل د ايمان خلاف کار دئ او له الله او پيغمبر سره د جګړي مترادف دئ، سود خوړونکي دي له الله او پيغمبر سره جګړي ته تيار شي، کوم نظام چي په سود ولاړ وي له الله باغي نظام دئ. له دې مبارکو آيتونو دا مطلب په ځرګنده معلومېږي چي الله تعالی به په سود متکي نظامونه هرو مرو له جګړو سره مخامخ کوي. په سود ولاړه ټولنه به ورو ورو هغي مرحلې ته ورسېږي چي ثروت د ځو معدودو شتمنو په لاس کي پرېوځي او د ټولني اکثريت له مسکنت، فقر او لوږي سره مخامخ شي، شتمن ورځ په ورځ مزيد شتمن شي او نادار نور هم نادار، دغه حالت په دې دواړو طبقو کي د کينې، کرکي او نفرت داسي حالت راپيدا کوي چي محرومه طبقه د شتمنو په ضد وسلې ته له لاس کولو پرته بله لار نه ګوري، د جګړو اور بل شي او دا د عليم او حکيم خدای د دغي وينا مصداق دئ چي سود خور دي د الله او پيغمبر له لوري جګړي ته چمتو شي. له دې مبارك آيت دا هم معلومېږي چي که سودخورو له سود خوړلو لاس وانخيست؛ اسلامي حکومت مکلف دئ د دوی په ضد جګړه اعلان کړي.

سود په اصل کي د يوه مجبور انسان له مجبوريت ناروا ګټه اخيستل دي، په قرض سره د جنس په مقابل کي زيات جنس او د پيسو په مقابل کي زياتي پيسې اخيستل سود دئ. خو

که سود خور حیله وکړي، د پیسو پر ځای جنس ورکړي، مدیون او پوروړي ته ووایي چې پیسې نه شم درکولی، جنس درکولی شم، د جنس بیع په نقده لس افغانۍ ده خو په قرض ئې تر راتلونکي کال پوري په دولس افغانۍ درکوم، پوروړی پیسو ته ضرورت لري، جنس به له ده اخلي په بل به ئې خرڅوي او له هغه به پیسې جوړوي او قرض ورکوونکی د نقدو پیسو پر ځای جنس ورکوي، په ظاهر کې خو معامله داسې برېښي چې جنس په پور ورکول شوی خو په حقیقت کې د معاملې یوه لوري پیسې په سود اخیستې او بل په سود ورکړې. ډېر سودخواره همداسې کوي، ګمان کوي چې په دې سره ئې هم سود تر لاسه کړی او هم له ګناه خوندي پاته شوی!! ځینو دا فتوی ورکړې او په دې سره ئې د سودخورو مشکل حل کړی او د حرام سود پر ځای ئې حلال سود ورته ښودلی. حاشا و کلا چې په داسې حیله دې حرام سود حلال وګرځي، د حلال او حرام پرېکړه د شکلیاتو له مخې نه کېږي، د معاملې د کُنه او حقیقت له مخې او انسان ته د ګټې او تاوان له مخې کېږي، یوه حرام کار ته د حلال بڼه ورکول او ظاهر ئې د حلال په څېر ګرځول، هیڅکله هغه نه شي حلالولی.

---

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيۡنٍ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى فَٱكۡتُبُوهُۚ وَلۡيَكۡتُب بَّيۡنَكُمۡ كَاتِبُۢ بِٱلۡعَدۡلِۚ وَلَا يَأۡبَ كَاتِبٌ أَن يَكۡتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ ٱللَّهُۚ فَلۡيَكۡتُبۡ وَلۡيُمۡلِلِ ٱلَّذِي عَلَيۡهِ ٱلۡحَقُّ وَلۡيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ وَلَا يَبۡخَسۡ مِنۡهُ شَيۡـٔٗاۚ فَإِن كَانَ ٱلَّذِي عَلَيۡهِ ٱلۡحَقُّ سَفِيهًا أَوۡ ضَعِيفًا أَوۡ لَا يَسۡتَطِيعُ أَن يُمِلَّ هُوَ فَلۡيُمۡلِلۡ وَلِيُّهُۥ بِٱلۡعَدۡلِۚ وَٱسۡتَشۡهِدُواْ شَهِيدَيۡنِ مِن رِّجَالِكُمۡۖ فَإِن لَّمۡ يَكُونَا رَجُلَيۡنِ فَرَجُلٞ وَٱمۡرَأَتَانِ مِمَّن تَرۡضَوۡنَ مِنَ ٱلشُّهَدَآءِ أَن تَضِلَّ إِحۡدَىٰهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحۡدَىٰهُمَا ٱلۡأُخۡرَىٰۚ وَلَا يَأۡبَ ٱلشُّهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُواْۚ وَلَا تَسۡـَٔمُوٓاْ أَن تَكۡتُبُوهُ صَغِيرًا أَوۡ كَبِيرًا إِلَىٰٓ أَجَلِهِۦۚ ذَٰلِكُمۡ أَقۡسَطُ عِندَ ٱللَّهِ وَأَقۡوَمُ لِلشَّهَٰدَةِ وَأَدۡنَىٰٓ أَلَّا تَرۡتَابُوٓاْ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً حَاضِرَةٗ تُدِيرُونَهَا بَيۡنَكُمۡ فَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَلَّا تَكۡتُبُوهَاۗ وَأَشۡهِدُوٓاْ إِذَا تَبَايَعۡتُمۡۚ وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٞ وَلَا شَهِيدٞۚ وَإِن تَفۡعَلُواْ

فَإِنَّهُۥ فُسُوقُۢ بِكُمۡۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱللَّهُۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿٢٨٢﴾
وَإِن كُنتُمۡ عَلَىٰ سَفَرٖ وَلَمۡ تَجِدُواْ كَاتِبٗا فَرِهَٰنٞ مَّقۡبُوضَةٞۖ فَإِنۡ أَمِنَ بَعۡضُكُم
بَعۡضٗا فَلۡيُؤَدِّ ٱلَّذِي ٱؤۡتُمِنَ أَمَٰنَتَهُۥ وَلۡيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥۗ وَلَا تَكۡتُمُواْ ٱلشَّهَٰدَةَۚ
وَمَن يَكۡتُمۡهَا فَإِنَّهُۥٓ ءَاثِمٞ قَلۡبُهُۥۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ ﴿٢٨٣﴾

[۲۸۲]- اې مؤمنانو! کله چي په خپلو کي تر يوې نېټې د پور راکړه ورکړه کوئ؛ نو وئې ليکئ؛ کوم ليکونکی دي هغه په عدل سره ستاسو تر منځ وليکي او ليکونکی دي له ليکلو ډډه نه کوي؛ لکه څنګه چي الله ورښودلي همغسي ئې بايد وليکي او هغه څوك دي املاء وکړي (د ليك مطلب دي په خوله بيان کړي) چي حق (پور) ورباندي دئ او له خپل رب دي ووېرېږي او هيڅ څه دي نه ترې کموي او که هغه څوك چي حقورباندي دئ ناپوه يا ضعيف وو او يا ئې املاء نه شوی کولی؛ نو د ده ولي دي عادلانه اقرار وکړي او له خپلو نارينه وو د شهادت لپاره دوه شاهدان ونيسئ؛ خو که دوه سړي نه وو نو ستاسي د خوښي له شاهدانو دي يو سړی او دوه ښځي وي چي که له دوی دواړو يوې خېره هېره کړه؛ بله به ئې ور په ياد کړي او کله چي شاهدان (د شهادت لپاره) وبلل شي؛ ډډه دي نه کوي او په دې کي اهمال مه کوئ چي تر خپلي خاصي نېټې يو پور وليکئ؛ لږ وي که ډېر؛ دا (ليکل) مو د الله په نزد کي ډېر عادلانه دئ او د شهادت مضبوطوونکی او دې ته ډېر نژدې چي په خپلو کي شك ونکړئ؛ مګر دا چي هغه حضوري او مخامخ تجارت وي چي په خپلو کي ئې لاس په لاس کوئ؛ نو بيا پر تاسو د دې ګناه نشته چي وئې نه ليکئ او کله چي مو په خپلو کي بيع کوله نو شاهدان ونيسئ؛ نه به ليکونکي ته تاوان رسول کېږي او نه شاهد ته او که مو داسي وکړل نو دا به ستاسو فسق او ګناه شمېرلی شي او له الله ووېرېږئ او الله خو تاسو ته ښوونه کوي او الله خو په هر څه ښه پوه دئ. [۲۸۳]- او که په سفر کي وئ او کوم کاتب مو ونه موندو؛ نو بيا مقبوضه رهن (ګرو تر لاسه کول) دي او که ستاسو ځينو ځيني نور امين وګڼل (او اعتبار ئې پرې وکړ) نو امين ګڼل شوی دي د هغه امانت بېرته ورکړي او له خپل رب دي ووېرېږي؛ او شهادتونه مه پټوئ او چا چي پټ کړ نو بې شکه چي زړه ئې ګنهګار دئ او الله په هر هغه څه ښه پوه دئ چي تاسو ئې کوئ.

(۲۸۲)- په دې مبارکو آيتونو کي څو مهم او بارز ټکي د خاصي پاملرني او توجه وړ دي:

- سود حرام کړی شوی، د پور په بدل کې له چا ګټه تر لاسه کول منع دي؛ د دې پر ځای یوه بل ته بې سوده پور ورکړئ.
- د پور په ورکړه راکړه کې باید ټول هغه ضروري تدابیر مراعات شي چې د شخړو، لانجو، اختلاف، د یوه بل کړولو او د چا د حق تلف کېدو باعث کېږي، د پور مقدار او نېټه به لیکئ، املاء به د پوروړي لخوا وي، که هغه له دې عاجز وو؛ نو وکیل او ولي به ئې دا کار کوي، کاتب به ئې په دقت، احتیاط او عدالت سره لیکي، د هیچا پلوي به نه کوي، شاهدان به په منځ کې وي، غوره دا ده چې دواړه شاهدان نارینه وي، خو که دا ممکنه نه وه نو د طرفینو په موافقه دې یو نارینه او دوه ښځې غوره شي، دا هم یوازې د دې لپاره چې که یوه ښځه خبره هېره کړي بله ئې ورپه یاد کړي، که مخامخ او لاس په لاس تجارت وو نو شاهد ونیسئ، که د سفر حالت وو، نه کاتب وو او نه شاهد، نو رهن او ګرو اخیستی شئ، خو که یوه پر بل باور وکړ او له رهن پرته ئې پور ورکړ، پوروړی دې له الله ووېرېږي او امانت دې په خپل وخت مسترد کړي.

(۲۸۳)- دلته د رهن صورت بیان شوی، که په سفر کې، د کاتب د نه شتون په صورت کې چا ته د پور ورکولو ضرورت احساس شو، قرض ورکړئ؛ له پوروړي کوم څه په امانت واخلئ؛ د تضمین لپاره، کله چې ئې پور اداء کړ؛ امانت ئې مسترد کړئ. د آیت له الفاظو داسې معلومېږي چې رهن په سفر او د شاهد او کاتب د نه شتون حالت پورې مربوط سپارښتنه ده؛ داسې چې پور ورکوونکې باید دا ومني چې یوازې په دغه حالت کې له پوروړي ګرو تر لاسه کړي؛ نه په نورو حالتونو او د شاهد او کاتب په شتون کې؛ خو که هغه د پوروړي له مجبوریت او اړتیا په استفادې سره؛ داسې څه ترې اخستل غواړي چې کولی شي له هغه ګټه تر لاسه کړي؛ نو بیا دا معامله جواز نه لري.

متأسفانه له دې جواز هم سود خورو د سود لپاره حیله جوړه کړې؛ په داسې حال کې چې رهن یو امانت دئ او له هغه ګټه اخیستل جائز نه دي، له هغه ګټه اخیستل سود ته ورته کار دئ، سود خور له دې همغه ګټه تر لاسه کوي چې د نقدو پیسو په ورکولو ئې تر لاسه کوي؛ اوس په ډېرو هېوادونو کې بډایان زمکې اخلي، کورونه پرې جوړوي، په رهن ئې ورکوي، د کور تر اصلي قیمت په کمه بیع ئې هغه چا ته په رهن ورکړي چې په دې کور کې به اوسېږي او له کرایې به خلاص وي، د کور مالك دا د رهن په نامه تر لاسه کړی مبلغ د ګټې په نورو مواردو کې په کار واچوي، دوه درې کورونه په رهن ورکړي او د رهن په پیسو ئې دریم کور جوړ کړي او په دې سره هومره ګټه تر لاسه کړي چې د سود له بلې معاملې ئې نه شي تر لاسه کولی. ډېر خلك له بانکونو په سود پیسې اخلي او بیا کورونه او

ښار ګوټې پرې جوړوي او په رهن ئې ورکوي، په ایران کې د کورونو مالکان اکثراً د کرایه پر ځای خپل کورونه په رهن ورکوي؛ او داسې رهن په حقیقت کې حرام کار ته د حلال بڼه ورکول دي.

تاسو ګورئ چې اسلام د قضایاوو په اړه څومره دقت کړی او څنګه ئې د هرې معاملې ټول جوانب په پام کې نیولي او دقیقې لارښوونې ئې کړې، دا لارښوونې باید د مسلمانانو د ټولو فردي او اجتماعي مسائلو لپاره بنسټ وي او د همدې په رڼا کې خپل اجتماعي ژوند تنظیم کړي، که د پور او مخامخ بیع او تجارت په اړه د اسلام تأکید او دقت دومره وي نو د نورو سترو اجتماعي مسائلو په اړه به ئې غوښتنې او لارښوونې څنګه وي؟!

د دوه متفق علیه نارینه شاهدانو د نه موندلو په صورت کې د یوه نارینه او دوه ښځینه شاهدانو د نیولو دلیل هم دلته قرآن بیان کړی او ویلي ئې دي چې دا یوازې د دې لپاره چې که یوه ښځه خبره هېره کړي بله ئې ورپه یاد کړي، دا ځکه چې د ښځې عاطفه هومره قوي ده چې د دې حافظه هم تر اغېز لاندې نیسي، ګورئ چې عاطفه ئې د اولاد ټولې نادودې او غلط کارونه حتی جفاګانې پرې هېروي، هرې مور ته خپل اولاد ډېر بې ګناه معلومېږي، زوی ئې د ګاونډي له زوی سره په جګړې کې سخت ملامت وي خو دا ترې په حقه او ناحقه دفاع کوي، خپله مورنۍ عاطفه ئې دې ته هڅوي چې له خپل زوی دفاع وکړي، همدغه عاطفه د بې وزلې پوروړي په نسبت د شهادت ورکولو په وخت کې په دې همغه کار کوي چې له خپل زوی د دفاع په وخت کې ئې پرې کوي.

هغه ناپوه کسان چې دا د ښځو په نسبت تبعیض ګڼي، په دې هم نه پوهېږي چې شهادت ورکول امتیاز نه بلکې یو مکلفیت دئ او اسلام د مکلفیتونو په برخه کې تل ښځو ته امتیازات ورکړي چې څو مثالونه ئې دا دي:

- سنګر ته له تلو ئې معاف کړې، مګر دا چې نفیر عام وي او دا په خپله خوښه تګ وغواړي.
- جومات ته ئې د تلو حق ورکړی خو پرې مکلفه کړې ئې نه ده.
- نکاح د ښځې او نارینه تر منځ یوه برابره معامله ده، په دې سره د دواړو یوې طبیعي او انساني اړتیا ته ځواب ویل کېږي، خو اسلام نارینه د مهر په ورکولو مکلف کړی، د کور او د کورنۍ ټول مصارف ئې او د خپلې مېرمنې او ماشومانو نفقه او جامه ئې د نارینه پر غاړه اچولې او ښځه ئې معافه کړې. دا په داسې حال کې چې ښځه له مېړه مهر اخلي او د مېړه په شمول له خپلوانو میراث تر لاسه کوي او دا حق ورکړی شوی چې کولی شي خپله دغه شتمني په کار واچوي او ګټه تر لاسه کړي. ګورئ چې په اقتصادي چارو کې هم امتیاز

ورکړی شوی خو له مکلفیت معاف شوې دي.

- له دې لاربښوونې دا هم معلومېږي چې مبرمنې نه د مخ په ټولو مکلفې دي او نه له نامحرم سره له خبرو منع شوې، دا ځکه چې شهادت او گواهي نه په پټ مخ د منلو وړ دئ او نه له ښرگندو واضح خبرو پرته او په اشارو؛ شاهد باید وپېژندل شي او په واضح الفاظو شهادت ورکړي. همدا راز پېر پلور او تجارت هم نه په پټ مخ اعتبار لري او نه په اشارو او له خبرو پرته تر سره کېدی شي.

لِّلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِۗ وَإِن تُبْدُواْ مَا فِيٓ أَنفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ
يُحَاسِبْكُم بِهِ ٱللَّهُۖ فَيَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ
قَدِيرٌ ﴿٢٨٤﴾ ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلْمُؤْمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ
وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعْنَا
وَأَطَعْنَاۖ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٢٨٥﴾ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَاۚ لَهَا
مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا ٱكْتَسَبَتْۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَاۚ رَبَّنَا
وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا
لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦۖ وَٱعْفُ عَنَّا وَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَآۚ أَنتَ مَوْلَىٰنَا فَٱنصُرْنَا عَلَى
ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٨٦﴾

[٢٨٤]- څه چې په آسمانونو کې او څه چې په زمکه کې دي؛ ټول د الله دي او که د خپل زړه خبرې مو ښکاره کړئ یا ئې پټې کړئ؛ الله به د هغوی محاسبه درسره کوي، نو چا ته چې وغواړي بخښنه به ورته وکړي او څوك چې وغواړي تعذیب به ئې کړي او الله په هر څه ښه قادر دئ. [٢٨٥]- پیغمبر پر هغه څه باور کړی چې د خپل رب له لوري ورته نازل شوي او مؤمنانو هم، ټولو پر الله، پر ملائکو ئې، پر کتابونو ئې او پر پیغمبرانو ئې ایمان راوړی؛ د ده د پیغمبرانو په هیڅ یوه کې فرق نه کوو او وئې ویل: واموورېدل او اطاعت مو وکړ، ستا غفران او بخښنه اې زمونږ ربه! او ستا په لور درتگ. [٢٨٦]- الله هیڅوك له خپل ظرفیت لوړ نه مکلف کوي، ده ته خپلې لاسته راوړنې دي او پر ده ئې خپلې لاسته راوړنې، اې زمونږ ربه! په دې مو ونه نیسې چې

په هېره څه (ګناه) وکړو يا خطاء رانه وشي، اې زموږ ربه! پر موږ هغسې دروند پېټی مه ږده چې له موږ پر مخکينيو دې ايښی وو، اې زموږ ربه! او پر موږ هغه پېټی مه ږده چې توان ئې نه لرو، زموږ (له ګناهونو) تېر شه، موږ ته بخښنه وکړه، پر موږ رحم وکړه، ته مو مولا يې، نو پر کافرانو برېيا را.

(۲۸۴-۲۸٦)- له هر چا سره به محاسبه کېږي، نه يوازې د ويناوو، کړنو او عملونو محاسبه، بلکې د سينې د پټو اسرارو او عزائمو محاسبه هم، که ئې دا پټ کړی وي يا ئې ښکاره کړي، څوك چې د بخښنې وړتيا ولري؛ الله به ورته بخښنه وکړي او څوك چې د تعذيب مستحق وي هغه به تعذيب کړي. د دې مبارك آيت وينا مؤمنان سخت ووېرول، پيغمبر عليه السلام ته راغلل او وئې ويل: که داسې وي چې له موږ سره به د زړه د خبرو او هغو عزائمو محاسبه هم کېږي چې هسې په زړه کې راولاړ شوي خو عمل مو نه دئ پرې کړی، نو موږ خو ټول هلاك شوو، پيغمبر عليه السلام وفرمايل: هو د دې محاسبه به هم هرومرو کېږي، خو د چا په زړه کې چې د ګناه عزم او قصد راولاړ شي خو عمل پرې ونکړي؛ الله به دا د يوه نېك عمل په زمره کې نيسي، که ئې عمل پرې وکړ د همدغې ګناه مناسبه سزا به ورکوي، که نېکه اراده ئې وکړه خو عمل ئې پرې ونه کړی شو؛ دا به د کړي نېك عمل په توګه ورته ليکي او که ئې عمل پرې وکړ لس ښېګنې به ورته ليکي او لس برابره ثواب به ورکوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ تَجَاوَزَ عن أُمَّتِي ما حَدَّثَت به أنفُسَها وما أُكرِهوا عَلَيه إِلَّا أن يَتَكَلَّموا به أو يَعمَلوا به" السنن الكبرى للبيهقى

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: يقيناً چې الله تعالى زما د امت له هغه څه تېر شوی چې هسې ئې په زړه کې راګرځي او يا ئې پر ويلو مجبور کړی شوی؛ مګر دا چې پرې تکلم وکړي او يا عمل پرې وکړي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَجَاوَزَ اللَّهُ لِأُمَّتِي مَا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا مَا لَمْ تَكَلَّمْ بِهِ أَوْ تَعْمَلْ بِهِ» الترمذى

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي: الله تعالى زما د امت له هغه څه تېر شوی چې هسې ئې په زړه کې راګرځي؛ مګر دا چې پرې تکلم وکړي او يا عمل پرې وکړي.

له دې روایاتو په څرګنده توګه معلومېږي چې د وسوسو او په زړه کې هسې د راګرځېدونکو خبرو او تصوراتو په اړه د الله تعالی مشیت او سنت دا دئ چې که پر ژبه رانشي او څوك پرې تکلم او عمل ونه کړي؛ الله تعالی ئې نه پرې نیسي. پر هغو ویناوو ئې هم نه نیسي چې پر ویلو ئې مجبور کړی شوی.

د وروستي آیت له سیاق او سباق معلومېږي چې دا د مؤمنانو د وینا ادامه ده، د آیت په سر کې دوه خبرې هم د مخکینیو او وروستنیو په څېر د دوی خبرې دي. دا آیت د ټولې سورې خلاصه ده، لومړۍ فقره ئې د سورې د لومړۍ برخې خلاصه، دوهمه فقره ئې د دوهمې برخې او درې بعدي فقرې په څلورمې او وروستۍ فقرې کې راخلاصه شوې او دا وروستۍ فقره د ټولې سورې د درېیمې برخې خلاصه ده، یعني: (الله هیڅوك له خپل ظرفیت لوړ نه مکلف کوي) د لومړۍ برخې عنوان، (ده ته خپلې لاسته راوړنې دي او پر ده ئې خپلې لاسته راوړنې) د دوهمې برخې لپاره عنوان او دا فقرې چې د څو دعاګانو په بڼه کې راغلې: اې زموږ ربه! په دې مو ونه نیسې چې په هېره څه وکړو یا خطاء رانه وشي، اې زموږ ربه! پر موږ هغسې دروند پېټی مه ږده چې له موږ پر مخکینیو دې ایښې وو، اې زموږ ربه! او پر موږ هغه پېټی مه ږده چې توان ئې نه لرو، او دا په دې وروستۍ فقرې کې راخلاصه شوې: زموږ (له ګناهونو) تېر شه، موږ ته بخښنه وکړه، پر موږ رحم وکړه، ته مو مولا یې، نو پر کافرانو بریا را او دغه بیا د ټولو هغو احکامو لپاره عنوان دئ چې په درېیمه برخه کې راغلې.

په وروستیو دوو آیتونو کې واقعي مؤمنان او د دوی مواصفات او ځانګړتیاوې معرفي شوې؛ مؤمنان هغه دي چې په الله او د ده پر ملائکو ئې ایمان وي، د الله له لوري ټول نازل شوي کتابونه مني، د الله پر ټولو پیغمبرانو ئې ایمان وي او په دوی کې هیڅ توپیر نه کوي، د الله تعالی د هر حکم په وړاندې وایي: سمعنا و اطعنا، ټول الهي مکلفیتونه د انسان د ظرفیت په اندازه ګڼي، له انسان سره چې څه کېږي دا د ده د کړنو عادلانه بدله او د ده خپلې لاسته راوړنې ګڼي، تل په خپل قصور اعتراف کوي، له الله د خپلو خطاءګانو بخښنه غواړي، که په قصد سره ئې کومه ګناه کړې او که ئې د کوم حکم تعمیل هېر کړی وي، تل ئې دا هیله په زړه کې وي او له الله مرسته غواړي چې پر خپل دین د تل لپاره ثابت او استوار پاته شي، د الله په لار کې له ستونزو او کړاوونو سره په مخامخ کېدو کې ئې پښې ونه ښويېږي، له داسې حالت سره مخامخ نه شي چې تحمل ئې ورته ګران وي او د ښويېدو باعث ئې شي، الله تعالی ئې د داسې پېټي په وړو مکلف نه کړي چې مخکیني امتونه ئې پرې مکلف کړي وو، له هغه سخت حالت سره مخامخ نه شي چې هغوی ورسره

مخامخ شوي وو او قرآن فرمايي چي تاسو به هم ورسره مخامخ کېږئ او جنت ته د رسېدو طمع هغه وخت وکړئ چي په دغو ابتلاءاتو کې ناکام نه شئ، هر مسلمان به دا تمنی کوي چي په ابتلاءاتو کې ئې همت او ثبات په برخه شي، له الله تعالی به د خپل قصور معافي غواړي او د خپلو اشتباهاتو او گناهونو بخښنه، د ده رحمت ته به سترگي په لار وي او له دښمن سره په خپلي دائمي مبارزې کې به د الله له لوري د مرستي او بريا تمنی کوي.

د وروستي آيت آخري فقره او وروستۍ دعاء او د دې مبارکي سورې آخري کلمات، پر دښمن باندي د بريا تمنی بيانوي او له دې په ډېر صراحت سره معلومېږي چي دا بايد د مسلمان وروستۍ تمنی وي، مسلمان بايد تل د حق له دښمنانو سره په دائمي جهاد مصروف وي، په سنگر کې د پروت مجاهد په څېر او وروستۍ تمنی ئې دا چي حق غالب او د الله دين قائم شي، د چا په دعاءگانو کې چي دا الفاظ نه وي، په حقيقت کې د واقعي مؤمنانو يوه اساسي ځانگړتيا په کې نشته او دی هغه څوك نه دئ چي په دې آيتونو کې ئې مواصفات بيان شوي.

د دې مبارکو آيتونو عظمت او د مفهوم او مضامينو عمق او پراخوالي ته په پام سره پيغمبر عليه السلام مسلمانان تشويق کړي چي هره شپه ئې تلاوت کړي.

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْبَدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الآيَتَانِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ البَقَرَةِ، مَنْ قَرَأَهُمَا فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ " رواه البخارى و مسلم

له ابو مسعود بدري رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د بقره د سورې وروستي دوه آيتونه داسي دي چي که ئې څوك په کومه شپه کې تلاوت کړي، نو ورته کفايت کوي.

د دې دواړو آيتونو تلاوت له يوې خوا تا ته خپله ايماني دنده او د يوه مؤمن ځانگړتياوي درياد‌وي او له بلي خوا تلاوت ئې داسي دئ لکه د بقرې ټوله سوره چي دي تلاوت کړې وي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# آل عمران

## د سورې معرفي:

د دې مبارکې سورې مشهور نوم آل عمران دئ، دا د سورې عنوان نه بلکې نوم دئ، یعني هغه سوره چې د آل عمران یادونه په کې راغلې، مدني سوره ده، د انفال له سورې وروسته او د احد له جګړې سره متصل زمانې کې نازله شوې، دوه سوه آیتونه لري. د (ا-ل-م) په دریو حروفو پیل شوې، درې برخې لري، لومړۍ برخه ئې له لومړي آیت تر ۱۰۰ آیت پورې ده، دوهمه برخه ئې له ۱۰۱آیت تر ۱۱۹ آیت پورې او درېیمه برخه ئې له ۱۲۰ آیت پیل کېږي او د سورې تر پایه دوام کوي. د سورې د ټولو اساسي موضوعاتو خلاصه په وروستي آیت کې راغلې او د دې معنی دا ده چې د سورې د لومړۍ برخې عنوان صبر او مصابره ده، د دوهمې برخې عنوان ئې ربط او مرابطه ده او د درېیمې برخې عنوان ئې تقوی ده او دا درې د فلاح او بریا ضامن. د بقرې د سورې په پای کې د مؤمنانو دا دعاء راغلې چې: اې زموږ ربه! موږ ته پر کافرانو بریا را! په دې سوره کې د دغې دعاء د تحقق لار او اسباب ښودل شوي: په (صبر)، (ربط) او (تقوی) سره پر دښمن بریا تر لاسه کولی شئ.

تر شلو کلونو (او اوس تر څلوېښتو کلونو) زیاته موده تېرېږي چې ما دا سوره حفظ کړې، د حفظ په دوران کې او وروسته مې ډېره زیاته تلاوت کړې، زه معمولاً حفظ کړې سورې په مرتبه توګه د سحر په لمونځونو کې تلاوت کوم، نن چې کومه برخه تلاوت کړم بیا ئې تقریباً څلور میاشتې وروسته وار رارسي؛ خو د آل عمران سوره مې تر نورو زیاته تلاوت کړې، ځینې آیتونه مې په نورو لمونځونو کې هم تلاوت کړي، عادتاً چې د تلاوت په دوران کې د کوم آیت په اړه کومه پوښتنه راته پیدا شوې نو د ځواب لپاره مې تفسیرونه لټولي، په هر ځل تلاوت کې د دې سورې نوي اړخونه او مزید ابعاد او ابواب راته پرانیستل شوي او مزید څه مې تر سترګو شوي، خو دا نن چې د آل عمران د مبارکې سورې د ښکلا، د آیتونو تر منځ ئې د ښایسته او ژور ارتباط، د مطالبو د عمق او پراخوالي او د دې سورې د عظمت په اړه کوم احساس راته پیدا شوی، په تېرې اوږدې مودې کې راسره نه وو، نه پوهېږم چې زما قلم به زما د دې احساس په انځورولو کې څومره زما مرسته وکولی شي.

که لږ ځیر شئ وبه ګورئ چې د دې سورې په لومړۍ برخې کې دوه اساسي موضوعات څېړل شوي، له لومړي آیت تر دیرشم آیت پورې په کتاب د ایمان څرنګوالی او تقاضی څېړل شوې او لاندې مطالب په کې راغلي:

• الله تعالی قیوم (مدبر او منتظم) دئ، د خپل دغه صفت له مخې ئې د انسانانو د لارښوونې لپاره د زمانې په مختلفو پړاوونو کې کتابونه رالېږلي، دا قرآن او له دې مخکې ئې تورات او انجیل رالېږلي، دا کتابونه نه یوازې د انسان لارښوونه کوي، بلکې د حق او باطل، ښه او بد، مفید او مضر تر منځ د تفکیك ذریعه ده، انسان (لارښود) او (فرقان) ته ضرورت درلود، په خپله او په خپل عقل سره؛ نه سمه لار موندلی شي او نه ښه او بد سره بېلولی شي. د همدې لپاره (قیوم) خدای د زمانې په هر پړاو کې (لارښود او فرقان) کتابونه رالېږلي.

• د هغه چا عاقبت خطرناك ښودل شوی چې د الله له آیتونو انکار کوي، د ده د کفر او انکار قطعي او محتومه پایله د الله له شدید عذاب پرته بل څه نه شي کېدی، دا ځکه چې دوی له هغه څه انکار کوي چې له هغه پرته نه سمه لار موندلی شي او نه ښه له بد او مفید له مضر بېلولی شي؛ او دا ځکه چې څوك د دې عالم د قیوم واکمن له لارښوونو غاړه وغړوي؛ خود به د عزیز خدای له انتقام سره مخامخ کېږي.

• دا کتاب د هغه ذات له لوري رالېږل شوی چې هم د انسان له فطرت او جوړښت خبر دئ او هم د ده په ماحول کې د زمکې او آسمان له هر څه او په دې سره ئې دا ستر حقیقت توضیح کړی چې انسان ته (لارښود) او (فرقان) یوازې هغه څوك په لاس ورکولی شي چې هم د انسان د (نفس) له ټولو زوایاوو خبر وي او هم د ده له (ماحول) او له ټولو هغو شیانو خبر وي چې انسان ئې احاطه کړی او دی ورسره په یوه او بله بڼه کې څه تعلق لري.

د الله کتاب دوه برخې او دوه ډوله آیتونه لري: ځینې ئې هغه دي چې د څرګندو او انسان ته د معلومو شیانو په اړه ئې بحث کړی او ځینې هغه چې د انسان له سترګو د پټو شیانو په اړه څرګندونې لري؛ لومړي ډول ته (محکم آیتونه) او دوهم ډول ته ئې (متشابهات) ویل شوي؛ محکم آیتونه هغه دي چې هم ئې د بحث موضوع څرګند شیان دي او هم ئې الفاظ هغه دي چې انسان ئې د همدغو شیانو لپاره کاروي او متشابه آیتونه ئې هغه دي چې د تشبیه له فن په کې استفاده شوې، د بحث موضوع ئې د انسان له سترګو پټ شیان دي او د دغو شیانو د معرفي لپاره داسې الفاظ کارول شوي چې په اصل کې د نورو څرګندو شیانو لپاره وضع شوي. بیا د متشابهاتو په ارتباط خلك په دوو ډلو

وېشي: الراسخون في العلم: د پاخه او سوچه علم خاوندان، چې دوی د متشابه آیتونو په مطلب له شك او تردید پرته ایمان راوړي او د الله له لوري ئې گڼي؛ او دوهمه ئې هغه چې په زړونو کې ئې کوږوالی دئ، چې دوی یا د فتنې په لټه کې له متشابهاتو د بحث موضوع جوړوي او یا غواړي په تأویل ئې پوه شي؛ حال دا چې په تأویل ئې له الله پرته هیڅوك نه شي پوهېدی.

له الهي کتاب د انکار کوونکو پایله وخیمه ده، نه به ئې مال او دولت له عذاب وژغورلی شي او نه خپلوان او پلویان؛ د مصر د فرعون او تر ده مخکې د نورو فرعونانو بده پایله او شوم عاقبت؛ د دې حقیقت د یوې بېلگې په توگه وړاندې کوي او د بدر جگړه ئې بله ژوندۍ بېلگه گڼي، چې د دښمن شمېر تر مسلمانانو لږ تر لږه دوه برابره زیات وو، خو سره له دې له ماتې سره مخامخ شو.

دا یوه عامیانه انگېرنه ده چې څوك د دنیا مال او متاع معیار وگڼي او د چا عزت او ذلت، ماته او بریا او سعادت او شقاوت پرې وتلي. دا نه د انسان لپاره هدف دئ او نه هم معیار؛ دا د ژوند متاع ده، تاسو ته به ډېر ژر معلومه شي چې دا انگېرنه مو غلطه وه، وبه گورئ چې د الله په نزد کې د هغه چا مقام څومره اوچت وو چې تاسو د دې لپاره هغه ته په سپکه سترگه کتل چې له خپل ملك شړل شوی، له مال او دولت محروم دئ، نه بنگلې لري، نه لښکري او نه د سرو او سپینو زرو خزانې.

نه له الله پرته بل معبود شته او نه له اسلام پرته بل مقبول دین، څوك چې له الله انکار کوي او له دین سره د مخالفت لپاره ملا تړي، الله تعالی به ئې ټول عملونه حبط او د اسلام او مسلمانانو په خلاف به ئې ټولې هڅې شنډې کړي.

د اهل کتاب علماء بې عمله علماء وو، د الله کتاب ئې شا ته غورځولی وو، عوامو ته به ئې ویل: الله تعالی یهودوانو ته له نورو سره د هر څه کولو اجازه ورکړې، په هیڅ ناروا معامله به ئې نه نیسي، دې خبرو ته ئې مذهبي رنگ ورکړی وو، ورته ویل ئې: دا خبره د الله په کتاب کې راغلې، دا په روایاتو کې راغلې، پیغمبر دا خبره کړې، په دغو افتراءاتو سره هم په خپله وغولېدل او هم ئې نور وغولول.

مسلمانانو ته ویل شوي: لکه څنگه چې شپه او ورځ د الله په اراده او د یوه ستر حکمت له مخې ځي راځي او په دې کار کې له الله پرته د عالم هیڅ ځواك، هیڅ ډول دخالت نه شي کولی، همدا راز د مرگ ژوند، عزت او ذلت پرېکړه او د واکمنۍ سپارل او بېرته اخیستل هم فقط د الله په اراده، د خاصو سننو مطابق او د خاص حکمت او مصلحت له مخې تر سره کېږي. یوازې له مؤمنانو سره به دوستي کوئ، د کافرانو له

دوستۍ به ډېره کوئ، هر څوك چې له كافرانو سره دوستي وكړي نو خپلې ټولې اړيكې ئې له الله سره شلولې دي.

د كتاب له بحث وروسته؛ د پيغمبرانو په اړه بحث پيل كېږي، په دې مبحث كې دا واضح شوي چې پيغمبران څوك دي؟ مأموريت ئې څه دئ؟ مقام او منزلت ئې كوم دئ؟ په دې مبحث كې لاندې اساسي خبرې څېړل شوې:

- په الله د ايمان تقاضى دا ده چې د ده د پيغمبرانو اطاعت به كوئ.
- دوى د الله له لوري او د انسانانو د هدايت لپاره غوره شوي.
- د نورو انسانانو په څېر دي، خو له ځينو خاصو ځانګړتياوو سره، د دوى دا ځانګړتياوې او مواصفات د مريم، زكريا، يحيى او عيسى عليهم السلام په قصو كې تشريح كوي.
- د پيغمبرانو او د الله د صالحو بندګانو په اړه دا ګمان كول چې هغوى په غيب پوهېږي، ستره غلطي ده؛ او د دوى په اړه دا انګېرنه چې الله تعالى په خپلې واكمنۍ كې له ځان سره شريك كړي، د ځينو چارو اختيارات ئې وركړي او د خلكو حاجتونه تر سره كولى شي؛ لويه اشتباه ده؛ او تاسو پوهېږئ چې همدا دوه غلط ګمانونه د هر شركي مذهب بنسټ دئ، هم د بتانو لمانځنه له دې راولاړه شوې او هم د قبرونو.
- د پيغمبرانو معجزې د دوى ذاتي كار نه دئ، دا د الله كار او د دوى د رسالت نښې دي.
- د پيغمبرانو د دعوت خلاصه دا ده چې يوازې د يوه الله عبادت وشي، دوى يوازې دې ته مستقيمه لار وايې او همدې ته بلنه وركوي.
- پيغمبران عليهم السلام يو د بل ملاتړ او تأييد كوي، موجود پيغمبر د مخكيني تصديق كوي او د وروستني زېرى وركوي.
- د پيغمبرانو يوه اساسي دنده دا ده چې د خلكو له اوږو اضافي پېټي راكوز كړي او د دوى په لاس پښو كې اچول شوي زنځيرونه مات كړي، اضافي پېټي هغه څه دي چې ټګمارو مذهبي مشرانو له خپلې خوا پر خلكو لازم كړي او هغه ته ئې د دين او مذهب رنګ وركړى؛ او له زنځيرونو مراد هغه اضافي او جعلي قيود او حدود دي چې دوى له خپلې خوا وضع كړي خو هغوى ته ئې مذهبي بڼه وركړې.

بيا د عيسى عليه السلام د قصې دا برخه راوړي چې خپلو يارانو ته ئې وويل: زه د الله په لورې درومم، څوك مې په دې سفر كې ملګرتيا ته تيار دئ؟ په دې سره الله تعالى له يوې خوا دا حقيقت بيانوي چې عيسى عليه السلام د خپل دعوت په پاى كې د جهاد لپاره ملا تړلې، خپلو پلويانو ته ئې ويلي چې په دې جهاد كې څوك زما مرسته او ملګرتيا كوي؟ له بلې خوا موږ ته ښيي چې د عيسى عليه السلام په څېر پيغمبر له خپلو ټولو هغو بې

ساري معجزو سره سره د انصاروو او ملاتړو په لټه کې دئ، له هغو خاصو کارونو پرته نور کارونه په معجزو نه شي تر سره کولی، نور کارونه به د الله تعالی د عام او عادي سننو مطابق تر سره کوي، نه په خارق العاده توګه؛ او له بلې خوا پر پیغمبر د ایمان راوړونکو مواصفات معرفي کوي، په پیغمبر واقعي او مخلص ایمان لرونکي داسي وي لکه د عیسی علیه السلام مخلص ملګري. د دوی څو خبري رااخلي: ستا ملګرتیا په حقیقت کې د الله ملګرتیا ده، موږ دې ملګرتیا ته چمتو یو، په کتاب ایمان لرو، د پیغمبر متابعت کوو، تمنی مو دا ده چې زموږ نوملونه د شاهدانو په ډله کې ولیکل شي.

وروسته د اهل کتاب ګڼ شمېر شنیع او قبیح اعمال بیانوي: مذهب ته قومي رنګ ورکول، د تحریف شوي مذهب لپاره په جعلي روایاتو استناد او خپل غلط مذهب مخکینیو پیغمبرانو ته منسوبول، د خلکو د غولولو او بې لاري کولو هڅه، حق پټول، منافقت، په امانت کې خیانت، دین پلورنه، د ژمنو ماتونه، په درواغو قسمونه، د الله په کتاب کې تحریف، دروغجني فتوی ګاڼې، حلال حرامول او دا د تقوی نښه ګڼل، شرك او دا ټول د مذهب او دین په نامه کول او پیغمبرانو ته ئې منسوبول!!

هغوی ته ویل شوي: د الله محبوب بنده هغه دئ چې د ده په لار کې قربانۍ ته چمتو وي، د عادي او معمولي شیانو قرباني نه بلکې د هغو شیانو قرباني چې تاسي ورسره مینه لرئ؛ او په دې پسي متصل وايي: مذهبي انحراف په اصل کې له بدعت پیل کېږي، په دین کې له لاسوهني، نه له څه راکمولو بلکې له څه زیاتولو، د حلال له حرامولو، د تقوی په نامه په دین کې له څه زیاتولو؛ پر پیغمبر علیه السلام د بني اسرائیلو د ټګمارو مذهبي مشرانو اعتراض دا نه دئ چې ولې ئې حلال شیان حرام کړل، بلکې اعتراض ئې دا دئ چې ولې حرام شیان حلالوي؟! دا څنګه د یوه پیغمبر او مذهبي مشر په توګه ومنو چې تقوی ئې زموږ په اندازه نه ده، موږ تر ده زیات د حرامو خیال ساتو، دا دئ ګورئ چې دی ډېر هغه شیان حلال ګڼي چې موږ ئې حرام ګڼو، دا تقوی موږ ته زموږ له جد ابراهیم علیه السلام او زموږ له پلار یعقوب علیه السلام راپاته شوې!! الله تعالی د دوی دغه اعتراض او ورپسې د قبلې د بدلولو په اړه د دوی اعتراض ته ځواب وايي او د دې مبحث په پای کې مؤمنانو ته فرمايي: د اهل کتاب ټولي ډلي او فرقې په یوه او بل څه کې لږ یا زیات، له حقیقي دین تېروتي، که مو د دوی د کومي فرقې خبره ومنله او په کوم څه کې مو د دوی لار غوره کړه، د دوی په څېر به شئ، له ایمان وروسته به کافر شئ، د دوی ټوله هڅه دا ده چې تاسو له خپل ایمان وګرځوي.

له ۱۰۱ آیت د سورې دوهمه برخه پیل کېږي او تر ۱۱۹ پوري دوام کوي، د دې برخي

عنوان ربط او مرابطه ده، په دې کې ځو اساسي لارښوونې شوې: له الله سره خپل تعلق ټینګ وساتئ، وېره مو باید له یوه الله وي، له هغه څه ځان لرې وساتئ چې الله ناراضه کوي، له الله تعالی ستاسو وېره باید داسې وي لکه له ده سره چې ښايي، تل او د ژوند تر پایه باید د الله لارښوونو ته منقاد وئ، مرګ او ژوند مو باید په اسلام او د مسلمانۍ په حالت کې وي، په دین باندې تمسك ولرئ، له اختلاف او تفرق ځان وساتئ، د خیر په لورې بلنه ورکوئ، په معروف امر کوئ او له منکر مخنیوی کوئ او هغه څوك ځان ته مه نژدې کوئ چې ایمان نه لري.

په ۱۲۰ آیت سره د دې مبارکې سورې درېیمه برخه شروع کېږي، په دې کې د تقوی څرنګوالی او اهمیت ښودل شوی. شروع ئې له دې شوې چې که په تاسو کې (صبر) او (تقوی) وي نو د دښمن هیڅ کېد او مکر او هیڅ تدبیر او توطئه هیڅ تاوان او ضرر نه شي دررسولی. ستاسو د (تقوی) په نتیجه کې به الله تعالی د دښمن ټولې هلې ځلې، دسیسې او توطئې شنډې کړي، دا ځکه چې الله تعالی د دوی په هر څه احاطه لري. دا ډېره ستره خبره او د الله له لورې ډېره لویه وعده او ډاډېینه ده، نو ځکه له دې وروسته ټول بحث د دغې خبرې د اثبات لپاره راغلی؛ خو په داسې حکیمانه اسلوب سره چې په ضمن کې ئې بې شمېره ارزښتناکې لارښوونې هم د متقیانو مخې ته ږدي.

د احد او بدر پېښو ته اشاره کوي او په ضمن کې ئې د تقوی او عدم تقوی پایلې او نتائج په ګوته کوي، کله چې تاسو تقوی کړې بری او د الله مرسته مو په برخه شوې او چې د تقوی خلاف عمل مو کړی د الله له مرستې محروم شوي یئ او ماته مو په برخه شوې. د بحث په ضمن کې تقوی او د متقینو مواصفات بیان شوي، مخصوصاً د ماتې، مصیبتونو او له ستونزو سره د مخامخ کېدو په حالت کې. د بحث په پای کې ګورئ چې د متقیانو نېك عاقبت بیان شوی او ورپسې د اهل کتاب یوه متقي ډله د (خاشعین لله) په نامه یاده شوې او ویل شوي چې اجر ئې د خپل رب په خوا کې خوندي دئ. د سورې ټول مضامین او مطالب په وروستي آیت کې راخلاصه شوي.

که وغواړو د دې مبارکې سورې ټول پراخ، ژور او با عظمته مضامین د دغه وروستي آیت په رڼا کې راخلاصه کړو نو نتیجه به ئې دا وي:

- که د الله د کتاب په حقیقت پوه شوئ، په هغه مو ایمان راوړ، د هغه په غوښتنو او مقتضیاتو مو عمل وکړ، په لارښوونو ئې د عمل کولو په دوران کې مو هره شبهه او دوامداره صبر وکړ او د الله د پیغمبرانو په حقیقت پوه شوئ، په هغوی مو ایمان راوړ، د دوی په اړه مو له غلطو خیالاتو ځان وساتو، په عمل کې مو د دوی متابعت وکړ، د دوی په

متابعت کې مو هره شبهه او دوامداره صبر وکړ، که مو له الله سره خپل تعلق مضبوط وساتو، تل او د ژوند په ټولو امورو کې مو د الله په دین منګولې ټینګې ونیولې، په خپلو کې مو وحدت او یووالی وساتو او وېره مو یوازې له الله وه او له هغه څه مو ځان وساتو چې الله ترې منع کړې یاست، نو مطمئن اوسئ چې د دنیا بریا او د آخرت سعادت او فلاح به مو په برخه کېږي.

که د سورې په مضامینو کې غور وکړئ وبه ګورئ چې غالباً ټوله سوره د احد له جګړې وروسته او د مکې له فتحې دېر د مخه نازله شوې، په هغې مرحلې کې چې لا قریشو ماته نه وه خوړلې، یهودان په مدینه کې وو او شرارتونه ئې کول او مسیحیان په خپلې سیمې کې او راتلونکیو پېښو ته منتظر. که څه هم ځینو درنو مفسرینو لیکلي چې د دې سورې لومړي څه د پاسه دیرش، یا شپیته یا اتیا او نوي آیتونه د مکې له فتحې وروسته او د نجران د وفد د راتلو په وخت کې نازل شوي، خو د دې برخې ۱۰- ۱۹-۲۰-۲۱-۲۲-۲۸-۶۹-۷۲ آیتونه په ډېر صراحت سره ښیي چې دا د مکې له فتحې ډېر د مخه او هغه وخت نازل شوي چې اهل کتاب لا د مخالف قوت په توګه پاته وو، هم په مدینه کې او هم له مدینې بهر، په توطئو مصروف وو او شرارتونه ئې کول. حال دا چې د مکې له فتحې وروسته د دوی هیڅ یو د یوه ځواکمن مخالف قوت په څېر نه وو پاته.

---

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ١ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُ ٢ نَزَّلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَأَنزَلَ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ ٣ مِن قَبۡلُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَأَنزَلَ ٱلۡفُرۡقَانَۗ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٍ ٤

[۱]- ا ل م، [۲]- الله هغه ذات دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، همغه ژوندی او قیوم. [۳]- په حقه ئې پر تا دا کتاب نازل کړی، تر ده د مخکینیو کتابونو مصدق. [٤]- تورات او انجیل ئې مخکې نازل کړل، د خلکو لپاره لارښود او فرقان ئې نازل کړی، یقیناً هغه چې په الهي آیتونو کافران شوي؛ دوی ته شدید عذاب دئ او الله عزتمن غچ اخیستونکی دئ.

(۱-٤)- الله د دې عالم پالنه، ساتنه او نظم په خپل واك كې لري، قيوم دئ؛ هر څه اداره كوي، هر څه تنظيموي، د هر څه قوام د ده له لوري دئ. داسي نه ده چي دا عالم ئې له پيدايښت وروسته خپلې مخې ته پرېښى وي او اوس هر څه په خپله تر سره كېږي، دغه قيوم ذات به څنگه تاسو مهمل پرېږدي او ستاسو د لارښووني او ستاسو د ژوند د تنظيم لپاره به انتظام نه كوي؟ قيوم خداى د خپل دغه صفت له مخي ستاسو د لارښووني لپاره كتاب رالېږلى، پر تا ئې قرآن رالېږلى او له دې مخكې ئې تورات او انجيل؛ دا كتابونه نه يوازي ستاسو لارښوونه كوي، بلكې د حق او باطل، ښه او بد، مفيد او مضر تر منځ د تفكيك ذريعه دي، تاسو (لارښود) او (فرقان) ته ضرورت درلود، په خپله او په خپل عقل سره؛ نه سمه لار موندلى شئ او نه ښه او بد سره بېلولى شئ، د همدې لپاره (قيوم) خداى د زمانې په هر پړاو كې (لارښود او فرقان) كتابونه رالېږلي. دا ځكه چي د انسان عمر لنډ دئ او عقل ئې محدود، نه په دې لنډ عمر كې په تجربې سره كولى شي چي په دې پېچلي او پراخ عالم كې سمه لار تشخيص كړي او نه په خپل عقل سره كولى شي ټول مفيد او مضر شيان سره تفكيك كړي.

څوك چي د الله له آيتونو انكار وكړي؛ د ده د كفر او انكار قطعي او محتومه پايله د الله له شديد عذاب پرته بل څه نه شي كېدى، دا ځكه چي دوى له هغه څه انكار كړى چي له هغه پرته نه سمه لار موندلى شي او نه ښه له بد او مفيد له مضر بېلولى شي؛ او دا ځكه چي څوك د دې عالم د قيوم واكمن له لارښوونو غاړه وغړوي؛ خود به د عزيز او ځواكمن خداى له انتقام سره مخامخ كېږي.

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخۡفَىٰ عَلَيۡهِ شَيۡءٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ۝٥ هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ كَيۡفَ يَشَآءُۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ۝٦

[٥]- يقيناً چي په الله باندي هيڅ څه نه شي پټېدى، نه په زمكې كې څه او نه په آسمان كې څه. [٦]- دى خو همغه ذات دئ چي تاسو ته د (ميندو) په رحم كې هغسي صورت او شكل دركوي چي دى ئې غواړي؛ پرته له ده چي عزيز او حكيم دئ بل معبود نشته.

(٥-٦)- دلته د كتاب په اړه څو ډېري اساسي او بنيادي خبري شوې چي په مطلب ئې پوهېدل لږ غور او دقت غواړي:

- هغه څوك كولى شي د انسان لپاره قانون وضع كړي چي هم د انسان د خلقت،

جوړښت او فطرت له ټولو زواياوو او د ده له ټولو فطري اړتياوو خبر وي او هم د انسان د ماحول په ټولو هغو شيانو پوه وي چې دی ئې احاطه کړی او دی ورسره په يوه او بله بڼه کې څه تعلق لري. هم انسان پېژني او هم د انسان په مېشت ځای کې هر څه پېژني، په دې پوه وي چې انسان څه ته ضرورت لري، څه ورته ګټور دي او څه تاواني. په قانون کې به انسان ته ويل کېږي چې څه کول ورته جائز دي او څه ناجائز، د کوم څه خوړل ورته روا دي او کوم څه ناروا، د روا، ناروا، جائز او ناجائز او مفيد او مضر پرېکړه هغه څوك کولی شي چې هم د انسان له طبيعت دقيقاً خبر وي او هم په زمکې کې د ټولو موجودو شيانو له ماهيت خبر وي او په دې پوه وي چې کوم څه انسان ته څه تاوان رسولی شي. قانون په حقيقت کې يو کشف دئ نه اختراع، قانون جوړوونکی قانون کشفوي، په خپله او په خپله خوښه نه شي جوړولی، د انسان لپاره قانون وضع کول داسي دي لکه يو فزيك پوه، کيميا پوه او د ساينس عالم چې د يوه عنصر په اړه وايي: د دې عنصر فزيکي او کيمياوي خواص دا دي، د حرارت او برق د انتقال توان ئې دومره دئ، د حرارت په کومه درجه کې سوزي، له فلاني فلاني عنصر سره ئې ترکيب ممکن دئ او له هر يوه سره ئې د ترکيب فورمول دا دئ. د دې عنصر په اړه چې دوی څه ويلي؛ دا ټول ئې د تحقيقاتو او تجاربو په ترڅ کې موندلي، دا هر څه کشف دي نه اختراع، دوی له خپل لوري او په خپل سر څه نه دي وضع کړي، بلکې شته او حاکم قوانين ئې کشف کړي او په خاصو الفاظو سره ئې بيان کړي. د ساينس ټول فورمولونه په حقيقت کې په طبيعت حاکم قوانين دي چې ساينس پوهانو کشف کړي، د انسان لپاره قوانين هم بايد همداسي کشف شي، د دې لپاره (انسان پوه) ته ضرورت دئ، نه يوازي انسان پوه ته بلکې (طبيعت پوه) ته هم، هغه چا ته چې هم د انسان په اړه دقيق علم ولري او هم د ده د ټول ماحول په اړه.

- که د يوه ساده عنصر په اړه د نړۍ هيڅ فزيك پوه او د ساينس هيڅ عالم دا جرأت نه شي کولی چې له ځانه قانون وضع کړي او هره خبره ئې د کشف نتيجه وي، نو د انسان لپاره قانون جوړوونکي څنګه جرأت کوي چې په داسي حال کې د ده لپاره قانون جوړوي چې تر اوسه خو لا د انسان د جسمي جوړښت له ډېرو پېچلو برخو خبر نه دي، روحي جوړښت خو ئې پرېږده، روحي جوړښت خو ئې هومره پيچلی دئ چې دا برخه لا تر اوسه اصلاً د ده تر بحث لاندي نه ده راغلې او په دې اړه څه ويل ورته ممکن نه دي، دا برخه په لابراتوار کې د ميکروسکوب لاندي هم نه شي نيولی. الکسيس کارل د شلمي پېړۍ يو معروف غربي عالم په خپل کتاب (انسان يو ناپېژانده موجود) کې ليکې: زه له نن ورځي د خپل ژوند تر پايه د انسان په اړه هومره سؤالونه يو په بل پسي کولی شم چې علم ئې له

ځواب ويلو عاجز دئ او ډېر سؤالونه داسي چي ساينس ئې هيڅکله ځواب نه شي ويلی!

په دغو مباركو آيتونو كې دغه حقيقت ته اشاره شوې، كوم ذات چي تاسو ته كتاب رالېږلی هغه ته هم د زمكې او آسمانونو ټول پټ اسرار معلوم دي او هم ستاسو د وجود له ټولو اسرارو خبر دئ، تاسو خو هغه پيدا كړي يئ، دی ستاسو د صورت او جوړښت خالق دئ، ستاسو د روحي او جسمي جوړښت له ټولو زواياوو خبر دئ. په دې بحث پسي متصل بيا د كتاب په اړه فرمايي:

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۡهُ ءَايَٰتٞ مُّحۡكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ وَأُخَرُ مُتَشَٰبِهَٰتٞۖ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٞ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُۗ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ رَبِّنَاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٧﴾

[٧]- الله هغه ذات دئ چي دا كتاب ئې پر تا نازل كړ، چي ځيني آيتونه ئې مُحكم دي، چي دا د كتاب بنسټ دئ او نور ئې متشابه دي، نو هغه چي په زړونو كې ئې كوږوالی دئ؛ په متشابه پسي ئې درومي، د فتنې په لټه كې او د تأويل په لټه كې، په داسي حال كې چي په تأويل ئې له الله پرته هيڅوك نه پوهېږي او هغه چي د راسخ علم خاوندان دي وايي: موږ ايمان پرې راوړی، ټول زموږ د رب له لوري دي؛ او پند نه اخلي مگر د عقل خاوندان.

(٧)- دا مبارك آيت څو مهم مطالب زموږ مخي ته ږدي:

- د الله كتاب دوه برخي او دوه ډوله آيتونه لري، ځيني ئې هغه دي چي د څرگندو او انسان ته د معلومو شيانو په اړه ئې بحث كړی او ځيني هغه چي د انسان له سترگو د پټو شيانو په اړه څرگندوني لري. لومړي ډول ته (محكم آيتونه) او دوهم ډول ته ئې (متشابهات) ويل شوي.
- مُحكم آيتونه هغه دي چي هم ئې د بحث موضوع څرگند شيان دي او هم ئې الفاظ هغه دي چي انسان ئې د همدغو شيانو لپاره كاروي.
- متشابه آيتونه ئې هغه دي چي د تشبيه له فن په كې استفاده شوې، د بحث موضوع ئې د انسان له سترگو پټ شيان دي او د دغو شيانو د معرفي لپاره داسي الفاظ كارول شوي چي په اصل كې د نورو څرگندو شيانو لپاره وضع شوي.

• د کتاب اصلي او اساسي مطالب په هغو آيتونو کې راغلي چې مُحکم دي او تشبيه نه ده په کې کارول شوې.

• متشابه آيتونه چې په مفهوم ئې پوهېدل غور او دقت غواړي بايد همدې محکمو آيتونو ته راجع شي او د همدې آيتونو په رڼا کې تفسير او توضيح شي، دا ځکه چې د کتاب (ام)، اصل او محور همدا محکم آيتونه دي.

• هغه چې په زړونو کې ئې خيرې او کوږوالی وي، د دې پر ځای چې د متشابه آيتونو پر مراد ايمان کافي وګڼي، نه؛ د دې آيتونو په تأويل د پوهېدو هڅه او لټه کوي او غواړي له هغه د بحث او مناقشاتو موضوع جوړه کړي.

• هغه چې غواړي دغه ډول آيتونه د مناقشې او بحث موضوع وګرځوي، هغوی په حقيقت کې يا د فتنو راولاړول غواړي، د دې هڅه کوي چې د خلکو په زړونو کې شکوك او شبهات راولاړ کړي او توجه ئې له محکمو آيتونو بل لور ته واړوي او يا دا چې غواړي د متشابهاتو په تأويل ځان پوه کړي. د تأويل لغوي معنی اول يا اصل ته اړول دي، تأويل يعني په متشابه آيت کې د تشبيه شوي څيز پر کُنه او ماهيت ځان پوهول، ګويا دوی غواړي په دې پوه شي چې د دې متشابه اصلي او اولنی حالت او کيفيت څنګه دئ؟!

• دا هلې ځلې او دا هڅه او هاند د هغه چا کار دئ چې زړه ئې کوږ او خيرن وي، پر زړه او دماغ ئې شکونو سيوری غوړولی وي.

• د متشابهاتو د تأويل علم يوازې له الله تعالی سره دئ، بل هيڅوك نه شي کولی په هغه پوه شي، ځکه الله تعالی هغه غيبي او له سترګو پټ شيان چې انسان ئې نه پېژني او نه په خپل قاموس کې ورته نوم لري، د انسان د ښې پوهې لپاره له محسوسو او پېژندل شوو شيانو سره تشبيه کړي او په داسې الفاظو سره ئې معرفي کړي دي چې په حقيقت کې د ښکاره او څرګندو شيانو لپاره استعمالېږي. د دې لپاره چې هغه د انسان لپاره د فهم وړ وګرځوي او د هغه څيز د حقيقت په اړه نسبي فهم ورته حاصل شي، د دې مطلب دا شو چې د دغو شيانو د معرفي لپاره ترممکنه حده او تر هغه ځايه چې د انسان عقل ته مقدور ده؛ اهتمام شوی او د متشابه آيتونو په ترڅ کې معرفي شوي، د انسان د عقل نيلۍ له دې آخوا وړاندې نه شي تلی، دا د ده د الوت وروستی پړاو دئ، آخوا ته ئې لاس نه رسېږي، د ده له عقل او ادراك لوړ دي، الله تعالی د همدې ډول شيانو د معرفي کولو لپاره ښه لازمه څرګندونه کړې ده او د انسان د عقلي قوت مطابق وضاحت ئې کړی دئ، خو له دې آخوا د انسان عقل د مخکې تګ مجال نه لري، بايد همدلته ودرېږي او د متشابهاتو له تأويل ځان وساتي. د انسان د عقل او پوهې قصور، د حواسو او مشاعرو محدوديت ئې او

د ژبې او قاموس عدم جامعیت ئې؛ باعث شوي چې له مخکې تګ عاجز شي او د متشابهاتو په حقیقت تر دې زیات پوه نه شي.

• له دې آیت په مخکې دوو آیتونو کې وضاحت شوی وو چې د انسان لپاره (لارښود) او (فرقان) کتاب هغه الله رالېږلی چې د (آفاق) او (انفس) په ټولو اسرارو او خفایاوو خبر دئ، یعني په دې کتاب کې هم د زمکې او آسمان د ډېرو هغو شیانو په اړه بحث شوی چې د انسان له سترګو پټ دي او هم په خپله د انسان په اړه. انسان په خپل قاموس کې یوازې د هغو شیانو لپاره نومونه لري چې ده په خپلو سترګو لیدلي او پېژني ئې، هغه څه چې د ده له سترګو پټ دي د هغه لپاره نه نوم لري او نه ئې د معرفۍ کولو لپاره الفاظ، نو الله تعالی به هغه ته دا شیان څنګه او په کومو الفاظو معرفي کوي؟ د الله په کتاب کې به د دې غیبي شیانو د معرفۍ کولو لپاره کوم اسلوب کارول کېږي؟ دغه سؤال ته په دې مبارك آیت کې ځواب ویل شوی.

که په قرآنکریم کې لږ غور او دقت وکړو نو دا به راته په ډاګه شي چې د قرآنکریم د بحث او څېړنې دوه اساسي محورونه دي، یو شمېر ئې په هغو قضایاوو پورې اړه لري چې د انسان لپاره مشهود، څرګند او ښکاره دي او په انساني قاموس کې ورته صریح او څرګند الفاظ او نومونه شته، لکه لمر، سپوږمۍ، آسمان، زمکه، غر، انسان او نور؛ دوهمه برخه ئې له داسې شیانو سره تړاو لري چې له نظره پټ او غائب دي او انسان په خپل قاموس کې داسې کلمات نه لري چې د هغوی د معرفۍ کولو لپاره ئې وکاروي. د دې غیبي شیانو د پېژندلو او معرفۍ کولو لپاره لابد باید هغه الفاظ وکارولی شي چې په اصل کې د ملموسو او ښکاره شیانو لپاره وضع شوي او ناچار باید د تشبیه له فن کار واخیستل شي چې د دې غیبي څیز یو داسې انځور وړاندې کړی شي چې حقیقت ته نژدې وي، له همدې ځایه آیتونه په دوو برخو وېشل کېږي:

• هغه آیتونه چې د ښکاره او مشهود عالم په اړه بحث کوي، په دې ډول آیتونو کې داسې الفاظ استعمال شوي دي چې هر یو د خپل ځانګړي مورد لپاره وضع شوی دئ، مفهوم او مدلول ئې څرګند دئ، د آیت مراد او په خپل مورد د لفظ تطبیق آسانه دئ، دا آیتونه مُحکم دي، خو هغه آیتونه چې له غیب او غیبي شیانو بحث کوي، په دې ډول آیتونو کې د غیبي شیانو د افادې او تعریف لپاره د تشبیه فن کارول شوی او داسې الفاظ په کې استعمال شوي دي چې په اصل کې د څرګندو او ټولو ته د ښکاره شیانو لپاره وضع شوي دي، دا آیتونه متشابه بلل کېږي. لکه په دې مبارك آیت کې:

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ...

۞ الاعراف

په دې مبارك آيت كې د ايام، استواء او عرش الفاظ ګورو چي په اصل كې د ښكاره او ځرګندو شيانو لپاره وضع شوي دي، خو په دې آيت كې د دې مطلب د افاده كولو لپاره راغلي چي دا زمكه او آسمان په شپږو مرحلو كې پيدا شوي، الله تعالی د هر څه مالك او واكدار دئ او هر څه ئې تر واك او عرش لاندي دي.

ځرنګه چي د قرآنكريم اصلي محور محكم آيتونه دي نو لازمه ده چي متشابه آيتونه همدې لور ته راجع كړو او د محكمو آيتونو په رڼا كې ئې تفسير او توضيح كړو. نه ښايي متشابه آيتونه په مستقله توګه او محكم آيتونو ته له ارجاع پرته په ځانګړي ډول بيان او توضيح كړو. هغه وګړي چي په متشابه آيتونو پسي ځي او هڅه كوي چي په مستقيمه توګه او محكمو آيتونو ته له ارجاع پرته ئې تفسير كړي، هغوی په غلطه روان دي، زړونه ئې رنځور دي، فكري انحراف ئې د دې سبب شوی چي دا غلطه لار غوره كړي، د هغوی مقصد يا فتنه وي او يا د دې آيتونو پر تأويل علم او پوهه حاصلول. هر چا چي د متشابه آيتونو په مراد اكتفاء ونكړه او د تأويل په لټه كې شو، هغه به يا د رنځور زړه خاوند وي چي فتنه لټوي او يا به ئې داسي كارته ملا تړلې وي چي له الله تعالی پرته ئې هيڅوك هم د كولو توان نه لري. هغه غواړي د متشابهاتو په تأويل پوه شي خو د متشابهاتو علم يوازي له الله تعالی سره دی؛ ځكه هغه څه چي د انسان له حواسو پټ دي او په عالَم غيب كې قرار لري او انسان نه شي كولی پخپلو محدودو حواسو ئې درك كړي، قرآنكريم د عالَم غيب د دغو پټو شيانو د پېژندني او معرفي كولو لپاره له ټولو هغو الفاظو استفاده كړې چي د انسان په قاموس كې شته او كېدی شي د دغو شيانو د معرفي لپاره وكارول شي او ټول هغه څه په كې مراعات شوي چي د غيبي شيانو مناسب او ممكن انځور وړاندي كړی شي او د كائناتو او عالَم په معرفي كولو كې تر هغه ځايه مخكې تللی تر كومه پوري چي انساني عقل د تلو توان لري، له دې آخوا انساني عقل د مخكې تګ وس او توان نه لري، نور ئې وزرونه سوزي، بايد همدلته توقف وكړي، د هغه د ناقص عقل، قاصر تصور، محدود توان، تنګ نظر، ناقص استعداد او محدود قاموس غوښتنه دا ده چي همدلته په همدې كرښه ودرېږي او نور د مخكې تګ هڅه او هاند ونكړي، هغه نور د مخكې تګ توان نه لري او نه شي كولی د غيبي شيانو په حقيقت او تأويل پوه شي.

ځيني د دې مبارك آيت صريح حكم ته توجه نه كوي او د آيت د وروستۍ برخي په رابطه داسي څه وايي چي له لومړۍ برخي سره ئې تناقض لري، د آيت لومړنۍ برخه وايي: د رنځور زړه خاوند، فتنه لټوونكي، ماجرا غوښتونكي، شكاك او قناعت نه كوونكي د متشابه

آيتونو په لټه کې وي، هڅه کوي پر تأويل ئې پوه شي؛ او په همدې پسې وايي: له الله تعالی پرته هيڅوك د متشابهاتو په تأويل نه پوهېږي. په پای کې فرمايي: د دې ماجرا غوښتونکو، فتنه گرو او بيمارو زړونو خاوندانو په مقابل کې عالمان او د پاخه علم خاوندان وايي: موږ ايمان پرې راوړی، ټول د الله له لوري دي او له عاقلانو پرته بل څوك پند نه اخلي. د تعجب ځای دئ چي هغوی په دې صراحت سترگي پټوي او ادعاء کوي چي د آيت په وروستۍ برخه کې الله او د پاخه علم خاوندان مستثنی شوي دي او د ( الله ) او (الراسخون) تر منځ "واو" د عطف واو دئ، دا غلط نظر نه يوازي د همدې آيت له لومړۍ برخي سره ټکر کوي بلکي د بلاغت خلاف هم دئ، که د الله (تعالی) له لفظ وروسته توقف ونکړو او دا واو د عطف واو وشمېرو نو بايد وروستنۍ جمله ټوله پر ماقبل عطف کړو چي بيا ئې معنی داسي کېږي: د هغوی پر تأويل له الله او الراسخون في العلم پرته بل څوك نه پوهېږي او الله او د پاخه علم خاوندان وايي: موږ ايمان پرې راوړی، ټول د الله له لوري دي!! يعني بايد د يقولون په لفظ کې ضمير الله او الراسخون في العلم دواړو ته راجع وي!! او څرگنده ده چي دا نه معقوله ده او نه صحيح. د آيت اول او آخر په دې دلالت کوي چي بايد د الله له لفظ سره توقف وکړو او د متشابهاتو د تأويل علم يوازي تر الله تعالی پوري خاص وگڼو.

ځيني نور بيا وايي چي کېدای شي يو آيت يو وخت متشابه وي او بل ځای محکم، يعني کولی شو له يوه اړخه ئې متشابه وگڼو او له بله اړخه ئې محکم وشمېرو!! دا نظر نه يوازي د آيتونو د وېش په اړه د قرآنکريم له څرگندونو سره اړخ نه لگوي بلکي په دې سره د قرآنکريم د هر آيت په اړه دا گمان راولاړوي چي ښايي دا به هم متشابه وي!! دا نظر هغه کسان وړاندي کوي چي اصلاً د محکم او متشابه په اړه پوره او لازم علم نه لري، دوی د قرآنکريم د مخاطبينو فهم او پوهه معيار گرځوي، يعني هغه آيت چي مخاطب پرې پوه شو، شك او تردد ورته په کې پيدا نه شو، هغه محکم دئ او که شك او تردد ئې په کې وکړ او له فهم ئې عاجز شو؛ نو بيا دا آيت متشابه دئ؛ خو حقيقت دا دئ چي د محکم او متشابه د وېش معيار د مخاطب فهم او علم نه دئ، آيتونه د مخاطبينو انگېرني او فهم ته له توجه او پاملرني پرته په محکم او متشابه وېشل شوي دي. د متشابه لفظ په خپله په دې دلالت کوي چي له دې هغه آيتونه مراد دي چي د تشبيه فن په کې کارول شوی دئ، د غيبی عالم شيان په داسي الفاظو سره په کې معرفي شوي دي چي په اصل او حقيقت کې د ښکاره او ظاهري څيزونو لپاره وضع او ايښودل شوي دي او د تشبيه په ذريعه همدا غيبي شيان انسان ته معرفي شوي دي.

د تأویل لغوي معنی اصل او اول ته اړول دي او دلته دا مطلب افاده کوي چې متشابه لفظ له فعلي حالت څخه اصلي او اولني حالت ته واړول شي. یعني دا چې له تشبیه لاسته راغلی مفهوم کافي ونه شمېرو، بلکې د هغه څیز په حقیقت د پوهېدو هڅه وکړو چې د تشبیه له لارې موږ ته رامعرفي شوی دئ. د مثال په ډول: زموږ په عرف او قاموس کې عرش هغه تخت ته ویل کېږي چې پاچا ورباندې کښېني او دا ئې د قدرت او واك نښه وي. دا عرش یو جسم وي چې څلور پښې لري. ښه نو د الله تعالی د عرش معنی څه ده؟ که موږ د دې لفظ د تأویل هڅه وکړو نو باید په دې اکتفاء ونکړو چې د الله تعالی عرش د ده د قدرت او بې مثاله واکمنۍ مظهر او نښه ده، بلکې دا معنی کافي ونه شمېرو او هڅه وکړو چې د الله تعالی د عرش په ماهیت ځان پوه کړو، حال دا چې ممکنه نه ده د الله تعالی د عرش ماهیت درك کړو او په حقیقت ئې پوه شو، لازمه ده چې پر خپل حد ودرېږو، له پولو د تجاوز او تېرېدو هڅه ونکړو. هر څوك چې د عرش د ماهیت او کیفیت او د استواء د کیفیت په اړه بحث او مناقشې کوي دا ډول کسان به یا د رنځور زړه خاوندان وي او یا به د خلکو په منځ کې د فتنې راولاړول غواړي او یا به د بې ځایه غرور او لویي په مرض اخته وي او ځان به ورته لوی ښکاري، پخپل عقل به غره وي او داسي مړی یا گوله به خولې ته وړي چې ترستوني ئې نه شي تېرولی او له خپل ټغر به پښې اوږدې غځوي.

په دې ټول پوهېږو چې قرآنکریم د انسانانو په ژبه نازل شوی او خپل پیغام ئې په داسي الفاظو سره بیان کړی دئ چې په عربي قاموس کې موجود دي او دا الفاظ په اصل کې د مشهودو او ښکاره څیزونو لپاره وضع شوي، کله چې قرآنکریم انسان ته له ښکاره او څرگندو شیانو خبري او بحث کوي نو لفظ او مدلول ئې دواړه واضح او څرگند وي، انسان ئې په آسانۍ سره درك کولی او پرې پوهېدلی شي، مخاطب د دا ډول کلماتو د اورېدلو او ویلو په وخت کې له هیڅ مشکل، شك او اشکال سره نه مخ کېږي، خو کله چې د قرآن د بحث موضوع بدلېږي، له غیبي او غیر مشهود شیانو خبري کوي او د پټ عالم بحث شروع کېږي، نو په دې صورت کې د انساني قاموس په وړاندې سره کرښه کښل کېږي، دغه قاموس بیا د دې پټ او غیبي عالم د اجزاءو د تعریف او پېژندنې لپاره مناسب او لازم الفاظ نه لري، دا پټ عالم په انساني قاموس کې نه شي ځایېدلی، دا قاموس د دې غیبي شیانو د معرفي کولو صلاحیت او ظرفیت نه لري، د ناچارۍ له مخې د دې غیبي امورو د معرفي لپاره باید همغه ناقص او تنگ الفاظ وکارول شي او همغه د مشهودو او ښکاره شیانو لپاره وضع شوي الفاظ استعمال شي او په همدې الفاظو سره د انسان د فهم او پوهې لپاره د غیبي

شيانو يو مناسب انځور او تصوير وړاندي شي او د تشبيه د فن په مرسته انساني عقل ته د غيبي امورو نقشه انځور شي. د دا ډول آيتونو د الفاظو تأويل او د تشبيه له حالت اصلي او لومړني حالت ته اړول؛ د انسان د وس خبره نه ده، په دې کيفيت له الله تعالى پرته بل څوك نه پوهېږي، ځکه تر کومه حده چي ممکنه وه او انسان ئې توان درلودو، تر هغه حده همدې متشابه آيتونو په همدې الفاظو سره دا شيان معرفي کړي دي، له دې آخوا انساني عقل د مخکي تګ استعداد او توان نه لري، انسان بايد همدلته په همدې پوله توقف وکړي، نور بايد د وړاندي تګ هيله او هڅه ونکړي، همدا ئې د توان آخرينۍ او وروستۍ پوله ده، عقل او فهم ئې نور د مخکي تګ توان نه لري، نور نه شي کولی دا شيان له دې زيات وپېژني.

ځيني وايي: له موږ سره داسي روايات شته چي ثابتوي زموږ ائمه "الراسخون فِي ٱلعِلمِ" دي او په تأويل پوهېږي، په دې اړه څو ټکي يادول غواړو:

- په دې کي شك نشته چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم اصحاب رضي الله عنهم له بل هر چا د قرآن په ژبه ښه او زيات پوهېدل، هغوی له ټولو زيات د قرآن په مفهوم او هدف پوه وو، مسلمانان ټول په دې اتفاق لري او ټول عقيده لري چي د قرآني مفاهيمو د زده کړي او پوهي لپاره بايد د اصحابو رضي الله عنهم رأيي ته مراجعه وشي، په دې رابطه هيڅ اختلاف نشته، اختلاف په دې کي دئ چي د روايت راوي څوك دئ؟ آيا دا روايت له ثقه، مصوني او ډاډمني لاري موږ ته رارسېدلی؟ او آيا د وخت تېرېدو او د راويانو تعدد خو پر روايت څه اثر نه دئ کړی او په الفاظو کي ئې د څه بدلون باعث نه دئ شوی؟ آيا د رواياتو د ثبتولو په اړه همغه اهتمام او دقت شوی چي د آيتونو په ارتباط شوی؟
- نه ښايي هر روايت معيار وګرځوو او د قرآن آيتونه د هغه له مخي توجيه او تفسير کړو، بلکي لازمه دا ده چي هر روايت قرآن ته راجع کړو، په قرآن ئې وتلو، که له قرآن سره موافق او برابر وو نو قبول ئې کړو او که نه نو د قبول وړ ئې ونه ګڼو. دين او د دين پيشوايان موږ ته همدا درس راکوي چي هره هغه خبره په دېوال ووهو چي له قرآن سره تعارض ولري.
- هغه روايت چي له عقل سره ئې سمون نه درلود او داسي مطلب ئې افاده کاوو چي پر انساني عقل برابر نه راتلو او له عقلي معيار سره ئې ټکر کولو او هغه روايت چي يوه لوی شخصيت ته داسي قول په کي منسوب شوی وي چي د لويانو له اقوالو سره سمون ونلري او د اسلامي معيارونو له مخي کمزوری او ناوړه ګڼل کېږي، لکه د ځان ستايل او نورو ته ښکنځلي او بد رد ويل، له قدرت سره مينه، ځان زړه ور، شجاع، غيرتي، په غيب

پوه ګڼل او داسي نوري ادعاګاني کول، نو د داسي رواياتو په اړه بايد محتاط وو، هم د دې روايت په اړه او هم ئې د راوي په اړه بايد شك ولرو او له ترويج او نشر ئې ډډه وکړو، ځکه دا امکان نه لري او له توقع بهر ده چي يو لوى شخصيت د ځان ستاينه وکړي، امکان نه لري په اسلام او قرآن پوه انسان د علم غيب ادعاء وکړي، د صالحو او مؤمنو شخصيتونو دود نه دئ چي د ځان لپاره د مقام او قدرت غوښتنه وکړي، امکان نه لري چي يو عالِم، د دين په اساساتو پوه او په اسلامي اخلاقو متخلق انسان دا ادعاء وکړي چي زه د راسخ في العلم له ډلي يم، د پاخه علم خاوند او د متشابهاتو په تأويل پوه، که پوهېدلی نو دا کار به ئې کړی وو، د ادعاء پر ځای به ئې متشابهات توضيح کړي وو، موږ خو د دوی په اقوالو کي هيڅ داسي نه بېلګه نه ګورو چي د کوم متشابه آيت په اړه ئې څه ويلي وي.

د آيت په پای کي د عقلمنو علماءو په اړه ويل شوي: عالمان ټول آيتونه د الله تعالی له لوري شمېري، ايمان پرې راوړي او هوښياران پند ترې اخلي.

رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوبَنَا بَعۡدَ إِذۡ هَدَيۡتَنَا وَهَبۡ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةًۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ ﴿٨﴾ رَبَّنَآ إِنَّكَ جَامِعُ ٱلنَّاسِ لِيَوۡمٖ لَّا رَيۡبَ فِيهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ﴿٩﴾

[۸]- اې زموږ ربه! زموږ زړونه له هغه وروسته کاږه مه کړې چي هدايت دي کړو او خپله پېرزوينه دي زموږ په برخه کړه، بې شکه چي ته ډېر مهربان توبه منونکی يې. [۹]- اې زموږ ربه! يقيناً چي ته هغي ورځي ته د خلکو راغونډوونکی يې چي شك په کي نشته، بې شکه چي الله له وعدې؛ نه په شا کېږي.

(۸-۹)- مخکي د داسي خلکو ذکر وشو چي په زړونو کي ئې کوږوالی دئ او د فتنو راولاړولو په لټه کي دي، دلته د پاخه علم د خاوندانو هغه وېره په ګوته کوي چي له انحراف او کوږوالي او د آخرت له محاسبې ئې لري، د هغوی دا ايماني احساسات په دغو الفاظو کي بيان شوي چي وايي: اې زموږ ربه! په خپلي پيرزويني او رحمت سره موږ له هغو کسانو؛ مه کړې چي زړونه ئې کاږه شوي، د قيامت ورځ راتلونکې ده، ته خپله وعده تر سره کوې. دوی پوهېږي چي له هدايت وروسته هم د انحراف او کوږوالي احتمال شته، ډېر خلك داسي دي چي معمولي ربړا ئې تر سترګو شوې، څو ګامه مخکي تللي، خو د لاري په اوږدو کي په داسي څه مصروف شوي چي نه يوازي له مزيد مخکي تلو پاته شوي بلکي په کړو لارو سر شوي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔاۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمْ وَقُودُ ٱلنَّارِ ﴿١٠﴾ كَدَأْبِ ءَالِ فِرْعَوْنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمْۗ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿١١﴾

[۱۰]- یقیناً هغه چې کافران شوي؛ له الله به ئې نه د دوی مالونه څه ترې دفع کړی شي او نه ئې اولاد؛ او همدا دوی به د اور سوند وي. [۱۱]- د فرعونیانو او د هغو په څېر به ئې حال وي چې له دوی مخکې وو؛ زما آیتونه ئې تکذیب کړل؛ نو الله په خپلو ګناهونو ونیول او الله سخت عذاب ورکوونکی دئ.

(۱۰-۱۱)- تاریخ ته رجوع وکړئ، وګورئ د هغو کسانو عاقبت څنګه وو چې د الله د کتاب آیتونه ئې تکذیب کړي، نه مال د الله له عذاب ژغورلي او نه د خپلو پلویانو لښکرو، فرعونیان او تر دوی مخکې کافران څنګه د الله له شدید عذاب او مؤاخذې سره مخامخ شول. هر څوك چې الهي آیتونه تکذیب کړي پای ئې همدا دئ.

قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ سَتُغْلَبُونَ وَتُحْشَرُونَ إِلَىٰ جَهَنَّمَۖ وَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ﴿١٢﴾

[۱۲]- کافرانو ته ووایه: حتماً به مغلوب شئ او د جهنم په لوري به محشور او راغونډ کړی شئ؛ څومره بد هستوګنځی!

(۱۲)- که څه هم دلته خطاب عام دئ او ټولو کافرانو ته ویل شوي چې په دنیا کې ستاسو حتمي پایله ماته او مغلوبیت ده او په آخرت کې مو د جهنم بد هستوګنځی. خو له وروستي آیت معلومېږي چې دلته په خاصه توګه یهودو ته خطاب متوجه دئ.

له دې آیت په څرګنده معلومېږي چې د دې سورې دا برخه هم د مکې له فتحې ډېر د مخه نازله شوې ده، دا ځکه چې د قریشو له ماتې وروسته او په داسې حال کې چې یهودان لا د مکې له فتحې د مخه له مدینې شړل شوي وو او د نجران مسیحیان له فتحې وروسته راغلل، تسلیم شوو او جزیه ئې ومنله؛ نو دا خطاب په دې مرحله کې چا ته متوجه کېدی شي چې ژر به مغلوب شئ؟ طبیعي ده چې دا خطاب د دې مرحلې نه دئ، په خلاف ئې په هغې مرحلې پورې تعلق لري چې نه قریش مات شوي وو، نه یهود او نه مسیحیان. دې ته ورته ګڼ شمېر نور آیتونه هم په دې دلالت کوي چې د دې سورې هیڅ برخه د مکې له فتحې وروسته نه ده نازله شوې. کوم روایات چې وایي د دې سورې یوه

برخه هغه وخت نازله شوه چې د نجران يو وفد مدينې ته راغی؛ څو ستونزې لري:

- په دوی کې ډېر اختلاف او تعارض شته، ځيني ئې وايي چې اتيا يا نوي آيتونه په دې وخت کې نازل شوي، ځيني ئې شپېته آيتونه گڼي او ځيني ئې څه باندې دېرش. ځيني ئې وايې چې په وفد کې شپېته کسان وو خو ځيني ئې اتيا کسان گڼي.
- د سورې له هيڅ آيت دا نه معلومېږي چې هغه به د مکې له فتحې وروسته نازله شوې وي.

قَدْ كَانَ لَكُمْ ءَايَةٌ فِى فِئَتَيْنِ ٱلْتَقَتَا ۖ فِئَةٌ تُقَٰتِلُ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَأُخْرَىٰ كَافِرَةٌ يَرَوْنَهُم مِّثْلَيْهِمْ رَأْىَ ٱلْعَيْنِ ۚ وَٱللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهِۦ مَن يَشَآءُ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّأُو۟لِى ٱلْأَبْصَٰرِ ﴿١٣﴾

[۱۳]- يقيناً تاسو ته په هغو دوو ډلو کې څرگنده نښه ده چې سره ونښتې، يوه د الله په لار کې جنگېده او بله ئې کافره وه چې د سترگو په ليد سره ئې هغوی د ځان دوه برابره ليدل او الله په خپلې مرستې سره د هغه چا ملاتړ کوي چې دی ئې وغواړي؛ يقيناً چې په دې کې سترگورو ته ښه عبرت دئ.

(۱۳)- له دې مبارك آيت معلومېږي چې په مخکيني آيت کې مخاطب قريش نه بلکې يهودان دي، دوی ته د بدر نښته د بېلگې په توگه وړاندې شوې او ورته ويل شوي چې ستاسو پايله به هم د هغوی په څېر وي. د بدر په جگړې کې د مسلمانانو بريا يهودان سخت پرېشان کړل، له دې مخکې دوی دا نه انگېرله چې څو مهاجر مسلمانان به د قريشو مخې ته تم شي او له خپلې مبارزې به څه تر لاسه کړي، خو د بدر تاريخي او نادري فتحې دوی هك پك کړل، د خطر احساس ئې وکړ، د دې ځوان تحريك قضيه ئې جدي ونيوله، غوښتل ئې د محتمل راتلونکي خطر مخه ونيسي، قريشو ته ئې هيئتونه ولېږل، د هغوی په ماتې او تلفاتو ئې خفگان څرگند کړ او اطمئنان ئې ورکړ چې له دې وروسته به د مسلمانانو په ضد د قريشو مرسته کوي. په دې آيت کې د لسم او يولسم آيت مطلب مزيد تشريح شوی او يوه تاريخي بېلگه ورته وړاندې شوې؛ کافرانو ته د دوی مال او ځواك گټه نه شي رسولی او د الله له عذاب ئې نه شي ژغورلی، مگر ومو نه ليدل چې د بدر په نښتې کې له کوم برخليك سره مخامخ شول، په داسې حال کې چې شمېر ئې په سطحي نظر د مسلمانانو دوه برابره معلومېدو؛ په حقيقت کې تر دې هم زيات وو؛ خو له ماتې سره مخامخ شول او د شمېر او وسائلو زياتوالي دوی ته بريا ورپه برخه نه کړه او د دوی د ماتې

مخه ئې ونه نیوله.

د ماتې او بریا پرېکړه الله تعالی کوي؛ چې څوك د الله د مرستې او تأیید مستحق وي او په ځان کې دا وړتیا راپیدا کړي چې الله ئې مرسته وکړي؛ وروستۍ فتح به د هغه وي، که څه هم شمېر ئې د دښمن د لښکرو په نسبت کم او وسائل ئې محدود وي. د بصیرت خاوندانو ته د بدر په نښتې او د مسلمانانو په بریا او د مغرورو قریشو په ماتې کې د پند او عبرت ژور درسونه پراته دي.

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلْبَنِينَ وَٱلْقَنَٰطِيرِ ٱلْمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلْفِضَّةِ وَٱلْخَيْلِ ٱلْمُسَوَّمَةِ وَٱلْأَنْعَٰمِ وَٱلْحَرْثِ ۗ ذَٰلِكَ مَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسْنُ ٱلْمَـَٔابِ ﴿١٤﴾ قُلْ أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيْرٍ مِّن ذَٰلِكُمْ ۚ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوْا۟ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَٰجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَرِضْوَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿١٥﴾

[۱٤]- خلکو ته د مرغوبو شیانو لکه ښځې، زامن، د سرو او سپینو زرو خزانې، نښانمن آسونه، څاروي او د کر کښت مینه ښایسته کړی شوې، خو دا ټول د دنیوي ژوند متاع ده او د الله خوا ته خو ډېر غوره د تېکي ځای دئ. [۱٥]- ورته ووایه: آیا تر دې په غوره څه مو خبر کړم؟ متقیانو ته د دوی د رب خوا کې داسې جنتونه دي چې ترې لاندې ویالې بهېږي، تلپاته په هغه کې، پاکیزه جوړې او د الله رضاء مندي؛ او الله خو د خپلو بندګانو ښه لیدونکی دئ.

(۱٤-۱٥)- خلك هغه څه معیار ګڼي او د چا عزت او ذلت، ماته او بریا او سعادت او شقاوت پرې تلي چې نفس ته مرغوب دي او د انسان نفس ئې خوښوي؛ لکه ښځې، زامن، د سرو او سپینو زرو خزانې، نښاني شوي آسونه، د څارویو رمې او د کر کښت پراخې زمکې؛ خو دا نه هدف دئ او نه معیار، نه انسان د دې لپاره پیدا شوی او نه به د ده په اړه قضاوت د دې له مخې کېږي او نه به ئې مستقبل او راتلونکی د دې له مخې ټاکل کېږي، دا خو په حقیقت کې د ده لپاره پیدا شوي، د ده د ژوند متاع ده، نه هدف او نه هم معیار، د انسان لپاره معیار بل څه دئ، هغه چې الله تعالی ئې دلته په یوه لفظ کې راخلاصه کوي: تقوی: ځان ساتنه، له ظلم، ناروا، تېری، ګناه، عصیان او هر هغه څه چې د ده له انسانیت سره نه ښایي او له هر هغه څه چې ده ته تاوان رسوي. د ښه او بد او سزا

او جزاء فيصله خو راتلونکې ده، الله تعالی به د قيامت په ورځ دا فيصله کوي، هلته به د متقيانو په مقام او منزلت پوه شئ، په دنيا کې خو تاسو هغه چا ته په سپکه سترګه کتل چې له خپل ملك شړل شوي، له مال او دولت محروم دي، نه بنګلې لري، نه لښکري او نه د سرو او سپينو زرو خزانې، خو په آخرت کې به وګورئ چې د الله په نزد کې ئې مقام څومره اوچت وو او په خپلې خوا کې ئې څنګه ځای ورته غوره کړی. تلپاته جنت؛ چې تربنګلو او ونو لاندې ئې ويالې بهېږي، پاکيزه جوړې او تر هر څه اوچت د الله رضامندي. الله د خپلو بندګانو کره وړه ليدلې، د دوی له وړتياوو خبر دئ، دوی ته به د خپلو وړتياوو مناسبه بدله ورکوي.

---

ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ١٦ ٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلۡقَٰنِتِينَ وَٱلۡمُنفِقِينَ وَٱلۡمُسۡتَغۡفِرِينَ بِٱلۡأَسۡحَارِ ١٧

[١٦]- هغه چې وايي: اې زموږ ربه! يقيناً چې موږ ايمان راوړی؛ نو زموږ ګناهونه راته وبخښه او د اور له عذاب مو وساته. [١٧]- همغه صابران، صادقان، غاړه ايښودونکې، انفاق کوونکې او د سحر په وخت کې مغفرت غوښتونکې بندګان.

---

(١٦-١٧)- دا مقام به د هغه چا په برخه وي چې ايمان راوړي، په آخرت ئې باور وي، په دوزخ کې له لوېدو وېره لري او له الله د خپلو ګناهونو بخښنه غواړي، هغه چې له ايمان وروسته ئې لومړی او تر ټولو اوچت صفت صبر وي، ضبط او حبس نفس، ځان سمبالول، په خپل حد کې ځان ساتل، د خپل انساني فطرت د غوښتنو په حصار کې او د الله له لوري په ټاکلو حدودو کې محدود پاته کېدل، هغه چې نه ئې نفسي غوښتني تېرايستی شي او نه د شيطان وسوسې، نه ئې د نعمتونو کثرت بې لارې کولی شي او نه محروميتونه، نه ئې د دښمن ګواښونه وېرولی شي او نه ئې ستونزې او کړاوونه پښې لړزولی شي، په خپل حد او حق قانع وي او په خپل کار کې له ستړيا او ستومانتيا ښودلو پرته لګيا وي. د صبر تر څنګ ئې څلور نور صفتونه وي: صادق وي، هم په خپله وينا کې او هم په خپله معامله کې، د خپل رب هر حکم ته غاړه ږدي، خپل مال د الله په لار کې لګوي او د خپلو اشتباهاتو او ګناهونو د جبران هڅه کوي او هر سحر، د شپې په پای او د ورځې له پيل مخکې له خپل رب د خپلو ګناهونو مغفرت غواړي.

---

شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلۡعِلۡمِ قَآئِمَۢا بِٱلۡقِسۡطِۚ لَآ إِلَٰهَ

﴿إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١٨ إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ وَمَا ٱخۡتَلَفَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۗ وَمَن يَكۡفُرۡ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ١٩﴾

**[١٨]- الله په دې شهادت ورکړی چې له ده پرته بل معبود نشته، ملائکو او په عدل ولاړو د علم خاوندانو هم؛ له عزيز حکيم خدای پرته بل معبود نشته. [١٩]- بې شکه چې د الله په نزد کې (مقبول) دين؛ اسلام دئ؛ او اهل کتاب خو اختلاف ونه کړ مګر له هغه وروسته چې علم ورته راغی؛ په خپلو کې د ضد او بغي له امله او څوك چې د الله په آيتونو کافر شي؛ نو يقيناً چې الله ډېر ژر محاسبه کوونکی دئ.**

(١٨)- الله تعالی په خپل کتاب کې د دې خبرې شهادت ورکړی چې له ده پرته بل معبود نشته، ملائکې هم په دې خبرې شهادت ورکوي او هر باانصافه د علم خاوند هم دا شهادت ورکوي، څوك چې له الله پرته بل د لمانځنې وړ ګڼي، په الوهيت او ربوبيت کې بل ته برخه ورکوي، بل ته عبادت او دعاء جائز ګڼي؛ د هغه خبره هم د الله د شهادت خلاف ده او هم د ملائکو او هم د با انصافه علماءو.

د دې آيت په ترجمه او تشريح کې د مفسرينو تر منځ اختلاف شته، پورتنۍ ترجمه د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د رأيي مطابق ده او همدا غوره ده؛ قائماً بالقسط د اولوالعلم حال بيانوي، بحث د اهل کتاب له مذهبي مشرانو سره دئ، دوی ته دغه خبره مناسبه ده چې باانصافه علماء هم د الله په يووالي شهادت ورکوي، د آيت د ترکيب تقاضی هم دغه ده چې ارتباط ئې له اولوالعلم سره دئ، په قرآن کې د قائماً بالقسط الفاظ د الله تعالی لپاره نه دي کارول شوي.

(١٩)- د الله په نزد کې مقبول دين دا دئ چې څوك الله او د هغه دين ته تسليم وي؛ دين يعني د الله حکم ته غاړه ايښودل، د مطيع او منقاد بنده په څېر ژوند کول. اهل کتاب هم له دې لحاظه د الله له مقبول دين سره اختلاف کړی چې له الله سره ئې جعلي معبودان شريك کړي، له الله پرته نور د عبادت او لمانځنې وړ ګڼي او هم له دې پلوه چې عملاً د الله احکامو ته تسليم نه دي، د الله دين د دوی پر ژوند او چارو ئې حاکم نه دئ، اختلاف ئې د ناپوهۍ له امله نه دئ؛ بلکې عمداً او له پوهېدا وروسته اختلاف کوي، د اختلاف وجه ئې (خپلمنځي بغي) ده، له اصلي دين سره اختلاف او هغه په بدله بڼه کې وړاندې کول ئې د دې لپاره دي چې له هغه يو په بل د تېري کولو وسيله وګرځوي، علماء

ئې عوام پرې وغولوي او د هغوی مال په ناحقه وخوري.

فَإِنۡ حَآجُّوكَ فَقُلۡ أَسۡلَمۡتُ وَجۡهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِۗ وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡأُمِّيِّـۧنَ ءَأَسۡلَمۡتُمۡۚ فَإِنۡ أَسۡلَمُواْ فَقَدِ ٱهۡتَدَواْۖ وَّإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ ٢٠

[٢٠]- نو که ئې شخړه درسره کوله ورته ووايه: ما خپل ځان الله ته تسليم کړی او هغو هم چې زما متابعت کوي؛ او اهل کتاب او نالوستو ته ووايه: آيا تاسو هم تسليم شوي يئ؟ نو که تسليم شول؛ سمه لار ئې وموندله او که ئې مخ واړاوو نو پر تا يوازې تبليغ دئ او الله د بندګانو ښه ليدونکی دئ.

(٢٠)- د دوی د بې بنسټه اعتراضونو او احتجاج پروا مه کوه، په ځواب کې ئې دا ووايه چې زه او زما متابعت کوونکي خپل رب ته تسليم يو، که د اهل کتاب علماءو او نالوستو يا دوی او مشرکانو الله ته د تسليمېدا لار غوره کړه؛ نو سمه لار به ئې موندلې وي او که ئې ډډه وکړه نو د دوی پروا مه کوه، ستا دنده دا ده چې حق ته بلنه ورکړې، د الله پيغام تر دوی ورسوې، پرېکړه هغه الله ته پرېږده چې د خپلو بندګانو ټول کړه وړه ګوري.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقۡتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيۡرِ حَقّٖ وَيَقۡتُلُونَ ٱلَّذِينَ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡقِسۡطِ مِنَ ٱلنَّاسِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٢١

[٢١]- يقيناً هغه چې د الله په آيتونو کافران کېږي او د الله پيغمبران په ناحقه وژني او له خلکو هغه هم وژني چې د عدل کولو امر کوي، نو د دردناك عذاب زېری ورکړه.

(٢١)- هغه کافران چې د الله له آيتونو انکار کوي، د الله د پيغمبرانو په مخالفت کې هغه ځای ته رسي چې د دوی د وژلو لپاره ملا تړي او آمرين بالقسط وژني، هر څوك چې د ظلم خلاف غږ اوچت کړي او عدالت ته بلنه ورکړي؛ دوی ئې وژني، ځيني له دې انکار او د پيغمبرانو او آمرين بالقسط له وژلو دا طمع لري چې په دې سره به خپل مخالفين وځپي، د دوی اقتدار ته ورپېښ ګواښونه به ختم کړي او د دوی د رياست او قيادت بقاء او دوام به تضمين شي؛ او ځيني نور ئې دا کار په دې هيله او ګمان کوي چې په دې سره له خپل (حق مذهب) دفاع کوي، الله به ترې راضي شي او جنت به ئې په برخه شي!! خو

دوی ته د دوی د دې کاذب او غولوونکي انتظار او هیلي خلاف د دردناك عذاب زېرى ورکړه؛ دوی دي مطمئن وي چي د خپلو هیلو د تر سره کېدو زېرى به هیڅکله وانه وري.

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٢﴾

[٢٢]- دوی هغه دي چي عملونه ئې په دنیا او آخرت کي حبط او تباه شوي او هیڅ مرستندوی ورته نشته.

(٢٢)- نه به په دنیا کي له دې عمل څه ګټه تر لاسه کړی شي او نه په آخرت کي او نه به داسي څوك ومومي چي په دنیا او آخرت کي ئې له خپل شوم عاقبت وژغوري، دوی هیڅ مرستندوی نه لري، هیڅوك ئې له زړه او په اخلاص سره مرسته نه کوي، که نن ډېر د دوی د مرستي او حمایت تیري په سینه وهي او د دوی لپاره لاس تړلي ولاړ دي؛ خو چي د رښتیا ورځ راشي نو یو کس به هم د دوی مرستي ته راوړاندي نه شي او مرسته به ئې ګټه ورونه رسوي.

له (حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ) معلومېږي چي د دوی ځیني له دې مخالفتونو دنیوی اهداف لري او ځیني ئې اخروي طمعي او هیلي.

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبٗا مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ يُدۡعَوۡنَ إِلَىٰ كِتَٰبِ ٱللَّهِ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ وَهُم مُّعۡرِضُونَ ﴿٢٣﴾

[٢٣]- آیا هغو ته دي پام نه دئ کړی چي د کتاب څه برخه ورکړی شوې، د کتاب په لوري بلل کېږي چي د دوی تر منځ پرېکړه وکړي؛ خو یوه ډله ئې ډډه کوي؛ په داسي حال کي چي (عمداً) اعراض کوونکي وي.

(٢٣)- دلته د دوی د علماءو په اړه بحث شوی؛ هغه چي د کتاب په څه برخي پوه شوي، د کتاب څه محدود او لږ علم ئې په برخه شوی، خو کله چي د الله کتاب ته د خپلو شخړو او منازعاتو د حل و فصل لپاره بلنه ورکړی شي او کله چي ورته وویل شي چي د الله په کتاب عمل وکړئ؛ له دې اعراض کوي او مخ اړوي.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُواْ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامٗا مَّعۡدُودَٰتٖۖ وَغَرَّهُمۡ فِي دِينِهِم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٢٤﴾

[٢٤]- دا له دې امله چې وايي: موږ ته به له څو شمېرلو ورځو پرته (د دوزخ) اور راونه رسېږي؛ خپلو افتراءاتو په خپل دين کې دوکه کړل.

(٢٤)- دوی د دې لپاره د الله کتاب شا ته وغورځاوو او په هغه ئې عمل کول پرېښود چې گمان ئې کولو جنت د دوی لپاره پيدا شوی او دوی د جنت لپاره، دوزخ ته به نه ځي مگر څو معدودي ورځې، دا د دوی ټگمارو مذهبي مشرانو ورته ويلي وو، هغوی دې خبرې ته مذهبي رنگ ورکړی وو، هغوی ورته ويلي وو چې دا خبره د الله په کتاب کې راغلې، دا په رواياتو کې راغلې، پيغمبر دا خبره کړې، دغو افتراءاتو وغولول، په خپل دين له پوهېدو ئې عاجز کړل او په هغه له عمل کولو ئې بې پروا کړل.

فَكَيْفَ إِذَا جَمَعْنَٰهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٥﴾

[٢٥]- نو څنگه به وي کله چې ئې هغې ورځې ته راغونډ کړو چې شك په کې نشته او هر چا ته به هغه څه پوره ورکړی شي چې کړي ئې وو او ظلم به نه پرې کېږي؟

(٢٥)- دوی به د قيامت په ورځ وگوري چې هر چا ته خپل عملونه او لاسته راوړني پوره ورکول کېږي، پرېکړه د عملونو له مخې کېږي، نه د بل څه له مخې، وبه گوري چې نه له پيغمبرانو سره د دوی قومي او نسلي نسبت گټه وررسولی شي او نه ئې د دوی د ټگمارو مذهبي مشرانو دروغجني فتوی گاني ژغورلی شي.

قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلْمُلْكِ تُؤْتِي ٱلْمُلْكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلْمُلْكَ مِمَّن تَشَآءُ
وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُ ۖ بِيَدِكَ ٱلْخَيْرُ ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٦﴾
تُولِجُ ٱلَّيْلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَتُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيْلِ ۖ وَتُخْرِجُ ٱلْحَيَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ
ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَيِّ ۖ وَتَرْزُقُ مَن تَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢٧﴾

[٢٦]- ووايه: اې بارئ ربه! د واکمنۍ واکداره! دا ته يې چې چا ته وغواړې واکمني ورکوې او له چا چې وغواړې د واکمنۍ "جامه" بېرته باسې، چې چا ته وغواړې عزت ورکوې او چې څوك وغواړې سپکوې ئې، ښېگڼه ټوله ستا په لاس کې ده، بې شکه چې ته په هر څه قادر يې. [٢٧]- شپه په ورځ کې ننباسې او ورځ په شپې کې داخلوې،

ژوندی له مړي راباسې او مړی له ژوندي راباسې او چې چا ته وغواړې بې حسابه روزي ورکوې.

(۲٦-۲۷)- د دې مبارکو آيتونو لارښوونې دا دي:

- په هر حالت کې به ستا باور دا وي چې د واکمنۍ اصلي او يوازينی واکدار الله دئ.
- دا پرېکړه د الله له لوري صادرېږي چې چا ته څومره او څنګه واکمني ورکړي.
- دا پرېکړه الله کوي چې د چا د واکمنۍ کرسۍ څنګه او کله نسکوره کړي.
- د عزت ورکړه د الله له لوري ګڼه، پام چې له الله پرته له بل چا عزت ته د رسېدو طمع ونکړې. مبادا اقتدار تر لاسه کول د عزت نښه وګڼې، ډېر د اقتدار خاوندان سخت ذليل او سپك دي.
- د چا د ذلت او سپکاوي پرېکړه هم الله کوي، په خپل عزت له الله پرته له بل چا مه وېرېږه. هغه څوك ذليل ګڼه چې د الله په وړاندې ذليل وي، مبادا ناداري او ناتواني د ذلت نښه وګڼې، ډېر په خړو جامو کې د الله په وړاندې هومره عزت لري چې د پرېړو غاړو، جګو شملو او دنګو بنګلو خاوندان ئې د پښو له خاورو سره برابر نه دي.
- د الله هره پرېکړه حکيمانه ده، په هرې فيصلې کې ئې خير مضمر دئ، خير او ښېګڼه د الله په خوا کې او د ده په لار کې لټوه، نه د بل چا په لاس کې او نه په نورو لارو کې.
- دا باور دې هيڅکله او په هيڅ حالت کې متزلزل نه شي چې الله په هر څه قادر دئ، ناتوانه او ضعيفو کسانو ته د ټولنې واکمني ورکولی شي او د زر او زور د خاوندانو تخت او تاج نسکورولی شي، نه د چا زور او ځواك د ده فيصلې بدلولی شي او نه د چا ضعف او ناتواني د ده پرېکړې ځنډولی شي.
- لکه څنګه چې شپه او ورځ د الله په اراده او د يوه ستر حکمت له مخې ځي راځي او په دې کار کې له الله پرته د عالم هيڅ ځواك هيڅ ډول دخالت نه شي کولی، نه شپه رالنډولی شي او نه ورځ اوږدولی شي، همدا راز د مرګ ژوند، عزت او ذلت پرېکړه او د واکمنۍ سپارل او بېرته اخيستل هم فقط د الله په اراده، د خاصو سننو مطابق او د خاصو مصلحتونو له مخې تر سره کېږي.
- د رزق او روزي په اړه د الله سنت دا نه دئ چې چا ته د ده د وړتياوو او استحقاق له مخې رزق او روزي ورکړي، بلکې په دې اړه ئې سنت دا دئ چې خپلو بندګانو ته که کافر وي که مسلمان، که صالح وي که طالح، له حسابه پرته روزي ورکوي، که ئې چا ته رزق د محاسبې له مخې او له هغه وروسته ورکولی چې خپله وړتيا ثابته کړي، نو له کافر، عاصي او باغي بنده به ئې هر څه سپمولي وو، له عادي اوبو به ئې هم محروم کړی وو.

مبادا د هغه چا په اړه چې د رزق او روزي تر لاسه کولو لپاره ئې حرامي لاري غوره کړې او د ظلم، تېري، خيانت او نورو حرامو لارو ئې ډېر څه تر لاسه کړي، دا ګمان وکړې چې الله ته نازولی دئ او د خاصو وړتياوو په وجه ئې دا هر څه ورکړي!! مبادا بېدای د عزت خاوند وګڼې او نېستمن سپك او ذليل، ډېر مالداران د الله او خلکو په نزد ډېر سپك او ذليل دي او ډېر نېستمن او نادار خلك د الله په وړاندي د ستر عزت خاوندان دي.

لَّا يَتَّخِذِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَلَيۡسَ مِنَ ٱللَّهِ فِي شَيۡءٍ إِلَّآ أَن تَتَّقُواْ مِنۡهُمۡ تُقَىٰةٗۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفۡسَهُۥۗ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلۡمَصِيرُ ٢٨

[٢٨]- مؤمنان دي له مؤمنانو علاوه کافران په دوستۍ نه نيسي او څوك چې دا کار وکړي نو په هيڅ څه کې له الله سره نه دئ، مګر دا چې له دوی څه وېره ولرئ او الله خو تاسو له خپل ځانه په حذر کوي او ورګرځېدنه خو د الله په لوري ده.

(٢٨)- مؤمنان به يوازي له مؤمنانو سره دوستي کوي، له دوی پرته به نور خلك دوستان نه ګڼي، له کافرانو سره به دوستي نه کوي، هر څوك چې له کافرانو سره دوستي وکړي نو خپلي ټولي اړيکي ئې له الله سره شلولې دي، د الله له حزبه وتلی دئ، نه د الله د دين په حلقه کې دئ او نه ئې له الله سره کوم تعلق پاته دئ؛ مګر دا چې د کافرانو په لاس کې پرېوتی وي، له کوم سخت خطر سره مخامخ وي، هغوی ئې په مرګ تهديدوي، د دوی له وېري دې ته اړ شوی وي چې د دوستۍ الفاظ ورته ووايي، داسي څه ورته ووايي چې هغوی ئې خپل دوست وګڼي او په دې سره هغه خطر دفع کړي او د دوی له شر ځان وژغوري. په داسي سخت او اضطراري حالت کې تاسو ته د داسي الفاظو د ويلو اجازه او رخصت درکړی شوی، الله تعالی په داسي حالت کې حتی د کفر د کلمې په ويلو او له اسلام د انکار په کولو هم تاسو نه نيسي. خو په دې حالت کې هم څو خبري په پام کې ولرئ:

- له دښمن د وېري پر ځای له الله ووېرېږئ، که په خپل دين د ټينګار په نتيجه کې وژل کېږئ نو څه پروا لري، مرګ خو هسي هم راځي، هسي به هم خپل رب ته ورګرځئ، آيا دا غوره نه ده چې دا مرګ مو د شهادت مرګ وي؟
- له دوی ستاسو وېره بايد هومره نه وي چې له الله ستاسو په وېري غالبه شي او په تاسو باندي هغه کار وکړي چې الله تعالی ئې اجازه نه ده درکړې، مبادا د کوم مسلمان د وژلو او يا اسلام او مسلمانانو ته تاوان رسولو په بيع دا کار وکړئ.

دا مبارك آيت كه له يوې خوا موږ ته لارښوونه كوي چې له كافرانو سره به له دوستۍ ډډه كوو او له دوى سره د دوستۍ په سبب زموږ ټولې اړيكې له الله سره قطع كېږي، له بلې خوا د وېرې په حالت کې او هلته چې يو مسلمان د كافرانو په لاس كې پرېوتى وي او په مرگ ئې گواښي؛ هغه ته دا اجازه وركوي چې دښمن ته د دوستۍ او ملگرتيا خبره وكړي، خو په دې شرط چې په دې كار سره به اسلام او مسلمانانو ته تاوان نه رسوي، يوازې د ځان د ژغورلو لپاره به كومه چاره او حيله لټوي، دا رخصت د ده د ضعف، ناتوانۍ او مجبوريت له مخې وركړى شوى، د عزيمت او قوي ايمان تقاضى دا ده چې په دې حالت كې هم د ثبات او استقامت لار غوره كړي، په خپل ايمان ټينگ پاته شي او د دښمن پر ځاى يوازې له يوه الله وېره ولري او دا ئې په پام كې وي چې مرگ د ده د ژوندون پاى نه دئ بلكې د بل ژوندون مقدمه ده، په دې مرگ سره هغه د الله په لور درومي.

متأسفانه ځيني خلك منافقت، دوه مخيتوب او خدعې ته هم د "تقيه" نوم وركوي او له هر چا سره په هرحالت كې دا "تقيه" جائز گڼي، دا په داسې حال كې چې قرآن خدعه او دوه مخيتوب حرام گڼي او د اسلام له نظره حتى له دښمن سره خدعه ناجائزه ده، د پيغمبر عليه السلام په مخكې يوې ښځې خپل زوى ته وويل چې راشه څه دركوم، پيغمبر عليه السلام ترې پوښتنه وكړه: څه دې وركول غوښتل؟ هغې وويل: غوښتل مې خرما وركړم، پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل: كه څه دې نه وى وركړي نو دا به د دروغو په توگه درته ليكل كېده.

له دې مبارك آيت چې دا مذهبي فرقه كوم تعبير او تفسير وړاندې كوي ډېر بې بنسټه دئ، په دې تعبير سره هغوى خدعې او دوكې ته د تقيه نوم وركړى، څوك چې په داسې تقيه معتقد وي د هغه د هرې خبرې په باب خلك داسې گمان كوي چې ښايي هغه تقيه كوي او د زړه مقصدي خبره له ده پټه ساتي. هيڅوك نه پوهېږي چې د ده كومه خبره صادقانه او رښتينې ده او كومه ئې په تقيه ولاړه خبره.

له آيت دوه خبرې په ډېر صراحت سره معلومېږي:

- دا حكم له كافرانو سره د تعلقاتو په اړه دئ، نه له هر چا سره.
- دا د اضطرار په حالت كې رخصت دئ، داسې لكه د سختې مخمصې په حالت كې د حرامې غوښې د خوړلو اجازه.

قُلْ إِن تُخْفُوا۟ مَا فِى صُدُورِكُمْ أَوْ تُبْدُوهُ يَعْلَمْهُ ٱللَّهُ ۗ وَيَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٩﴾

[٢٩]- ورته ووايه: كه د سينو خبره مو پټه كړئ او يا ئې څرګنده كړئ، الله پرې پوهېږي او په هغه څه هم پوهېږي چي په آسمانونو كې دي او په هغه څه هم چي په زمكې كې دي او الله په هر څه قادر دئ.

(٢٩)- څه چي تاسو له كافرانو سره دوستى ته هڅوي؛ كه دا پټ كړئ يا ئې ښكاره كړئ، الله پرې پوهېږي. تاسو چي كومه خبره كافرانو ته كوئ، د ځان د ژغورنې لپاره او څه چي مو په سينه كې پټ ساتئ كه دا د كفر په وينا رضايت وي او كه له هغې كركه او په خپلې عقيدې باور؛ الله پرې پوهېږي.

په دې پوه شئ چي الله په هر څه قادر دئ، كه وغواړي او دا ستاسو په خير وي نو په هغه حالت كې هم تاسو ژغورلى شي چي تاسو د خطر په دې سخت حالت كې په خپل ايمان ټينګار وكړئ او كافر ته له هغې وينا انكار وكړئ چي تاسو د دوى له غضب ژغوري.

يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا وَمَا عَمِلَتْ مِن سُوٓءٍ تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُۥٓ أَمَدًۢا بَعِيدًاۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفْسَهُۥۗ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿٣٠﴾

[٣٠]- هغه ورځ چي هر څوك به د خير هر هغه څه حاضر ومومي چي كړي ئې وو او له بدو كارونو ئې چي څه كړي وي دا به خوښوي چي كاش د دغه (بد كار) او د ده تر منځ لري او اوږد واټن وى؛ او الله تاسو له ځانه وېروي او الله په خپلو بندګانو رؤوف او مهربان دئ.

(٣٠)- كه څه هم دلته د (خير او سوء) ذكر عام راغلى او په هر ښه او بد كار ئې اطلاق كېږي او دا مطلب افاده كوي چي د قيامت په ورځ به هر څوك خپل نېك عملونه په خپلې مخې كې حاضر ومومي، د خير عمل دي نه ضائع كېږي، د الله په خوا كې درته ساتل كېږي او د خپل بد عمل په اړه به وايي چي كاش له دې كار ډېر لري پاته شوى وى، هيڅكله مي لاس نه وي وررسېدلى؛ دا عام مطلب هم افاده كوي خو له مخكيني آيت سره د ارتباط له مخي ئې معنى دا ده چي په هغه خطرناك حالت كې په خپل ايمان ټينګار به د قيامت په ورځ د الله په خوا كې ومومي او كومه غلطه خبره چي له خولې ئې وتلې وي هلته به پرې شرمنده وي او وايي به چي كاش دا خبره مي له خولې هيڅكله نه وى وتلې، كاش له دې غلطۍ ډېر ډېر لري پاته شوى وى. نو له الله ووېرېږئ، هغه مو يوازي نه پرېږدي، هغه په خپلو بندګانو ډېر زړه سوانده او مهربان دئ.

د كتاب له بحث وروسته؛ د پيغمبرانو په اړه بحث پيل كېږي؛ او پر دې بحث كوي

چي دوی څوك دي، مأموريت ئې څه دئ، مقام او منزلت ئې څه دئ؟

د پيغمبرانو په اړه به معاندينو ويل: كه دوی د الله له لوري راغلي وي نو بايد په غيب پوه وي، هر كار ئې تر سره كولی شوی، چا ئې مخالفت نه شوی كولی، ملائكې ئې په څنگ كې وی، د سرو او سپينو زرو خزانې ئې په واك كې وی، خو چې پيغمبر ئې د ځان په څېر يو انسان او بشر ليدو، نه له غيب خبر او نه د امورو متصرف، نه ئې د ملائكو محافظ ټولگي په څنگ كې او نه ئې خزانې په واك كې، مخالفين ئې كله دی په خپله ځوروي او كله ئې ياران، خو دی نه له ځان خارق العاده دفاع كولی شي او نه له خپلو يارانو؛ نو له ايمان راوړو ئې انكار كړی. قرآن د دوی حالت څنگه ښكلی انځور كړی:

وَقَالُواْ لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفْجُرَ لَنَا مِنَ ٱلْأَرْضِ يَنۢبُوعًا ﴿٩٠﴾ أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ ٱلْأَنْهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفْجِيرًا ﴿٩١﴾ أَوْ تُسْقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا أَوْ تَأْتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ﴿٩٢﴾ أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِّن زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَىٰ فِى ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَٰبًا نَّقْرَؤُهُۥ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّى هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا ﴿٩٣﴾ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤْمِنُوٓاْ إِذْ جَآءَهُمُ ٱلْهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرًا رَّسُولًا ﴿٩٤﴾ قُل لَّوْ كَانَ فِى ٱلْأَرْضِ مَلَٰٓئِكَةٌ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُولًا ﴿٩٥﴾ الاسراء

او وئې ويل: تر هغه پر تا ايمان نه راوړو چې له زمكې كومه چينه راته ونه بهوې؛ او يا دې د خرما او انگورو داسې باغ نه وي چې په منځ كې ئې ويالې رواني كړې؛ او يا لكه څنگه چې گمان كوې دا آسمان پر موږ راپرېږ باسې او الله او ملائكې موږ ته مخامخ راحاضر كړې او يا دې د سرو سپينو زرو كور وي او يا آسمان ته وخيژې او ختل دې هم تر هغه نه منو چې كوم داسې ليكلی كتاب راته راوړې چې موږ ئې لوستی شو، ورته ووايه: سبحان الله! مگر زه له يوه لېږل شوي انسان پرته بل څه يم؟! او د هدايت له راتلو وروسته؛ خلك له دې پرته بل څه له ايمان راوړلو منع نه كړل چې ويل ئې: آيا الله يو انسان د پيغمبر په توگه مبعوث كړی؟ ورته ووايه: كه په زمكې كې ملائكې اوسېدی او ډاډمنه گرځېدئ؛ نو الله به هرومرو يوه ملائكه د پيغمبر په توگه رالېږلې وه.

دا له پيغمبرانو د انكار كوونكو استدلال وو؛ خو د دوی په مقابل كې ځيني نور بيا داسې وو چې د خپلو پيغمبرانو په اړه به ئې همداسې گمانونه كول، ويل به ئې چې زموږ

پیغمبر په غیب پوه وو، د امورو متصرف وو، الله ورته خاص خاص اختیارات ورکړي وو، موږ هغه پیغمبر نه منو چي دغه ځانګړتیاوي ونلري!! آیا ډېره عجیبه نه ده؟ پر پیغمبرانو د ایمان دروغجن مدعي هغه معجزې او خارق العاده ځانګړتیاوي مخکینیو پیغمبرانو ته منسوبوي چي د نوي پیغمبر مخالفین او د ده له رسالت منکرین؛ د همداسي معجزو او ځانګړتیاوو د نه د درلودو له کبله پر هغه له ایمان راوړلو انکار کوي!!

د دغو دواړو ډلو د بې بنسټه اوهامو او غلطو انګېرنو د تردید لپاره دلته د پیغمبرانو په اړه ډېر جامع او دقیق بحث شوی او د دوی حقیقت ئې بیان کړی. بحث په دې آیت پیل کېږي:

قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِى يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾ قُلْ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٣٢﴾

[٣١]- ورته ووایه: که په رښتیا له الله سره مینه لرئ نو زما متابعت وکړئ، چي الله له تاسو سره محبت وکړي او ګناهونه مو درته وبخښي؛ او الله ډېر مهربان بخښونکی دئ. [٣٢]- ورته ووایه: د الله او د پیغمبر اطاعت وکړئ، که ئې مخ واړاوو نو الله له دغو کافرانو سره محبت نه کوي.

(٣١-٣٢)- له الله سره د محبت دعوی له هغه چا منل کېدی شي چي عملاً د الله د پیغمبر متابعت کوي، هغه څوك چي د پیغمبر متابعت نه کوي، نه الله له ده سره محبت کوي او نه دی له الله سره مینه لري، د الله ولي او دوست هغه دئ چي په عمل کي د الله د پیغمبر متابعت کوي. د الله او پیغمبر اطاعت د ایمان نښه ده او عدم اطاعت ئې د کفر نښه.

إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰٓ ءَادَمَ وَنُوحًا وَءَالَ إِبْرَٰهِيمَ وَءَالَ عِمْرَٰنَ عَلَى ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٣٣﴾ ذُرِّيَّةًۢ بَعْضُهَا مِنۢ بَعْضٍ ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾

[٣٣]- یقیناً چي الله تعالی آدم، نوح، د ابراهیم او عمران اولاد په عالمیانو غوره کړي.
[٣٤]- یو د بل اولاد او الله ښه پوه اورېدونکی دئ.

(٣٣-٣٤)- الله تعالی د زمانې په اوږدو کي ډېر داسي شخصیتونه غوره کړي چي د نورو د

لاربښوونې دنده ئې ورسپارلې وه، د دوی خاصې ځانګړتیاوې وې، د دغو خصوصیاتو له کبله الله تعالی دوی ته په نورو فضیلت ورکړی وو، آدم علیه السلام، نوح علیه السلام، ابراهیم علیه السلام او اولاد ئې او د عمران اولاد له دې جملی وو، د دوی د فضیلت وجه دا نه وه چې ګواکې دوی د انسانانو کومه خاصه نوع وو، نه؛ همدا د نورو انسانانو په څېر یو له بل پیدا کېدونکې انسانان وو، د فضیلت وجه ئې بله وه، په دوی کې د هغه ستر مأموریت د سر ته رسولو وړتیاوې وې چې د انسانانو د لاربښوونې او هدایت په اړه الله تعالی ورسپارلی وو، سمیع او علیم خدای پوهېږي چې د دوی په اړه خلك څه عقیده لري او څه وایي. یهودان او نصاری د خپلو پیغمبرانو په اړه څه څه خبري کوي او څه څه عقائد لري.

إِذْ قَالَتِ ٱمْرَأَتُ عِمْرَٰنَ رَبِّ إِنِّى نَذَرْتُ لَكَ مَا فِى بَطْنِى مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّىٓ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٣٥﴾ فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّى وَضَعْتُهَآ أُنثَىٰ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ وَلَيْسَ ٱلذَّكَرُ كَٱلْأُنثَىٰ ۖ وَإِنِّى سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَإِنِّىٓ أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴿٣٦﴾ فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ وَأَنۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا ۖ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا ٱلْمِحْرَابَ وَجَدَ عِندَهَا رِزْقًا ۖ قَالَ يَٰمَرْيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَا ۖ قَالَتْ هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ يَرْزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٧﴾

[۳۵]- هغه وخت چې د عمران مېرمنې وویل: اې زما ربه! زما په رحم کې چې څه دي هغه مې ستا لپاره نذر کړی، آزاد (له بل هر کار)، نو له ما ئې قبول کړه، بې شکه چې ته ښه پوه اورېدونکی یې. [۳٦]- نو کله چې ئې وزېږاوو، وئې ویل: اې زما ربه! ما خو نجلۍ وزېږوله! او الله ښه پوهېږي چې څه ئې زېږولي، او نارینه خو د ښځې په څېر نه وي! او ما هغه مریم ونوموله او زه دا او اولاد ئې له رټل شوي شیطانه ستا په پناه کې درکوم. [۳۷]- نو خپل رب ئې په ښه توګه قبوله کړه او د دې ښه روزنه ئې وکړه او زکریا ئې د دې روزونکی او کفیل وګرځاوو، کله چې به هم زکریا د دې عبادت ځي ته ورننووت نو د دې په خوا کې به ئې خاص خوراك موندو، وبه ئې ویل: اې مریمې! دا له کومه درته راغلي؟ وبه ئې ویل: دا د الله له لوري دي، بې شکه چې الله هر چا ته چې وغواړي بې حسابه روزي ورکوي.

(۳۵-۳۷)- د مریم مور؛ د عمران مېرمن حامله وه، له الله سره ئې وعده وکړه چې خپل بچی به د ده په لار کې وقف کوي، انتظار ئې دا وو چې الله تعالی به زوی ورکړي او هغه به د الله د دین خدمت ته وړاندي کوي، خو الله تعالی ورته لور ورکړه؛ وئې ویل: زما ربه! دا خو لور ده، ما خو د زوی طمع وه، نارینه خو د ښځې په څېر نه وي، هغه محدودیتونه ئې نه وي چې ښځه عادتاً ورسره مخامخ وي، ما ئې نوم مریم ( دالله بنده او خدايي خدمتگار) کښېښود، زه ئې تا ته سپارم، دا او اولاد ئې له رټلي شیطان په خپل حفظ او امان کې وساته، الله تعالی ښه پوهېدو چې څه ئې زېږولي، الله تعالی د دې همدا نذر قبول کړ، د مریمې د ښې روزنې انتظام ئې وکړ، دا ئې د زکریا علیه السلام تر روزنې او کفالت لاندې ورکړه، کله چې به د روزنې په دوران کې زکریا علیه السلام د دې هستوګنځي ته ورغی نو د مریمې خوا ته به ئې بې موسمه مېوې ولیدې، له هغې به ئې پوښتنه وکړه چې دا له کومه راځي، مریمې به ځواب ورکړ: دا د الله له لوري ده، الله چې چا ته وغواړي له حسابه پرته روزي ورکوي، زه د داسې رزق مستحقه نه یم، دا د الله پېرزوینه ده، زما د کومې ځانګړتیا له مخې ئې نه راکوي، له محاسبې پرته ئې راکوي. دلته او د قرآن په ډېرو نورو آیتونو کې هم د (يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٍ) معنی همدا ده، د (بغیر حساب) دقیقه او سمه ترجمه (له حسابه پرته) ده، نه (بې حسابه)، د مریم په ځواب کې خو هغه بې حسابه ترجمه کول ډېره نامناسبه ترجمه ده. زکریا علیه السلام اولاد نه درلود، دی او مېرمن ئې د عمر هغه حد ته رسېدلي وو چې څوك هغه وخت د اولاد طمع نه شي کولی، خو چې وئې لیدل الله تعالی بې موسمه مېوه هم ورکوي، دا طمع په کې راپیدا شوه چې ما ته به هم بې موسمه اولاد راکړي.

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥۖ قَالَ رَبِّ هَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةًۖ إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ۝٣٨

[۳۸]- دلته نو زکریا خپل رب ته دعاء وکړه، وئې ویل: اې زما ربه! له خپله لوري ما ته پاکیزه اولاد را، بې شکه چې ته د دعاګانو ښه اورېدونکی یې.

(۳۸)- د مریم سپېڅلتوب په ده کې د سپېڅلي اولاد تلوسه راپیدا کړه او هغې ته بې موسمه روزي ورکول هیله من کړ چې ده ته به هم په دې زړښت کې اولاد ورکړي.

فَنَادَتۡهُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٞ يُصَلِّي فِي ٱلۡمِحۡرَابِ أَنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحۡيَىٰ

مُصَدِّقًۢا بِكَلِمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٣٩﴾

[۳۹]- نو په داسي حال کې چې ولاړ وو؛ په محراب کې ئې لمونځ کاوو؛ ملائکو پرې غږ کړ چې الله تا ته د يحيی زېرى درکوي، د يوې الهي کلمې تصديقوونکى، سالار او ځان ساتونکى او د صالحينو له ډلي يو نبي.

(۳۹)- د سپېڅلي اولاد په طمع کې يوه صالح پلار ته الله تعالی د ملائکو په لاس د داسي زوى زېرى ورکوي چې د يوه الهي پيغمبر مؤيد به وي، له فکري او اخلاقي لحاظه به سالار او مخکښ وي، ځان ساتونکى، صالح او پيغمبر به وي. پيغمبران داسي وي او مواصفات ئې دا.

قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٌ وَقَدْ بَلَغَنِيَ ٱلْكِبَرُ وَٱمْرَأَتِي عَاقِرٌ قَالَ كَذَٰلِكَ ٱللَّهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴿٤٠﴾ قَالَ رَبِّ ٱجْعَل لِّيٓ ءَايَةً قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمْزًا وَٱذْكُر رَّبَّكَ كَثِيرًا وَسَبِّحْ بِٱلْعَشِيِّ وَٱلْإِبْكَٰرِ ﴿٤١﴾

[٤٠]- وئې ويل: اې زما ربه! څنګه به ما ته زوى وي په داسي حال کې چې د زوړالي (وخت مي) رارسېدلى او ښځه مي شنډه ده؟! ورته وئې ويل: الله خو همداسي چې څه وغواړي کوي ئې. [٤١]- وئې ويل: اې زما ربه! څه نښه ئې راته وټاکه؛ وئې فرمايل: نښه دي دا ده چې درې ورځې به له اشارې پرته له خلکو سره خبرې نه شې کولى؛ او خپل رب زيات يادوه او سبا او ماښام تسبيح وايه.

(٤٠-٤١)- دا د الله يو پيغمبر دئ، د بل پيغمبر پلار، د مريم استاد، له دې ئې د معنوي مقام اندازه معلومولئ شئ، خو هغه له دې خبر نه وو چې شاګرد ته ئې له غيبه روزي راځي، په دې نه پوهېدو چې الله بې موسمه مېوه او بې موسمه اولاد هم ورکوي، په دې نه پوهېدو چې زوى به ئې کله پيدا کېږي په داسي حال کې چې دا زېرى د الله د ملائکو په واسطه ورکړى شوى وو، له الله ئې وغوښتل چې د پيدا کېدو د ورځو نښه او علامه ئې وروښيي. په دې سره د نجران مسيحيانو او ټولو هغو خلکو ته ويل شوي چې د پيغمبرانو او د الله د صالحو بندګانو په اړه دا ګمان کول چې هغوى په غيب پوهېږي، ستره غلطي ده. د دوى په اړه دا انګېرنه چې الله تعالی په خپلي واکمنۍ کې له ځان سره شريک کړي، د ځينو چارو اختيارات ئې ورکړي، د خلکو حاجتونه تر سره کولى شي؛ لويه اشتباه ده. مګر نه ګورئ چې د زکريا عليه السلام په څېر ستر او عظيم شخصيت تر کلونو کلونو د اولاد په

طمع وو، خپل حاجت ئې نه شو تر سره کولی، کله چې د الله له لوري د زوی زېری ورکړی شو؛ تلوسه ئې وه چې الله به څنگه او څه وخت زوی ورکوي، نښه او علامه ئې غوښته!! تاسو پوهېږئ چې همدا دوه غلطي انگېرني د هر شرکي مذهب بنسټ دئ، هم د بتانو ځانځنه له دې راولاړه شوې او هم د قبرونو.

وَإِذْ قَالَتِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰكِ وَطَهَّرَكِ وَٱصْطَفَىٰكِ عَلَىٰ نِسَآءِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٢﴾ يَٰمَرْيَمُ ٱقْنُتِى لِرَبِّكِ وَٱسْجُدِى وَٱرْكَعِى مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾ ذَٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ أَقْلَٰمَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٤﴾

[٤٢]- او کله چې ملائکو وويل: اې مريمې! بې شکه چې ته الله غوره کړې او پاکه کړې يې او د نړۍ پر ټولو ښځو ئې غوره گرځولې يې. [٤٣]- اې مريمې! خپل رب ته تسليم اوسه، سجده کوه او له رکوع کوونکو سره رکوع کوه. [٤٤]- دا د غيب ځيني خبري دي چې تا ته ئې وحي کوو او ته هغه وخت د دوی خوا ته نه وې چې دوی خپل قلمونه د دې لپاره اچول چې (معلومه کړي) څوك به د مريمې کفالت کوي او هغه وخت هم د دوی په خوا کې نه وې چې په خپلو کې ئې شخړه کوله.

(٤٢-٤٤)- دا خبري د غيب خبري دي، په دې باندي پيغمبر عليه السلام په خپله او په خپل علم سره نه دئ پوه شوی؛ بلکې په وحي سره پوه شوی؛ داسي نه ده چې په خپله يا په خپل علم سره هلته موجود وو او دا هر څه ئې ليدلي او اوس ئې خلکو ته وايي، دی نه د دوی د شخړې په وخت کې هلته حاضر وو او نه هغه وخت چې د کليسا مجاورينو خپل قلمونه د دې لپاره په اوبو کې اچول چې د مريمې د روزنې قرعه به د چا په نامه راووځي، پيغمبرانو ته چې د غيب په اړه د وحي له لاري څه ويل شوي او دوی ته په ورکړ شوو کتابونو کې ذکر شوي، دا د دوی علم غيب نه دئ، په وحي سره په څه پوهېدل علم غيب مه گڼئ، ډېر خلك په دې مغالطه کې پرېوځي او دې ته علم غيب وايي. دې ته مو پام وي چې مشرکين د خپلو پيرانو، شيخانو او جعلي خدايانو په اړه داسي وايي او داسي گمان کوي چې هغوی په هر ځای کې حاضر وي او پر ټولو پټو خبرو پوه وي. په دې آيتونو سره د دغي بې بنسټې عقيدې جرړي قطع شوې دي.

إِذۡ قَالَتِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرۡيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٖ مِّنۡهُ ٱسۡمُهُ ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ وَجِيهٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ﴿٤٥﴾ وَيُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِي ٱلۡمَهۡدِ وَكَهۡلٗا وَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٤٦﴾

[٤٥]- هغه وخت چي ملائکو وویل: اې مریمې! بې شکه چي الله تا ته د یوې الهي کلمې زېری درکوي، چي نوم به ئې مسیح عیسی د مریمې زوی وي، په دنیا او آخرت کې مخور او له مقربینو. [٤٦]- او خلکو ته به په ماشومتوب او زوړوالي کې وینا کوي او له صالحینو به وي.

(٤٥)- په مخکیني آیت کې د پیغمبر دا صفت بیان شوی چي په خپله علم غیب نه لري خو الله تعالی ئې د وحي له لاري د غیب په ځینو خبرو خبروي او دلته د پیغمبر دا صفات ښودل شوي چي په دنیا او آخرت کې به مخور او منلی وي او الله ته مقرب او نژدې.

- (٤٦)- ستا زوی به په ماشومتوب کې هم له خلکو سره همغسي خبري کولی شي چي په زړښت کې به ئې کوي، دا به د ده معجزه وي او دی به صالح بنده وي.

الله تعالی؛ عیسی علیه السلام په ځوانۍ کې خپلې خوا ته اوچت کړ، له قیامت مخکې به ئې بېرته رالېږي او خپل پاته عمر او مأموریت به پوره کوي او په زړښت کې به هم خلکو ته وینا وکړي، په دې آیت کې دغه مطلب ته اشاره شوې.

قَالَتۡ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي وَلَدٞ وَلَمۡ يَمۡسَسۡنِي بَشَرٞۖ قَالَ كَذَٰلِكِ ٱللَّهُ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ إِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٤٧﴾

[٤٧]- وئې ویل: اې زما ربه! څنګه به مي زوی وي حال دا چي د هیڅ بشر لاس نه دئ رابانديٍ لګېدلی، وئې فرمایل: همداسي ده! الله چي څه وغواړي پیدا کوي ئې، کله چي د کوم کار پرېکړه وکړي ورته وایي: وشه نو هغه کېږي.

(٤٧)- مریم علیها السلام په دې نه پوهېږي چي الله تعالی به زوی ورکوي او په دې هم نه پوهېږي چي څنګه به ئې ورکوي، دا خو ئې په خیال کې هم نه ګرځېده چي له پلار پرته هم اولاد پیدا کېدی شي، ورته وویل شو: الله چي څه وغواړي داسي ئې هم پیدا کولی شي، له پلار پرته هم، الله چي د کوم څه د کېدو پرېکړه وکړي نو یوازي امر ئې کافي دئ، د ده له امر سره سم او له ځنډ پرته هغه کار تر سره کېږي.

وَيُعَلِّمُهُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ ﴿٤٨﴾ وَرَسُولًا إِلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ
أَنِّي قَدۡ جِئۡتُكُم بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ أَنِّيٓ أَخۡلُقُ لَكُم مِّنَ ٱلطِّينِ كَهَيۡـَٔةِ ٱلطَّيۡرِ
فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيۡرَۢا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۖ وَأُبۡرِئُ ٱلۡأَكۡمَهَ وَٱلۡأَبۡرَصَ وَأُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ
بِإِذۡنِ ٱللَّهِۖ وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأۡكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَأٓيَةٗ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٤٩﴾ وَمُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَلِأُحِلَّ
لَكُم بَعۡضَ ٱلَّذِي حُرِّمَ عَلَيۡكُمۡۚ وَجِئۡتُكُم بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ
وَأَطِيعُونِ ﴿٥٠﴾ إِنَّ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ﴿٥١﴾

[٤٨]- او كتاب، حكمت، تورات او انجيل به ورزده كړي. [٤٩]- او د بني اسرائيلو په لوري يو رسول، په دې چي ستاسو د رب له لوري مي ځرګنده نښه درته راوړې ده، هغه دا چي زه ستاسي لپاره له خټي د مرغه څېره جوړوم، بيا په هغه کې پو کوم، نو هغه به د الله په اذن سره ژوندی مرغه شي او د الله په حکم به له موره ړوند پيدا شوی او برګی روغوم او مړي به ژوندي کوم او په هغه څه به مو خبروم چي په خپلو کورونو کې ئې خورئ يا ئې ذخيره کوئ، بې شکه چي په دې کې تاسو ته ځرګنده نښه ده که مؤمن يئ. [٥٠]- او د هغه تورات تصديقوونکی چي تر ما وړاندي وو او چي ځيني هغه شيان درته حلال کړم چي پر تاسو حرام کړی شوي او ستاسو له رب مي ځرګنده نښه درته راوړې، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. [٥١]- بې شکه چي زما او ستاسي رب الله دئ، نو عبادت ئې وکړئ، همدا نېغه لاره ده.

(٤٨-٥١)- عيسی عليه السلام ته د تورات او انجيل علم ورکړی شوی وو، د بني اسرائيلو په لوري پيغمبر لېږل شوی وو، ځرګندي معجزې ورکړی شوې وې، له خټي به ئې د مرغه شکل جوړ کړ او په هغه کې به ئې پو کړل او له هغه به ژوندی مرغه جوړ شو، له موره ړوند پيدا شوی او برَګی به د ده په دعاء روغ شو، مړی به د ده په دعاء راژوندی شو، له دې به ئې خلك خبرولی شو چي څه به خوري او څه به په کور کې ذخيره کوي، د نن او سبا له خوراك ئې خبرولی شو، خو ده به په خپله خلکو ته ويل: دا زما ذاتي کار نه دئ، د الله په إذن ئې تر سره کوم، دا زما د رسالت نښې دي، دا نښې شهادت ورکوي چي زه د الله پيغمبر يم. زما وينا همغه ده چي د موسی عليه السلام وينا وه، زه د تورات مصدق يم،

تاسو له تورات عدول کړی، ستاسو مذهبي مشرانو په خپل سر او د تورات د حکم خلاف ډېر شيان په تاسو حرام کړي، ډېر شيان ئې پرې زيات کړي، زه راغلی يم چې دا اضافي پېټي ستاسو له اوږو راکوز کړم، په دې ټولو خبرو مې ستاسو د رب له لوري ځرګندې نښې درته راوړې، زما د پيغام خلاصه دا ده چې: له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ، الله هم زما معبود دئ او هم ستاسو معبود، د هغه عبادت وکړئ، سمه او مستقيمه لار همدا ده چې له الله پرته د بل چا عبادت ونکړئ.

د دې مبارکو آيتونو څو اساسي خبرې او لارښوونې د ځانګړې توجه وړ دي:

- د پيغمبرانو معجزې د دوی ذاتي کار نه دئ، دا د الله کار او د دوی د رسالت نښې دي.
- د پيغمبرانو د دعوت خلاصه دا ده چې يوازې د يوه الله عبادت وشي، دوی يوازې دې ته مستقيمه لار وايي او همدې ته بلنه ورکوي. له دې معلومېږي چې د فاتحې په سوره کې د مستقيمې لارې معنی همغه ده چې د سورې په څلورم آيت کې ويل شوي: يوازې ستا عبادت کوو او يوازې له تا مرسته غواړو.
- پيغمبران عليهم السلام يو د بل ملاتړ او تأييد کوي، موجود پيغمبر د مخکيني تصديق کوي او د وروستني زېری ورکوي، د بې لارې سياسي مشرانو په څېر نه وي چې واکمن مشر هم مخکيني مشران محکوموي او هم د هغو د ختمولو هڅه کوي چې د ځان سيالان ئې ګڼي.
- د پيغمبرانو يوه اساسي دنده دا ده چې د خلکو له اوږو اضافي پېټي راکوز کړي او د دوی په لاس پښو کې اچول شوي زنځيرونه مات کړي، اضافي پېټي هغه څه دي چې ټګمارو مذهبي مشرانو له خپلې خوا پر خلکو لازم کړي او هغه ته ئې د دين او مذهب رنګ ورکړی او له زنځيرونو مراد هغه اضافي او جعلي قيود او حدود دي چې دوی له خپلې خوا وضع کړي خو هغوی ته ئې مذهبي بڼه ورکړې. له دې معلومېږي چې په دين کې انحراف له همدې راولاړېږي چې په يوه او بل نامه د خلکو پېټي درانه کړی شي او د حلالو شيانو په حراملو سره د دوی په لاس پښو کې زنځيرونه واچول شي.

---

فَلَمَّآ أَحَسَّ عِيسَىٰ مِنۡهُمُ ٱلۡكُفۡرَ قَالَ مَنۡ أَنصَارِيٓ إِلَى ٱللَّهِۖ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ نَحۡنُ أَنصَارُ ٱللَّهِ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَٱشۡهَدۡ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ﴿٥٢﴾ رَبَّنَآ ءَامَنَّا بِمَآ أَنزَلۡتَ وَٱتَّبَعۡنَا ٱلرَّسُولَ فَٱكۡتُبۡنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٥٣﴾

[۵۲]- نو کله چې عيسی د دوی کفر احساس کړ؛ وئې ويل: څوک مې د الله په لار کې

**ملګري دي؟ حواريونو وويل: موږ د الله ملګري يو، په الله مو ايمان راوړی او ته دي شاهد وې چې موږ مسلمانان يو. [۵۳]- اې زموږ ربه! په هغه څه مو ايمان راوړی چې تا رالېږلی، د پيغمبر متابعت مو وکړ؛ نو موږ د شاهدانو په زمره کې وليکه.**

(۵۲-۵۳)- عيسی عليه السلام احساس کړه چې بني اسرائيلو د کفر لار غوره کړې او د دغو ټولو معجزو له ليدو سره سره ايمان نه راوړي، نو وئې ويل: زه د الله په لوري درومم، څوک مې په دې سفر کې ملګرتيا ته تيار دئ؟ د جهاد ضرورت دئ څوک په دې جهاد کې زما مرسته کوي؟ د ده مخلصو يارانو ورته وويل: موږ د الله ملګرتيا ته چمتو يو، له تا سره د الله په لوري او د الله په لار کې سفر او جهاد ته تيار يو، دا په اصل کې جهاد ته د تيارېدو په معنی وه او په دې سره الله تعالی له يوې خوا دا حقيقت بيانوي چې د عيسی عليه السلام په څېر پيغمبر له خپلو ټولو هغو بې ساري معجزو سره سره د انصارو او ملاتړو په لټه کې دئ، له هغو خاصو کارونو پرته نور کارونه په معجزو نه شي تر سره کولی، نور کارونه به د الله تعالی د عام او عادي سننو مطابق تر سره کوي، نه په خارق العاده توګه، له بلې خوا پر پيغمبر د ايمان راوړونکو مواصفات معرفي کوي، پر پيغمبر واقعي او مخلص ايمان لرونکی داسې وي لکه د عيسی عليه السلام مخلص ملګري؛ د دوی څو خبرې رااخلي:

- ستا ملګرتيا په حقيقت کې د الله ملګرتيا ده، موږ دې ملګرتيا ته چمتو يو.
- په کتاب ايمان لرو.
- د پيغمبر متابعت کوو.
- تمنی مو دا ده چې زموږ نومونه د شاهدانو په ډله کې وليکل شي، د هغو کسانو په ډله کې چې د هدايت ډيوې ئې په لاس کې وي، د دوی د کړنو او دريځونو له مخې خلك په دې پوهېږي چې حقيقت څه ته ويل کېږي، حقيقي دين کوم دئ، د الله په اړه مو عقيده څنګه وي او څنګه د ده عبادت وکړو او څنګه د يوه واقعي مخلص بنده په څېر ژوند وکړو، دوی، د دوی فکر او عقيده او د دوی عملي ژوند د نورو لپاره د شاهد حيثيت لري.

له بلې خوا ښيي چې عيسی عليه السلام د خپل دعوت په پای کې د جهاد پرېکړه کړې وه او خپلو پلويانو ته ئې ويلي وو چې څوک په دې جهاد کې زما مرسته کوي؟ د قرآن بل آيت هم دغه مطلب افاده کوي او فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُوٓاْ أَنصَارَ ٱللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ لِلۡحَوَارِيِّـۧنَ مَنۡ أَنصَارِيٓ إِلَى ٱللَّهِۖ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ نَحۡنُ أَنصَارُ ٱللَّهِۖ فَـَٔامَنَت طَّآئِفَةٞ مِّنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَكَفَرَت طَّآئِفَةٞۖ فَأَيَّدۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَىٰ عَدُوِّهِمۡ فَأَصۡبَحُواْ ظَٰهِرِينَ ١٤ الصف

اې مؤمنانو! د الله داسي انصار شئ لکه چي عيسى د مريمې زوی حواريونو ته وويل: څوك د الله لوري (سفر کي) زما انصار کېږي؟ حواريونو وويل: موږ د الله انصار يو؛ نو د بني اسرائيلو يوې ډلي ايمان راوړ او بله ډله کافره شوه، نو موږ مؤمنانو ته د دوی پر دښمنانو بری ورکړ او دوی بريالي او برلاسي شول.

دا آيت د الصف په سورې کي راغلی چي په هغې کي د جهاد په اړه بحث شوی او دا ښيي چي عيسى عليه السلام له خپلو مخلصو ملګرو غوښتي وو چي په جهاد کي د ده ملګرتيا وکړي.

د بايبل له وينا هم معلومېږي چي عيسى عليه السلام ځنګله ته ولاړ، رومي واکمنو د ده لټون پيل کړ، د عيسى له ملګرو يوه منافق چي نوم ئې يهودا وو د ده پټ ځای دښمن ته ښودلی وو، بايبل ليکي:

... په دې وخت کي يهودا له ډېرو نورو سره چي توري، ډُرې او لرګي ئې په لاس کي وو راورسېدل، ... خائن شاګرد نورو ته ويلي وو: څوك چي مي ښکل کړ، همغه عيسى دئ وئې نيسئ، نو يهودا مخامخ عيسى ته ورغی او وئې ويل: استاده! سلام او هغه ئې ښکل کړ، يوه شاګرد توره راوايسته د ستر کاهن د غلام غوږ ئې په يوه ګوزار ترې غوڅ کړ ... د بايبل دا وينا ښيي چي عيسى عليه السلام له خپلو مسلح ملګرو سره په يوه ځنګله کي پټ شوي وو!!

لکه چي ګورئ په پورتنيو آيتونو کي د انصارالله الفاظ کارول شوي چي معنى ئې د الله مرستندويان ده، ځيني مفسرين د دې ترجمه داسي کوي: د الله د دين مرستندويان، د دين کلمه پرې علاوه کوي؛ او دا د دې لپاره چي وايي الله مرستي ته اړ نه دئ. خو نه ئې دا خبره صحيح ده او نه ئې دا اضافه کول او مقدر ګڼل؛ الله تعالى د خپلي لاري مجاهدينو ته دغه نوم غوره کړی، دلته ئې هم په دغه نامه ياد کړي او په نورو ځايونو کي هم، موږ څه حق لرو چي په دې کي تغيير راولو او د انصار الله پر ځای انصار دين الله ووايو، د احتياط تقاضی هم دا ده چي د قرآن هر لفظ په خپل حال پرېږدو.

الله تعالى د خلکو د هدايت او لارښووني لپاره له خپل قدرت د کار اخيستو او د دوی د مجبورولو پر ځای د پيغمبرانو په لاس د کتاب رالېږلو او دوی ته ئې د سمي لار ښوولو او وعظ او نصيحت طريقه غوره کړې، که د ده له بندګانو څوك دا کار کوي هغه په حقيقت کي د الله ملګرتيا کوي نو ځکه الله تعالى ورته همدا نوم غوره ګڼلی. الله تعالى چا ته د جندالله نوم ورکړی، چا ته د حزب الله، په داسي حال کي چي هغه نه جند ته اړ دئ او نه حزب ته. همدا راز ئې د خپلي لاري مجاهدينو ته د انصار الله نوم غوره کړی، موږ

مکلف یو او همدا د ادب تقاضی ده چې په همدغو نومونو ئې یاد کړو.

وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ ۝٥٤

[٥٤]- او دوی پټ تدبیر ته لاس کړ او الله هم پټ تدبیر وکړ او الله خو تر ټولو غوره تدبیر کوونکی دئ.

(٥٤)- یهودانو د عیسی علیه السلام ډېر یاران ورته ووژل، په صلیب ئې وځړول، په لاس پښو کې ئې مېخونه ټك وهل، په اور کې ئې وسوزول، بالآخره ئې پرېکړه وکړه چې عیسی علیه السلام په خپله ووژني او په صلیب ئې وځړوي، الله تعالی په خاص تدبیر سره هغه وژغورو، په ده او د ده پر یارانو دا بې رحمانه ظلمونه او د دوی صبر او زغم او پر خپل دین ټینګار د دې باعث شول چې خلك د دوی لار خپله کړي، د دوی دین حق دین وګڼي او له بې رحمو یهودانو ئې کرکه او نفرت په زړونو کې راپیدا شي، د یهودانو ټګمارو مذهبي مشرانو چې د کوم مقصد لپاره پر عیسی علیه السلام او د ده پر ملګرو کوم ظلمونه کول او دې ته ئې له مذهب د دفاع نوم ورکاوو، دا ټول ظلمونه ئې د مذهب تر نامه لاندې کول، خو اصلي موخه ئې خپل سیادت ساتل او خپلې ناروا ګټې وې، هغه ګټې چې د مذهب په نامه ئې تر لاسه کولې، دین د دوی دکان وو، غوښتل ئې خلك د عیسی علیه السلام دین ونه مني او په دې سره د دوی دکانونه ونه ترل شي، د تجارت هغه بازار ئې له کساد سره مخامخ نه شي چې دوی د مذهب سودا په کې کوله او دین ئې په دنیا خرڅولو، خو دوی له دې مکر او پټ تدبیر معکوس نتیجه تر لاسه کړه، همدا د الله پټ تدبیر وو د دوی د پټ تدبیر په مقابل کې. وروستی آیت په څرګنده ښیي چې الهي تدبیر همدا وو:

إِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَىٰٓ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
وَجَاعِلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوكَ فَوۡقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِۖ ثُمَّ إِلَيَّ
مَرۡجِعُكُمۡ فَأَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ فِيمَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ۝٥٥ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ فَأُعَذِّبُهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ۝٥٦
وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ

ٱلظَّٰلِمِينَ ۝٥٧

[۵۵]- کله چې الله وفرمایل: اې عیسی! زه ستا وفات کوونکی او خپل لوري ته پورته کوونکی یم او له کافرانو ستا پاکوونکی او تر قیامت پر کافرانو د هغو وګړو لوړ ګرځوونکی یم چې ستا متابعت ئې کړی، بیا مو زما لوري ته بېرته ګرځېدنه ده، نو ستاسو تر منځ به په هغه څه کې پرېکړه کوم چې تاسو په کې اختلاف کاوو. [۵٦]- نو هغه چې کافران شوي په دنیا او آخرت کې به ئې په شدید عذاب تعذیب کړم او هیڅ مرستندوی به ئې نه وي. [۵۷]- خو هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي، نو اجر به ئې پوره پوره ورکړم او الله خو ظالمان نه خوښوي.

(۵۵-۵۷)- له (رافعك الي) معلومېږي چې الله تعالی عیسی علیه السلام ته ویلي چې تا ژوندی خپل لوري ته راپورته کوم، نو د (متوفیك) معنی څه ده؟ د (توفی) اصلي معنی پوره کول او تر سره کول دي، په مرګ باندي ئې اطلاق مجازي دئ. د قرآن په ډېرو ځایونو کې په خپله اصلي معنی راغلې. دلته ئې معنی دا ده چې ستا دنده تکمیل شوې، کار دي بشپړ شوی، زه نور ستا مأموریت پای ته رسوم او تا خپل لوري ته راپورته کوم.

الله تعالی خپل پټ تدبیر وکړ، عیسی علیه السلام ته ئې وفرمایل چې نور نو ستا مأموریت پای ته رسوم، خپلې خوا ته دې راپورته کوم او له دغو ګنده او پلیتو کافرانو دې لرې کوم، د دوی ګنده ټولنه نور ستا لپاره تنګه شوې، په دې کې نور ستا د تنفس مجال تنګ شوی، مطمئن اوسه چې ستا پلویان به تر قیامت پر دوی برلاسي وي او د قیامت په ورځ به زه ستاسو د اختلافاتو په اړه وروستۍ پرېکړه کوم، د کافرانو پایله په دنیا او آخرت کې د الله شدید عذاب دئ، نه به ئې په دنیا کې څوك له شدید الهي عذاب وژغورلی شي او نه په آخرت کې؛ د خلکو د مرستي تر لاسه کولو لپاره چې هغوی کوم تدبیرونه کوي او په دروغو وایي چې موږ د الله لپاره او له مذهب د دفاع لپاره د عیسی علیه السلام مخالفت کوو؛ د دوی دا ټولې هڅې به حبط کړو؛ او مؤمنان به د خپل ایمان او نېك عمل بدله او اجر هم په دنیا کې پوره او مکمل تر لاسه کړي او هم په آخرت کې؛ او الله ظالمان نه خوښوي. دا وروستۍ فقره څو مطلبه افاده کوي:

- الله ظالمان نه خوښوي، نو معلومه ده چې په خپل بنده ظلم نه کوي، د مؤمنانو او صالحو بندګانو اجر به په هیڅ صورت کې ضائع کېدو ته پرې نږدي.
- ګمان مه کوئ چې کافرانو ته موقع او مهلت ورکول او کله کله موقتاً برلاسي او غلبه ورکول؛ د دې لپاره دي چې الله د دوی کوم عمل خوښ کړی او د همدې امله ئې دا بریا

وربه برخه کړي؛ داسي نه ده؛ په حقیقت کې د دوی ظاهري برياوي د دوی د دائمي تباهۍ مقدمه وي؛ لکه چې یهودانو ته د عیسی علیه السلام پر یارانو هغه موقته برلاسي د دوی د دائمي لعنت او ذلت باعث شوه.

ذَٰلِكَ نَتۡلُوهُ عَلَيۡكَ مِنَ ٱلۡأٓيَٰتِ وَٱلذِّكۡرِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿٥٨﴾

[٥٨]- همدا د هغو آیتونو او حکیمانه پند او ذکر یوه برخه ده چې پر تا ئې لولو.

(٥٨)- په دغي عبرتناکې قصې کې له حکمت ډکې لارښووني او نښې دي، تا ته هم اې پیغمبره او ستا امت ته هم، وګورئ چې له تاسو مخکې مؤمنانو سره څه شوي او الله تعالی څنګه د حق دښمنان له ماتې، زوال او تباهۍ سره مخامخ کړي؟ او څنګه ئې باطل زائل او حق غالب کړی؟

إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ ٱللَّهِ كَمَثَلِ ءَادَمَۖ خَلَقَهُۥ مِن تُرَابٖ ثُمَّ قَالَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٥٩﴾ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ﴿٦٠﴾

[٥٩]- د عیسی مثال خو د الله په نزد یقیناً د آدم د مثال په څېر دئ، چې له خاوري ئې پیدا کړ بیا ئې ورتهوویل: وشه، نو هغه وشو. [٦٠]- دا حق دئ ستا د رب له لوري؛ نو له شك کوونکو مه کېږه.

(٥٩-٦٠)- په دې آیتونو کې له یوې خوا مسیحیانو ته ویل شوي: که تاسو د دې لپاره عیسی علیه السلام خدای یا د خدای زوی ګڼئ چې پیدایښت ئې خارق العاده وو او یوازي له مور د ده پیدایښت د دې نښه ګڼئ چې ده ته باید د انسان په سترګه ونه ګورو او مافوق انسان ئې وګڼو؛ نو د آدم علیه السلام په اړه به څه وایئ؟ د آدم علیه السلام پیدایښت خو تر ده ډېر خارق العاده وو، دی خو مور لري او تاسو دا منئ چې هغه له مریمې رضي الله عنها پیدا شوی، خو هغه نه مور درلوده او نه پلار!! دا ولې هغه یو انسان ګڼئ او دا خدای؟! هر د عقل خاوند خو به یوازي دا وایي او له دې پرته به بله خبره نه کوي چې عیسی علیه السلام په دې دلیل یو انسان دئ چې له انسان دنیا ته راغلی، له انسان پیدا شوی، یو له بل پیدا شوي شیان په خپل ذات کې سره ورته وي، که مریم رضي الله عنها انسان ګڼې نو زوی ته ئې له انسان پرته بل نوم نه شې ورکولی!! که ته عیسی او مریم علیهما السلام په خدایي کې شریکوې نو د مریمې ټول اجداد به خدایان ګڼې!! آیا د عقل او شعور خاوند انسان دا خبره منلی شي چې له انسان پیدا شوی داسي انسان چې د نورو

انسانانو په څېر ئې خوراك او څښاك کاوو، لوږه او تنده ئې درلوده، يخني او گرمي ئې کېده، ويښه او خوب ئې درلود، ژړا او خندا ئې درلوده، ماشوم وو ورو ورو ستر شوی او ځوانۍ ته رسېدلی، لږو کسانو د ده دعوت قبول کړی، د ټولني اکثريت د ده مخالفت ته ملا تړلې، مخالفينو ځورولی، ياران ئې وروژلي، په صليب ئې ځړولي او په اور کې ئې اچولي او دی په دې نه دئ توانېدلی چي هغوی له دغو مصيبتونو وژغوري.... دا مافوق انسان هستي او حتی خدای وو؟!! له بلې خوا هغه چا ته ځواب ويل شوی چي له پلار پرته او يوازې له مور د عيسی عليه السلام پيدايښت نه مني، هغه ته ويل شوي چي که دا نه منې نو د آدم عليه السلام پيدايښت به څنگه توجيه کوې چي نه ئې پلار وو او نه مور؟! حال دا چي هيڅوك له دې انکار نه شي کولی چي زموږ جد آدم عليه السلام له مور پلار پرته پيدا شوی. که څوك دا خبره نه مني نو هغه به د انسان د پيدايښت په اړه څه وايي؟ له دې پرته بله خبره کول ممکنه نه ده.

الله تعالی نه يوازې لومړی انسان او د انسانانو لومړی جد له خاورې پيدا کړی بلکي د ده اولاد هم هره ورځ له خاورې پيدا کوي، همدا خاوره ده چي په دانه او مېوه بدله شي او بيا دغه له خاورو جوړه شوې دانه او مېوه د انسان په وجود کې په نطفې بدله کېږي او د مور پلار د نطفو له يو ځای کېدو د انسان ماشوم جوړ کېږي، څوك چي هره ورځ له خاورو د انسان پيدا کېدل گوري؛ څنگه له دې خبرې انکار کوي چي آدم عليه السلام له خاورې پيدا شوی؟!

اما دا چي د عيسی او آدم عليهما السلام د خلقت تر منځ څه مماثلت شته؟ آيا مماثلت ئې يوازې دا دئ چي دواړه له پلار پرته پيدا شوي، که له دې علاوه نور مماثلتونه ئې هم شته؟ د عيسی عليه السلام خلقت خو کاملاً واضح دئ چي له پلار پرته ئې نطفه د خپلې مور په رحم کې پيدا شوې او د ماشوم په څېر دنيا ته راغلی، ورو ورو ستر شوی او ځوانۍ ته رسېدلی. آيا د آدم عليه السلام پيدايښت هم له نطفې پيل شوی او ورو ورو ستر شوی او که له سره د مکمل انسان په بڼه کې پيدا شوی؟ دا پوښتنه د نورو ژونديو مخلوقاتو په اړه هم مطرح ده. د هر يوه لومړی جد څنگه پيدا شوی؟ آيا الله تعالی ونه، بوټی، کب، مرغۍ، فيل اوښ او په مليونونو نور ژوي داسي پيدا کړي چي په سر کې ئې د دوی مکمله جوړه، د مور پلار په بڼه کې پيدا کړي او بيا ئې له دوی د دوی نسل پيدا کړی؟

دغو پوښتنو ته د ځواب لپاره لاندي ټکي په پام کې ولرئ:

- الله تعالی يوازې د پيدايښت په سر کې ژوندي شيان نه دي پيدا کړي؛ بلکي دا هره ورځ

او هره شېبه د ژوندي شيانو پيدايښت هم د الله له لوري دئ، دا هم د ده کار دئ نه په خپل سر او په اصطلاح د طبيعت کار.

- د پيدايښت په اړه د الله تعالى خاص سنن دي، دا الهي سنن موږ هره شېبه د ژوو په پيدايښت کې ګورو، په دې پوهېږو چي له ستر تر واړه حيوان، له فيل او اوښ تر ماشي او ويروس پوري، له ستري ونې تر وړوکي بوټي پوري، ټول الله تعالى له يوې داسي وړې نطفې پيدا کوي چي په سترګو نه ليدل کېږي، دا نطفه ورو ورو ستره کړي او مکمل انسان، حيوان او نبات ترې جوړ کړي. که څوك د انسان يا بل مخلوق د پيدايښت په اړه داسي رأيه وړاندي کړي چي د پيدايښت په اړه د الله تعالى له سننو سره اړخ نه لګوي، دا هسي رجماً بالغيب رأيه ده، هم د الله د مشهود کتاب خلاف او هم ئې د مقروء کتاب خلاف. د الله د مقروء کتاب؛ قرآن؛ د کوم آيت هغه تفسير او تعبير به منئ چي د الله د مشهود کتاب له آيتونو او په عالم کې د الله له څرګندو سننو سره مغايرت ونلري. د الله دا دواړه آيتونه يو د بل مؤيد او مصدق دي، نه مغاير او مخالف، که دې کله د الله د مقروء کتاب د کوم آيت په اړه داسي تفسير واورېدو چي د الله له مشهود کتاب سره ئې مغايرت درلود، دا تفسير په دېوال ووهه او که دې کله د مشهود کتاب د کوم توکي په اړه داسي څه ترغوږ شو چي د مقروء کتاب له کوم آيت سره ئې توپير درلود، نو لري ئې وغورځوه او ترېښو ئې لاندي کړه، دا دواړه آيتونه په هيڅ صورت کې يو د بل خلاف خبره نه کوي، څکه رب ئې يو دئ. ناپوه کسان به د دې يا هغه په اړه داسي تفسير او تعبير وړاندي کوي چي يو له بله مغايرت ولري.

اما دا چي آدم عليه السلام څنګه له خاورو پيدا کړی شو؟ او قرآن په دې اړه څه وايي؟ د دې په ځواب کې لاندي خبري په پام کې وساتئ:

- دا سؤال يوازي د لومړي انسان د پيدايښت په اړه نه دئ مطرح، د ټولو ژوو، حيواناتو او نباتاتو په اړه مطرح دئ. بايد د ټولو د لومړي جد د پيدايښت په اړه ځواب ورکړی شي.
- د انسان د پيدايښت په اړه يوه دا رأيه مخي ته راځي چي ډېره معروفه ده، هم په مسلمانانو کې او هم له مسلمانانو مخکي په اهل کتاب کې، مسلمانانو ته هم په اصل کې له اهل کتاب راغلې، په مسلمانانو کې چا چي په لومړي ځل دا خبره کړې، هغه په حقيقت کې د اهل کتاب رأيه بيان کړې خو نورو دا د ده رأيه ګڼلې، معروفه رأيه دا ده: د آدم عليه السلام د کالبد خاوره له زمکي راغونډه کړی شوه اوبه پرې توی شوې، ختې ترې جوړه شوه، ډېره موده پرې تېره شوه، ختې ورسته، توره او بوی ناکه شوه، له دې ئې د ده څېره او مجسمه جوړه کړه، په اور ئې کښېښوده، پخه شوه او بيا الله په هغه کې روح پو کړه او

ژوندی شو او د ده له ژوندي کېدو وروسته، يا د ده له اضافي خټې او يا د ده له يوې پوښتۍ ئې د ده جوړه پيدا کړه.

خو د قرآن په هيڅ ځای کې دا نه دي ويل شوي چې لومړی د آدم عليه السلام او د ده د زوجې هيئت او ځېره جوړه شوې، بيا روح په کې پو شوې؛ او نه هم په هيڅ صحيح الاسناد حديث کې دا ويل شوي، که خبره داسي وی نو هرومرو به په قرآن کې په همدې الفاظو ذکر شوې وه، نه يوازې د آدم عليه السلام په اړه بلکې د نورو ژوو په اړه به هم همداسي ويل شوي وو چې لومړی ئې د ټولو هيئتونه جوړ کړل، بيا ئې په کې پو کړل او راژوندي شول، لکه څنګه چې د عيسی عليه السلام له قوله فرمايي:

...أَنِّي أَخْلُقُ لَكُمْ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنْفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِ اللَّهِ... ﴿٤٩﴾ آل عمران

... زه ستاسي لپاره له خټې د مرغه ځېره جوړوم، بيا په هغه کې پو کوم، نو هغه به د الله په اذن سره ژوندی مرغه شي....

- قرآن د الله کتاب دئ، هر مطلب په ډېر دقت سره په کې بيان شوی، د شك مجال نه پرېږدي، يوازې د کږو زړونو خاوندان له هغه کوږ مطلب اخلي. څنګه ممکنه ده چې د آدم عليه السلام پيدايښت دې د هيئت په بڼه کې شوی وي او قرآن دې په هيڅ ځای کې هغه ته اشاره نه وي کړې؟!!

قرآن کله د آدم عليه السلام خلقت له صلصال ګڼي او کله له خاورې او يا خټې؛ نو داسي الفاظ ئې کارولي چې خلقت ئې مخامخ له همدې شيانو ګڼي.

راشئ وګورو چې قرآن په دې اړه څه وايي: په قرآن کې د آدم عليه السلام د پيدايښت په اړه لاندې آيتونه راغلي:

۱- ...وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ... ﴿٣٠﴾ الانبياء

... هر ژوی مو له اوبو پيدا کړی.

۲- وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٌ تَنتَشِرُونَ ﴿٢٠﴾ الروم

او دا د ده له آيتونو دئ چې تاسو ئې له خاورې پيدا کړئ، نو بيا تاسو خورېدونکي بشر شوئ.

۳- هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن طِينٍ... ﴿٢﴾ الانعام

الله همغه ذات دئ چې تاسو ئې له خټې پيدا کړئ.

٤- وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ مِن سُلَـٰلَةٍ مِّن طِينٍ ﴿١٢﴾ ثُمَّ جَعَلْنَـٰهُ نُطْفَةً فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿١٣﴾ ثُمَّ خَلَقْنَا ٱلنُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا ٱلْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا ٱلْمُضْغَةَ عِظَـٰمًا فَكَسَوْنَا ٱلْعِظَـٰمَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَـٰهُ خَلْقًا ءَاخَرَ ۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحْسَنُ ٱلْخَـٰلِقِينَ ﴿١٤﴾ المؤمنون

او يقيناً چي انسان مو د خټې له خلاصې (عصارې) پيدا کړ، بيا مو يوه نطفه وگرځاوو په يوه مضبوط ځای کې، بيا مو دا نطفه يو راځوړند توکی کړ او بيا مو دا علقه د غوښې يوه ژوولې ټوټه کړه، نو دا د غوښې ټوټه مو هډوکي کړل، نو هډوکي مو په غوښه پټ کړل، بيا مو په بل پيدايښت کې پيدا کړ، نو مبارك دئ تر ټولو غوره خالق.

٥- ٱلَّذِىٓ أَحْسَنَ كُلَّ شَىْءٍ خَلَقَهُۥ ۖ وَبَدَأَ خَلْقَ ٱلْإِنسَـٰنِ مِن طِينٍ ﴿٧﴾ السجدة

هغه چي هر څه ئې پيدا کړي نو ښه ئې پيدا کړي او د انسان پيدايښت ئې له خټې پيل کړ.

٦- وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ مِن صَلْصَـٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٢٦﴾ وَٱلْجَآنَّ خَلَقْنَـٰهُ مِن قَبْلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾ الحجر

او يقيناً چي انسان مو له کړنگېدونکې وچې خټې، له بوی ناکې تورې خټې پيدا کړ او جن مو تر ده د مخه له بې لوگې اور.

٧- ... إِنَّا خَلَقْنَـٰهُم مِّن طِينٍ لَّازِبٍ ﴿١١﴾ الصافات

يقيناً چي موږ دوی له سرښناکې خټې پيدا کړل.

په دې مبارکو آيتونو کې د انسان د پيدايښت لومړۍ ماده، "اوبه"، "خاوره"، "خټه"، "د خټې خلاصه"، "کړنگېدونکې خټه"، "د کودړې په څېر وچه خټه"، "سريښناکه خټه" او "توره بوی ناکه خټه" ښودل شوې. گورو چي قرآن اوبه د ټولو ژوو او ژونديو شيانو د پيدايښت اصلي ماده گڼلې، داسې ژوندی شی نشته چي د جوړښت اساسي ماده ئې اوبه نه وي، له دې معلومېږي چي الله تعالی لومړی اوبه پيدا کړې؛ بيا ئې ژوي؛ يعني د زمکې پر سر د ژوندون پيل له اوبو شوی؛ او دا هغه ستر حقيقت دئ چي انسان له ډېرو تحقيقاتو او اوږده علمي سفر وروسته پرې پوه شو، اوس په دې پوه شوی چي د زمکې پر سر ژوندون د اوبو له پيدايښت وروسته پيل شوی. دا د قرآن يو بل علمي إعجاز دئ، که تاسو نن د بيولوژي کوم باانصافه عالم ته ووايئ چي زموږ په يوه داسې کتاب کې چي څوارلس سوه کاله پرې تېر شوي، دا خبره راغلې چي ټول ژوي له اوبو پيدا شوي، لومړی اوبه پيدا شوې بيا ژوي، هغه به درته ووايي: دا ستره علمي خبره ده، دا هغه حقيقت دئ چي

ساینس فقط په روانه پېړۍ کې پرې پوه شو.

که تاسو د انسان د خلقت مربوط آیتونو ته لږ ځیر شئ وبه گورئ چې په ټولو کې (صلصال: کړنگېدونکې وچه خټه) له (حمإ مسنون: بوی ناکه خټه) مخکې ذکر شوی؛ او په یوه ځای کې خو (صلصال) د انسان د پیدایښت داسې لومړۍ ماده گڼې لکه د اور لمبه چې د جن د پیدایښت لومړۍ ماده گڼې او فرمایې:

خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِن صَلْصَٰلٍ كَٱلْفَخَّارِ ﴿١٤﴾ وَخَلَقَ ٱلْجَآنَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ ﴿١٥﴾ الرحمن

انسان ئې د کودړې په څېر له کړنگېدونکې وچې خټې پیدا کړ او جن ئې له بې دوده لمبې.

دا آیت خو وایې چې انسان ئې له صلصال پیدا کړی، داسې لکه جن چې ئې له اور پیدا کړی، د ده د پیدایښت اصلي ماده صلصال ده، دغسې لکه د جن د وجود اصلي ماده چې اور دئ، یعنې د انسان د وجود لومړنۍ ماده په سر کې صلصال وه، خاوره شوه، خټه شوه او الله تعالی ترې انسان جوړ کړ. داسې نه دې ویل شوې چې دی ئې صلصال کړی او بیا ئې روح په کې پو کړې.

که د ځمکې او آسمان د پیدایښت په څرنگوالي پورې مربوط آیتونو ته لږ ځیر شو دا به په آسانۍ راته جوته شي چې لومړی صلصال، بیا خټه او بیا ورسته بوی ناکه خټه پیدا شوې.

قرآن فرمایې:

أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾ الانبیاء

آیا کافران په دې نه پوهېږي چې آسمانونه او ځمکه سره نښتي وو، نو موږ سره بېل کړل او هر ژوی مو له (اوبو) پیدا کړی، نو آیا ایمان نه راوړي؟!

له دې آیت څو خبرې په څرگنده معلومېږي:

- په سر کې ټول کائنات، ځمکه، لمر او د آسمان ټول اجرام یوه کتله وه او الله تعالی په یوې چاودنې سره دوی بېل بېل کړل او اوسنۍ بڼه ئې ورکړه.
- لابد به زموږ ځمکه له نورو د رابېلېدو په وخت کې د لمر په څېر گرمه او سره وه، دا ځکه چې دواړه یو ځای وو او په یوه وخت کې سره بېل شوې. لمر چې ستر دئ خپل حرارت ئې تر ننه حفظ کړی، خو ځمکه چې تر لمر ډېره وړه ده، ورو ورو سړه شوې، سر ئې سوړ او زړه ئې لا تر اوسه تود او سخت گرم، هومره تود چې هر څه په کې ویلي، د قرآن په اصطلاح هر څه په کې نحاس دي.

- په دې آيت کې او يو په بل پسې د زمکې او آسمان له پيدايښت سره متصل د اوبو او له اوبو د هر ژوي د پيدايښت ذکر دا مطلب په گوته کوي چې د زمکې پر سر تر ټولو د مخه اوبه پيدا شوې؛ او دا هغه حقائق دي چې قرآن څوارلس سوه کاله مخکې بيان کړي دي او ساينس اوس پرې پوهېدلی. نن چې ته له هر ساينس پوه د زمکې، آسمان او اوبو د پيدايښت په اړه پوښتنه وکړې، نو ځواب به ئې همدا وي چې قرآن ويلي.
- د زمکې پر سر د ژوو د پيدايښت په اړه محققين وايي: زمکه له خپل پيدايښت وروسته سخته توده او سره وه، د زمکې قشر او پوستکی ورو ورو سوړ شو، خو د سختې تيرې په څېر وو، لومړی اوبه راپيدا شوې، د زمکې ټولې اوبه د پرېړو وريځو په بڼه کې تر زمکې راتاو وې، د بارانونو ورېدل پيل شو، د باران او ګڼ شمېر نورو عواملو له کبله د زمکې د سر تيږه په خاوره بدله شوه، سيلابونو دا خاوره له ځان سره د زمکې آوارو او ژورو برخو ته انتقال کړه، د زمکې تودوخه لا هومره وه چې اوبه ئې د ځان د پاسه نه پرېښودې، د اوبو د تبخير په نتيجه کې سېلاب راوړې خټه په کړنگېدونکې وچې ختې او کودړې بدله شوه، خو د زمکې د مزيد سړېدو او مزيد بارانونو په نتيجه کې داسې حالت راپيدا شو چې له يوې خوا د پرېړو وريځو پرده څېرې شي او د لمر وړانگې زمکې ته ورسېږي او له بلې خوا د زمکې د سر خاوره په لومړي سر کې ننجنه خټه او وروسته توره بوی ناکه خټه شي، د زمکې پر سر د ژوو پيدايښت په دغه مرحله کې پيل شو.

که د محققينو دا وينا د قرآن د وينا په څنگ کې کښېږدو نو وبه گورو چې دوی په هغه څه ډېر وروسته پوه شوي چې قرآن څوارلس سوه کاله د مخه ويلي.

په الله قسم چې د قرآن دا هره خبره يوه ستره معجزه ده، تاسو چې د کوم باانصافه عالِم په وړاندې د انسان د پيدايښت په اړه د قرآن دغه آيتونه کښېږدئ؛ محال ده چې هغه به دې ته سر ټيټ نه کړي او دا به يوه معجزه ونه گڼي، متأسفانه ناپوه کسان او د اسرائيلي رواياتو تر اغېز لاندې راغلي وگړي د دغو مبارکو آيتونو داسې غلط تعبير وړاندې کوي چې د قرآن له دغو معجزاتو په قرآن د اعتراض خبره جوړوي!! د قرآن کريم د دغو آيتونو په اهميت هغه څوك پوهېږي چې د زمکې د پيدايښت په اړه دقيق معلومات ولري، تاسو دا خبرې يوه ساينس پوه ته وکړئ او وگورئ چې هغه به په هره خبره څومره حيرت کوي!!

ما د غرب د يوه معروف ساينس پوه کتاب لوستو، دې ځای ته ورسېدم چې ليکلی ئې وو: د ژوو پيدايښت له **black soup** (توري شوروا) شوی، بې اختياره مې اوښکې تويې شوې او له ځان سره مې وويل: آيا د قرآن دغه معجزه کافي نه ده، دا ساينس پوه له کلونو

کلونو تحقیقاتو وروسته هغه خبره کوي چې قرآن ډېر د مخه کړې، دی ورته **black soup** وايي او قرآن ورته توره خټه!!

د قرآن لاندي دوو آیتونو ته لږ په دقت سره ځیر شئ:

وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَٰجًا ۚ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِۦ ۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١١﴾ فاطر

او الله تاسو له خاوري پیدا کړئ، بیا له نطفې، بیا ئې جوړه جوړه کړئ، نه کومه ښځینه څه حمل کوي او نه ئې زېږوي، مګر د ده په علم سره او نه د کوم عمر خاوند عمر ورزیاتېږي او نه ئې عمر کمېږي مګر دا چې په کتاب کې (ثبت) دي او دا کار الله ته آسان دئ.

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ۚ تَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٣﴾ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٤﴾ النحل

آسمانونه او زمکه ئې په حقه پیدا کړل، لوړ دئ له هغه څه چې ورسره شریکوي ئې، انسان ئې له نطفې پیدا کړ او هغه څرګند جګړمار شو.

له دغو آیتونو څو خبري په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومېږي:

- د انسان د پیدایښت لومړۍ ماده خاوره ده.
- له خاوري د ده نطفه جوړه شوې.
- بیا ئې له دې نطفې جوړه پیدا شوې.
- د آسمانونو او زمکي له خلقت وروسته او ورپسې دا خبره کول چې انسان ئې له نطفې پیدا کړ، دا مطلب په ګوته کوي چې دلته د انسان لومړني پیدایښت ته اشاره شوې، نه وروستي پیدایښت ته. ابتدائي پیدایښت ئې هم د نطفې په بڼه کې پیل شوی، ډېره عجیبه ده چې څوك د دې صریح آیتونو خلاف خبره کوي.
- الله تعالی یوازې آدم علیه السلام له خاوري نه دئ پیدا کړی بلکي د ده اولاد هم هره ورځ له خاوري پیدا کوي، دا څکه چې د هر یوه نطفه له هغو موادو جوړېږي چې له زمکي راټوکېږي، دا خاوره ده چې په دانې او مېوې بدله شي او د انسان په وجود کې د ده نطفه ترې جوړه شي او بیا د دغو نطفو له تلفیق انسان جوړ شي. قرآن په دې اړه فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ فِى رَيْبٍ مِّنَ ٱلْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ

مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ۚ وَنُقِرُّ فِى ٱلْأَرْحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا۟ أَشُدَّكُمْ ۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرْذَلِ ٱلْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْـًٔا ۚ وَتَرَى ٱلْأَرْضَ هَامِدَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنۢبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيجٍ ۝٥ الحج

اې خلکو! که د بیا ژوندون په اړه په شك کې یئ، نو موږ خو له خاورې پیدا کړئ، بیا له نطفې، بیا له علقې، بیا له ژوول شوې یوې ټوټې غوښې چې انځور شوې او نه انځور شوې وي، د دې لپاره چې تاسو ته وښیو او څه چې وغواړو تر یوې ټاکلې نېټې ئې په رحم کې ځای پر ځای کوو، بیا مو د ماشوم په څېر راباسو، بیا (همداسې ستاسو پالنه کوو) چې خپل قوت ته ورسېږئ او له تاسو ځیني ومري او ځیني مو تر ټولو لوېدلي عمر ته ورسېږي، هومره چې له پوهېدو وروسته په څه نه پوهېږي او زمکه ګورې چې وچه کلکه ده، خو کله چې اوبه پرې نازل کړو، وخوځېږي، وده وکړي او هر راز سمسور بوټي راوټوکوي.

دلته د ټولو انسانانو د عادي او ورځني خلقت مختلفو پړاوونو ته اشاره شوې، چې له خاورې پیل او په مرګ ئې پای ته رسي، په بل ځای کې د خاورې او ختې نچوړ او خلاصه د انسان د ترکیب ماده ګڼې او دا د قرآن یوه بله معجزه ده چې وایي انسان د زمکې له خلاصې پیدا شوی، یعني د ده په وجود کې د ټولو هغو شیانو بېلګه شته چې په زمکه کې شته، انسان اوس په دې پوه شوی چې په رښتیا د انسان په وجود کې ټول هغه عناصر شته چې په زمکې کې شته، د ده د جسم په ترکیب کې د اوسپنې په څېر مواد هم شته، له نن سل کاله مخکې که چا دا خبره کړې وی چې د انسان په جسم کې د اوسپنې په څېر د زمکې نور مواد هم شته، خدای خبر چې د ده په خبرې به ئې څومره خندلي وو، خو علم نن په دې حقیقت پوه شوی او د انسان د جسم د ترکیب په اړه د قرآن همدا خبره کوي.

متأسفانه ځیني د آدم علیه السلام د پیدایښت، په ده کې د روح پو کول، په جنت کې ځای پر ځای کېدل، ده ته د شیطان وسوسه او له جنت د ده د وتلو په اړه داسې څه وایي لکه چې یا هغه زموږ جد نه وي او یا موږ د ده اولاد نه وو، د ده پیدایښت، ژوند او مرګ باید همغسې وي لکه د ده د اولاد، یوازې په دومره توپیر سره چې هغه له مور او پلار پرته پیدا شوی، په ده کې د روح پو کول به همغسې وو لکه د ده د اولاد ته چې په خاص وخت کې روح ورکوي، ده ته د شیطان وسوسه باید همغسې وي لکه نن چې شیطان د ده اولاد وسوسه کوي، الله تعالی خو موږ ته د آدم علیه السلام د پیدایښت په قصه کې زموږ د پیدایښت څرنګوالی راښیي، موږ ته د انسان او د هغه ځانګړتیاوې او خصوصیات رامعرفي

کوي، د ده د عروج او زوال عوامل راښيي، شيطان او د هغه وسوسې را په گوته کوي، دا زموږ د جد قصه ده، د دې قصې په هینداره کې باید خپل مخ وگورو او خپل ځان وپېژنو. په دې اړه تفصيلي بحث به د النساء او الاعراف په سورتونو کې وگورئ.

فَمَنْ حَآجَّكَ فِيهِ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا۟ نَدْعُ أَبْنَآءَنَا وَأَبْنَآءَكُمْ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمْ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَتَ ٱللَّهِ عَلَى ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٦١﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْقَصَصُ ٱلْحَقُّ ۚ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُ ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٦٢﴾ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٦٣﴾

[٦١] نو چا چې په دې کې درسره شخړه کوله، وروسته له هغه چې تا ته ئې څه علم درکړی شو، ورته ووايه: راشئ زموږ زامن، ستاسو زامن، زموږ مېرمنې، ستاسو مېرمنې، موږ په خپله او تاسو په خپله، راوغواړو، بيا (الله ته) زاري وکړو او په دروغجنو لعنت ووايو. [٦٢] بې شکه چې دا رښتنيني قصې دي او له الله پرته بل معبود نشته او بې شکه چې الله باحکمت عزتمن دئ. [٦٣] او که ئې ډډه وکړه نو الله په دې مفسدينو ښه پوه دئ.

(٦١-٦٣)- د مسيحيانو ټگمارو مذهبي مشرانو دوی ته ويلي وو چې عيسی عليه السلام د خدای زوی دئ، يو له دريو خدايانو دئ او حتی دا چې خدای په خپله د ده په بڼه کې زمکې ته راکوز شوی!! په مخکينيو آيتونو کې د عيسی عليه السلام حقيقت او د ده د خارق العاده پيدايښت په اړه تفصيلي بحث وشو، په دې دلائلو کې دا حقيقت ثابت شو چې له الله پرته بل معبود نشته؛ اوس پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې د دلائلو له وړاندې کولو وروسته دوی ته ووايه: که په رښتيا تاسو د خپلې عقيدې په حقانيت باور لرئ او دا عقيده مو په دروغو او له ځان؛ نه وي جوړه کړې نو راشئ مباهله وکړو، موږ به هم له خپلو زامنو او مېرمنو سره حاضر شو او تاسو هم له خپلو زامنو او مېرمنو سره حاضر شئ، الله ته به زارۍ او دعاء وکړو چې په دروغجنو لعنت نازل کړه. که ئې د حقيقت له منلو او له دې مباهلې ډډه وکړه، نو دا مفسدين دي او الله د دوی د عقيدې له فساد او د دوی له فاسدو عملونو ښه خبر دئ.

د نجران د مسيحيانو هغه دروند وفد چې د دوی ډېر مذهبي او قومي مشران په کې

وو، مدينې ته راغلي وو، له پيغمبر عليه السلام سره ئې وليدل، هغه مبارك د قرآن دا آيتونه دوی ته واورول او په پای کې ئې د مباهلې بلنه ورکړه، خو هغوی د مباهلې او مخالفت پر ځای روغه جوړه وکړه، جزيه ئې ومنله او رخصت شول.

د مباهلې په اړه ځينې داسې روايات راغلي چې يوه مذهبي فرقه پرې استناد کوي او د دې خبرې د ثابتولو هڅه کوي چې د پيغمبر له اهل بيت يوازې فاطمه، حسن، حسين او علي رضي الله عنهم مراد دي ځکه چې پيغمبر عليه السلام د مباهلې لپاره يوازې دوی له ځان سره حاضر کړي وو!!

په دې اړه څو خبرې ضروري ګڼو:

- هغه روايت د منلو دئ چې له قرآن سره تعارض ونه لري، دا روايت د قرآن معارض دئ، دا ځکه چې په قرآن کې (ابنائنا، نسائنا او انفسنا) ويل شوي، که پيغمبر عليه السلام مباهلې ته حاضر شوی وی نو حتماً به ئې خپلې مېرمنې هم حاضرې کړې وې. حتماً به ئې خپلې نورې لوڼې رقيه او ام کلثوم هم حاضرې کړې وې، علي رضي الله عنه به ئې د کومې ډلې په زمره کې حاضرولو؟ نه خو هغه د زامنو په ضمن کې راځي او نه په آيت کې راغلي چې د تره زامن يا زومان هم حاضر کړئ.
- د نارينه وو يوې جرګې ته به پيغمبر عليه السلام څنګه او د څه لپاره خپل لمسي او لور حاضروله. دا کار خو به ئې هغه وخت کاوو چې مقابل طرف مباهله منلې وی، زامن او ښځې ئې په مدينه کې موجود وی، له نجران يوازې نه وی راغلي. خو نه هغوی مباهله منلې او نه ئې ماشومان او مېرمنې حاضر ول.

چېرې چې په قرآن کريم کې د اهل بيت لفظ استعمال شوی نو هلته ترې مراد يوازې مېرمنې دي که دا د پيغمبر عليه السلام په ارتباط استعمال شوی او که د ابراهيم عليه السلام په ارتباط. په ټولو مواردو کې يوازې مېرمنې مراد دي، نه ئې ابناء په کې شامل دي او نه اقرباء. د اهل بيت لفظ په سوره احزاب کې راغلی او هلته ئې مراد يوازې د پيغمبر عليه السلام مېرمنې دي.

إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرٗا ٣٣ الاحزاب

خبره دا ده چې الله له تاسو اې اهل بيتو ناپاکي لرې ساتل او ستاسو ښه پاکول غواړي.

او د هود په سوره کې دا لفظ د ابراهيم عليه السلام د بي بي لپاره راغلی:

قَالُوٓاْ أَتَعۡجَبِينَ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۖ رَحۡمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ عَلَيۡكُمۡ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِۚ إِنَّهُۥ حَمِيدٞ مَّجِيدٞ ٧٣ هود

وئې ویل: آیا د الله له کار تعجب کوئ، د الله رحمتونه او برکتونه دي پر تاسو وي اې اهل البیت، بې شکه چې هغه ستایلی د مجد خاوند دئ.

قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۭ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ أَلَّا نَعۡبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشۡرِكَ بِهِۦ شَيۡـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ بَعۡضُنَا بَعۡضًا أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُولُواْ ٱشۡهَدُواْ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ﴿٦٤﴾

[٦٤]- ووایه: اې اهل کتاب! هغه خبرې ته راشئ چې زموږ او ستاسو تر منځ یو شانته ده او هغه دا چې: له الله پرته به (د بل چا) عبادت نه کوو او هیڅ څه به ورسره نه شریکوو او زموږ ځیني به ځیني نور له الله پرته ارباب نه نیسي، خو که ئې ډډه وکړه نو ورته ووایئ: شاهد اوسئ چې موږ منقاد او مسلمان یو.

(٦٤)- اهل کتاب ته بلنه ورکړه چې راشئ هغې خبرې ته چې ستاسو اصلي دین ئې هم غوښتنه کوي او زموږ دین هم؛ او هغه دا چې:

- یوازې د یوه الله عبادت به کوو، له ده پرته به نه د بل چا عبادت کوو او نه به بل ته دعاء.
- هیڅ څه به له الله سره نه شریکوو.
- ځیني به د ځینو نورو لپاره (رب) نه وي، دا غلطي به نه کوو چې د ځان په څېر یوه انسان ته د رب مقام او منزلت ورکړو، دا ظلم به نه کوو چې ځیني د ځینو نورو لپاره له ځان رب جوړ کړي.

له دې آیت څو بنیادي خبرې معلومېږي:

- د دین اصلي او بنیادي خبرې همدا درې خبرې دي. ټول الهي دینونه همدا خبرې کوي. په کوم مذهب او دین کې چې د دغو دریو خبرو خلاف څه وموندل شي هغه محرف مذهب او دین دئ.
- کله انسان هومره جاهل او ذلیل شي چې د ځان په څېر انسان ته د رب مقام ورکړي!! د هغه بنده شي، هغه ورته حلال او حرام ټاکي او دی ئې مني!! هغه له الله سره په الوهیت او ربوبیت کې شریك کړي، هغه ته دعاء کوي او له هغه غیبي مرسته غواړي.

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تُحَآجُّونَ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمَآ أُنزِلَتِ ٱلتَّوۡرَىٰةُ وَٱلۡإِنجِيلُ إِلَّا مِنۢ

بَعۡدِهِۦٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٦٥﴾ هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ حَٰجَجۡتُمۡ فِيمَا لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞ فَلِمَ تُحَآجُّونَ فِيمَا لَيۡسَ لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٦٦﴾ مَا كَانَ إِبۡرَٰهِيمُ يَهُودِيّٗا وَلَا نَصۡرَانِيّٗا وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفٗا مُّسۡلِمٗا وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿٦٧﴾

[٦٥]- اې اهل كتاب! ولې د ابراهيم په اړه شخړه كوئ!! حال دا چې تورات او انجيل خو نه دي نازل شوي مگر له ده وروسته!! آيا تعقل نه كوئ؟ [٦٦]- تاسو خو همغه يئ چې شخړه مو وكړه په هغه څه كې چې څه ناڅه پرې پوهېدئ، خو ولې د هغه څه په اړه شخړه كوئ چې هيڅ علم پرې نه لرئ، حال دا چې الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ. [٦٧]- ابراهيم نه يهودي وو او نه نصراني، هغه خو يو مخی منقاد وو او له مشركينو؛ نه وو.

(٦٥-٦٧)- دا تاسو ولې خپل مذهب ابراهيم عليه السلام ته منسوبوئ، ولې دا خبره كوئ چې ابراهيم هم يا يهودي وو يا نصراني، حال دا چې هغه نه يهودي وو او نه نصراني او نه هم مشرك، هغه تل حق ته مائل وو، تورات او انجيل خو له ده ډېر وروسته نازل شوي، د يهودانو او مسيحيانو مذهب خو د ده كړوسيانو جوړ كړی؛ ولې د عقل خلاف خبره كوئ؟!

إِنَّ أَوۡلَى ٱلنَّاسِ بِإِبۡرَٰهِيمَ لَلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ وَهَٰذَا ٱلنَّبِيُّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۗ وَٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٦٨﴾

[٦٨]- بې شكه چې ابراهيم عليه السلام ته تر ټولو نژدې خلك هغه دي چې د ده متابعت ئې كړی او دا پيغمبر او هغه چې ايمان ئې راوړی؛ او الله د مؤمنانو ولي دئ.

(٦٨)-اې يهودانو او نصرانيانو! نه تاسو ابراهيم عليه السلام ته نژدې يئ او نه ستاسو مذهب د ده مذهب ته ورته دئ، ده ته نژدې خلك يا همغه وو چې د ده متابعت ئې كاوو، يا محمد عليه السلام او د ده با ايمان ملگري؛ او الله د دغو مؤمنانو مولا دئ.

وَدَّت طَّآئِفَةٞ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَوۡ يُضِلُّونَكُمۡ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ ﴿٦٩﴾

[٦٩]- د اهل کتاب يوه ډله دا خوښوي چې تاسو بې لارې کړي، خو له ځان پرته بل څوك نه شي بې لارې کولی او نه پوهېږي.

(٦٩)- د دوی هڅه دا ده چې تاسو د دوی په څېر بې لارې شئ، د دوی اعتراضونه د همدې لپاره دي، ابراهيم عليه السلام ته خپل مذهب منسوبول ئې د همدې لپاره دئ.

يَـٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَـٰبِ لِمَ تَكۡفُرُونَ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ وَأَنتُمۡ تَشۡهَدُونَ ﴿٧٠﴾ يَـٰٓأَهۡلَ
ٱلۡكِتَـٰبِ لِمَ تَلۡبِسُونَ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَـٰطِلِ وَتَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٧١﴾

[٧٠]- اې اهل کتاب! ولې د الله په آيتونو کافران کېږئ په داسې حال کې چې په خپله شاهد يئ!! [٧١]- اې اهل کتاب! ولې حق له باطل سره خلطوئ، ( باطل ته د حق جامه وراغوندئ) او حق پټوئ، په داسې حال کې چې پوهېږئ.

(٧٠-٧١)- دوی هم د خپل مؤمن به کتاب په آيتونو کافران کېدل او هم د قرآن په آيتونو، په داسې حال کې چې هم به د دې آيتونو د حقانيت شاهد وو او هم د قرآن او د دوی د کتاب د مضامينو او آيتونو د يووالي شاهد، دوی به کله په خپلو غلطو توجيهاتو سره حق ته د باطل جامه وراغوندې او کله به باطل ته د حق او که په خپلو غلطو او دروغجنو توجيهاتو په دې موفق نه شول چې باطل حق ثابت کړي او حق باطل، نو حق به پټوي، دا کار په داسې حال کې کوي چې پوهېږي حق کوم دئ او باطل کوم، په ناپوهۍ سره دا کار نه کوي، د غرض او مرض له کبله ئې کوي، اخيستل شوي او استخدام شوي، د خپل مزد او اجورې په مقابل کې دا کار کوي.

وَقَالَت طَّآئِفَةٞ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَـٰبِ ءَامِنُواْ بِٱلَّذِيٓ أُنزِلَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَجۡهَ
ٱلنَّهَارِ وَٱكۡفُرُوٓاْ ءَاخِرَهُۥ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٧٢﴾ وَلَا تُؤۡمِنُوٓاْ إِلَّا لِمَن تَبِعَ
دِينَكُمۡ قُلۡ إِنَّ ٱلۡهُدَىٰ هُدَى ٱللَّهِ أَن يُؤۡتَىٰٓ أَحَدٞ مِّثۡلَ مَآ أُوتِيتُمۡ أَوۡ يُحَآجُّوكُمۡ
عِندَ رَبِّكُمۡۗ قُلۡ إِنَّ ٱلۡفَضۡلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ﴿٧٣﴾
يَخۡتَصُّ بِرَحۡمَتِهِۦ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٧٤﴾

[٧٢]- او د اهل کتاب يوې ډلې وويل: د ورځې په سر کې په هغه څه ايمان راوړئ چې

پر مؤمنانو نازل شوی او په پای کې ئې کافر شئ؛ چې راوگرځي. [۷۳]- او له هغه چا پرته د بل په خبرې باور مه کوئ چې ستاسو د دین متابعت کوي، ورته ووایه: یوازې الهي هدایت؛ هدایت دئ او دا چې چا ته دې هغه څه ورکړی شي چې تاسو ته د درکړ شوي شي په څېر وي او یا دې له تاسو سره ستاسو د رب په وړاندې احتجاج وکړی شي، ورته ووایه: فضل د الله په لاس کې دئ، چا ته چې ئې خوښه وي هغه ته ئې ورکوي او الله ښه پوه د وسعت خاوند دئ. [۷٤]- چې څوك وغواړي هغه د خپلو پېرزوینو لپاره ځانگړی کوي او الله د ستر فضل خاوند دئ.

---

(۷۲-۷٤)- د دوی ټگمارو مذهبي مشرانو ځینو خلکو ته دا وظیفه ورکوله چې سحر د مسلمانانو په خوا کې اعلان وکړئ چې موږ هم ایمان راوړی او مسلمانان شوو، خو د ورځې په پای کې بېرته له اسلام خپل برائت اعلان کړئ او ووایئ چې موږ اسلام له نژدې ولید، پوه شوو چې دا دین د منلو نه دئ، تر دې زموږ خپل دین غوره دئ، په دې سره به په عامو مسلمانانو کې د اسلام په اړه شکوك او شبهات راپیدا شي او له اسلام به لاس واخلي. خو کله چې د مسلمانانو خوا ته ورغلئ څو خبرو ته به پام کوئ:

- مبادا د مسلمانانو د دین او د دوی د خبرو تر اغېز لاندې راشئ، یوازې د هغه چا خبره به منئ چې ستاسو د خپل دین متابعت کوي او خبره ئې ستاسو د مذهب مطابق وي.
- هیڅکله به دا گمان نه کوئ چې له یهودانو پرته بل چا ته به د الله له لوري وحي وشي او په بل چا به داسې څه نازل شي چې پر یهودانو نازل شوي.
- دا تشویش به نه کوئ چې څوك به د قیامت په ورځ د الله په وړاندې ستاسو په خلاف کوم دلیل وړاندې کړی شي او تاسو به ملزم کړی شي.

په پورتنیو آیتونو کې یوه لنډه فقره داسې راغلې چې د قل په لفظ پیل شوې (قُلۡ إِنَّ ٱلۡهُدَىٰ هُدَى ٱللَّهِ) دا معترضه جمله ده، د یهودانو د مذهبي مشرانو د وینا په منځ منځ کې او د دوی د دې قول د تردید لپاره چې ویل ئې: وَلَا تُؤۡمِنُوٓاْ إِلَّا لِمَن تَبِعَ دِينَكُمۡ، د دوی مقصد دا وو چې دا جاسوسان په خپل مذهب ټینگ کړي، ورته وایي چې زموږ له مذهب پرته بل حق مذهب نشته، په بل مذهب به باور نه کوئ، الله تعالی د دوی په ځواب کې فرمایي: سمه لار د الله لار ده، حق مذهب همغه دئ چې د الله د لارښوونو مطابق وي، نه ستاسو محرف مذهب چې د الله د لارښوونو خلاف دئ. له معترضه جملې وروسته بېرته د دوی پاته وینا رااخلي او په ځواب کې ئې الله تعالی خپل پیغمبر ته لارښوونه کوي چې ورته ووایي: فضل د الله په لاس کې دئ، تاسو ته د الله د فضل د وېشلو حق چا درکړی، الله په خپله دا فیصله کوي چې چا ته ئې ورکړي او الله ښه پوه دئ، د خپل فضل

مستحق کسان پېژني، الله ستاسو په خبر نه دئ، فضل ئې پراخ او وسيع دئ، چې چا ته ئې خوښه وي له خپلو پېرزوينو ئې برخمن کوي.

وَمِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ مَنْ إِن تَأْمَنْهُ بِقِنطَارٍ يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيْكَ وَمِنْهُم مَّنْ إِن تَأْمَنْهُ بِدِينَارٍ لَّا يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيْكَ إِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِمًا ۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا۟ لَيْسَ عَلَيْنَا فِى ٱلْأُمِّيِّۦنَ سَبِيلٌ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾

[۷۵]- او له اهل کتاب ځيني داسي دي چې که د کومي خزانې امين ئې کړې؛ بېرته به ئې درکړي او ځيني ئې داسي دي چې که په يوه دينار ئې امين کړې نو بېرته به ئې درنکړي؛ مګر دا چې تل پرې (ټينګار کوونکی) ولاړ وې. دا د دې لپاره چې دوی وايي: پر مورږ د نالوستو په اړه څه الزام نشته او د الله په نسبت دروغ وايي په داسي حال کې چې پوهېږي.

(۷۵)- اهل کتاب ته خپلو مذهبي مشرانو ويلي وو چې له غير اهل کتاب سره چې تاسو هره معامله وکړئ الله مو په دې نه نيسي، که له دوی سره خدعه کوئ يا خيانت، که دروغ ورته وايئ يا ئې مال خورئ؛ پروا ئې نشته، د دې فتوی به ئې ورکوله، ورته ويل به ئې چې دا کارونه الله درته روا کړي، د الله د کتاب د فلان فلان آيت معنی همدا ده، په دروغو به ئې دا فتوی ورکوله، په الله او د الله په کتاب پسي ئې افتراء کوله، قصداً او عمداً به ئې دا کار کاوو، پوهېدل چې د دوی فتوی د الله د کتاب خلاف ده، د همدې لپاره که به کوم غير يهودي يو دينار هم په امانت ورکړ؛ بېرته ئې نه ورکاوو، خو په دوی کې مخلص او صادق اهل کتاب هم وو، په الله او آخرت ئې له زړه باور وو، امين وو، که به هر چا کوم څه په امانت ورکړل له خيانت پرته به ئې مسترد کول، که څه هم دا به زيات مال او قيمتي شيء وو؛ د يوې خزانې په اندازه. د اسلام له نظره ايمان او خيانت سره نه يو ځای کېږي، څوک چې امين نه وي هغه ايمان نه لري، رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايي: لا إيمانَ لِمَن لا أمانَةَ لَهُ.

بَلَىٰ مَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِۦ وَٱتَّقَىٰ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٧٦﴾

[۷۶]- داسي نه ده بلکې چا چې په خپل عهد وفا وکړه او ځان ئې وساتو نو بې شکه چې الله له داسي متقيانو سره محبت کوي.

(۷٦)- تاسو ځان د الله غوره بندګان او د ده اولياء او دوستان او د جنت يوازيني وارثان ګڼئ، له خپل مذهب بهر خلك امي، ناپوه او دوزخيان ګڼئ، له دوی سره هره معامله جائز شمېرئ، خو د الله د دوستانو دوه اساسي نښې دي:

- په خپلو ژمنو وفا،
- تقوی او ځان ساتنه.

الله يوازي له هغه چا سره محبت کوي چي په خپلو ژمنو، هم له الله سره او هم د ده له بندګانو سره وفا کوي او له هغه څه ځان ساتي چي خپل رب ترې منع کړي او د ده له انساني فطرت سره نه ښايي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَشۡتَرُونَ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ وَأَيۡمَٰنِهِمۡ ثَمَنٗا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ لَا خَلَٰقَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ وَلَا يَنظُرُ إِلَيۡهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٧٧﴾ وَإِنَّ مِنۡهُمۡ لَفَرِيقٗا يَلۡوُۥنَ أَلۡسِنَتَهُم بِٱلۡكِتَٰبِ لِتَحۡسَبُوهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَمَا هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ﴿٧٨﴾

[۷۷]- يقيناً هغه چي د الله په عهد او په خپلو قسمونو لږ بيع پېري، دوی ته به په آخرت کې هيڅ برخه نه وي او د قيامت په ورځ به نه الله ورسره تکلم کوي، نه به ورته نظر کوي او نه به ئې پاکوي؛ او دوی ته به دردناك عذاب وي. [۷۸]- او د دوی يوه ډله داسي ده چي په خپلې ليکني او کتاب خپلې ژبې داسي اړوي چي ته هغه د الله د کتاب يوه برخه وبولې؛ په داسي حال کې چي هغه د الله د کتاب برخه نه ده، دوی وايي: دا خبري ټولي د الله له لوري دي په داسي حال کې چي د الله له خوا ندي، په الله پوري دروغ تړي سره له دې چي ښه پوهېږي.

(۷۷-۷۸)- ګورئ چي دا مکاره او ټګماره ډله خپلې ليکني او خپلې خبري د الله تعالی کتاب ته منسوبوي، خپل غلط او مغرضانه تفسير او تعبير ته الهي تعبير وايي، دوی دا غلطي قصداً او په لوی لاس کوي، ښه پوهېږي چي دا خبري نه د الله تعالی په کتاب کې شته او نه د الهي کتاب معنی هغه ده چي دوی ئې وايي. په دې آيت پسي له ذکر شوو نورو آيتونو دا په ډاګه معلومېږي چي په دې رنځ اخته کسان يا هغه دي چي له دين ناوړه ګټه پورته کول ورته په ميراث رسېدلي او يا هغه واکمنان دي چي له دين د خپل زعامت او واکمنۍ

د اثبات لپاره وسیله جوړوي او دین د خلکو د غلامۍ آله ګرځوي او یا هغه کسان دي چي غواړي پیغمبرانو علیهم السلام او دیني مشرانو ته د انتساب له لارې امتیازات لاسته راوړي، همدا کسان دي چي ځیني شخصیتونه د الوهیت تر مقامه پورته کوي، د الله شریکان ئې جوړوي، د علم غیب خاوند او د عالم په امورو کې د تصرف حق ورته ثابتوي، له دوی مرسته غوښتل او پر دوی توسل لازمي ګڼي او ادعاء کوي چي یوازې د دوی له لارې د الله تعالی دربار ته لار موندل ممکن دي!! دوی دا ادعاګانې له دغو درنو شخصیتونو سره د محبت او هغوی ته د درناوي له امله نه کوي، بلکې له دې ئې هدف خپلې ګټې وي، غواړي په همدې سره خپل مقام اوچت کړي، ځکه دوی ځان د دغو شخصیتونو د مادي او معنوي مقام وارث ګڼي، هر کرامت چي د هغوی لپاره ثابت کړي ګټه ئې دوی ته ورګرځي، له همدې د امتیازاتو د لاسته راوړلو وسیله جوړوي؛ قرآن په دې اړه فرمايي:

مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤْتِيَهُ ٱللَّهُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا۟ عِبَادًا لِّى مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن كُونُوا۟ رَبَّٰنِيِّۦنَ بِمَا كُنتُمْ تُعَلِّمُونَ ٱلْكِتَٰبَ وَبِمَا كُنتُمْ تَدْرُسُونَ ﴿٧٩﴾ وَلَا يَأْمُرَكُمْ أَن تَتَّخِذُوا۟ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ وَٱلنَّبِيِّۦنَ أَرْبَابًا ۗ أَيَأْمُرُكُم بِٱلْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿٨٠﴾

[۷۹]- هیڅ انسان ته نه ښايي چي الله تعالی ورته کتاب، حکم او نبوت ورکړي او بیا هغه خلکو ته ووايي: له الله پرته زما بندګان شئ! بلکې (باید ووايي:) د دې لپاره باید خدای پالونکي شئ چي تاسو خو نورو ته دا کتاب ورزده کوئ او په خپله ئې لولئ. [۸۰]- او هغه تاسو ته دا امر نه کوي چي ملائکې او پیغمبران خپل اربابان ونیسئ، آیا تاسي ته به د کفر امر وکړي وروسته له هغه چي تاسو مسلمان شوي يئ؟!

(۷۹-۸۰)- تاسو ډېرې خبرې پیغمبر ته منسوبوئ، د خپل شرك، فساد، ګناه او خیانت د توجیه لپاره داسي روایات راپیدا کوئ چي پیغمبر ته مو منسوب کړي، خو د الله یو پیغمبر به څنګه خلکو ته وايي چي الله پرېږدئ زما عبادت وکړئ، ما په خدايۍ ونیسئ، ما ته دعاء وکړئ، له ما د خپلو حاجتونو د تر سره کېدو طمع وکړئ، ما د ضرر او ګټې رسولو واکمن وګڼئ، د پیغمبر خبره خو له دې پرته بل څه نه شي کېدی چي خدای پالونکي شئ.

تاسو اې د اهل کتاب مذهبي مشرانو! څنګه په دې خبره نه پوهېږئ چې د الله پيغمبران هيڅکله داسي خبري نه کوي، تاسو خو د الله دکتاب د تعليم او تدريس دعوی کوئ او د الله د کتاب بنيادي او اساسي خبره خو دا ده چې يوازي د يوه خدای عبادت وکړئ. څنګه به ستاسو دا خبره د منلو وي چې د الله کوم پيغمبر خلکو ته ويلي چې ملائکي او يا پيغمبران په ربوبيت کې شريك کړئ، تاسو خو د پيغمبر په لاس هدايت شوئ، څنګه به هغه تاسو ته د کافر کېدو بلنه درکړې وي، تاسو چې خپل پيغمبر ته څه منسوبوئ دا خو د کفر طرف ته بلنه ده.

له دې او ډېرو نورو آيتونو معلومېږي چې پيغمبرانو ته منسوب جعلي روايات د الله له کتاب د مخالفت ستره وجه ده، ټګمار مذهبي مشران په دې نه توانېدل چې مخامخ د الله کتاب تحريف کړي، په جعلي رواياتو د استناد او استدلال له لاري توانېدلي چې د الله کتاب تحريف کړي. که تاسو دا اوس اوس په اسلامي امت کې د اختلاف او انحراف عوامل ولټوئ نو جعلي، موضوعي او ضعيف روايات به د ستر او اساسي عامل په څېر مخي ته درشي.

وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ لَمَآ ءَاتَيۡتُكُم مِّن كِتَٰبٖ وَحِكۡمَةٖ ثُمَّ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مُّصَدِّقٞ لِّمَا مَعَكُمۡ لَتُؤۡمِنُنَّ بِهِۦ وَلَتَنصُرُنَّهُۥۚ قَالَ ءَأَقۡرَرۡتُمۡ وَأَخَذۡتُمۡ عَلَىٰ ذَٰلِكُمۡ إِصۡرِيۖ قَالُوٓاْ أَقۡرَرۡنَاۚ قَالَ فَٱشۡهَدُواْ وَأَنَا۠ مَعَكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٨١﴾

[۸۱]- او کله چې الله د پيغمبرانو ژمنه واخيسته چې دا دئ تاسو ته مې کتاب او حکمت درکړ، نو که بيا تاسو ته داسي کوم پيغمبر راغی چې تاسو ته د درکړی شوي کتاب تصديقوونکی وي نو حتماً به ايمان پرې راوړئ او مرسته به ئې کوئ، وئې فرمايل: آيا په دې اقرار کوئ او پر دې باندي زما دا پېټی (پر اوږو) اخلئ؟ وئې ويل: اقرار کوو، وئې فرمايل: نو شاهد اوسئ چې زه هم له شاهدانو يم.

(۸۱)- له پيغمبرانو الله تعالی دا ژمنه اخيستې ده چې يو به د بل ملاتړ او مرسته کوي، په دې ژمني کې د دوی امتيان هم شامل دي، دوی به هم د خپلو پيغمبرانو پر پله ګام ږدي او د هر مؤمن او د کتاب تصديقوونکي ملګرتيا او ملاتړ به کوي. څوك چې دا کار ونکړي په حقيقت کې ئې له الله سره کړې ژمنه ماته کړې او د پيغمبرانو له لاري منحرف شوی.

فَمَن تَوَلَّىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿٨٢﴾

[۸۲]- او څوك چې له دې وروسته په شا شي نو همدا دوی فاسقان دي.

(۸۲)- له دې آيت معلومېږي چې په مخکينۍ ژمنې کې د پيغمبرانو امتيان هم شامل دي.

أَفَغَيۡرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبۡغُونَ وَلَهُۥٓ أَسۡلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ طَوۡعٗا وَكَرۡهٗا وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُونَ ﴿٨٣﴾

[۸۳]- آيا د الله له دين پرته (بل دين) لټوي، حال دا چې د آسمانونو او زمکې هر څه؛ طوعاً اوکرهاً، ( په خوښه او ناخوښه) ده ته غاړه اېښې او د ده لوري ته ورگرځول کېږي.

(۸۳)- د زمکې او آسمان هر څه الله ته تسليم دي، د ټولو دين اسلام دئ، هغه څه کوي چې الله پرې گمارلې، په همغه لار درومي چې الله ورته ټاکلې، لمر، سپوږمۍ، ستورې په خپل خپل مدار کې خوځي، په خپل خپل وخت او له خپل خپل ځای راخېژي او پرېوځي، وني، بوټي او حيوانات د خپل فطرت مطابق په خپل کار لگيا دي، په ټولو مخلوقاتو کې يوازې کافر او عاصي انسان داسې دئ چې د الله له دين پرته د بل څه په لټه کې شي، هم د الله د دين په نسبت کافر شي او هم د خپل فطرت په نسبت، دی ستر باغي دئ، له هغه دين ئې بغاوت کړی چې د زمکې او د آسمان د هر څه دين دئ.

قُلۡ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا وَمَآ أُنزِلَ عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ﴿٨٤﴾

[۸٤]- ووايه: موږ هم پر الله ايمان راوړی او هم په هغه څه چې پر موږ نازل شوی او پر ابراهيم، اسمعيل، اسحاق، يعقوب او د دوی پر اولاد نازل شوي او پر هغه څه چې موسی، عيسی او نورو پيغمبرانو ته د دوی د رب له لوري ورکړی شوي، د دوی په هيڅ يوه کې توپير نه کوو او موږ ورته غاړه ايښودونکي يو.

(۸٤)- پر الله او د ده پر پيغمبرانو د ايمان غوښتنه دا ده چې د الله په هر کتاب او هر

پيغمبر ايمان ولرئ او د دوى تر منځ هيڅ توپير ونکړئ او عملاً د الله حکم ته منقاد او تسليم وئ.

وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٨٥﴾

[٨٥]- او څوك چې له اسلام پرته د بل دين په لټه کې شي هيڅکله به ترې ونه منل شي او په آخرت کې به له زيانکارانو وي.

(٨٥)- له اسلام پرته بل دين نه منل کېږي، اسلام هم د ټول کائنات دين دئ او هم د انسان، د کائنات لپاره تکويني دين او د انسان لپاره هم فطري دين او هم تشريعي، اسلام يعني د الله له لوري وضع شوو سننو او اوامرو ته غاړه ايښودل، څوك چې ځانته متدين وايي، دا ئې گمان او يا ئې دعوى وي چې دين او مذهب ئې الهي دين دئ، خو په عمل کې د الله حکم ته تابع او منقاد نه وي، د ده دعوى دروغجنه ده او دا دين ئې الله تعالى نه قبلوي او ټول عملونه ئې حبط دي.

كَيْفَ يَهْدِى ٱللَّهُ قَوْمًا كَفَرُوا۟ بَعْدَ إِيمَٰنِهِمْ وَشَهِدُوٓا۟ أَنَّ ٱلرَّسُولَ حَقٌّ
وَجَآءَهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ ۚ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٦﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ أَنَّ
عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ ٱللَّهِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿٨٧﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ
عَنْهُمُ ٱلْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٨٨﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُوا۟ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا۟
فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٨٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بَعْدَ إِيمَٰنِهِمْ ثُمَّ ٱزْدَادُوا۟ كُفْرًا
لَّن تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلضَّآلُّونَ ﴿٩٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَمَاتُوا۟ وَهُمْ
كُفَّارٌ فَلَن يُقْبَلَ مِنْ أَحَدِهِم مِّلْءُ ٱلْأَرْضِ ذَهَبًا وَلَوِ ٱفْتَدَىٰ بِهِۦٓ ۗ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ
عَذَابٌ أَلِيمٌ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٩١﴾

[٨٦]- څنگه به الله هغه قوم هدايت کړي چې له خپل ايمان وروسته کافران شول؛ په داسي حال کې چې د پيغمبر د حقانيت شاهد ول او څرگندي نښي ورته راغلې وې؛

او الله داسي ظالم قوم نه هدايت كوي. [۸۷]- جزاء ئې دا ده چي پر دوى به د الله، ملائكو او ټولو خلكو لعنت وي. [۸۸]- په هغه كې تلپاته؛ نه به عذاب ترې سپك كړى شي او نه به مهلت وركړى شي. [۸۹]- مگر هغه چي له دې وروسته ئې توبه وكړه او سمونه ئې وكړه، نو الله مهربان بخښونكى دئ. [۹۰]- يقيناً هغه چي له خپل ايمان وروسته كافر شول، بيا ئې په كفر كې زياتوالى وكړ، هيڅكله به ئې توبه قبوله نه شي او همدا دوى لار وركي دي. [۹۱]- يقيناً هغه چي كافران شول او په داسي حال كې ومړل چي كافران ول؛ نو هيڅكله به د دوى له كوم يوه د زمكي د ډكوالي په اندازه سره زر قبول نه شي كه څه هم په فديه كې ئې وركړي، دې ډلي ته دردناك عذاب دئ او هيڅ مرستندوى ئې نشته.

(۸۶-۹۱)- له ايمان وروسته او په داسي حال كې كفر ته بېرته گرځېدل چي هم د پيغمبر حقانيت ورته ثابت شوى او هم ئې څرگندي نښي مخي ته پرتې وي، دا هومره ستر جرم او لوى ظلم دئ چي د الله، ملائكو او هر لعنت ويونكي د لعنت وړ دئ، دا ظالمان له هدايت محروم دي، توبه به ئې په هغه صورت كې منل كېږي چي هم خپله عقيده او عمل اصلاح كړي او هم هغه فساد بېرته سم كړي چي له ايمان د بېرته گرځېدو په سبب ئې رامنځ ته كړى.

لَن تَنَالُواْ ٱلۡبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٞ ﴿٩٢﴾

[۹۲]- هيڅكله به ښېگڼي ته ونه رسئ چي له خپلو محبوبو شيانو څه انفاق نه كړئ او څه چي انفاق كوئ نو الله پرې ښه پوه دئ.

(۹۲)- د ابرارو مقام ته هغه وخت رسېدى شئ چي قربانۍ ته چمتو شئ، د عادي او معمولي شيانو قرباني نه؛ بلكي د هغو شيانو قرباني چي تاسي ورسره مينه لرئ؛ او چي څه هم د الله په لار كې قرباني كړئ، ښه يا بد، لږ يا زيات، ستاسو د خوښي غوره شيء يا هغه چي نه مو خوښېږي؛ الله پرې پوهېږي.

كُلُّ ٱلطَّعَامِ كَانَ حِلّٗا لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسۡرَٰٓءِيلُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ مِن قَبۡلِ أَن تُنَزَّلَ ٱلتَّوۡرَىٰةُۚ قُلۡ فَأۡتُواْ بِٱلتَّوۡرَىٰةِ فَٱتۡلُوهَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٩٣﴾

[۹۳]- ټول خوراکي شيان بني اسرائيلو ته حلال وو؛ مگر هغه چي د تورات له نازلېدو د مخه اسرائيل (يعقوب عليه السلام) په خپله پر ځان حرام کړي وو؛ ورته ووايه: تورات راوړئ او وئې لولئ که رښتيني ياست.

(۹۳)- دلته بيا دا خبره شوې چي مذهبي انحراف په اصل کي له بدعت پيل کېږي، په دين کي له لاسوهني، نه له څه راکمولو بلکي له څه زياتولو، د حلال له حرامولو، د تقوی په نامه په دين کي له څه زياتولو. پر پيغمبر عليه السلام د بني اسرائيلو د ټگمارو مذهبي مشرانو اعتراض دا نه دئ چي ولي ئې حلال شيان حرام کړل، بلکي اعتراض ئې دا دئ چي ولي حرام شيان حلالوي؟! دا څنگه د يوه پيغمبر او مذهبي مشر په توگه ومنو چي تقوی ئې زموږ په اندازه نه ده، موږ تر ده زيات د حرامو خيال ساتو، دا دئ گورئ چي دی ډېر هغه شيان حلال گڼي چي موږ ئې حرام گڼو، دا تقوی موږ ته زموږ له جد ابراهيم عليه السلام او زموږ له پلار يعقوب عليه السلام راپاته شوې!! الله تعالی د دوی په ځواب کي فرمايي: د الله په دين کي ټول دغه خوراکي شيان حلال وو، حرامول ئې ستاسو کار دئ نه د الله د کتاب کار، يعقوب عليه السلام چي د کوم څه له خوړلو ډډه کوله؛ دا اجتناب له يوې خوا د ده شخصي کار وو او له بلي خوا د تورات له راتلو د مخه وو. په دې باندي استناد کول او حلال شيان حرام گڼل غلط او بې بنسټه استدلال او توجيه ده.

فَمَنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٩٤﴾

[۹٤]- نو چا چي له دې وروسته پر الله باندي په دروغو افتراء وکړه؛ نو همدا دوی ظالمان دي.

(۹٤)- ظالم هغه دئ چي خپل دروغ؛ الله ته منسوب کړي، خپلي دروغجني خبري د الله له لوري وگڼي؛ تر دې د ستر ظلم تصور نه شي کېدی. د دوی مذهبي مشرانو دغه کار کاوو او هر ټگمار مذهبي مشر همداسي کوي.

قُلۡ صَدَقَ ٱللَّهُۗ فَٱتَّبِعُواْ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿٩٥﴾

[۹٥]- ورته ووايه: الله رښتيا ويلي، نو د ابراهيم د ملت متابعت وکړئ، هغه چي حنيف وو او له مشرکانو؛ نه وو.

(۹٥)- الله تعالی چي د حلال او حرام په اړه، يا د ابراهيم او يعقوب عليهما السلام په اړه څه ويلي، رښتينې خبره همدا ده، نو د ابراهيم عليه السلام ملت او مذهب خپل کړئ، چي

هغه تل د حق تابع وو او له شرك برئ او بې زار.

إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِى بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٦﴾ فِيهِ
ءَايَٰتٌۢ بَيِّنَٰتٌ مَّقَامُ إِبْرَٰهِيمَ ۖ وَمَن دَخَلَهُۥ كَانَ ءَامِنًا ۗ وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ
ٱلْبَيْتِ مَنِ ٱسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٧﴾

[٩٦]- يقينا لومړی کور چې د خلکو لپاره وضع شوی همغه دئ چې په مکه کې دئ؛ مبارك او د نړۍ والو لارښود. [٩٧]- په هغه کې ځرګندې نښې دي؛ د ابراهيم د ودرېدو ځای او څوك چې ورننوځي خوندي وي او د خلکو پر هغه چا ئې د الله لپاره حج کول لازم شوي چې د لارې په موندو وتوانېږي او چا چې کفر وکړ نو الله له نړۍ والو بې نياز دئ.

(٩٦-٩٧)- دا مبارك آيتونه څو لارښووني زموږ مخې ته ږدي:

- د مکې مکرمې دا کور؛ بيت الله؛ دا د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام په لاسونو جوړ شوی مبارك کور؛ لومړی کور دئ چې د خلکو لپاره غوره شوی، د عبادت لپاره او د قبلې په توګه.
- د دې خبرې د اثبات لپاره چې دا د الله له لوري وضع شوی لومړی کور دئ څو دلائل دي: هلته د ابراهيم عليه السلام د اقامت ځای دئ، هلته د ابراهيم عليه السلام او د اسمعيل عليه السلام اولاد مېشت شوي، هلته د بنو اسمعيل شتون د دې ځرګنده نښه ده چې دا کور د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام په لاسونو جوړ شوی، ټول عرب په دې متفق دي چې دا کور د دوی په لاس جوړ شوی. ځيني مفسرين؛ (مقام ابراهيم)؛ هغه تيره بولي چې د دوو پښو نښه په کې ليدل کېږي او دا د ابراهيم عليه السلام د پښو نښې ګڼي؛ کېدی شي همداسي وي؛ خو د پښو په دې نښو سره دا ثابتول او مخالف پرې قانع کول ګران کار دئ چې کعبه د زمکې پر سر لومړی الهی کور دئ. اما مخکينی تعبير او دا چې له (مقام ابراهيم)؛ د ابراهيم عليه السلام او د ده د اولاد؛ بنو اسمعيل مېشت ځای مراد دئ؛ د هر هغه مخالف شك او اعتراض ته مقنع او پرېکنده ځواب وايي چې له دې پرته بله خبره کوي. يهودانو او مسيحيانو ته هم؛ تاسو پوهېږئ چې ابراهيم عليه السلام تر موسی او عيسی عليهما السلام ډېر د مخه تېر شوی. په فلسطين کې د دوی دواړو قبله (بيت المقدس) تر کعبې ډېره وروسته جوړه شوې.
- ټول عرب قبائل د دې کور احترام کوي؛ هر کال به ئې د دې حج کولو، د حج په

میاشتو کې به په حجاز کې امن او امان وو؛ هومره درناوی او احترام چې کله به څوك د دې کور په حریم کې داخل شو نو هغه له هر راز نیونې او مؤاخذې مصون وو، که به چا د خپل پلار قاتل هم هلته موند نو د دې کور د درناوي لپاره به ئې هلته او د حج په میاشتو کې انتقام نه اخیستلو؛ او دا د کعبې له جوړېدو تر نن پورې.

- گورئ چې له پېړیو پېړیو رادې خوا خلك د الله لپاره د دې کور په خوا کې د حج مناسك تر سره کوي. دا لړۍ د ابراهیم علیه السلام له زمانې او له هغې ورځې چې کعبه د ده او د زوی ئې اسمعیل علیهما السلام په لاسونو جوړه شوه؛ په تېرو نژدې څلور نیم زرو کلونو کې د نړۍ له گوټ گوټ مؤمنان د حج لپاره دلته راتلل او د دې کور طوافونه ئې کول.
- ډېر خلك د دې کور په نسبت کافران شوي او د هغه د هتك حرمت او اعتبار ختمولو او حتی ورانولو لپاره ئې هڅې کړې، ابرهه ئې یو مثال دئ، خو الله تعالی په خپله د دې کور حفاظت کړی او له دې کور په دفاع او حفاظت کې ئې خپله استغنی له ټولو عالمیانو په وار وار ثابته کړې. پر مکه د ابرهه یرغل د رسول الله صلی الله علیه و سلم له رسالت وړاندې شوی؛ هغه مهال عبدالمطلب د رسول الله صلی الله علیه و سلم نیکه د قریشو مشري کوله؛ تفصیلات ئې د عربانو په ټولو معتبرو تاریخونو کې راغلي. په تاریخونو، قصو، قصیدو او شعرونو کې د دې برید د تفصیلاتو تر څنگ د ابو رغال نومې کس یادونه هم شوې چې د طائف اوسېدونکو له ابرهه سره لېږلی وو چې د کعبې لار وروښیي؛ په لار کې مړ او همهلته دفن شو؛ هر عرب چې به په هغه لار تگ راتگ کولو نو د ده قبر به ئې په ډبرو ویشتلو؛ دومره ډېرې پرې وورېدې چې د ډبرو غونډۍ پرې جوړه شوه.

دا بحث هم ضروري برېښي چې په ۲۰۱۶ میلادي کال کې؛ دن گیبسون نومي کانادایي لیکوال؛ د The sacred city (مقدس ښار) په نامه فیلم خپور کړ؛ د فیلم محتواء ئې د یوه کتاب په بنه کې نشر کړه چې (د قرآن جغرافیه) نوم ئې ورته غوره کړی. په مجازي رسنیو کې د فیلم انعکاس ډېر سریع او زیات وو؛ له هر څه ئې په واضح توگه جوته وه چې تر شا ئې د یوې شتمنې او سترې شبکې لاس دئ؛ د دې فیلم جوړوونکی د فیلم په پیل کې راڅرگندېږي او ادعاء کوي چې دېرش کالونه ئې د مکې شاوخوا سیمو کې تېر کړي او تحقیقات ئې کړي؛ او گواکې له ژورو او اوږدمهاله تحقیقاتو وروسته دې نتیجې ته رسېدلی چې اصلي کعبه هغه نه ده چې نن د نړۍ یو ملیارد مسلمانان؛ هره ورځ پنځه ځلې د تورې ډبرې لورې ته لمونځ کوي؛ اصلي کعبه د اردن په جنوب؛ د پیترا ښار کې وه؛ محمد علیه السلام هم د هغه ځای اوسېدونکی وو او کعبه هم هلته وه، دن گیبسون

ادعاء کوي چې د کعبې په اړه تر ٨٠٠ میلادي کال وړاندي هیڅ مستند او موثق مدرك او سند نشته!!؛ ادعاء کوي چې دا خبره هغو دوه عرب پوهانو ورته کړې چې نه ئې غوښتل نومونه ئې یاد شي!! همدا راز دا ادعاء هم کوي چې د قرآن په یوه آیت کې د لومړۍ کعبې موقعیت د بکه په نامه یاد شوی؛ او دا د مکې نه بلکې په اردن کې د یوه زوړ ښار نوم دئ!! د ځینو داسي سیمو نومونه هم اخلي چې د جوماتونو محرابونه ئې د مکې پر ځای د همدې ښار په استقامت دي؛ داسي سیمي چې که هلته انسان ٥-١٠ درجو پوري شمال ته ودرېږي نو قبله به ئې په اردن کې وي او که جنوب ته همدومره درجې کوږ شي نو قبله به ئې په یمن کې وي!!!

راشئ د دې مغرض او اجیر تش په نامه محقق دغه کچه او بې بنسټه ادعاءګاني د قرآن د پورتنیو لارښوونو او دلائلو په رڼا کې وڅېړو چې د ده اجدادو ته ئې ١٤٤٠ کاله وړاندي په همدې اړه ځوابونه ورکړي. د قرآن له پورتني آیت معلومېږي چې:

- د ده اجدادو هم دا نه منله چې کعبه لومړی الهي کور دئ چې د ابراهیم او اسمعیل علیهما السلام په لاس جوړ شوی؛ هغوی بیت المقدس لومړنی معبد ګڼلو؛ په بایبل کې د سلیمان علیه السلام او موسی علیه السلام په لاس د داسي مجللو معبدونو یادونه شوې چې په سلګونو کیلو سره او سپین زر ئې یوازي په لوښو کې کارول شوي او ډېر مس، قیمتي ډبري او اعلی لرګي. یهودان هغه مهال فلسطین ته راغلي چې له مصر د موسی علیه السلام تر قیادت لاندي ووتل؛ ډېره موده په سینا کې پاته شول او وروسته فلسطین د دوی لاس ته ورغی؛ د دوی ټول معبدونه د بیت المقدس په شمول؛ د ابراهیم علیه السلام د کړوسیانو په لاس جوړ شوي؛ خو کعبه په خپله د ابراهیم او د ده د مشر زوی اسمعیل علیهما السلام په لاس جوړه شوې. نو له شك پرته لومړنی مسجد؛ مسجدالحرام دئ نه مسجد الاقصی او د یهودانو او مسیحیانو معبد په فلسطین کې.
- بایبل وایي چې ابراهیم علیه السلام خپله مېرمن هاجر علیها السلام؛ د خپلې مخکینۍ مېرمني سارا علیها السلام په غوښتنه؛ له کور وایستله او لري ئې د یوې چینې خوا ته له خپل ماشوم زوی اسمعیل علیه السلام سره یوازي پرېښوده؛ خو قرآن وایي چې هغه ئې له خپل تي خور زوی اسمعیل علیه السلام سره؛ د الله تعالی په حکم د مکې په وچې وادي کې پرېښوده؛ همدلته او همدغه وخت د اسمعیل علیه السلام تر پښو لاندي د زمزم چینه راوخوټېده. کله چې اسمعیل علیه السلام تنکۍ ځواني ته ورسېد؛ ابراهیم علیه السلام په خپلې مکرري رؤیا کې ولیدل چې دی ذبح کوي؛ همدا لومړی زوی د الله تعالی په لار کې ذبح کول او وقف کول د جاهلیت د دور مذهبي دود وو؛ الله تعالی غوښتل چې دا

جاهلانه دود د تل لپاره او د ابراهیم علیه السلام په لاس له منځه یوسي؛ ابراهیم علیه السلام خپله رؤیا له زوی سره شریکه کړه او هغه ورته وویل: پلار جانه! په څه چې مأمور شوی یې هغه تر سره کړه؛ إن شاء الله ما به صابر ومومې. دواړه دې ته چمتو شول؛ یو د خپل لومړي زوی ذبح کولو ته او بل په تنکۍ ځوانۍ کې ذبح کېدو ته؛ الله تعالی ابراهیم علیه السلام ته وفرمایل: خپل خوب دې رښتینی کړ؛ د څاروي ذبح کول د زوی ذبح کولو ځای ناستی شو؛ او همدا د حج د مناسکو یوه برخه شوه. په دې سترې آزموینې کې له بریا وروسته؛ د الله تعالی لومړنی کور؛ همدلته د دواړو په لاس جوړ شو.

• د زمزم دغه چینه باعث شوه چې لومړی د یمنیانو یوه قافله د هغې خوا کې مېشت او ځای پر ځای شي او وروسته ورو ورو دا ځای په یوه ستر مذهبي، سیاسي او تجارتي مرکز بدل شي. اسمعیل علیه السلام له یمنیانو سره خپلوي کړې، د ده له اولاد د بني اسمعیل په نامه ستره قبیله جوړه شوې چې تر ننه ئې همدا نوم دئ او همدا مکه ئې اصلي او اساسي ټاټوبی.

• دا هر څه دومره واضح دي چې نه یوازې د عربانو بچی بچی ترې خبر دئ؛ بلکې یو نیم ملیارد مسلمانان پرې باور لري، په تواتر سره له یوه بل ته انتقال شوي، د کعبې له جوړېدو بیا تر ننه په تېرو نژدې څلور نیم زره کلونو کې هر کال په سلګونو زره او اوس هر کال نژدې درې ملیون حاجیان همدې مکې ته درومي او هلته هر څه په خپلو سترګو ګوري او عملاً ئې تر سره کوي، د کعبې طواف، د هاجر علیه السلام د سعي او د صفا او مروه تر منځ ورو او تېز تګ؛ دقیقاً د هاجر په څېر، د اسمعیل علیه السلام د محتمل ذبحي ځای او هلته د څاروي ذبح کول، د زمزم چینه، په مکه کې د بني اسمعیل قبیله او دا هر څه د هغه کتاب له لارښوونو سره سم مومي چې ۱٤٤۰ کاله وړاندې نازل شوی او تر ننه نه یوازې په بشپړه توګه له هر پلوه خوندي او محفوظ پاته شوی؛ دومره چې په زیر او زبر کې ئې هم معمولي تغییر نه دئ راغلی؛ بلکې په دې کتاب کې د ګڼ شمېر معروفو ځایونو او تاریخي پېښو یادونه شوې؛ مکه، مدینه؛ دا د رسول الله صلی الله علیه و سلم مهجر او د لوی اسلامي خلافت دارالخلافه، بدر، حنین، د احد او احزاب سترو جګړو یادونه، د اصحاب فیل یادونه چې سالار ئې ابرهه بن صباح غوښتل کعبه ورانه کړي، په صنعاء کې ئې ستره کنیسه جوړه کړه، غوښتل ئې ټول عرب د کعبې له حج دې لورې ته راواړوي، له دې پرته ئې بله چاره ونه موندله چې مکه فتح او کعبه ورانه کړي، له ستر لښکر سره د مکې په لور وخوځېدو؛ په لومړي ځل عرب له داسې ستر لښکر او په جګړې کې له فیلانو کار اخیستل لیدلي، سره له دې په یمن او د لارې په اوږدو کې د عربو ګڼ شمېر قبائلو د

هغه مقابله کړې؛ خو له ماتې سره مخامخ شوې؛ د مکې خوا ته رسېدلی او همدلته الله تعالی د ده ټول لښکر تباه کړی او د جنګیالیو غوښې ئې مرغانو خوړلې. دا ټول موقعیتونه د مکې شاوخوا کې دي او دا ټولې تاریخي جګړې د مکې شاوخوا کې رامنځته شوې.

• قریشو له رسول الله صلی الله علیه و سلم او د ده په مشرۍ له مسلمانانو سره درې سترې جګړې درلودې: بدر، احد او الاحزاب؛ دا جګړې هم په قرآن کې په ډېر تفصیل سره راغلې او هم د عربو په تاریخ کې؛ ځایونه او موقعیتونه ئې څرګند دي، د دواړو لوریو د جنګیالیو او د مړو، شهیدانو او زخمیانو شمېر ئې معلوم دئ، د سترو سترو شخصیتونو مرګ ژوبله ئې معلومه ده؛ د احد په جګړې کې رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپله ټپي شو او تره ئې حمزه رضي الله عنه شهید شو. په حدیبیه کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم او قریشو تر منځ یوه تاریخي معاهده لاسلیك شوه؛ له مخې ئې د لسو کلونو لپاره اوربند وشو او جګړې متوقف شوې، دې معاهدې ته قرآن د فتح مبین نوم ورکړ، په پای کې مکه له جنګ پرته د رسول الله صلی الله علیه و سلم له لوري فتح شوه او له خپل لوی لس زره کسیز لښکر سره د فاتح په توګه مکې ته داخل شو او قریشو ته ئې عفو وکړه، له عمرې وروسته د مدینې په لور د ستنېدو په دوران کې د حنین قبائلو په ناڅاپي توګه د ده پر لښکر برید وکړ، ستر لښکر ئې دې ناڅاپي برید داسې پرېشان کړ چې دی ئې یوازې پرېښود؛ قرآن دا پېښه هم په ډېرې اغېزمنې بڼې کې څېړلې ده. له دن ګیبسون پوښتنه کوو: آیا په حجاز کې د دېرش کلن اقامت او تحقیق په دوران کې؛ له دې ټولو څرګندو حقائقو بې خبره پاته شوی یې؟!! نه دي له چا دا نومونه اورېدلي، نه د دې سترو سترو جګړو قصې او نتائج ئې چا درسره شریك کړې؟ له دې هم نه یې خبر شوی چې دا هر څه د مکې او مدینې شاوخوا مشهورو سیمو کې رامنځته شوي؟! آیا دا هر څه او ژوندی تاریخ ئې؛ له دې سیمې د یوې جعلي ویډیو پر مټ؛ اردن ته انتقالول ممکن دي؟ داسې سفیه او ساده انسان به هم پیدا شي چې له تا سره ئې ومني.

• د رسول الله صلی الله علیه و سلم د پیدایښت نېټه او ځای هم معلوم دئ او قبر ئې هم، د پلار نوم ئې هم معلوم دئ (عبدالله) او د مور او قبیلې ئې هم، نیکه او جد ئې هم؛ عبدالمطلب او هاشم، حتی د رضاعي مور نوم او د هغې قبیله هم معلومه او په تاریخ کې ثبت، د مېرمنو نومونه او قبرونه ئې هم معلوم دي. دا ټول په مکه او مدینه کې دي؛ نه د اردن په جنوب او د پیترا ښار کې!! هیڅ داسې مورد نشو موندلې چې وښيي محمد علیه السلام یا د کورنۍ او قبیلې کوم غړی ئې هلته اوسېدلی او هلته په دغو مشهورو نومونو کوم ځای او کلی چا لیدلی. آیا له دن ګیبسون پرته به داسې انسان پیدا شي چې دا

ټول حقائق له پامه وغورځوي او ترې انکار وکړي؟!! د ده مأموريت او هڅه دا وه او دا دېرش کلونه ئې د دې لپاره په سعودي او اردن کې تېر کړي چې وکولی شي داسي مدارك تر لاسه کړې چې د اسلام او مسلمانانو په ضد د يوې اغېزمني تبليغاتي وسيلې په توګه ترې استفاده وکړي او له حقائقو بې خبر مسلمانان او غير مسلمانان په شك کې واچوي او وئې غولوي؛ خو د ټولو شيطاني هڅو نتيجه ئې همدا مسخره ويډيو وه. دی د نورو مستشرقينو په څېر د صليبيانو او صهيونستانو له لوري استخدام شوی؛ په دې موخه دغو عربي هېوادو ته لېږل شوی چې د اسلام خلاف تبليغاتي مواد پيدا کړي؛ بل څه ئې يا نه دي موندلي او يا د ده مخکينيو ملګرو پرې کار کړی؛ دا عنوان او موضوع ورته جالبه معلومه شوې چې ثابته کړي؛ مسلمانانو د کعبې په اړه هم اشتباه کړې او د ابراهيم عليه السلام په لاس د جوړې شوې اصلي کعبې پر ځای ئې غير اصلي کعبه غوره کړې!! دا نه د مکارو دښمنانو نوې هڅه ده او نه وروستۍ؛ تر ده وړاندي حتی د رسول الله صلی الله عليه و سلم په زمانه کي همدغو يهودانو او صليبيانو د لومړۍ قبلې په اړه دې ته ورته غلط او بې بنسټه تبليغات او ادعاءګاني درلودې؛ چې قرآن د دوی د غلطو ادعاءګانو د ترديد لپاره د مخکينيو دلائلو تر څنګ دا دلائل هم وړاندي کوي:

- د دن ګيبسون دا ادعاء هم ډېره مسخره او مضحکه ده؛ د يوه محقق نه بلکي د يوه متعنت او مغرض انسان ادعاء ته ورته؛ چې وايي: د مکې په شرق کي ئې داسي زاړه مساجد ليدلي چې محراب ئې د مکې پر ځای د اردن جنوب ته مخامخ وو!! دې جناب ته بايد ووايو: هغه زاړه مساجد او د هغوی د محرابونو استقامت قطعاً او له علمي پلوه د اعتبار وړ نه دي چې د سمت معلوم‌ولو له اوسنيو مخکي تللو وسائلو (قطب نما) پرته جوړ شوي؛ د ټولو دغو محرابونو استقامت د تخمين له مخي ټاکل شوی؛ څوك چې د ايران، افغانستان، پاکستان او هند په څېر لري پرتو هېوادو کې زاړه جوماتونه له نژدې وګوري او له همدغو وسائلو په استفادې سره ئې د محرابونو استقامت وڅېړي نو ورته معلومه به شي چې شمال او جنوب ته په ۵ -۱۰ درجې تفاوت سره به ئې سمت يا اردن ته وي او يا يمن ته؛ داسي زوړ جومات به قطعاً ونه مومئ چې سل په سلو کې مستقيماً د کعبې په استقامت وي. د کابل او مکې تر منځ نژدې ۳۰۰۰ کيلومتر واټن دئ، که په کابل کې د يوه جومات محراب ۱۰ درجې شمال يا جنوب ته کوږ جوړ شوی وي؛ نو استقامت به ئې له کعبې نژدې ۵۰۰ کيلومتر شمال يا جنوب ته وي؛ او په هند کې درې - څلور درجې شمال او جنوب ته کږېدل؛ زموږ استقامت له کعبې همدومره شمال او جنوب ته کږوي.

دن کيبسون ټول زاړه جوماتونه او د محرابونو استقامتونه ئې په دريو ډولو وېشلی؛

دې ته ئې سياسي رنګ ورکړی او د عباسيانو او امويانو اختلاف ئې د هغه اصلي سبب ګڼلی: ۱- کعبې ته مخامخ، ۲- پيترا ته مخامخ او ۳- د پيترا او مکې تر منځ د مکې شمال ته مخامخ!! يعني د امويانو، عباسيانو او بې طرف مسلمانانو جوماتونه!!! خو که دا ښاغلی افغانستان ته راشي نو په يوې ورې سيمي کې به داسي جوماتونه همدا اوس او په ۲۱ مي پېړۍ کې وګوري چي له دغو دريو لوريو علاوه؛ د مکې جنوب ځمن کي او د صنعاء او مکې تر منځ يوه لوري ته به مخامخ وي؛ او وجه ئې هم سياسي نه بلکي د تخمين له مخي د محرابونو د جوړولو ستونزه ده؛ قرآن دغه حقيقت ته په پام سره ويلي چي هر ځای وئ په لمانځه کي مو مخ د کعبې لوري ته واړوئ؛ هر لوري ته چي مخ واړوئ الله تعالی په همغه لوري کي دئ؛ الله تعالی هيڅوك تر خپل توان په زيات څه نه ګماري، ستا تخميني قبله هم مني، د اسلام له نظره که څوك داسي ځای کي وي چي د قبلې لوری ورته معلوم نه وي؛ د تخمين له مخي يوه لوري ته لمونځ وکړي؛ نو که وروسته ورته معلومه شي چي بل لوري ته ئې لمونځ کړی؛ لمونځ ئې صحيح شوی او اعاده ئې پرې لازمه نه ده.

• د دن ګيبسون دا ادعاء هم په بشپړه توګه او کاملاً دروغ ده چي تر اتمې ميلادي پېړۍ وړاندې؛ د کعبې په اړه هيڅ ليکلي موثق معلومات نه شو موندلی!! داسي ادعاء يوازي هغه څوك کولی شي چي په دروغ ويلو کي ډېر جرئ او جسور وي. ده او د ده همفکرانو ته وايو:

۱- يو موثق مدرك خو قرآن دئ چي تاسو وليدل په څومره دقيقه توګه ئې د مکې او کعبې په اړه بحث کړی او حقائق ئې بيان کړي. دا قرآن په شپږمي ميلادي پېړۍ کي نازل او خلکو ته رسېدلی. ۲- د عربو هر تاريخ ليکونکي د مکې د څرنګوالي او تاريخ په اړه تفصيلي بحثونه کړي، ۳- عرب شعراءو او ليکوالو خپل شعرونه او ليکنې پرې ښايسته کړي. ٤- د کعبې د جوړېدو له ورځي تر نن پوري په ملياردونو عرب او غير عرب مسلمانانو د کعبې اړوند مسائل په شفوي توګه نورو ته بيان کړي او تر موږ پوري رارسېدلي. ۵- اما د دن ګيبسون جعلي او مسخره خبره له ده پرته بل ويونکی او مدعي په ټول تاريخ کي نه لري!!! تاريخي شواهد او د قرآن محکم او مقنع دلائل ښيي چي کعبه د زمکي پر سر د الله تعالی له لوري لومړی غوره شوی مبارك کور دئ.

دن ګيبسون د دې ادعاء جسارت هم کړی چي وايي: اصلي مکه به حتماً په داسي ځای کي وه چي هلته به لوی ښار وو، مهم تجارتي مرکز، کاروان سرايونه، باغونه، زراعتي زمکي، د ښار چاپېر امنيتي دېوال او د مهمو ښارونو د هغه مهال ټول نور ضروري مشخصات؛ خو په اوسنۍ مکه کي نه د زمکي پر سر د داسي ښار هيڅ آثار او نښي ليدل

شوې او نه د کيندونو په ترڅ کې موندل شوي؛ نه د تعميرونو او دېوالونو آثار او نه د زراعت او زراعتي زمکو او باغونو!! خو د پيټرا په ښار کې دا ټول آثار هم د زمکې پر سر شته او هم تر خاورو لاندې موندل شوي!! دې جناب ته بايد ووايو:

قرآن وايي چې کعبه په داسې ځای کې د ابراهيم عليه السلام په لاس جوړه شوې چې غير ذي زرع وادي وه؛ بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ، نه په کې اوبه وې، نه بوټي او وني او نه انسان او آثار ئې؛ قرآن له ابراهيم عليه السلام داسې نقل قول کوي:

رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةً مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهۡوِيٓ إِلَيۡهِمۡ وَٱرۡزُقۡهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡكُرُونَ ﴿٣٧﴾ ابراهيم

اې زموږ ربه! ما خو د خپل اولاد ځيني؛ ستا د محترم کور خوا ته په داسې بېديا کې مېشت کړل چې بې بوټي (بېديا) ده؛ اې زموږ ربه! د دې لپاره چې لمونځ اقامه کړی شي؛ د خلکو زړونه د دوی لورې ته رامات کړه او له مېوو روزي ورکړه چې شکر پر ځای کړي.

د قرآن له دغو آيتونو چې د ابراهيم عليه السلام دعاء ئې په ډېرې اغېزمنې او زړه راښکونکې بڼې کې انځور کړې؛ څو خبرې په صراحت سره معلومېږي:

- ابراهيم عليه السلام خپله مېرمن هاجر او زوی ئې اسمعيل عليهما السلام د مکې په بېديا کې هغه مهال پرېښودل چې هغه ناو سپېره ډاگ وو او هېڅ بوټی په کې نه راټوکېدو؛ نه په کې بل انسان وو او نه هيڅ حيوان.
- دا کار ئې د الله تعالی په امر او په دې موخه کړی وو چې دلته به څو کاله وروسته د الله تعالی محترم کور (بيت الله) جوړوي. په دې سره د بايبل هغه ادعاء تکذيب شوې چې وايي: سارا د ابراهيم عليه السلام بلې مېرمنې؛ له ده وغوښتل چې هاجر او زوی ئې له کوره وشړي او ده هم دا کار وکړ!! تفصيل ئې په (بايبل د قرآن په رڼا کې) ولولئ.
- د دوی لپاره ئې د رزق او د دوی په لورې د خلکو د زړونو د راماتېدو دعاء ئې وکړه. دا ځکه چې په هغې وچې بېديا کې نه بل انسان اوسېدو او نه بوټي، وني او اوبه وې.
- مطمئن وو چې الله تعالی به دا دعاء داسې قبلوي لکه ده ته چې ئې په زړښت کې اولاد ورکړ.
- د دعاء له الفاظو معلومېږي چې اسمعيل عليه السلام تر اسحق عليه السلام مشر وو، لومړی ئې د اسمعيل او وروسته د اسحاق نوم اخيستی؛ او په دې سره ئې د بايبل هغه ادعاء رد کړې چې وايي: اسحاق د ابراهيم يوازينی مشر زوی وو. د بايبل دا ادعاء هم په

خپله د بايبل خلاف ده او هم د قرآن.

- د دعاء په الفاظو کې د ده قوي عاطفه او د مېرمني، زوی او ټولو مؤمنانو په اړه د ده ژور زړه سوی او قوي مينه د ځپاند سيند په څېر انځور شوې. د دې دعاء په اورېدو سره به د هر مهربان پلار او هر زړه سواند داعي له سترګو اوښکي بهېږي؛ ابراهيم عليه السلام هغه څوك د خپلي دِلي غړی او د خپل کاروان همسفر بولي چي د ده متابعت کوي، له ده سره په فکري او اخلاقي لحاظ ورته والی لري، د نسبي اړيکو پر ځای فکري او اخلاقي اړيکي د اعتبار وړ ګڼي، هغه چا ته د مهربان بخښونکي رب بخښنه او مغفرت غواړي چي د الله په لوري تګ کي د ده ملګرتيا نه کوي.

دغو حقائقو ته په پام سره آيا کولی شو ومنو چي دن ګيبسون په رښتيا دېرش کاله تحقيقات کړي؟ په همدې اوږدې مودې کې له دې هم نه دئ خبر شوی چي قرآن د دې وچي (غَيْرِ ذِي زَرْعٍ) بې بوټي وادي په اړه څه ويلي؟ څنګه او کله دا بېديا په يوه آباد ښار او ام القراء بدله شوې، د حجاز ستر تجارتي مرکز او د نړۍ ستر مذهبي محور ترې جوړ شوی؟! هغه دې ته هم نه دئ متوجه شوی چي په ناپوهۍ سره په داسي څه اعتراف کوي چي نه يوازي د ده ادعاء تکذيبوي بلکي د قرآن حقانيت هم ثابتوي!! هلته چي وايي: په اوسنۍ مکه کې نه د زمکي پر سر د کوم لوی ښار آثار او نښي ليدل شوې او نه د کيندونو په ترڅ کې موندل شوې؛ نه د تعميرونو او دېوالونو آثار او نه د زراعت او زراعتي زمکو او باغونو! ښاغليه! نو دا خو همغه خبري دي چي قرآن کړې؛ دا څېړني او کيندني او نتائج ئې د قرآن د وينا تأييد کوي نه ترديد؛ د دغو څېړنو د نتائجو په اورېدو سره خو هر حقپال انسان بايد د قرآن په وړاندي د تسليمۍ لاسونه لوړ کړي؛ دا خو د قرآن يو علمي إعجاز دئ نه د اعتراض وړ کوم مطلب!! د کعبې د موقعيت په اړه خو يوازي د عرب ولس او د دوی مذهبي او تاريخي کتابونه د مرجع او مأخذ په توګه د اعتبار وړ دي؛ نه ستا په څېر له بهر راغلی مأمور چي هدف او غرض ئې بل ورته ټاکلی؛ هغه چي دی ئې استخدام کړی؛ ستا ادعاء نه علمي ارزښت لري او نه تحقيقي؛ فقط يوه بې بنسټه ادعاء ده؛ د خپلي حق الزحمې د روا کولو لپاره جعلي ادعاء او د ثابتولو ناکامه هڅه!!

حقيقت دا دئ چي د اسلام په ضد د دښمنانو ټول تبليغات؛ همداسي د دن ګيبسون د دې ويډيو او کتاب په څېر دروغجن، مسخره او له عقدې او کينې راټوکېدلي دي.

قُلْ يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ لِمَ تَكْفُرُونَ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ وَٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا تَعْمَلُونَ
٩٨ قُلْ يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ لِمَ تَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنْ ءَامَنَ تَبْغُونَهَا عِوَجًا

وَأَنتُمۡ شُهَدَآءُۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿٩٩﴾

[٩٨]- ووايه: اې اهل كتاب! ولې د الله د آيتونو په نسبت كافران كېږئ، په داسې حال كې چې الله پر هغه څه شاهد دئ چې تاسو ئې كوئ. [٩٩]- ووايه: اې اهل كتاب! ولې د الله له لارې هغه څوك منع كوئ چې ايمان ئې راوړى، كوږوالى ورته لټوئ، په داسې حال كې چې په خپله شاهد ياست؛ او الله له هغه څه غافل نه دئ چې تاسو ئې كوئ.

(٩٨-٩٩)- د اهل كتاب څو كارونه د ډېر حيرت وړ دي:

- پر الله د ايمان دعوى كوي او الله د خپلو كړنو شاهد او ناظر گڼي خو سره له دې د ده په وړاندې د ده له آيتونو انكار كوي!!
- ځان ته مؤمن وايي خو د مؤمنانو په وړاندې خنډ كېږي!!
- د الله په دين كې كوږوالى لټوي، په سمه لار د تلو پر ځاى دا هڅه كوي چې د خپلو كږو لارو د توجيه لپاره په دين كې كاږه تأويلونه او تعبيرونه وكړي، دا كار په داسې حال كې كوي چې د خپل كوږ تأويل او تحريف په ماهيت هم ښه پوه وي او په دې هم د باور دعوى كوي چې الله د دوى له كړنو غافل نه دئ!!

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ يَرُدُّوكُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡ كَٰفِرِينَ ﴿١٠٠﴾

[١٠٠]- اې مؤمنانو! كه د اهل كتاب د كومې ډلې اطاعت مو وكړ نو له خپل ايمان وروسته به مو كافران كړي.

(١٠٠)- د اهل كتاب ټولې ډلې او فرقې په يوه او بل څه كې لږ يا زيات؛ له حقيقي دين تېروتې؛ كه مو د دوى د كومې فرقې خبره ومنله او په كوم څه كې مو د دوى لار غوره كړه؛ نو د دوى په څېر به شئ، له ايمان وروسته به كافر شئ، د دوى ټوله هڅه دا ده چې تاسو له خپل ايمان وگرځوي.

دلته د دې سورې لومړۍ برخه پاى ته رسي او دوهمه برخه پيل كېږي.

وَكَيۡفَ تَكۡفُرُونَ وَأَنتُمۡ تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ وَفِيكُمۡ رَسُولُهُۥۗ وَمَن يَعۡتَصِم بِٱللَّهِ فَقَدۡ هُدِيَ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿١٠١﴾

[۱۰۱]- څنګه کافران کېږئ؛ حال دا چي د الله آيتونه درباندي لوستل کېږي او پيغمبر ئې په تاسو کي دئ او څوك چي په الله اعتصام وکړي نو يقيناً چي سمي لاري ته هدايت شو.

(۱۰۱)- د آيت له لومړنۍ برخي معلومېږي چي دلته له اعتصام بالله مراد ايمان بالله او له الله سره خپل تعلق کلك او ټينګ ساتل دي، د قرآن د آيتونو په ترجمه کي د دقت او احتياط تقاضی دا ده چي هر آيت په خپل موجود ترکيب کي او له څه کمولو او زياتولو پرته ترجمه شي، دلته (من يعتصم بالله) ويل شوي؛ نه (من يعتصم بحبل الله)، د اعتصام بالله بېله معنی ده او د اعتصام بحبل الله بېله معنی، يو ئې له الله تعالی سره د خپل تعلق او ارتباط ټينګ ساتل افاده کوي او بل ئې د الله په دين خپلي منګولي ټينګول افاده کوي.

په دې آيت سره د سورې دوهمه برخه پيل کېږي، د دې برخي عنوان ربط او مرابطه دئ، په دې کي له الله تعالی سره ربط، د الله تعالی له کتاب سره ربط او له مؤمنانو سره ربط او د دې ربط او تعلق ابعاد توضيح شوي.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ
﴿١٠٢﴾ وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْۚ وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ
كُنتُمۡ أَعۡدَآءٗ فَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم بِنِعۡمَتِهِۦٓ إِخۡوَٰنٗا وَكُنتُمۡ عَلَىٰ
شَفَا حُفۡرَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنۡهَاۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ
لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ﴿١٠٣﴾

[۱۰۲]- اې مؤمنانو! له الله هغسي ووېرېږئ لکه چي له ده د وېري تقاضی ده او مه مرئ مګر دا چي مسلمانان وئ. [۱۰۳]- او ټول د الله په رسۍ منګولي ولګوئ او مه متفرق کېږئ؛ او پر تاسو د الله هغه نعمت درياد کړئ چي په خپلو کي سره دښمنان وئ، خو الله ستاسو په زړونو کي الفت واچاوو او د ده په نعمت سره په خپلو کي ورونه ورونه شوئ او تاسو د اور د يوې کندي په ژۍ وئ نو له هغې ئې وژغورلئ؛ همدا راز الله تاسو ته خپل آيتونه بيانوي چي هدايت شئ.

(۱۰۲-۱۰۳)- وېره مو بايد له يوه الله وي، له هغه څه ځان وساتئ چي الله ناراضه کوي،

له الله تعالی ستاسو وېره باید داسي وي لکه له ده سره چي ښایي، تل او د ژوند تر پایه باید د الله لاربښوونو ته منقاد وئ، مرگ او ژوند مو باید په اسلام او د مسلمانۍ په حالت کي وي. یوازي یوازي هم او ټول په گډه هم د الله پر رسۍ منگولي ولگوئ، ستاسو د وحدت مزی باید د الله دین وي، ټولي اړیکي مو باید د الله د دین په بنسټ تنظیم او ټینگي شي، د الله دین د وحدت او یووالي ضامن دئ، پر دین تمسك سره متحد کېږئ، که د الله په دې رسۍ ستاسو منگولي سستي شوې نو متفرق کېږئ، له اختلافاتو سره مخامخ کېږئ او د اختلاف عواقب مو په خپلو سترگو لیدلي، هغه وخت راپه یاد کړئ؛ له مسلمانېدو مخکي وخت؛ هلته چي په سخت اختلاف اخته وئ، مدینه د اور یوې کندې ته ورته وه، هره شېبه د دې وېره وه چي د یوې تباه کوونکې جگړې په اور کي وسوزئ، خو الله تعالی خپل لوی او ستر نعمت؛ د دین عظیم نعمت؛ ستاسو په برخه کړ، د دې الهي نعمت په برکت له اختلافاتو او د اور له هغي کندي وژغورل شوئ، ستاسو زړونه سره نژدې شول او ورونه ورونه شوئ.

---

وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٞ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَيۡرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿١٠٤﴾ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ تَفَرَّقُواْ وَٱخۡتَلَفُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿١٠٥﴾ يَوۡمَ تَبۡيَضُّ وُجُوهٞ وَتَسۡوَدُّ وُجُوهٞۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسۡوَدَّتۡ وُجُوهُهُمۡ أَكَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ﴿١٠٦﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱبۡيَضَّتۡ وُجُوهُهُمۡ فَفِي رَحۡمَةِ ٱللَّهِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿١٠٧﴾

[۱۰٤]- او له تاسو دي داسي یوه ډله (جوړه شوې) وي چي د خیر په لوري بلنه ورکوي، په معروف امر کوي او له منکر مخنیوی کوي او همدا دوی بریالي دي. [۱۰۵]- او د هغو په څېر مه کېږئ چي په خپلو کي له هغه وروسته بېل بېل شول او اختلاف ئې وکړ چي څرگندي نښي ورته راغلې؛ او د همدغو لپاره ستر عذاب دئ. [۱۰٦]- هغه ورځ چي ځیني مخونه به سپین شي او ځیني مخونه به تور، نو هغه چي مخونه ئې تور شي (ورته وبه ویل شي) آیا له خپل ایمان وروسته کافر شوئ؟ نو دا عذاب د دې لپاره وڅکئ چي کافر کېدئ. [۱۰۷]- خو هغه چي مخونه به ئې سپین

شي نو د الله په رحمت کې به وي؛ په هغه کې تلپاته.

(۱۰٤)- نو چې دین ستاسو د یووالي ضامن دئ او له دین د انحراف په نتیجه کې له بدو پایلو، شدید اختلاف او له داخلي جګړو سره مخامخ کېږئ او وطن به درته د اور کنده شي؛ نو په کار ده چې تاسو ټول په ګډه داسي یوه ډله شئ چې کار ئې د خیر په لوري بلنه، په معروف او غوره کارونو ګمارنه او له کرکجنو او منکرو کارونو مخنیوی وي؛ فلاح او بریا به د دغسي ډلي او امت په برخه کېږي.

دې ته مو پام وي چې دلته د امر بالمعرف او نهي عن المنکر صیغې کارول شوې؛ نه د انتقاد او اعتراض صیغې؛ دا یوازي انتقاد او اعتراض نه دئ، عملاً د ناراوو مخنیوی او حق ته اړ کول افاده کوي، دا له مجرد انتقاد او اعتراض ډېر فرق لري، ظالم او مفسد به له لاسه نیسئ، د ظلم او فساد مخه به ئې نیسئ، د حقپالونکو مرسته او ملګرتیا به کوئ.

د معروف لغوي معنی پېژندل شوی ده، یعني هغه څه چې سالم الفطرت انسان ورته په ښه سترګه ګوري، ورته آشنا برېښي او له خپل فطرت سره ئې همغږی، ور او مناسب ګڼي، د دین ټول احکام همداسي دي. او د منکر لغوي معنی پردی یا کرکجن ده، هغه څه چې د سالم فطرت خاوند ترې کرکه لري، ورته ناآشنا برېښي او د خپلو فطري غوښتنو مغایر ئې ګڼي؛ د دین ټول منهیات همداسي دي.

په آیت کې له (منکم امة) ټول امت مراد دئ نه په امت کې یوه برخه او یوه خاصه ډله، دا د امت د فرد فرد وظیفه ده. په وروستي آیت کې هم خطاب ټولو ته متوجه دئ او په۱۱۰ آیت کې هم ویل شوي چې تاسو ټول غوره امت یاست، چې په معروف امر کوئ او له منکر مخنیوی کوئ. له دې دواړو هم معلومېږي چې له (ولتکن منکم امة) مراد ټول امت دئ. په دې اړه د احادیثو له سختو تأکیداتو هم دغه خبره معلومېږي:

وَعَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّه صلى الله عليه وسلم: "مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ وفى رواية "وليس وراء ذلك من الإيمان حبة خردل". مسند أحمد

له أبو سَعِيد خُدْرِيِّ رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: له تاسو چې چا کوم منکر ولید نو په خپل لاس دې بدل کړي، که نه توانېدو نو په خپلي ژبي سره او که نه توانېدو نو په خپل زړه سره او دا تر ټولو ضعیف ایمان دئ او په بل روایت کې دا هم راغلي چې له دې آخوا د مشنګ د دانې په اندازه ایمان هم نشته.

وَعَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى اللَّهُ عليه وسلم: " وَالَّذِى

نَفْسِي بِيَدِهِ، لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ، وَلَتَنْهَوُنَّ عَنْ الْمُنْكَرِ، أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْهُ، ثُمَّ تَدْعُونَهُ فَلَا يَسْتَجِيبُ لَكُمْ " رواه الترمذی وابن ماجه

له حذیفة بن الیمان روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: په هغه ذات قسم چي زما ژوند ئې په واك كې دئ؛ یا به هرو مرو په معروف امر كوئ او له منكر به مخنیوی كوئ او یا به الله تعالی له خپل لوري داسي عذاب درباندي راولېږي چي بیا به دعاء ورته كوئ خو هغه به ئې نه قبلوي.

(۱۰۵-۱۰۷)- له دې آیت معلومېږي چي د امر بالمعرف او نهی عن المنكر په مهمي وجیبې كې اهمال او غفلت په اختلاف منتج كېږي، كه مسلمانانو دا دنده تر سره نه كړه، د ظالم لاس ئې ونه نیوو، د فساد مقابله ئې ونكړه، د بدكارانو او مفسدینو مخنیوی ئې ونه كړ، د نېكانو او صالحینو په څنګ كې ونه درېدل، د حق پالونكو ملګرتیا ئې ونكړه، ښېګنو ته د ودې وركولو په لار كې ئې خپل وخت او وس ونه لګاوو؛ د خلكو تر منځ وحدت او یووالی به له منځه ځي، ټولنه به متفرق كېږي، په خلكو كې به شدید اختلافات راولاړېږي او د الله عذاب به په ټولو راپرېوځي؛ او د قیامت په ورځ خو به حالت داسي وي چي ځیني مخونه به سپین وي او ځیني تور، تور مخي به هغه وي چي یا په خپله په ګناه ككړ وو او یا ئې د دغو ككړو ملګرتیا كړې وه او د دوی له ګناه ئې كركه نه درلوده او مخنیوی ئې نه كاوو، دوی ته به ویل كېږي: آیا له خپل ایمان وروسته كافر شوئ؟ نو دا عذاب د دې لپاره وڅكئ چي كافر كېدئ.

خو هغه چي مخونه به ئې سپین وي، له ګناه ئې ډډه كړی وي، د صالحینو او نېكانو ملګرتیا ئې كړې وي، له مفسدینو او بدكارانو لري پاته شوي وي او د دوی مخنیوی ئې كړی وي؛ دوی به د تل لپاره د الله په رحمت كې وي.

---

تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِٱلْحَقِّ ۗ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٨﴾ وَلِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿١٠٩﴾

[۱۰۸]- دا د الله آیتونه دي چي په حقه ئې پر تا لولو او الله پر نړۍ والو د ظلم اراده نه لري. [۱۰۹]- او څه چي په آسمانونو او څه چي په زمكې كې دي ټول د الله دي او كارونه ټول د الله په لوري ګرځول كېږي.

---

(۱۰۸-۱۰۹)- د مخكیني مضمون په ارتباط ویل شوي چي دا الهي آیتونه دي، همداسي به كېږي، كه د دعوت سلسله قطع شوه، د مفسدینو او ظالمانو مقابله ونشوه، نو هم په

خپلو کې شدید اختلاف ته انتظار وکړئ او هم د الله ستر عذاب ته، دا د الهي عدالت تقاضی ده. بیا دعوتګرانو ته اطمئنان ورکړی شوی چې ډاډه وي، په دې ئې باور وي چې د زمکې او آسمان هر څه د الله دي، ټول امور د ده په واك کې دي، پر کارونو نتائج د ده له لوري مرتب کېږي. مه له دې وېرېږئ چې څوك به مو له کوم څه محروم کړي او مه له دې چې دعوت به مو بې نتیجې پاته شي او د خپلې مبارزې نتائج به تر لاسه نه کړی شئ.

كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ۗ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُم ۚ مِّنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿١١٠﴾

[۱۱۰]- تاسو تر ټولو غوره امت یاست؛ چې د خلکو لپاره رابرسېره شوی؛ چې په معروف ګمارنه کوئ، له منکر مخنیوی کوئ او پر الله ایمان لرئ؛ او که اهل کتاب ایمان راوړی وی دا ورته غوره وو؛ ځیني ئې مؤمنان دي خو اکثر ئې فاسقان دي.

(۱۱۰)- ستاسو د غوره والي څو اسباب دي: امر بالمعروف، نهي عن المنکر او پر الله ایمان؛ که دا ځانګړتیاوې او خصوصیات مو له لاسه ورکړل، نو له دې لوړ او اوچت مقام راپرېوځئ او پر نورو خپل امتیاز له لاسه ورکوئ، بیا به تاسو د مخکینیو اهل کتاب په څېر شئ. اهل کتاب څنګه وو؟ په دوی کې کم شمېر ئې ایمان درلود، اکثر ئې فاسق وو، ایمان لرونکو د فاسقانو مخنیوی ونکړ، له همدې امله له هغه مقام عزل شول او دا دنده تاسو ته وسپارل شوه. که تاسو د دوی په څېر په داسې دوو ډلو ووېشل شئ، اکثر مو فاسق او معدود شمېر مو مؤمن او صالح وي؛ خو د فاسقانو مخنیوی ونکړئ؛ پای به مو د دوی په څېر شي.

لَن يَضُرُّوكُمْ إِلَّا أَذًى ۖ وَإِن يُقَاتِلُوكُمْ يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴿١١١﴾
ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوا إِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللَّهِ وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ وَبَاءُوا بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الْمَسْكَنَةُ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَيَقْتُلُونَ الْأَنبِيَاءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا

يَعۡتَدُونَ ﴿١١٢﴾

[۱۱۱]- له ربړولو پرته هيڅ تاوان نه شي دررسولی او که درسره وجنګېږي نو شا به درواړوي او بيا به ئې هيڅ مرسته ونشي. [۱۱۲]- که هر ځای وموندل شي، ذلت پرې تپل شوی، مګر د کومي الهي رسۍ او يا د خلکو د کومي رسۍ په سبب (له دې ذلته وژغورل شي) او په الهي غضب اخته شول او مسکنت پرې وتپل شو، دا له دې امله چي د الله له آيتونو ئې انکار کاوو او په ناحقه ئې د الله پيغمبران وژل، دا له دې امله چي سرغړاوی ئې وکړ او تېری ئې کاوو.

(۱۱۱)- دوی نور څه نه شي کولی، يوازي په خپلو تېرو ژبو به تاسو ځوروي؛ خو که ستاسو جنګ ته راووتل نو ډېر ژر به ماته وخوري او له ميدان به تښتي او د زمکي پر سر به داسي کوم ځواك پيدا نه کړي چي د دوی مرسته وکولی شي او له ماتي او رسوايي ئې وژغورلی شي.

(۱۱۲)- دوی به تل او په هر ځای کي ذليل وي، مګر دا چي الله پناه ورکړي او يا خلکو ته پناه وروړي، کېدی شي کله کله د نورو په پناه او حمايت کي موقتاً له ذلت وژغورل شي، خو تل به د الله په غضب اخته وي او د مسکنت آثار به د دوی د ژوند په ټولو برخو کي له ورايه بربښي؛ د دې ذلت، الهي غضب او مسکنت اسباب ئې دا دي:

- د الله له آيتونو انکار.
- د پيغمبرانو مخالفت.
- عصيان او سرغړاوی.
- تعدی او تېری.

او په حقيقت کي دا عصيان او تعدي ده چي انسان دې مرحلی ته ورسوي چي د الله له آيتونو انکار وکړي او د پيغمبرانو اوحقپالو دښمني او مخالفت ته ملا وتړي.

لَيۡسُواْ سَوَآءٗۗ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ أُمَّةٞ قَآئِمَةٞ يَتۡلُونَ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ ءَانَآءَ ٱلَّيۡلِ وَهُمۡ
يَسۡجُدُونَ ﴿١١٣﴾ يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ
ٱلۡمُنكَرِ وَيُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١١٤﴾ وَمَا يَفۡعَلُواْ مِنۡ
خَيۡرٖ فَلَن يُكۡفَرُوهُۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلۡمُتَّقِينَ ﴿١١٥﴾

[۱۱۳]- ټول سره برابر نه دي، د اهل کتاب يوه ډله (په حق) ولاړه (ډله) ده، د الله آيتونه د شپې په شېبو کې لولي، په داسي حال کې چي سجدې کوي. [۱۱٤]- پر الله او د آخرت پر ورځي ايمان راوړي، په معروف امر کوي، له منکر مخنيوی کوي او په ښېګڼو کې تلوار کوي؛ او دوی د صالحانو له ډلي دي. [۱۱۵]- او د خير کوم کار چي کوي هيڅکله به ئې ناشکري ونه شي (ضائع به نه شي) او الله په دغو متقيانو ښه پوه دئ.

(۱۱۳-۱۱۵)- ټول اهل کتاب داسي نه دي لکه مخکي چي ورته اشاره وشوه، په دوی کې يوه ډله داسي ده چي په خپل دين قائم دي، د الله په عبادت کې صادقانه لګيا دي، د شپې په زړه کې الله ته سجدې کوي او د ده د کتاب آيتونه لولي، پر الله او آخرت له زړه ايمان لري، په معروف امر او له منکر مخنيوی کوي، صالح دي او په ښېګڼو کې تلوار کوي. د الله په نزد کې د دغو متقيانو نېك عملونه خوندي دي.

دې ته مو پام وي چي دلته ويل شوي: يَتۡلُونَ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ ءَانَآءَ ٱلَّيۡلِ وَهُمۡ يَسۡجُدُونَ د الله آيتونه د شپې په شېبو کې لولي، په داسي حال کې چي سجدې کوي. د دې معنی دا نه ده چي د سجدې په حالت کې آيتونه لولي، دا ځکه چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په سجدې کې د آيتونو لوستل منع کړي، آيتونه يوازي د قيام په حالت کې ويل کېږي، له (هم يسجدون) مراد دا دئ چي د لمانځه په حالت کې د الله آيتونه لولی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن تُغۡنِيَ عَنۡهُمۡ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗاۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿١١٦﴾ مَثَلُ مَا يُنفِقُونَ فِي هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَثَلِ رِيحٖ فِيهَا صِرٌّ أَصَابَتۡ حَرۡثَ قَوۡمٖ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَأَهۡلَكَتۡهُۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِنۡ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿١١٧﴾

[۱۱٦]- بې شکه هغه چي کافران شوي هيڅکله به له الله؛ نه د دوی مالونه څه ترې دفع کړی شي او نه ئې اولادونه؛ او دوی دوزخيان دي، په هغه کې به تلپاته وي. [۱۱۷]- او په دې دنيوي ژوند کې چي څه خرخوي مثال ئې هغه باد ته ورته دئ چي په کې سخته يخني يا اور وي او د هغه قوم کښت ته ورسېږي او تباه ئې کړي چي په خپل ځان ئې ظلم کړی او الله په دوی ظلم نه دئ کړی؛ بلکي دوی په خپله پر خپل ځان ظلم کاوو.

(١١٦-١١٧)- کافرانو ته نه د دوی مال او اولاد څه ګټه رسولی شي او نه ئې انفاق، نه په دنیا کې او نه په آخرت کې، انفاق ئې هغه کښت ته ورته دئ چې ناڅاپي تونده سیلۍ پرې راشي او تباه ئې کړي، دغسې د دوی کفر تباه کوونکې سیلۍ او اور ده چې د دوی کر کښت تباه کوي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ بِطَانَةً مِّن دُونِكُمۡ لَا يَأۡلُونَكُمۡ خَبَالٗا وَدُّواْ مَا عَنِتُّمۡ قَدۡ بَدَتِ ٱلۡبَغۡضَآءُ مِنۡ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَمَا تُخۡفِي صُدُورُهُمۡ أَكۡبَرُۚ قَدۡ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡقِلُونَ ١١٨

[١١٨]- اې مؤمنانو! له خپلو مؤمنانو پرته نور ځان ته رازدار مه نیسئ؛ هیڅ خرابي نه درنه سپموي، هغه څه خوښوي چې تاسو ځوروي، بغض خو ئې له خولو څرګند شوی، خو څه چې د دوی سینې پټ ساتي تر دې هم ستر دئ؛ موږ خو تاسو ته آیتونه بیان کړل که تعقل کولی شئ.

(١١٨)- مؤمنان له دې منع شوي چې غیرمؤمن ځان ته رازدار کړي او کوم داسې کار ورته وسپاري چې د مؤمنانو په رازونو پوهېدل ورته آسان کړي، بطانة په اصل کې د جامې لاندنۍ برخې (استر) ته وایي او دلته ترې مراد نژدې دوست او رازدار دئ، مؤمنانو ته امر شوی چې له مؤمنانو پرته نور دومره ځان ته نژدې نه کړي چې د مسلمانانو په اسرارو خبر شي، له دښمن سره دوستي لږ تر لږه دا تاوان لري چې په اسرارو د خبرېدو موقع په لاس ورځي، نو ځکه امر شوی چې دوی ځان ته مه نژدې کوئ، دوستي ورسره مه کوئ، دوی تاسو ته په تاوان رسولو کې سپماوی نه کوي، هغه او خوښه ئې دا وي چې تاسو له کړاوونو او ستونزو سره مخامخ شئ، د دښمنۍ او عداوت کومې خبرې چې تاسو د دوی له خولې اورئ په زړونو کې تر دې زیاته کینه درته لري، هم د الله د لارښوونو تقاضی دا ده چې له دوی سره دوستي ونکړئ او هم د عقل تقاضی.

هَٰٓأَنتُمۡ أُوْلَآءِ تُحِبُّونَهُمۡ وَلَا يُحِبُّونَكُمۡ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ كُلِّهِۦ وَإِذَا لَقُوكُمۡ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوۡاْ عَضُّواْ عَلَيۡكُمُ ٱلۡأَنَامِلَ مِنَ ٱلۡغَيۡظِۚ قُلۡ مُوتُواْ بِغَيۡظِكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ١١٩

[١١٩]- دا دئ تاسو دوی ښه ایسوئ خو تاسو د دوی ښه نه ایسئ او چي درسره مخامخ شي وايي: موږ ایمان لرو! او چي گوښه شي نو پر تاسو د خپل غیظ او کینې له کبله خپلي گوتې چیچي؛ ورته ووایه: په خپل غیظ سره ومرئ؛ بې شکه چي الله د سینو په شته وو ښه پوه دئ.

(١١٩)- تاسو ورسره محبت کوئ، خو هغوی درسره محبت نه لري، تاسو ئې دوستان گڼئ خو هغوی مو دوستان نه گڼي، تاسو گمان کوئ چي دوی تر مشرکانو ښه دي، موږ ته رانږدې دي، خو هغوی ستاسو په اړه داسي فکر نه کوي، تاسو تر مشرکینو ښه نه گڼي، زړونه ئې له کینې ډك دي، مخامخ خپله دښمني نه اعلانوي، نه؛ د ایمان دعوی کوي او وايي چي موږ په ټولو هغو شیانو ایمان لرو چي تاسو پرې ایمان لرئ؛ خو په خفاء کي له کینې گوتې چیچي. الله ښه پوهېږي چي په خپلو سینو کي ستاسو لپاره کوم بد عزائم او څومره کینه لري.

إِن تَمۡسَسۡكُمۡ حَسَنَةٞ تَسُؤۡهُمۡ وَإِن تُصِبۡكُمۡ سَيِّئَةٞ يَفۡرَحُواْ بِهَاۖ وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لَا يَضُرُّكُمۡ كَيۡدُهُمۡ شَيۡـًٔاۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ١٢٠

[١٢٠]- که کومه ښېگڼه درورسېږي دا ئې خفه کړي او که کوم کړاو درورسېږي پر دې خوښ شي او که صبر او ځان ساتنه وکړئ د دوی دسیسې هیڅ تاوان نه شي دررسولی، بې شکه چي الله د دوی په کړنو محیط دئ.

(١٢٠)- په دې آیت سره د دې مبارکي سورې دریمه برخه شروع کېږي، په دې کي د تقوی څرنگوالی او اهمیت ښودل شوی. شروع ئې له دې شوې چي که په تاسو کي (صبر) او (تقوی) وي نو د دښمن هیڅ کید او مکر او هیڅ تدبیر او توطئه هیڅ تاوان او ضرر نه شي دررسولی. ستاسو د (تقوی) په نتیجه کي به الله تعالی د دښمن ټولي هلي ځلي، دسیسې او توطئې شنډي کړي، دا ځکه چي الله تعالی د دوی په هر څه احاطه لري، هیڅ څه ئې د الله له سلطې او سیطرې بهر نه دي، دوی د الله د ارادې او واکمنۍ په وړاندي محکوم دي، له هغه څه علاوه کوم کار نه شي کولی چي الله ورته توفیق ورکړي، داسي نه ده چي دوی د الله له سیطرې بهر وي او چي څه وغواړي هغه تر سره کولی شي. دا ډېره ستره خبره او د الله له لوري ډېره لویه وعده او ډاډېینه ده، نو ځکه له دې وروسته د دې خبري د اثبات لپاره یو ستر تاریخي ثبوت او یوه عملي بېلگه وړاندي کوي، خو په داسي حکیمانه اسلوب سره چي په ضمن کي ئې بې شمېره ارزښتناکي لارښووني هم د متقیانو مخي ته

ږدي.

وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ ٱلْمُؤْمِنِينَ مَقَٰعِدَ لِلْقِتَالِ ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٢١﴾

[۱۲۱]- او کله چې په سباوون کې له خپلې کورنۍ ووتې؛ په داسې حال کې چې مؤمنان دې د جنګ لپاره په مورچلو کې ځای پر ځای کول؛ او الله ښه پوه اورېدونکی دئ.

(۱۲۱)- دلته د احد جنګ ته اشاره شوې؛ په دې جنګ کې پیغمبر علیه السلام په خپله د مجاهدینو لارښوونه کوله، هر چا ته ئې خپله مورچل او وظیفه سپارله؛ قریشیان له درې زره فوځ سره پر مدینې منورې د برید لپاره راخوځېدلي وو، غوښتل ئې د بدر د تاریخي ماتې غچ واخلي، پوره تیاری ئې نیولی وو، شمېر او وسائل ئې هومره وو چې مخامخ پر مدینې منورې د برید او د هغې د فتح کولو لپاره ئې کافي ګڼل، د مدینې په لوري د لښکر له خوځېدو سره سم پیغمبر علیه السلام ته اطلاع ورسېده، له خپلو یارانو سره ئې مشوره وکړه، د صحابه وو د اکثرو مشرانو رأیه دا وه چې د مدینې له منځ دفاع وکړي، د پیغمبر علیه السلام خپله رأیه هم دا وه، له جنګي لحاظه هم دا تر دې غوره وه چې له مدینې بهر د دښمن مقابله وشي، د مدینې له منځ دفاعي جنګ هم د دې لپاره مفید وو چې دښمن ته کوڅه په کوڅه او کور په کور جنګ کول ګران وو او هم له دې لحاظه چې د مدینې ټولو اوسېدونکو به ناچار د دفاع لپاره په جنګ کې برخه اخیسته، مسلمانانو د قریشو مقابلې ته تر زرو کسانو زیات فوځ نه شو ایستلی او دا د دښمن د شمېر په پرتله ډېر کم وو، هر یوه به د دریو کسانو مقابله کوله، خو د مدینې له منځه د دفاع په صورت کې دا کمی پوره کېدو. خو د مدینې ځینو ځوانانو په دې ټینګار کاوو چې له مدینې بهر د دښمن مقابله کوو. د دوی ټینګار ته په پام سره په مجلس کې فیصله وشوه چې د دښمن مخې ته ورو‌ځو. پیغمبر علیه السلام د جُمعې د ورځې په لمانځه کې ډېره جامع او مؤثره وینا وکړه او مسلمانان ئې د دښمن مقابلې ته ترغیب کړل. که څه هم هغه ځوانان د پیغمبر علیه السلام د رأیې په مقابل کې په خپلې رأیې له ټینګار نادم شوو، راغلل او وئې ویل: یا رسول الله! موږ له خپلې رأیې منصرف یو، که دې خوښه وي دا فیصله بدله کړه، خو پیغمبر علیه السلام دا مناسبه ونه ګڼله چې له اعلان وروسته او په داسې وخت کې دا فیصله بدله کړي چې په خپله ئې هم ذره اغوستې وه او نور هم تیار او د تلو په حالت کې وو.

له نژدې زرو کسانو سره له مدینې د احد د غره په لوري وخوځېدو، په لاره کې د منافقینو سردار ابي بن سلول له خپلو دریو سوو پلویانو سره؛ له مجاهدینو بېل شو او بېرته

مدينې ته ستون شو، د ده بېلېدو ځيني مسلمانان پرېشان کړل، نژدې وه چې د مدينې دوه قبيلې بنو حارثه او بنو سلمه هم تر شا شي، خو د نورو مسلمانانو په وينا راتم شول، پيغمبر عليه السلام د احد د غره په لمنه کې مجاهدين ځای پر ځای کړل، داسې چې غر ئې شا ته وو، دې کار هم له شا د دښمن د بريد مخه نيوله او هم د ماتې په صورت کې تر شا کېدل ئې ورته آسان کاوو. له لازمي ترتيب او تنظيم وروسته د دښمن رارسېدو ته په انتظار کښېناست، د غشيو ويشتونکو يوه پياوړې ډله ئې د عبدالله بن جبير رضي الله عنه په مشرۍ د يوې داسې غونډۍ پر سر مؤظفه کړه چې له اړخ ئې د دښمن د احتمالي حملې مخه نيولی شوه. دوی ته ئې په تأکيد سره وويل چې له دې ځای به په هيڅ صورت کې نه خوځېږئ، نه د فتحې په صورت کې او نه د ماتې په صورت کې. په لومړي سر کې او له نښتې د مخه، د دواړو خواوو ځو جنگياليو، د عربو د هغه وخت له دود، دستور سره سم، بېله بېله، د تورو مقابله وکړه، د قريشو دولس ديارلس نوميالي او مشهور جنگيالي ووژل شول، بالآخره مخامخ نښته پيل شوه، د قريشو فوځ له لږ مقاومت وروسته ماتې وخوړه او د مکې په لور په تېښته شول، مړي، زخميان، وسائل او سامان ئې په ميدان کې پاته شول، ځينو مجاهدينو دښمن تعقيب کړ خو ځيني نور د غنائمو په راټولولو مصروف شول، د غشيو ويشتونکو د هغې ډلې ځينو کسانو احساس کړه چې دښمن وتښتېدو، نور نو دلته پاته کېدل ضروري نه دي، له غونډۍ راکوز او د ميدان په لوري وخوځېدل، هم ئې د پيغمبر عليه السلام هغه تأکيدي هدايت له پامه وغورځاوو او هم ئې د خپل مشر عبدالله بن جبير مکرره غوښتنه. خالد بن وليد چې د قريشو د سپرو د ډلې مشري ئې کوله له دې فرصت استفاده وکړه، د غره له شا راتاو شو، د غونډۍ پر سر پاته لس يولس مجاهدينو مقابله وکړه، خو ټول په شهادت ورسېدل. دغه ناڅاپي بريد مسلمانان سخت پرېشان کړل، د تېښتې په حال کې قريش هم بېرته راوگرځېدل او مسلمانان له دوو خواوو تر بريد لاندې راغلل، ډېر جنگيالي په شهادت ورسېدل، پيغمبر عليه السلام زخمي شو، د ده له زخمي کېدو سره سم؛ دښمن دا افواه خوره کړه چې پيغمبر عليه السلام په شهادت ورسېدو، دې هيبتناکې افواه د ډېرو غوړگې وښويولې، ځيني غره ته وختل او ځيني د مدينې په لوري تر شا شول، دښمن جنگ گټلی وو، پر مدينې باندې د حملې لپاره ښه فرصت په لاس ورغلی وو او د هر چا گمان دا وو او د عقل حکم هم دا چې دوی به اوس په مدينې بريد کوي، خو په خلاف ئې هغوی جنگ متوقف کړ او له لنډ توقف وروسته د مکې په لور وخوځېدل. دا نښته د هجرت په دريم کال د شوال په مياشت کې وشوه او د احد د غزا په نامه ونومولې شوه. په وروستيو آيتونو کې د دغې جگړې په اړه يو ډېر جامع او هر اړخيز

بحث شوی.

إِذْ هَمَّت طَّآئِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا وَٱللَّهُ وَلِيُّهُمَا ۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١٢٢﴾

[۱۲۲]- کله چې ستاسو دوو قبیلو د بې زړه توب قصد وکړ؛ په داسې حال کې چې الله ئې ولي او مرستندوی وو او مؤمنان خو باید پر الله توکل وکړي.

(۱۲۲)- دا همغه دوه قبیلې؛ بنو حارثه او بنو سلمه دي چې د ابی بن سلول او د ده د ملګرو له ستنېدو وروسته نژدې وه بې همتي وکړي او له جګړې په شا شي. د دوی په اړه ویل شوي چې بې همتي ورته مناسبه نه وه، د چا چې الله مولا او مل وي ولې به بې همتي کوي، له مؤمنانو سره خو دا ښايي چې تل او په هر حالت کې ئې پر خپل خدای توکل او بروسه وي او د دښمن له زور ځواکه ونه وېرېږي.

وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنتُمْ أَذِلَّةٌ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَن يَكْفِيَكُمْ أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم بِثَلَٰثَةِ ءَالَٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُنزَلِينَ ﴿١٢٤﴾ بَلَىٰٓ ۚ إِن تَصْبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم بِخَمْسَةِ ءَالَٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ ﴿١٢٥﴾

[۱۲۳]- او یقیناً چې الله په بدر کې تاسو ته نصرت او بریا درکړه په داسې حال کې چې تاسو کمزوري وئ؛ نو له الله ووېرېږئ چې شکر مو کړی وي. [۱۲٤]- کله چې تا مؤمنانو ته ویل: آیا دا درته کافي نه ده چې ستاسو رب مو په دریو زرو رالېږل شویو ملائکو مرسته وکړي؟ [۱۲۵]- هو! که صبر او تقوی وکړئ او دوی په همدې شور ځوږ درباندې راشي، نو ستاسو رب به مو په پنځو زرو نښانمنو ملائکو مرسته وکړي.

(۱۲۳-۱۲۵)- که د دښمن فوځ درې زره وي؛ نو الله به ستاسو مرستې ته درې زره ملائکې راولېږي، که پنځه زره شو؛ پنځه زره به راولېږي، که هغوی له شور ځوږ او مستۍ سره او ناڅاپي پر تاسو برید وکړي؛ الله تعالی به هم ځانګړې ملائکې له خپلو خاصو نښانونو سره راولېږي، مه د دوی له شمېر وېره ولرئ او مه ئې له ظاهري شأن شوکت.

وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِۦ ۗ وَمَا ٱلنَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾

[١٢٦]- او دا ئې نه دئ گرځولی مگر تاسو ته د زېرې په توگه او د دې لپاره چې ستاسو زړونه پرې ډاډه شي؛ كه نه نو بريا له باحكمت عزيز خدای پرته د هيچا له لوري نه وي.

(١٢٦)- دا د ملائكو د رالېږلو وعده خو يوازې يو زېرى دئ او ستاسو د زړه د ډاډ او اطمئنان لپاره؛ كه نه نو د فتح او بريا لپاره خو يوازې د الله تعالی اراده كافي ده، د ملائكو له رالېږلو پرته هم تاسو ته فتح دركولی شي؛ الله هم عزتمن او غالب دئ او هم حكيم، هم په دې ښه پوهېږي چې څنگه دښمن ته ماته وركړي او تاسو غالب كړي او هم په دې قادر دئ چې د دښمن مجهز فوځ ته ماته وركړي او تاسو له ضعف او ناتوانۍ سره سره غالب كړي.

لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنقَلِبُوا۟ خَآئِبِينَ ﴿١٢٧﴾

[١٢٧]- د دې لپاره د كافرانو يو لوری قطع (پرې) كړي؛ يا ئې نسكور كړي؛ نو نامراده بېرته وگرځي.

(١٢٧)- د الله اراده دا وه چې په دې نښتې كې د كفري ځواكونو يو مضبوط مړوند مات كړي، سپك او ذليل ئې كړي او خائب او نامراده تر شا كېدو ته ئې اړ كړي. په بدر كې د الله دا وعده تر سره شوه، د قريشو هغه جنگي ځواك چې په ټولو عربو برلاسی وو، له سختې ماتې سره مخامخ شو، گڼ شمېر نوميالي سرداران او مغرور جنگيالي ئې ووژل شول، نامراده او ځوړند سر له بدر په شا شول.

لَيْسَ لَكَ مِنَ ٱلْأَمْرِ شَىْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿١٢٨﴾

[١٢٨]- د دې كار هيڅ څه په تا پورې اړه نه لري؛ يا به ئې توبه قبلوي او يا به ئې د دې لپاره تعذيبوي چې ظالمان دي.

(١٢٨)- رسول الله صلي الله عليه وسلم ته فرمايي چې ته د هيڅ شي واك او اختيار نه لرې، دا په الله پورې اړه لري چې د چا توبه قبلوي او چا ته عذاب وركوي، دا يوازې د الله كار دئ، نه په تا پورې اړه لري او نه په بل چا پورې. د رسول الله صلی الله عليه وسلم په

اړه چې حکم دا وي نو د نورو عادي خلکو په اړه به حکم څه وي؟ په نورو پوري به څنګه چاري او امور تړل شوي وي؟!!

قرآنکريم په ربوبيت کې د شرك د نفي او ترديد لپاره په دې قاطع دليل او حجت استدلال کوي چې که په زمکه او آسمان کې له يوه الله پرته نور خدايان وی نو حتماً به د زمکې او آسمان ټولې چارې مختل او هر څه به تباه شوي وو؛ دا ځکه چې په هغه صورت کې به هر خدای له خپلې خوښې سره سم د دې عالم اداره غوښتله؛ د آراءو اختلاف، په اجراءاتو او تصرفاتو کې د ارادو تعدد به حتماً په ټکر او تصادم منتج کېدو او دا به په کائناتو کې د لويې تباهۍ سبب جوړېدو. په هستي او کائناتو کې دا حاکم نظم او نسق په دې دلالت کوي چې د مخلوقاتو د امورو د تدبير واك او اختيار له يوه ذات سره دئ.

لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٢٢﴾ الانبياء

که په آسمان او زمکې کې له الله پرته نور خدايان وی؛ دواړه حتماً تباه کېدل؛ نو د عرش پالونکي الله ته د دوی له ستايلو پاکي ده.

په ځينو رواياتو کې راځي چې د احد په جګړې کې پيغمبر عليه السلام له زخمي کېدو وروسته وفرمايل: هغه قوم به څنګه نجات ومومي چې له خپل پيغمبر سره داسي سلوك کوي په داسي حال کې چې هغه ئې د الله لوري ته بلي.

"كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ فَعَلُوا هَذَا بِنَبِيِّهِمْ وَهُوَ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللَّهِ؟ " سنن الترمذی

الله تعالی د دغي خبري په ځواب کې وفرمايل چې د بخښني او عذاب پرېکړه به زه کوم نه ته. ډېر هغه کسان چې په دې جګړې کې د کفر تر بيرغ لاندي جنګېدل؛ الله تعالی هدايت کړل، د ايمان راوړو او د الله په لار کې د سترو سترو کارونو توفيق ئې ورکړ.

---

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٩﴾

[۱۲۹]- او څه چې په آسمانونو کې او څه چې په زمکه کې دي ټول د الله دي؛ چا ته چې وغواړي بخښنه کوي او څوك چې وغواړي تعذيبوي ئې او الله مهربان بخښونکی دئ.

---

(۱۲۹)- الله هغه ټولواك دئ چې د زمکې او آسمانونو هر څه د ده دي، نه څوك په

واکمنی که ورسره شریك دئ او نه د مغفرت او تعذیب په کار کې؛ دا پرېکړه په خپله او د بل له شراکت پرته کوي چې څوك وبخښي او څوك تعذیب کړي. که دا کار له غفور او رحیم خدای پرته د بل چا په لاس کې وی نو معلومه نه ده چې څومره د بخښني وړ کسان به ئې له فرصت ورکولو د مخه هلاك کړي وو؟!!

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَأْكُلُوا۟ ٱلرِّبَوٰٓا۟ أَضْعَـٰفًا مُّضَـٰعَفَةً ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٣٠﴾ وَٱتَّقُوا۟ ٱلنَّارَ ٱلَّتِىٓ أُعِدَّتْ لِلْكَـٰفِرِينَ ﴿١٣١﴾

[۱۳۰]- اې مؤمنانو! سود په څو څو ځله زیاتوالي سره مه خورئ او له الله ووېرېږئ چې بریالي شئ. [۱۳۱]- او له هغه اور ځان وساتئ چې د کافرانو لپاره تیار کړی شوی.

(۱۳۰-۱۳۱)- دلته د احد د جګړې د ماتې عوامل او املونه څېړل کېږي، په دې لړ کې د سود په ارتباط لارښوونې په سطحي نظر بې ربطه معلومېږي؛ خو په لږ دقت سره پوهېدی شو چې په دې ماتې کې د سود خوړلو خاصه ونډه وه، سود د مکې له فتح وروسته حرام شو، په مدینه کې سود رائج وو، د مدینې شتمنو یهودانو د سود بازار تود کړی وو. مسلمانان هم لږ یا زیات پرې اخته وو؛ سود هم د مال له حرص راولاړېږي او هم د مال حرص زیاتوي او همدغه د مال حرص وو چې د احد فتح ئې په ماتې بدله کړه. د مال حرص د سنګرونو پرېښودو او د دښمن له تعقیبه لاس اخیستو ته وهڅول. نو ځکه دوی ته وویل شو چې له سود ډډه وکړئ. دلته د سود پایله داسې اور ګڼل شوی چې په اصل کې د کافرانو لپاره تیار کړی شوی. له دې معلومېږي چې سود د الله په دین کې څومره ستره ګناه ده!!

وَأَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٣٢﴾ ۞ وَسَارِعُوٓا۟ إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا ٱلسَّمَـٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٣﴾ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِى ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَٱلْكَـٰظِمِينَ ٱلْغَيْظَ وَٱلْعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِ ۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٣٤﴾ وَٱلَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا۟ فَـٰحِشَةً أَوْ ظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ ذَكَرُوا۟ ٱللَّهَ فَٱسْتَغْفَرُوا۟ لِذُنُوبِهِمْ وَمَن يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ إِلَّا ٱللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا۟ عَلَىٰ مَا فَعَلُوا۟

وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٣٥﴾

[۱۳۲]- او د الله او د ده د پیغمبر اطاعت وکړئ چې رحم درباندې وشي. [۱۳۳]- او د خپل رب د بخښنې او د هغه جنت په لورې تلوار وکړئ چې عرض به ئې آسمانونه او زمکه وي؛ د متقیانو لپاره تیار کړی شوی. [۱۳٤]- هغه چې په سوکالۍ او تنگسه کې انفاق کوي او د غیظ زغمونکي او د خلکو (له اشتباهاتو) تېرېدونکي دي؛ او الله دا محسنین خوښوي. [۱۳۵]- او هغه چې کله کوم سپك کار وکړي او یا په خپل ځان ظلم وکړي؛ نو الله یادوي او د خپلو گناهونو بخښنه غواړي؛ او له الله پرته بل څوك دئ چې گناه بخښلی شي؟ او په خپلو کړو گناهونو اصرار او ټینگار نه کوي؛ په داسې حال کې چې پوهېږي.

(۱۳۲-۱۳۵)- که غواړئ د الله رحمتونه او پېرزویني مو په برخه شي نو د الله او د ده د پیغمبر اطاعت وکړئ، د غنیمتونو پر ځای باید ستاسو تلوار د هغه جنت په لورې وي چې ټول آسمانونه او زمکه به ئې عرض وي. له عرض مراد یا بیع ده؛ په عربۍ کې عرض د قیمت او بیعې لپاره هم استعمالېږي، خو که عرض د سور په معنی واخیستی شي نو بیا به د آیت ترجمه دا وي: هغه جنت چې آسمانونه او زمکه به ئې سور وي. د الحدید د سورې په ۲۱ آیت کې عرض د سور په معنی راغلی: سابِقُوا إِلى مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَ جَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السمَاءِ وَ الأَرْضِ ... له دې معلومېږي چې دلته هم سور مراد دئ نه بیع.

دلته د متقینو څو صفات بیان شوي:

- په سوکالۍ او تنگسه کې انفاق کوي.
- زغم لري او د خلکو په اشتباهاتو سترگې پټوي.
- له خپل مسلمان ورور د انتقام پر ځای او د هغه د غلطیو په مقابل کې د بالمثله چلن پر ځای له زغم کار اخلي او ترې تېرېږي.
- کله چې کومه غلطي وکړي، بل ته د ده له غلط کار تاوان ورسېږي یا یوازې په خپل ځان ظلم وکړي؛ نو خپل رب یادوي او د خپلې غلطۍ بخښنه غواړي.
- عمداً په خپل غلط کار اصرار او ټینگار نه کوي.

په چا کې چې دا صفات وي؛ هغوی (متقیان) او (محسنین) او د الله محبوب بندگان دي، که غواړئ اولیاء الله او د الله محبوب بندگان وپېژنئ نو صفات ئې دغه دي. محرف مذاهب د (اولیاء الله)، (متقیانو) او (محسنینو) لپاره نور نور معیارونه کاروي او نور کسان د نورو ځانگړتیاوو له مخې د الله محبوب بندگان گڼي؛ خو د الله په دین کې د الله

محبوب بندګان هغه دي چې نوموړي صفات ولري.

دا پوښتنه راولاړېږي چې دومره جنتونه به له کومه کېږي؟ ډېرو ته به دا خبره مبالغه معلومه شي؛ خو هغه څوك چې پوهېږي دا اوس د آسمان په غېږ کې د هغو ستورو شمېر څومره دئ چې هر یو ئې د زمکې په اندازه یا تر زمکې غټ دئ!! ستور پېژاندو څو کاله وړاندې ویل چې په آسمان کې شاوخوا یو سل شل ملیارده ستورلیکې دي، چې په هر ستورلیکې کې تر سل ملیارډه زیات ستوري دي!! اوس وایي په کائنات کې نژدې دوه زره ملیارده ستور لیکې دي!! یعنې د زمکې پر سر د ټولو پیدا شوو انسانانو تر شمېر ئې شمېر په لکونو ځله زیات دئ. آیا دا نه ښیي چې د قرآن په هیڅ وینا کې نه د حقیقت خلاف خبره شوې او نه غیر دقیقه او له مبالغې ډکه وینا؟!

دې ته مو هم باید پام وي چې په جنت کې به نه د انسان حواس اوسني حواس وي او نه ئې د درك ساحه دومره محدوده لکه نن، هم به ئې لرې لید ډېر پراخ وي او هم حواس دومره حساس چې له داسې جنت سره ښایي؛ قرآن د دغه حقیقت د بیانولو لپاره د هغه چا حالت په جنت کې انځوروي چې په دنیا کې ئې له یوه دوزخي سره پېژندل، هغه ئې د غولولو هڅه کوله خو دی د الله تعالی په فضل ترې خوندي پاته شوی وو، په جنت کې به ورپه یاد شي، زړه به ئې وغواړي چې له حال ئې خبر شي، خپلو ملګرو ته به ووایي: زما داسې یو دوست وو، راشئ وګورو چې هغه چېرې دئ، په یو نظر سره به هغه د ټولو دوزخیانو له منځه د دوزخ په یوې کندې کې وموميي، له جنت به پرې غږ کړي؛ او د دوی تر منځ به څو خبرې تبادله شي:

فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٥٠﴾ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٌ ﴿٥١﴾ يَقُولُ
أَءِنَّكَ لَمِنَ ٱلْمُصَدِّقِينَ ﴿٥٢﴾ أَءِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَدِينُونَ ﴿٥٣﴾ قَالَ هَلْ أَنتُم
مُّطَّلِعُونَ ﴿٥٤﴾ فَٱطَّلَعَ فَرَءَاهُ فِي سَوَآءِ ٱلْجَحِيمِ ﴿٥٥﴾ قَالَ تَٱللَّهِ إِن كِدتَّ لَتُرْدِينِ ﴿٥٦﴾ وَلَوْلَا
نِعْمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ ٱلْمُحْضَرِينَ ﴿٥٧﴾ الصافات

نو ځینې (جنتیان) به ځینو نورو ته مخ کړي په داسې حال کې چې یو به بل پوښتي؛ د دوی یو ویونکی به ووایي: زه خو داسې وم چې یو ملګری مې وو؛ ویل به ئې: آیا ته له باور کوونکو یې؟ آیا کله چې ومرو او خاورې او هډوکې شو آیا موږ به محاسبه او مجازات کېږو؛ وبه وایي: تاسو کتونکې یئ؟ نو نظر به واچوي او د دوزخ په منځ کې به ئې وګوري؛ وبه وایي: قسم پر خدای چې نژدې وه ما (په دوزخ کې) وغورځوې؛ او که زما د رب فضل او پېرزوینه نه وی نو زه به هم (په دوزخ کې) له حاضر کړی شوو سره وم.

دا داسي وګڼئ لکه څوك چي نن خپل کوم ملګری زموږ په شمسي نظام یا ستور لیکي کي ولټوي او د سترګو په رپ کي ئې په یوه لري ستوري کي ومومي!! له دې معلومېږي چي هلته به د انسان حواس څومره څواکمن وي!!

خو آیا پوهېږئ چي په داسي خبرو به یو مهال د اسلام مخالفینو څومره ملنډي وهلې وي او هغه به ئې دروغجني او د حقیقت خلاف او له مبالغو ډکي ګڼلې وي؟!! خو دا دئ نن د افغانستان له یوه لري پراته کلي یو کس د یوه وړوکي مبایل په مرسته د نړۍ په لري ګوټ کي له خپل دوست سره داسي خبري کوي چي هم ئې غږ اوري او هم ئې مخ ګوري!! دا نن د یوه قوي او ستر تلسکوپ خوا ته ناست ستور پېژاندی د ستور لیکي په لري اړخ کي یو ستوری ګوري او وایي: دا ستوری زموږ له زمکي په دومره واټن کي پروت دئ، حجم ئې زموږ د زمکي په پرتله دومره څله زیات دئ!! آیا د قرآن دا وینا داسي نه ده چي د ساینس د نني معیارونو له مستوی هم وړاندي ده؟!!

أُوْلَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُم مَّغۡفِرَةٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَجَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَنِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ﴿١٣٦﴾

[١٣٦]- دا هغه کسان دي چي جزاء ئې د خپل رب له لوري بخښنه ده او هغه جنتونه چي ویالې به ترې لاندي بهېږي؛ په کي تلپاته؛ د عمل کوونکو اجر څومره غوره دئ!!

(١٣٦)- دلته نه یوازي د متقیانو غوره اجر بیان شوی چي د الله له لوري مغفرت او تلپاته جنتونه دي؛ بلکي د دوی یوه بله ځانګړتیا هم ښودل شوې او هغه دا چي دوی عمل کوونکي دي؛ ناپوه خلك هغه چا ته د الله دوست او ولي الله وایي چي له عمل لاس واخلي، دنیا ته شا کړي، په یوه ګوښه کي کښېني او په ذکر او دعاء لګیا شي؛ خو د الله په دین کي د الله محبوب متقیان هغه دي چي صفات ئې پورته بیان شول.

قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِكُمۡ سُنَنٞ فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ﴿١٣٧﴾

[١٣٧]- یقیناً چي له تاسو مخکي هم ځیني سنن تېر شوي؛ نو پر زمکه وګرځئ او وګورئ چي د مکذبینو عاقبت او پایله څنګه وه؟

(۱۳۷)- له تاسو مخکې ډېر ملتونه تېر شوي؛ هر یوه ځان ته د ژوند بېله بېله طریقه غوره کړې وه؛ تاریخ ته رجوع وکړئ او وګورئ چې د هغو ملتونو عاقبت څنګه وو چې د الله د دین او د پیغمبرانو د تکذیب لپاره ئې ملا تړلې وه؟ او څومره ملتونه د همدې جرم په سزا له سخت الهي عقوبت سره مخامخ شوي؟

هَٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٨﴾

[۱۳۸]- دا د خلکو لپاره بیان دئ او د متقیانو لپاره لارښود او موعظه.

(۱۳۸)- له (هذا) یا مراد همدغه پورتنۍ خبره ده؛ په دې سره هم عام طور د خلکو لپاره یو ستر حقیقت او د الله یو نه بدلېدونکی سنت بیان شوی او هم متقیانو ته لارښوونه او نصیحت شوی؛ او یا له (هذا) مراد دا قرآن دئ چې حقائق ئې ټولو خلکو ته بیان کړي؛ خو له لارښوونو او مواعظو ئې یوازې متقیان ګټه اخیستی شي. خو لومړۍ توجیه د دې لپاره غوره ده چې له دې آیت مخکې یا وروسته د قرآن ذکر نه دئ راغلی.

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣٩﴾

[۱۳۹]- نو مه سست کېږئ او مه غمجن کېږئ او همدا تاسو لوړ یئ که مؤمن وئ.

(۱۳۹)- هره نظامي ماته په هغو جنګیالیو باندې خاص اثرات پرېږدي چې له ماتې سره مخامخ شوي وي؛ شور او شوق ئې کمزوری شي، ناهیلي پرې سیوری وغوړوي، اندېښنې او غمونه ئې ځوروي، دښمن تر ځان غوره ګڼي او ګمان کوي چې د دښمن غوره والي هغه ته بریا ورپه برخه کړه. له دغو منفي اغېزو د خوندي پاته کېدو لپاره الله تعالی په دغو مبارکو آیتونو کې څو ارزښتناکې لارښوونې د احد مجاهدینو ته په خاصه توګه او ټولو مجاهدینو ته په عامه توګه کړې دي:

- مه سست کېږئ، موقتي ماتې باید ستاسو شور، شوق او جذبه کمزورې نه کړي، مبادا خپل نشاط له لاسه ورکړئ، مأیوس او ناهیلي شئ.
- پر خپلو تلفاتو ویر پرېږدئ، بې فائدې اندېښنې لرې وغورځوئ، حزن او غم ته موقع مه ورکوئ چې ستاسو پر ذهن او زړه سیوری وغوړوي، اراده مو کمزورې او عزم مو متزلزل کړي.
- د حقارت احساس مه کوئ، دښمن تر ځان غوره مه ګڼئ، ګمان مه کوئ چې د دښمن کوم مثبت اړخ او کوم غوره والي دا بریا ورپه برخه کړې، ستاسو د فضیلت او لوړوالي لپاره

ستاسو ايمان او عقيده کافي ده، د دښمن موقتي بريا او ستاسو موقتي ماتي بايد ستاسو دا د لوړوالي احساس کم رنګه نه کړي.

إِن يَمۡسَسۡكُمۡ قَرۡحٞ فَقَدۡ مَسَّ ٱلۡقَوۡمَ قَرۡحٞ مِّثۡلُهُۥۚ وَتِلۡكَ ٱلۡأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيۡنَ ٱلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَتَّخِذَ مِنكُمۡ شُهَدَآءَۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٤٠ وَلِيُمَحِّصَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَمۡحَقَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٤١

[١٤٠]- که تاسو ته کوم زخم دررسېږي نو دښمن قوم ته خو هم دغسې زخمونه رسېدلي او دا خو هغه ورځې دي چې په خلکو کې ئې اړوو راړوو او د دې لپاره چې الله هغه کسان معلوم کړي چې ايمان ئې راوړی او له تاسو څيني شهيدان ونيسي او الله خو دا ظالمان نه خوښوي. [١٤١]- او دا د دې لپاره چې مؤمنان ښه عيار کړي او کافران نابود کړي.

(١٤٠-١٤١)- دلته زخمي مجاهدينو او له ماتي سره مخامخ شوي فوځ ته څو خبرې شوې:

- که تاسو ته ږهارونه دررسېدلي، نو دښمن ته هم، په دې جګړې کې او له دې مخکې په نورو جګړو کې زخمونه رسېدلي، چې هغوی د ناروا اهدافو او کرکجنو اغراضو لپاره دا زخمونه او ږهارونه قبلوي؛ تاسو ولې د الهي اهدافو لپاره دا په ورين تندي نه قبلوئ؟!
- دا کله بريا او کله ماته؛ يو ثابت الهي سنت دئ، دا داسې ده لکه چې کله شپه وي او کله ورځ، په هر يوه کې د حکيم خدای خاص حکمتونه دي.
- او دا د دې لپاره ده چې واقعي مؤمنان له هغو تفکيك کړي چې د ايمان په دعوی کې رښتيني نه دي.
- او دا بيا د دې لپاره ده چې الله تعالی غواړي څينو ته د شهادت لوړ مقام ورپه برخه کړي او غواړي چې له تاسو شاهد امت جوړ کړي، د نورو لپاره بېلګه او مثال شئ، د نورو لپاره د لارې مشال شئ، ستاسو له قربانيو، صبر، ثبات او استقامت نور د دين په لار کې د قربانۍ او د صبر او استقامت درس واخلي.

او د آيت د دې فقرې (وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ) معنی يا دا ده: ګمان مه کوئ چې الله تعالی دغه ظالم قوم ته د دوی د کومې ورتيا لپاره دا موقتي فتح ورپه برخه کړه، نه؛ الله تعالی دا ظالمان نه خوښوي او په دوی کې داسې څه نشته چې الله پرې راضي شوی وي؛ او يا ترې مراد منافقين دي چې الله تعالی غواړي د دغو ماتو او تلفاتو په دوران کې هغوی د مسلمانانو له ليکو وباسي. لومړی تعبير له ټول مضمون سره مناسب دئ.

په دغو لوړو ژورو کې خو الله تعالی د مؤمنانو روزنه کوي، دوی د ایمان لوړو څوکو ته رسوي، د دوی ایمان او عقیدې ته مزید پوخوالی او ځلا ورکوي، دا د دوی د تربیت او روزنې یوه مؤثره ذریعه ده.

د کفري ځواکونو د تباهۍ او نابودۍ لار همدغه ده؛ کله به ئې موقتي بریاوي مغرور کړي او داسې څه کولو ته به ئې وهڅوي چې د کاملې تباهۍ په لوري ئې ګړندي کړي او کله به ئې ماته داسې ذلیلانه اقداماتو ته اړ کړي چې کاملې تباهۍ ته ئې ورنږدې کړي.

أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَيَعۡلَمَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٤٢﴾

[١٤٢]- آیا داسې مو انګېرلې چې جنت ته به له هغه د مخه داخل شئ چې لا الله؛ نه ستاسو مجاهدین معلوم کړي او نه ئې صابران معلوم کړي؟!!

(١٤٢)- دا هسې یوه خوشې هیله او بې بنسټه انګېرنه ده چې تاسو به یوازې د ایمان په دعوی سره جنت ته درومئ او د جنت دروازې به په خپلې مخې کې پرانیستې مومئ؛ مخکې له دې چې له آزموینو تېر شئ، په امتحانونو کې بریالي شئ او د آزموینو په ترخ کې جنت ته د ننوتو وړتیا ثابته کړئ!! دا هیله د الله له سننو سره اړخ نه لګوي، الله جنت د هغو لپاره جوړ کړی چې په آزموینو کې بریالي شي، جنت د مجاهدینو او صابرانو ځای دئ، په آزموینو کې الله تعالی دا عملاً څرګندوي چې څوک مجاهد او صابر دئ او د جنت مستحق. له دې آیت داسې معلومېږي چې له (مجاهد) او (صابر) پرته بل څوک جنت ته نه شي ننوتی؛ او له دې دا خبره معلومېږي چې د صبر لمن ډېره پراخه ده، یوازې په عملي عباداتو کې نه راخلاصه کېږي؛ بلکې عقیده هم احتواء کوي، د دې سورې په لومړۍ برخې کې تاسو ولیدل چې پر الله او د ده پر کتابونو او پیغمبرانو ایمان هم د صبر غوښتنه کوي.

وَلَقَدۡ كُنتُمۡ تَمَنَّوۡنَ ٱلۡمَوۡتَ مِن قَبۡلِ أَن تَلۡقَوۡهُ فَقَدۡ رَأَيۡتُمُوهُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ﴿١٤٣﴾

[١٤٣]- او یقیناً چې تاسو تر دې د مخه چې له مرګ سره مخامخ شئ د هغه تمنی مو کوله؛ نو دا دئ ومو لیدو په داسې حال کې چې ورته کتل مو.

(١٤٣)- دلته له مرګ نه وېرېدل او د الله په لار کې د شهادت تلوسه، د ایمان نښه ګڼل

شوې او د پیغمبر علیه السلام ټولو صحابه وو ته په خطاب کې ویل شوي چې تاسو ټولو د شهادت تمنی کوله. په دې مبارك آیت کې څو مهمې خبرې توجه غواړي:

- صحابه وو د شهادت تلوسه درلوده.
- د احد په جګړې کې ئې د دې تمنی د تر سره کېدو فرصت تر لاسه کړ.
- د دې صحنې د نظارې پر ځای باید له هغې د خپل آرمان د تر سره کېدو په اړه استفاده شوې وی.

وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ ۚ أَفَإِيْن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ ٱنقَلَبْتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَـٰبِكُمْ ۚ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ شَيْـًٔا ۗ وَسَيَجْزِى ٱللَّهُ ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾

[۱٤٤]- او محمد خو فقط یو استازی دئ چې تر ده مخکې هم ډېر استازي لېږل شوي وو؛ نو که هغه ومري یا ووژل شي؛ آیا پر خپلو پوندو به شا ګرځئ؟! او څوك چې پر خپلو پوندو په شا وګرځي؛ الله ته هیڅ تاوان نه شي رسولی او الله به ډېر ژر شاکرانو ته اجر ورکړي.

(۱٤٤)- محمد علیه السلام د نورو پیغمبرانو په څېر یو پیغمبر دئ؛ لکه چې نور راغلل او د خپل مأموریت له بشپړولو وروسته ولاړل؛ همداسې به دی هم درومي، آیا تاسو به د ده د رحلت یا شهادت په صورت کې پر خپلو پوندو په شا ګرځئ؟! هغه خو تاسو د الله بندګۍ ته رابللي یئ او الله خو تل شته؛ مګر د پیغمبر له تلو وروسته تاسو د الله له بندګۍ لاس اخلئ؟!! په دې پوه شئ چې ستاسو په شا کېدل نه الله ته کوم تاوان رسوي او نه د ده دین ته؛ یوازې خپل ځان ته به تاوان ورسوئ؛ او څوك چې د ایمان په قدر او قیمت پوهېږي او له دین د دفاع په لار کې خپل ټول توان طاقت کاروي؛ هغه شاکر بنده دئ؛ الله به ئې خپل اجر حتماً ورکړي.

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ كِتَـٰبًا مُّؤَجَّلًا ۗ وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ ٱلدُّنْيَا نُؤْتِهِۦ مِنْهَا وَمَن يُرِدْ ثَوَابَ ٱلْـَٔاخِرَةِ نُؤْتِهِۦ مِنْهَا ۚ وَسَنَجْزِى ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴿١٤٥﴾

[۱٤٥]- او هیڅ نفس ته نه ښایي چې ومري مګر د الله په اذن سره په لیکل شوې ټاکلې نېټې؛ او څوك چې د دنیا اجر غواړي له همدې ئې برخه ورکوو او څوك چې د

آخرت اجر غواړي له هغه ئې برخه ورکوو او ډېر ژر به شکر کوونکو ته غوره بدله ورکړو.

(۱٤٥)- په دې مبارك آيت کې د لاندې سترو سترو خبرو لارښوونه شوې:

- د هر چا د مړيني لپاره معينه نېټه ټاکل شوې.
- دا خاصه نېټه په خاص کتاب کې ليکل شوې. په داسې کتاب کې چې په هغه کې هيڅ تبديلی نه شي راتلی.
- مرگ په همدې ټاکل شوې او ليکلې نېټې راځي خو د الله له اذن او اجازې وروسته راځي.
- څوك چې د خپلو عملونو دنيايي بدله غواړي نو الله له هغې څه ورکړي او څوك چې د اخروي بدلې په لټه کې وي نو الله ئې له هغې ورکړي.
- د الله شاکر بندگان به ډېر ژر خپل اجر تر لاسه کړي، نه د دوی دنيايي اجر ضائع کېږي او نه اخروي.

د دې آيت له مخې شاکر بنده هغه دئ چې مرگ ژوند د الله له لوري گڼي او د خپلو عملونو د اخروي بدلې په لټه کې وي.

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَٰتَلَ مَعَهُۥ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُواْ لِمَآ أَصَابَهُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ
وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا ٱسۡتَكَانُواْۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٤٦﴾ وَمَا كَانَ قَوۡلَهُمۡ إِلَّآ أَن
قَالُواْ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسۡرَافَنَا فِيٓ أَمۡرِنَا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا عَلَى
ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٤٧﴾ فَـَٔاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا وَحُسۡنَ ثَوَابِ ٱلۡأٓخِرَةِۗ وَٱللَّهُ
يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٤٨﴾

[۱٤٦]- او ډېر پيغمبران داسې وو چې ډېر خدای پالونکي ئې په څنگ کې جنگېدلي، خو د الله په لار کې د وررسېدلو مصيبتونو له کبله نه سست شول، نه ئې د ضعف احساس وکړ او نه ئې"د دښمن په وړاندې" ذلت ومنلو او داسې صبر کوونکي په الله گران وي. [۱٤۷]- او خبره به ئې له دې پرته بل څه نه وه چې ويل به ئې: اې زموږ ربه! زموږ گناهونه او په خپلو چارو کې زموږ تېری او اسراف راته وبخښه او زموږ قدمونه استواره کړه او په دې کافر ټولگي موږ ته بری راکړه. [۱٤۸]- نو الله دنيوي بدله هم ورکړه او د آخرت غوره بدله هم؛ او الله داسې محسنين خوښوي.

(١٤٦-١٤٨)- په دغو مبارکو آيتونو کې څو اساسي لارښووني ګورو:

- له محمد عليه السلام مخکې ډېر پيغمبران راغلي او تللي، د هر يوه په څنګ کې ډېر خدای پالونکي راغونډ شوي او د الله په لار کې جنګېدلي.
- د دغو پيغمبرانو خدای منونکي ملګري داسي وو چي د الله په لار کې له مصيبتونو سره د مخامخ کېدو له کبله نه سست شوي، نه ئې د ضعف او ناتوانۍ احساس کړی او نه د دښمن په وړاندي ذلت او سپکاوي ته تسليم شوي. مبادا تاسو د الله په لار کې له مصيبتونو سره د مخامخ کېدو له امله سست شئ، شور شوق او جذبه مو له لاسه ورکړئ، د دښمن قوت تاسو ووېروي او د هغه په وړاندي د ضعف او ناتوانۍ احساس وکړئ، د دښمن شرائطو ته تسليم شئ او د هغه لويي ومنئ.
- دوی له ماتو وروسته هم نه دي مأيوس شوي، ماتي او هزيمتونه ئې د خپلو اشتباهاتو او اسراف نتيجه ګڼلې، له الله ئې د خپلو ګناهونو او تېريو معافي غوښتې، سنګر ئې نه دئ پرېښی او له مبارزې ئې لاس نه دئ اخيستی، تل ئې خپل الله ته د دښمن په ضد په خپلې مبارزې کې د بريا دعاء کړې. بايد متوجه وئ چي د ايمان تقاضی همدا ده.
- دوی هم دنيوي برياوي تر لاسه کړې او هم ئې د آخرت فلاح او سعادت په برخه شوی.
- دا محسنين دي، د احسان لار همدا ده، دوی د خپلو همدې غوره صفاتو په وجه د الله د دوستۍ مستحق شوي، داسي محسنان په الله ګران وي.
- له دې مخکې هم ډېر پيغمبران تېر شوي او د دوی په څنګ کې ډېر خدای پالونکي جنګېدلي، د پيغمبرانو او د خدای پالونکو لار همدا ده؛ له حق د دفاع لپاره د کفر، شر، فساد او ظلم په خلاف جنګېدل.
- نورو خدای پالونکو ته هم د الله په لار کې مصيبتونه وررسېدلي، خو د دغو مصيبتونو له کبله نه سست شوي، نه ئې کمزوري ښودلې، نه ئې د دښمن په وړاندي د ذلت سر ټيټ کړی او نه ئې بې صبري کړې. د وهن معنی سستي ده خو دلته ترې مراد هغه حالت دئ چي د مصيبتونو او ماتي په وخت کې څوك ورسره مخامخ کېږي، مخکينی شور او شوق ئې ختم شي، جذبات ئې ساړه او ناهيلی شي. له ضعف هغه حالت مراد دئ چي انسان د کمزورۍ او ناتوانۍ احساس وکړي او تر دښمن ځان ضعيف وګڼي؛ او له استکانت؛ ذلت منل او د دښمن شرائطو ته غاړه ايښودل مراد دئ. څوك چي له دغو دريو کمزوريو ځان وساتي هغه صابر دئ او پر الله ګران. الله دغسي صابران خوښوي.
- دغو خدای پالونکو نه يوازي صبر کړی بلکي ويل به ئې: اې زموږ ربه! زموږ ګناهونه او

په خپلو چارو کې زموږ تېرى او اسراف راته وبخښې، دا ماتې او مصيبتونه زموږ د ګناهونو او تېري او اسراف نتيجه ده او زموږ قدمونه استواره کړې او په دې کافر ټولګي موږ ته برى راکړې، دوى د ماتې له کبله له مقاومت لاس نه دئ اخيستى، سنګر ئې نه دئ پرېښى، د فتح او بريا طمع ئې نه ده ختمه شوې، ثابت قدمه او د حق بريا ته منتظر پاته شوي.

- دوى ته الله هم خپله دنيوي بدله ورکړې او هم د آخرت غوره بدله، په دنيا کې ئې فتح په برخه شوې او په آخرت کې د الله رضاء او جنت.

لکه چې ګورئ دلته هم پر دښمنانو د بريا تلوسه او الله تعالى ته دا دعاء کول چې پر کافرانو غلبه راپه برخه کړې؛ د مؤمنانو او د پيغمبرانو عليهم السلام د مجاهدو ملګرو وروستۍ تلوسه او دعاء ښودل شوې؛ او دا ښيي چې مؤمن به داسي وي او دعاء ئې دې ته ورته، د چا په دعاء کې چې دا برخه شامله نه وي؛ بايد په خپل ايمان او تګلارې کې تجديد نظر وکړي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَرُدُّوكُمۡ عَلَىٰٓ أَعۡقَٰبِكُمۡ فَتَنقَلِبُواْ خَٰسِرِينَ ﴿١٤٩﴾

[۱٤۹]- اې مؤمنانو! که د هغو اطاعت وکړئ چې کافران شوي؛ نو پر خپلو پوندو به مو بېرته وګرځوي؛ نو زيانمن به وګرځئ.

(۱٤۹)- که د کافرانو خبري مو ومنلې او د دوى لار او کار مو خپل کړ، د دوى په څېر به شئ، که د دوى د تبليغاتو تر اغېز لاندي راغلئ، د الله له مرستي ناهيلي شوئ او جهاد مو پرېښود؛ نو سخت تاوان به مو کړى وي.

بَلِ ٱللَّهُ مَوۡلَىٰكُمۡۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلنَّٰصِرِينَ ﴿١٥٠﴾

[۱۵۰]- داسي نه ده بلکې الله ستاسو مل دئ او هغه تر ټولو غوره مرستندوى دئ.

(۱۵۰)- د الله له مرستي مه ناهيلي کېږئ، د بل د مرستي طمع مه کوئ، مبادا ماتې د دې باعث شي چې له الله پرته بل ته او مخصوصاً د الله کوم دښمن ته د مرستي لاس اوږد کړئ!! الله تر ټولو غوره مرستندوى دئ.

سَنُلۡقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعۡبَ بِمَآ أَشۡرَكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ

سُلۡطَٰنٗاۖ وَمَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ وَبِئۡسَ مَثۡوَى ٱلظَّٰلِمِينَ ۝١٥١

[۱۵۱]- حتماً به د کافر شوو په زړونو کې وېره واچوو؛ له دې امله چې له الله سره ئې داسي څه شريك کړي چې کوم دليل ئې پرې نه دئ نازل کړی او هستوګنځی به ئې اور وي؛ او څومره بد دئ د ظالمانو د تېرکي ځای.

(۱۵۱)- ستاسو د بريا لپاره خو يوازي دا هم کافي ده چې الله د کافرانو په زړونو کې وېره واچوي، په نښتو کې خو بريا د هغه چا په برخه کېږي چې مضبوط او ډاډه زړه لري او حتمي ماته د هغه چا په برخه وي چې وېره ئې پر زړه مسلطه شي. الله به ستاسو د دښمن په زړه کې وېره واچوي، د دې وېرې اصلي وجه به د دوی شرك وي، هغه شرك چې هيڅ دليل ورته نه لري، د الله تعالی په هيڅ کتاب کې د هغه لپاره کوم دليل نه شي موندلی.

وَلَقَدۡ صَدَقَكُمُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥٓ إِذۡ تَحُسُّونَهُم بِإِذۡنِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلۡتُمۡ وَتَنَٰزَعۡتُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ وَعَصَيۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنۡيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۚ ثُمَّ صَرَفَكُمۡ عَنۡهُمۡ لِيَبۡتَلِيَكُمۡۖ وَلَقَدۡ عَفَا عَنكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ۝١٥٢

[۱۵۲]- او يقيناً چې الله خپله وعده درسره رښتينې کړه، هغه وخت چې د الله په حکم مو دوی نيول او وژل، تر هغه چې بې زړه شوئ او په هغه کار کې مو په خپلو کې نزاع وکړه؛ او له هغه وروسته مو نافرماني وکړه چې تاسو ته ئې ستاسو محبوب شيان دروښودل؛ ستاسو ځينو دنيا غوښته او ځينو مو آخرت غوښتو، بيا ئې له دوی راوګرځولئ چې ومو آزمويي؛ او يقيناً چې تاسو ته ئې عفو وکړه او الله خو پر مؤمنانو د فضل څښتن دئ.

(۱۵۲)- الله تعالی له تاسو سره خپله وعده تر سره کړه، تاسو ته ئې بری درکړ، دښمن مو پسي اخيستی وو، يو په بل پسي مو نيول او وژل، دا لړۍ تر هغه روانه وه چې تاسو بې زړه توب وښود، په خپلو کې مو اختلاف وکړ، له هغه وروسته چې غنائم مو تر سترګو شول نو د پيغمبر هدايات او اوامر مو له پامه وغورځول او بالآخره د هغو په څنګ کې چې آخرت لټوي داسي کسان هم راپيدا شول چې د غنيمت په لټه کې وو، نو خود به ستاسو

فتح په ماتې بدلېده او الله تعالی به خپله مرسته متوقف کوله او د دښمن له تعقیب به پاته کېدئ، خو دا هم د الله یوه آزموینه وه، الله دا غلطي معاف کړه، که دا الهي عفوه ستاسو په حال نه وی شامله شوې معلومه نه ده چې له کوم بد عاقبت سره به مخامخ شوي وئ، الله پر مؤمنانو د فضل خاوند دئ.

إِذْ تُصْعِدُونَ وَلَا تَلْوُونَ عَلَىٰٓ أَحَدٍ وَٱلرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ فِىٓ أُخْرَىٰكُمْ فَأَثَٰبَكُمْ غَمًّۢا بِغَمٍّ لِّكَيْلَا تَحْزَنُوا۟ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَآ أَصَٰبَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٥٣﴾

[۱۵۳]- کله چې بر ختلئ او هیچا ته مو تر شا نه کتل، په داسې حال کې چې پیغمبر له تاسو شا ته (پاته) وو او تاسو ئې وربللئ؛ نو د پر له پسې غمونو سزا ئې درکړه، د دې لپاره چې نه پر هغه څه غمجن شئ چې له لاسه مو وتلي او نه پر هغه څه چې دررسېدلي او الله پر هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

(۱۵۳)- د جنگ میدان مو پرېښود، غره ته ختلئ، پیغمبر علیه السلام مو تر شا پرېښی وو، هغه د ځان خوا ته وربللئ خو تاسو هیچا ته مخ نه وراړوو او الله تاسو ته دا د پرله پسې غمونو سزا درکړه، غنائم درنه پاته شول، تلفات مو ورکړل، ډېر مو شهیدان شول او ډېر نور زخمیان؛ او فتح مو په هزیمت بدله شوه.

د آیت د وروستۍ برخې په اړه ډېر تعبیرونه او توجیهات شوي؛ خو تر ټولو دقیقه او غوره ئې دا ده: تاسو ته ویل شوي وو چې په هیڅ حالت کې به نه غمجن کېږئ، د الله په لار کې هره قرباني باید په ورین تندی ومنئ، د دې لارې مړي به مړه نه گڼئ، هغوی ژوندي دي، ستاسو هر څه د الله دي، د الله په لار کې ئې قرباني کول داسې دي لکه چې الله ته مو خپل امانت بېرته سپارلی وي، الله تعالی دا غمونه د دې لپاره راوستل چې معلومه کړي په رښتیا تاسو همداسې یاست؛ د الله په لار کې نه پر تلفاتو غمجن کېږئ او نه پر مصیبتونو. که داسې حالت رانشي څنگه به معلومېږي چې څوك صابر دئ، غمونه په سړه سینه زغملی شي او کړاوونه په ورین تندي گاللی شي. په دې دردوونکي حالت کې خو ستاسو د ایمان تقاضی دا وه چې ویر ونکړئ او غمجن نه شئ.

ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّنۢ بَعْدِ ٱلْغَمِّ أَمَنَةً نُّعَاسًا يَغْشَىٰ طَآئِفَةً مِّنكُمْ ۖ وَطَآئِفَةٌ

قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنفُسُهُمْ يَظُنُّونَ بِٱللَّهِ غَيْرَ ٱلْحَقِّ ظَنَّ ٱلْجَٰهِلِيَّةِ ۖ يَقُولُونَ هَل لَّنَا مِنَ ٱلْأَمْرِ مِن شَىْءٍ ۗ قُلْ إِنَّ ٱلْأَمْرَ كُلَّهُۥ لِلَّهِ ۗ يُخْفُونَ فِىٓ أَنفُسِهِم مَّا لَا يُبْدُونَ لَكَ ۖ يَقُولُونَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ ٱلْأَمْرِ شَىْءٌ مَّا قُتِلْنَا هَٰهُنَا ۗ قُل لَّوْ كُنتُمْ فِى بُيُوتِكُمْ لَبَرَزَ ٱلَّذِينَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقَتْلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمْ ۖ وَلِيَبْتَلِىَ ٱللَّهُ مَا فِى صُدُورِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِى قُلُوبِكُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿١٥٤﴾

[١٥٤]- بيا ئې له دې غمونو وروسته پر تاسو د پرکالۍ په بڼه کې هغه ډاډېينه نازله کړه چې ستاسو پر يوې ډلې به غوړېدله او بله ډله بيا داسې وه چې خپلو ځانونو په اندېښنه کې غورځولې وو، د الله په اړه ئې د جاهليت د دور ناروا گمانونه کول، ويل ئې: د دې کار څه زموږ په برخه دي؟ ورته ووايه: کار خو ټول د الله (په واك کې) دئ، دوی په خپلو زړونو کې هغه څه پټوي چې تا ته ئې نه څرگندوي، وايي: که د دې کار څه زموږ په برخه وی نو دلته به نه وژل کېدو؛ ورته ووايه: که په خپلو کورونو کې هم وئ نو هغه به هرومرو د خپلې مړينې ځای ته راوتلي وو چې وژنه ئې مقرره شوې وه؛ او چې ستاسو د سينو خبرې وآزمويي او ستاسو د زړونو شته عيار کړي؛ او الله د زړونو پر شته وو ښه پوه دئ.

(١٥٤)- په دې مبارك آيت کې څو مهمې لارښوونې زموږ مخې ته ايښودل شوې:

• د جگړې په هغه سخت او له اضطراب ډك حالت کې د ځينو مجاهدينو وضعيت داسې وو چې په وار وار پرکالې پرې راتله، د خوب دا حالت په هغه چا راځي چې هيڅ وېره ئې نه وي، ممکنه نه ده چې د وېرې په حالت کې پر انسان خوب راشي، پر دوی د پرکالۍ راتگ ښيي چې دوی هيڅ وېره نه درلوده، زړونه ئې ډاډه وو او الله تعالی خپله سکينه او ډاډېينه پرې نازله کړې وه.

• د دوی په مقابل کې بله ډله داسې وه چې له ځان پرته د بل هيڅ څه په فکر کې نه وو، ټول هم او غم ئې دا وو چې څنگه ځان وژغورې، نه ئې د دې پروا کوله چې پر پيغمبر عليه السلام او نورو مسلمانانو به څه راځي او نه د دې چې د اسلام او د مدينې راتلونکې به څنگه وي، د الله تعالی په اړه ئې عقيده بدله شوې وه او داسې گمانونه ئې په ذهن او زړه کې گرځېدل چې د جاهليت د دور باورونو او گمانونو ته ورته وو، له الله ناهيلې شوي وو او د الهي نصرت وعدو ته ئې د شك په سترگه کتل.

• ځینو به ویل: له دې جګړو به څه تر لاسه کړو، که څه ګټه په کې وی نو دلته به نه وژل کېدو، ځینو نورو به ئې ویل: که د دې جګړې قیادت او قومنده زمونږ په لاس کې وی او زمونږ مشورو ته اعتناء شوې وی نو له دې حالت سره به نه مخامخ کېدو، قومنده سمه نه وه، د جنګ پلان صحیح نه وو، لازم ترتیبات نه وو نیول شوي؛ د ماتې او تلفاتو مسئولیت د هغه چا پر غاړه دئ چې دا جګړه ئې اداره کوله.

• دوی ته تر ټولو غوره ځواب دا دئ: کاروونه ټول د الله په واك کې دي، هر څه د ده په اراده تر سره کېږي، د کارونو پایله او نتیجه د ده له لورې ټاکل کېږي.

• دوی په خوله یو څه وایي خو په زړه کې ئې بل څه دي، د زړونو پټه خبره ئې دا ده چې وایي: که د جنګ قومنده زمونږ په لاس کې وی نو له دومره مرګ ژوبلې سره به نه مخامخ کېدو.

• دوی په اصل کې په دې باور نه لري چې مرګ په خپل وخت راځي، نه ئې ځای بدلېږي او نه ئې وخت. دوی ته ووایه: که ستاسو رأیه منل شوې وی، جنګ ته نه وی راوتلي، بیا به هم هغه کسان په خپلو پښو هغه ځای ته تلل چې د دوی د وژل کېدو لپاره له مخکې ټاکل شوی وو؛ داسې خو نه ده چې په بې غیرتۍ سره خلك له مرګ ژغورل کېږي، د جګړو له میدان بهر هم خلك مري، بې غیرتان هم مري، هغه بې همته قومونه چې د دښمن له مقابلې ئې ډډه کړې او دښمن ته تسلیم شوي او دښمن له کوم خنډ او مقاومت پرته د دوی پر کور کلي مسلط شوی، د دوی مړي په هیڅ صورت کې تر هغو کم نه وو چې په مېړانه ئې د دښمن مقابله کړې ده.

• دا آزموینه د دې لپاره وه چې له یوې خوا د منافقینو د سینو اسرار رابرسېره کړي او له بلې خوا د مؤمنانو د زړه اخلاص او صداقت لا پسې مضبوط او پیاوړی کړي او د دوی پوخ ایمان ته مزید پوخوالی او ځلا ورکړي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَلَّوۡاْ مِنكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِ إِنَّمَا ٱسۡتَزَلَّهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ بِبَعۡضِ مَا كَسَبُواْۖ وَلَقَدۡ عَفَا ٱللَّهُ عَنۡهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٞ ﴿١٥٥﴾

[۱۵۵]- یقیناً ستاسو کوم کسان چې د دوو فوځونو د مخامخ کېدو په ورځ تر شا شول په حقیقت کې شیطان د خپلو ځینو لاسته راوړنو له امله وښویول، بې شکه چې الله ورته عفو وکړه؛ یقیناً چې الله حلیم بخښونکی دئ.

(۱۵۵)- هغه چې د جګړې په ورځ ئې کمزورې او بې همتي وښوده او له میدان په شا

شول، د دوي د بې همتۍ اصلي وجه هغه عملونه وو چې له دې مخکې ئې کړي وو، د دغو عملونو له کبله شیطان ته دا امکان او فرصت په لاس ورغلی وو چې د دوی زړه ته لار پیدا کړي او ګامونه ئې وښویوي. له دې معلومېږي چې ګناه انسان بې همته کوي، د انسان غیرت او شهامت له منځه وړي او شیطان ته دا موقع په لاس ورکوي چې په حساسو شېبو کې ئې وېره په زړه کې راپیدا کړي او پښې ئې وښویوي. الله تعالی دغو کسانو ته عفو وکړه، دا ځکه چې هغه حلیم او بخښونکی دئ؛ که د ده حلم او غفران نه وی نو دوی به ئې په دې ګناه سخت نیولي وو.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَقَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ إِذَا ضَرَبُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَوۡ كَانُواْ غُزّٗى لَّوۡ كَانُواْ عِندَنَا مَا مَاتُواْ وَمَا قُتِلُواْ لِيَجۡعَلَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ حَسۡرَةٗ فِي قُلُوبِهِمۡۗ وَٱللَّهُ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ١٥٦

[١٥٦]- اې مؤمنانو! د هغو په څېر مه کېږئ چې کافران شول او د خپلو وروڼو په اړه ئې چې په سفر تللي وو او یا ئې غزا کوله (او هلته یا مړه یا وژل شوي وو) وویل: که زموږ په خوا کې وی، نه به مړه شوي وو او نه به وژل شوي وو!! د دې لپاره چې الله دا خبره د دوی په زړونو کې د حسرت باعث وګرځوي، حال دا چې د ژوند مرګ پرېکړه الله کوي او الله د هغه څه ښه لیدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ.

(١٥٦)- د دې آیت اساسي مطالب دا دي:

- مسلمانان د مرګ او ژوند په اړه له کافرانه تصوره منع شوي.
- که چا مړینه او وژنه؛ سفر یا غزا ته منسوب کړه او د وژل شوي او مړ شوي خپلوان په اړه ئې وویل: که زموږ په څنګ کې وی، په غزا کې ئې برخه نه وی اخیستې او په سفر نه وی تللی له مړیني او وژني به خوندي پاته شوی وو؛ د ده دا تصور او اعتقاد کافرانه دئ.
- د ژوند مرګ پرېکړه یوازې الله تعالی کوي.
- دا کافرانه تصور له دې پرته بل څه نه دئ چې په زړونو کې د حسرت باعث شي، په دې حسرت سره الله جل شأنه کافران تعذیبوي.
- د انسان کومې کړنې چې له همدې کافرانه اعتقاده خړوبېږي؛ که هغه له مرګ وېره وي، په جهاد کې برخه نه اخیستل وي او سنګر ته د خپلوانو له لېږلو ډډه کول وي؛ الله پر ټولو خبر دئ او ستاسو د ټولو عملونو شاهد او ناظر دئ.

وَلَئِن قُتِلْتُمْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴿١٥٧﴾ وَلَئِن مُّتُّمْ أَوْ قُتِلْتُمْ لَإِلَى ٱللَّهِ تُحْشَرُونَ ﴿١٥٨﴾

[۱۵۷]- او که د الله په لار کې ووژل شئ یا ومرئ نو د الله بخښنه او پېرزوینه تر هغه څه چې نور ئې غونډوي ډېره غوره ده. [۱۵۸]- او که ومرئ یا ووژل شئ نو هرو مرو به د الله په لوري راغونډ کړی شئ.

(۱۵۷-۱۵۸)- ولې له مرگ وېرېږئ، د الله په لار کې د شهادت په نتیجه کې خو الله ستاسو گناهونه درته بخښي او په خپل بې انتهاء رحمت او پېرزویني سره مو نازوي؛ دا خو تر هغه څه ډېر ډېر غوره دئ چې له شهادته محروم شوي کسان ئې په پاته ژوند کې تر لاسه کوي، هغوی به په تاسو پسې درځي، فرق به ئې د څو میاشتو یا کلونو وي او بیا دا مرگ خو د ژوند پای نه دئ، دا خو د بل ژوندون پیل دئ، په دې سره خو تاسو د خپل رب په لوري درومئ، له هغه څه به یو مسلمان څنگه ډډه کوي چې خپل محبوب رب ته ئې رسوي؟

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلْقَلْبِ لَٱنفَضُّوا۟ مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَٱعْفُ عَنْهُمْ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي ٱلْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَوَكِّلِينَ ﴿١٥٩﴾

[۱۵۹]- نو د خپل رب د رحمت په وجه ورته نرم شوې او که ته بدخولی او سخت زړی وی؛ نو ستا له شا او خوا به خواره شوي وو، نو دوی ته عفو وکړه، بخښنه ورته وغواړه او په کارونو کې مشوره ورسره کوه، او چې عزم دې وکړ بیا خو په الله توکل کوه، یقیناً چې الله توکل کوونکي خوښوي.

(۱۵۹)- د قائد له لوري له خپلو ملگرو سره نرمي کول د الله پېرزوینه ده، ته د دغي الهي پېرزویني په سبب په خپل امت زړه سواندی او مهربان یې، د بدخولو او سخت زړو مشرانو په څېر نه یې؛ د داسي مشرانو په څنگ کې یوازي ذلیل انسانان راغونډېږي، که په تا کې دا نیمگړتیاوي وی نو دا ستا په شا او خوا کې راغونډ شوي مسلمانان به ټول له تا خواره شوي وو، داسي نه چې د دوی اشتباهات د دې باعث شي چې د نرمي پر ځای سختي وکړې، د خوږو خبرو پر ځای ئې په ترخو او توندو خبرو استقبال کړې او د لطف او

مهربانۍ پر ځای ئې په خپلو غلطیو سخت ونیسې، د دوی پر غلطیو سترګې پټې کړه او له الله ورته مغفرت وغواړه. مبادا د دوی اشتباهاتو ته په پام سره دا فیصله وکړې چې له دې وروسته به له دوی سره مشوره نه کوم؛ نه په کارونو کې مشوره ستا واجب او د دوی حق دئ، ته مکلف یې چې له دوی سره به مشوره کوې، حتی له هغو سره هم چې مشورې ئې کمزورې دي او د مخکینیو کمزورو مشورو په سبب ئې څه ستونزې هم راولاړې کړې دي. د مشورې په نتیجه کې چې کومه پرېکړه په لاس درغله؛ د پلي کولو لپاره ئې ملا وتړه او پر الله توکل وکړه؛ داسې متوکلین د الله خوښ وي.

که په دې آیت کې لږ غور وکړئ نو د اسلام له نظره به د شورى په څرنګوالي او اهمیت ښه پوه شئ؛ په دې مبارك آیت کې څو اساسي ټکي زموږ مخې ته راځي:

- پیغمبر علیه السلام ته امر شوی چې مشوره به کوې؛ که الله تعالی خپل پیغمبر په مشوره مکلف کوي او دا د ده واجب ګڼي؛ نو د عادي مشر په اړه به د دې حکم تقاضی څه وي؛ هغه چا ته چې الله ورته وحي کوي او د ټولې نړۍ لپاره ئې لارښود لېږلی، امت پرې ایمان لري او د ده په اطاعت مکلف شوی؛ که ده ته د مشورې کولو امر کوي؛ نو بل څوك به څه حیثیت لري چې له مشورې ځان مستثنی کړي.
- دا د مشورې حکم د هغو کسانو په اړه راغلی چې ځیني اشتباهات ترې شوي؛ د دوی له اشتباهاتو سره سره الله تعالی پیغمبر ته امر کوي چې له همدغو سره به هم مشوره کوې.
- پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې تصمیم به له مشورې وروسته نیسې؛ داسې نه چې مخکې له مشورې کومه فیصله له ځان سره وکړې او بیا نور هسې د خوشحالولو لپاره راوغواړې او د خپلې رأیې په ګټه ترې تأیید تر لاسه کړې.
- له مشورې چې کومه فیصله راوځي؛ که څه هم ستا د رأیې خلاف وي او ته په هغې کې مصلحت نه ګورې؛ له څه تزلزل او وېرې پرته ئې د عملي کولو لپاره ملا وتړه او پر الله توکل وکړه.
- د الله محبوب متوکل هغه دئ چې مشوره کوي؛ له مشورې راوتلې فیصلې د عملي کولو لپاره ملا تړي او پر خپل رب توکل کوي.

متأسفانه ځیني د مشورې داسې تفسیر او تعبیر وړاندې کوي چې د دیکتاتورانو او مستبدو واکمنانو ډېر خوښېږي، هغوی وایي چې د عزم په صیغه کې خطاب مفرد ته متوجه دئ او له دې معلومېږي چې د پرېکړې واك زعیم ته ورکړی شوی!! حال دا چې دا ډېر غلط او کمزوری تعبیر دئ؛ دوی دې ته پام نه کوي چې عزم له شورى وروسته ذکر

شوی او د دې خبري معنی دا ده چې عزم او پرېکړه به د مشورې نتیجه وي؛ شوری به د فیصلو مرجع وي او د مشر تصمیم به هم د شوری له منځه راوتلی وي. په دې آیت کې شوری له عزم مخکې ذکر شوې او د البقرې په سوره کې مزید وضاحت شوی او د مشورې یو بل ضروري اړخ او شرط په ګوته شوی او ویل شوي: وروستۍ فیصله به د طرفینو په (مشوره) او (رضایت) وي، په کومې مشورې کې چې د طرفینو رضایت شرط نه وي؛ یو لوری یوازې خپله رأیه څرګندوي او د وروستي تصمیم په نیولو کې څه حق نه لري او بل لوری یوازې د بل رأیه اوري او فیصله په خپل سر کوي، د مشاور له رضایت پرته؛ دا د استبدادي نظامونو شوری ده نه اسلامي شوری، دا مبارك آیت دغه غلط تعبیر له بنسټه ردوي. اسلام له تې د ماشوم د بېلولو په اړه ښځې او مېړه ته وايي: په خپلو کې د (مشورې او رضایت) په نتیجه کې چې د خپل ماشوم د بېلولو په اړه کومه فیصله وکړئ نو څه الزام درباندې نشته او له مشورې پرته یا د یوه طرف د عدم رضایت په صورت کې هره پرېکړه د ګناه پرېکړه ده. هلته ویل شوي: که مور پلار وغواړي چې د کوم ضرورت یا مصلحت له مخې ماشوم ته د تې ورکولو موده رالنډه کړي نو په دوه شرطونو دا کار کولی شي: دواړه به پرې راضي وي او په خپلو کې به ئې مشوره کړې وي. مشوره او د دواړو رضایت او موافقه ئې شرط کړې. (... فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَن تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا...)؛ له دې آیت د اسلام له نظره د مشورې حقیقت څرګندیږي، له مشورې به هغه پرېکړه راوځي چې دواړه خواوې پرې راضي او متفق وي، مشوره دا نه ده چې یو لوری به له بله فقط نظر او رأیه غواړي او ورستۍ پرېکړه به دی په خپله کوي، مشوره د بل د رأيي معلوملو لپاره نه وي، داسې مشوره هیڅ ارزښت نه لري چې یو کس دې د نورو رأیه واوري خو پرېکړه دې په خپله او د نورو له موافقې او رضایت پرته وکړي، مشوره دې ته ویل کېږي چې د تفاهم او بحث په نتیجه کې د طرفینو د خوښې هغه پرېکړه ترې راووځي چې دواړه پرې راضي او متفق وي. چې پلار خپل اولاد ته د تې ورکولو په اړه په دې مکلف وي چې له خپلې مېرمنې سره به مشوره کوي، په خپل سر به فیصله نه کوي، هره پرېکړه به د دواړو په مشوره او رضایت وي، نو امیر څنګه دا حق لري چې د عام ولس د شتمنیو او په دوی پورې اړوند قضایاوو کې په خپل سر او د نورو له مشورې او رضایت پرته فیصله وکړي؟ په ټولنې کې د ده حیثیت او مقام په هیڅ صورت کې هومره نه دئ لکه د پلار او مېړه حیثیت او مقام په خپلې کورنۍ کې، اسلام خو ده ته د (قیم) پر ځای د (خلیفه او امین) نوم ورکړی، دی خو د عام ولس د امانتونو امین دئ، په هیڅ امانت کې په خپله خوښه د تصرف کولو حق نه دئ ورکړی شوی.

إِن يَنصُرۡكُمُ ٱللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمۡۖ وَإِن يَخۡذُلۡكُمۡ فَمَن ذَا ٱلَّذِي يَنصُرُكُم مِّنۢ بَعۡدِهِۦۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿١٦٠﴾

[١٦٠]- كه الله مو مرسته وكړي نو هيڅ غالبېدونكى (حريف څوك) نه لرئ او كه مو يوازي پرېږدي، نو هغه به څوك وي چي له ده وروسته مو مرسته وكړى شي؟ او مؤمنان خو بايد پر الله توكل وكړي.

(١٦٠)- كه په تاسو كي دا اهليت او وړتيا وي چي د الله د مرستي مستحق وئ او الله تعالى ستاسو مرسته وكړي نو د زمكي پر سر داسي څوك نشته چي پر تاسو غالب شي او كه دا اهليت او وړتيا له لاسه وركړئ او د الله له مرستي او ملاتړ محروم شئ؛ بيا داسي څوك نه شئ موندلى چي ستاسو مرسته وكولى شي. د ايمان تقاضى دا ده چي الله به ځان ته كافي گڼئ، پر هغه به توكل كوئ او له هغه څه به ځان ساتئ چي د ده له مرستي مو محروموي.

وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَغُلَّۚ وَمَن يَغۡلُلۡ يَأۡتِ بِمَا غَلَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿١٦١﴾

[١٦١]- او هيڅ پيغمبر ته نه ښايي چي (په غنيمت كي) خيانت وكړي او څوك چي خيانت وكړي نو دا خيانت شوى شيء به د قيامت په ورځ (له ځان سره) راوړي، بيا به هر چا ته خپله لاسته راوړنه پوره وركړى شي او ظلم به پرې نه كېږي.

(١٦١)- په كار خو دا وه چي تاسو په خپل پيغمبر پوره باور درلودى او دا انديښنه او وېره درسره نه وى چي كه په خپله او په تلوار سره د غنائمو په راټولولو كي برخه وانخلئ نو له خپلي برخي به محروم شئ او په وېش كي به ئې څه خيانت وشي؛ ستاسو دغي وېري د غنائمو راټولو ته وهڅولئ، هم مو سنگرونه پرېښودل او هم د ماتي خوړلي دښمن تعقيب. الله تعالى چي څوك د پيغمبرى لپاره غوره كوي د هغه له شأن دا ډېره ډېره لري وگڼئ چي په خيانت به راضي شي. خو كه بل چا خيانت وكړ نو د هغه لپاره هم د قيامت د ورځي حساب او كتاب شته، د قيامت په ورځ به دا د خيانت پېټى پر خپلو اوږو بار راحاضر كړي او د الله په وړاندي او ټولو خلكو مخي ته به ودرېږي او حساب به ئې وركوي، هم به ده ته د خپل خيانت سزا وركړى شي او هم به تاسو د خپلي برخي بدله تر لاسه كړئ؛ پر هيچا به ظلم نه كېږي.

أَفَمَنِ ٱتَّبَعَ رِضۡوَٰنَ ٱللَّهِ كَمَنۢ بَآءَ بِسَخَطٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأۡوَىٰهُ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ﴿١٦٢﴾ هُمۡ دَرَجَٰتٌ عِندَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ﴿١٦٣﴾

[۱٦٢]- آیا هغه څوك چې د الله په رضاء پسې شوی؛ د هغه چا په څېر کېدی شي چې د الله په قهر او غضب اخته شوی او ځای ئې دوزخ دئ؛ او د ورګرځېدو څومره بد ځای؟! [۱٦٣]- دوی د الله په نزد درجې درجې دي او الله دهغه څه لیدونکی دئ چې دوی ئې کوي.

(۱٦٢-۱٦٣)- په غنیمتونو کې خیانت هغه څوك کوي چې د الهي غضب وړ او د دوزخ مستحق وي، دا کار د هغه چا له شأن لري دئ چې د الله د رضاء په لټه کې وي، دا دواړه د الله تعالی په نزد کې ځانته ځانته درجې لري او الله تعالی په خپله د دوی د کړنو ښه شاهد دئ، دغه مخلص مجاهدین چې دا دئ ګورئ د الله د رضاء لپاره ستونزې ګالي او قرباني ورکوي، دوی به څنګه غلول او خیانت کوي، ولې د دوی په اړه بدګمانه وئ او د دغي بد ګمانۍ له امله مو په خپل لاس د غنیمتونو د راغونډولو هڅه وکړه او د هغي ماتي باعث شوئ؟!

لَقَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ بَعَثَ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡ أَنفُسِهِمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلُ لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴿١٦٤﴾

[۱٦٤]- یقیناً چې الله پر مؤمنانو احسان وکړ چې په دوی کې ئې د دوی له منځ داسي پیغمبر مبعوث کړ چې پر دوی باندي ئې آیتونه لولي، د دوی روزنه کوي او کتاب او حکمت ورښیي؛ په داسي حال کې چې له دې د مخه په څرګندي تېروتني کې وو.

(۱٦٤)- پیغمبر خو هغه څوك دئ چې تاسو د ده په لاس له ضلالت او بې لاریتوب وژغورل شوئ، د ده بعثت خو پر تاسو د الله تعالی یوه ستره پیرزوینه وه، ده درته حلال او حرام وښودل، ستاسو روزنه ئې وکړه، کتاب او حکمت ئې دروښود؛ په غنائمو کې غلول خو د ده لخوا خیانت وګڼل شو، تر دې د مخه خو غنیمت یا د زورورو قومندانانو حق ګڼل کېدو او یا د هغه چا چې په لاس کې ئې پرېوتی وو؛ کمزوري تل ترې محروم وو؛ ده

درته وويل چې غنائم به د جنګ په پای کې راغونډېږي او په ټولو مجاهدينو به مساويانه وېشل کېږي، ولې مو د پيغمبر عليه السلام په اړه غلط تشويشونه کول؟!

أَوَلَمَّآ أَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةٞ قَدۡ أَصَبۡتُم مِّثۡلَيۡهَا قُلۡتُمۡ أَنَّىٰ هَٰذَاۖ قُلۡ هُوَ مِنۡ عِندِ أَنفُسِكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿١٦٥﴾

[۱٦۵]- آيا کله چې داسي مصيبت درورسېدو چې د دې دوه برابره مو (دښمن ته) رسولی وو؛ نو ويل مو: دا له کومه؟! ورته ووايه: دا په خپله ستاسو لخوا دئ؛ يقيناً چې الله په هر څه ښه قادر دئ.

(۱٦۵)- کله چې د احد په غزاء کې تاسو تلفات وليدل؛ په داسي حال کې چې له دې د مخه مو د بدر په جګړې کې دښمن ته د دې تلفاتو دوه برابره رسولي وو، ويل مو: دا له کومه؟ ولې له تلفاتو سره مخامخ شوو؟! الله خو د خپل دين او د مؤمنانو د برلاسي وينا او وعده کړې وه؛ ولې د دې وينا او وعدې خلاف حالت سره مخامخ شوو؟!! دوی ته ووايه: د الله وينا حق ده او وعده ئې رښتينې او په هر کار قادر، د ماتې امل دا نه وو چې ستاسو شمېر کم وو او الله په دې قادر نه وو چې دا معدود شمېر مؤمنان پرکافرانو غالب کړي؛ داسي نه ده؛ د ماتې اسباب تاسو په خپله برابر کړل، تاسو هغه شرائط مهيا نه کړل چې د برې لپاره لازم دي او د الله وعده پرې مشروطه ده؛ د الله تعالی وعدې خپل شرطونه لري، هلته به تحقق مومي چې شرائط ئې تأمين شي.

وَمَآ أَصَٰبَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِ فَبِإِذۡنِ ٱللَّهِ وَلِيَعۡلَمَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٦٦﴾ وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ نَافَقُواْۚ وَقِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ قَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوِ ٱدۡفَعُواْۖ قَالُواْ لَوۡ نَعۡلَمُ قِتَالٗا لَّٱتَّبَعۡنَٰكُمۡۗ هُمۡ لِلۡكُفۡرِ يَوۡمَئِذٍ أَقۡرَبُ مِنۡهُمۡ لِلۡإِيمَٰنِۚ يَقُولُونَ بِأَفۡوَٰهِهِم مَّا لَيۡسَ فِي قُلُوبِهِمۡۚ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا يَكۡتُمُونَ ﴿١٦٧﴾

[۱٦٦]- او هغه څه چې د دوو فوځونو د مخامخ کېدو په ورځ درورسېدل؛ دا خو د الله په حکم او د دې لپاره وو چې مؤمنان معلوم کړي. [۱٦٧]- او د دې لپاره چې هغه کسان هم معلوم کړي چې منافقت ئې کاوو او چې ورته وويل شو: راشئ يا د الله په لار کې وجنګېږئ يا دفاع وکړئ! وئې ويل: که د کوم جنګ پوهه مو وی حتماً

مو ستاسو متابعت کاوو!! دوی په دغه ورځ کفر ته ډېر ورنږدې وو؛ تر هغه واټن چې له ایمان ئې درلودو؛ په خوله ئې هغه څه ویل چې په زړونو کې ئې نه وو او الله په هغه څه ډېر ښه پوه دئ چې دوی ئې پټوي.

(۱٦٦-۱٦٧)- د هغې ماتې او د هغو تلفاتو پرېکړه الله کړې وه او املونه ئې تاسو په خپله برابر کړي وو؛ هر څه د الله د سننو مطابق واقع کېږي؛ الله غوښتل چې په دې ستري ابتلاء سره د واقعي مؤمنانو او منافقینو تر منځ تفکیك وشي، هغه منافقین راڅرګند شي چې نه د الله په لار کې جنګ ته تیار وو او نه له مدینې دفاع ته؛ د دوی پېژندنه ضروري وه؛ د دې لپاره چې په راتلونکي کې نه د الله په لار کې د جنګ په اړه په دوی حساب وکړئ او نه له مدینې د دفاع په اړه؛ تاسو په خپلو سترګو ولیدل چې د جهاد او دفاع په اړه د منافقینو ځواب څه وو؟ انکار؛ خو دا انکار په داسې الفاظو سره چې د دوی په څېر دوه مخی دي، په ظاهر کې ئې معنی یو څه او په حقیقت کې ئې معنی بل څه؛ په ظاهر کې د دوی د وینا معنی دا ده: که پوهېدی چې جنګ واقع کېږي نو حتماً مو ستاسو په څنګ کې برخه اخیسته؛ د دې الفاظو یوه بله توجیه هم شوې خو مخکینۍ ترې غوره او دقیقه ده او هغه دا چې: که موږ په جنګ پوهېدی نو زموږ مشورو ته به مو اعتناء کړې وه او د مدینې له داخله به مو د دښمن مقابله کړې وه او که داسې شوي وی موږ به هم ستاسو په څنګ کې وو.

د دوی د الفاظو ظاهر ښه برېښي او ساده لوح کسان پرې غولولی شي؛ خو الله تعالی ته د دوی د زړونو هغه نفاق څرګند دئ چې دوی ئې پټوي.

دې ته مو هم باید پام وي چې دلته په جګړې کې د دغو منافقینو دا برخه نه اخیستل داسې ګڼل شوي چې دوی په دې کار سره کفر ته تر ایمان ډېر ورنږدې وو او دې ته مو هم پام وي چې په اصل کې دغو منافقینو له دې پرته بل کار نه وو کړی چې د مسلمانانو د شورى له پرېکړې ئې مخالفت کړی وو. که څه هم دا پرېکړه د پیغمبر علیه السلام د خپلې رأيې خلاف پرېکړه وه!! له دې په اسلام کې د شورى اهمیت معلومولی شئ.

ٱلَّذِينَ قَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ وَقَعَدُواْ لَوۡ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُواْۗ قُلۡ فَٱدۡرَءُواْ عَنۡ أَنفُسِكُمُ ٱلۡمَوۡتَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿١٦٨﴾

[۱٦٨]- هغه چې خپلو ورونو ته ئې وویل؛ په داسې حال کې چې په خپله کښېنستلي ول: که ئې زموږ خبره منلې وی؛ نه به وژل کېدل؛ ورته ووایه: له خپل ځان مرګ دفع

کړئ که رښتيني يئ.

(١٦٨)- دا همغه منافقين دي چي په خپله ئې هم په جنګ کې برخه وانخيسته او نور ئې هم له برخي اخيستو منع کول او له جګړي وروسته ئې ويل: که دوی زموږ خبره منلې وی او په جګړي کې ئې له برخي اخيستو ډډه کړې وی؛ نو له دې مرګ ژوبلي سره به نه وو مخامخ شوي! دوی ته لنډ خو ډېر قاطع او خوله ماتوونکی ځواب ورکړی شوی: که په رښتيا ستاسو منافقانه تدبيرونه د چا د مرګ نېټه بدلولی شي نو لومړی د خپل مرګ چاره وکړئ!! که په خپلو منافقانه تدبيرونو سره د نورو د مرګ مخه نيولی شئ نو کوم داسي تدبير هم وکړئ چي ستاسو خپل مرګ د تل لپاره وځنډوي!!

وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًۢا ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ
﴿١٦٩﴾ فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا۟ بِهِم
مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٧٠﴾ يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ
ٱللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٧١﴾

[١٦٩]- او هغه مړه مه ګڼئ چي د الله په لار کې شهيدان شوي؛ دوی ژوندي دي او د الله په خوا کې ورته روزي ورکول کېږي. [١٧٠]- الله چي له خپل فضل څه د دوی په برخه کړي؛ په هغه خوشحالي کوي او د هغو لپاره هم چي لا تر اوسه له دوی سره نه دي يو ځای شوي او د دوی تر شا دي؛ د دې لپاره خوشحالي کوي چي نه به پر دوی څه وېره وي او نه به غمجن شي. [١٧١]- د الله په نعمتونو او فضل به خوشحالي کوي او په دې هم چي الله د مؤمنانو اجر نه ضائع کوي.

(١٦٩-١٧١)- د دې آيتونو اساسي مطالب دا دي:

- د الله د لاري شهيدان مړه مه ګڼئ.
- دوی ژوندي دي خو تاسو د دوی د ژوند په څرنګوالي نه پوهېږئ.
- دوی نه يوازي ژوندي دي بلکی الله ورته په خپلي خوا کې روزي هم ورکوي.
- دوی په خپل وضعيت او د الله جل شأنه په هغه فضل چي د دوی په برخه شوی؛ راضي او خوشحال دي.
- د خپلو هغو ملګرو د مستقبل په اړه هم خوشحالي کوي چي لا تر اوسه له دوی سره نه دي يو ځای شوي؛ د دې لپاره چي ګوري د ايمان په لار کې نه وېره شته او نه غمجن

کېدل.

- د الله په نعمتونو، فضل او په دې چې الله د مؤمنانو اجر نه ضائع کوي؛ خوشحالي کوي.

ٱلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ مِنۢ بَعۡدِ مَآ أَصَابَهُمُ ٱلۡقَرۡحُۚ لِلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ مِنۡهُمۡ وَٱتَّقَوۡاْ أَجۡرٌ عَظِيمٌ ۝١٧٢

[۱۷۲]- هغه چې د الله او د ده د پیغمبر بلنه ئې په داسې حال کې ومنله چې پرهارونه وررسېدلي وو؛ له دوی چې چا د احسان او تقوی لار غوره کړه؛ ستر اجر ئې دئ.

(۱۷۲)- کله چې د قریشو فوځ له احد د مکې په لوري وخوځېدو، څو میله لا مخکې نه وو تللي چې متوجه شول لویه غلطي ئې کړې ده، ښه موقع په لاس ورغلې وه، دښمن ته ئې زیات تلفات اوښتي وو، د مقاومت توان ئې له لاسه ورکړی وو، باید له څنډ پرته ئې پر مدینې برید کړی وی؛ د ځینو رأیه دا وه چې له دې ځایه بېرته وګرځو او پر مدینې حمله وکړو، خو بخت او همت ورسره یاري ونکړه او د برید پر ځای ئې د مکې په لوري سفر ته ادامه ورکړه. پیغمبر علیه السلام هم د جګړې په سبا امر وکړ چې د پرون ورځې په جګړې کې برخه اخیستونکې ټول غازیان باید تیار شي او د حمراء الاسد په لوري وخوځېږي؛ همداسې وشول؛ نه یوازې روغ مجاهدین تیار شول او له څنډ پرته وخوځېدل؛ بلکې ستړي، ستومانه او زخمي مجاهدین هم د خپل محبوب پیغمبر په امر روان شول، په دوی کې د ډېرو له زخمونو وینې بهېدې، ځینې داسې هم وو چې پر خپلو پښو نه شو تلی، دوه ورونه داسې وو چې دواړه زخمي شوي وو، یو ئې ډېر او بل تر ده لږ، یوه هغه بل په شا کړ او د حمراء الاسد په لوري وخوځېدل؛ دا له مدینې اته نه میله لرې وو، خو هلته په رسېدو سره معلومه شوه چې دښمن له سیمې وتلی او د مکې په لوري ئې تلو ته دوام ورکړی.

په دې آیت کې دغو زخمي غازیانو ته اشاره شوې؛ په داسې حال کې چې له تلو معاف وو او شرعي عذر ئې درلود؛ خو د الله او پیغمبر دعوت ته ئې لبیك وواېو او په زخمي حالت کې د جنګ لپاره تیار شول. عظیم او ستر اجر به د هغه چا په برخه کېږي چې (احسان) او (تقوی) کوي؛ دلته له احسان کوونکو مراد هغه کسان دي چې له عذر سره سره د الله او پیغمبر بلنې ته لبیك وایې؛ او له (تقوی کوونکو) مراد هغه دي چې د

زخمونو په سبب نه جزع او فزع کوي او نه شکوه او شکايت، له هر هغه کار ځان ساتي چي د ده اجر ته تاوان رسوي. ډېر کسان داسي وي چي يا په جزع و فزع او شکوه او شکايت سره خپل اجر ضائع کړي او يا د زخمونو او پرهارونو په مقابل کې د امتيازاتو د لاسته راوړني غوښتنه او مطالبه ئې الهي اجر په اوبو لاهو کړي.

هغه چي د الله په لار کې له ژوبلېدو وروسته د الله او پيغمبر د حکم د تعميل لپاره جهاد ته چمتو شوي او پرهارونو دوی د الله په لار کې له جهاد نه دي ځنډولي؛ دوی به ستر اجر تر لاسه کوي؛ خو د "احسان" او "تقوی" په شرط؛ يعني له ژوبلېدو وروسته ئې نه په چا منت بار کړی، نه ئې له چا د تقدير او تمجيد طمع کړې، نه ئې له چا د بدلې غوښتنه کړې او نه ئې داسي څه کړي او ويلي چي نور وځوروي. له جزع، فزع، شکوه او شکايت ئې ځان ساتلی او له بې صبرۍ ئې ډډه کړې. پام کوئ چي تاسو د الله په لار کې له زخمي کېدو وروسته د "عدم احسان" او "عدم تقوی" په نتيجه کې له "ستر اجر" محروم نه شئ.

ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدۡ جَمَعُواْ لَكُمۡ فَٱخۡشَوۡهُمۡ فَزَادَهُمۡ إِيمَٰنٗا وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾ فَٱنقَلَبُواْ بِنِعۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضۡلٖ لَّمۡ يَمۡسَسۡهُمۡ سُوٓءٞ وَٱتَّبَعُواْ رِضۡوَٰنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَظِيمٍ ﴿١٧٤﴾ إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ يُخَوِّفُ أَوۡلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمۡ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٧٥﴾

[١٧٣]- هغه چي خلکو ورته وويل: "د دښمنانو" ډېر وګړي درته راغونډ شوي؛ له دوی بايد ووېرېږئ؛ نو دې خبرې د دوی ايمان مزيد زيات کړ او ويل به ئې: الله موږ ته کافي دئ؛ څومره غوره پالونکی. [١٧٤]- نو د الله له نعمتونو او پېرزوينو سره بېرته راوګرځېدل؛ په داسي حال کې چي هيڅ تاوان ورونه رسېدو او د الله په رضاء پسې ولاړل او الله د لوی فضل خاوند دئ. [١٧٥]- دا خو فقط شيطان وو چي خپل دوستان ئې وېرول؛ نو له هغوی مه وېرېږئ؛ له ما ووېرېږئ که مؤمنان يئ.

(١٧٣-١٧٥)- په دې مبارکو آيتونو کې لاندي مهم مهم درسونه راکړی شوي:

- د دغو کسانو يو بل صفت دا دئ چي د دښمن له زياتوالي او کثرت نه دي وېرېدلي، کله چي هغوی ته ويل شوي چي دښمن په لوی شمېر کې ستاسو په ضد راغونډ شوی، هومره چي له دوی وېره په کار ده؛ دې خبرې د دې پر ځای چي په دوی کې وېره راولاړه

کړي، نه؛ د دوی ایمان ئې مزید مضبوط کړی او ویلی ئې دي چي الله موږ ته کافي دئ او هغه تر ټولو غوره مولا او وکیل دئ.

- د دغه دریغ او وینا په نتیجه کي هغوی په الهي امتحان کي بریالي وګڼل شول، د الله رضاء ئې تر لاسه کړه، له مزید زحمت او تکلیف پرته ئې یوه وړیا فتح، د الله نعمتونه او پېرزویني په برخه شوې.
- څوك چي مسلمانان د دښمن له ځواکونو وېروي د قرآن له نظره "شیطان" دئ، د دې شیطان دا وېره اچوونکي تبلیغات په هغو اغېز شیندي چي له شیطان سره ئې دوستي وي، د ده تبلیغات په هغه چا اثر نه کوي چي له شیطان سره ئې خپلې اړیکي قطع کړې وي.
- د الله حکم او په الله د ایمان تقاضی دا ده چي د دښمن له زور ځواك ونه وېرېږو او وېره مو یوازي له یوه الله وي.

د احد د جګړي په پای کي او مخکي له دې چي قریش د مکې په لوري وخوځېږي، مسلمانانو ته ئې په جګ غږ دا بلنه ورکړه چي په راتلونکي کال کي به یو ځل بیا د بدر په میدان کي سره مخامخ کېږي او خپلې توري به سره آزمویي، مسلمانانو د جګړي دا بلنه ومنله؛ خو کله چي د دغي وعدې وخت رانږدې شو؛ د قریشو مشرانو په خپلو منځو کي له مسلمانانو سره د نښتي ځواك نه لیدو، غوښتل ئې دا نښته وځنډېږي خو داسي چي د ځنډولو پېغور ئې مسلمانانو ته متوجه وي نه دوی ته، نور عرب داسي ګمان وکړي چي مسلمانان ووېرېدل او له خپلې وعدې په شا شول؛ د دې لپاره ئې خپلو جاسوسانو ته وظیفه ورکړه چي په مدینه کي دا افواه خوره کړي چي قریشو د دغي جګړي لپاره زیات فوځ او ډېر وسائل برابر کړي، هومره چي مسلمانان د دوی په وړاندي مقاومت نه شي کولی؛ خو پیغمبر علیه السلام له خپلو سرتېرو صحابه وو سره یو ځای؛ د وعدې له ورځي مخکي هغه ځای ته ورسېدو او د قریشو راتلو ته په انتظار پاته شو، درې ورځي ئې هلته تېري کړې چي معلومه شوه قریشو خپله وعده ماته کړې نو بېرته مدینې ته راستون شو. دا له جګړي پرته فتح وه، اثرات ئې په یوې نښتي کي تر بریا په هیڅ توګه کم نه وو. په پورتنیو مبارکو آیتونو کي دغه جریان ځېړل شوی.

وَلَا يَحْزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْكُفْرِ ۚ إِنَّهُمْ لَن يَضُرُّوا۟ ٱللَّهَ شَيْـًٔا ۗ يُرِيدُ ٱللَّهُ
أَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا فِى ٱلْءَاخِرَةِ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱشْتَرَوُا۟
ٱلْكُفْرَ بِٱلْإِيمَٰنِ لَن يَضُرُّوا۟ ٱللَّهَ شَيْـًٔا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٧﴾

[۱۷۶]- او هغه دي تا غمجن نه کړي چې د کفر په لوري تلوار کوي، هیڅکله الله ته تاوان نه شي رسولی، الله غواړي چې په آخرت کې هیڅ برخه ورپه برخه نه کړي؛ او دوی ته ستر عذاب دئ. [۱۷۷]- یقیناً چا چې کفر د ایمان په بیع واخیستلو، الله ته هیڅ تاوان نه شي رسولی او دوی ته دردناك عذاب دئ.

(۱۷۶-۱۷۷)- دلته د منافقینو او د دوی د منافقانه کړنو او هلو ځلو په اړه ویل شوي چې د دوی پروا مه کوه، دوی الله او د ده دین او مؤمنانو ته هیڅ تاوان نه شي رسولی، دوی چې له کافرانو سره په ملګرتیا کې تلوار کوي، د دنیوي اغراضو لپاره خپل ایمان په کفر بدلوي، له ځان پرته هیچا ته تاوان نه شي رسولی؛ الله دوی ته موقع ورکوي، غواړي د آخرت له برخې ئې محروم کړي، همدا قلیله او ذلیله بیع چې د خپل ایمان په پلورلو سره ئې تر لاسه کوي همدا ئې د ایمان قیمت وي او په آخرت کې به بل څه تر لاسه نه کړی شي، دوی به له دغې معاملې ډېر انتظارونه لري او ډېر رنګین رنګین خوبونه به ورته ګوري؛ خو خبر نه دي چې ستر او دردناك عذاب ورته انتظار کوي.

وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّمَا نُمۡلِي لَهُمۡ خَيۡرٞ لِّأَنفُسِهِمۡۚ إِنَّمَا نُمۡلِي لَهُمۡ لِيَزۡدَادُوٓاْ إِثۡمٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴿١٧٨﴾

[۱۷۸]- او کافران دي ګمان نه کوي چې زموږ له لوري مهلت ورکول ئې په ګټه دئ، موږ خو د دې لپاره دا مهلت ورکوو چې د لا زیاتو ګناهونو مرتکب شي او سپکوونکی عذاب ئې په برخه شي.

(۱۷۸)- ډېرو ته په دې خبرې پوهېدل ګران وي چې الله تعالی د کوم مصلحت له مخې کفري ځواکونو ته مهلت او فرصت ورکوي، کله پر مسلمانانو د بریا موقع ورکړي او کله د اسلامي هېوادونو د نیولو او د مسلمانانو د ځورولو امکان په لاس ورکړي؛ د دې تر شا کوم الهي حکمت مضمر دئ؟ په دې مبارك آیت کې دغې پوښتنې ته ځواب ویل شوی. مه تاسو دا ګمان کوئ چې کفري ځواکونو ته مهلت او فرصت ورکول د دوی په ګټه دئ او نه دي دوی په دې اشتباه کې پرېوځي چې دا موقتي بریاوي ئې په ګټه دي. الله تعالی غواړي په دې مهلت سره د دوی حقیقت ښه څرګند شي، دا مهلت د دې باعث شي چې دوی په ظلم او فساد کې هغې انتهاء ته ورسېږي چې الله تعالی ئې د دوی د کاملې تباهۍ لپاره ضروري ګڼي؛ تر هغه چې یو منحرف او مفسد ولس دغې انتهاء ته نه وي رسېدلی الله تعالی ئې د استئصال او هلاکت وروستۍ پرېکړه نه کوي. که الله تعالی شورویانو ته د افغانستان د

نیولو فرصت نه وی ورکړی څوك به په دې پوه شوی وو چې کمونیزم څه ته وايي، کمونستان څومره بې رحمه دي، له ایمان تش زړه څومره سخت او بې عاطفې وي، چې څوك دین پرېږدي څومره ذلیل او سپك شي، د نورو لپاره د خپل قوم او ولس په خلاف هر څه کولو ته تیار شي!! افغانان به څنګه پوهېدل چې د کمونستانو د شعارونو معنی څه ده، د کارګرانو حکومت یعني څه او د کور، کالي او ډوډۍ له غولونکو شعارونو د دوی مقصد څه دئ؛ مګر ومو نه لیدل چې د الله تعالی له لوري دا فرصت په حقیقت کې د شوروی اتحاد د زوال لپاره الهي تدبیر وو؟ همدا راز که امریکایان د افغانستان او عراق په نیولو نه وی موفق شوي، د بګرام، ابو غریب او ګوانتانامو په جهنمي زندانونو کې د مظلومو مسلمانانو په زنداني کولو نه وی موفق شوي، نو افغانان، عراقیان او نړۍ وال به څنګه پوهېدل چې امریکایان څومره ذلیل، رذیل او بې رحمه دي؟ څنګه به ورته معلومېدله چې د امریکایانو د دیموکراسۍ، آزادي او بشري حقوقو معنی همدا وه چې حقیقت ئې په افغانستان او عراق کې او په دغو زندانونو کې له مظلومو لاس پښې تړلو زندانیانو سره د دوی په وحشیانه چلن کې راڅرګند شو؟ په رښتیا چې په دې مهلت ورکولو کې الهي حکمت همدا دئ چې: لیزدادوا اثماً : چې په ګناهونو کې مزید مخکې ولاړ شي او په پای کې ئې سپکاوی او رسوايي په برخه شي.

---

مَّا كَانَ ٱللَّهُ لِيَذَرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَىٰ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ ۗ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى ٱلْغَيْبِ وَلَـٰكِنَّ ٱللَّهَ يَجْتَبِى مِن رُّسُلِهِۦ مَن يَشَآءُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ۚ وَإِن تُؤْمِنُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٩﴾

[۱۷۹]- الله تعالی داسې نه دئ چې مؤمنان به د پاك او ناپاك له بېلولو پرته همداسې ستاسو په موجوده حالت کې پرېږدي او الله داسې هم نه دئ چې تاسې له غیبه خبر کړي، لکن الله له پیغمبرانو چې څوك وغواړي هغه غوره کوي، نو پر الله او پیغمبرانو ئې ایمان راوړئ؛ که مو ایمان راوړ او تقوی مو غوره کړه نو ستاسې لپاره ستر اجر دئ.

---

(۱۷۹)- دا یو ثابت او دائمي الهي سنت دئ؛ د حوادثو په لوړو ژورو کې به پاك او ناپاك سره بېلوي؛ خو د پاك او ناپاك د بېلولو په اړه د الله سنت دا نه دئ چې څوك له غیبه خبر کړي او ورته ووايي چې څوك پاك او څوك ناپاك دي؛ په غیب له الله پرته هیڅوك نه پوهېږي؛ د دوی د بېلولو الهي طریقه دا ده چې پیغمبر رالېږي، څیني پر پیغمبر ایمان

راوړي، پاك شي او له ناپاكانو رابېل شي او ځيني نور په خپلي مخکينۍ ناپاکۍ کي پاته شي. د پيغمبر بعثت د طيب او خبيث او پاك او ناپاك تر منځ د توپير او بېلتون وسيله ده؛ او همدا الهي سنت دئ.

که څه هم د دې آيت مطلب ډېر څرګند دئ خو متأسفانه د کږو زړونو خاوندانو له دې آيت داسي غلط تعبيرونه کړي چي د دوی کږې عقيدې او غلط مذهب پرې توجيه کړي، دوی د دې آيت د دغي برخي "وَلَكِنَّ اللَّهَ يَجْتَبِي مِنْ رُسُلِهِ مَنْ يَشَاءُ" په اړه وايي چي دلته ځيني پيغمبران له عدم علم غيب مستثنی شوي، په دې استثناء استدلال کوي او پيغمبرانو عليهم السلام ته د علم غيب ثابتولو هڅه کوي؛ ځيني ئې وايي چي دغو پيغمبرانو ته بشپړ علم غيب ورکړی شوی، ځيني نور بيا وايي چي نسبي علم غيب ئې په برخه شوی!! د دوی دا غلط تعبير له څو اشتباهاتو راولاړ شوی:

• د دې آيت د بحث اصلي موضوع ته ئې پام نه دئ کړی، د آيت له وروستۍ برخي داسي انتباه اخلي چي د همدې آيت له لومړنۍ برخي سره هيڅ اړخ نه لګوي، د آيت پيل داسي دئ:

**مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتَّى يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ:**
الله تعالی داسي نه دئ چي مؤمنان به د پاك او ناپاك له بېلولو پرته همداسي ستاسو په موجوده حالت کي پرېږدي.

يعني د الله سنت دا نه دئ چي مؤمنان د ښه او بد، پاك او ناپاك تر منځ له توپير، تمييز او بېلتون پرته همداسي ګډ او مختلط پرېږدي. حتماً به داسي حالت راولي چي دا دواړه ډلي سره بېلي شي، بيا فرمايي:

**وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ:** او الله داسي نه دئ چي تاسي پر غيب خبر کړي.

يعني د ښه او بد، پاك او ناپاك تر منځ د تفکيك او بېلتون طريقه دا نه ده چي تاسي له غيبه خبرکړي او د علم غيب له لاري په دې پوه شئ او دا درك کړئ چي څوك خبيث او څوك طيب دئ. په دې پسي متصل فرمايي:

**وَلَكِنَّ اللهَ يَجْتَبِي مِنْ رُسُلِهِ مَنْ يَشَاءُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَإِنْ تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ:** خو الله تعالی له خپلو پيغمبرانو چي څوك وغواړي هغه غوره کوي؛ نو په الله او پيغمبرانو ئې ايمان راوړئ، که ايمان مو راوړ او تقوی مووکړه نو ستاسي لپاره لوی اجر دئ.

يعني د پاك او ناپاك، خالص او ناخالص، مخلص او نامخلص تر منځ تفکيك او بېلتون د پيغمبرانو د غوره کولو او خلکو ته د هغوی د لېږلو له لاري تر سره کېږي؛ د پيغمبرانو

عليهم السلام په بعثت سره خلك په دوو ډلو وېشل کېږي او پاك له ناپاکه بېلېږي. تاسو پر الله او رسولانو په ايمان، د هغوی په اطاعت او په تقوی سره د پاکانو په ډله کې شاملېږئ او لوی اجر مو په برخه کېږي.

په دې آيت کې به يوازې هغه چا ته څه ابهام او اغماض ښکاري چې د رنځور زړه خاوند وي او هغه ته له کږې زاويې ګوري. عجيبه ده! دا کسان د دې پرځای چې دا آيت د خپلو کږو او باطلو افکارو د تصحيح او سمون لپاره خپل لارښود ونيسي او ووايي چې الله هيچا ته علم غيب نه دئ ورکړی، په خلاف ئې تصور کوي چې په دې آيت کې د يو شمېر پيغمبرانو عليهم السلام لپاره د علم غيب د اثبات دليل تر سترګو کېږي!! دوی متوجه نه دي چې په دې ډول تعبير سره هر مخاطب ته دا انتباه ورکوي چې ګواکې په قرآن کې تناقض شته، ځيني آيتونه ئې په صراحت او قاطعيت سره اعلانوي چې له الله تعالی پرته هيڅوك علم غيب نه لري؛ خو په ځينو نورو آيتونو کې داسې نښانې ليدل کېږي چې مخاطب ته دا انتباه القاء کوي چې له الله تعالی علاوه نور هم علم غيب لرلی شي!! حقيقت دا دئ چې الهي کلام له دې عيب پاك او منزه دئ، نه يوازې هيڅ تناقض په کې نشته بلکې آيتونه ئې ټول پخپل منځ کې يو د بل مؤيد، همغږي او يو د بل شرح او تفسير. هر څوك چې له کوم آيت داسې تعبير او انتباه واخلي چې له بل آيت سره تناقض او ټکر ولري هغه غلط شوی دئ او په قرآن کې ئې د تناقض رامنځته کولو غلطي کړې ده.

په قرآن کې د هغو آيتونو شمېر ډېر زيات دئ چې په قاطع او پرېکنده الفاظو سره له ماسوی الله علم غيب نفي کوي او وايي چې له الله پرته نه په زمکه کې څوك په غيب پوهېږي او نه په آسمان کې، که دا ملائکه وي يا پېری يا انسان، که عادي انسان وي او که کوم جليل القدر پيغمبر. د قرآن په ګڼ شمېر قصو کې هم د دغې خبرې د اثبات لپاره بېلګې وړاندې شوې. چې څو مثالونه ئې دا دي:

- ابراهيم عليه السلام ته څو ملائکې د زلميانو په بڼه کې راغلې، هغه ونه پېژندې، د مېلمنو ګمان ئې پرې وکړ او وريته شوې غوښه ئې د دوی مخې ته کښېښوده. کله چې هغوی ځان معرفي کړ په دې نه پوهېدو چې د دوی مأموريت څه دئ، پوښتنه ئې ترې وکړه، کله چې هغوی ورته وويل د لوط عليه السلام کلی ورانوو، پرېشان شو، په دې نه پوهېدو چې له لوط عليه السلام سره به څه کېږي، کله چې ملائکو د زوی زېری ورکړ نو په دې خبره نه د ده باور راتلو او نه د ده د مېرمنې، ملائکو ورته وويل: آيا د خپل رب په وعده کې شك کوئ؟!
- دغه ملائکې لوط عليه السلام ته ورغلې، هغه هم ونه پېژندې، د مېلمنو ګمان ئې پرې

وکړ، د دوی په راتلو سخت پرېشان شو، په دې نه پوهېدو چې دا ملائکې د ده مرستې ته راغلې دي، هلته پوه شو چې ملائکو په خپله ځان معرفي کړ.

• په همدغې د آل عمران سورې کې مو ولیدل چې زکریا علیه السلام له دې خبر نه وو چې د ده تر روزنې لاندې مریم ته بې موسمه مېوې راځي، دا هیله ئې نه وه چې په دې زوړوالي کې به الله ورته اولاد ورکړي، خو د دغې صحنې لیدو ئې په زړه کې د اولاد طمع راوېښوکوله، کله چې ملائکو د زوی زېری ورکړ؛ نه پوهېدو چې څنګه او کله به ئې زوی په برخه کېږي، له الله ئې د دې نښه غوښته.

• په دغې سورې کې مو ولیدل چې عیسی علیه السلام نه پوهېدو چې د ده په منونکو کې به څوك د الله په لار کې د ده ملګرتیا کوي، له هغوی پوښتنه کوي: په تاسو کې مې څوك ملګرتیا ته چمتو دئ؛ من انصاري الی الله.

دې ته ورته د متعددو نورو قصو له لارې هم دا حقیقت په ګوته کوي چې پیغمبران علیهم السلام علم غیب نه لري. عجیبه ده چې څوك دې دا ټول آیتونه له پامه وغورځوي او له دې مبارك آیت دې داسې تعبیر وړاندې کړي چې له ټولو سره تصادم کوي!!

وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَبۡخَلُونَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ هُوَ خَيۡرٗا لَّهُمۖ بَلۡ هُوَ شَرّٞ لَّهُمۡۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُواْ بِهِۦ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ١٨٠

[۱۸۰]- او چا ته چې الله له خپل فضل څه ورکړي خو هغه په کې بخل کوي؛ ګمان دې نه کوي چې دا ئې په ګټه دئ، نه دا ورته بد دئ، حتماً به د قیامت په ورځ هغه څه ورته د غاړې امېل شي چې بخل ئې په کې کاوو؛ او د زمکې او آسمانونو میراث خو د الله دئ او الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

(۱۸۰)- دلته بخیلانو ته څو خبرې شوې:

• په کار خو دا وه چې دوی د الله د فضل او پېرزوینې شکر پر ځای کولی او همداسې چې الله پر دوی فضل کړی دوی هم د الله لپاره هغه څه انفاق کولی چې الله تعالی ورکړي.

• دوی دې ګمان نه کوي چې بخل به څه ګټه ورورسوي.

• دا بخل به ئې د قیامت په ورځ د غاړې امېل شي.

• په دنیا کې به هم هر څه الله ته په میراث پرېږدي، الله به دا فیصله کوي چې له دوی

پاته مال چا ته ورکړي.

- او معامله ئې له هغه الله سره ده چې په ټولو کړنو ئې خبر دئ.

لَّقَدْ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوْلَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَآءُ ۘ سَنَكْتُبُ مَا قَالُواْ وَقَتْلَهُمُ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَنَقُولُ ذُوقُواْ عَذَابَ ٱلْحَرِيقِ ﴿١٨١﴾ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿١٨٢﴾

[۱۸۱]- يقيناً چې الله د هغو خبره هم اورېدلې چې ويل ئې: خدای فقير دئ او موږ غنيان يو! حتماً به هغه څه هم وليکو چې دوی ويلي او په ناحقه د پيغمبرانو وژنه ئې هم؛ او ورته وبه وايو: د سوزوونکي اور عذاب وڅکئ. [۱۸۲]- دا د هغه څه له کبله چې ستاسو خپلو لاسونو وړاندې کړي وو او الله خو پر بندګانو ظلم کوونکی نه دئ.

(۱۸۱-۱۸۲)- کله چې په قرآن کې د الله په لار کې د مال مصرف؛ داسې ګڼل شوي لکه الله ته پور ورکول؛ او وويل شو چې الله ستاسو هره قرباني په خپله ذمه يو پور ګڼي او څو برابره به ئې پور ورکوونکي ته مستردوي؛ نو بخيلانو په تمسخر او ملنډو سره وويل: مګر الله فقير دئ او موږ غنيان چې له موږ پور غواړي؟!! د دوی په ځواب کې وويل شول چې الله تعالی هم ستاسو دا خبره ليکي او هم مو له مخکينيو پيغمبرانو سره د مخالفت کرغېړنې کړنې؛ تاسو تر دې وړاندې هم د دې لپاره د پيغمبرانو مخالفت وکړ او د دوی د وژلو لپاره مو ملا وتړله چې د الله په لار کې ئې قربانۍ ته رابللئ او ستاسو بخل او حرص اجازه نه درکوله چې دعوت ئې ومنئ.

ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ عَهِدَ إِلَيْنَآ أَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُولٍ حَتَّىٰ يَأْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَأْكُلُهُ ٱلنَّارُ ۗ قُلْ قَدْ جَآءَكُمْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِي بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَبِٱلَّذِي قُلْتُمْ فَلِمَ قَتَلْتُمُوهُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٨٣﴾ فَإِن كَذَّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ جَآءُو بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُنِيرِ ﴿١٨٤﴾

[۱۸۳]- هغه چې وايي: موږ ته الله دا فرمان رالېږلی چې تر هغه پر کوم پيغمبر ايمان رانه وړو چې داسې قرباني ئې نه وي راوړې چې اور ئې خوري؛ ورته ووايه: تاسو ته

خو تر ما مخکې هم پيغمبران له څرګندو نښو سره او له هغه څه سره راغلي وو چې تاسو وويل؛ که رښتيني وئ نو هغوی مو ولې ووژل؟! [١٨٤]- نو که ئې ته تکذيب کړی يې، تر تا وړاندې نور پيغمبران هم تکذيب کړی شوي؛ هغه چې څرګندې نښې، روښانه کتابونه او صحيفې ئې راوړې وې.

(١٨٣-١٨٤)- تاسو خو يوازې زما مخالفت نه دئ کړی؛ تر ما وړاندې مو هم د نورو پيغمبرانو مخالفت کړی؛ څرګندې نښې ئې درته راوړې وې، دغه نښه هم چې تاسو ئې له ما غواړئ؛ له غيب د اور راتګ او هغه څه سوزول چې د الله په لار کې به وقف شوی وو؛ له دغو معجزو سره سره مو د پيغمبرانو د وژلو تر حده د دوی مخالفت کړی؛ څنګه به تاسو په خپلې دعوی کې رښتيني ګڼو چې د دا راز معجزو په ليدو سره به ايمان راوړئ.

ځينو داسې انګېرلې چې ښايي دا به مخکينيو امتونو ته د الله تعالی فرمان وو چې د قربانۍ غوښه به سوزوي؛ د بني اسرائيلو دا ادعاء مني چې د دوی پيغمبرانو همدا خبره ورته کړې!! خو حقيقت داسې نه دئ؛ نه په قرآن کې الله تعالی مسلمانان په داسې کار ګمارلي او نه ئې په مخکينيو کتابونو کې مخکيني امتونه ګمارلي؛ يهودانو دين تحريف کړی؛ غلطې ويناوې ئې الله تعالی او د هغه پيغمبرانو او دين ته منسوب کړې؛ دا هم يوه بله افتراء ده؛ لکه چې قرآن فرمايي:

وَإِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً قَالُوا وَجَدْنَا عَلَيْهَا آبَاءَنَا وَاللَّهُ أَمَرَنَا بِهَا قُلْ إِنَّ اللَّهَ لا يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ أَتَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لا تَعْلَمُونَ﴿٢٨﴾ الأعراف

او کله چې د فحش کوم کار وکړي؛ وايي: خپل پلرونه مو پرې ليدلي او الله پرې ګمارلي يو، ووايه: يقيناً چې الله پر فحش ګمارنه نه کوي، آيا د الله په اړه هغه څه وايئ چې نه پرې پوهېږئ؟!

يعنې دوی خپل فحش کارونه؛ شرك، ظلم، عبث او بېهوده مشغولتياوې هم الله تعالی ته منسوبول او ادعاء ئې کوله چې الله تعالی پرې ګمارلي يو؛ حال دا چې الله تعالی نه پر فحش کار څوك ګماري او نه پر ظلم، بې عدالتې، عبث او بېهوده کار.

سوزېدونکې قربانې هم د دوی افتراء ده؛ له کوم پيغمبر ئې دا معجزه غوښتې چې له آسمان اور راشي او د قربانۍ غوښه وسوزوي؛ هغه دعاء کړې او همدا کار شوی؛ خو سره له دې ئې ايمان نه دئ راوړی؛ همغسې چې له صالح عليه السلام ئې وغوښتل چې له تيږې اوښه جوړه کړي؛ همداسې وشول خو دوی د ايمان راوړلو په ځای هغه ووژله او لاس پښې ئې قطع کړې.

كُلُّ نَفۡسٖ ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوۡنَ أُجُورَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۖ فَمَن زُحۡزِحَ عَنِ ٱلنَّارِ وَأُدۡخِلَ ٱلۡجَنَّةَ فَقَدۡ فَازَۗ وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا مَتَٰعُ ٱلۡغُرُورِ ١٨٥

[١٨٥]- هر نفس د مرگ خوند څکونکی دئ او خبره فقط دا ده چي د قيامت په ورځ به خپل اجر په بشپړه توگه تر لاسه کوئ؛ نو څوك چي له اور وژغورل شو او جنت ته ننووت؛ بې شکه چي بريالی شو او د دنيا دا ژوند خو له غولونکې متاع پرته بل څه نه دئ.

(١٨٥)- دا مبارك آيت څو مهمي خبري مونږ ته ښيي:

- که د مرگ گواښ درته وشو نوصبر وکړه، له مرگ هسي هم چاره نشته، هر نفس خامخا د مرگ خوند څکي، مگر دا غوره نه ده چي ستا مرگ د الله په لار کي وي؟ همغه مرگ چي هرومرو او په هر صورت کي او په خپل وخت راځي.
- ستا اجر هيڅکله نه ضائع کېږي، ستا معامله له هغه الله سره ده چي د عملونو پوره او کامله بدله ئې پر خپله ذمه اخيستې ده.
- د همدې نېکو عملونو په نتيجه کي له دوزخ ژغورل کېږې؛ اصلي بريا خو دا ده چي څوك له دوزخ وژغورل شي او جنت ئې په برخه شي.
- دا دنيوي ژوند خو د آخرت په پرتله هسي يوه غولونکې متاع ده. داسي نه چي دا متاع دي له آخرت غافل کړي!!

لَتُبۡلَوُنَّ فِيٓ أَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ وَلَتَسۡمَعُنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُوٓاْ أَذٗى كَثِيرٗاۚ وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ١٨٦

[١٨٦]- حتماً به په خپل مال او ځان کي وآزمويل شئ او هرومرو به له هغو چي تر تاسو د مخه کتاب ورکړی شوی او له هغو چي مشرکان شوي؛ ډېري ځوروني واورئ او که صبر او تقوی وکړئ نو دا له همتناکو کارونو دئ.

(١٨٦)- د الله په لار کي به کله د مال قرباني ته بلل کېږئ او کله د ځان، کله به د دين په جامه کي د دين دښمنان ستا مقابله کوي او کله مشرکان، هم به له دې ځورونکې خبري اورې او هم له هغه، لږ نه؛ ډېرې؛ حوصله دي لوړه ساته، د الله رضاء وړيا نه تر لاسه

کېږي، دا گوهر په ستر سیند کې لامبو او له پیاوړو څپو سره ئې ډغري وهل غواړي، دا الماس د جگو غرونو په لوړو څوکو کې موندلی شي، هلته ځان رسول غواړي، له کړلېچونو به تېرېږي، لوړې ژوري به پلې کوې، زړه غښتلی او متې مضبوطې کړه، قربانۍ ته تیار شه، له مخالفتونو سره مخامخ کېدو ته ځان چمتو کړه، سختې آزموینې په مخکې لرې، که دې همت وکړ، بې زړه نه شوې، له ودرېدو، تر شا کېدو او یوې بلې خوا ته له کږېدو دې ځان وساتو او له دغو آزموینو بریالی ووتې نو الله ته رسې او رضاء ئې تر لاسه کوې.

وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهُۥ لِلنَّاسِ وَلَا تَكۡتُمُونَهُۥ فَنَبَذُوهُ وَرَآءَ ظُهُورِهِمۡ وَٱشۡتَرَوۡاْ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلٗاۖ فَبِئۡسَ مَا يَشۡتَرُونَ ﴿١٨٧﴾

[١٨٧]- او کله چې الله له اهل کتاب دا ژمنه تر لاسه کړه چې هرومرو به ئې خلکو ته بیانوئ او نه به ئې پټوئ؛ خو خپلې شا ته ئې وغورځاوو او ناڅیزه بیع ئې پرې وپېرله، څومره بد دئ هغه څه چې دوی ئې پېري.

(١٨٧)- چا ته چې الله کتاب او د کتاب علم ورکړی دا ژمنه ئې ترې اخیستې ده چې دا کتاب به خلکو ته رسوئ، لارښوونې به ئې خلکو ته بیانوئ او هیڅ څه به ئې نه پټوئ؛ خو د اهل کتاب دین پلورونکو مذهبي مشرانو هم د الله کتاب شا ته وغورځاوو او هم ئې خپله ژمنه هېره کړه، دین ئې په دنیا خرڅ کړ، هغه هم ډېر ارزان، په ډېره ناڅیزه بیع، د ظالمانو په گټه ئې فتوی گانې ورکړې او خلك ئې له دین بې خبره پرېښودل.

لَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡرَحُونَ بِمَآ أَتَواْ وَّيُحِبُّونَ أَن يُحۡمَدُواْ بِمَا لَمۡ يَفۡعَلُواْ فَلَا تَحۡسَبَنَّهُم بِمَفَازَةٖ مِّنَ ٱلۡعَذَابِۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿١٨٨﴾

[١٨٨]- گمان مه کوه؛ هغه چې څه ئې کړي په هغه خوشحالي کوي او دا ئې خوښېږي چې په نه کړو کارونو ئې ستاینه وشي؛ دوی له عذاب د ژغورنې په حال کې مه گڼه؛ او دوی ته دردناك عذاب دئ.

(١٨٨)- ځوك چې له حق ویلو ډډه کوي، کله حق پټوي او کله حق او باطل سره گډوي، حق ته باطل وایي او باطل ته حق، پر باطل داسې پرده راکاږي او داسې ئې تعبیروي چې خلك د حق گمان پرې وکړي، له باطل سره د روغې جوړې لار غوره کوي، د باطل حامي او مدافع شي، د ظالم ملگرتیا کوي، او په دې کار فخر کوي، دا د خپلې هوښیارتیا او پوهې

نښه ګڼي، د ظالمانو حمایت تر لاسه کول او د دوی له ګواښونو خوندي پاته کېدا د ځان کمال او هنر ګڼي او طمع ئې یا دا وي چې د حق په نه بیانولو، له ظلم او فساد سره د مقابلې په نه کولو سره ئې باید خلك د ملامتولو پر ځای وستایي او یا دا چې په دې کار سره د ظالمانو او مفسدینو ستاینه او شاباش تر لاسه کړي، ګمان مه کوه چې دوی به د الله له عذاب وژغورل شي؛ نه؛ دوی ته دردناك الهي عذاب انتظار کوي.

وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٖ قَدِيرٌ ﴿١٨٩﴾

[١٨٩]- او د آسمانونو او زمکې پاچایي د الله ده او الله په هر کار ښه قادر دئ.

(١٨٩)- په داسې حال کې چې د زمکې او آسمانونو ټولواك الله دئ، دلته یوازې د ده حکم چلېږي، فیصلې د ده له لورې کېږي او یوازې هغه څه کېدی شي چې دی ئې د کېدو اجازه ورکړي؛ نو تاسو ولې له ده پرته له بل چا طمع او وېره لرئ او د همدې طمع او وېرې په سبب کله حق پټوئ او کله له باطل سره روغه جوړه کوئ؟! مګر په دې مو باور نه دئ چې الله په هر کار قادر دئ؛ هم دې له ظالمانو ساتلی شي او هم سزا ورکولی شي؟!

إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي
ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٩٠﴾ ٱلَّذِينَ يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي
خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَٰطِلٗا سُبْحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ
ٱلنَّارِ ﴿١٩١﴾ رَبَّنَآ إِنَّكَ مَن تُدْخِلِ ٱلنَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُۥۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٖ
﴿١٩٢﴾ رَّبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيٗا يُنَادِي لِلْإِيمَٰنِ أَنْ ءَامِنُواْ بِرَبِّكُمْ فَـَٔامَنَّاۚ رَبَّنَا
فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلْأَبْرَارِ ﴿١٩٣﴾ رَبَّنَا وَءَاتِنَا مَا
وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِۗ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ ٱلْمِيعَادَ ﴿١٩٤﴾

[١٩٠]- یقیناً چې د آسمانونو او زمکې په پیدایښت کې او د شپې او ورځې په تلو راتلو کې عقلمنو ته ډېرې نښې دي. [١٩١]- هغه چې الله په ولاړه، ناسته او په خپل اړخ ملاسته یادوي او د آسمانونو او زمکې په پیدایښت کې فکر کوي؛ چې اې زموږ ربه! دا دې خوشې نه دي پیدا کړي، پاکي تا ته ده؛ موږ د اور له عذاب وساته.

[١٩٢]- اې زموږ ربه! بې شکه څوك چي اور ته داخل کړې نو هغه دې رسوا کړ او ظالمان خو هيڅ مرستندوی نه لري. [١٩٣]- اې زموږ ربه! يو بلونکی مو واورېدو چي د ايمان په لوري ئې دا بلنه ورکوله چي په خپل رب ايمان راوړئ؛ نو ايمان مو راوړ. اې زموږ ربه! نو زموږ گناهونه راته وبخښه او زموږ بدي او سيئات رانه ورېژوه او له نېکانو سره مو وفات کړه. [١٩٤]-ای زموږ ربه! هغه څه راپه برخه کړه چي وعده دې د پيغمبرانو په واسطه راسره کړې ده او د قيامت په ورځ مو مه رسوا کوه؛ بې شکه چي ته له وعدې نه په شا کېږې.

(١٩٠-١٩٤)- د دې مبارکو آيتونو د عظمت او اهميت لپاره دا کافي ده چي وايو: پيغمبر عليه السلام به هره شپه د تهجد له لمانځه مخکي دا د آل عمران د سورې وروستي لس آيتونه لوستل، دا نه يوازي د دې آيتونو اهميت په گوته کوي بلکي ښيي چي دا لس آيتونه په اصل کي يو بشپړ مضمون دئ.

په پورتنيو آيتونو کي څو اساسي خبري زموږ پام ځانته اړوي:

- څوك چي د سالم عقل خاوند وي د آسمانونو او زمکي په پيدايښت کي او د شپې ورځې په تلو راتلو کي د ډېرو حقائقو په لوري څرگندي نښي گوري.
- خو هغه د عقل خاوندان چي الله ئې تل او په هر حالت کي په ياد وي؛ له الله غافل زړه په دغو حقائقو د پوهېدو وړتيا او اهليت نه لري.
- دوی نه يوازي پر الله باور لري او تل ئې په ياد وي؛ بلکي د آسمانونو او زمکي په پيدايښت کي فکر کوي، هم ئې پر الله باور له دغه فکر کولو راولاړ شوی او هم د الله ياد او ذکر، د زمکي او آسمانونو هر څه الله ورپه يادوي، دوی په هر څه کي د الله د قدرت نښي گوري.
- د زمکي او آسمانونو په پيدايښت کي د دوی د غور او تفکر حاصل او نتيجه دا وي چي: الله هيڅ څه خوشي او عبث نه دي پيدا کړي، هر څه ئې حکيمانه پيدا کړي، الله له دې عيب منزه او لوړ گڼي چي څه ئې عبث او بې فائدې پيدا کړي وي.
- دا احساس او د غور او تفکير دا نتيجه؛ دوی په دې باور کولو ته اړ کوي چي الله تعالی به له خپلو بندگانو سره هرو مرو محاسبه کوي او حتماً به تېري کوونکو ته سزا ورکوي؛ دا ځکه چي عدم محاسبه او د مجرم عدم مجازات په دې معنی ده چي دا زمکه او آسمان خوشي او عبث پيدا شوي. د همدې لپاره د عقلمنو لومړۍ دعاء دا وي چي: موږ د اور له عذاب وساته.
- عقلمن په دې پوهېږي چي له الله انکار کوونکي ظالمان؛ هيڅوك او هيڅ څه د الله له

عذاب نه شي ژغورلی.

• عقلمن د هغه منادي نداء اوري چې دوی پر الله ايمان راوړو ته بلي؛ دا منادي څوك دئ؟ دوی د كوم منادي غږ ته لبيك ويلی او پر الله ئې ايمان راوړی؟ پيغمبر، كوم داعي، خپل عقل او ضمير، كه كوم بل منادي؟! دا هر يو كېدی شي د دوی منادي وي خو د آيت له سياق او سباق معلومېږي چې دا همغه منادي دئ چې د مضمون په سر كې ورته اشاره شوې: د آسمانونو او زمكې په پيدايښت او د شپې ورځې په تگ راتگ كې پرتې نښې؛ دغه منادي دوی پر خپل رب ايمان ته وربللي، د دغه منادي دعوت ته ئې لبيك ويلی او په خپل رب ئې ايمان راوړی.

• له ايمان وروسته دوی له خپل رب پنځه اساسي غوښتني لري: زموږ گناهونه راوبخښه، زموږ بد عادات او اخلاق رااصلاح كړه، دا توفيق راپه برخه كړه چې مرگ مو د ابرارو او نېكانو مرگ وي، تا چې د پيغمبرانو په لاس كومې وعدې له موږ سره كړې دي هغه تر سره كړه او د قيامت د ورځې له رسوايي او سپكاوي مو وساته. بايد دې ته متوجه وئ چې د "تغفير ذنوب" او "تكفير سيئات" مطلب بېل بېل دئ، يو ئې د گناهونو بخښنه او بل ئې د بدو اخلاقو او عاداتو اصلاح افاده كوي. وروستی آيت موږ ته ښيي چې د دغو دعاءگانو د اجابت لپاره الله تعالی كوم كوم شرائط ايښي او دا دعاءگاني په كوم صورت كې منل كېږي:

فَٱسۡتَجَابَ لَهُمۡ رَبُّهُمۡ أَنِّي لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَٰمِلٖ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰۖ بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٖۖ فَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَأُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَأُوذُواْ فِي سَبِيلِي وَقَٰتَلُواْ وَقُتِلُواْ لَأُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَلَأُدۡخِلَنَّهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ ثَوَابٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلثَّوَابِ ١٩٥

[۱۹۵]- نو الله په ځواب كې ورته وفرمايل: زه د هيڅ عمل كوونكي عمل نه ضائع كوم؛ كه نارينه وي او كه ښځينه؛ تاسو ټول يو له بل يئ؛ نو هغه چې هجرت ئې وكړ، له خپل كور كلي وايستل شول، زما په لار كې وځورول شول، وجنگېدل او ووژل شول؛ نو هرو مرو به ئې سيئات محوه كړم او حتماً به ئې په هغو جنتونو كې داخل كړم چې وياله ترې لاندي بهېږي، د الله له لوري يوه بدله؛ او له الله سره خو ښايسته بدله شته.

(۱۹۵)- گورئ چې الله تعالی د دوی د دعاء تر سره کېدا او قبلېدا په څه پورې مشروط کړې؟ د کومو کومو کارونو په کولو سره د ابرارو مقام تر لاسه کولی شي او جنت ته رسېدلی شي؟ دوی (۵) غوښتنې درلودې او الله تعالی (۵) شرطونه ایښي چې دا دي:

- هجرت.
- د ظالمانو او کافرانو په لاس له خپل کور کلي شړل کېدا.
- د الله په لار کې له کړاوونو او ځورونو سره مخامخ کېدا.
- د الله په لار کې جنګېدل.
- شهادت.

ځوك چې دې کارونو ته تیار شي نو الله ورسره دوه وعدې کوي:

- سیئات ئې محوه کوي.
- جنت ته ئې داخلوي.

که دا پنځه شرائط د هغو پنځو غوښتنو په څنګ کې کښېږدو او وګورو چې کوم ئې د کومې دعاء د قبلېدو او د کومې غوښتنې د تر سره کېدو شرط ګڼل شوی نو نتیجه به ئې دا وي:

- هجرت د ګناهونو د مغفرت وسیله ده، پیغمبر علیه السلام همداسې فرمایي چې هجرت له هجرت مخکې ټول ګناهونه محوه کوي.

عن عمرو بن العاص قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم «أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْإِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ وَأَنَّ الْهِجْرَةَ تَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهَا وَأَنَّ الْحَجَّ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ؟» مسلم

اې عمرو! مګر نه پوهېږې چې اسلام ټول هغه (ګناهونه) محوه کوي چې ترې مخکې وو او هجرت ټول هغه چې ترې مخکې وو او حج ټول هغه چې ترې مخکې وو.

- له خپل کور کلي اخراج د اصلاح او تربیت ذریعه ده.
- د الله په لار کې له کړاوونو سره مخامخ کېدل د تمحیص او د ابرارو مقام ته د رسېدو سبب دئ.
- د الله په لار کې جنګېدل؛ د هغو الهي وعدو د تر سره کېدو ضامن دئ چې الله د خپلو پیغمبرانو له لارې له مؤمنانو او مجاهدینو سره کړې.
- او شهادت د قیامت د ورځې له رسوایي د نجات ذریعه ده.

د دې آیت په رڼا کې دې هغه اشخاص او ډلې خپله عقیده، ایمان، تګلاره او اخروي پایله وڅېړي چې له باطل سره روغه جوړه کوي، د کفر تر سلطې لاندې ژوند کوي، په تګلاره کې ئې د هجرت، جهاد او شهادت صیغې نشته، دی د دښمن واکمنې منې او دښمن

د ده وجود زغمي، نه دی له کفري ځواکونو سره جنګېږي او نه هغوی د ده په خلاف د جنګ ضرورت احساسوي. دوی مه ابرار ګڼه او مه د جنت حقدار، دوی په هغو کسانو کې شامل نه دي چې الله ورسره دوه وعدې لري: د ابرارو مقام ته به ئې رسوي او جنت به ئې په برخه کوي.

لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِى ٱلْبِلَٰدِ ﴿١٩٦﴾ مَتَٰعٌ قَلِيلٌ ثُمَّ مَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ﴿١٩٧﴾

[۱۹٦]- په ښارونو کې د کافر شوو لاندي باندي کېدل دي ونه غولوي. [۱۹۷]- دا ناڅیزه متاع ده، بیا ئې مېشت ځای د اور کنده ده؛ څومره بد هستوګنځی!!

(۱۹٦-۱۹۷)- داسي نه چې پر ښارونو د کفري ځواکونو سلطه او سیطره دي وغولوي؛ دې ته هیڅ اهمیت مه ورکوه، د دې عمر لنډ دئ او ارزښت ئې لږ او پایله ئې د دوزخ کنده؛ دغه ځو ورځني اقتدار ته باید له دغي زاویې وګورې، داسي ئې وګڼه لکه یوه تیاره شپه چې هرومرو پای ته رسي او رڼا به ورپسې راځي.

د دې آیت په مطلب هلته ښه پوهېدی شو چې مخکینی آیت مخصوصاً د هجرت او اخراج الفاظ ئې په پا م کې ولرو؛ همدغه مهاجر او له خپل کور کلي شړل شوو ته ویل شوي چې مبادا پر ښارونو د کفري ځواکونو سلطه او سیطره مو وغولوي؛ د دې هیڅ پروا مه کوئ، د دې عمر لنډ دئ او ارزښت ئې لږ، یوه تیاره شپه ئې وګڼئ چې حتماً پای مومي او خپل ځای رڼا ورځ ته پرېږدي، د دوی د ظالمانه اقتدار شپې لنډې دي، د دوی پایله په دنیا کې رسوایي او بیا په آخرت کې د دوزخ کنده ده، د دوی ځو ورځني اقتدار ته باید له دغي زاویې وګورئ؛ نه دا چې د دوی سیطره دي حواس پرېشان او له دوی سره روغي جوړې ته دي مائل کړي.

دې ته مو باید پام وي چې دا آیت له هغه آیت سره خاص تړاو لري چې د دې مضمون په سر کې راغلی (إِنَّ فِى خَلْقِ السمَوَٰتِ وَ الأَرْضِ وَ اخْتِلَٰفِ الَّيْلِ وَ النهَارِ لآيَٰتٍ لأُولى الأَلْبَٰبِ): یقیناً چې د آسمانونو او زمکي په پیدایښت کې او د شپې ورځي په تلو راتلو کې عقلمنو ته ډېري نښې دي.

لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْاْ رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنَّٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا

نُزُلًا مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ ۗ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ لِّلْأَبْرَارِ ﴿١٩٨﴾

[١٩٨]- خو هغه چې له خپل رب ئې تقوی کړې وي؛ دوی ته داسې جنتونه دي چې ترې لاندې ويالې بهېږي، تلپاته په هغه کې، د الله له لوري يوه مېلمستيا او څه چې له الله سره دي؛ هغه د ابرارو لپاره ډېر غوره دي.

(١٩٨)- متقيان به د ابرارو مقام ته رسوي، د تقوی په وجه له خپل کور کلي محروم شوي وو، په عوض کې به ئې جنت ورکړي، د الله په لار کې ئې د څو ورځو ژوند قرباني کړی وو په عوض کې به ئې تلپاته ژوند ورکړي، په دنيا کې رټل شوي او شړل شوي وو اوس به په جنت کې د الله مېلمانه وي؛ نو وواياست: څه به له لاسه ورکړئ چې تر هغه به غوره تر لاسه نه کړئ؟!

وَإِنَّ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَمَن يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُمْ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِمْ خَٰشِعِينَ لِلَّهِ لَا يَشْتَرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۗ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿١٩٩﴾

[١٩٩]- او له اهل کتاب ځيني هغه دي چې هم پر الله ايمان راوړي، هم پر هغه څه چې تاسو ته نازل شوی او هم پر هغه څه چې دوی ته نازل شوی، الله ته خاشع دي او د الله پر آيتونو ناڅيزه بيع نه پېري؛ دوی ته د خپل رب په خوا کې خپل اجر دئ؛ بې شکه چې الله ژر محاسبه کوونکی دئ.

(١٩٩)- په اهل کتاب کې ښه خلك هم شته؛ ښه ئې هغه دي چې لاندې صفات لري:

- پر الله ايمان لري.
- متعصب نه دي، د الله له لوري هر نازل شوی کتاب مني، که دا پر دوی نازل شوی وي او که له دوی پرته پر بل چا.
- الله ته خاشع دي.
- دين پلورونکي نه دي او دين په دنيا نه خرڅوي.

دا چې په قرآن کې دين پلورنې ته مکرر او ډېره زياته ګوته نيول شوې او کله هم چې د مذهبي مشرانو په اړه بحث کوي نو دې موضوع ته حتماً اشاره کوي؛ له دې معلومېږي چې د ديني دعوت په وړاندې ستر خنډ له هغو دين پلورونکو مذهبي مشرانو راولاړېږي چې د دين په جامه کې د دين دښمنان دي، له دين ئې دکان جوړ کړی او په ډېره ناڅيزه

بيع ئې خرڅوي.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱصۡبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٢٠٠﴾

[۲۰۰]- اې مؤمنانو! صبر کوئ او صابر اوسئ، اړيکې ټينګې وساتئ او تقوی وکړئ چې بريالي شئ

(۲۰۰)- دا آيت د سورې وروستی آيت او د سورې د ټولو مضامينو خلاصه ده. دلته د دريو خبرو توصيه شوې: صبر کول او د تل صابر اوسېدل، اړيکې مضبوطې ساتل او له الله تقوی کول؛ همدا ۳ خصلتونه د بريا عامل او د دنيا او عقبا د سعادت ضامن ګڼل شوي.

که د سورې په مضامينو کې غور وکړئ وبه ګورئ چې له لومړي آيت تر ديرشم آيت پورې د بحث موضوع د الله کتاب، د کتاب حقيقت او پر کتاب د ايمان غوښتنې دي، له يو ديرشم آيت تر ۱۰۰ آيت پورې د بحث اصلي موضوع پيغمبران، د پيغمبرانو حقيقت او پر دوی د ايمان تقاضی ده، له ۱۰۱ آيت تر ۱۱۹ آيت پورې له الله سره تعلق، د الله له کتاب سره تعلق او د مؤمنانو تر منځ تعلقاتو باندې بحث شوی او په ۱۲۰ آيت کې ويل شوي چې که صبر او تقوی ولرئ د دښمن هيڅ کېد او تدبير تاسو ته هيڅ تاوان نه شي رسولی او له دې وروسته د سورې تر پايه د دغې سترې خبرې د اثبات لپاره مثالونه او عملي بېلګې وړاندې شوې، د احد پر جنګ تبصره، د ابتدائي بريا او د بعدي ماتې عواملو ته ئې اشاره هم د دغه حقيقت د اثبات لپاره تر سره شوې او د بحث په پای کې ګورئ چې د متقيانو نېك عاقبت بيان شوی او ورپسې د اهل کتاب يوه متقي ډله د (خاشعين لله) په نامه ياده شوې او ويل شوي چې اجر ئې د خپل رب په خوا کې خوندي دئ.

له دې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې په دې وروستي آيت کې د (يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱصۡبِرُواْ وَصَابِرُواْ) فقره د سورې د لومړۍ برخې او د هغو مضامينو خلاصه ده چې له لومړي آيت تر ۱۰۰ آيت پورې څېړل شوي، د (رَابِطُواْ) فقره ئې د دوهمې برخې او د هغو مضامينو خلاصه ده چې له ۱۰۱ آيت تر ۱۱۹ آيت پورې څېړل شوي او د (وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ) فقره ئې د درېيمې برخې او د ټولو هغو مضامينو خلاصه ده چې له ۱۲۰ آيت د سورې تر پايه څېړل شوي.

که وغواړو د دې مبارکې سورې ټول پراخ، ژور او با عظمته مضامين د دغه وروستي آيت په رڼا کې راخلاصه کړو نو نتيجه به ئې دا وي: که د الله د کتاب په حقيقت پوه

شوئ، په هغه مو ایمان راوړ، د هغه په مقتضی مو عمل وکړ، په لارښوونو ئې د عمل کولو په دوران کې مو هره شېبه او دوامداره صبر وکړ او د الله د پیغمبرانو په حقیقت پوه شوئ، پر هغوی مو ایمان راوړ، د دوي په اړه له غلطو خیالاتو مو ځان وساتو، په عمل کې مو د دوی متابعت وکړ، د دوی په متابعت کې مو هره شېبه او دوامداره صبر وکړ، که مو له الله سره خپل تعلق مضبوط وساتو، تل او د ژوند په ټولو امورو کې مو د الله په دین منگولې ټینگې ونیولې، په خپلو کې مو وحدت او یووالی وساتو او وېره مو له الله وه او له هغه څه مو ځان وساتو چې الله ترې منع کړي یاست؛ نو مطمئن اوسئ چې د دنیا بریا او د آخرت سعادت او فلاح به مو حتماً په برخه کېږي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

# النساء

## د سورې پېژندنه:

د دې سورې نوم النساء دئ، دا د سورې نوم دئ نه عنوان، ۱۷٦ آیتونه لري، په مدینه کې نازله شوې، د سورې له مضامینو معلومېږي چې دا به په هغې مرحلې کې نازله شوې وي چې:

- قتال فرض شوی وو.
- د سِریو د لېږلو تر څنگ د مخامخ جگړو مرحله هم رارسېدلې وه او الله تعالی د دې اجازه هم ورکړې وه.
- مسلمانان د یتیمانو او کونډو له ستونزې سره مخامخ وو او دې مسئلې له دوی د حل لار غوښته.
- یهودان لا په مدینه کې موجود وو او له دوی سره د نښتو لړۍ نه وه پیل شوې.
- د جنگ ډېر بحراني حالت وو، مسلمانانو ته ویل شوي وو چې تل خپل احتیاطي تدابیر په پام کې ولرئ، له دښمن غافل نه شئ، بې ضرورته وسله له ځانه لري نه کړئ، هره شېبه د دښمن له لوري د یوې ناڅاپي حملې احتمال ورکړئ.

له دغو خبرو دا اټکل کولی شو چې دا مبارکه سوره له مدینې د بني نضیر د یهودي قبیلې له ایستلو مخکې او د احد د جگړې شا وخوا موده کې نازله شوې. دا ځکه چې له

يوې خوا دا بحراني حالت د احد له جګړې وروسته راپيدا شو او له بلې خوا د يتيمانو او کونډو ستونزه هم له دغې جګړې وروسته رامنځته شوه او له يهودانو سره د نښتو لړۍ هم د بني نضير له ايستلو وروسته پيل شوه.

د سورې لومړی آيت د ښځو او يتيمانو په اړه د مفصل بحث لپاره د يوې جامع او دقيقې مقدمې په توګه وايي: ستاسو رب يو دئ، له يوه نفس ئې پيدا کړي يئ، له دغه نفس ئې د ده جوړه پيدا کړه او همدا لومړنۍ جوړه د انسانانو د نژاد او نسل د خورېدو ذريعه شوه. په دې سره انسانان يوه ستر حقيقت ته متوجه کوي او ورته وايي: د انسانانو نسل او نژاد يو دئ، د يوې کورنۍ غړي دي، په رګونو کې ئې يوه وينه خوځېږي، نيا او جد ئې يو دئ، دا د بې عدالتۍ، نژادي تعصباتو او ټولو هغو غلطو انګېرنو جرړې باسي چې يو قوم پر بل قوم او يو ملت پر بل ملت ځان غوره ګڼي، ځان ته د لوړ توکم او بل ته د ټيټ او پرېوتي توکم په سترګه ګوري.

له لومړي آيت تر ٤٣ آيت پورې د ښځو، يتيمانو، کونډو، مهر، ميراث، جنسي بې لاريتوب او سزا ئې، کونډې ميراث نه ګڼل، د مهر بېرته تر لاسه کولو هڅه نه کول، هغه خپلوان چې په خپلو کې ئې نکاح حرامه ده، په کورني ژوند کې د ښځې او نارينه ونډه او مقام، د ښځې او مېړه تر منځ د لانجو د آوارولو لارې چارې او په پای کې د غسل او تيمم په اړه لارښوونې شوې؛ خو په داسې توګه چې د بحث په ضمن کې ګڼ شمېر نور اړوند مسائل هم څېړل شوي او مناسبې لارښوونې شوې.

بيا له ٤٤ آيت تر ٥٧ آيت پورې د اهل کتاب ګڼ شمېر قبيح او شنيع اعمال په ګوته شوي او دا د دې لپاره چې مسلمانان د دوی په څېر نه شي او له دغو عملونو ډډه وکړي، په دې بحث کې د اهل کتاب دا بد بد عملونه په ګوته شوې: له دين ئې پوهه او علم ناقص او نيمګړی وو، په خپله بې لارې شوي وو او د نورو د بې لارې کولو هڅه ئې کوله، د الله په دين کې ئې تحريف کاوو، د منافقت لار ئې غوره کړه، په ظاهر او باطن کې ئې ژور توپير وو، د شرك مرتکب شول، په داسې حال کې چې په ګناهونو کې غرق وو خو ځان به ئې ستايو، د خپلو غلطيو لپاره به ئې مذهبي توجيهات راوړل، پر الله تعالی او د ده پر دين ئې افتراء کوله، په اوهامو او خرافاتو ئې باور وو، د ظالمو حکامو په خدمت کې ول او کافران ئې تر مؤمنانو غوره ګڼل.

وروسته له ٥٨ آيت تر ٧٠ آيت پورې د اسلامي نظام څو اساسي اصول او مباني بيانوي او فرمايي: امانت اهل ته وسپارئ، د خلکو تر منځ په عدالت حکم کوئ، منازعات مو الله او د هغه رسول ته محول کړئ، د هغه چا ايمان نه قبلېږي چې خپلې شخړې د حل و فصل

لپاره طاغوت ته راجع کوي، داسي کسان مؤمنان نه بلکي منافقين دي، يوازي د هغه چا ايمان د منلو دئ چي خپل منازعات دين ته محول کړي، د دېن په حکم راضي او ورته تسليم وي.

له ٧١ آيت تر ١٠٤ آيت پوري د جهاد او د جهاد اړوند مسائلو په اړه ډېر جامع بحث شوی، د احتياطي جنگي تدابيرو په اړه، د منافقينو په ارتباط، دا چي څوك د الله په لار کي د جهاد وړتيا لري، د الله په لار کي او د مظلومانو د ژغورني په اړه د يوه مؤمن او مسلمان ديني مسئوليتونه کوم دي، د جهاد په ارتباط مؤمن څه کوي او منافق څه، د منافقينو په اړه څه کول په کار دي، له دښمن سره د معاهدو څنگه التزام وشي، څوك چي له مسلمانانو سره د جنگ اراده نلري څه معامله ورسره وشي، دا احتياط کول چي په جنگونو کي هغو مؤمنانو ته تاوان ونه رسېږي چي د دښمن تر سلطې لاندي سيمو کي اوسېږي، د هغه چا سزا چي کوم مؤمن قصداً وژني، د مجاهد او قاعد د مقام او منزلت تر منځ ژور توپير، د هغه چا بد عاقبت چي له هجرت ډډه کوي او د کفر تر سلطې لاندي ژوند کول غوره گڼي، مهاجرينو ته ډاډ ورکول، د سفر او خوف په حالت کي د لمانځه څرنگوالی او په پای کي د دښمن په مسلسل تعقيب کي د ستړيا او ستوماني احساس نه کول؛ د دې بحث اساسي موضوعات دي.

ورپسې له ١٠٥ آيت تر ١٢٦آيت پوري د خلکو تر منځ د قضاوت او حکميت په اړه دا توصيې شوې: د الله د دين مطابق حکم وکړئ، له خائن کس دفاع مه کوئ، د گنهگار په گټه له مجادلې ځان وساتئ، د ايمان تقاضی دا ده چي په خپلي گناه اعتراف وکړئ او له الله بخښنه وغواړئ، مبادا په خپلي گناه بل تورن کړئ، له هغو جرگو او مرکو ډډه وکړئ چي له يوه ظالم او گنهگار د حمايت په لړ کي جوړېږي، د هغه چا عاقبت ډېر وخيم دئ چي د اسلام او مؤمنانو له لاري پرته بله لار ځان ته لټوي، مبادا گناه مو دې ته اړ کړي چي له سزا د ځان خوندي ساتلو لپاره دين ته شا کړئ او اسلام پرېږدئ، الله تعالی له شرك پرته هره گناه بخښي، دا شيطان دئ چي تاسو گناه او شرك ته هڅوي، هغه د دې خبري لوړه کړې، په دې پوه شئ چي د الله په دين کي اعتبار ايمان او عمل ته ورکول کېږي؛ نه ادعاءگانو، هيلو او تمنياتو ته، په ديانت کي تر ټولو غوره انسان هغه دئ چي الله ته منقاد وي، نېك او صالح وي او د خپل جد ابراهيم په څېر حق ته مائل.

له ١٢٧ آيت تر ١٣٦پوري يو ځل بيا لومړي بحث ته راگرځي او د ښځو په اړه مزيد لارښووني زموږ مخي ته ږدي، د دوی په اړه قسط او عدل مراعاتول، که ښځه له مېړه شکايت لري د روغي جوړي هڅه کول او که روغه جوړه ممکنه نه وه په ښه توگه سره

ښېلیدل، تل په عدل قائم پاته کېدل او د الله لپاره حق شهادت ورکول، د عدل او شهادت په اړه د خپل هوی او هوس متابعت نه کول، د خپلوۍ، طمعي او ترحم له کبله عدالت او حق شهادت ترېښنو نه لاندي کول.

له دې وروسته تر ۱۵۲ آیت پوري بیا د منافقینو په ارتباط مزید څرګندوني شوې: دوی کله د ایمان لوری نیول ځان ته ګټور وګڼي او کله د کفر لوری، له کافرانو سره دوستي کوي، د هغوی خوا ته عزت لټوي، په داسي مجالسو کې کښېني چي د الله په آیتونو ملنډې وهل کېږي، که برې د مسلمانانو په برخه شي ځان د دوی له ډلي ګڼي او که د کافرانو په برخه شي هغوی ته ځان مخلص او وفادار ثابتوي، له الله سره خدعه کوي، په لمانځه کې کسل او سست دي، هر کار ئې د ځان ښودني په موخه وي، د کفر او ایمان تر منځ مذبذب دي، له الله سره ئې اړیکې سستي دي، غواړي په الله ایمان له عملي اطاعت ښېل کړي، دا دواړه لازم او ملزوم نه ګڼي.

ورپسې تر ۱۷۵آیت پوري د اهل کتاب ذکر د مخکیني بحث لپاره د یوې عملي ښېلګي په څېر راځي، خارق العاده معجزې غوښتل، (غائب الله) نه منل او پر ځای ئې (حاضر سخوندر) معبود نیول، خپلي ژمني ماتول، د پیغمبرانو مخالفت او حتی د دوی وژلو ته ملا تړل، د خپل جعلي مذهب په نسبت شدید ړوند تعصب، ظلم، د الله له لاري د خلکو راګرځول، سود او د خلکو مال په ناحقه خوړل، په دین کې غلو، شرك، همغه پیغمبر چي پرون ئې د ده د وژلو هڅه کوله اوس هغه په الوهیت کې شریکول، خدای او د خدای ځای ناستی ترې جوړول.

د سورې په پای کې د لومړي بحث د تکمیل لپاره د هغه چا د میراث وېش توضیح کوي چي په وارثانو کې ئې نه پلار وي او نه اولاد.

ابن جریر د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دا قول نقل کړی چي ویلي ئې دي: د النساء په سوره کې پنځه آیتونه داسي دې چي په ټولي دنیا او ما فیها به ئې بدل نه کړم او هغه دا دي:

۱- إِن تَجْتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُم مُّدْخَلًا كَرِيمًا﴿٣١﴾ النساء

که مو له هغو سترو (ګناهونو) ډډه وکړئ چي ترې منع شوي یئ؛ نو بد بد به درنه ورژوو او د ننوتو په عزتمن ځای کې به مو داخل کړو.

۲- إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍۖ وَإِن تَكُ حَسَنَةً يُضَٰعِفْهَا وَيُؤْتِ مِن لَّدُنْهُ أَجْرًا

عَظِيمًا﴿٤٠﴾ النساء

بې شکه چې الله د يوې ذرې په اندازه هم ظلم نه کوي او که هغه کومه ښېګڼه وي نو دوه برابره به ئې کړي او له خپل لوري به ستره بدله ورکړي.

٣- ... وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمْ جَآءُوكَ فَٱسْتَغْفَرُواْ ٱللَّهَ وَٱسْتَغْفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُواْ ٱللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا﴿٦٤﴾ النساء

... او که دوی هغه وخت درته راغلي وی چې پر خپل ځان ئې ظلم کړی وو، بیا ئې له الله مغفرت غوښتی وی او پیغمبر هم ورته بخښنه غوښتې وی؛ نو الله به ئې مهربان توبه منونکی موندلی وو.

٤- وَمَن يَعْمَلْ سُوٓءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُۥ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ ٱللَّهَ يَجِدِ ٱللَّهَ غَفُورًا رَّحِيمًا﴿١١٠﴾ النساء

او چا چې کوم بد عمل وکړ او یا ئې پر خپل ځان ظلم وکړ، بیا ئې له الله بخښنه وغوښته نو الله به مهربان بخښونکی ومومي.

٥- إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفْتَرَىٰٓ إِثْمًا عَظِيمًا﴿٤٨﴾ النساء

یقیناً چې الله دا نه بخښي چې له ده سره شرك وشي او له دې راکوز هر څه هغه چا ته بخښي چې وئې غواړي او چا چې له الله سره شرك وکړ نو یقیناً چې په ژور ضلالت سره بې لاري شوی.

---

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَآءً ۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلْأَرْحَامَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ﴿١﴾

[١]- اې خلکو! له خپل هغه رب ووېرېږئ چې له یوه نفس ئې پیدا کړئ او له هغه ئې د ده جوړه پیدا کړه او له دواړو ئې ډېر نارینه او ښځې خواره کړل؛ هم د هغه

**الله په نسبت تقوی ولرئ چي په خپلو کي غوښتني پرې کوئ او هم د خپلوۍ په اړه؛ بې شکه چي الله ستاسو څارونکی دئ.**

(۱)- په دې آيت کي څو اساسي مطالب راغلي:

- د ټولو انسانانو خالق او پالونکی يو دئ.
- د ټولو انسانانو پيدايښت له يوه نفس پيل شوی، له همدې يوه نفس د ده جوړه پيدا شوې او بيا له دې دواړو د انسانانو د خورېدو لړۍ پيل شوې، د انسانانو پلار، مور يوه جوړه ده، په رګونو کي ئې يوه وينه ده، نسب ئې يو دئ، د يوې کورنۍ غړي دي، داسي نه ده چي نسلونه ئې بېل بېل او په نسب کي يو له بله بېل وي، داسي نه ده چي د نړۍ په بېلو بېلو سيمو کي بېل بېل نسلونه راپيدا شوي وي، د تور پوستو پلار بېل او د سپين پوستو بېل وي، عرب له يوه پلار او عجم له بل پلار پيدا شوي وي.
- د هغه چا پروا ولرئ چي ستاسو خالق او پالونکی دئ، ستاسو د ټولو غوښتنو مرجع ده، ستاسو اړتياوو ته ځواب وايي، ستاسو ضرورتونه رفع کوي، يو له بل ستاسو غوښتنه هم د ده په نامه وي.
- په خپلمنځي تعلقاتو کي بايد دې ته متوجه وئ چي تاسو ټول په حقيقت کي د يوې کورنۍ غړي يئ، د دغي خپلوۍ خيال وساتئ. ځان تر بل لوړ مه ګڼئ، خپل ورور ته د حقارت په سترګه مه ګورئ او پرخپل ورور ظلم مه کوئ.
- معامله مو له هغه رب سره ده چي ستاسو د ټولو کړنو څارنه کوي.

که څه هم ځينو مفسرينو له (ارحام)؛ هغه ذوي الارحام مراد کړي چي نژدې خپلوان ګڼل کېږي، خو د آيت له لومړۍ برخي په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي له دې هغه عامه خپلوي مراد ده چي د ګډ مور پلار په وجه د ټولو انسانانو تر منځ شته. همدا راز (تسائلون)، يو له بل غوښتل او ډېر او مکرر غوښتل افاده کوي، موږ هر څه د الله د نامه په يادولو سره غواړو، يو له بل هم او له دې پرته هم، دا د ټولو انسانانو په فطرت کي ايښودل شوي، هندو او بودائي د بت خوا کي، مسيحي د مريم او عيسی عليهما السلام د مجسمو خوا ته، زردشتيان د اور په څنګ کي د خدای په نامه سؤالونه کوي، له خدای سؤال کول ئې د فطرت په حکم سره دئ خو د الله په پېژندو کي دوکه شوي.

له نفس واحد؛ ځينو دا معنی اخيستې چي تاسو ئې له يوه جنسه پيدا کړي يئ، د ټولو د پيدايښت ماده يوه ده او له يوه جنسه پيدا شوي يئ؛ خو دقيقه معنی ئې دا ده چي له يوه نفس ئې د هغه جوړه پيدا کړه او بيا له دوی دواړو ئې د دوی اولاد.

د آيت له الفاظو په صراحت سره معلومېږي چي لومړی يو نفس پيدا شوی او بيا له

همدې یوه نفس یوه جوړه (نر او ښځه) جوړه شوې او بیا له دې جوړې د انسانانو د تناسل او توالد لړۍ پیل شوې. د انسانانو د پیدایښت په اړه د قرآن دا بیان هغه واهي او بې بنسټه نظریه له بنیاده ردوي چې انسانان په مختلفو نسلونو وېشي او د هر نسل او نژاد لپاره بېل بېل اجداد ثابتوي.

په دې مبارك آیت سره یوې اساسي پوښتني ته ځواب ویل شوی؛ له هر چا سره دا پوښتنه شته چې د انسانانو پیدایښت څنګه پیل شوی؟ له یوه مور پلار که له بېل بېل؟ که دا لومړۍ جوړه یوه وي یا بېلې بېلې وي، پیل ئې څنګه وو؟ له سره یوه مکمله جوړه پیدا شوې؛ که ورو ورو ئې له یوه حالته بل ته ارتقاء کړې؟ له انسان علاوه د نورو ژوو، مخصوصاً هغه چې د انسانانو په څېر له مور پلار پیدا کېږي؛ د پیدایښت لړۍ څنګه پیل شوې؟ کوم سؤالونه چې د انسان د پیدایښت په اړه مطرح دي د نورو ژوو په اړه هم مطرح دي. په دې مبارك آیت کې دا پوښتنه ځواب شوې. له دې آیت معلومېږي چې انسان له لومړي سره انسان پیدا شوی، یو نفس په یوې جوړې بدل شوی او بیا له همدې جوړې د ده د نسل سلسله پیل شوې او دا ځواب موږ ته دا لارښوونه کوي چې د نورو ژوو د پیدایښت لړۍ به هم دې ته ورته وي، د هري نوعي لپاره به لومړی یو نفس پیدا شوی وي؛ بیا له دې یوه جوړه او بیا دغه جوړه ئې د توالد او تناسل ذریعه.

دا آیت وایي چې د انسانانو لومړۍ جوړه؛ آدم او حواء علیهما السلام له واحد نفس او یوه ژوندي مخلوق پیدا شوي، داسي نه چې دوه بېلې بېلې مجسمي جوړي شوې وي او بیا په دواړو کې روح پو شوې وي!!

د دې آیت دقیقه تشریح او له (واحد نفس) د ده د جوړې د پیدایښت څرنګوالی په لاندي آیت کې بیان شوی:

وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَٰجًاۚ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِۦۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِى كِتَٰبٍۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١١﴾ فاطر

او الله تاسو له خاوري راپیدا کړئ، بیا له نطفې، بیا ئې جوړه جوړه کړئ؛ نه کومه ښځینه څه حمل کوي او نه ئې زېږوي، مګر د ده په علم سره او نه د کوم عمر خاوند عمر ورزیاتېږي او نه ئې عمر کمېږي مګر دا چې په کتاب کې (ثبت) دي او دا کار الله ته آسان دئ.

له دغه آیت څو خبري په ډېر وضاحت سره معلومېږي:

- د انسان د پيدايښت لومړۍ ماده خاوره ده.
- له خاوري د ده نطفه جوړه شوې.
- بيا له دغي نطفې د ده جوړه پيدا شوې. يعني هغه (واحد نفس) دغه له خاورو جوړه شوې نطفه وه چي له هغې ئې د ده (زوج او جوړه) پيدا کړه او بيا له دغي جوړې د ده د نسل د پيدا کېدو لړۍ پيل شوې.

د دې مبارك آيت له دغه قاطع او صريح بيان سره سره چي څوك په دې خبري کي شك کوي چي د آدم عليه السلام پيدايښت له نطفې پيل شوی؛ هغه به په قرآن باور نلري او د الله تعالى د قول په مقابل کي به د بل چا قول ته اعتبار ورکوي!!

په دې آيت کي د قرآن يو بل علمي اعجاز زموږ مخي ته راځي؛ د ساينس په نړۍ کي تر نولسمي پېړۍ پوري څوك په دې نه پوهېدو چي کېدی شي يو ژوندی مخلوق په دوو ژوو تجزيه شي، دا ئې محال گڼله؛ خو په نولسمي پېړۍ کي په دې پوه شو چي په ژونديو مخلوقاتو کي ځيني داسي هم شته چي تکاثر ئې د نر ښځي د إلقاح له لاري نه وي؛ بلکي يو موجود په دوو تجزيه شي؛ آميب ئې يو مثال دئ. او په شلمه پېړۍ کي دا حقيقت ورته څرگند شو چي د انسان په وجود کي هم د ځينو حجراتو تکاثر د همداسي تجزيې له لاري تر سره کېږي؛ په رحم کي لومړۍ جوړه شوې نطفه د همداسي تجزيې له لاري په ٢-٤-٨-١٦ .... تجزيه کېږي او زياتېږي.

د نورو ژوو پيدايښت هم بايد د الله تعالى د عام سنت مطابق؛ همداسي له بېلي بېلي نطفې پيل شوی وي.

د آدم او حواء عليهما السلام د پيدايښت په اړه اسرائيلي روايات دا وايي چي: لومړی د آدم مجسمه او کالبوت جوړ شوی؛ بيا په اور ايښودی شوی؛ (داسي لکه کوم کُلال چي خاوره ختې کړي، لوښي او مجسمې ترې جوړي کړي، په اور ئې کښېږدي او پخې ئې کړي) کله چي د آدم مجسمه پخه شوه نو روح په کي پو شوه او آدم راژوندی شو او بيا له پاته ختې يا د آدم له پوښتۍ د ده جوړه پيدا کړی شوه.

په عامو مسلمانانو او حتی مفسرينو کي ځيني د دغو رواياتو تر اغېز لاندي تللي او چېري چي ئې کوم متشابه لفظ تر سترگو شوی نو هغه ئې د دغو اسرائيلي رواياتو په اساس تعبير کړی.

د مثال په توگه دغه حديث:

فَإِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ، وَإِنَّ أَعْوَجَ شَيْءٍ فِي الضِّلَعِ أَعْلَاهُ، إِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهُ كَسَرْتَهُ فَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَبِهَا عِوَجٌ. مصنف إبن أبى شيبه

ښځه له پوښتۍ پيدا شوې؛ د پوښتۍ تر ټولو کوږ ځای ئې د هغې لوړه وي؛ که دې دا هڅه وکړه چې هغه سمه کړې نو ماته به ئې کړې او که غواړې ګټه ترې واخلې نو په داسې حال کې به ترې ګټه اخلې چې کوږوالی به په کې وي.

دلته نه د حواء عليها السلام نوم ذکر شوی او نه دا ويل شوې چې دا د آدم عليه السلام له پوښتۍ پيدا شوې، نه؛ ويل شوي چې هره ښځه له پوښتۍ پيدا شوې او دا بديهي خبره ده چې ټولې ښځې د سړو له پوښتيو نه دي پيدا شوې، ښځې د نارينه په څېر د مور پلار له نطفو پيدا کېږي، نو له پوښتۍ د ښځو د پيدايښت معنی دا نه ده چې د پوښتۍ هډوکی د ښځو د بدن ماده ده؛ بلکې په دې سره د ښځو فطري او روحي جوړښت ته اشاره شوې؛ د دې حديث وروستۍ برخه په خپله د دې وضاحت کوي؛ ټولو محققينو ويلي چې په دې سره د ښځو په طبيعت کې هغو ځانګړتياوو ته اشاره شوې چې نارينه ئې بايد تحمل کړي او دا هڅه ونکړي چې هغه حتماً رفع شي؛ لکه دا چې هغه ډېره حساسه ده، عاطفه ئې ځواکمنه او تر نارينه قوي ده، ژر ناراضه او مروره کېږي، اوښکې ئې باڼوګانو ته نژدې دي، ګاڼه او سينګار خوښوي؛ او له پوښتۍ پيدا کېدا ئې داسې ده لکه د الانبياء په سوره کې چې د انسان د پيدايښت په اړه راغلي:

خُلِقَ ٱلْإِنسَٰنُ مِنْ عَجَلٍۚ سَأُو۟رِيكُمْ ءَايَٰتِى فَلَا تَسْتَعْجِلُونِ ﴿٣٧﴾ الانبياء

انسان له تلوار او عجلې پيدا شوی؛ ژر به خپل آيتونه دروښيم؛ نو عجله مه کوئ.

هر څوك پوهېږي چې دلته له تلوار او عجلې د انسان پيدايښت هيڅکله دا معنی نلري چې عجله او تلوار کومه ماده ده او انسان له دغې مادې پيدا شوی، معنی ئې له دې پرته بل څه نه ده چې انسان عجول او بېړنی پيدا شوی، په فطرت او خټه کې ئې عجلت او تلوار ايښودل شوی، په حديث کې هم له ضلعې د ښځې پيدايښت دې ته ورته معنی لري.

همغسې لکه چې په دې روايت کې راغلي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْمَرْأَةُ كَالضِّلَعِ، إِنْ أَقَمْتَهَا كَسَرْتَهَا، وَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَفِيهَا عِوَجٌ» البخاری

له ابو هريره روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: ښځه داسې ده لکه پوښتۍ، که دې هڅه وکړه چې سمه ئې کړې نو ماته به ئې کړې او که غواړې ګټه ترې واخلې نو په داسې حال کې به ترې ګټه اخلې چې کوږوالی به په کې وي.

ښځه خپلې فطري ځانګړتياوې لري، همدا ورسره ښايي، د دغو ځانګړتياوو د تغيير هڅه به نه کوې؛ داسې هڅه د ګټې پر ځای تاوان کوي، د ښځې عاطفه قوي ده، ژر او په

ډېر کم څه خفه کېږي اوښکې ئې بانوگانو ته نژدې دي، ژر په ژړا شي، دې ته ورته نوري ځانگړتیاوي لري، دا ئې په فطرت کې ایښودل شوې، دا له ښځو سره ښایي، هر څومره چې د کومې ښځې عاطفه قوي وي؛ همدومره به هغه غوره ښځه وي، له خپل اولاد سره به ئې زیاته مینه وي، ښه پالنه به ئې کوي، له خپل مېړه سره به ئې محبت زیات وي، نارینه باید دا کوړوالی تحمل کړي او بې ځایه ئې د سمولو هڅه ونکړي. د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا توصیه او سپارښتنه اصلاً په دې ارتباط راغلې چې له مېرمنو سره باید ښه سلوك وشي او ځانگړتیاوي او نیمگړتیاوي ئې وزغمل شي؛ که نه نو د هغې په طلاق به منتج کېږي. خو متأسفانه ځینو له دې غلط مفهوم اخیستی، گمان ئې کړی چې حواء د آدم علیه السلام د پوښتۍ له هډوکي پیدا شوې. د دې غلطي انگېرنې سبب هم هغه اسرائیلي روایات دي چې په دې اړه خواره شوي.

او یا لکه د یوه حدیث دا الفاظ: لَمَّا صَوَّرَ اللهُ آدَمَ: کله چې الله تعالی آدم ته صورت ورکړ.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَمَّا صَوَّرَ اللهُ آدَمَ فِي الْجَنَّةِ تَرَكَهُ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَتْرُكَهُ، فَجَعَلَ إِبْلِيسُ يُطِيفُ بِهِ، يَنْظُرُ مَا هُوَ، فَلَمَّا رَآهُ أَجْوَفَ عَرَفَ أَنَّهُ خُلِقَ خَلْقًا لَا يَتَمَالَكُ» رواه مسلم

له انس بن مالك روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: کله چې الله تعالی آدم ته په جنت کې صورت ورکړ نو تر هغه ئې پرېښود چې الله غوښتل؛ نو ابلیس لگیا شو پرې راتاوېدو؛ چې وگوري دا څه دئ؛ نو کله چې ئې هغه اجوف (په منځ کې تش) ولیدو پوه شو چې دی داسې پیدا شوی چې د ځان سمبالولو او اداره کولو توان نه لري.

دوی آدم ته صورت ورکول داسې تعبیر کړی چې گواکې الله تعالی د ده مجسمه جوړه کړه، همغسې لکه اسرائیلي روایات چې وایي؛ حال دا چې قرآن د ټولو انسانانو د پیدایښت په اړه همدغه لفظ کارولی، لکه چې فرمایي:

هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ كَيۡفَ يَشَآءُۚ ... آل عمران

الله هغه ذات دئ چې تاسو ته ئې د میندو په رحم کې صورت درکړ.

آیا دلته د مور په رحم کې انسان ته صورت ورکول؛ دا معنی لري چې د هغه مجسمه ئې له خټې جوړه کړه؟ د قرآن د آیتونو له مخې خو آدم علیه السلام ته صورت ورکول داسې دي لکه د ده اولاد ته چې الله صورت ورکوي او په ده کې روح پو کول همغسې لکه د ده اولاد ته چې د مور په رحم کې روح ورکوي.

ثُمَّ جَعَلَ نَسۡلَهُۥ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن مَّآءٖ مَّهِينٖ ۝٨ ثُمَّ سَوَّىٰهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِن رُّوحِهِۦۖ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۚ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ۝٩ السجدة

بيا ئې د ده نسل د سپکو اوبو له نچوړ پيدا کړ؛ بيا ئې برابر کړ او په هغه کې ئې خپله روح پو کړه او تاسو ته ئې غوږ، سترګې او زړونه درکړل، ډېر لږ شکر کوئ.

د پورتني روايت په اړه بايد دا مطالب په پام کې ولرو:

- دا روايت ډېر غريب دئ؛ په صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو کې يوازې يو يو راوي لري چې أنس بن مالك، ثابت البناني او حماد بن سلمة دي.
- په قرآن کې د دې لپاره نه يوازې هيڅ شاهد نه مومو بلکې د انسان د پيدايښت په اړه د قرآن له وينا سره اړخ نه لګوي.

آيات او احاديث خو دا خبره کوي چې د آدم عليه السلام اولاد هم داسي پيدا کېږي چې نطفه وي، علقه شي، د غوښې يوه ټوټه شي، صورت ورکړی شي، روح په کې پو شي، د ماشوم په څېر دنيا ته راشي، ځوان شي، زوړ شي او په مرګ محکوم شي. آدم عليه السلام خو د دوی جد دئ؛ ولې به ده ته صورت ورکول او په ده کې د روح پو کول؛ د ده له اولاد توپير ولري؟!! قرآن خو دواړه ورته ګڼي او په ورته الفاظو ئې بيانوي، يوازي دا توپير په ګوته کوي چې آدم عليه السلام له مور او پلار پرته پيدا شوی؛ دا دوی ولې له خپلي خوا د نورو توپيرونو راپيدا کولو هڅه کوئ؟!!

او يا لکه د قرآن دغه آيت:

قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسۡجُدَ لِمَا خَلَقۡتُ بِيَدَيَّۖ ... ۝٧٥ ص

وئې ويل: اې ابليسه! څه شي هغه څه ته له سجدې کولو منع کړې چې ما په خپل لاس پيدا کړ.

دلته دوی د (خلقت بيدی) الفاظ د آدم عليه السلام په خاص او ځانګړي پيدايښت حمل کوي او وايي چې الله تعالی آدم عليه السلام په خپل لاس جوړ کړ!! حال دا چې په قرآن کې د نورو شيانو د خلقت په اړه هم دې ته ورته الفاظ راغلي:

أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا خَلَقۡنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتۡ أَيۡدِينَآ أَنۡعَٰمٗا فَهُمۡ لَهَا مَٰلِكُونَ ۝٧١ يس

لکه څنګه چې په دې آيت کې (ما عملت ايدينا) عام خلقت افاده کوي نه کوم ځانګړی او خاص خلقت او له دې هيڅوك دا غلطه معنی نه اخلي چې الله تعالی دغه شيان په خپلو لاسونو جوړوي، همدا راز له (خلقت بيدی) دا معنی اخيستل چې الله تعالی

په خپل لاس د آدم علیه السلام مجسمه جوړه کړه، لویه او قبیح اشتباه ده. دا اشتباه په هغه څوك کوي چي الله تعالی نه پېژني، په پیدایښت کې د ده سننو ته پام نه کوي، دا هره ورځ چي الله تعالی په کوم ترتیب مخلوقات پیدا کوي دا له پامه غورځوي، الله له انسان سره تشبیه کوي او هغه هم له یوه کُلال سره، په خپل ذهن کې ئې کُلال ته ورته کوم خدای انځور کړی او گمان کوي چي هغه به آدم علیه السلام دغسي په خپل لاس جوړ کړی وي لکه کُلال چي له ختې منگی جوړوي. ډېره ډېره عجیبه ده چي یو انسان هره ورځ په خپلو سترگو گوري چي الله تعالی خپل مخلوقات څنگه او په څه ترتیب پیدا کوي، څنگه ئې جوړوي، څنگه ئې له یوه حالت بل ته بیایي، خو سره له دې دومره ستره غلطي کوي او د آدم علیه السلام پیدایښت د الهي سننو خلاف او د یوه کُلال له کار سره ورته گڼې.

الله تعالی نه په ذات کې مِثل لري، نه په صفاتو کې او نه په افعالو کې، د پیدا کولو په فعل کې هم باید الله له مخلوق سره تشبیه نه کړو، څوك چي د الله تعالی د پیدا کولو فعل، د انسان له فعل سره تشبیه کوي او لکه څنگه چي انسان په خپلو لاسونو یو کار تر سره کوي، ختې راواخلي، خښتې ترې جوړې کړي، سر پر سر ئې کښېږدي او دېوال ترې جوړ کړي، که څوك د الله تعالی په اړه همداسي گمان وکړي هغه لویه اشتباه کړې او الله ئې له مخلوق سره تشبیه کړی. حال دا چي قرآن فرمایي: لیس کمثله شئ: الله ته ورته شيء نشته.

کله چي ما دا برخه لیکله، د یوه معروف کشیش، ادریان روجرز وینا مي اورېده چي د ډاروین په نظریې ئې سخته نیوکه کوله، هغه ئې د کلیسا خطرناك دښمن بالو او د ده دا خبره ئې په ډېر شدت او حدت سره ردوله چي انسان له بیزو ارتقاء کړې، د (ارتقاء)، (د بقاء لپاره نزاع) او (د اصلح د پاته کېدو) هغه درې نظریې ئې له بنسټه غلطي گڼلې چي ډاروین وړاندي کړې، ډاروین ته ئې د مجنون، لیوني او رواني بیمار خطاب کاوو او په دې خبري ئې ټینگار درلود چي الله انسان په خپلو لاسونو او خپل صورت ته ورته هیئت کې جوړ کړی، الله ئې د (پلار خدای) په نامه او عیسی علیه السلام ئې د خدای د زوی په نامه یاداوو او ویل ئې: مسیح زموږ لپاره خپلې وینې قرباني کړې او په صلیب وځړول شو چي ئې دغه وینه او قرباني د خپلو مسیحیانو د ټولو گناهونو لپاره فدیه شي!!

له ځان سره مي ویل: ښایي ډاروین دغو کشیشانو او د دوی خرافاتو د دغي نظریې وړاندي کولو ته اړ کړی وي، هغه خدای چي دوی ئې خلکو ته ښیي، د انسان په څېر خدای، د انسان پلار، هغه چي د عیسی په څېر زوی لري او یا د عیسی په څېر وړوکی شو،

دا ئې ومنله چې وينې ئې توی شي، په صليب وځړول شي، دا ټولې ملنډې پر ځان يا پر خپل زوی ومنې، انسان دې له ختې داسې جوړ کړې لکه کُلال چې منگی او مجسمه جوړوي، داسې خدای نه د ډاروين په څېر مجنون ته د منلو دئ او نه د مسيح عليه السلام په څېر پيغمبر ته، دوی ډاروين تکفير کړ او پلرونو ئې مسيح عليه السلام.

ډاروين او نظريه ئې په حقيقت کې د دوی د خرافاتو په ضد يو عکس العمل وو، دوی د خرافاتو په يوې انتهاء کې او هغه ئې په بلې انتهاء کې، انسان نه خدای دئ او نه بيزو، خدای خدای دئ، انسان انسان دئ او بيزو بيزو، نه ئې له بيزو ارتقاء کړې او نه داسې پيدا شوی چې لومړی ئې مجسمه د الله په بڼه او هغه ته ورته جوړه شوې، په اور ايښودل شوې، پخه شوې او بيا الله د خپلې روح يوه برخه په ده کې اچولې او راژوندی شوی!! نه؛ انسان، روح او جسم ئې مخلوق دي، يو ځانگړی مخلوق، له نورو ئې توپير په انسانيت کې دئ، نه په دې کې چې د خلقت ماده ئې بېله وي. که دا انسانيت ترې واخيستل شي نو نه يوازې يو حيوان دئ بلکې د حيواناتو ډېر بد حيوان دئ، د نورو په څېر له خاورې پيدا شوی، مرگ ژوند ئې داسې دئ لکه د نورو ژوو.

مسيح عليه السلام يوازينی هغه څوك نه دئ چې جاهلو قومونو د مغرضو او ټگمارو مذهبي مشرانو په وينا له هغه خدای او د خدای زوی جوړ کړی، ډېرو نورو جاهلو قومونو له خپلو شخصيتونو خدايان جوړ کړي، يهودانو، بودايانو او هندوانو دا کار کړی، ډېرو نورو همداسې د زمکې او آسمان خالق خدای زمکې ته او خپل کلي ته راکوز کړی او په يوې مجسمې او حتی په يوه قبر کې ئې ځای پر ځای کړی، هغه ئې خدای گڼلی او ځان ئې د خدای محبوب او نازولی قوم او خپله خاوره مقدسه خاوره، داسې ډېر مصلح شخصيتونه او د الله پيغمبران تېر شوي چې يوه امپراطور باغي گڼلي او په مرگ ئې محکوم کړي خو د ده رقيب راغلی او له همدې باغي ئې معبود جوړ کړی، دا سياست دئ چې له پيغمبر باغي جوړوي او له باغي معبود.

په مسلمانانو کې هم يوه داسې ډله راپيدا شوه چې الله له انسان سره او انسان له الله سره تشبيه کوي، دوی هم د ادريان روجرز کشيش خبره کوي او وايي چې الله انسان د خپل صورت په بڼه کې پيدا کړ، دا عقيده ئې له اسرائيلي رواياتو اخيستې ده خو د هغه لپاره ئې په رواياتو کې داسې تأويلونه کړي چې دې خرافي عقيدې ته اسلامي رنگ ورکړي، دوی د پيغمبر عليه السلام په دې حديث استناد کوي چې فرمايي:

إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْتَنِبِ الْوَجْهَ وَلَا يَقُلْ قَبَّحَ اللهُ وَجْهَكَ وَوَجْهَ مَنْ أَشْبَهَ وَجْهَكَ فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ خَلَقَ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَام عَلَى صُورَتِهِ . رواه احمد

که چا بل څوك وهلو نو بايد په مخ ئې ونه وهي او داسي ونه وايي چي خدای تعالی دي ستا او تا ته د ورته کس مخ تور کړي، ځکه الله تعالی؛ آدم علیه السلام د ده په بڼه او شکل کي پیدا کړ.

په دې حدیث کي چي مفهوم ئې ډېر روښانه دئ او د صافو زړونو خاوندانو ته په هغه کي د هیڅ اشتباه مجال نشته؛ خو هغه چي رنځور زړونه لري او له اسرائیلي روایاتو متأثره شوي؛ وايي: په (صورته) کي ضمیر الله تعالی ته راجع دئ، ګواکي الله تعالی؛ آدم علیه السلام خپل ځانته ورته پیدا کړ!!!

که تاسو لږ پورتني حدیث ته ځیر شئ؛ په واضح توګه ګورئ چي دلته د دوو کسانو تر منځ شخړي ته اشاره شوې، رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حکیمانه لارښوونه کوي چي د جګړی په وخت کي یو بل په مخ مه وهئ، داسي مه وائئ چي خدای تعالی دي ستا او تا ته ورته مخ تور او قبیح کړي، ځکه چي الله تعالی؛ آدم علیه السلام هغه ته په ورته شکل او صورت کي پیدا کړی. په دې پوهېږو چي د دښمنۍ او جګړې په وخت کي هر انسان د مقابل لوري له مخ او څېرې په خپل زړه کي د نفرت،کینې او کرکې احساس کوي، د مقابل طرف د نفرت او کرکې آثار هم د هغه په څېرې او مخ کي راڅرګند شي، په سترګو کي ئې د قهر او غصی نښې راښکاره شي، نو ځکه د ده غصه او کرکه د مقابل لوري او دښمن مخ او سترګو ته متوجه کېږي، همدې برخي ته پام اړوي او خپل داخلي قهر داسي څرګندوي: سترګي دي راباسم، پزه دي پرې کوم، مخ دي تور، سترګي دي ړندې شه، دا مردار مخ دي داسي او داسي شه، په دې الفاظو هم اکتفاء نه کوي بلکي لاس پورته کوي او غواړي پر مخ ئې یوه کلکه څپېړه ورکړي او خوله ئې په سوك ورماته کړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم په جګړه د بوختو افرادو روحي حالت ته په پام سره او د دوی د قهر او غضب د سړولو لپاره فرمايي: خدای تعالی خپل بنده او ستاسو ټولو پلار آدم علیه السلام په داسي څېرې او شکل کي پیدا کړی وو لکه دا ستا مقابل لوری، دا له تاسره په جګړه او شخړه بوخت ستا ورور، خپل پلار ته د احترام په دود بايد هغه پر مخ ونه وهې او د مخ په اړه ئې سپکي خبري ونه کړې. که د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حکیمانه لارښووني مراعات شي او د شخړو او مشاجرو په وخت کي په پام کي ونیول شي، نو د ډېرو فتنو او جګړو مخنیوی به وشي. خو ګورئ چي له دغه حکیمانه ارشاد د کږو زړونو خاوندانو څومره کوږ تعبیر کړی او څنګه کږه معنی ئې ترې ایستلې؟!!

دا آیت هم وايي چي د انسانانو لومړی جوړه، آدم او حواء علیهما السلام له واحد نفس او یوه ژوندي مخلوق پیدا شوي، داسي نه چي دوه بېلي بېلي مجسمي جوړي شوې

وي او بيا په دوارو كې روح پو شوې وي!!

كه څوك پوښتنه وكړي چې آيا د مور له رحم پرته او ترې بهر هم د يوه ژوندي مخلوق پيدا كېدل ممكن دي؟ ورته وايو؛ هو دا ممكن دي، د ټولو بوټو او نباتاتو نطفې په زمكې كې وده كوي، مرغان او ډېر حيوانات د مور له رحم بهر له هگيو پيدا كېږي، په حيواناتو كې د مور له رحم بهر د پيدا كېدو ډېرې بېلگې شته چې يو مثال ئې د ماهيانو پيدايښت دئ، د ماهي بچيان د مور په خېټه كې نه بلكې بهر پيدا كېږي، د نر او ښځې نطفه ئې په بهر كې سره القاح شي، ښځه ئې په يوه گوښه كې خپلې هگۍ واچوي، نارينه ئې راشي او خپله مني پرې وشيندي او په دې ترتيب ئې القاح تر سره شي او بچيان ئې د مور له رحم بهر پيدا شي.

د قرآني آيتونو او د پيغمبر عليه السلام د احاديثو په رڼا كې د ژوو د پيدايښت په اړه ويلی شو چې الله تعالی د زمكې او آسمان له پيدا كولو وروسته د زمكې پر سر داسې شرائط برابر كړي چې د ژونديو مخلوقاتو د پيدا كولو او د هغوی د رشد او ودې لپاره ضروري دي، كولی شو دا شرائط د (ژوند پسرلی) ونوموو، لكه څنگه چې په هر پسرلي كې مړه ژوي د زمكې له تل سر رااوچت كړي، راوټوكېږي او ونه او بوټی ترې جوړ شي، همدا راز د زمكې پر سر د ژونديو مخلوقاتو د پيدايښت لړۍ ئې هم د (ژوند په هغه پسرلي) كې پيل كړې، د مختلفو موجوداتو نطفې ئې پيدا كړې، له دغو نطفو ئې د دوی ازواج او جوړې راپيدا كړي او په دې سره ئې په زمكې كې د دوی د نسل د دوام او بقاء لار آواره كړې. دې روايت ته لږ ځير شئ:

عَنْ أَبِي هريرَةَ قَالَ: أَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ بِيَدِى فَقَالَ: «خَلَقَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ التُّرْبَةَ يَوْمَ السَّبْتِ وَخَلَقَ فِيهَا الْجِبَالَ يَوْمَ الأَحَدِ وَخَلَقَ الشَّجَرَ يَوْمَ الإِثْنَيْنِ وَخَلَقَ الْمَكْرُوهَ يَوْمَ الثُّلاَثَاءِ وَخَلَقَ النُّورَ يَوْمَ الأَرْبِعَاءِ وَبَثَّ فِيهَا الدَّوَابَّ يَوْمَ الْخَمِيسِ وَخَلَقَ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ بَعْدَ الْعَصْرِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فِى آخِرِ الْخَلْقِ فِى آخِرِ سَاعَةٍ مِنْ سَاعَاتِ الْجُمُعَةِ فِيمَا بَيْنَ الْعَصْرِ إِلَى اللَّيْلِ». السنن الكبرى للبيهقى

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: پيغمبر عليه السلام تر لاس ونيولم او راته وئې ويل: الله تعالی د شنبې په ورځ خاوره پيدا كړه، د يكشنبې په ورځ غرونه، د دوشنبې په ورځ نبات، د سه شنبې په ورځ مكروه، د چهارشنبې په ورځ نور، د پنجشنبې په ورځ خزندگان او د جمعې په ورځ؛ د پيدايښت په پای او د ورځې په آخر كې، د ماښام او مازديگر تر منځ ئې آدم عليه السلام پيدا كړ.

دا روایت د زمکې پر سر د پیدایښت مختلف مراحل توضیح کوي او وایي چې د زمکې پر سر د خاورې پیدا کېدل د پیدایښت مقدمه وه، له خاورې وروسته لومړی نباتات، بیا نور څه او په پای کې انسان پیدا شوی.

قرآن د هغه چا په ځواب کې چې د قیامت بیا ژوندون نه مني؛ د انسان لومړني پیدایښت او د ده هره ورځ پیدایښت او له زمکې او خاورې د نباتاتو راټوکېدل د دلائلو په توګه وړاندې کوي؛ له دې معلومېږي چې د پیدایښت په اړه د الله مشهود سنت د مخکیني او وروستني پیدایښت لپاره دلیل دئ. په دې اساس موږ هغه چا ته چې د ابتدائي پیدایښت په اړه پوښتنه کوي؛ وایو: دا پیدایښت هم داسې دئ لکه دا اوس اوس چې الله ژوندي شیان پیدا کوي؛ هر ژوندی مخلوق له نطفې راپیدا کوي؛ همداسې ئې په ابتداء کې له نطفې پیدا کړي. په سر کې د مور له رحم بهر او وروسته د مور په رحم کې.

وَءَاتُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰٓ أَمۡوَٰلَهُمۡۖ وَلَا تَتَبَدَّلُواْ ٱلۡخَبِيثَ بِٱلطَّيِّبِۖ وَلَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَهُمۡ إِلَىٰٓ أَمۡوَٰلِكُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ حُوبٗا كَبِيرٗا ٢

[۲]-او یتیمانو ته د دوی خپل مالونه ورکړئ او ناپاك په پاك مه بدلوئ او د دوی مالونه تر خپلو مالونو پورې مه خورئ؛ بې شکه چې دا لویه ګناه ده.

(۲)- دلته د یتیمانو د مالونو په اړه لاندې توصیې شوې:

- د دوی مالونه مکمل ورته وسپارئ.
- داسې نه چې د دوی ښه او غوره مال ترې واخلئ او په بدل کې پرېوتی، ردي او خراب مال ورکړئ.
- او داسې هم نه چې د ګډ ژوند په بهانه د دوی له مال خپل مصارف وکړئ او داسې کومه حیله جوړه کړئ چې تر خپل مال د مخه د دوی مال مصرف کړئ.
- د یتیمانو مال خوړل لویه ګناه ده؛ که په حیلو سره وي او که بې حیلو.

وَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا تُقۡسِطُواْ فِي ٱلۡيَتَٰمَىٰ فَٱنكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ مَثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۖ فَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا تَعۡدِلُواْ فَوَٰحِدَةً أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَلَّا تَعُولُواْ ٣

[۳]-او که له دې وویرېدئ چې د یتیمانو په اړه به عدالت ونکړئ؛ نو له دغو ښځو د

خپلې خوښې؛ دوه دوه، درې درې او څلور څلور په نکاح کړئ؛ خو که ووېرېدئ چې عدالت به ونکړئ نو بیا به یوازې یوه وي او په خپل واك كې وينځې مو؛ دا دې ته نژدې ده چې ظلم ونکړئ.

(۳)- د دې آيت په ارتباط لاندې ټکې په پام کې وساتئ:

- لكه چې گورو دلته قرآن د يتيمانو په اړه له بې عدالتۍ وېره؛ د مېرمنو له تعدد سره څنگ په څنگ ياده كړې؛ او د عدالت تأمين ئې په تعدد زوجات پورې تړلی؛ د دې معنی فقط دا كېدی شي چې د يتيمانو ستونزې رفع كول او د دوی په اړه عدالت تأمينول؛ يوازې له يوې لارې ممكن دي او هغه دا چې هغه كونډې په نكاح كړی شي چې د دغو يتيمانو پالنه او كفالت ئې پر غاړه دئ؛ او په دې توگه د دواړو مشكلات هممهاله حل شي.
- په آيت كې دا هم په څرگنده توگه مومو چې مېرمنې د معرفه په صيغه (النساء) يادې شوې؛ او دا ښيي چې دلته د داسې مشخصو مېرمنو په اړه بحث شوی چې له ايتامو سره خاص تړاو لري.
- د همدې آيت په پای كې او د مخكيني مطلب متصل ويل شوي: (فَإِنْ خِفْتُمْ أَلا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً؛ ذَلِكَ أَدْنَى أَلا تَعُولُوا: خو که ووېرېدئ چې عدالت به ونکړئ نو بیا به یوازې یوه وي او په خپل واك كې وينځې مو؛ دا دې ته نژدې ده چې ظلم ونکړئ. يعني چې هم د زوجاتو تعدد په عدالت پورې مشروط دئ او هم پر يوې مېرمنې اكتفاء.
- تاسو پوهېږئ چې له يتيمانو سره يوه لويه مرسته دا ده چې د دوی ميندې بې پالونكې پاته نه شي او څوك ئې په نكاح كړي؛ په دې نكاح سره به له يوې خوا هغه تشه ډكه شي چې د خپل پلار له مړينې وروسته د يتيمانو په برخه شوې او له بلې خوا به د كونډو مشكل حل شي؛ دا لويه بې عدالتي ده چې د چا پلار د اسلام په لار كې شهيد شي يا په خپل مرگ ومري؛ نو هم ئې زامن بې كفالته پاته شي او هم ئې ښځه، نه څوك د يتيم په وړاندې د مسئوليت احساس وكړي او نه د كونډو په اړه. د كونډو او يتيمانو د مشكل تر ټولو غوره او مناسبه د حل لار همدا ده چې كونډې په نكاح شي. د يتيمانو د بحث په ضمن كې د تعدد زوجات ذكر همدا مطلب افاده كوي چې دا اجازه په اصل كې د دغې لويې ستونزې د حل لپاره وركړی شوې.

د پيغمبر عليه السلام له سنت هم دغه معلومېږي؛ له عائشې رضي الله عنها پرته؛ د پيغمبر عليه السلام نورې بيبيانې كونډې وې؛ او دا عملاً او په ټول وضاحت سره ښيي چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د تعدد زوجات موخه او فلسفه؛ اجتماعي مصلحتونه

او د ايتامو او کونډو د ستونزي حلول وو نه بل څه.

- د صحابه وو منهج او عمل همداسي وو چي له هر جنګ سره متصل؛ او تر بل هر څه وړاندي به ئې د خپلو شهيد شوو وروڼو او همسنګرانو د کونډو او يتيمانو قضيې ته جدي پاملرنه او اهتمام کولو؛ حتی د جنګ په ميدان کي به ئې دا تصميم نيولو چي څوك څوك به د کوم کوم شهيد کونډه په نکاح کوي او د يتيمانو کفالت او پالنه به ئې پر غاړه اخلي.
- د يتيمانو د بحث په ضمن کي د تعدد زوجات يادونه او په اړه ئې د امر په صيغه لارښوونه؛ همدا مطلب افاده کوي چي اساساً د کونډو او يتيمانو ستر اجتماعي مشکل؛ له دې پرته له بلې لاري نه شي حل کېدی.
- د قرآن لارښوونه همدا ده؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم سنت همدا دئ چي په دې توګه ئې د خپلو شهيدو يارانو د کونډو او يتيمانو پالنه او کفالت پر غاړه اخيستی؛ هغه هم د خپل عمر وروستي اتو کلونو کي او له هغه وروسته چي د يتيمانو او کونډو له ستونزي سره مخ شو؛
- په دې آيت کي دا لارښوونه هم مومو چي که يتيمان داسي ولي او پالونکي ته پاته شوي وي چي د دوی تر منځ نکاح روا وي؛ لکه د تره زوی؛ نو ولي په هغه صورت کي دا کار کولی شي چي له يتيم سره د خواخوږۍ په نيت دا کار وکړي، بې عدالتي ترې ونشي، د خپل شوق پوره کولو او د يتيم د مال تر لاسه کولو په نيت نه وي؛ که د بې عدالتۍ وېره ئې درلوده نو له داسي نکاح دي ډډه وکړي او پر ځای دي له کونډو څوك په نکاح کړي.

دې ته بايد متوجه وو چي د ښځو شمېر تر نارينه وو زيات دئ، عادتاً نجوني تر هلکانو زياتي پيدا کېږي، په جنګونو کي خو اکثر نارينه مري او هر جنګ په جګړو کي ښکېل ولسونه د کونډو او تر نارينه وو د ښځو د شمېر د زياتېدو له ستونزي سره مخامخ کوي، د شورويانو په ضد د جهاد په دوروان کي يو نيم مليون افغانان په شهادت ورسېدل، چي اکثر ئې نارينه وو، د ايران او عراق په جنګ کي يو مليون ايرانيان ووژل شول چي غالب اکثريت ئې نارينه وو، په دې دواړو ملکونو کي به له جګړو دا راولاړه شوې ستونزه څنګه حل کېږي؟ د غرب په څېر د زنا د جائز ګڼلو له لاري؟! د متعه او موقتي نکاح له لاري؟! که د زوجاتو تعدد ته د اجازي ورکولو له لاري؟ د زنا په اړه خو نن د نړۍ فرد فرد ته معلومه شوه چي پايلي ئې څومره خطرناکي دي او انسانانو ته ئې څومره ستونزي راپيدا کړې، د ايډز خطرناکه بيماري له همدې راپيدا شوې. ايران ونه توانېدو چي په موقته نکاح او متعه سره دا ستونزه حل کړي، که څه هم تر سل زرو زياتي ايرانۍ ښځي افغانانو په نکاح کړې خو د ايران دا ستونزه پر خپل حال پاته ده. د دې ستر مشکل د حل يوازينۍ

لار هغه ده چې اسلامي شريعت معرفي کړې او په دغه مبارك آيت کې ورته اشاره شوې. اسلام نه يوازې دا جائز ګڼلې بلکې هغه د همت او مېړانې او پر يتيم او کونډې د زړه سوي نښه ګڼي؛ خو وايي چې هم به له يوې د زياتو ښځو کول د عدل په موخه وي او هم به پر يوې ښځې اکتفاء د عدل په حکم. په دواړو آيتونو کې د عدل او قسط ذکر د همدې لپاره راغلی.

هغه کمعقله کسان چې د زوجاتو د تعدد په اړه پر اسلام نيوکې او اعتراضات کوي او هغه د عدالت او مساوات خلاف کار ګڼي؛ دې پوښتنې ته له ځواب ويلو عاجز دي چې د کونډو او يتيمانو ستونزه به څنګه حل کېږي، تر نارينه وو د ښځو د شمېر د زياتوالي په صورت کې به دا مشکل څنګه حل کوو؟ دوی نه په غرب کې د زنا په جواز اعتراض کوي، نه په دې چې يو کس يوه قانوني ښځه لري او لس غير قانوني او نه په دې چې په غرب کې زنا په تجارتي کار وبار بدله شوې او د حکومتونو د عوائدو يو مورد هغه ماليه ده چې له فاحشو ئې تر لاسه کوي، د لندن په يوه ښار کې اويا زره فاحشو ته د دې تجارت اجازه ورکړې شوې او دولت ته ماليه ورکوي!! عجيبه ده چې څوك زنا جائزه ګڼي خو هغه قانوني، صفا او ستره نکاح ناجائزه ګڼي چې اسلام د عدل په موخه او شرط روا کړې؛ په داسې حال کې چې اسلام نکاح هغه ترون ته وايي چې د ښځې او نارينه تر منځ او د دواړو په موافقه تر سره کېږي، که کومه ښځه په خپله خوښه له داسې مېړه سره نکاح کوي چې نورې ښځې هم لري نو پر دې د نورو د اعتراض لپاره څه مجال پاته کېږي؟!!

په داسې حال کې چې اسلام د ښځې موافقه د نکاح لپاره اساسي شرط ګڼلی، نو دا بې بنسټه اعتراض به څه وزن لري چې نارينه ولې تر څلورو مېرمنو پورې په نکاح کولی شي، څوك چې غواړي بن ونه لري نو له داسې چا سره دې نکاح نه کوي چې بله مېرمن هم لري.

نه پوهېږو هغه خلك څنګه ځانته د دې حق ورکوي چې د اسلام پر دې اصل اعتراض وکړي په داسې حال کې چې د يوې قانوني ښځې تر څنګ د ګڼ شمېر غيرقانوني جنسي ارتباطاتو په درلودو اعتراض نلري!! کمونستان خو د "کورنۍ جوړېدل" د "فردي ملکيت" په څېر د غير کمونستي ټولنې نښه ګڼي او په دې باور دي چې په دې برخې کې هم بايد فردي ملکيت له منځه ولاړ شي، بايد کورنۍ منحل او آزاد جنسي تعلقات رائج شي، اولاد د کورنۍ "مال" نه بلکې د ټولنې "مال" وګڼل شي، دولت د دوی روزنه پر غاړه واخلي، د کورنۍ د غېږ پر ځای بايد په وړکتون کې وروزل شي، په کورنۍ کې د دوی روزنه په دوی کې د "فردي ملکيت" غلط افکار راولاړوي!! خو راشئ وګورو چې د غير قانوني او آزادو جنسي

تعلقاتو نتائج څه وو او نن "علم" په دې اړه څه وايي او د کومو خطرناکو اجتماعی ستونزو او نا علاجه ناروغیو منشأ ئې ګڼي!! د " ایډز" په شان ناعلاجه ناروغي، د ګڼ شمېر نورو جسمي او رواني ناروغیو په شمول، د همدې فاجعې نتائج ګڼي او وايي: اکثر ستر ستر جانیان هغه دي چې د مور په غېږ کې نه دي روزل شوي، د پلار د ترحم او مینې لاس ئې پر سر نه دئ تېر شوی، داسي څوك ئې نه دئ موندلی چې صادقانه ترحم، عاطفه، زړه سوی او رښتینې مینه ئې له هغه زده کړې وي.

تاسو په مرغانو کې ګورئ، هغه مرغان چې د نر او ښځې شمېر ئې سره برابر دئ، دوه دوه سره جوړه کېږي او بېله کورنۍ جوړوي، ناسته پاسته، الوتل او اوسېدل ئې سره یو ځای وي، لکه ښارو (مینا)، مرغۍ او کوترې، خو هغه مرغان چې د نارینه وو شمېر ئې تر ښځینه وو لږ دئ یو یو ئې ګڼ شمېر ښځې پالي، چرګان ئې یو مثال دئ. ښایي بده نه وي چې د خپلو سترګو یو لیدلی جریان دلته ولیکم: په چهارآسیاب کې په یوه کور کې اوسېدم، غولي ته راووتم او ناڅاپي مې سترګې په یوه چرګ ولګېدې چې له نورو یوازې په غولي کې ګرځي، نورې چرګې له کلا بهر دي، د انګور یوه دانه ئې وموندله، په مښوکه کې ئې راپورته کړه، څو ثانیې په فکر کې ولاړ، بیا ئې یو خاص غږ وکړ، له بهره یوه چرګه په منډه د ده خوا ته راغله، ده د انګور هغه دانه پر زمکه واچوله او هغې چرګې وخوړه!! دا په داسي حال کې چې ده د څو چرګو پالنه په غاړه درلوده، هغوی به ئې ساتلې، مازدیګر به ئې ګوډلي ته ننه ایستلې، ټوله شپه به ئې د ګوډلي د دروازې خوا ته د محافظ په څېر تېروله؛ زمکه به ئې په خپلو پیاوړو منګولو ورته کیندله، له وني به ئې پاڼې ورته راشکولې، کله چې به د دانو لوښی د دوی په وړاندي کېښودی شو نو هغه به لومړی خپلو مېرمنو ته فرصت ورکړ چې دانه وخوري او ده به تر دوی وروسته د دانو په خوړلو پیل وکړ، خدای خبر له څومره مودې وروسته د انګور یوه خوږه دانه په لاس ورغلې وه او څومره به ئې زړه غوښتل چې هغه پخپله وخوري، خو لوړ همت او د خپلو مېرمنو په نسبت زړه سوي او رحمت دې ته اړ کړ چې یوه مېرمن راوبلي او دا دانه د هغې مخې ته کښېږدي!! له ځان سره مي ویل: آیا د انسانانو نارینه هم دومره همت، مېرانه او عاطفه لري؟!!

د آیت له ورستۍ فقرې معلومېږي چې د عدم عدالت له وېرې په وینځې یا یوې ښځې اکتفاء دې ته نژدې ده چې له ظلم کولو خوندي پاته شئ. په دې صورت کې هم د ښځې ټول حقوق اداء کولی شئ او هم ئې ماشومان ښه پاللی شئ.

اما دا چې پیغمبر علیه السلام ته ولي د "نه" ښځو د نکاح اجازه ورکړی شوې؛ د دې

دليل څه دئ او دا کار په کومي زمانې کې او د پيغمبر عليه السلام د مبارك ژوند په کوم پړاو کې تر سره شوی؟ ځواب ئې دا دئ:

ټولو ته جوته ده چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په پنځه ويشت کلنۍ کې واده وکړ، خديجه رضي الله عنها د ده لومړۍ بي بي څلويښت کلنه کونډه وه، د هغې تر وفات پوري ئې بله ښځه نه ده کړې، تر پنځوس کلنۍ پوري ئې يوازي يوه ښځه درلوده، د خديجې رضي الله عنها له وفات وروسته ئې سوده رضي الله عنها چې کونډه وه، په نکاح کړه، سوده له لومړيو مسلمانانو وه، له خپل مخکيني مېړه سره ئې يو ځای حبشې ته هجرت وکړ او د هجرت سختي شپې او کړاوونه ئې وګالل، نه ئې مال درلود او نه جمال او ښکلتوب، امتياز ئې قوي ايمان او د ايمان په لار کې قرباني وه، پيغمبر عليه السلام صرف يوه ښځه په ښکلتوب کې کړې، نوري بيبياني ئې کونډې وې، هره يوه ئې د يوه لوی اجتماعی مصلحت لپاره په نکاح کړې، ښايي د حفصه رضي الله عنها د نکاح څرنګوالی د پاته ودونو د املونو لپاره ښه مثال وي:

حفصه رضي الله عنها د عمر رضي الله عنه لور وه، مخکينی مېړه ئې د بدر په جګړی کې برخه اخيستې وه، هغه وفات شو، عمر رضي الله عنه؛ خپلو ملګرو ابو بکر رضي الله عنه او عثمان رضي الله عنه ته ورغی او له هغوی ئې وغوښتل چې حفصه په نکاح کړي، خو دوی د خپلو معاذيرو له کبله ډډه وکړه، عمر رضي الله عنه دا مشکل له پيغمبر عليه السلام سره ياد کړ او هغه د دې لپاره له حفصې رضي الله عنها سره د نکاح اراده وکړه چې له خپل نژدې او مخلص ملګري سره د يوې داسي ستونزې په حل کې مرسته وکړي چې نورو ورته حل نه کړی شوه.

همدا راز زينب رضي الله عنها چې مېړه ئې د بدر په جګړي کې په شهادت ورسېدو، عمر خوړلې کونډه وه، په نېکو کارونو کې هومره مشهوره وه چې خلکو به د "بې وزلو مور" په نامه يادوله، پيغمبر عليه السلام هغه د دې لپاره ځانته نکاح کړه چې له يوې خوا ئې د يوه بدري مجاهد په اړه خپله خواخوږي ښودلې وي او له بلي خوا ئې د يوې نوميالۍ، خيري او با ايمانه ښځي ستونزه حل کړې وي. دا نېکه بي بي يوازي دوه کاله نور ژوندۍ وه.

همدا راز ام سلمه چې ٦ اولادونه ئې درلودل، مېړه ئې د احد په جګړې کې زخمي شو، د بلي جګړي په دوران کې د ده زوړ پرهار پرې شو او له همدې وفات شو، پيغمبر عليه السلام د ده په مړيني هومره خواشينی شو چې اوښکي ئې توی شوې، د ده له مړيني ٤ مياشتي وروسته ئې ام سلمې ته خوك د خطبې لپاره ولېږو، هغې خپل عذر داسي

وړاندي کړ: زه عمر خوړلې يم، ډېر اولادونه لرم، نه غواړم ستا د اذيت باعث شم. خو پيغمبر عليه السلام غوښتل په دې نکاح سره مسلمانانو ته د خپلو ديني وروڼو په نسبت د وفا او د کونډو او يتيمانو د پالني او روزني نه هېرېدونکې اسوه وړاندي کړي. ام سلمې ته ئې قناعت ورکړ او دا نکاح تر سره شوه. د پيغمبر عليه السلام ټول ودونه همداسي وو.

په دې ودونو کې يو بل ستر مصلحت هم مضمر وو او هغه دا چي د پيغمبر عليه السلام د بيبيانو له لاري د دين يوه لويه برخه مسلمانانو ته رسېدلې، دوی د نورو ښځو لپاره د ښوونکو حيثيت درلود، نورو ښځو به له دوی دين زده کاوو، که تاسو د رواياتو کتابونه وڅېړئ په څرګنده به وګورئ چي د دې کتابونو په هر مخ کې له همدې بيبيانو يو په بل پسي روايتونه ستاسو مخي ته راځي.

ځيني په دې خبري اعتراض کوي چي اسلام ولي مرييتوب تأييد کړی، ولي ئې نارينه وو ته اجازه ورکړې چي وينځي وساتي او حتی له نکاح پرته ورسره مباشرت وکړي، غلامي خو د عدالت خلاف او د انسانانو تر منځ د برابرۍ مغاير او د ظالمانه طبقاتي نظام نښه ده؛ دا ولي اسلام له يوې خوا د عدالت دعوی کوي او له بلي خوا غلامي او مرييتوب جائز ګڼي!!

د دغو بې خبرو په ځواب کې بايد ووايو: مګر تاسو خبر نه ياست چي د مرييتوب د ختمولو لړۍ د اسلام او مسلمانانو په لاس پيل شوه، دا اسلام وو چي هم ئې په ټول پراخ او خور اسلامي خلافت کې د مرييتوب ټغر ټول کړ او هم په ټولي نړۍ کې، اسلام هغه وخت د غلامۍ په ضد غږ اوچت کړ او د غلامانو د آزادولو سلسله ئې شروع کړه چي غرب لا د دې تصور هم نه شو کولی، اروپا او امريکا نژدې دوولس سوه کاله له اسلام وروسته د غلامۍ د ختمولو لپاره تيار شو، په امريکا کې د ابرهام لينکلن په دور کې مرييتوب لغو او د غلامانو آزادي اعلان شوه، خو دا اعلان تر کلونو کلونو هسي د کاغذ پر سر د تورو کرښو په څېر پاته وو، په عمل کې غلامانو د مخکي په څېر په غلامۍ کې ژوند کاوو، ډېر له آزادېدو وروسته بېرته خپلو بادارانو ته ورستانه شول، دا ځکه چي نه ذهناً د آزاد ژوند کولو لپاره تيار وو او نه په ټولني کې د دوی لپاره د آزاد ژوند ضروري لوازم او شرائط برابر شوي وو. که حقائقو ته پام وکړو نو په امريکا کې مخکيني غلامان لومړی د زمکه والو په هغو بزګرانو بدل شول چي د دوی په زمکو پوري تړلي وو، له زمکو سره به يو ځای خرڅېدل او له يوه به بل ته انتقالېدل او بيا د بورژوازي (پانګه وال) نظام په راتلو سره دا په زمکو پوري تړلی مريي په داسي کارګر بدل شو چي د خولو او تناکو حاصل ئې د فابريکو د خاوندانو په جيب کې پرېوځي. په پانګه وال نظام کې د غلامانو، بزګرانو او کارګرانو د آزادۍ خبره يوازي هغه ځوك کولی شي چي د آزادۍ په معنی او مفهوم نه

پوهېږي!!

اسلام د غلامۍ د ختمولو لپاره دغه حکيمانه لار غوره کړه:

- غلامانو او د هغوی بادارانو ته ئې وويل: تاسو په خپلو کې وروڼه ياست، د يوې کورنۍ غړي، د يوه نيکه او انا اولاد.
- مسلمانانو ته ئې امر وکړ چې مريي ته مريي مه وايئ، هغه ستاسو ورور دئ، د ورور خطاب ورته وکړئ، دروند او له توان ئې زيات کار پرې مه کوئ، په خوراك څښاك کې ئې له ځان سره شريك کړئ.
- وينځې ځان ته نکاح کولی شئ، دا د عار او پېغور خبره مه ګڼئ، له نکاح پرته هم کولی شئ له هغوی سره مباشرت وکړئ، په دې سره هم د هغوی يوې طبيعي او انساني اړتيا ته ځواب ويل کېږي، خو که هغوی دا مباشرت نه خوښولو نو دې کار ته ئې مه مجبوروئ.
- دا پرېکړه ئې وکړه چې هيڅوك د آزاد انسان د مريي کولو حق نلري او دا په حقيقت کې د غلامۍ د لغو کولو په لار کې لومړی او تر ټولو اساسي اقدام وو.
- د موجوده غلامانو د آزادۍ لپاره ئې له يوې خوا په عام طور خلکو ته وويل: د مريي آزادول د ثواب ستر کار دئ؛ او په خاصه توګه ئې وويل: له چا چې دا او هغه ګناه وشوه کفاره ئې د غلام آزادول ده.
- بادارانو ته ئې وويل: که ستاسو کوم غلام د آزادېدو غوښتنه وکړه، نو يا ئې مجاني او د الله د رضاء لپاره آزاد کړئ او يا ئې د کومې معاوضې په مقابل کې.
- اسلامي حکومت ئې په دې مکلف کړ چې د دولتي شتمنيو يوه برخه بايد د غلامانو د آزادولو لپاره مختص کړي.

دغه حکيمانه تدابير وو چې نه يوازې په لنډه موده کې د غلامۍ جرړې وايستل شوې، بلکې د پرون ورځې له غلامانو ستر ستر شخصيتونه جوړ شول او د لويو لويو سيمو د چارواکو او واليانو په توګه وټاکل شول.

دا په داسې حال کې چې په اروپا، امريکا او ټولو غير اسلامي هېوادونو کې د غلامۍ بازار ګرم وو او هيچا د انسانانو د برابرۍ شعار نه شو منلی. اما دا چې اسلام ولې له برې وروسته او په ټول حجاز له تسلط وروسته غلامي تحريم نه کړه او د ټولو غلامانو د آزادولو اعلان ئې ونکړ، ځواب ئې بايد له يوې خوا د هغه وخت په اجتماعي ظروفو او شرائطو کې ولټوو او له بلې خوا د اجتماعي ستونزو په حلولو کې د اسلام په خاصې کړنلارې کې. غلامي يوه نړۍ واله ستونزه او معضله وه؛ د نړۍ په کچه حاکم اقتصادي او اجتماعي

نظام زېږولې وه، بشپړ تحريم ئې يوه جهاني تړون او بدلون ته ضرورت درلود، يوه ستر هېواد او ځواکمن حکومت کولی شو د هغه يو اړخيز تحريم پر ټولي نړۍ تحميل کړي. عملاً مو وليدل چي اسلام هغه مهال وتوانېدو د غلامۍ په اړه خپله تګلاره پر ټولي نړۍ ومني چي ستر هېواد او ځواکمن حکومت ئې رامنځته کړ. همدا راز اسلام د ځينو خاصو اجتماعي ستونزو د حل کولو لپاره دا کړنلاره خپله کړې چي ورو ورو د هغوی جرړي باسي، تدريجي بدلون غوره ګڼي، لومړی د داسي تبديلي لپاره ذهني شرائط برابروي، مقدماتي کارونه سر ته رسوي، ريښې يوه په بلي پسي قطع کوي او په پای کي د دې اجتماعي ستونزي کرغېړن بوټی له بېخه باسي، د شراب او قمار په اړه اسلام همدا اسلوب غوره کړ، په تدريج سره ئې د دې خبيثه بوټو جرړي وايستلې، د مرييتوب په اړه ئې هم همدا طريقه اختيار کړه، لومړی ئې وويل: ټول انسانان يو د بل ورونه او د يوه خدای بندګان دي او له يوه مور او پلار پيدا شوي. بيا ئې وويل: د مريي آزادول د ګناهونو د جبران وسيله ده. بيا ئې وويل: هيڅ "حر" او آزاد انسان نه شي مريي کېدی، هيڅوك دا حق نلري چي د "حر" او آزاد انسان په غاړه کي د مرييتوب کړۍ واچوي. بيا ئې وويل: هر غلام دا حق لري چي له خپل مالك سره "مکاتبه" وکړي، يعني خپله آزادي په بيع واخلي، له غلامۍ آزاد شي او په مقابل کي ئې مالك ته څه ورکړي؛ او په پای کي ئې وويل: د دولت د مصرفي بودجې يو مورد د غلامانو اخيستل او آزادول دي.

د غلامانو د آزادولو او د غلامۍ د تدريجي ختمولو دا طريقه دې ته ورته ده چي کوم دولت د فيوډالي نظام د ختمولو او د زمکو د عادلانه وېش په اړه دا فيصله وکړي چي د زياتو زمکو له خاوندانو زمکي په بيع واخلي او په بې زمکو ئې ووېشي او د دې لپاره د زمکو له مصادرې ډډه کوي چي په دې سره کېدی شي په ډېرو هغو کسانو ناروا تېری وشي چي شتمني او زمکي ئې له جائزو لارو تر لاسه کړې. اسلام نه غواړي پر هيچا، تر هيڅ نامه لاندي تېری وشي او جائز حق ئې تر پښو لاندي شي.

وَءَاتُواْ ٱلنِّسَآءَ صَدُقَٰتِهِنَّ نِحۡلَةٗۚ فَإِن طِبۡنَ لَكُمۡ عَن شَيۡءٖ مِّنۡهُ نَفۡسٗا فَكُلُوهُ هَنِيٓـٔٗا مَّرِيٓـٔٗا ﴿٤﴾

[٤]- ښځو ته د دوی مهر په ورين تندي ورکړئ؛ خو که له خپل لوري ئې په خوښه د هغه کومه برخه درکړه نو بې غمه ئې په خوند خوند وخورئ.

(٤)- مهر د ښځي بيع نه ده، پلار ته ئې نه ورکول کېږي، په خپله ښځي ته ورکول کېږي؛

آيت په صراحت سره وايي چې مهر ښځو ته ورکړئ، دا هسې يوه تحفه او هديه هم نه ده، دا د ښځو حق دئ، دا د ښځې لپاره ډېر حکيمانه تضمين دئ، د دې مخنيوی کوي چې خاوند ئې بې دليله دې ته طلاق ورکړي او د خپل شوق پوره کولو لپاره بله ښځه وکړي، دې ته دا اختيار ورکړی شوی چې له خاونده مناسب مهر تر لاسه کړي، شريعت نهائي حد ورته نه دئ ټاکلی، د مېړه او ښځې توافق ته ئې پرېښی، مېړه ئې مکلف کړی چې د دې مهر به د تړون مطابق ورته سپاري؛ مگر دا چې ښځه په خپله خوښه د مهر له کومي برخې ورته تېره شي. دا په حقيقت کې ښځو ته يو بل امتياز دئ، هم ئې خرڅ، خوراك او پوښاك د خاوند پر غاړه دئ او هم له هغه د مهر تر لاسه کولو امتياز ورکړی شوی؛ په داسې حال کې چې دا هم له خپلوانو مېراث تر لاسه کوي او هم له مېړه؛ خو هيڅ اقتصادي مکلفيت نلري.

وَلَا تُؤْتُواْ ٱلسُّفَهَآءَ أَمْوَٰلَكُمُ ٱلَّتِي جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمْ قِيَٰمًا وَٱرْزُقُوهُمْ فِيهَا وَٱكْسُوهُمْ وَقُولُواْ لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ۝٥

[۵]- او کمعقلو ته خپل هغه مالونه مه سپارئ چې الله ستاسو لپاره د قيام ذريعه گرځولې، نه؛ په هغه کې ئې د رزق، روزي او جامو انتظام وکړئ او غوره وينا ورته وکړئ.

(۵)- دا مالونه چې په حقيقت کې د ټولو گډ مال دئ، که څه هم ځيني په يوه پوري او ځيني په بل پوري مربوط دي؛ ستاسو د ژوندانه د قيام او سمبالولو ذريعه ده، کمعقلو ته ئې مه سپارئ، تر هغه ئې يتيم ته له سپارلو ډډه وکړئ چې هغه بلوغ او د عقل پوخوالي ته ورسېږي، تر هغه د دوی اموال په داسې غوره طريقه په کار واچوئ چې له گټې ئې د يتيمانو د خرڅ، خوراك او جامو انتظام وکړئ. په دې دوران کې د دوی روزنې ته خاصه توجه وکړئ، نېکې خبرې او نېك کارونه ورښيئ، که هغوی د خپل مال تر لاسه کول غوښتل او تاسو ئې تنگولئ؛ نو په ښه توگه ئې پوه کړئ، زور زياتی ورسره مه کوئ؛ د نامناسبو خبرو له کولو ځان وساتئ.

په آيت کې د يتيمانو پر ځای د سفهاءو له راوړو معلومېږي چې نه يوازې ماشوم يتيم ته به د دوی مال نه سپارئ بلکې هغو ته به ئې هم نه سپارئ چې د کمعقلۍ له کبله مال ترې ضائع کېږي، يا مبذر دئ او په غلطو لارو ئې مصرفوي.

وَٱبۡتَلُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ فَإِنۡ ءَانَسۡتُم مِّنۡهُمۡ رُشۡدٗا فَٱدۡفَعُوٓاْ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡۖ وَلَا تَأۡكُلُوهَآ إِسۡرَافٗا وَبِدَارًا أَن يَكۡبَرُواْۚ وَمَن كَانَ غَنِيّٗا فَلۡيَسۡتَعۡفِفۡۖ وَمَن كَانَ فَقِيرٗا فَلۡيَأۡكُلۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ فَإِذَا دَفَعۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡ فَأَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِمۡۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا ٦

[٦]- او تر هغه يتيمان آزمويئ چي د نكاح (پړاو) ته ورسېږي؛ نو كه د دوی هوښياري مو احساس كړه نو مالونه ئې وروسپارئ؛ او په دې موخه په اسراف او تلوار سره د دوی مالونه مه مصرفوئ چي ستر به شي؛ او څوك چي غني وي نو پرهېز دي وكړي او څوك چي نېستمن وي په مناسبه توگه دې مصرف كړي او كله چي دوی ته خپل مالونه مسترد كوئ نو شاهدان پرې ونيسئ او الله د حساب كوونكي په توگه كافي دئ.

---

(٦)- دلته د يتيم اولياءو ته څو لارښووني شوې:

- د يتيمانو د روزنې په دوران كې دوی پر له پسې امتحانوئ، كله يو كار ورته وسپارئ او كله بل، د وړو وړو شيانو په پېرلو او پلورلو ئې وگمارئ، په دې سره به د هغوی ښه روزنه وشي، بلوغ ته له رسېدو وروسته به د خپل مال د ښه پاللو لپاره ذهناً او عملاً تيار وي او كافي تجربه به ئې تر لاسه كړې وي.
- دا كار به تر هغه كوئ چي يتيمان تر بلوغ او نكاح پوري ورسېږي، خو كه دې مرحلې ته ورسېدل او تاسو په دوی كې كافي هوښياري احساس كړه نو مالونه ئې وروسپارئ. د آيت له الفاظو معلومېږي چي د يتيم اولياء به بلوغ ته د يتيم د رسېدو په وخت كې هم دا خبره په پام كې ساتي چي آيا هغه د دې وړتيا لري چي مال ئې وروسپاري او كه نه. يوازې بلوغ معيار ونه گڼي، بلكې د بلوغ تر څنگ د ده هوښيارتيا هم په پام كې ولري.
- مبادا له دې وېرې د دوی مال په اسراف او تلوار سره مصرف كړئ چي ستر به شي او خپل مال به درنه واخلي.
- غنيانو ته په كار ده چي د يتيم د مال له مصرف ډډه وكړي او په خپلو شتو اكتفاء وكړي.
- فقير ولي ته دا اجازه وركړی شوې چي له دې مال په مناسبه او غوره توگه څه مصرف كړي، خو دا به هومره وي چي يوه مستخدم ته په ټولنې كې وركول كېږي.
- يتيمانو ته د دوی د مالونو د سپارلو په وخت كې شاهدان ونيسئ.

- دې ته مو پام وي چې الله حسيب دئ، د هر څه حساب به درسره کوي.

لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿٧﴾

[۷]- نارينه وو ته له هغه څه چې مور پلار او خپلوان ئې شا ته پرېږدي ځانګړې برخه ده او ښځينه وو ته هم له هغه څه چې مور پلار او خپلوان ئې شا ته پرېږدي ځانګړې برخه ده، که دا لږ وي يا ډېر؛ ټاکل شوې برخه ده.

(۷)- د جاهليت په دوران کې ښځې، نجونې او واړه هلکان له ميراث محروم وو، يوازې هغو نارينه وو ته به ورکول کېدو چې د جنګ وړتيا ئې درلوده؛ اسلام راغی، د جاهليت دا ظالمانه دود ئې ختم کړ او د هر چا لپاره ئې مناسبه برخه وټاکله، هم د نارينه وو لپاره او هم د ښځينه وو لپاره. اسلام دا نه خوښوي چې دولت او ثروت د معدودو کسانو تر منځ لاس په لاس شي، دې ته ترجيح ورکوي چې د ميراث د وېش له لارې شتمنۍ ووېشل شي، په معدودو لاسونو کې د ثروت او شتمنيو تمرکز په داسې نظام منتج کېږي چې اسلام ئې نه خوښوي، له دې ظالمانه پانګوال نظام رامنځ ته کېږي، پانګوال نظام په دې بنسټ ولاړ وي چې د شتمنيو د وېش مخه ونيسي او په معدودو لاسونو کې متمرکز پاته شي، د ثروت د عدم وېش په نتيجه کې ورو ورو د ټولنې ټولې شتمنۍ د معدودو کسانو په لاس کې پرېوځي، شتمن مزيد شتمن شي او نېستمن مزيد نېستمن شي، د ميراث په وېشلو سره نه يوازې عدالت تأمينېږي او د کورنۍ هر غړي ته خپله برخه په لاس ورځي بلکې په دې سره د شتمنيو د تمرکز مخنيوی کېږي. د اسلام په اقتصادي نظام کې دې اصل ته خاصه توجه شوې ده، قرآن دا اصل په دې الفاظو بيان کړی: (كَيْ لا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الأَغْنِيَاءِ مِنكُمْ): د دې لپاره چې ستاسو د اغنياوو تر منځ لاس په لاس نه شي.

وَإِذَا حَضَرَ ٱلْقِسْمَةَ أُو۟لُوا۟ ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينُ فَٱرْزُقُوهُم مِّنْهُ وَقُولُوا۟ لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٨﴾ وَلْيَخْشَ ٱلَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا۟ مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَٰفًا خَافُوا۟ عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلْيَقُولُوا۟ قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٩﴾

[۸]- او کله چې دې وېش ته خپلوان، يتيمان او مسکينان راحاضر شي، نو دوی ته هم له دې څه رزق روزي ورکړئ او کومه غوره وينا ورته وکړئ. [۹]- او هغه دي

ووېرېږي چې که تر شا ئې کمزوري اولاد پرېښودی نو پرې وېرېدل به؛ نو له الله دې ووېرېږي او سمه خبره دې وکړي.

(٨-٩)- که د میراث د وېش په ورځ نور یتیمان، مسکینان او ستاسو هغه خپلوان راغلل چې په میراث کې خاصه برخه نلري؛ نو هغوی تش لاس بېرته مه لېږئ، مناسب څه ورکړئ، په غوره وینا ئې استقبال او رخصت کړئ. دې خبرې ته مو باید پام وي چې که له تاسو کمزوري بچیان پاته کېدی نو څومره به پرې وېرېدئ؟ په کار ده نن د دغو بې وزلو یتیمانو او مسکینانو په اړه همغسې زړه سوی او وېره ولرئ، له دوی سره مرسته وکړئ، د دوی په اړه سمه او د دغه احساس لاندې پرېکړه وکړئ.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلۡيَتَٰمَىٰ ظُلۡمًا إِنَّمَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ نَارٗاۖ
وَسَيَصۡلَوۡنَ سَعِيرٗا ﴿١٠﴾

[١٠]- یقیناً هغه چې د یتیمانو مالونه په ظلم سره خوري؛ دوی په خپلو خېټو کې له اور پرته بل څه نه اچوي او ژر به اور ته ننوځي.

(١٠)- د یتیم مال خوړل لوی ظلم دئ، له اور سره لوبې کول دي، له دې ځان وساتئ، دا د اور سکروټې په خپلو خېټو کې مه اچوئ.

يُوصِيكُمُ ٱللَّهُ فِيٓ أَوۡلَٰدِكُمۡۖ لِلذَّكَرِ مِثۡلُ حَظِّ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۚ فَإِن كُنَّ نِسَآءٗ فَوۡقَ
ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَۖ وَإِن كَانَتۡ وَٰحِدَةٗ فَلَهَا ٱلنِّصۡفُۚ وَلِأَبَوَيۡهِ لِكُلِّ
وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا ٱلسُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَانَ لَهُۥ وَلَدٞۚ فَإِن لَّمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلَدٞ
وَوَرِثَهُۥٓ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ ٱلثُّلُثُۚ فَإِن كَانَ لَهُۥٓ إِخۡوَةٞ فَلِأُمِّهِ ٱلسُّدُسُۚ مِنۢ بَعۡدِ
وَصِيَّةٖ يُوصِي بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍۗ ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ لَا تَدۡرُونَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ لَكُمۡ
نَفۡعٗاۚ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿١١﴾

[١١]- الله د خپل اولاد په اړه درته توصیه کوي: نارینه ته به د دوو ښځو د برخې په څېر وي، نو که ټول ئې تر دوو زیاتې ښځې وي نو دوی ته به د ده د پرېښې (مال) دوه ثلثه وي او که یوه وي نو نیمایي به ئې د دې وي؛ او پلار مور ته ئې هر یوه ته؛

د ده د پرېښې (مال) شپږمه برخه ده، که ئې اولاد وو؛ خو که ئې اولاد نه وو او میراث ئې مور، پلار ته پاته شوی وو؛ نو مور ته ئې درېیمه برخه ده. خو که ئې ورونه وو؛ نو مور ته ئې شپږمه برخه ده؛ له هغه وصیت وروسته چې دی ئې کوي او له پور وروسته. نه پوهېږئ چې کوم یو به ئې په نفع کې تاسو ته نژدې وي؛ پلرونه مو که زامن مو؟ دا الهي فریضه ده؛ بې شکه چې الله ډېر باحکمت پوه دئ.

(۱۱)- دلته د میراث د وېش په اړه لاندې لارښوونې شوې:

- د زوی برخه به د دوو لوڼو د برخې په اندازه وي.
- که ئې زوی نه وو او یوازې لوڼې ترې پاته وې؛ دوه وي یا تر دوو زیاتې؛ نو د میراث له درېو دوه برخې به د دوی وي.
- خو که یوه وه نو نیمایي به ئې د دې وي.
- د اولاد په شتون کې مور او پلار ته شپږمه شپږمه برخه رسېږي.
- که ئې اولاد نه وو؛ یوازې مور او پلار ئې وارثان وو؛ نو مور ته ئې درېیمه برخه رسېږي؛ پاته دوه برخې به ئې د پلار وي.
- خو که ئې ورونه وو؛ نو شپږمه برخه د مور ده او پاته ټول پلار ته سپارل کېږي؛ ورونو او خویندو ته د پلار په شتون کې څه نه رسېږي.
- د میراث له وېش مخکې به د مړي وصیت تر سره کېږي او پورونه به ئې پرې کېږي.
- په مکرره توګه د وصیت ذکر د دې لپاره راغلی چې په دې سره د هغو خپلوانو ستونزه هم حل کېدی شي چې په میراث کې ثابته او مشخصه برخه نلري؛ د مال خاوند کولی شي د خپل مال له درېیمې برخې دوی ته څه وټاکي.
- که دا د میراث وېش ستاسو خپلې خوښې ته پرېښودی شي او په خپله د هر یوه برخه وټاکئ؛ نو ووایئ چې د هر یوه برخه به څنګه ټاکئ؟ د برخو په ټاکلو کې به کوم څه د ملاك او معیار په توګه غوره کوئ؟ نژدېوالی که ګټه او منفعت؟ پلار ډېر درنږدې او ګټور دئ که زوی؟ د کوم برخه به زیاته غوره کوئ او د کوم لږ؟ تاسو ته ممکنه نه ده چې په دې اړه حکیمانه او عالمانه پرېکړه وکړی شئ.
- دا برخې د هغه الله له لوري ټاکل شوې چې هم ښه پوه دئ او هم د حکمت خاوند؛ هره پرېکړه ئې حکیمانه او پر علم ولاړه پرېکړه ده.

په دې کې هغو کمعقلو کسانو ته هم ځواب ویل شوی چې د میراث د وېش په اړه په اسلام اعتراض کوي، ځان د ښځو د حقوقو مدافع ګڼي؛ دې ته ئې پام نه دئ چې د میراث وېش د یوه کامل اقتصادي نظام یوه وړه برخه ده، په دې اړه هر بحث باید د ټول نظام

په ترخ کې وشي؛ نه یوازې او له نورو برخو بېل!! د اسلام په اقتصادي نظام کې ښځې په داسې حال کې له اقتصادي مکلفیت فارغې دي چې د شتمنیو د لاس ته راوړلو ګڼ شمېر مدارك لري: له خپلوانو او مېړه میراث تر لاسه کوي، مهر اخلي، خپلې شتمنۍ په کار اچولی شي، کسب کار کولی شي او عوائد درلودی شي؛ خو هم د پلار په کور او هم د خاوند په کور کې د دې ټول مصارف د نورو پر غاړه دي!! دا خو باید ښځو ته خاص او فوق العاده امتیاز وګڼو، ډېر کمعقله انسان به دا د ښځو په اړه تبعیض ګڼي! په کار خو دا وه چې دوی ویلي وی: د نارینه برخه لږ او پېټې ئې دروند دئ؛ باید ښځه د دې پېټې په پورته کولو کې د ده مرسته وکړي؛ لږ تر لږه زړه سوی ولري. خو حکیم او علیم خدای همدا غوره کړې؛ د نارینه د پیاوړو متو تقاضی همدا ده چې پېټی ئې تر ښځو درونډ وي.

وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ ٱلرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَآ أَوْ دَيْنٍ وَلَهُنَّ ٱلرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ ٱلثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم مِّنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَآ أَوْ دَيْنٍ وَإِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَٰلَةً أَوِ ٱمْرَأَةٌ وَلَهُۥٓ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَٰحِدٍ مِّنْهُمَا ٱلسُّدُسُ فَإِن كَانُوٓاْ أَكْثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَآءُ فِى ٱلثُّلُثِ مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَىٰ بِهَآ أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَآرٍّ وَصِيَّةً مِّنَ ٱللَّهِ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ ﴿١٢﴾

[١٢]- او تاسو ته د هغه څه نیمایي دي چې ستاسو مېرمنو شا ته پرېښې؛ که ئې اولاد نه وو؛ خو که ئې اولاد وو نو بیا تاسو ته د هغه څه څلورمه برخه ده چې دوی ئې تر شا پرېږدې؛ له پور او هغه وصیت وروسته چې دوی ئې کوي او دوی ته د هغه څه څلورمه برخه ده چې تاسو ئې تر شا پرېږدئ؛ که اولاد مو نه وو؛ خو که اولاد مو درلود نو بیا دوی ته د هغه څه اتمه ده چې تاسو ئې تر شا پرېږدئ؛ له پور او هغه وصیت وروسته چې تاسو ئې کوئ. او که هغه څوك چې میراث ترې وړل کېږي؛ کلاله وي (بې پلار او بې اولاد) او یا همداسې ښځه وي او کوم ورور یا کومه خور ئې وي؛ نو د دوی هر یوه ته شپږمه ده؛ او که تر دې زیات وي نو دوی ټول په درییمه کې سره ګډ دي؛ له هغه وصیت چې سپارښتنه ئې کېږي او له پور وروسته؛

ضرر نه رسوونکی؛ د الله له لوري یوه توصیه؛ او الله حلیم پوه دئ.

(۱۲)- په دې آیت کې د لاندې صورتونو په اړه لارښوونې شوې:

- که څوک مړ او اولاد ئې نه وي نو مېړه ته ئې د مال نیمایي برخه او که ئې اولاد وي نو ده ته به څلورمه رسېږي.
- او د اولاد د نشتوالي په صورت کې ښځې ته د مېړه د مال څلورمه رسېږي، خو که مېړه ئې اولاد درلود نو دې ته اتمه رسېږي.
- که د مړي نه پلار وي او نه اولاد؛ یوازې کوم مورنی ورور یا کومه مورنۍ خور ولري نو هر یوه ته شپږمه رسېږي؛ که د وروڼو او خویندو شمېر تر دې زیات وي نو ټولو ته په ګډه د مال درېیمه رسېږي. وروڼه او خویندې خو یا اعیاني وي (له ګډ مور پلار)، یا علاتي (یوازې له ګډ پلار ) او یا اخیافي (یوازې له ګډې مور)؛ له روایاتو معلومېږي چې دلته اخیافي ورور او خور مراد ده.
- د مړي له تکفین وروسته به لومړی د ده پورونه اداء کېږي، د مال په درېیمې برخې کې به د ده وصیت تر سره کېږي، بیا به هر چا ته خپله برخه سپارل کېږي.
- نه به په وصیت کې چا ته د ضرر رسولو هڅه کوئ او نه د پور په اړه. داسې نه چې ورثه ئې نېستمن او محتاج وي او دی نورو ته یا کوم غني ته له خپل مال څه ورکړي او یا دا چې د پور په اړه غلطه وینا وکړي.

په احادیثو کې د میراث په اړه درې نورې اساسي لارښوونې هم شوې:

- د تعیین شوو برخو له ورکړې وروسته چې کوم څه پاته کېږي؛ دا به په هغو خپلوانو کې چې مشخصه برخه ورته نه ده ټاکل شوې او په شریعت کې د (عصبه) په نامه یاد شوي، هغه نارینه ته سپارل کېږي چې د مال خاوند ته تر نورو خپلوانو ډېر نژدې وي.
- کافر او مسلمان یو له بل میراث نه شي وړی.

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلَا يَرِثُ الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ» رواه مسلم

- قاتل د مقتول له مال میراث نه شي وړی.

عن عمرِو بنِ شُعَيبٍ عن أبيه عن جَده قال: قال رسولُ الله صلى الله عليه وسلم: «لَيْسَ لِقَاتِلٍ شَيْءٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَارِثٌ يَرِثُهُ أَقْرَبُ النَّاسِ إِلَيْهِ، وَلَا يَرِثُ الْقَاتِلُ شَيْئًا» السنن الكبرى للبيهقى

عمرو بن شعب له خپل پلار او نيکه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: قاتل ته هيڅ څه نشته؛ که کوم وارث ونه لري نو له خلکو به هغه ترې ميراث وړي چې مقتول ته تر ټولو نژدې وي او قاتل هيڅ څه په ميراث نه شي وړی.

تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿١٣﴾ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُۥ يُدْخِلْهُ نَارًا خَٰلِدًا فِيهَا وَلَهُۥ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٤﴾

[١٣]- دا الهي حدود دي او چا چې د الله او د ده د رسول اطاعت وکړ؛ داسې جنت ته به ئې داخل کړي چې ويالې به ترې لاندې بهېږي، په هغه کې تلپاته او همدا ستره بريا ده. [١٤]- او چا چې له الله او د ده له رسول سرغړاوی او د ده له حدودو ئې تېری وکړ، داسې اور ته به ئې ننباسي چې په کې تلپاته به وي او ده ته به سپکوونکی عذاب وي.

(١٣-١٤)- پر الله د ايمان تقاضی دا ده چې د ده او د ده د پيغمبر اطاعت به کوئ او د ژوند په ټولو برخو کې به د الهي حدودو مراعات کوئ؛ د دې اطاعت بدله تلپاته جنت دئ او د سرغړاوي او له حدودو د تېري سزا سپکوونکی عذاب او د دوزخ تلپاته اور دئ.

وَٱلَّٰتِى يَأْتِينَ ٱلْفَٰحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمْ فَٱسْتَشْهِدُوا۟ عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِّنكُمْ ۖ فَإِن شَهِدُوا۟ فَأَمْسِكُوهُنَّ فِى ٱلْبُيُوتِ حَتَّىٰ يَتَوَفَّىٰهُنَّ ٱلْمَوْتُ أَوْ يَجْعَلَ ٱللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا ﴿١٥﴾

[١٥]- او ستاسو هغه مېرمنې چې فحش کار (زنا) کوي؛ نو پر دوی له خپل منځ څلور شاهدان (د شهادت ورکولو لپاره) وغواړئ؛ نو که ئې شهادت ورکړ؛ بيا ئې تر هغه په خونو کې حصاري کړئ چې مرگ ئې کار تر سره کړي او يا الله ورته کومه لار وټاکي.

(١٥)- دلته څو اساسي خبري پام او توجه غواړي:

- دا حکم د زنا د حد له تعيين مخکې ابتدائي حکم دئ.
- زنا د فحش (بې حيائي) په نامه ياده شوې؛ د فحش په لفظ کې د بربنډتيا او څرگندوالي

مفهوم هم مضمر دئ.

- د زنا کوونکي د مجازات لپاره د څلورو مسلمانو شاهدانو شهادت ضروري ګڼل شوی. له دې شرطه معلومېږي چې اسلام د یوه انسان د مجازات په اړه څومره احتیاط لازم کړی؛ که څوك بل په زنا تورن کړي خو د خپلې ادعاء د اثبات لپاره څلور شاهدان حاضر نه کړی شي؛ هغه مفتري او فاسق ګڼل کېږي، په درو به وهل کېږي او له دې وروسته به ئې هیڅ شهادت د منلو وړ نه وي. که د ښځې خپل خاوند دا تور ولګوي نو یا به څلور شاهدان راولي او یا به څلور ځله د الله په نامه لوړه کوي چې رښتیا وایي او پنځم ځل به وایي: که دی دروغجن وي نو د الله لعنت دې ورباندې وي؛ خو که ښځه اعتراف ونکړي او د خاوند په څېر په څلور ځله قسم او یو ځل لعنت سره دا اتهام رد کړي د قاضي په وړاندې برئ ګڼل کېږي. د شاهدانو شهادت هم یوازې په هغه صورت کې اعتبار لري چې دا عمل ئې په خپلو سترګو لیدلی وي؛ د شك او ګمان په بنیاد شهادت نه منل کېږي. دا ټول احتیاطي تدابیر د دې لپاره دي چې هسې د شك او وهم په بنسټ څوك مجازات نه شي او عزت ته ئې تاوان ونه رسېږي، د ناروا او په خپل سر قتلونو مخنیوی وشي، قضایا محکمې ته وړاندې شي او قاضي له پوره غور او دقت وروسته په احتیاط سره فیصله وکړي.
- یوازې د ښځو یادونه شوې؛ له الفاظو داسې معلومېږي چې که ښځې په خپلو کې دا د فحش عمل وکړي؛ نو سزا ئې دغه ده؛ د الفاظو ترکیب ته په پام سره ځینو مفسرینو همدغه معنی ترې اخیستې ده او هغه ئې د همجنسو تر منځ جنسي رابطه ګڼلې؛ خو ځیني نور بیا وایي چې له دې مراد زنا ده او دلته یوازې د ښځو سزا بیان شوې ده او وروسته بیا دا حکم د زنا د حد په تعیین سره منسوخ شوی. خو که د آیت الفاظو ته په دقت سره ځیر شو او د وروستي آیت په خوا کې ئې وڅېړو نو معلومېږي چې په دې آیت کې هم زنا ته اشاره ده او هم د ښځو تر منځ ناروا جنسي تعلق ته، خو دلته یوازې د ښځو جزاء ښودل شوې او په وروستي آیت کې د نارینه وو تر منځ ناروا جنسي رابطه او د هغې سزا بیان شوې.

له آیت دا هم معلومېږي چې په دې اړه به الله تعالی مزید وضاحت کوي او د دې ګناه لپاره به مناسبه سزا ټاکي؛ همداسې وشول؛ د النور د سورې په دوهم آیت کې دا سزا مشخصه شوه. خو هلته یوازې د زنا حد مشخص شو، هلته د همجنسو تر منځ د جنسي رابطې د جزاء په اړه څه نه دي ویل شوي، له دې معلومېږي چې په دې آیتونو کې ذکر شوې جزا په خپل حال پاته ده او قاضي ته دا صلاحیت ورکړی شوی چې د دوی د تعزیر لپاره د قید یا په بل څه د ځورولو مناسبه فیصله وکړي.

وَٱلَّذَانِ يَأۡتِيَٰنِهَا مِنكُمۡ فَـَٔاذُوهُمَاۖ فَإِن تَابَا وَأَصۡلَحَا فَأَعۡرِضُواْ عَنۡهُمَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ تَوَّابٗا رَّحِيمًا ١٦

[١٦]- او كه ستاسو دوه نارينه دا كار وكړي نو وئې ځوروئ، كه ئې توبه وكړه او ځان ئې اصلاح كړ؛ نو ترې تېر شئ؛ يقيناً چې الله مهربان توبه منونكى دئ.

(١٦)- دلته هم ځينو مفسرينو لومړى رأيه غوره كړې او دا ئې د دوو نارينه وو تر منځ جنسي رابطه ګڼلې؛ د الفاظو تركيب هم دا مطلب افاده كوي؛ خو ځينو نورو دا هم زنا ګڼلې او وايي چې دلته د نارينه وو سزا ته اشاره شوې.

په قرآن كې د لوطي د سزا په اړه په واضح الفاظو څه نه دي ويل شوي؛ په حديث كې ئې سزا بيان شوې. پيغمبر عليه السلام فرمايي چې فاعل او مفعول ئې ووژنئ، د قتل څرنګوالى ئې قاضي ته پرېښودى شوى. داسي معلومېږي چې پيغمبر عليه السلام د زنا حد ته په پام سره د لواطت سزا ټاكلې، كه دا دوه آيتونه د زنا د حد له آيت سره خوا ته كښېږدو او قضاوت وكړو نو يوازې همدا نتيجه ترې اخيستى شو چې د دې ګناه سزا بايد همدغه وي.

إِنَّمَا ٱلتَّوۡبَةُ عَلَى ٱللَّهِ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٖ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ١٧ وَلَيۡسَتِ ٱلتَّوۡبَةُ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلۡمَوۡتُ قَالَ إِنِّي تُبۡتُ ٱلۡـَٰٔنَ وَلَا ٱلَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمۡ كُفَّارٌۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ١٨

[١٧]- پر الله خو يوازې د هغو توبه (قبلول) دي چې دا بد كار په ناپوهۍ سره كوي، بيا ورپسې ژر توبه كوي، نو الله به پر دغو (له خپل رحمت سره) راګرځي او الله باحكمت پوه دئ. [١٨]- او دا توبه د هغو لپاره نه ده چې تر هغه بد كارونه كوي چې كوم يوه ته ئې مرګ راوړاندي شي نو وايي: اوس مي توبه ده او نه هم د هغو لپاره چې كافر مري؛ دوى خو هغه دي چې دردناك عذاب مو ورته تيار كړى.

(١٧-١٨)- الله د بنده توبه قبلوي، بنده ته ئې د توبې دروازه خلاصه پرېښې، توبه كوونكى بنده ئې خوشېږي، د توبې قبلول ئې پر خپله ذمه اخيستى، مخصوصاً د هغه بنده توبه

چې په ناپوهۍ سره د ګناه کوم کار ترې وشي او ژر توبه وکړي. د آیت په پای کې د توبې په ارتباط د الله دوه صفات (علیم) او (حکیم) ذکر شوي چې مطلب ئې دا دئ: الله پوهېږي چې څوك له خپلې ګناه واقعاً نادم دئ، له خپل بغاوت پښېمانه دئ، بېرته خپل رب ته راګرځي، خپله غلطي جبرانوي او له ګناه د لاس اخیستو اراده لري. د توبې دروازه خلاصه پرېښودل او ګنهګار ته ویل چې که توبه وکړې الله تعالی له تېرو ګناهونو درته تېرېږي؛ دا پر الهي حکمت مبتني پرېکړه ده. د انسان طبیعت داسې دئ چې د دې دروازې تړل بد او خطرناك عواقب لري، که ګنهګار ته د ځان د اصلاح کولو او د خپلې ګناه د جبران فرصت ورنکړی شي او احساس کړي چې د بېرته راګرځېدو دروازې ئې پر مخ تړل شوې دي نو هغه به ناچار د بغاوت او عصیان په مسیر کې مخکې درومي. په دې سره الله تعالی د اسلامي ټولني چارواکي دې ته متوجه کوي چې ګنهګار ته د توبې مجال او فرصت ورکړئ، دا د حکمت تقاضی ده، د حدودو اجراء وروستی علاج وګڼئ، داسې لکه حاذق طبیب چې لومړی د پرهیز، بیا د دواء او په پای کې د جراحي سپارښتنه کوي. رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي:

عَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «كُلُّ بَنِي آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ». سنن ابن ماجه

له انس رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د آدم (علیه السلام) هر بچی خطاء کار دئ او په خطاءکارانو کې غوره ئې توبه کوونکي دي.

خو دې ته مو پام وي چې د مجرم د نیول کېدو او قاضي ته ئې د قضیې له وړاندې کېدو وروسته ئې توبه له مجازات نه شي ژغورلی.

هغه څوك د توبې له قبلېدو محروم دئ چې یا د کفر په حالت کې مري او یا په ګناهونو کې غرق وي، پرله پسې ګناهونه کوي، یوازې هغه وخت ئې توبې ته پام شي چې مرګ ئې خوا ته رارسېدلی وي او نور نو د ګناه کولو مجال او فرصت نلري.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُواْ ٱلنِّسَآءَ كَرْهًاۖ وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُواْ بِبَعْضِ مَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍۚ وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِۚ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُواْ شَيْـًٔا وَيَجْعَلَ ٱللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا ﴿١٩﴾

[١٩]- اې مؤمنانو! درته روا نه ده چې ښځې په زور په میراث کې واخلئ او د دې لپاره ئې مه تنګوئ چې د خپلو ورکړو شیانو څه برخه بېرته ترې واخلئ؛ مګر دا چې کومه څرګنده بدکاري وکړي؛ او په ښه توګه ورسره ژوند وکړئ؛ که مو ښه نه ایسي نو کېدی شي چې کوم څه مو خوښ نه وي خو الله په کې ډېر خیر واچوي.

(١٩)- له اسلام مخکې به خلکو کونډې داسې ګڼلې لکه د میراث مال، لکه څاروي چې په پیسو اخیستل شوي وي او خپل واك او اختیار نلري، نه خپلې کورنۍ ته ستنېدی شوی او نه ئې په خپله خوښه له چا سره نکاح کولی شوی، که به ئې وغوښتل چې خپلې کورنۍ ته ستنه شي نو دې ته به اړ کېده چې مهر او ټول هغه څه د مېړه ورثه وو ته مسترد کړي چې هغه ورکړي وو!! اوس هم په ډېرو جهل ځپلو ټولنو کې له ښځو سره همداسې ظالمانه او جاهلانه سلوك کېږي، په پښتنو کې خو دا ظالمانه دود دستور ډېر عام دئ، پلار ئې د بوده او څاروي په څېر خرڅه کړي، د مېړه له مرګ وروسته د میراث مال ګڼل کېږي، د مېړه خپلوان به د دې برخلیك ټاکي، د پلار کور ته نه شي ستنېدی، د خپل راتلونکي خاوند په اړه نه څه ویلی شي او نه څه کولی شي، د خپل مخکیني مېړه ورور ته به په نکاح کېږي، که ئې ورور ماشوم وو تر هغه به انتظار کوي چې ستر شي او که ئې ورور نه وو نو کوم بل خپلوان ته به ئې په نکاح کوي!! اسلام دا کار ستر ظلم وګاڼو او هغه ئې تحریم کړ، مسلمانانو ته ئې امر وکړ چې نه به کونډې خپل میراث ګڼئ، نه به ئې د خپلې خوښې له مېړه سره له نکاح منع کوئ او نه به د مهر او نورو شیانو د بېرته تر لاسه کولو لپاره هغه ځوروئ. د ښځو خاوندانو ته ئې امر وکړ چې له دې سره به ښه سلوك کوئ، که مو خوښه نه وي په دې طمع او هیله ئې وساتئ او له ناروا سلوك ډډه وکړئ چې هیله ده الله ئې تاسو ته د خیر او ښېګڼې ذریعه کړي، که ئې اخلاق ښه نه وو او کومه څرګنده بداخلاقي مو په کې وموندله؛ بیا دا اختیار لرئ چې د کوم څه په بدل کې ئې طلاق کړئ.

وَإِنۡ أَرَدتُّمُ ٱسۡتِبۡدَالَ زَوۡجٖ مَّكَانَ زَوۡجٖ وَءَاتَيۡتُمۡ إِحۡدَىٰهُنَّ قِنطَارٗا فَلَا تَأۡخُذُواْ مِنۡهُ شَيۡـًٔاۚ أَتَأۡخُذُونَهُۥ بُهۡتَٰنٗا وَإِثۡمٗا مُّبِينٗا ﴿٢٠﴾ وَكَيۡفَ تَأۡخُذُونَهُۥ وَقَدۡ أَفۡضَىٰ بَعۡضُكُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٖ وَأَخَذۡنَ مِنكُم مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا ﴿٢١﴾

[٢٠]- او که مو يوه مېرمن په بلې مېرمنې بدلول وغوښتل او د دوی کومې يوې ته مو ډېر مال سپارلی وي؛ نو هيڅ څه ترې بېرته مه اخلئ؛ آيا په بهتان او څرګندي ګناه سره ئې بېرته اخلئ؟! [٢١]- او څنګه به ئې بېرته اخلئ حال دا چې په خپلو منځونو

کې مو مباشرت کړی او له تاسو ئې کلکه ژمنه تر لاسه کړې.

(۲۰)- د دې آیت لارښوونې دا دې: که ښځه صالحه وي؛ داسې څه ئې نه وي کړي چې د پرېښودو او طلاق وړ وي؛ خو مېړه ئې د خپل شوق پوره کولو لپاره غواړي دې ته طلاق ورکړي او پر ځای ئې بله ښځه وکړي؛ نو په دې صورت کې د مهر د بېرته اخیستو حق نه لري. اخیستل ئې څرګنده ګناه ده. مبادا د مهر او نورو ورکړو شیانو د بېرته اخیستو لپاره خپله مېرمن په ګناه او غلطۍ متهمه کړئ، د طلاق لپاره کوم ناروا مجوز برابر کړئ او د مهر بېرته اخیستل ځان ته جائز کړئ.

(۲۱)- تاسو په کوم دلیل دا مهر له خپلې مېرمنې بېرته اخلئ؟! مګر د نکاح په وخت کې تا د دې ژمنه نه وه کړې چې د دومره مهر په مقابل کې دا په خپلې نکاح کې قبلوم؟ د دغه تړون له کبله خو له هغې سره مباشرت درته جائز شو او دا کار عملاً تر سره شو اوس نو په کوم دلیل او ولې له هغې د مهر د مستردولو مطالبه کوئ؟!

وَلَا تَنكِحُواْ مَا نَكَحَ ءَابَآؤُكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَۚ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً وَمَقْتًا وَسَآءَ سَبِيلًا ﴿٢٢﴾

[۲۲]- او له هغو ښځو ځوك مه په نکاح کوئ چې ستاسو پلرونو په نکاح کړې؛ مګر هغه څه چې مخکې تېر شوي؛ یقیناً چې دا څرګنده بې حیائي، د غضب وړ کار او بده طریقه ده.

(۲۲)- له مور او مېرې سره نکاح درباندې حرامه ده، که له اسلام مخکې دا ګناه درنه شوې وي اوس به ئې پرېږدئ او له دې وروسته به هغه د څرګندې بې حیائې کار، د الله د غضب وړ او ناکاره کرکجنه طریقه ګڼئ.

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَٰتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَٰتُكُمْ وَعَمَّٰتُكُمْ وَخَٰلَٰتُكُمْ وَبَنَاتُ ٱلْأَخِ وَبَنَاتُ ٱلْأُخْتِ وَأُمَّهَٰتُكُمُ ٱلَّٰتِيٓ أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَٰتُكُم مِّنَ ٱلرَّضَٰعَةِ وَأُمَّهَٰتُ نِسَآئِكُمْ وَرَبَٰٓئِبُكُمُ ٱلَّٰتِي فِي حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ ٱلَّٰتِي دَخَلْتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمْ تَكُونُواْ دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ وَحَلَٰٓئِلُ

أَبْنَآئِكُمُ ٱلَّذِينَ مِنْ أَصْلَٰبِكُمْ وَأَن تَجْمَعُواْ بَيْنَ ٱلْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٢٣﴾

[٢٣]- خپلې میندې، خپلې لوڼې، خپلې خویندې، خپلې ترینديې، خپلې توړیانې، وریرې، خورزې او هغه رضاعي میندې مو چې تی ئې درکړی او رضاعي خویندې مو او د خپلو مېرمنو میندې مو او په خپل کور کې له هغو مېرمنو ستاسو پرکتۍ چې نژدېوالی مو ورسره کړی، که مو نژدېوالی نه وي ورسره کړی نو څه ګناه به دربانديې نه وي او د خپلو اصلي زامنو مېرمنې (ږنندې) مو او دا چې دوه خوېندې سره یو ځای په نکاح کړئ؛ دا پر تاسو حرام کړی شوې؛ مګر هغه څه چې مخکې تېر شوې؛ یقیناً چې الله مهربان بخښونکی دئ.

(٢٣)- دلته څو خبرې نورې هم باید په پام کې ولرئ:

- له رضاعي مور هر پیدا شوی زوی او لور په نکاح کې د خور او ورور په شان ګڼل شوې، تې رودونکې ته ئې نکاح ناجائزه ده.
- په هره توګه چې د ماشوم خېټې ته د کومې ښځې پی داخل شي، هغه رضاعي مور ګرځي.
- له کومې مېرمنې سره چې نکاح وشي، که نژدېوالی ئې شوی وي یا نه وي شوی؛ د دې ښځې له مور سره نکاح پرې حرامه ده؛ خو د دې مېرمنې لور یوازې په هغه صورت کې پرې حرامه کېږي چې له نکاح وروسته ئې نژدېوالی هم ورسره شوی وي.
- له نږور سره نکاح حرامه ده؛ که څه هم هغه طلاقه شوې وي او یا کونډه شوې.
- په یوه وخت کې دوه خوېندې په نکاح کول حرام دي؛ خو که یوه ومري او یا طلاق ورکړي او عدت ئې تېر شي؛ خور ئې نکاح کول جائز دي.

د احادیثو له مخې هغه دوه ښځې هم یو ځای په نکاح کول ناجائز دي چې په خپلو کې ترور او وریره وي، یا توړی او خورزه وي. هغه دوه ښځې یو ځای په نکاح کول ناروا دي چې که له دوی یوه ئې نارینه وی نو په خپلو کې به ئې نکاح ناروا وه.

دلته هغه ښځې معرفي شوې دي چې نکاح ورسره حرامه ده، اوه ئې له نسبي پلوه او اوه ئې له صهري پلوه، خو دا د محرماتو لپاره د بنسټ حیثیت لري، دا څوارلس د حصر په معنی نه دي، د دې له مخې او دې ته په پام سره نور محرمات تاکل شوي، قرآن دا نه دي ویلي چې د لمسی او انا حکم څه دئ، که دا خپله وي یا د مېرمنې او یا د خور او ورور، دا ئې هم نه دي ویلي چې آیا سری کولی شي چې د خپلې مېرمنې ترور یا وریره هم له دې

سره يو ځاى نكاح كړي، خو دغو آيتونو ته په پام سره د هغې حراموالى په آسانۍ سره معلوموﻟﻰ شو، هر عقلمن انسان د دوى په اړه حكم له نورو احكامو قياس كوﻟﻰ شي؛ له دغو څوارلسو مواردو علاوه نور محرمات د همدغو آيتونو له مخې ټاكل شوي دي، نه دا چې د دوى په اړه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته بېله بېله وحې نازله شوې!!

نن د علمي تجربو له مخې ثابته شوې چې له محارمو خپلوانو سره نكاح مضره ده او بدې پايلې لري، ضعيف او د بيماريو په مقابل كې كمزوري اولاد ترې پيدا كېږي.

وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ ۖ كِتَٰبَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ ۚ وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ أَن تَبْتَغُوا۟ بِأَمْوَٰلِكُم مُّحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَٰفِحِينَ ۚ فَمَا ٱسْتَمْتَعْتُم بِهِۦ مِنْهُنَّ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَٰضَيْتُم بِهِۦ مِنۢ بَعْدِ ٱلْفَرِيضَةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٢٤﴾

[٢٤]- او مېړوښې ښځې مگر هغه چې ستاسو په واك كې وي؛ دا پر تاسو ليكلې الهي فريضه ده او له دې سوا درته روا كړى شوې، چې په خپل مال سره ئې د نكاح كوونكو په توگه لټه وكړئ؛ نه د زنا كوونكو په توگه؛ نو كه په دې (مال) سره مو له دې تمتع اخيستل وغوښتل؛ نو فرض مهر ئې وركړئ او له مهر وروسته په هغه څه كې كومه گناه درباندې نشته چې په خپلو كې پرې راضي شئ؛ بې شكه چې الله باحكمت پوه دئ.

(٢٤)- دلته څو خبرې شوې:

• مېړوښې ښځې د مخكينيو محرماتو په ضمن كې دي؛ په استثناء د هغو مېړوښو ښځو چې د مسلمانانو په واك كې راغلې او له خپلو سابقه مېړونو سره ئې تعلق قطع شوى؛ چې دا يا وينځې دي او يا له محارب دښمن په اسارت نيول شوې مېرمنې، وينځې خو اوس نشته، د اسيرو مېرمنو په اړه به يو له دغو كارونو كېږي: كه ايمان راوړي نو د مسلمانو مېرمنو سلوك به ورسره كېږي، كه په خپل مذهب ټينگار وكړي نو د مسلمانانو امير به يا دوى له خپلو اسيرانو سره تبادله كوي، يا به ئې د فديې په مقابل كې خوشې كوي او كه دا ممكن نه وو نو چا ته به ئې په نكاح وركوي مشروط په دې چې نكاح ئې جائزه وي.

له دغو ښځو علاوه نوري په دوه شرطه په نكاح كولى شئ: لومړى دا چې په خپلې نكاح كې د دوى د ساتلو په اراده به ئې په نكاح كوئ نه د خپلې جنسي غريزې د اشباع

لپاره په موقته توګه؛ او دوهم دا چې مهر ئې ورکړئ.

قرآن د نکاح کوونکو نارینه وو لپاره د محصِنين او د نکاح کېدونکو ښځو لپاره د محصَنات صيغه کارولې؛ حصن کلا ته وايي او محصِن هغه چا ته وايي چې بل په خپل حفاظت کې ساتي او محصَن هغه چا ته چې بل ئې د خپل حفاظت په غېږ کې ساتي؛ په دې سره قرآن د نکاح حقيقت څرګند کړی: يعني دا چې نکاح يوه موقته جنسي رابطه نه ده چې محض د خپل شوق پوره کولو يا د خپل جنسي ضرورت د رفع کولو لپاره تر سره شي؛ نه؛ دا د نکاح په قيد او احاطه کې د يوې کورنۍ د جوړولو لپاره غيرموقت تړون دئ؛ پام کوئ چې دې سپېڅلي تړون ته د پټې يارانې، يا د جنسي غريزې د اشباع رنګ ورنه کړئ.

ډېره عجيبه ده چې څوك د قرآن دا صراحت له پامه وغورځوي او موقته نکاح جائز وګڼي!! قرآن نه يوازې نکاح يو غير موقت تړون ګڼي او په تکرار او ټينګار سره دا خبره کوي او په هيڅ ځای کې ئې داسي لفظ نه دئ کارولی چې له هغه د موقتي نکاح د جواز شائبه راپيدا شي، بلکې د بيان له لهجې ئې معلومېږي چې موقته نکاح داسي ګڼي لکه شهواني اقدام او په پټه يار نيول. پيغمبر عليه السلام دغو تأکيداتو ته په پام سره موقته نکاح تحريم کړه.

له نکاح او استمتاع وروسته ښځو ته خپل ټاکلی مهر له وعدې سره سم ورکول يوه الهي فريضه ده. خو که ښځه او مېړه په خپلو کې د مهر په اړه کومه پرېکړه کوي، يو بل ته له خپل حق تېرېږي، د ورکړې موده ئې بدلوي يا کوم بل تغيير په کې راولي؛ دا کار کولی شي.

د آيت دوهمه برخه د لومړۍ برخي لپاره مزيد شرح او تفصيل دئ، په (فاء) او (به) سره له مخکينۍ برخي سره تړل شوې او په ډېر صراحت سره ښيي چې په دغي فقرې (أُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ أَن تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُم) کې راغلی مطلب؛ په بعدي فقرې (فَمَا اسْتَمْتَعْتُم بِهِ مِنهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً) کې مزيد توضيح شوی دئ؛ دلته له استمتاع ځان ته حلالول او ترې ګټه اخيستل مراد دي، له (به) مال او له (اجورهن) د دوی مهر. لکه څنګه چې دا برخه د مخکينۍ لپاره شرح ده؛ له دې وروسته برخه د دې لپاره مزيد شرح ده: وَ لا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَضَيْتُم بِهِ مِن بَعْدِ الْفَرِيضَةِ.

متأسفانه ځينو له (استمتاع) (متعه) او موقته نکاح اخيستې او له (اجور) ئې د مهر پر ځای د موقتي نکاح اجوره. حال دا چې استمتاع له دې ځای علاوه په پنځو نورو ځايونو کې هم راغلې او په هيڅ ځای کې د متعه معنی نه ورکوي او يوازې د متمتع کېدو او ګټې اخيستو معنی افاده کوي او اجور د مهور په معنی په پنځو نورو آيتونو کې هم راغلی: د

دې سورې په ۲۵ آيت کې هم له اجور مراد مهور دئ نه بل څه.

مصيبت دا دئ چې ځينې خلك د خپل مسلك او مذهب مربوط روايت ځان ته معيار او ملاك کړي او دا هڅه کوي چې د قرآن آيتونه د دغو رواياتو په ګټه تأويل کړي، که کوم روايت د قرآن له کوم آيت سره مغاير مومي او د آيت ټول الفاظ او د الفاظو ترکيب ئې په صراحت او قاطعيت سره د ده روايت نفي کوي؛ دې ته نه تيارېږي چې يا روايت پرېږدي يا ئې د آيت په ګټه تأويل کړي، په خلاف ئې د آيت صريح مفهوم پرېږدي او داسې کوږ او له تکلف ډك مطلب ترې راباسي چې همدا غلط او ضعيف روايت تأييد کړي. د موقتي نکاح او متعې په باره کې ئې کوم روايت تر لاسه کړی؛ بايد له قرآن د دې روايت په تأييد کې کوم دليل راپيدا کړي، خو ځرګند دليل نه مومي، په خلاف ئې ګوري چې قرآن د نکاح په دوام او غېرموقت والي تأکيد کوي، د نکاح کوونکو لپاره د (محصِنين) او د نکاح کېدونکيو لپاره د (محصَنات) الفاظ کاروي او مسلمانانو ته مکرر او په تأکيد سره وايي چې له نکاح داسې څه مه جوړوئ چې ځرګندي زنا يا د پټې يار نيولو ته ورته وي؛ خو دی د قرآن مغاير روايت نه شي پرېښودی، ناچار به په آيت کې لاسوهنه کوي او مطلب به ئې داسې برابروي چې د روايت تأييد ترې راووځي؛ هغه روايت به څنګه د اعتبار وړ ګڼو چې د قرآن له صريح آيت سره تضاد او تعارض لري؟! په قرآن د ايمان تقاضی خو دا ده چې د داسې روايت په اړه ووايو: ښايي راوي اشتباه کړې ده يا ښايي دا روايت د هغې مرحلې په اړه وي چې لا دا آيت نه وو نازل شوی. قرآن د داسې خلکو څېره څومره ښه او دقيقه انځور او څنګه ئې هغوي معرفي کړي، هلته چې فرمايي:

وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُونَ أَلْسِنَتَهُم بِٱلْكِتَٰبِ لِتَحْسَبُوهُ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ۝٧٨ آل عمران

او له دوی يوه ډله داسې ده چې په خپلې ليکنې او کتاب خپلې ژبې داسې اړوي چې ته هغه د الله د کتاب يوه برخه وبولې، په داسې حال کې چې هغه د الله د کتاب برخه نه ده، دوی وايي: دا خبرې ټولې د الله له لوري دي په داسې حال کې چې د الله له خوا نه دي؛ په الله پورې دروغ تړي سره له دې چې ښه پوهېږي.

---

وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلًا أَن يَنكِحَ ٱلْمُحْصَنَٰتِ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ فَمِن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُم مِّن فَتَيَٰتِكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ ۚ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَٰنِكُم ۚ

بَعْضُكُم مِّنۢ بَعْضٍۚ فَٱنكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَءَاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ
بِٱلْمَعْرُوفِ مُحْصَنَٰتٍ غَيْرَ مُسَٰفِحَٰتٍ وَلَا مُتَّخِذَٰتِ أَخْدَانٍۚ فَإِذَآ أُحْصِنَّ فَإِنْ
أَتَيْنَ بِفَٰحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى ٱلْمُحْصَنَٰتِ مِنَ ٱلْعَذَابِۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ
خَشِيَ ٱلْعَنَتَ مِنكُمْۚ وَأَن تَصْبِرُوا۟ خَيْرٌ لَّكُمْۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٥﴾

[٢٥]- او ستاسو هغه څوك چې د شتمنۍ له پلوه هومره توان نلري چې مؤمني مېرمني ځان ته په نكاح كړي نو بيا دي په خپل واك كې له باايمانه وينځو (څوك په نكاح كړي) او الله ستاسو په ايمان ښه پوه دئ، تاسو يو له بل يئ، نو د خپلو خاوندانو په اجازه ئې په نكاح كړئ او مهر ئې په ښه توګه وركړئ، د نكاح په حصار كې راتلونكې، نه زنا كونكې او نه د پټي يار نيونكې، نو چې په نكاح كې راغلې، كه ئې بيا كومه بې حيائي وكړه، نو په دوی د آزادو مېرمنو د عذاب نيمايي ده، دا مو د هغه چا لپاره چې له كړاو ئې وېره وه او كه صبر وكړئ دا درته غوره دئ او الله مهربان بخښونكی دئ.

(٢٥)- دلته د هغه چا په اړه ارشادات شوي چې له مالي لحاظه كمزوری دئ، نه د آزادي ښځي د مهر توان لري او نه ئې د خرڅ، خوراك او پوښاك؛ د دوی په اړه دا لارښووني شوې:

- له با ايمانه وينځو دي څوك په نكاح كړي.
- چې ظاهر ئې د مؤمني وي، په دې اكتفاء وكړئ، د زړه په كيفيت خو له الله تعالی پرته بل څوك نه پوهېږي.
- دا د عار كار مه ګڼئ، وينځه هم ستاسو په شان انسان ده.
- د مالك په اجازه به ورسره نكاح كوئ.
- مهر به ئې وركوئ.
- دا به د نكاح په قيد كې د راتلو په موخه په نكاح كې راځي.
- نكاح به د جنسي غريزې د اشباع لپاره يو موقت او لنډ مهاله تړون نه وي. داسي نه چې د قانوني زنا بڼه غوره كړي.
- دا به يو څرګند سپېڅلی تړون وي، نه د كوم پټ يار د نيولو معامله.
- كه د نكاح په حفاظت كې له راتلو وروسته ئې زنا وكړه، سزا ئې د آزادو ښځو نيمايي ده.

- دا لارښووني د هغه چا لپاره دي چي په ګناه کي د لوېدو وېره ورسره ده، ځان دې ته اړ ګڼي چي نکاح وکړي، له دې پرته په ګناه کي د پرېوتو وېره لري.
- که له دې رخصت د استفادې پر ځای صبر وکړي دا ورته غوره دئ.

يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ وَيَتُوبَ
عَلَيْكُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦﴾ وَٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيْكُمْ وَيُرِيدُ ٱلَّذِينَ
يَتَّبِعُونَ ٱلشَّهَوَٰتِ أَن تَمِيلُوا۟ مَيْلًا عَظِيمًا ﴿٢٧﴾ يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمْ ۚ
وَخُلِقَ ٱلْإِنسَٰنُ ضَعِيفًا ﴿٢٨﴾

[٢٦]- الله غواړي چي تاسو ته ئې بيان کړي او د هغو کسانو دود دستور دروښيي چي له تاسو مخکي وو او په رحمت سره درباندي راوګرځي؛ او الله باحکمت پوه دئ. [٢٧]- الله خو غواړي چي په رحمت سره درباندي راوګرځي او هغه چي په شهواتو پسي روان دي دا غواړي چي په ډېر کوږوالي سره کاږه شئ. [٢٨]- الله دا غواړي چي درنه سپك ئې کړي او انسان خو کمزوری پيدا شوی.

(٢٦-٢٨)- الله تعالی په دغو لارښوونو او ارشاداتو سره غواړي تاسو ته حقائق بيان کړي، د مخکينيو امتونو په غوره دود دستور مو پوه کړي، د الله د پېرزوينو او رحمتونو د تر لاسه کولو طريقې دروښيي، دا ټول احکام په الهی حکمت ولاړ دي، په هر يوه کي ئې ستاسو لپاره ډېر مصالح پراته دي، د انسان کمزوريو ته په پام سره ئې ستاسو پېټي راکم کړي، د دې په مقابل کي د شيطان ملګري او هغه چي د خپل هوس بندګان دي او په شهواتو پسي درومي، د هغوی هڅه او هاند دا دئ چي تاسو په کږو لارو سر کړي، هم د الله له سمي لاري کاږه شئ او هم د خپل انساني فطرت له سالمو غوښتنو انحراف وکړئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ
تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ ۚ وَلَا تَقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا
﴿٢٩﴾ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ عُدْوَٰنًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ
يَسِيرًا ﴿٣٠﴾

[۲۹]- اې مؤمنانو! مالونه مو په خپل منځ کې په ناروا مه خورئ، مګر دا چې ستاسو د رضامندۍ تجارت وي؛ او ځان وژنه مه کوئ؛ یقیناً چې الله درباندې مهربان دئ.
[۳۰]- او چا چې په تېرې او ظلم سره دا کار وکړ؛ حتماً به ئې اور ته ننباسو او دا خو الله ته آسان دئ.

(۲۹-۳۰)- د کورنۍ ژوند په اړه له لارښوونو وروسته؛ په دې آیتونو کې د مسلمانانو تر منځ د اقتصادي اړیکو په ارتباط څو اساسي لارښوونې کوي:

- په ناروا به یو د بل مال نه خورئ. په دې کې ټولو هغو ناراوو لارو ته اشاره شوې چې اسلام حرامې کړې: ربا، قمار، احتکار، دوکه، رشوت، د حرامو شیانو تجارت او نور.
- تجارت درته جائز دئ، په دې سره کولی شئ یو له بل جائزه ګټه تر لاسه کړئ، خو په تجارت کې به د طرفینو رضایت په پام کې نیسئ، یو به د بل له مجبوریتونو ناروا ګټه نه اوچتوي؛ د معاملې د دواړو لوریو له توافق او رضایت پرته معامله باطله ده؛ که پلورونکي د خپل مال عیب پټ کړی وي؛ که پېرونکی ړوند وي؛ ده یو شیء غوښتی او پلورونکي بل شيء ورکړی وي؛ ده جاپاني مال غوښتې خو هغه چینایي ورکړي؛ نو دا مبایعه باطله ده او پېرونکی حق لري هغه مسترد کړي؛ همدا راز که پېرونکي په ماته ګوډه ژبه یو څه ویلي وي؛ یوه خپله خبره سمه نه شوی کولی یا ئې د دواړو د ژبو تر منځ تفاوت وو؛ او پلورونکي د هغه د قصد او مطلب خلاف کار کړی؛ دا معامله باطله ده. دا ځکه چې د رضایت شرط فوت شوی. دا مطلب په یوه حدیث کې داسې راغلی:

**عَنْ عَبْدِاللَّهِ بنِ عُمَرَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَجُلاً ذَكَرَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ يُخْدَعُ فِى الْبُيُوعِ، فَقَالَ: «إِذَا بَايَعْتَ فَقُلْ: لا خِلابَةَ». (بخاری: ۲۱۱۷)**

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت دئ چې: یوه سړي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته وویل: په پېر پلور کې غولول کېږي؛ وئې فرمایل: ((کله چې د پېر پلور معامله کوې نو وایه: دوکه به نه وي)).

ځینو ویلي چې دا سړی په سترګو ړوند وو او ځینو ویلي سمې خبرې ئې نه شوی کولې؛ ده ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم د سپارښتنې معنی دا ده: (لا خِلابَةَ: دوکه به نه وي)؛ په ویلو سره به د معاملې د فسخې اختیار ستا په واك کې وي.

- په آیت کې دا فقره: له ځان وژلو ډډه وکړئ؛ که څه هم په عامه توګه ئې معنی دا ده چې مبادا د فقر له وجهې او یا د فقر له وېرې ځان یا خپل اولاد ووژنئ. د الله له رحمت مه مأیوس کېږئ. خو دلته او د تجارت په ارتباط ئې معنی دا ده چې که دا انسان وژنه له

ظلم او تېري راولاړه شوې وي او د انسانانو د مرگ او وژل کېدو عامل ظلم، تېرى او په تجارتي معاملاتو کې غبن او دوکه وي؛ نو دا ظالمان او تېرى کوونکي دي د الله عذاب ته انتظار وکړي.

• د دې معنى دا ده چې مبادا کوم انسان په ظلم او تېري سره ووژنئ او يا داسي اقتصادي نظام رائج کړئ چې د نېستمنو د مزيد نېستمن کېدو باعث شي او د دوی په تدريجي مرگ منتج شي. دا اوس چې غربي استعمار پر نړۍ کوم اقتصادي نظام مسلط کړی، نړۍ ئې په بډايو او فقيرو هېوادو وېشلې، يو له ډېرو خوړو چوي او بل د يوې گولې وچې ډوډۍ له نه موندلو مري، يو د پړسوب او پرېړتوب بيماريو لپاره دواگاني او علاجونه لټوي او بل سِل او ملاريا وهلی، د هډوکو له پاسه ئې له پوستکي پرته بل څه نشته، يو په سترو سترو مجللو افسانوي بنگلو کې هم قانع نه وي او بل يا له زړوکو جوړې شوې خېمې کې يا له ټيم جوړې شوې گوډلي کې د ژمي سړې شپې يا د دوبي تودې ورځې تېروي، د غرب ظالمانه پانگوال نظام د ژوري په څېر د وروسته پاته هېوادونو د مظلومو ولسونو ويني زبېښلې، ظالم او بې رحم حکومتونه، جنرالان او پاچايان ئې پرې مسلط کړي، د دوی شتمنۍ ئې غارت کړې، يوه ټوټه اوسپنه او پلاستيك د سرو زرو په بيع پرې پلوري، جنرالان ئې شتمنۍ په وسلو مصرفوي خو دا وسلې د دې پر ځای چې د دښمن په ضد استعمال شي په خپله د ولس د ځپلو لپاره کارول کېږي، په تېرو پېړۍ کې به استعماري ځواکونو د خپل فوځ په زور ملکونه نيول او خپلو کمپنيو ته به ئې سپارل، خو اوس د دغو هېوادونو خپل فوځونه دا کار ورته کوي. څو جنرالان په ارزانه بيع واخلي، هم فوځ د دوی په ولکه کې راشي او د قيامونو د ځپلو لپاره ترې کار اخلي او هم د کودتاگانو له لاري نظامونه او چارواکي ئې يو په بل بدلوي. د قرآن په دغه وينا کې دا ټول حقائق توضيح شوي، واقعاً چې په ناروا سره د خلکو مال خوړل، د انسانانو د مرگ او هلاکت لوی عامل دئ.

---

إِن تَجۡتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنۡهَوۡنَ عَنۡهُ نُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَنُدۡخِلۡكُم مُّدۡخَلٗا كَرِيمٗا ﴿٣١﴾

[٣١]- که مو له سترو سترو منع شوو ډډه وکړه، بد بد به درنه ورژوو او د ننوتو په عزتمن ځای کې به مو داخل کړو.

---

(٣١)-دلته سيئات د کبائرو په مقابل کې ذکر شوي او دا مطلب افاده کوي چې که له سترو

سترو گناهونو ډډه وکړئ نو الله تعالى به سيئات يا واړه واړه گناهونه درته معاف کړي، خو دا ستر گناهونه کوم دي او واړه ئې کوم؟ آيا مراد ترې يوازې دغه گناهونه دي چې په پورتني آيت کې ورته اشاره شوې؟ په ناحقه د بل مال خوړل او د نفس قتل او که معنى ئې عامه ده او ټولو هغو گناهونو ته شامليږي چې اسلام ورته کبائر وايي؟ او دا کبائر کوم دي؟ په دې اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- دلته له تکفير سيئات مراد هم د وړو گناهونو بخښنه کېدى شي او هم د بدو اخلاقو او ناوړه عاداتو اصلاح، يعني يا د تغفير الذنوب په معنى راغلى او يا په خپله اصلي معنى. غوره معنى ئې اصلي معنى ده، دا ځکه چې الله تعالى په توبې سره هره گناه بخښي.
- له لويو گناهونو د اجتناب په صورت کې د وړو گناهونو د معافي تفصيل همغه دئ چې د ابو هريره رضي الله عنه په روايت کې راغلى:

قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه و سلم قَالَ « إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ حَظَّهُ مِنَ الزِّنَى أَدْرَكَ ذَلِكَ لاَ مَحَالَةَ فَزِنَى الْعَيْنَيْنِ النَّظَرُ وَزِنَى اللِّسَانِ النُّطْقُ وَالنَّفْسُ تَمَنَّى وَتَشْتَهِى وَالْفَرْجُ يُصَدِّقُ ذَلِكَ أَوْ يُكَذِّبُهُ ». رواه مسلم

ابو هريرة رضي الله عنه وويل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله تعالى چې د بني آدم لپاره د زنا کومه برخه ټاکلې هغه به هرمرو بيا مومي، نو د سترگو زنا کتل دي، د ژبې زنا ئې د هغې خبرې دي، نفس ئې ټمنى او تلوسه کوي، خو فرج ئې د دې تصديق يا تکذيب کوي.

يعني د انسان ټول اعضاء په يوې گناه کې خپله خپله ونډه لري، سترگې، ژبه، لاس پښې او زړه؛ که په پای کې دا گناه تر سره شي نو ټول شريك اندامونه به خپله خپله سزا گالي او که تر سره نه شوه نو د دغو اندامونو کړې گناه هم معاف کېږي.

په دې مبارك آيت کې له هغو اووه سترو سترو گناهونو چې پيغمبر عليه السلام ئې موبقات گڼي درې ئې راغلي، قتل، سود او د يتيم مال خوړل:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ « اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ »؛ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَمَا هُنَّ؟ قَالَ « الشِّرْكُ بِاللَّهِ، وَالسِّحْرُ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِى حَرَّمَ اللهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ، وَأَكْلُ الرِّبَا، وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيمِ، وَالتَّوَلِّى يَوْمَ الزَّحْفِ، وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ الْغَافِلاَتِ » . رواه البخارى

له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: له

اوو تباه کوونکو ډېره وکړئ؛ وویل شو: یا رسول الله! دا کوم کوم دي: وئې فرمایل: له الله سره شرك، سِحر، د هغه نفس وژل چې الله ئې وژل حرام کړي مگر په حقه، د یتیم مال خوړل، سود خوړل، د جگړې په ورځ شا اړول او تېښته او د مؤمنو، عفیفو او له گناه د غافلو ښځو تورنول.

وَلَا تَتَمَنَّوْاْ مَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بِهِۦ بَعۡضَكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٞ مِّمَّا ٱكۡتَسَبُواْۖ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٞ مِّمَّا ٱكۡتَسَبۡنَۚ وَسۡـَٔلُواْ ٱللَّهَ مِن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا ٣٢

[۳۲]- او د هغه څه هیله مه کوئ چې الله ستاسو یوه ته پر بل پرې فضیلت ورکړی، نارینه وو ته د خپلو لاسته راوړنو ځانگړې برخه ده او ښځو ته د خپلو لاسته راوړنو ځانگړې برخه او له الله د ده فضل وغواړئ؛ یقیناً چې الله په هر څه ښه پوه دئ.

(۳۲)- دا آیت په داسي ځای کې راغلی چې تر دې مخکې او وروسته د مال او میراث په اړه بحث کېږي؛ له دې معلومېږي چې دلته هم د دغې موضوع په اړه ځانگړې توصیه شوې او ویل شوي چې د بل شته باید په تا کې حرص او حسد راولاړ نه کړي، هر څوك به خپلې لاسته راوړنې مومي، که نارینه وي او که ښځه؛ د مال او دولت د تمنی پر ځای هغو نېکو عملونو ته اهتمام وکړئ چې د الله په خوا کې به ئې حتماً بیامومئ او که مال او دولت غواړئ نو له الله ئې وغواړئ، له روا او جائزو لارو ئې د لاس ته راوړو هڅه وکړئ.

وَلِكُلّٖ جَعَلۡنَا مَوَٰلِيَ مِمَّا تَرَكَ ٱلۡوَٰلِدَانِ وَٱلۡأَقۡرَبُونَۚ وَٱلَّذِينَ عَقَدَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡ فَـَٔاتُوهُمۡ نَصِيبَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدًا ٣٣

[۳۳]- او هر چا ته مو د هغه څه لپاره وارثان ټاکلي چې والدین او خپلوان ئې تر شا پرېږدي او هغه چې ستاسو لوړو او قسمونو (درسره) تړلي دي؛ خپله برخه ئې ورکړئ، بې شکه چې الله پر هر څه شاهد دئ.

(۳۳)- د ورثه وو لپاره خپلې خپلې برخې ټاکل شوې، خو هغه چې د مواخات او موالات داسي اړیکې مو ورسره پاللې دي چې تل مو له معاوضې پرته یوه له بل سره مرسته کړې ده، دوی ته هم مناسبه برخه ورکړئ.

ٱلرِّجَالُ قَوَّٰمُونَ عَلَى ٱلنِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ وَبِمَآ أَنفَقُواْ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡۚ فَٱلصَّٰلِحَٰتُ قَٰنِتَٰتٌ حَٰفِظَٰتٞ لِّلۡغَيۡبِ بِمَا حَفِظَ ٱللَّهُۚ وَٱلَّٰتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَٱهۡجُرُوهُنَّ فِي ٱلۡمَضَاجِعِ وَٱضۡرِبُوهُنَّۖ فَإِنۡ أَطَعۡنَكُمۡ فَلَا تَبۡغُواْ عَلَيۡهِنَّ سَبِيلًاۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيّٗا كَبِيرٗا ﴿٣٤﴾

[٣٤]- نارينه پر ښځو قيم ( مدبر او منتظم) دي، د هغه فضيلت په وجه هم چې الله يوه ته پر بل ورکړی او د خپلو مالونو د انفاق په وجه هم، نو صالحې ښځې مطيع وي او په غياب کې د هغه څه ساتونکې وي چې الله خوندي کړي او د کومو ښځو له بدخويي او سرغړاوي چې وېره لرئ نو نصيحت ورته وکړئ، په بستر کې ترې لرې شئ او وئې وهئ، نو که ستاسو اطاعت ئې وکړ نو هسې حيلې او بهانې ورته مه لټوئ، بې شکه چې الله ستر لوړ دئ.

---

(٣٤)- د دې مبارك آيت په ترڅ کې د کورنۍ د خپلمنځي چارو او د ښځې او مېړه د وظائفو په اړه لاندې هدايات ورکړی شوي:

- کورنۍ يوه وړوکې ټولنه ده، وړه او لويه ټولنه يوه قيم، رئيس او ناظم ته ضرورت لري، له مدير او قيم پرته ټولنه د تشتت او بدنظمۍ ښکار کېږي، الله تعالى د کورنۍ د قيموميت دنده نارينه ته سپارلې او د دې لپاره ئې دوه دلائل وړاندې کړي: لومړی دا چې د دې وظيفې لپاره نارينه تر ښځې مناسب دئ. د ښځې د عاطفې او عقل تر منځ انډول داسې دئ چې د عاطفې اړخ ئې کافي درووند دئ، ځواکمنه عاطفه ورکړی شوې، هومره چې اکثراً عقل تر خپلې اغېزې لاندې راولي، همدې صفت ته د اولاد د روزنې لپاره اړه وه، د همدغې عاطفې په حکم د اولاد د هوساينې او سوکالۍ لپاره خپله هوسايي قرباني کوي، دا هغه څه دي چې نارينه ترې محروم دئ، د نارينه عاطفه د دې په څېر ځواکمنه نه ده، د عقل او عاطفې تر منځ ئې نسبي انډول شته، د قيموميت او مديريت لپاره دغه انډول ته ضرورت دئ او دوهم دليل ئې دا چې د کورنۍ ټول مصارف ئې پر غاړه دي، له مهر نيولې بيا تر کور، جامو او نفقې پورې.
- صالحې ښځې هغه دي چې په کورنۍ کې د مېړه قيموميت مني، دا هڅه نه کوي چې دا د کور واکمنه او مېړه ئې دې ته تابع او منقاد وي، د خاوند په غياب کې بايد د ټولو هغو شيانو حفاظت وکړي چې الله تعالى ئې د حفاظت امر کړی، خپل عفت، خپل ماشومان، د خاوند مال او د ده عزت.

د دې آيت له مخې نارينه د كور (چارواكى) او مېرمن ئې (ساتونكې) ده. صالحه ښځه هغه ده چې د وظائفو دا وېش مني او خپله دنده په ښه توګه تر سره كوي.

كه څه هم د دغو دوو دلائلو له مخې اسلام نارينه د كورنۍ قيم ټاكلى خو دواړه مخصوصاً نارينه ئې په ښه سلوك او د كورنۍ په ټولو كارونو كې په مشوره مكلف كړى.

كه ښځو نشوز كاوو، نه ئې دا پورتنى تقسيم منلو او نه ئې د ساتني دنده په امانتدارۍ او اخلاص تر سره كوله، ځان ئې تر مېړه اوچت ګاڼو او هڅه ئې كوله چې هغه ځان ته مطيع كړي، نو د ستونزې د حل لپاره ئې خاوند څو كارونه كولى شي: په وعظ او نصيحت سره دې هغه اصلاح كړي، كه وعظ او نصيحت نتيجه ورنكړه، نو څه وخت دې ترې مرور شي، خو داسې مرور نه چې يا دى كور ورته پرېږدي او يا دا له خپل كور بل ته ولېږي، نه؛ په خپله خونه او بستره كې دې لږ ترې لرې څملي، كېدى شي په دې سره د هغې بې ځايه غرور مات شي او روغه جوړه وشي، خو كه دې تدبير هم نتيجه ورنكړه نو د تأديب لپاره ئې وهلى شي، خو دا وهل به داسې وي لكه پلار او مور چې خپل ماشومان تأديبوي، نه سوك او لغته (لګته)، نه په لښته او دُرې وهل، نه به ئې پر مخ او بل نازك ځاى وهي او نه به د داسې شي ګوزار پرې كوي چې ټپي ئې كړي. هدف به اصلاح وي نه غچ او انتقام، نه د خپلې برلاسۍ ثابتول، كه په دې سره هغې له نشوز لاس واخيست او د مېړه اطاعت ته چمتو شوه، نو بايد د تېرو كړو په وجه ئې ونه ځوروي او د ځورولو لپاره ئې حيلې او بهانې ونه لټوي.

د آيت په پاى كې د الله تعالى دوه صفتونه راغلي چې له پورتني مضمون سره ئې خاص تعلق دئ: الله لوړ او ستر دئ، لويي او كبر يوازې له ده سره ښايي، نه دې ښځه كبر او لويي كوي او نه ئې مېړه، ستونزه له همدې راولاړېږي چې يو تر بل ځان اوچت وګڼي، كبر او لويي وكړي، بل ته د حقارت په سترګه وګوري او حقوق ئې تر پښو لاندې كړي.

وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَٱبْعَثُواْ حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِۦ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَآ إِن يُرِيدَآ إِصْلَٰحًا يُوَفِّقِ ٱللَّهُ بَيْنَهُمَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا ﴿٣٥﴾

[٣٥]- او كه د دوى تر منځ له بېلتون ووېرېدئ نو يو حكم د ده له كورنۍ او يو حكم د دې له كورنۍ ورولېږئ؛ كه ئې د اصلاح اراده وه نو الله به د دواړو تر منځ موافقت راولي؛ يقيناً چې الله خبردار پوه دئ.

(٣٥)- كه مخكيني تدبيرونه مؤثر ثابت نه شول نو بايد د دواړو د كورنيو د مداخلې له

لاري شخړه حل شي، دوه كسيزه جرگه دي وټاكل شي، يو د يوه له كورنۍ او بل د بلي له كورنۍ، دې جرگې ته دي د كشالې د حل و فصل واك وركړى شي، دواړه دي د جرگې وروستۍ پرېكړي ته غاړه كښېږدي. په دې سره به قاضي ته د شخړي د وړاندي كېدو او يا طلاق مخنيوى وشي.

د دې پوښتني په اړه چي اسلام ولي د طلاق حق نارينه ته وركړى؛ بايد ووايو: د طلاق له دغو ممكنو څلورو صورتونو اسلام يو غوره كړى:

- الف: ښځه او مېړه په گډه د طلاق فيصله وكړي.
- ب: اختلاف محكمې ته وړاندي شي او محكمه په دې اړه وروستۍ فيصله وكړي.
- ج: د طلاق حق ښځى ته وركړى شي.
- د: د طلاق پرېكړه د مېړه په لاس كي وي.

مخكي له دې چي وگورو اسلام ولي څلورم صورت غوره كړى بايد څو خبري په پام كي ولرو:

- اسلام له طلاق كركه لري، د مجبوريت لپاره جواز وركوي خو هغه تر ټولو كركجن حلال كار گڼي.
- په اسلام كي نارينه له يوې خوا پر دې مكلف شوى چي د كورنۍ ټول لازم ورځني مصارف پر غاړه واخلي، هغه به د كورنۍ د ټولو مصارفو متكفل وي. له بلي خوا په دې مكلف شوى چي د نكاح په ورځ به هومره مهر پر غاړه اخلي چي ښځه ورباندي راضي شي، دا "مهر" د ښځى حق دئ او د دې د راتلونكي لپاره يو مهم تضمين. "ښځه" كولى شي له "مېړه" هومره مهر تر لاسه كړى چي د دې راتلونكى تضمين كړي او د وخت ناوخت، بې ځايه او بې موجبه طلاق مخه ونيسي، مېړه ونشي كولى چي له يوې خوند واخلي، له لنډې مودې وروسته هغې ته طلاق وركړي او د هوس په حكم بله په نكاح كړي؛ سمه نه ده چي طلاق په يوې ملعبې بدل شي، د نكاح په ورځ بايد داسي تدابير ونيول شي چي دا مقدسه رابطه دوام وكړي، اسلام د همدې لپاره د مهر حق د ښځي د مستقبل لپاره د يوه تضمين په توگه وضع كړى.
- اسلام دوه دليله د دې لپاره وړاندي كړي چي نارينه به د كورنۍ قيم وى او د طلاق پرېكړه به د ده له لوري كېږي:

الف: "مهر" وركوي او د كورنۍ مصارف ئې پر غاړه دي.

ب: د قيموميت لپاره چي كومو مواصفاتو ته اړتيا ده، په نارينه كي دا مواصفات تر ښځو زيات دي. د ښځي طبيعي وظائف دا ايجابوي چي قوي عاطفه ولري. قوي عاطفه اكثراً د

انسان "تعقل" تر اغېز لاندې نيسي، ښځه د همدې "قوي عاطفې" په حکم د اولاد د روزنې ټولې ستونزې په ورين تندي قبلوي، بې خوبي ګالي، خپل ژوند او صحت په خطر کې اچوي، د اولاد د هرې غلطۍ په وړاندې صبر کوي او حتی د پردیو په مقابل کې د دوی له هرې غلطۍ دفاع کوي، د "قيادت" او "قضاوت" لپاره د "قوي عاطفې" پر ځای داسې "تعقل" ته اړتيا ده چې د عاطفې تر اغېز لاندې رانشي. د نارينه روحي جوړښت داسې دئ چې د "عقل" او "عاطفې" تر منځ ئې تعادل او توازن شته او د "عاطفې" تله ئې د ښځو په شان تر "تعقل" درنه نه ده.

په داسې حال کې چې اسلامي شريعت د طلاق حق نارينه ته سپارلی، خوله دې حق د ښځې د ځورولو او د هغې په حقوقو د تېرې په لار کې ناروا استفاده نه شي کولی، که خبره دې حد ته ورسېده ښځه حق لري "محکمې" ته مراجعه وکړي، چې محکمه به يا د دې حقوق احياء کوي او يا به دا رابطه فسخ کوي.

وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنٗا وَبِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡجَارِ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡجَارِ ٱلۡجُنُبِ وَٱلصَّاحِبِ بِٱلۡجَنۢبِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخۡتَالٗا فَخُورًا ٣٦

[٣٦]- او د الله عبادت وکړئ او هيڅ څه ورسره مه شريکوئ او له والدينو سره ښېګڼه وکړئ او له خپلوانو سره، له يتيمانو، مسکينانو، خپل ګاونډي، لرې ګاونډي، په څنګ کې ملګري، مسافر سره او له هغه چا سره چې ستاسو په واک کې دي؛ او الله هغه څوک نه خوښوي چې ځان ستايونکی کبرجن وي.

(٣٦)- په دې مبارك آيت کې د الله تعالی د دې حق تر څنګ چې د ده عبادت به کوئ او هيڅ څه او هيڅوك به نه ورسره شريکوئ، د لاندې نهو کسانو سره د احسان او ښېګڼې سپارښتنه شوې: مور، پلار، يتيمان، مسکينان، خپل ګاونډی، پردی ګاونډی، خپله ښځه يا په ژوند کې بل ملګری او دوست، مسافر او هغه څوك چې ستاسو په واك کې دئ. له دغو سره له احسان هغه څوك ډډه کوي چې دوه کرغېړن خصلتونه ولري:

- کبرجن وي او ځان تر نورو لوړ ګڼي.
- ځان ستايي او نور سپك او حقير ګڼي.

ٱلَّذِينَ يَبۡخَلُونَ وَيَأۡمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلۡبُخۡلِ وَيَكۡتُمُونَ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦۗ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا مُّهِينٗا ﴿٣٧﴾

[٣٧]- هغه چي (په خپله هم) بخل کوي او (نور) خلك (هم) پر بخل گماري او الله چي له خپل فضل څه ورکړي هغه پټوي؛ او دغو کافرانو ته مو سپکوونکی عذاب تيار کړی.

(٣٧)- دا ځان ستايونکي کبرجن هغه دئ چي په خپله هم بخل کوي او نور هم بخل ته هڅوي او الله تعالی چي کوم نعمتونه ورکړي؛ د خير په کارونو کي د انفاق پر ځای ئې پټوي، کله چي هم انفاق ته راوبلل شي وايي: هيڅ نلرم، دا توان راسره نشته چي مرسته وکړم، فقط دومره لرم چي خپل مشکلات پرې حل کړم!!

له بخل سره چي دا دوه نور گناهونه هم يو ځای شي: بل بخل ته هڅول او دروغ ويل او الهي نعمتونه پټول، نو دا د مسلمان له شأن ډېر لري دئ، يوازي د هغه چا کار کېدی شي چي کافر وي، نو ځکه د آيت په پای کي ويل شوي چي الله دغو کافرانو ته سپکوونکی عذاب تيار کړی.

وَٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۗ
وَمَن يَكُنِ ٱلشَّيۡطَٰنُ لَهُۥ قَرِينٗا فَسَآءَ قَرِينٗا ﴿٣٨﴾ وَمَاذَا عَلَيۡهِمۡ لَوۡ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ
وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِهِمۡ عَلِيمًا ﴿٣٩﴾

[٣٨]- او هغه چي خلکو ته د ځان ښودني لپاره خپل مال لگوي او نه پر الله ايمان راوړي او نه د آخرت پر ورځي او د چا چي شيطان ملگری شي نو څومره بد دئ دا ملگری. [٣٩]- او په دوی به څه شوي وو که ئې پر الله او د آخرت پر ورځي ايمان راوړی وی او الله چي کومه روزي ورکړې له هغه ئې څه انفاق کړي وی! او الله پرې ښه پوه دئ.

(٣٨-٣٩)- دلته د هغو کبرجنو څلور نور خصلتونه بيان شوي: انفاق ئې د ځان ښودني لپاره وي، نه پر الله ايمان لري او نه پر آخرت او له شيطان سره ئې ملگرتيا وي.

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظۡلِمُ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖۖ وَإِن تَكُ حَسَنَةٗ يُضَٰعِفۡهَا وَيُؤۡتِ مِن لَّدُنۡهُ أَجۡرًا

عَظِيمًا ﴿٤٠﴾

[٤٠]- بې شکه چې الله د يوې ذرې په اندازه هم ظلم نه کوي او که هغه کومه ښېګڼه وي نو دوه برابره به ئې کړي او له خپل لوري به ستره بدله ورکړي.

(٤٠)- الله تعالی د هيچا ښېګڼې نه ضائع کوي، هر چا ته به د ده د نېك عمل دنيوي او اخروي بدله ورکوي، د چا اجر نه ضائع کېږي، دا ظلم دئ چې د چا هلې ځلې بې نتيجې پاته شي، مهربان الله دا ظلم نه کوي، نه؛ هر نېك عمل ته دوه برابره او تر دې هم ستره بدله ورکوي.

فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍۭ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدًا ﴿٤١﴾
يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَعَصَوُاْ ٱلرَّسُولَ لَوْ تُسَوَّىٰ بِهِمُ ٱلْأَرْضُ وَلَا
يَكْتُمُونَ ٱللَّهَ حَدِيثًا ﴿٤٢﴾

[٤١]- نو څنګه به وي چې له هر امت يو شاهد راولو او تا پر دغو شاهد راولو؟
[٤٢]- په دې ورځ به هغه چې کافران شوي او له پيغمبر ئې سرغړاوی کړی؛ دا خوښوي چې کاش زمکه پر دوی آواره شي؛ او هيڅ خبره به له الله نه شي پټولی.

(٤١-٤٢)- دلته د قيامت د ورځې څو مناظر انځور شوي:

- د هر امت خپل خپل پيغمبر به د شاهد په توګه راوستی شي. دوی به د دې خبرې شهادت ورکوي چې الله تعالی د انسانانو د هدايت لپاره پيغمبران او کتابونه لېږلي وو، دا پيغمبران به په خپله د دې خبرې د اثبات لپاره کافي وي چې انسانانو دا کولی شول چې د پيغمبرانو په خبر ئې ايمان راوړی وی او د کفر او عصيان لار ئې نه وی غوره کړې. له هيچا به دا ادعاء نه منل کېږي چې له حقائقو بې خبره وو، حق دين نه وو وررسېدلی، يا ظروف او شرائط ئې داسې وو چې ايمان راوړل ورته ناممکن وو، د پيغمبرانو او د دوی باايمان امتيانو شتون به د دوی دا حجت او استدلال بابيزه کړي.
- په دې ورځ به هغه کسان چې په خپل کفر ئې ټينګار کاوو او د پيغمبرانو له وينا ئې عصيان کاوو دا تمنی کوي چې کاش په زمکه کې ښخ شي او له خاورو سره برابر شي، نه به خپلې د دنيا خبرې له الله پټولی شي او نه د محاسبې په دغه هيبتناکې ورځ کې هغه خبرې چې په زړه کې ئې تېرېږي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡرَبُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمۡ سُكَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعۡلَمُواْ مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ حَتَّىٰ تَغۡتَسِلُواْۚ وَإِن كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ جَآءَ أَحَدٞ مِّنكُم مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءٗ فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا طَيِّبٗا فَٱمۡسَحُواْ بِوُجُوهِكُمۡ وَأَيۡدِيكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٤٣﴾

[٤٣]- اې مؤمنانو! په داسې حال کې لمانځه ته مه نژدې کېږئ چې مست یئ، تر هغه چې په هغه څه پوه شئ چې تاسو ئې وایئ او نه په هغه حال کې چې جنب یئ؛ مګر دا چې لاروي یئ؛ تر هغه چې غسل وکړئ او که بیمار وئ او یا د سفر په حال کې او یا مو کوم یو له بیدیا راوګرځي او یا مو له مېرمنو سره نژدېوالی وکړ او اوبه مو ونه موندې، نو د پاکې خاورې تیمم وکړئ او په خپلو مخونو او لاسونو ئې مسح کړئ؛ بې شکه چې الله بخښونکی عفوه کوونکی دئ.

(٤٣)- په دې مبارك آیت کې څو لارښوونې شوې:

- لمونځ په داسې حالت کې مه کوئ چې مست وئ او په دې نه پوهېږئ چې څه وایئ، لمونځ خو له الله تعالی سره ستاسو راز و نیاز دئ، هغه ته خپل حاجتونه وړاندې کوئ، له خپل زړه راخوټېدلې خبرې ورته کوئ، په داسې حالت کې په لمانځه ودرېږئ چې خپلو خبرو ته مو پام وي او پرې پوهېږئ. له دې په څرګنده معلومېږي چې د لمانځه په الفاظو پوهېدل او د لمانځه په وخت کې هغه په پام کې نیول او له فهم او پوهې سره ئې ویل ضروري دي.
- په جنابت کې هم تر غسل کولو پورې لمانځه ته مه نژدې کېږئ، مګر دا چې مسافر وئ.
- که بیمار یا په سفر وئ، یا له اودس ماتې راوګرځئ او یا له مېرمنو سره نژدېوالی وکړئ او اوبه ونه مومئ؛ نو د پاکې خاورې تیمم وکړئ. تیمم دا دئ چې لاسونه په خاورو ووهئ او بیا خپل مخ او لاسونه پرې مسح کړئ.

که تاسو مرغانو او حیواناتو ته ځیر شئ وبه ګورئ چې که اوبه پیدا کړي نو ځان په کې اچوي، په خپلو وزرونو ځان ته اوبه شیندي او که اوبه ونه مومي نو په خاورو کې رغړي، په خپلو ښکرونو او وزرونو ځان ته خاورې شیندي، دوی ته د غسل او تیمم فطري

لاربښوونه شوې او موږ ته شرعي، الله تعالی موږ د غسل او تيمم په اړه په هغه څه مکلف کړې يو چې ټول ژوي ئې د خپل فطرت په حکم کوي. الله تعالی تا ته دا وړه مرغۍ په داسي حال کې درښيي چې هره ورځ څو څو ځله په خاورو کې رغړي، په ډېر شوق او مستۍ سره او د رغړېدو په وخت کې د دې هڅه کوي چې د خپلې هرې بڼکې بېخ ته خاوره ورسوي، دا ئې يو ضرورت دئ، په دې سره ئې ځرمن له ډېرو جلدي امراضو خوندي پاته کېږي، دا ئې د علاج ذريعه ده، اکثر ميکروبونه هم په اوبو مري او هم په خاوره، که اوبه ورورسېږي دومره اوبه ئې وجود ته ننوځي چې له پړسېدو وچوي او که له خاورې سره په تماس کې شي نو خاوره ئې د وجود ټول مائعات جذب کړي او ومري.

زموږ اودس او تيمم هم يو با حکمته تعبدي عمل دئ، په هر يوه کې ئې حکمتونه او مصلحتونه مضمر دي، الله تعالی تا په هغه څه مکلف کوي چې ګټه ئې تر هر څه د مخه تا ته رسي، که ته ئې مکلف کړې نه وی نو په خپله د دې په ضرورت او اهميت دومره هم نه پوهېدې لکه هغه وړه مرغۍ، د اوبو د نشتوالي په صورت کې ئې په تيمم مکلف کړی يې، ډېر آسان کار، د هغې مرغۍ تر کار آسان او لنډ، لاس په خاورو ووهه او مخ او لاسونه پرې مسح کړه، دا خاوره همغه کار کوي چې اوبه ئې کوي، خاوره پاکه ده او د پاکوالي سبب، ستا دا اوبه هم پر زمکه ورېدلې او د زمکې پر سر بهېدلې، د خاورو ډېر مواد ئې له ځان سره اخيستي او ستا خوا ته رارسېدلې دي.

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَـٰبِ يَشْتَرُونَ ٱلضَّلَـٰلَةَ وَيُرِيدُونَ أَن تَضِلُّوا۟ ٱلسَّبِيلَ ﴿٤٤﴾

[٤٤]- آيا هغو ته دې پام نه دئ کړی چې څه برخه د کتاب ورکړی شوې؛ ضلالت او تېروتنه پېري او دا غواړي چې تاسو هم بې لارې شئ.

(٤٤)- دلته د اهل کتاب ملايانو ته اشاره شوې؛ درې خصلتونه ئې په ګوته شوي:

- علم ئې کچه او نيمګړی دئ، د کتاب په يوې وړې برخې پوهېږي، د کتاب له اصلي او اساسي برخو بې خبره دي او په فروعاتو او حواشيو کې غرق.
- سمه لار ئې پرېښې، په کږو لارو سر شوي، په کتاب کې هغه څه لټوي چې د دوی غلط مذهب او په شرك لړلی مسلك توجيه کړي.
- هم په خپله بې لارې دي هم نور بې لارې کوي، له دين ئې دام جوړ کړی، خلك غولوي او د دوی دين او دنيا لوټوي.

وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِأَعۡدَآئِكُمۡۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَلِيّٗا وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ نَصِيرٗا ﴿٤٥﴾

[٤٥]- او الله ستاسو پر دښمنانو ښه پوه دئ او الله د ولي په توګه کافي دئ او الله د مرستندوی په توګه کافي دئ

(٤٥)- دا دين پلورونکي ملايان ستاسو دښمنان دي، له دوی د دوستۍ طمع مه کوئ، دا انتظار مه لرئ چي دوی به د دين په کار کي ستاسو مرسته وکړي، الله د ولي او مرستندوی په توګه ځان ته کافي وګڼئ.

مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَيَقُولُونَ سَمِعۡنَا وَعَصَيۡنَا وَٱسۡمَعۡ غَيۡرَ مُسۡمَعٖ وَرَٰعِنَا لَيَّۢا بِأَلۡسِنَتِهِمۡ وَطَعۡنٗا فِي ٱلدِّينِۚ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ قَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَا وَٱسۡمَعۡ وَٱنظُرۡنَا لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡ وَأَقۡوَمَ وَلَٰكِن لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفۡرِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُونَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٤٦﴾

[٤٦]- له يهودانو ځيني د الله کلام له خپل خپل ځايه کږوي او وايي: مونږ اورېدلي، ومو نه مانو، ته ئې واوره نه اورېدونکيه! او د خپلو ژبو په تاوولو سره راعنا وايي، پر دين طعن وهونکي؛ او که دوی ويلي وی چي مونږ واورېدو، منونکي ئې شوو، واوره، مونږ ته نظر وکړه، نو دا ورته غوره وه او ډېره سمه، خو الله دوی د خپل کفر په وجه رټلي دي نو ځکه ايمان نه راوړي مګر ډېر لږ.

(٤٦)- په دې مبارك آيت کي د يهودي ملايانو څو خباثتونه بيان شوي:

• د الله په کلام کي تحريف کوي، په کوږ تأويل او تعبير سره کږه معنی ترې راباسي، د الله د کلام يوه برخه داسي رااخلي چي مخکينۍ او وروستنۍ برخي ئې له پامه غورځولې وي او په داسي ځای او داسي ډول ئې وکاروي چي خپله غلطه خبره پرې سمه ثابته کړي. د دې مثال داسي دئ لکه ته چي کوم کچه ملا ته د جهاد بلنه ورکړې، خو هغه نه پر جهاد باور لري او نه د جهاد جرأت او همت؛ خو غواړي د عدم جهاد لپاره مذهبي تأويل وړاندي کړي، نو درته وايي: جنابه مونږ په دين ښه پوهېږو، الله تعالی جل مجده و عز شأنه و عم نواله، په قرآنه المجيد او فرقانه الحميد کي فرمايې: ولاتلقوا بايديکم الی التهلکه!! د دې کلام اصلي او په خپل ځانګړي موضع او مقام کي معنی دا ده چي له مالي او ځاني قربانۍ ډډه کول؛ ځان په هلاکت کي غورځول دي؛ خو دی د الله په کلام کي

تحریف وکړي، موضع ئې ورېدله کړي او غلطه معنی ترې راوباسي.

- دوی په خوله سمعنا وايي، تا ته اطمئنان درکوي چې درسره موافق دي او خبره دي مني، په داسي حال کې چې په زړه کې به ئې د نه منلو پخه اراده وي؛ او هو؛ د دوی ځيني بيا داسي دي چې درته وايي: جنابه! موږ دا خبره تر تا ډېر د مخه اورېدلې ده، ته چې په کوم آيت عمل کولو ته موږ رابلې هغه موږ تر تا د مخه لوستلی دئ، موږ د دې لپاره عمل پرې نه کوو چې په نورو آيتونو، احاديثو او رواياتو او د فقهاءو په وينا عمل کوو، دا موږ ته مه رااوروه، په خپله ئې واوره چې هغه نور دي نه دي اورېدلي، که ته له هغو نورو خبر وی نو موږ ته به دي دا آيت نه وړاندي کاوو!!
- منافقت به کوي، ظاهر به ئې د دوست وي خو په زړه کې ئې کينه او دښمني، دوه مخي الفاظ به کاروي، د الفاظو ظاهري بڼه به ئې سمه برېښي خو په زهرو به لړلې وي.
- عملونه ئې کافرانه دي، داسي چې دوی ئې د الله د لعنت وړ گرځولي.
- ډېر لږ ايمان راوړي، د دوی ايمان هغه ايمان نه دئ چې له مؤمن سره ښايي، ايمان ئې کچه او نيمگړی دئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ ءَامِنُواْ بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُم مِّن قَبْلِ أَن نَّطْمِسَ وُجُوهًا فَنَرُدَّهَا عَلَىٰٓ أَدْبَارِهَآ أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّآ أَصْحَٰبَ ٱلسَّبْتِۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٤٧﴾

[٤٧]- اې کتاب ورکړی شوو! په هغه څه ايمان راوړئ چې موږ نازل کړی او له تاسو سره د شته کتاب تصديقوونکی دئ، له هغه د مخه چې ځيني مخونه ويجاړ کړو او تر شا ئې واړوو، يا ئې داسي ورټو لکه شنبه وال چې مو ورټل او د الله امر خو تر سره کېدونکی دئ.

(٤٧)- اهل کتاب ته خو په کار وه چې تر هر چا د مخه ئې پر قرآن ايمان راوړی وی، دا ځکه چې قرآن د هغو کتابونو تصديق کوي چې له دوی سره دي، له قرآن د دوی انکار په هيڅ دليل او حجت نه شي توجيه کېدی، دا انکار خو په اصل کې له خپل کتاب انکار دئ، د دې لپاره له ړوند تعصب پرته بل دليل نه شو موندلی. که دوی ايمان رانه وړي نو دوو خبرو ته دي انتظار وکړي:

- يا به ئې الله تعالی مخونه محو او ويجاړ کړي، سترگي به ئې ړندې او غوږونه به ئې ورکانه کړي، مخ به ئې د څټ په څېر کړي، د ايمان راوړو او د حق لاري موندو ټول

امکانات به ترې سلب کړي، همغسې لکه د کافرانو په اړه چې فرمايي: ختم الله على قلوبهم و على سمعهم، وعلى ابصارهم غشاوة او د منافقينو په اړه فرمايي: ذهب الله بنورهم و ترکهم في ظلمت لايبصرون، صم، بکم، عمي فهم لايرجعون.

- او يا به ئې د يهودو د هغې ډلې په څېر ورټې چې د شنبې احترام ئې ونکړ او د بيزوګانو په څېر مسخ شول.

د الله تعالى دا وعيد محتوم وعيد دئ حتماً تر سره کېږي.

که څه هم ځينو مفسرينو له (نطمس على وجوههم) نوري معنى ګاني اخيستې دي، خو که په قرآن کې دې ته ورته آيتونو ته پام وکړو نو معنى ئې له دې پرته بل څه نه شي کېدی چې موږ رانقل کړې. د دې لپاره لاندې دلائل دي:

- د قرآن په ټولو هغو آيتونو کې چې دې ته ورته مواردو کې دا شان الفاظ راغلي نو هلته ئې مجازي معنى مراد وي نه حقيقي معنى، لکه ختم الله على قلوبهم کې او يا ذهب الله بنورهم کې.
- دلته يهودو ته ويل شوي چې که په قرآن ايمان رانه وړئ نو يا به دا کار درسره کوو او يا به مو د شنبه والو په څېر مسخه کوو، نو معلومه ده چې دا لومړی کار غير له مسخه کولو دئ.
- عملاً ګورو چې يهودان د قرآن له نزول وروسته مسخه نه شول خو اکثريت ئې له ايمان راوړو محروم شول، د دې معنى دا ده چې د الله تعالى لومړی وعيد همدغه وو.

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾

[٤٨]- يقيناً چې الله شرك نه بخښي او له شرك پرته نور څه هر هغه چا ته بخښي چې د ده خوښه وي او څوك چې له الله سره شرك وکړي نو د سترې ګناه افتراء ئې کړې.

(٤٨)- په دې مبارك آيت کې د مؤمنانو لپاره ډېر ستر زېرى دئ او په دې کې د الله يوه ډېره ستره او عظيمه پېرزوينه بيان شوې، مؤمنانو ته زېرى ورکړى شوى چې رحمن خداى له شرك پرته هره ګناه بخښي، که کبيره وي او که صغيره، که ئې توبه کړې وي او که نه، يوازې کفر او شرك له توبې پرته نه بخښي، نور نو صغاير په نېکو عملونو محوه کوي او کبائر هم په توبې سره او هم ئې له توبې پرته په خپل فضل سره بخښي. د (لمن يشاء) له

فقرې دا مطلب مه اخلئ چې شايي تاسو به په هغه زمره کې رانشئ چې الله تعالی ئې د بخښنې او مغفرت وړ گڼي. الله تعالی په دې اړه خپل سنت او مشيت څرگند کړی، په ايمان، توبه، هجرت، جهاد، شهادت، انفاق في سبيل الله او نېك عمل سره ستا گناهونه بخښي، دا د الله وعده ده.

عَنْ عَلِيٍّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ: مَا فِي الْقُرْآنِ آيَةٌ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ هَذِهِ الآيَةِ (إِنَّ اللَّهَ لاَ يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ) الترمذى

له علي بن ابی طالب رضي الله روايت دئ چې وايي: ما ته په قرآن کې تر دې آيت زيات محبوب آيت نشته: " إِنَّ اللهَ لاَ يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ: يقيناً چې الله دا نه بخښي چې له ده سره شرك وشي او له دې پرته هر څه هغه چا ته بخښي چې دی ئې وغواړي".

عن أبى ذر أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال « مَا مِنْ عَبْدٍ قَالَ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ ثُمَّ مَاتَ عَلَى ذَلِكَ، إِلاَّ دَخَلَ الْجَنَّةَ » . قُلْتُ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ « وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ » . قُلْتُ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ « وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ » ثلاثاً. ثم قال فى الرابعة «عَلَى رَغْمِ أَنْفِ أَبِى ذَرٍّ » . متفق عليه

له ابو ذر رضي الله عنه روايت شوی چې پيغمبر عليه السلام وفرمايل: داسي څوك نشته چې لا اله الا الله ووايي او له همدې کلمې سره ومري او جنت ته دې داخل نه شي، ما ورته وويل: که څه هم زنا او غلا ئې کړې وي؟ وئې فرمايل: که څه هم زنا او غلا ئې کړې وي، بيا مې وويل: که څه هم زنا او غلا ئې کړې وي؟ وئې فرمايل: که څه هم زنا او غلا ئې کړې وي، درې ځلې او په څلورم ځل ئې وفرمايل: که څه هم د ابو ذر پزه په خاورو شي.

عَنْ ضَمْضَمِ بْنِ جَوْسٍ الْيَمَامِيِّ قَالَ قَالَ لِى أَبُو هُرَيْرَةَ يَا يَمَامِىُّ لاَ تَقُولَنَّ لِرَجُلٍ وَاللَّهِ لاَ يَغْفِرُ اللهُ لَكَ أَوْ لاَ يُدْخِلُكَ اللهُ الْجَنَّةَ أَبَداً . قُلْتُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ إِنَّ هَذِهِ لَكَلِمَةٌ يَقُولُهَا أَحَدُنَا لأَخِيهِ وَصَاحِبِهِ إِذَا غَضِبَ. قَالَ فَلاَ تَقُلْهَا فَإِنِّى سَمِعْتُ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « كَانَ فِى بَنِى إِسْرَائِيلَ رَجُلاَنِ كَانَ أَحَدُهُمَا مُجْتَهِداً فِى الْعِبَادَةِ وَكَانَ الآخَرُ مُسْرِفاً عَلَى نَفْسِهِ فَكَانَا مُتَآخِيَيْنِ فَكَانَ الْمُجْتَهِدُ لاَ يَزَالُ يَرَى الآخَرَ عَلَى ذَنْبٍ فَيَقُولُ يَا هَذَا أَقْصِرْ. فَيَقُولُ خَلِّنِى وَرَبِّى أَبُعِثْتَ عَلَىَّ رَقِيباً؟ قَالَ إِلَى أَنْ رَآهُ يَوْماً عَلَى ذَنْبٍ اسْتَعْظَمَهُ

فَقَالَ لَهُ وَيْحَكَ أَقْصِرْ. قَالَ خَلِّنِي وَرَبِّي أَبُعِثْتَ عَلَيَّ رَقِيباً؟ قَالَ فَقَالَ وَاللَّهِ لاَ يَغْفِرُ اللهُ لَكَ أَوْ لاَ يُدْخِلُكَ اللهُ الْجَنَّةَ أَبَداً. قَالَ أَحَدُهُمَا قَالَ فَبَعَثَ اللهُ إِلَيْهِمَا مَلَكاً فَقَبَضَ أَرْوَاحَهُمَا وَاجْتَمَعَا عِنْدَهُ فَقَالَ لِلْمُذْنِبِ اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِي. وَقَالَ لِلآخَرِ أَكُنْتَ بِي عَالِماً أَكُنْتَ عَلَى مَا فِي يَدِي خَازِناً؟ اذْهَبُوا بِهِ إِلَى النَّارِ ». قَالَ فَوَالَّذِي نَفْسُ أَبِي الْقَاسِمِ بِيَدِهِ لَتَكَلَّمَ بِالْكَلِمَةِ أَوْبَقَتْ دُنْيَاهُ وَآخِرَتَهُ. رواه احمد

له ضمضم بن جوس اليمامي روايت دئ چي ما ته ابو هريره رضي الله عنه وويل: يا يمامي! هيڅا ته داسي مه وايه چي پر الله قسم چي الله به دي ونه بخښي او يا دا چي الله به دي هيڅکله جنت ته داخل نه کړي، ما ورته وويل: اې ابو هريره! موږ خو دا خبره هغه وخت خپل ورور يا ملګري ته کوو چي څوك په بل غصه شي، هغه وويل: دا خبره مه کوه، ځکه ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم اورېدلي چي وئې فرمايل: په بني اسرائيلو کي دوو کسانو په خپلو کي وروري کوله، يو ئې په عبادت کي ډېر زيار ايستونکی وو او بل ئې مسرف او ګنهګار، عابد به هر کله چي دا بل په ګناه وليد نو ورته ويل به ئې: له ګناه راتم شه، هغه به ورته وويل: ما له خپل رب سره پرېږده، ته خو به زما څارونکی نه يې ټاکل شوی؟ تر دې چي هغه يوه ورځ په داسي ګناه وليد چي ډېره ستره ورته معلومه شوه، نو ورته وئې ويل: افسوس پر تا، راتم شه، هغه بيا هم ورته وويل: ما له خپل رب سره پرېږده، ته خو به زما څارونکی نه يې ټاکل شوی؟ ده ورته وويل: په الله قسم چي نه به الله بخښنه درته وکړي او نه به دي هيڅکله جنت ته داخل کړي، وئې وويل: نو الله تعالی يوه ملائکه ورولېږله، د دواړو روح ئې قبض کړه، دواړه د ده خوا ته راغونډ شول، نو ګنهګار ته ئې وفرمايل: زما په رحمت سره جنت ته داخل شه او هغه بل ته ئې وويل: آيا ته په دې پوهېدې چي زه به څه کوم؟ آيا ته د هغه څه خازن وې چي زما په لاس کي دي؟ دوزخ ته ئې بوځئ، پيغمبر عليه السلام وفرمايل: په هغه ذات قسم چي د ابو القاسم روح ئې په واك کي ده چي دې عابد داسي خبره کړې وه چي خپله دنيا او آخرت ئې پرې تباه کړ.

د مغفرت او بخښني په اړه دا نصوص د دې لپاره نه دي چي څوك ګناه ته تشويق شي، د دې لپاره راغلي چي ګنهګار له يأس او ناهيلۍ وژغوري، دا ګمان ونکړي چي د توبې او رحمت دروازې ئې پر مخ تړل شوې او دا د دې لپاره دي چي صالح مسلمان له يوه ګنهګار دومره کرکه ونکړي چي هغه ته له وعظ او نصيحت لاس واخلي، هغه ته ويل شوي چي د ګنهګار په اړه دا فيصله مه کوه چي د الله له رحمت او مغفرت محروم او

ځای ئې جهنم دئ، همدا راز ده ته ویل شوي چي په الله پوري مربوط امور الله ته پرېږده، دا حق ځان ته مه ورکوه چي د چا په اړه ووایې: الله به ئې هیڅکله ونه بخښي. ته خو د خلکو د عملونو قاضي نه یې، ته یو داعي یې، د دعوت په کار کې له هیچا مه مأیوس کېږه.

په دې مبارك آیت کې دا هم ویل شوي چي شرك یوه افتراء او یو دروغ دئ، څوك چي له الله تعالی سره څه شریك ګڼي هغه په حقیقت کې دروغ وایي او افتراء کوي، الله هیڅ شریك نلري او دا طبعاً تر ټولو ستره ګناه ده چي د الله په شأن کې افتراء وشي، همدا راز هغه څوك شریك درلودو ته اړ کېږي چي په یوازي سر د خپل ملك له اداري عاجز وي او د بل له مرستي پرته ټولو امورو ته نه شي رسېدئ، د شرك په افتراء سره الله ته د ضعف او ناتوانۍ نسبت کېږي.

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُمۚ بَلِ ٱللَّهُ يُزَكِّي مَن يَشَآءُ وَلَا يُظۡلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٤٩﴾

[٤٩]- آیا هغو ته دي پام نه دئ کړی چي خپل ځانونه ستایي؟ نه؛ دا خو (یوازي) الله دئ چي څوك ئې خوښ وي تزکیه کوي ئې او د خرما د زړي د یوه تار په اندازه به ظلم پرې ونشي.

(٤٩)- اهل کتاب به له خپل شرك، منافقت او خپلو نورو قبیح او کرکجنو اعمالو سره سره ځان غوره قوم او د الله محبوب امت ګڼلو او د نړۍ تر ټولو خلکو به ئې ځان اوچت شمېرو. دلته د دوی په ځواب کې ویل شوي: تاسو چي د ځان ستایلو لپاره کوم معیارونه کاروئ او د هغه له مخي ځان تر ټولو اوچت ګڼئ، دا هغه معیارونه نه دي چي الله تعالی پرې څوك تزکیه کوي او د ستایني وړ ئې ګڼي، دا معیارونه په الهي عدالت ولاړ نه دي، الله د نري تار په اندازه هم پر چا ظلم نه کوي، ستاسو قضاوتونه ظالمانه دي، د عدالت او انصاف خلاف. ولې به تاسو تر نورو غوره وئ، د کومي ښېګڼي له مخي؟

ٱنظُرۡ كَيۡفَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۖ وَكَفَىٰ بِهِۦٓ إِثۡمٗا مُّبِينًا ﴿٥٠﴾

[٥٠]- وګوره: څنګه پر الله د درواغو افتراء کوي او همدا د څرګندي ګناه په توګه کافي ده.

(٥٠)- دا خلك دروغ وایي چي الله تعالی دوی په نورو غوره ګڼي، دا خو د الله په نسبت

یوه ظالمانه افتراء ده او لویه ګناه، الله به څنګه د دوی په څېر ناولي او په ګناهونو کې تر ستوني غرق خلك خوښوي. د دوی لپاره دغه ګناه هم بس ده؛ همدا چې ځان تر نورو غوره او د خدای نازولي او خاص بندګان ګڼي.

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَـٰبِ يُؤْمِنُونَ بِٱلْجِبْتِ وَٱلطَّـٰغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ هَـٰٓؤُلَآءِ أَهْدَىٰ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ سَبِيلًا ﴿٥١﴾

[۵۱]- آیا هغو ته دي پام ونه کړ چې د کتاب څه برخه ورکړی شوې، خو په جبت او طاغوت ایمان راوړي او د کافرانو په اړه وایي: دوی تر مؤمنانو ډېر په سمه لار دي.

(۵۱)- په مخکیني آیت کې د ټولو یهودانو ذکر وو خو دلته د دوی علماءو ته اشاره شوې، کله چې د اهل کتاب د علماءو په اړه بحث کېږي نو قرآن ئې په دغه صیغه یادوي، د دې وړ ئې نه ګڼي چې د عالم په نامه ئې یاد کړي؛ بلکې وایي: هغه چې له کتابه ئې نیمګړی علم په برخه شوی، علم ئې ناقص دئ، هسې ئې د کتاب څو خبري زده کړې دي. دلته د دوی درې ځانګړتیاوې په ګوته کوي:

- په اوهامو، خرافاتو، فال، کوډو، منتر، جادو او دې ته ورته شیانو باور لري.
- د طاغوت په خدمت کې دي، د هر ظالم، عاصي، سرکښ او مفسد واکمن ملاتړ کوي، په خوله ئې د الله نوم وي خو په زړه کې ئې له طاغوت وېره او طمع، دین د طاغوت په پښو کې ذبح کوي او د طاغوت په ګټه ئې کاروي.
- تر مؤمنانو کافران غوره ګڼي، تبلیغات ئې د هغوی په ګټه وي، خلکو ته وایي چې د کافرانو مسلك او مذهب تر مؤمنانو غوره دئ.

دا داسې وګړئ لکه د روسانو او امریکایانو په لاس د افغانستان د اشغال په وخت کې چې ځیني دین پلورونکي ملایان له دوی سره یو ځای شول او د واقعي علماءو او مجاهدینو په ضد به ئې تبلیغات کول، د امریکایانو کرکجنه او په وینو لړلې ډیموکراسي به ئې تأییدوله او د مجاهدینو په اړه به ئې ویل چې دوی متعصب او افراطي دي، د هېواد د آزادۍ او بیا ودانولو دښمنان دي.

أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ ۖ وَمَن يَلْعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا ﴿٥٢﴾

[۵۲]- دوی همغه دي چې الله رټلي دي او الله چې څوك ورټي نو هیڅ ملاتړی به ورته ونه مومې.

(۵۲)- دا خلك او په هر چا کې چې دا صفات وي هغوی د الله تعالی د لعنت وړ دي، د الله له خوا رټل شوي؛ نه په دنیا کې مرستندوی موندلی شي او نه په آخرت کې. دوی خو د کافرانو د مرستو د تر لاسه کولو لپاره دا طریقه غوره کړې وه، د دوی په ګټه او د مسلمانانو په ضد به ئې تبلیغات کول، تاسو به وګورئ چې د دوی هیلي به تر سره نه شي، دا کافران به ئې مرسته ونکړی شي.

أَمۡ لَهُمۡ نَصِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُلۡكِ فَإِذٗا لَّا يُؤۡتُونَ ٱلنَّاسَ نَقِيرًا ﴿٥٣﴾

[۵۳]- آیا په واکمنۍ کې د دوی کومه برخه شته؟ نو بیا خو به ئې خلکو ته کوم نقیر هم نه وو ورکړی.

(۵۳)- دوی به د مسلمانانو په اړه ویل: دا خلك به له خپلې مبارزې، دعوت او جهاد هیڅ څه تر لاسه نه کړي، هسې خپل ځان تباه کوي، دښمنان ئې پیاوړي او زورور دي، هم ئې وسائل او امکانات زیات دي او هم ئې تګلاره تر دوی غوره ده!! د دوی د دغو خبرو په ځواب کې ویل شوي: دا خو ستاسو په واك کې نه ده چې د مسلمانانو مستقبل وټاکئ او له دوی سره دي همغه څه وشي چې تاسو ئې انتظار لرئ، که داسې وی چې کارونه ستاسو له انتظار سره سم کېدی او پرېکړې ستاسو په خوښه کېدی، نو بیا خو به تاسو هیچا ته د خرما د زړي د ټاپکي په اندازه هم څه نه وو ورکړی، نه مسلمانانو ته او نه د دوی دښمنانو ته، بیا خو به تاسو هر څه ځان ته اخیستل، ولې به مو په کافرانو لورېدل، چې ځان ته ئې نه شئ ورکولی معنی ئې دا ده چې د کافرانو په اړه ستاسو هیلې او د مسلمانانو په اړه ستاسو بد نیت به هم څه نتیجه ونه لري.

أَمۡ يَحۡسُدُونَ ٱلنَّاسَ عَلَىٰ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦۖ فَقَدۡ ءَاتَيۡنَآ ءَالَ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَءَاتَيۡنَٰهُم مُّلۡكًا عَظِيمٗا ﴿٥٤﴾

[۵٤]- آیا له خلکو سره پر هغه څه حسد کوي چې الله له خپل فضل څه ورکړي؟ نو موږ خو د ابراهیم اولاد ته کتاب او حکمت ورکړ او لویه پاچایي مو ورکړه.

(۵٤)- د دوی د تبلیغاتو او دښمنۍ وجه د دوی هغه حسد دئ چې له مسلمانانو سره ئې لري، پر مسلمانانو ئې د الله فضل نه لورېږي، دا ئې زړه نه غواړي چې مسلمانان دې پر کافرانو بری تر لاسه کړي. الله تعالی د دوی په ځواب کې فرمایي: لکه چې د ابراهیم علیه السلام اولاد ته مو کتاب، حکمت او لویه پاچایي ورکړه؛ همدا راز مو محمد علیه السلام

ته كتاب او حكمت وركړ او لويه پاچايي به ئې په برخه كړو.

فَمِنْهُم مَّنْ ءَامَنَ بِهِۦ وَمِنْهُم مَّن صَدَّ عَنْهُۚ وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا ﴿٥٥﴾

[٥٥]- نو د دوی ځينو پرې ايمان راوړ او ځينو ئې ترې ډډه وكړه؛ او لمبه ناك جهنم كافي دئ.

(٥٥)- د ابراهيم عليه السلام اولاد ته چې كوم كتاب وركړی شوی وو؛ ځينو پرې ايمان راوړ او ځينو ترې ډډه وكړه. مسلمانانو ته چې كوم الهي كتاب راغلی؛ دا دئ پر دې هم ځينو ايمان راوړ او ځينو ترې ډډه وكړه؛ د دوی پايله به هم هغسې وي لكه د مخكينيو. كه نور څه نه وي نو جهنم هم ورته كافي دئ.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَٰهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُواْ ٱلْعَذَابَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿٥٦﴾

[٥٦]- يقيناً هغه چې زموږ پر آيتونو كافران شوي؛ ژر به ئې په اور كې ننباسو، كله چې ئې څرمني پخې شي نو په عوض كې به له دغو پرته نوري څرمني وركړو چې عذاب وڅكي؛ بې شكه چې الله باحكمت عزيز دئ.

(٥٦)- په دې آيت كې د قرآن يو بل علمي اعجاز زموږ مخې ته راځي: قرآن ويلي چې كافران به په اور كې سوزي، كله چې د دوی څرمن وسوزي، بله څرمن به وركړو د دې لپاره چې عذاب وڅكي، يعني انسان په پوستكي سره د درد احساس كوي، كه پوستكی نه وي نو درد نه احساسوي؛ او دا هغه حقيقت دئ چې څوارلس پېړۍ وروسته انسان پرې پوه شو؛ اوس پوه شو چې د درد د احساسولو عصبي رشتې په پوستكي كې دي نه په غوښه كې.

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًاۖ لَّهُمْ فِيهَآ أَزْوَٰجٌ مُّطَهَّرَةٌۖ وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا ﴿٥٧﴾

[٥٧]- او هغه چې ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې كړي ژر به ئې داسې جنتونو ته داخل كړو چې وياله به ترې لاندې بهېږي، تلپاته په هغه كې تر ابده؛ دوی ته به په هغه كې پاكيزه جوړې وي او په ښه سيوري كې به ئې داخل كړو.

(٥٧)- جنت، تر ونو لاندې ويالې، تلپاته ژوند، سُتره جوړې او خوندور سيوری؛ دا د

مؤمنانو او صالحانو اجر او بدله ده.

إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا وَإِذَا حَكَمۡتُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ أَن تَحۡكُمُواْ بِٱلۡعَدۡلِۚ إِنَّ ٱللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِۦٓۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ سَمِيعَۢا بَصِيرٗا ۝٥٨ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا ۝٥٩

[۵۸]- يقيناً چې الله تاسو ته د دې امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او کله چې د خلکو ترمنځ پرېکړه کوئ نو په عدل سره پرېکړه وکړئ، بې شکه چې الله په ډېر غوره څه تاسو ته نصيحت کوي، يقيناً چې الله بصير اورېدونکی دئ. [۵۹] اې مؤمنانو! د الله اطاعت وکړئ او د پيغمبر او د خپلو چارواکو اطاعت وکړئ، نو که په کوم څه کې مو په خپلو کې شخړه وکړه، نو الله او پيغمبر ته ئې راجع کړئ، که پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان لرئ، دا ډېر غوره دئ او د پايلې له پلوه ډېر شايسته.

(۵۸-۵۹)- په دغو دوو آيتونو کې د اسلامي نظام په اړه څو داسې اساسي لارښوونې شوې چې که په ټول قرآن کې يوازې همدا آيتونه راغلي وی نو د دې نظام د معرفي لپاره کافي وو. په دې آيتونو کې لاندې مطالب راغلي:

- الله تعالی ټول اسلامي امت ته امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپاري. د امانت معنی عامه هم کېدی شي او په هر مادي او معنوي امانت ئې هم اطلاق کېدی شي؛ خو دلته له امانت مراد د واکمنۍ او اقتدار امانت دئ.
- د اسلام له نظره اقتدار يو امانت دئ او د اقتدار خاوند د خلکو د امانتونو يو امين.
- دا (امانت) به د مسلمانانو لخوا هغه چا ته سپارل کېږي چې (اهليت) ئې ولري؛ او دا د ټول اسلامي امت مأموريت او الهي فريضه ده چې د اقتدار امانت او په هغه پورې مربوط ټول امانتونه به داسې چا ته سپاري چې د دې وړتيا او اهليت په کې وي.
- لکه څنګه چې د هر امانت اصلي خاوند دا حق لري چې خپل امانت په کومو شرائطو او د څرمره مودې لپاره (امين) ته وسپاري او کله ئې بېرته ترې واخلي؛ همدا راز دا د خلکو حق دئ چې د امارت امانت چا ته او تر کله سپاري او کله ئې بېرته ترې واخلي.

• دغه امین ته چې کوم صلاحیتونه او امکانات سپارل کېږي؛ که زکات او عشر دئ، که غنیمت یا فئ دئ، یا د دولت نور عوائد؛ که له کورنیو او بهرنیو لوریو سره کومه معامله وي، د جنگ یا د صلحې؛ دا د ټول ولس (امانتونه) دي، په دې امانتونو کې هر راز تصرف به د ولس په مشوره کوي؛ هر هغه تصرف چې د ولس د مشورې خلاف ئې کوي؛ خیانت دئ، دا د ولس حق دئ چې ده ته څومره واك ورکوي او تر کله ئې ورکوي او کله ئې بېرته ترې اخلي. دی د ولس خادم، وکیل او کفیل دئ نه آقا او بادار.

• چا ته چې د امارت او واکمنۍ امانت وسپارل شي، هغه به په دې امانت کې د یوه امین په څېر تصرف کوي، نه د یوه مطلق العنان حاکم په څېر.

• دا د امانتونو امین په دې مکلف دئ چې د خلکو تر منځ به ئې هر قضاوت پر عدالت ولاړ وي.

• که د دې امین (امیر) او د امانت د اصلي خاوندانو (خلکو) تر منځ په کوم څه کې اختلاف راولاړ شي؛ نو منازعه به د الله کتاب او د رسول سنت ته راجع کېږي، وروستۍ پرېکړه به د قرآن او سنت له مخې کېږي.

• د قانون په وړاندې ټول برابر دي، هیڅوك دا حق نلري چې ځان تر قانون اوچت وګڼي، قانون ځان ته تابع او ځان د وروستۍ پرېکړې وروستۍ مرجع وګرځوي.

له دغو مبارکو آیتونو لاندې خبرې معلومېږي:

• اسلام د امیر انتخاب هم د مسلمانانو وجیبه ګڼي او هم ئې حق. د خلکو لخوا (څرګند) او (په خپله خوښه) بیعت ئې د امارت لپاره شرط ګرځولی.

• له امیر سره د خلکو بیعت داسې نه دئ چې لومړی به هغه له کومې بلې لارې امیر کېږي او بیا به خلك د بیعت شکلي مراسم د دې لپاره تر سره کوي چې د ده په وړاندې د خپل اطاعت څرګندونه وکړي، خبره داسې نه بلکې معکوسه ده، دا بیعت دئ چې په هغه سره څوك امیر کېدی شي، تر هغه چې خلك له چا سره بیعت ونه کړي امارت ئې نه شي مسلم کېدی. امیر هغه دئ چې خلك ورسره بیعت وکړي، له بیعت پرته مسلط شوی واکمن یو جابر او غاصب حاکم دئ.

أبو بکر رضي الله عنه هلته امیر شو چې خلکو په جومات کې له ده سره بیعت وکړ، عمر رضي الله عنه له هغه وروسته امیر شو چې د خلکو بیعت ئې تر لاسه کړ، د ابو بکر رضي الله عنه لخوا د ده انتخاب یوازې یو وړاندیز وو، هغه ولس ته د عمر رضي الله عنه د غوره کولو وړاندیز وکړ او عمر رضي الله عنه تر خپل شهادت مخکې اووه کسان د دې لپاره غوره کړل چې له خپل منځ یو کس انتخاب کړي او بیا دغه کس د بیعت لپاره ولس

ته معرفي شي.

د عثمان رضي الله عنه انتخاب داسي تر سره شو چي لومړی عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د ده او د علي رضي الله عنه په اړه د مدينې له خلکو، د ښځو په شمول، تر دريو ورځو مسلسل پوښتني وکړې، د دوی رأيه ئې ځان ته معلومه کړه، په جومات کي ئې دا خبره اعلان کړه چي د مدينې ډېری خلك د عثمان رضي الله عنه په امارت راضي دي، زه له دوی دواړو تاسو ته عثمان رضي الله عنه غوره کوم، خلکو توافق وکړ، بيعت تر سره شو او له دې وروسته عثمان رضي الله عنه خليفه شو، د ده له شهادت وروسته علي رضي الله عنه په جومات کي او له بيعت وروسته خليفه شو. دا بهير موږ ته ښيي چي بيعت د امارت لپاره شرط دئ، يوازي له بيعت وروسته څوك امير کېدی شي نه له بيعت مخکي.

له دې بهير دا هم معلومېږي چي بيعت څرگند کار دئ نه پټ، د عامو خلکو کار دئ نه د خاصو، په جومات کي تر سره شوی نه په کوم قصر کي، ټول هغه خلك په کي برخه اخيستی شي چي جومات ته ئې په راتلو بنديز نشته.

د پيغمبر عليه السلام سنت او د اصحابو رضي الله عنهم منهج ته په پام سره ويلی شو چي:

- د يوې غير اسلامي ټولني په سياسي حاکم نظام کي به له برخي اخيستو ډډه کوو، حتی که د دې نظام رياست هم موږ ته ومنل شي.
- په دې نامسلماني ټولني کي د انتخاباتو له لاري د تبديلي راوستو او قدرت ته د رسېدو هڅه به نه کوو، دا ځکه چي پيغمبر عليه السلام داسي نه دي کړي.
- اسلام موږ ته امر کړی چي لومړی به انقلاب راولو، غيراسلامي ټولنه به د جهاد له لاري په اسلامي ټولني بدلوو او اقتدار به له ظالمانو صالح کسانو ته انتقالوو، خو د انقلاب له راتلو او د اسلامي ټولني له جوړېدو وروسته به قدرت ته د رسېدو هره هڅه حرامه گڼو، هلته به وسلې ته لاس کول او يا د زور او دسيسو له لاري قدرت ته د رسېدو هڅه نه کوو، اقتدار به د مسلمانانو امانت او دا به د خلکو حق گڼو چي قدرت د خپلي خوښي صالح او اهل کس ته وسپاري، دلته به امير د مسلمانانو په خوښه او د دوی د بيعت له لاري ټاکل کېږي.
- د امير انتخاب د ټولني د ټولو مسلمانانو کار دئ نه د څو معدودو کسانو کار، دا ځکه چي خلفاء راشدين په جومات کي غوره شوي، نه د تړلو دروازو تر شا او د څو کسانو په خوښه.
- د امارت لپاره تر يوه زيات کسان هم نومول کېدی شي، داسي لکه چي عمر رضي الله

عنه ونومول.

- که تر یوه زیات کسان د امارت لپاره راوړاندي کړی شول، د استفتاء او د خلکو رأيي ته د مراجعې له لاري کولی شو د دوی له منځه هغه څوك غوره کړو چې د مسلمانانو اکثریت ئې د امارت لپاره اهل ګڼي.
- د امارت لپاره خاص مواصفات ټاکل شوي، د دغو مواصفاتو له مخې به اهل کسان نومول کېږي، خو د اهل کسانو له منځ د یوه انتخاب به د مسلمانانو د اکثریت په رأيه تر سره کېږي.

دا ډېره عجيبه ده چې د دغو څرګندو نصوصو په موجوديت کې او په داسې حال کې چې د راشدينو خلفاءو د انتخاب څرنګوالی ئې په مخکې پروت دئ، ځيني امارت موروثي حق ګڼي، يوازي د علي او د ده د اولاد رضي الله عنهم مسلم حق او وايي چې دوی د الله له لوري غوره شوي، که دا خبره سمه وی نو لومړی خو به په قرآن کې حتماً په دې اړه صريح آيت راغلی وو، پيغمبر عليه السلام به خلکو ته په واضح الفاظو ويلي وو، صحابه وو به هغه د لومړي خليفه په توګه او د ده اولاد له ده وروسته د امراءو په توګه غوره کړي وو، علي رضي الله عنه به له مخکينيو خلفاءو سره بيعت نه کاوو او تر ټولو مهمه خبره دا چې په قرآن کې به دا آيت نه راتلو چې اې مسلمانانو! الله تاسو ته امر کوي چې د امارت امانت اهل ته وسپارئ، که امارت موروثي وی او امير د الله او پيغمبر له لوري غوره کېدی نو مسلمانانو ته به ولې دا خبره کېده؟! او که موروثي وی نو ميراث خو ورثه وو ته پرته له دې سپارل کېږي چې وګوري هغه ماشوم دئ که ستر، هغه روغ دئ که ناروغ، عقل لري که بې عقله دئ، په ميراث کې خو د اهليت شرط نه شي وضع کېدی. آيا تاسو نه ګورئ چې د نړۍ په ظالمانه موروثي نظامونو کې دې خبري ته څوك نه ګوري چې د واکمن وارث د دې منصب اهل دئ که نه، زوی، لور او ښځې ته ئې په ميراث پاته کېږي. د قرآن په لسګونو آيتونه د اهل کتاب د دغي غلطي انګېرني د ترديد لپاره راغلي چې دوی په موروثي نظام او له پلار اولاد ته د مذهبي مقام او منزلت په انتقال باور درلود.

دا هم ډېره عجيبه ده چې ځيني وايي: د يو چا د امارت لپاره د پنځو کسانو بيعت هم کافي دئ، که له ټول امت يوازي پنځه کسان او حتی يو کس له چا سره بيعت وکړي هغه مسلم امير دئ او په ټولو ئې اطاعت واجب!! دا هسې بې بنسټه او چټي خبري دي هم د څرګندو نصوصو خلاف او هم د صحابه وو د منهج خلاف. دا خبري يا هغه څوك کولی شي چې دا ټول حقائق له پامه وغورځوي او يا هغه چې د کوم دربار مفتي وي.

له دې حکم چې د امير او خلکو تر منځ اختلافي قضايا به قرآن او سنت ته راجع کېږي؛

دا حقیقت په ډاګه معلومېږي چې امیر په مشوره مکلف دئ، د اختلاف په صورت کې ده ته د وروستۍ پرېکړې حق نه دئ ورکړی شوی، وروستۍ فیصله به د قرآن او سنت له مخې کېږي؛ او همدا پر الله او د آخرت پر ورځې د ایمان تقاضی ګڼل شوې.

خو دلته له اولوالامر منکم مراد د مسلمانانو کوم چارواکي دي؟ هر آمر که یوازې خلیفه او امیرالمؤمنین؟ که څه هم د اولي الامر منکم اطلاق پر هر آمر کېدی شي، خو په دوه دلیله په اطمئنان سره ویلی شو چې له دې مراد د مسلمانانو عمومي امیر دی:

- له الله او پیغمبر وروسته ئې ذکر شوی.
- د نورو امراءو او چارواکو اطاعت په اصل کې له عمومي امیر اطاعت دئ.

دې ته مو هم پام وي چې د دې مبارك آیت د شأن نزول په اړه څیني په یوه ضعیف روایت استناد کوي او وایي: د مکې له فتحې وروسته رسول الله صلی الله علیه و سلم د کعبې کلیاني بېرته هغه عثمان بن طلحه ته وسپارلې چې تر دې وړانده دا دنده د هغه کورنۍ ته سپارل شوې او ګواکې همدا د دې شأن نزول دئ!! دا رأیه په بشپړه توګه ناسمه ده، دا څکه چې د النساء د سورې بېلې بېلې برخې له درېیم هجري کال تر پنځم پورې نازلې شوې او دا ښیې چې دا آیت به د مکې له فتح او عثمان بن طلحة رضی الله عنه ته د کعبې د کلیانو له سپارلو نژدې شپږ کاله وړاندې نازل شوی وي، نو څنګه ومنو چې دا پېښه د دې آیت شأن نزول ده؟!! شأن نزول خو هغې پېښې او هغه حالت ته وایي چې د قرآن کوم آیت د هغه په ارتباط او همغه مهال نازل شوی وي، که څوك ووایي: د کلیانو سپارل د دې آیت یو مصداق وو، کېدی شي ادعاء ئې سمه وي، خو د شأن نزول نوم ورکول په قطعي توګه غلطه خبره ده، عثمان بن طلحة رضی الله عنه ته د کلیانو سپارل د دې آیت مصداق هم نشو ګڼلی، دا څکه چې کلیاني نه د ده شخصي مال وو او نه دی تر نورو د دې کار لپاره اهل، دی د مکې له فتح وروسته مسلمان شوی، څنګه به ئې تر هغو مسلمانانو د دې دندې لپاره اهل ګڼو چې مکه د دوی په لاس فتح شوه او دی د هغوی په لاس مسلمان شو؟! رسول الله صلی الله علیه و سلم د خاص مصلحت لپاره دا کلیاني بېرته ده ته وسپارلې. دې ته مو پام وي چې کعبې ته دروازه جوړول، قفل (کلپ) وراچول، کلیاني ئې په جیب کې ګرځول د مشرکو قریشو بدعت وو چې شرعي اصل نه لري؛ کعبه د خدای کور دئ، دروازه به ئې د ټولو پر مخ تل پرانیستې وي، ابراهیم علیه السلام داسې جوړه کړې وه چې د ننوتو او وتو دوه لارې ئې درلودې، دروازو ئې نه درې درلودې او نه بندېدې، درشل ئې له زمکې سره برابر وو، قریشو د کعبې سطح لوړه کړه، یوه دروازه ئې په ډبرو بنده کړه، بلې ته ئې دړه او قفل واچاوو، موخه ئې دا وه چې کعبې ته ننوتل د

دوی په واك كې وي، د خپلې خوښې خلكو ته د ننوتو اجازه وركړي!! رسول الله صلى الله عليه و سلم غوښتل بېرته ئې په ابراهيمي بنې كې اعمار كړي خو حالت ته په پام سره ئې دا كار ونه كړ. كلياني عثمان بن طلحه رضى الله عنه ته سپارل همداسي د يوه خاص مصلحت له مخي شوی.

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا۟ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓا۟ أَن يَكْفُرُوا۟ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴿٦٠﴾

[٦٠]- آيا هغه دي ونه ليدل چي گمان كوي هم پر هغه څه ايمان لري چي پر تا نازل شوي او هم پر هغه څه چي تر تا د مخه نازل شوي؛ خو غواړي د تحاكم لپاره طاغوت ته ورشي، حال دا چي ورته امر شوی له هغه نه انكار كوي؛ او شيطان غواړي چي په ژوري تېروتني سره ئې تېرباسي.

(٦٠)- د دې آيت له مخي د هغه چا د ايمان دعوى د منلو نه ده چي طاغوت ته خپلي شخړي راجع كوي، ځوك چي د طاغوت واكمنۍ ته غاړه ږدي او د خپلو مشاجراتو په اړه د هغه پرېكړي مني، هغه سخت تېروتى، شيطان دوكه كړی، د ايمان دعوى ئې د اعتبار وړ نه ده، حتى كه پر خپل ځان ئې دا گمان هم وي چي هم پر قرآن ايمان لري او هم پر مخكينيو كتابونو؛ تر هغه چي ته له طاغوت انكار ونكړې؛ الله تعالى ستا ايمان نه قبلوي.

دا آيت نه يوازي د ايمان حقيقت مور ته راښيي بلكي د طاغوت معنى هم راښيي، طاغوت هغه دئ چي خلك د خپلو شخړو د حل و فصل لپاره ورته رجوع كوي، حاكم او قاضي دئ خو پرېكړي ئې د الله د دين مطابق نه دي او په ماانزل الله حكم نه كوي، طاغوت شيطان نه بلكي شيطان ته منقاد حاكم دئ.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ رَأَيْتَ ٱلْمُنَٰفِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا ﴿٦١﴾

[٦١]-او كله چي ورته وويل شي: د هغه څه په لوري راشئ چي الله نازل كړی او د پيغمبر په لوري؛ منافقين به وگورې چي له تا به په كلكه ډډه كوي.

(٦١)- په دې مبارك آيت كې دا د نفاق لويه نښه گڼل شوې چي ځوك خپلي شخړي او

منازعات د قرآن او سنت مطابق حل و فصل نه کړي. که دا شخړې او منازعات؛ مادي وي يا معنوي، که فکري وي يا اعتقادي، که مذهبي وي يا سياسي، که اخلاقي وي يا حقوقي، که فردي وي يا اجتماعي، په هر څه کې منازعه به قرآن او سنت ته راجع کېږي، د دې مبارك آيت له مخي هغه څوك منافق دئ چي له قرآن او سنت پرته په بل څه خپل منازعات حل کوي.

فَكَيْفَ إِذَآ أَصَٰبَتْهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ثُمَّ جَآءُوكَ يَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ إِنْ أَرَدْنَآ إِلَّآ إِحْسَٰنًا وَتَوْفِيقًا ﴿٦٢﴾

[٦٢]- نو هغه وخت به څنګه وي چي کوم مصيبت د هغه څه له امله ورورسېږي چي په خپل لاس ئې مخکې لېږلي، بيا تا ته راشي او د الله په نامه لوړې کوي چي له احسان او توفيق پرته مو بل څه نه غوښتل.

(٦٢)- که څه هم د دې آيت حکم عام دئ خو له مخکيني آيت سره په ګډه ئې معنی دا ده: که دغو منافقينو ته له دې کبله کوم مصيبت ورسېږي چي له قرآن او سنت پرته په بل څه ئې د کومي شخړې او منازعې د حل کولو هڅه کړې، نو بيا به تا ته راځي، د الله په نامه به لوړه کوي چي د کوم بد غرض لپاره ئې دا کار نه دئ کړی، اراده ئې ښه او نېکه وه او د روغې جوړې په نيت ئې دا کار کړی!!

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَعْلَمُ ٱللَّهُ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُل لَّهُمْ فِيٓ أَنفُسِهِمْ قَوْلًۢا بَلِيغًا ﴿٦٣﴾

[٦٣]- دا همغه دي چي الله د دوی د زړونو په شته وو ښه پوهېږي، نو مخ ترې واړوه، نصيحت ورته وکړه او د خپل ځان په اړه ئې بليغه وينا ورته وکړه.

(٦٣)- دا هغه دي چي په خپلو قسمونو سره غواړي مسلمانان وغولوي او خپل نفاق پټ وساتي؛ خو الله تعالی ښه پوهېږي چي د دوی زړونه خيرن او په نفاق لړلي دي، د دوی په اړه چي الله تعالی څه فرمايي دا د هغه علم له مخي وايي چي د دوی د سينو د اسرارو په اړه ئې لري؛ له دغو منافقينو سره په خپله معامله کې لاندي خبري مراعات کړه:

- مخ ترې واړوه او اعتناء ورته مه کوه.
- نصيحت ورته کوه.

• د خپل حالت په اړه ئې داسې بليغه وينا ورته کوه چې پوه شي او ځان اصلاح کړي.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ إِذ ظَّلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ جَآءُوكَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُواْ ٱللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ٦٤

[٦٤]- او هيڅ پيغمبر مو له دې پرته د بل څه لپاره نه دئ لېږلی چې د الله په حکم سره ئې اطاعت وشي او که دوی هغه وخت درته راغلي وی چې پر خپل ځان ئې ظلم کړی وو، بيا ئې له الله مغفرت غوښتی وی او پيغمبر هم ورته بخښنه غوښتې وی؛ نو الله به ئې مهربان توبه منونکی موندلی وو.

(٦٤)- په دې جامع آيت کې څو ډېرې سترې لارښوونې شوې:

• الله تعالی خپل پيغمبران د دې لپاره رالېږلي چې اطاعت ئې وشي، په دوی پسې اقتداء وشي، لارښود او مقتداء وګڼل شي؛ دوی يوازې پيغام راوړونکي نه دي چې خلك به ئې فقط پيغام اوري او بيا به په خپله خوښه عمل کوي؛ نه؛ بلکې دوی د الهي پيغام عيني تجسم وګڼئ، که غواړئ په دې پوه شئ چې الله تعالی څنګه انسان خوښوي نو دا غوره او الله ته خوښ انسان د پيغمبر په څېره کې وګورئ؛ که غواړئ پوه شئ چې د الله په دين عمل کول څنګه وي؛ نو په دين د عمل کولو رښتينې بېلګه پيغمبر دئ.

• که کله کومه غلطي درنه وشوه، په کومې قضيې کې دې د پورتني اصل مخالفت وکړ، د پيغمبر اطاعت درنه پاته شو او د هغه په سنت دې عمل ونکړ؛ نو له الله بخښنه وغواړه او توبه وکړه.

• الله مهربان توبه منونکی دئ، توبه او توبه کوونکی خوښوي، نه يوازې دا چې توبه قبلوي او ګناه بخښي بلکې پر توبه کوونکي مزيد مهرباني هم کوي.

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا ٦٥

[٦٥]- نو نه؛ ستا په رب قسم چې تر هغه ئې ايمان نه دئ راوړی چې تا په خپلمنځيو شخړو کې حکم ونه ګرځوي، بيا ستا د پرېکړې په اړه په خپلو زړونو کې تنګوالی ونه مومي او په بشپړه توګه تسليم نه شي.

(٦٥)- تر هغه چې تا په خپلو شخړو کې حکم ونه نيسي او بيا ستا په پرېکړې راضي نه

شي،په خپلو زړونو کې هیڅ تنګي او حرج احساس نه کړي او عملاً انقیاد ونکړي؛ مؤمنان نه شي بلل کېدی او د ایمان ادعاء ئې نه شي قبلېدی. له دې آیت په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د ایمان د قبلېدو لاندي شرائط دي:

- شخړي او منازعات شریعت ته محول کول.
- د اسلام په هري پرېکړي رضایت.
- او هر حکم ته ئې عملاً غاړه ایښودل.

وَلَوۡ أَنَّا كَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ أَنِ ٱقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ أَوِ ٱخۡرُجُواْ مِن دِيَٰرِكُم مَّا فَعَلُوهُ
إِلَّا قَلِيلٞ مِّنۡهُمۡۖ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ فَعَلُواْ مَا يُوعَظُونَ بِهِۦ لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡ وَأَشَدَّ تَثۡبِيتٗا
٦٦ وَإِذٗا لَّأٓتَيۡنَٰهُم مِّن لَّدُنَّآ أَجۡرًا عَظِيمٗا ٦٧ وَلَهَدَيۡنَٰهُمۡ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ٦٨

[٦٦]- او که دا مو پر دوی فرض کړي وی چي خپل ځان ووژنئ او له خپل کور کلي ووځئ نو له لږو کسانو پرته به ئې دا کار نه وو کړی او که هغه څه ئې تر سره کړي وی چي نصیحت ئې ورته کېږي نو دا به ورته ډېر غوره وو او په مضبوطوالي کې ډېر کلك. [٦٧]- او هغه وخت به مو له خپلي خوا ستر اجر ورکړی وو. [٦٨]- او هرومرو به مو سمي لاري ته هدایت کړي وو.

(٦٦-٦٨)- که پر دوی داسي حالت راولو چي د الله په لار کې شهادت ته چمتووالی او هجرت ته تیارېدل پرې فرض شي، نو له دغو کسانو چي خپل منازعات طاغوت ته وړاندي کوي؛ ډېر لږ به ئې دې کار ته چمتو شوي وو، خو که دا کار ئې کړی وی نو دا به ورته ډېر غوره وو او د دوی د ثبات او استقامت نښه او پر خپلي عقیدې د مضبوط پاته کېدو باعث. په دې سره به ئې لوی اجر په برخه شوی وو، د هدایت دروازې به ئې پر مخ پرانیستل شوې وې او پر سمه لار د تلو مزید توفیق به ئې په برخه شوی وو.

ځینو د (ٱقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ) دا معنی کړې چي خپل ځان په خپل لاس ووژنئ، خو دا تعبیر په څو دلائلو ضعیف دئ:

- الله تعالی څوك په ځان وژني نه مکلف کوي. د بقرې په سوره کې چي د بني اسرائیلو په اړه دا الفاظ راغلي هلته ئې هم معنی ځان وژنه نه بلکي د خپل قوم هغه کسان وژل دي چي د شرك مرتکب شوي وو.
- له (ٱخۡرُجُواْ مِن دِيَٰرِكُم) معلومېږي چي د دې مراد هجرت دئ او د (ٱقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ)

مراد د الله په لار كې ځان قرباني كول دئ.

• دلته د منافقينو په اړه بحث كېږي او د بحث موضوع دا ده چې دوی خپل منازعات پيغمبر عليه السلام ته نه راجع كوي، نو كه دوی ته د الله په لار كې د جهاد، قربانۍ او هجرت بلنه وركړی شي؛ دا كار خو په هيڅ صورت كې نه كوي.

• له (يُوعَظُونَ) معلومېږي چې په راتلونكي كې به دوی ته دا د جهاد، قربانۍ او د الله لپاره د خپل كور كلي د پرېښودلو بلنه وركول كېږي، كه هغه وخت دوی دا بلنه ومنله او قربانۍ ته چمتو شول نو دا اجر او بدله به ئې په برخه شي او دا ټول همغه اجرونه دي چې الله تعالى ئې مهاجر او مجاهد ته وركوي. د اجرونو په ضمن كې دا هم ويل شوي چې په مستقيمه لار به ئې هدايت كړو، كه دا د ځان وژني په معنى واخلو نو بيا خو به د آيت ترجمه دا وي: كه دوی ځان ووژلو نو په مستقيمه لار به ئې هدايت كړو!! او روښانه ده چې دا تعبير صحيح نه دئ.

• په دې پسې متصل په ٦٩ آيت كې د شهداءو ذكر او دا ويل چې د الله او پيغمبر اطاعت كوونكي انبياء، صديقين، شهداء او صالحين دي؛ په خپله دا مطلب واضح كوي چې دلته مراد شهادت ته چمتو كېدل دي نه ځان وژنه.

وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ
وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَۚ وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ رَفِيقٗا ﴿٦٩﴾ ذَٰلِكَ ٱلۡفَضۡلُ
مِنَ ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ عَلِيمٗا ﴿٧٠﴾

[٦٩]- او چا چې د الله او پيغمبر اطاعت وكړ؛ نو دوی له هغو سره دي چې الله پرې پېرزويني كړې: له پيغمبرانو، صديقينو، شهداءو او صالحينو؛ او ښومره غوره دي دوی په ملګرتيا كې. [٧٠]- دا خو الهي فضل دئ؛ او الله د ښه پوه په توګه كافي دئ.

(٦٩-٧٠)- هغه چې د الله او پيغمبر اطاعت كوي؛ د لاندي شخصيتونو په ډلي كې به وي:

• پيغمبران.

• صديقين: هغه چې پر خپل ايمان او له الله تعالى سره پر خپلو كړو ژمنو او وعدو كې صادق او رښتيني وي.

• شهداء: هغه چې عملي ژوند ئې د صحيح ايمان شاهد وي، د حق او حقيقت لپاره د شاهد حيثيت لري، هر څوك د دوی له قول او عمل په دې پوهېږي چې حقيقت څه او حقيقي دين كوم دئ او هغه چې د الله په لار كې په شهادت رسېدلي وي.

- صالحان: هغه چې د ځان او ټولنې د اصلاح او رغونې په چارو کې بوخت وي.

د دغو څلورو ډلو؛ پیغمبرانو، صدیقینو، شهداءو او صالحینو ذکر چې په کوم ترتیب سره راغلی په دې کې په ډېر ظرافت او لطافت سره یوې مهمې خبرې ته اشاره شوې او هغه دا چې پیغمبر مبعوث شي، د ټولنې ځینې ایمان پرې راوړي، د دوی وینا تصدیق کړي، هغه مقام ته ورسېږي چې د نورو لپاره معیار، ملاك او شاهد شي، شهادت ته چمتو شي، برى او د زمکې خلافت او وراثت ئې په برخه شي او الله تعالى د ټولنې د اصلاح مأموریت دوی ته وسپاري.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ خُذُواْ حِذۡرَكُمۡ فَٱنفِرُواْ ثُبَاتٍ أَوِ ٱنفِرُواْ جَمِيعٗا ﴿٧١﴾

[٧١]- اې مؤمنانو! خپل احتیاطي تدابیر ونیسئ، بیا یا بېل بېل او یا په ګډه ووځئ.

(٧١)- دلته د احتیاطي تدابیرو د نیولو مراد ټول هغه تدابیر دي چې په جګړې کې ضروري وي، که دا وسائل وي، اسلحه وي، د جګړې لپاره د اړتیا وړ خوراك، پوښاك وي او که نور، دا هم یو له هغو ضروري مواردو دئ چې وړې وړې ډلې جګړې ته ولېږل شي او که یو لوی لښکر او ټولې ډلې ئې یو ځای، کله دا ترتیب ګټور وي او کله هغه بل، تر ضرورت زیات مجاهدین لېږل د بې ځایه مرګ، ژوبلې او مصرف باعث کېږي او تر ضرورت کم د ماتې موجب، د فوځ مشر ته په کار ده چې حالات وڅېړي او مناسب تصمیم ونیسي.

وَإِنَّ مِنكُمۡ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ فَإِنۡ أَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةٞ قَالَ قَدۡ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيَّ إِذۡ لَمۡ أَكُن مَّعَهُمۡ شَهِيدٗا ﴿٧٢﴾

[٧٢]- او یقیناً چې په تاسو کې ځیني هرو مرو لټي کوي، نو که کوم مصیبت درورسېږي وایي: واقعي چې الله پر ما هغه وخت فضل وکړ چې له دوی سره حاضر نه وم.

(٧٢)- کوم کسان چې د تیاري نیولو په وخت کې لټي کوي؛ هغوی په حقیقت کې ستاسو له ډلې نه دي، نه ئې ملګرتیا د ایمان او عقیدې په حکم ده او نه ئې جهاد، که تاسو ته کوم مصیبت درورسېږي، له ماتې سره مخامخ شئ، مرګ، ژوبله مو په برخه شي؛ نو هغه وایي: ښه شو چې له دوی سره یو ځای نه وم، الله پر ما فضل وکړ چې له دوی ئې پاته کړم، که نه نو زه به هم له دې مصیبت سره مخامخ شوی وم. له دې آیت دا معلومېږي چې که څوك د مسلمانانو غم او درد د ځان غم او درد ونه ګڼي او پرې خفه نه شي؛ هغه منافق

دئ.

وَلَئِنْ أَصَٰبَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ ٱللَّهِ لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمْ تَكُنۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُۥ مَوَدَّةٌ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧٣﴾

[۷۳]- او که د الله کوم فضل مو په برخه شي، حتماً به داسي وينا کوي لکه چي ستاسو او د ده تر منځ هيڅ دوستي نه وي: ای کاش له دوی سره وی او لويه بريا مي په برخه شوې وی.

(۷۳)- خو که فتح او بريا مو په برخه شي؛ نو د ده وينا به بيا هم داسي وي ومومئ چي د يوه دښمن وينا برېښي نه د يوه دوست، ستاسو بريا به د ځان بريا نه ګڼي، ستاسو په فتحي به راضي او خوشحال نه وي، هلته به هم دا ارمان کوي چي کاش زه هم په دې جګړي کې حاضر وی او غنائم مي په برخه شوي وی، د ده له نظره لويه بريا غنائم تر لاسه کول دي، نور څه ورته اهميت نلري. دا آيت د منافق بل خصلت په ګوته کړی او فرمايي: څوک چي د مسلمانانو پر بريا خفه شي او خپله بريا ئې ونه ګڼي منافق دئ.

فَلْيُقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يَشْرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا بِٱلْءَاخِرَةِ ۚ وَمَن يُقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٧٤﴾

[۷٤]- نو د الله په لار کې دي هغه وجنګېږي چي د دنيا ژوند پر آخرت پلوري او څوک چي د الله په لار کې وجنګېږي، ووژل شي، يا بريالی شي؛ نو ژر به ستر اجر ورکړو.

(۷٤)- د الله په لار کې هر څوک د جنګېدو وړتيا نلري، الله تعالی هر څوک د دې لپاره اهل نه ګڼي، يوازي هغه څوک د دې وړ دئ چي هدف ئې د الله رضاء تر لاسه کول وي، خپل ژوند د الله په لار کې قرباني کوي او دې ته تيار وي چي له خپلو ټولو دنيوي ګټو د اخروي فلاح او سعادت لپاره تېر شي. داسي مجاهد ته به شکور خدای ستر اجر ورکوي، که شهيد شي هم او که غازي او غالب شي هم.

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا وَٱجْعَل

لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَٱجۡعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾

[۷۵]- او پر تاسو څه شوي چې د الله په لار کې او د هغو بې وزلو سړيو، ښځو او ماشومانو د ژغورنې لپاره نه جنګېږئ چې وايي: اې زموږ ربه! له دې کلي چې اهل ئې ظالمان دي موږ وباسه او له خپلې خوا راته کوم پالونکی وټاکه او له خپل لوري راته کوم ملاتړ وټاکه.

(۷۵)- دا مبارك آيت په ډېرو قاطع او واضح الفاظو وايي چې د الله په لار کې وسله وال جهاد او د مظلومانو د ژغورنې لپاره له ظالمانو سره جنګېدل يوه داسې الهي فريضه ده چې پرېښودل ئې په هيڅ دليل او هيڅ بهانه نه شي توجيه کېدی، کله چې مسلمانان داسې يوې مرحلې ته ورسېږي چې وسلې ته لاس کول او د دښمن په خلاف جنګېدل ضروري وګڼل شي، نو دا کار پرې فرض دئ او پرېښودل ئې د يوې الهي فريضې پرېښودل دي او الله تعالی د داسې جهاد له تارکينو هيڅ دليل او بهانه نه مني.

خو دا خبره بايد واضح شي چې موږ به اوس او د پيغمبر عليه السلام په غياب کې دا مرحله څنګه پېژنو او څنګه به په دې پوهېږو چې اوس وسلې ته لاس کول پر موږ فرض شوي او ترك ئې ګناه ده؟ يوه مخلص مسلمان ته د دې مرحلې تشخيص ګران کار نه دئ، هغه پوهېږي کله چې زموږ حالت داسې شو لکه په مدينه منوره کې د مسلمانانو حالت؛ نو پر موږ همغه څه کول لازم کېږي چې پيغمبر عليه السلام او صحابه وو رضي الله عنهم وکړ. خو دې پوښتنې ته د تفصيلي ځواب ورکولو لپاره بايد لاندې پوښتنې ځواب شي:

- آيا د مسلحانه جهاد اعلان به د حکومت له خوا کېږي او له دې پرته جهاد جائز نه دئ؟ او که هر مسلمان په خپل سر دا کار کولی شي؟ او که د اعلان لپاره ئې نور شرائط وي نو دا شرائط کوم دي؟
- آيا مسلمان د دې حق لري چې ووايي: زه د مکي دور په څېر صبر کوم، د نوح عليه السلام، ابراهيم عليه السلام، عيسی عليه السلام، يوسف عليه السلام او نورو هغو پيغمبرانو عليهم السلام په شان له مسلحانه جهاد ډډه کوم چې د دښمن په خلاف ئې وسله نه ده استعمال کړې؟

د لومړۍ پوښتنې په ځواب د پوهېدو لپاره بايد لاندې خبرې په پام کې ولرو:

- د قرآن په هيڅ آيت کې نه صراحتاً دا راغلي او نه تلويحاً او اشارتاً دا موندلی شو چې د "جهاد اعلان" به د (حکومت) او يا (رياست) لخوا کېږي.
- په ټول قرآن کې نه د "حکومت" او "رياست" لفظ راغلی او نه دا خبره چې د جهاد

اعلان به د حکومت، ریاست، خلافت او امارت یا حاکم، رئیس، خلیفه او امیر لخوا کېږي.

• د پیغمبر علیه السلام په احادیثو کې هم دا نه شو موندلی چي د جهاد د اعلان لپاره ئې د "حکومت" او "ریاست" شتون ضروري ګڼلی وي او دا په کې ویل شوي وي چي جهاد یوازې په هغه صورت کې جائز دئ چي "حکومت" او "ریاست" ئې حکم صادر کړي.

• څوك چي له قرآن او حدیث ډېر لږ معلومات هم ولري په دې پوهېږي چي نه په قرآن کې د جهاد د اعلان لپاره د "حاکم" او "رئیس" یا "حکومت" او "ریاست" شرط لګول شوی او نه په احادیثو کې. که څوك ووايي چي له جهاد مخکې جماعت ضروري دئ، دا خبره صحیح ده، خو که څوك ووايي چي د جهاد اعلان به د یوه برحال حکومت لخوا کېږي، نو دا خوشې بې بنسټه خبره ده، دا له دین د یوه بې خبر سرکاري مفتي خبره کېدی شي خو د یوه واقعي عالِم فتوی نه شي کېدی.

• د پیغمبر علیه السلام له قول او فعل دا معلومېږي چي د جهاد د پیل لپاره دوو اساسي شیانو ته ضرورت دئ: (جماعت یعني حزب او ډله) او (مهجر یعني د هجرت ځای)، پیغمبر علیه السلام فرمايي:

عن أَبِى مَالِكٍ الْأَشْعَرِىَّ قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم « وَأَنَا آمُرُكُمْ بِخَمْسٍ اللهُ أَمَرَنِى بِهِنَّ بِالْجَمَاعَةِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَالْهِجْرَةِ وَالْجِهَادِ فِى سَبِيلِ اللَّهِ فَإِنَّهُ مَنْ خَرَجَ مِنَ الْجَمَاعَةِ قِيدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الإِسْلاَمِ مِنْ عُنُقِهِ إِلاَّ أَنْ يَرْجِعَ وَمَنْ دَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ مِنْ جُثَاءِ جَهَنَّمَ ». قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ وَإِنْ صَامَ وَإِنْ صَلَّى؟ قَالَ « وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى وَزَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ ...». رواه احمد

او زه په پنځو هغو شیانو تاسو ته امر کوم چي الله تعالی ما ته د هغوی امر کړی: په جماعت، سمع، اطاعت، هجرت او جهاد في سبیل الله او څوك چي د یوې لوېشتي په اندازه له جماعت لرې شو نو هغه د اسلام کړۍ له خپلې غاړې وایستله (له اسلام ووت) مګر دا چي بېرته راوګرځي او چا چي د جاهلیت شعارونو ته بلنه ورکړه هغه به د دوزخ خس شي، خلکو وویل: یا رسول الله! که څه هم روژه ئې نیولې وي او لمونځ ئې کړی وي؟ وئې ویل: که څه هم روژه ئې نیولې وي او لمونځ ئې کړی وي او پر ځان ئې دا ګمان کړی وي چي مسلمان دئ.

له دې مبارك حدیث په څرګنده معلومېږي چي له جهاد مخکې باید جماعت جوړ شي او بیا د حاکم نظام له سلطې د وتلو لپاره هجرت وشي او بیا مسلحانه مزاحمت پیل شي. پیغمبر علیه السلام په مکي دور کې جماعت جوړ کړ او مدینې ته له هجرت سره سم ئې د

قریشو په ضد مسلحانه مزاحمت پیل کړ.

باید دا خبره په خیال کې وساتو چې دغه پنځه کارونه پر مسلمانانو واجب دي، په دې مأمور شوي چې جماعت به جوړوي، داسې جماعت چې په سمع او اطاعت ولاړ وي، بیا به د حاکم سیاسي نظام له سلطې د وتلو لارې لټوي، د ضرورت په صورت کې به هجرت کوي او بیا به د همدې نظام د رانسکورولو لپاره وسلې ته لاس کوي.

ریاست جوړول خو د اسلامي جهاد هدف او مقصد دئ، نه دا چې لومړی به حکومت جوړېږي بیا به دا حکومت د جهاد اعلان کوي!! جهاد خو د دې لپاره فرض شوی چې په دې سره غیر اسلامي نظام رانسکور کړی شي او پرځای ئې اسلامي حکومت قائم شي. پیغمبر علیه السلام د ابو جهل د حکومت د نسکورولو او د ټول حجاز په مرکز او پلازمېنه (مکه) کې د یوه اسلامي حکومت د قائمولو لپاره جهاد پیل کړ. نه خو غیر اسلامي حکومتونه په خپله رانسکورېږي او نه اسلامي حکومت له جهاد پرته له بلې لارې جوړېدی شي، ځوك چې دا غلطه او بابیزه خبره کوي او د جهاد د اعلان لپاره د حکومت شتون شرط ګڼي؛ هغه دې ووایي چې پیغمبر علیه السلام ولې په داسې حال کې جهاد پیل کړ چې پر حجاز د قریشو واکمني وه، دی او یاران ئې له مرکز (پلازمېنې) مکې د مدینې یوه واړه کلي ته مهاجر شوي وو، هلته ئې نه حکومت وو او نه فوځ!! دې جنابانو ته وایو: آیا د روسانو په ضد به د جهاد اعلان د کابل حکومت چارواکو کاوو؟!! آیا په فلسطین کې به د جهاد اعلان شارون کوي، په کشمیر کې واجپای، په چیچین کې پوتین او اوس په افغانستان کې جنرال ډیوېډ بارنو یا د دوی کوم لاس پوڅی واکمن!!

د جهاد اعلان هغه ځوك په حکومت پورې تړي چې یا د حکومت نوکر وي، یا د جهاد مخالف وي او یا د جهاد اراده او همت نه لري، داسې فتوی ټل سرکاري مفتیان ورکوي، هیڅ داسې غیرسرکاري عالِم نه شئ موندلی چې په قرآن او حدیث پوه وي او هغه دې جهاد په حکومتونو مخصوصاً موجوده مفسدو او غیر اسلامي حکومتونو پورې مربوط کړي. که لږ دقت وکړئ او د دا راز مفتیانو پټې اړیکې وڅېړئ حتماً به درته معلومه شي چې دا کسان د اسلام او جهاد د مخالفینو له خوا استخدام شوي، د کومې مسیحي او تبشیري مؤسسې لپاره کار کوي، د کومې کلیسا لخوا د جوړې شوې خیریه مؤسسې مأمور دئ. انګریزانو په اسلامي نړۍ د خپلې سلطې په دوران کې داسې ډېر مفتیان استخدام کړي وو، اوس غربي مؤسسې په ټول توان طاقت د دې هڅه کوي چې د جهاد مفهوم د اسلامي امت له ذهنه وباسي، د هجرت، جهاد، شهادت، اسلامي خلافت، الفاظ د اسلامي هېوادونو له تعلیمي نصاب خارج کړي، امریکایانو په افغانستان او عراق کې همدا کار وکړ، له

پاکستان او سعودي ئې همدا وغوښتل چې نه يوازې جهادي مفاهيم له تعليمي نصابونو وباسي بلکې قرآني آيات هم وباسي. چارواکې له پارلمان غواړي چې له تعليمي نصاب د قرآني آيتونو د ايستلو له وړانديز سره توافق وکړي، او دا ځکه چې امريکا پرې ټينگار کوي.

په مکه کې د ابو جهل حکومت او رياست وو، پيغمبر عليه السلام د بعثت له لومړۍ ورځې د دې رياست د نسکورولو او پر ځای ئې د يوه الهي او ديني حکومت د قائمولو لپاره کار پيل کړ، که څه هم په مکه کې ئې وسله وال جهاد نه دئ اعلان کړی خو دښمن د ده هره خبره داسې گڼله چې د دوی، د دوی د مذهب او د دوی د نظام خلاف ده او نتيجه ئې د دې طاغوتي نظام ړنگول، ځکه ئې نه دی زغملی شو او نه د ده دعوت، که څه هم هلته د ده د دعوت محوري او اساسي خبره دا وه: لا اله الا الله ووايئ چې نجات حاصل کړئ، خو دښمن د لا اله الا الله په معنی پوهېدو، هغه ئې د دوی د نظام په ضد د بغاوت اعلان گاڼو، دا معنی ئې ترې اخيسته چې لومړی په طاغوت کافر شه بيا پر الله ايمان راوړه، پر الله ايمان هلته منظور او مقبول دئ چې له طاغوتي حکومت او نظام انکار وکړي.

د اسلامي نړۍ اوسني حکام او حکومتونه ټول غاصب او جابر حکومتونه دي، نه د ملتونو په خوښه او د داسې بيعت له لارې راغلي چې له اکراه او اجبار پرته تر سره شوی وي، نه د ملت په وړاندې د مسئوليت احساس کوي، نه په دې ځان مکلف گڼي چې په ما انزل الله به حکم کوي او له ولس سره مشوره، نه له الله وېره لري او نه پر ولس ترحم، نه واکمني يو الهي امانت گڼي او نه بيت المال د ولس امانت، د پرديو د مټو په زور مسلط شوي او د پرديو د گټو لپاره د خپل ولس قرباني کولو ته چمتو، يو هم له ابو جهل او د ابو جهل له حکومت غوره نه دئ. ابو جهل ځان ته خادم الحجاج بيت الله او خادم الحرم الشريف وايو، ځان ئې د کعبې متولي بالو او په ديانت کې ئې ځان هومره په حقه گاڼو چې ويل به ئې: اې خدايه!! که محمد په حقه او موږ په ناحقه يو نو پر موږ له آسمان تيږي وورو‌ه!! دا جنابان دي ووايي چې په دې حکومتونو کې داسې کوم څه نشته چې د ابو جهل په حکومت کې وو؟ قرآن په مکه کې د فرعون قصه د دې لپاره رااخلي چې خلکو ته ووايي: ستاسو ابو جهل همغه فرعون دئ چې موسی عليه السلام ئې مقابلې ته لېږل شوی وو، د دې لپاره چې خلك پوه کړي چې محمد عليه السلام د مکې د موجوده فرعوني نظام په ضد همغه څه کوي چې د ده ورور موسی عليه السلام کول. پيغمبر عليه السلام فرمايي چې ابو جهل زما د امت فرعون دئ. د موجوده حکومتونو ملگري او حاميان په اصل کې د فرعون او ابو جهل ملگري دي، ځوك چې وايي: د دغو حکومتونو د اجازې په

صورت کې جهاد جائز دئ او له دې پرته جهاد په فساد او بې امنۍ منتج کېږي!! دا همغه دي چې د موسى علیه السلام او محمد علیه السلام په اړه به ئې ویل: دوي شر خوروي، بې امنیتي راولي، اقتدار غواړي. څوك چې د اسلامي ملکونو موجوده حالت د امن حالت ګڼي او وايي یا غواړي چې دا حالت باید دوام وکړي، په دې کې داسي څه نشته چې د شدید بحران نوم ورکړو او د جهاد ضرورت احساس کړو!! دا کس یا ډېر ناپوه او بې خبر دئ، هم له دین او هم له دنیا؛ او یا ډېر غرضي دئ او د حکامو نوکر او خادم. د اسلامي ملکونو حالت هومره بد دئ چې تر دې د زیات بد حالت تصور نه شي کېدی. فقر، لوږه، د غني او فقیر تر منځ ژور تفاوت، د مظلومانو په سر، مال، عزت تېری، اخلاقي فساد، شرك، الحاد او بې دیني، د پردیو په وړاندي ذلت، اسارت او غلامي، دا ټول خو پرېږده نن اکثر اسلامي هېوادونه نه سیاسي استقلال لري او نه اقتصادي، له سیاسي، اقتصادي، نظامي او فرهنګي پلوه پردي پرې حکومت کوي، نن په ډېرو اسلامي هېوادو کې ایف بي آی او سی آی اې فعال دفترونه لري، هر څوك په هر وخت کې نیولی شي، په ډېرو کې د امریکایانو نظامي اډې دي، له دغو اډو په افغانستان کې نظامي عملیات تر سره کوي، حکومتونه ئې د مظلومو مسلمانانو په وژلو او نیولو کې د امریکایانو مرسته کوي، حتی د خپل ولس په ضد جنګېږي، د کابل حکومت له امریکایانو غواړي په پاکستان کې د مخالفینو په ضد عملیات تر سره کړي، د امریکا بې پیلوټه جهازونه هره ورځ د پاکستان په فضاء کې الوتني کوي او په سرحدي قبایلي سیمو کې کله پر یوه او کله پر بل کور راکټې وروي او په خوب ویده ښځې، ماشومان او بوډاګان وژني، د کابل حکام پرې خوښي کوي او د اسلام آباد حکام ئې له مخنیوي عاجز؛ بر عکس وايي: اسلام آباد د تروریزم په ضد جنګ کې د امریکا مخلص او وفادار ملګری دئ!! د ډېرو اسلامي هېوادو تلویزیونونه هره ورځ د بې دینۍ او اخلاقي فساد هغه صحنې ښیي چې مثال ئې یوازي د غرب په هغو سیکس تلویزیوني شبکو کې لیدل کېږي چې د رسمي فاحشه خانو له خوا اداره کېږي او د آزاد او بربنډ جنسي عمل فیلمونه ښیي. نه د فرعون په نظام کې تر دې زیات فساد وو او نه د مکې د جاهلیت د دور په نظام کې. قرآن د فرعوني نظام څو ځانګړتیاوي بیانوي چې دا ټول او تر هغه زیات په موجوده نظامونو کې ګورو:

- فرعون ځان د مصر د ټولو شتمنیو واکمن ګڼي، زموږ اوسني واکدران همداسي د ملك هر څه د ځان غنیمت ګڼي.
- فرعون خپل ولس په حاکم او محکوم، شتمن او نېستمن وېشلي او په مصر کې ئې طبقاتي نظام رائج کړی وو: مرفه او حاکمه طبقه او ناداره او محکومه طبقه، نن همدا

نظام په اسلامي ملکونو کې رائج دئ، د حاکم او محکوم تر منځ تفاوت هومره ژور چې د فرعون په طبقاتي نظام کې تر دې زيات نه وو.

- فرعون ځان ټولواك گڼي، د هري پرېکړي آخري مرجع، د جائز او ناجائز او حلال او حرام د تعيين آخري مرجع، نن زموږ حکام همداسي دي، د مصر تر فرعون زيات مستبد او مطلق العنان.
- فرعون د ستر قصر خاوند وو، زموږ د حکامو قصرونه که د فرعون تر قصر زيات ستر، اشرافي او مرفه نه وي تر هغه له هيڅ پلوه کم نه دي او که دا قصرونه د عام ولس له سمڅو او جونگړو سره مقايسه کړو نو تفاوت ئې هومره دئ چې د فرعون د قصر او د يوه عادي مصري د کيږدۍ تر منځ دومره تفاوت نه وو.
- قرآن وايي چې فرعون د موسى عليه السلام د وژلو اجازه له خپلو درباريانو غواړي، همدا راز وايي چې يوسف عليه السلام په داسي حال کې چې د مصر د هغه وخت ځواکمن وزير وو خو دا ئې نه شو کولی چې خپل ورور له قانوني دليل پرته څو ورځي له ځان سره وساتي، خو زموږ ټولواکان د هيچا د نيولو او وژلو په اړه له هيچا سره نه د مشورې ضرورت احساسوي او نه د قانوني مجوز ضرورت، د امريکا د خارجه وزارت د يوه مأمور ټېلفوني هدايت کافي دئ چې چارواکي د خپل ولس په ضد خونړي عمليات تر سره کړي، ټوپونه وورويي، توپونه او ټانکونه استعمال کړي او د ډېرو مظلومو انسانانو ويني توی کړي. امريکا ته د نظامي اډو په ورکولو کې او د افغانستان په ضد د امريکايانو ترقومندې لاندي جنگ کې د شريکېدو په اړه دا ضرورت نه محسوسوي چې له پارلمان موافقه تر لاسه کړي. مظلوم مسلمانان نيسي او له کومي محکمې پرته ئې امريکا ته سپاري.
- فرعون ويل چې سمه خبره همغه ده چې زه ئې کوم، ستاسو ښېگڼه يوازي په هغه څه کې ده چې زه ئې وايم، زموږ واکداران له دې پلوه تر فرعون ډېر ډېر مخکې دي، نه د خدای او قرآن پروا کوي او نه د قانون. دوی ته پارلمان او خلك د يوه توت په اندازه ارزښت نه لري، څه چې ئې زړه وغواړي همغه کوي.

سرکاري مفتيان له جهاد سره د مخالفت په فتوی کې په دې خبري استناد کوي چې پيغمبر عليه السلام په مکې دور کې حتی هغه وخت هم د وسلې اخيستلو اجازه ورنکړه چې ياران ئې يو په بل پسي وژل کېدل!! نه؛ هغوی ته ئې د صبر توصيه کوله!! دې جنابانو ته وايو: دا دوی ولي وژل کېدل او دا تاسو ته ولي څوك څه نه وايي؟ نه دا ظالم، جابر او بې دينه حکام تاسو ځوروي، نه مو په زندان کې اچوي، نه مو وژني!! دا ستاسو او د صحابه وو د ايمان تر منځ څه فرق دئ چې هغوی د ايمان لپاره وژل کېدل منل خو ابو جهل او د

ده نظام ته نه تسليمېدل؟!! که هغوی دا ستاسو خبره کولی نو نه وژل کېدل او نه له ملك هجرت ته مجبورېدل. د دوی د وژل کېدو معنی خو دا ده چې دوی له حاکم نظام بغاوت کړی وو، د دې نظام واکمنان ئې نه منل، له نظام سره د ټکر او تصادم په حال کې وو، نظام له دوی وېره درلوده، د همدې لپاره ئې وژل. دا تاسو ولې په مکې کې د دوی پر صبر استناد کوئ خو په مدينه کې د همدغو صحابه وو پر مسلسل جهاد استناد نه کوئ، ولې د دوی پر هجرت استناد نه کوئ، ولې پر دښمن د دوی پر مسلسل بريدونو استناد نه کوئ؟!! ولې پر دې استناد نه شئ کولی چې پيغمبر عليه السلام د مدينې په لسو کلونو کې تر اويا زياتې نښتې له دښمنانو سره درلودې، يعني دا چې پيغمبر عليه السلام په هرو پنځه څلوېښت ورځو کې يوه نښته تنظيم کړې، داسې چې يا ئې په خپله هم په کې برخه اخيستې او يا د ځينو خاصو وجوهاتو له مخې ئې په هغه کې شرکت نه دئ کړی خو تمنی ئې دا وه چې دا حديث ئې بيانوي:

عن أَبِى هُرَيْرَةَ رضى الله عنه قَالَ سَمِعْتُ النَّبِىَّ صلى الله عليه و سلم يَقُولُ « وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لَوْلاَ أَنَّ رِجَالاً مِنَ الْمُؤْمِنِينَ لاَ تَطِيبُ أَنْفُسُهُمْ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنِّى، وَلاَ أَجِدُ مَا أَحْمِلُهُمْ عَلَيْهِ، مَا تَخَلَّفْتُ عَنْ سَرِيَّةٍ تَغْزُو فِى سَبِيلِ اللَّهِ، وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لَوَدِدْتُ أَنِّى أُقْتَلُ فِى سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلُ ». رواه البخارى

- له ابو هريره رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: له رسول الله صلى الله عليه وسلم مې واورېدل چې فرمايل ئې: په هغه ذات قسم چې زما ژوند ئې په لاس کې دئ که د هغو مؤمنانو خاطر نه وی چې له ما وروسته پاته کېدا ئې نه خوښېږي او زه هم د دوی لپاره سورلۍ نه شم موندلی؛ نو له هيڅ هغې ډلې به وروسته نه وم پاته شوی چې د الله په لار کې غزا ته وځي؛ او په هغه ذات قسم چې زما ژوند ئې په لاس کې دئ چې زه دا ډېره خوښوم چې د الله په لار کې يو ځل شهيد شم بيا راژوندی شم، بيا شهيد شم، بيا راژوندی شم، بيا شهيد شم او بيا راژوندی شم او بيا شهيد شم!!

دا ولې پيغمبر عليه السلام په وار وار د شهادت تمنی کوي خو تاسو د شهادت خبره خو پرېږده د جهاد د خبرې له کولو هم ډډه کوئ؟!!

که وغواړو چې د پيغمبر عليه السلام د سنت او اسلوب مطابق د سياسي او اجتماعي مبارزې يو انځور وړاندې کړو نو په هغه کې لاندې څلور مرحلې په څرګند ډول موندلی شو:

- د داسې دعوت مرحله چې په ټولنې مسلط ځواکونه ئې نه شي زغملی، د تعذيب،

زندان، مقاطعې، محاصرې او د تبعید له ګواښونو سره مخامخ دعوت، چې سازش او مصالحه نه مني، چې له دښمن سره د روغې جوړې خبره په کې نه وي، چې له حاکم نظام د کامل بغاوت او عصیان بلنه ورکوي، د دې نظام له فکري او اعتقادي بنسټونو د برائت شعار ورکوي. داسې دعوت نه چې له حاکم نظام ئې مجوز تر لاسه کېږي او یوازې هغه خبره په کې کېږي چې واکداران ئې زغملی شي او نظام ئې اجازه ورکوي. مهمه نه ده چې دا دعوت به سرې وي که علني، مهمه دا ده چې خپل خصوصیات حفظ کړي او د مکې دور ټولې ځانګړتیاوې ولري.

- کوم دعوت چې د پیغمبر علیه السلام د دعوت په څېر وي، سیاسي، اجتماعي او فکري انقلاب غواړي او له دښمن سره د اصولو په سر سازش نه شي کولی، هغه به حتماً د هجرت له مرحلې سره مخامخ کېږي، هجرت د حقیقي اسلامي مبارزې یو طبیعي پړاو دئ، دا پړاو په هوښیارۍ او احتیاط نه بلکې له اصلي مسیر په انحراف او له اصلي لارې په تېروتنې سره منتفي کېدی شي.
- د مبارزې درېیم پړاو له دښمن سره د مسلحانه تصادم پړاو دئ، دا پړاو د مهجر له مونډلو سره سم پیل کېږي، پیغمبر علیه السلام د مدینې په څېر د یوه واړه کلي له مونډلو سره سم خپله مسلحانه مبارزه پیل کړه. په لومړي سر کې پټه مسلحانه مبارزه، د وړو وړو چریکي ډلو په واسطه، چې هدف ئې د دښمن سلطه متزلزل کول او هغه امنیت له منځه وړل وو چې د حاکم نظام په ګټه او د هغه د بقاء باعث وو؛ او په دوهمه مرحله کې څرګنده مقابله او مخامخ نښته. د کفري نظام په ګټه "امنیت او اقتصاد" جړقول او په ولس باندې د واکدارانو مسلط رعب او هیبت ختمول د دې مرحلې اساسي او مهم اهداف دي. همدا راز نظام مالي امکاناتو ته اړ وي، له دې پرته هغه دوام نه شي مونډلی، د چریکي عملیاتو په نتیجه کې د حکامو د خوښې امنیت متلاشي کېږي، د لویو لارو امنیت ډېر ژر له منځه لاړ شي، نظام له دې عاجز شي چې بډای او تاجر ته چې د نظام درېیمه ستنه ده، د کار لازم او خوندي شرائط برابر کړي. هیڅ نظام دا حالت د اوږدې مودې لپاره نه شي زغملی، عام ولس چې د نظام له ظلم تل ځورېدلی خو له وېرې نه څه ویلی شي او نه څه کولی، د دغو عملیاتو په نتیجه کې د څه ویلو او کولو جرأت پیدا کړي او همدا د عمومي پاڅون مقدمه شي او د یوه ستر انقلاب کار له همدې ځای پیل شي. پیغمبر علیه السلام د همدې لپاره تر ټولو د مخه داسې عملیات پیل کړل چې مقصد ئې د قریشو د تجارتي لارو امنیت ختمول وو، په دا راز عملیاتو سره د رژیمونو نسکورول او لویو ځواکونو ته ماته ورکول ممکن دي، دا ادعاء کولی شو چې له کودتاګانو وروسته د رژیمونو د نسکورولو تر

ټولو آسانه لار همدا ده. که د پیغمبر علیه السلام تر قیادت لاندي مسلحانه مبارزې ته ځیر شو نو وبه ګورو چي دا مبارزه د قریشو په ضد له چریکې بریدونو "سریو" پیل شوه، ورو ورو ئې لمن تر مخامخ نښتو پراخه شوه، د مکې له فتح وروسته د جزیرې له نورو ځواکونو سره او په پای کي په نړۍ واله سطح د روم او فارس په څېر لویو ځواکونو سره مخامخ شوه. دا ښه‌ښکاري چي د مبارزې لمن باید په تدریج سره او په طبیعی طور له محلي ځواکونو تر منطقوي او بین المللي ځواکونو پوري وغزول شي.

دا جنابان په دې هم نه پوهېږي چي په مکه کي د جهاد د اجازې نه ورکولو وجه دا وه چي هلته جهاد نه وو فرض شوی، مدینې ته له راتلو وروسته جهاد فرض شو، د جهاد دا فرضیت تر قیامت دوام کوي، دا ځکه چي د جهاد فرضیت نه دئ منسوخ شوی. په مکې دور باندي د جهاد په اړه باید له دې اړخه استناد وشي چي که د مسلمانانو وضعیت داسي وي لکه په مکه کي او شمېر ئې هومره وي لکه په مکه کي د مسلمانانو شمېر، نو دوی ته په کار ده چي د صحابه وو په څېر صبر وکړي او وسلې ته لاس نه کړي. خو که د دوی وضعیت داسي شو چي مدني دور ته ورته وي او د مسلمانانو شمېر هومره وي چي هلته د مسلمانانو شمېر وو نو دوی ته په کار ده چي جهاد ته ملا وتړي. د پیغمبر علیه السلام په سنت د عمل کولو تقاضی خو دا ده چي د جهاد په میدان کي هم هغه څه وکړو چي پیغمبر علیه السلام کړي، هغه مبارك خو په مکه کي د یوه مؤمن جماعت جوړولو په کار لګیا وو او په دې هڅه کي وو چي کوم مهجر پیدا کړي، داسي کوم قوم پیدا کړي چي ده ته پناه ورکړي او د الله په لار کي جهاد ته تیار شي، د مدینې یو شمېر اوسېدونکي دې ته تیار شول، مدینې ته له راتلو وروسته هغه جهاد پیل کړ، په لومړي سر کي ئې د عملیاتو لپاره واړه واړه څو کسیز ټولګي لېږل، دښمن ئې تنګولو، په هر ځای کي ئې دښمن ته تاوان رساوو، په ولس کي ئې د هغه رعب، وېره او اعتبار ختمولو، پر ولس او ملك باندي د دښمن سلطه ئې جېرقوله، بیا ئې د دښمن په تجارتي قافلو بریدونه پیل کړل، په بدر کي ئې له ۳۱۳ یارانو سره د دښمن مخامخ مقابله وکړه، تاسو ولې دا خبره نه شئ کولی چي کله د مسلمانانو شمېر درې سوه څوارلس ته ورسېږي کولی شي همغه څه وکړي چي پیغمبر علیه السلام وکړل؟!!

د جهاد مخالفین په دې نه پوهېږي چي د اسلامي امت دا اوسنۍ وضع د هغي ماتي نتیجه ده چي اسلامي خلافت په کي له منځه لاړ او غربي ځواکونو اسلامي نړۍ په خپلو منځونو کي وووېشله او په هري برخي ئې بېل بېل ځواکونه مسلط شول، له هغه وروسته دا څوومه پېړۍ ده چي مسلمانان په ذلت، اسارت او محکومیت کي ژوند کوي، له آزادۍ او

خپلواکۍ محروم دي، په سياسي، اقتصادي او فکري لحاظ استعماري ځواکونه ورباندي حکومت کوي، لاس پوڅي حکومتونه ئې پرې مسلط کړي، له داسي اختناق او استبداد سره مخامخ دي چي د نړۍ په هيڅ گوټ کي ئې مثال نه شو موندلی، واکداران ئې د پرديو په وړاندي سپك او ذليل او د خپل ولس په مقابل کي مغرور او بې رحمه، دوی د پرديو غلامان دي او ولس د ځان غلامان گڼي. د غلامۍ، ذلت او محکوميت دغه دردوونکی حالت په ولسونو کي د عزت النفس احساس، د آزادۍ او خپلواکۍ جذبه او د سرلوړي او پتمن ژوند تلوسه په کلکه ځپلې ده، يو وخت خو په ټولو اسلامی ملکونو استعماری ځواکونو مخامخ او د خپلو فوځونو په زور حکومت کاوو، خو پس له هغه چي دا ځواکونه د خاصو عواملو له کبله ووتل نو له يوې خوا ئې داسي رژيمونه شا ته پرېښودل چي د دوی گټي خوندي وساتي، د دې هېوادونو د مسلح ځواکونو جوړښت ئې داسي تنظيم کړ چي د لاس پوڅو رژيمونو مدافع او د هر ملي پاڅون د ځپلو لپاره د دغو ځواکونو په خدمت کي لاس پر سينه ولاړ وي، تعليمي نظام او نصاب ئې داسي جوړ کړ چي په علمي مؤسساتو کي تر روزني لاندي ځوانانو کي د آزادۍ او خپلواکۍ جذبه راولاړه نه شي، د پرديو په غلامۍ او تقليد کي د فخر احساس وکړي او له خپل اسلامی او ملي هويت نه پردی شي. د وتلو په وخت کي ئې د دې هېوادونو جغرافيايي نقشي داسي جوړي کړې چي له يوې خوا د دغو هېوادونو تر منځ تل سرحدي منازعات روان وي او له بلي خوا هغه قومونه چي له استعماري ځواکونو سره جنگېدلي؛ د مختلو ملکونو تر منځ ووېشل شي، په اقتدار کي له برخي محروم کړی شي، هغو اقليتونو ته قدرت وسپارل شي چي له استعماري ځواکونو سره ئې ملگرتيا کړې او په راتلونکي کي تل پر دوی متکي وي او په اقتدار کي د پاته کېدو لپاره د دوی شرائطو منلو ته اړ وي. د دې ښه مثالونه پښتانه او کردان دي، چي له استعماري ځواکونو سره د دوامداري مبارزې له کبله يو په دريو او بل په څلورو برخو ووېشل شو. استعماري ځواکونو په دې اوږدې مودې کي په پراخو تبليغاتو سره قومي، ژبني او محلي تعصباتو ته هومره لمن وهلې چي هيڅوك د لوی او متحد ملت او امت تصور او فکر ونکړی شي، استعماري سرحدي ليکي مقدسي او تغيير نه منونکې وگڼي، دا دره د هغي بلي گاونډۍ درې اوسېدونکي پردي او حتی دښمن وگڼي او اصلي دښمن هېر کړي. په دې نه پوهېږي چي د اسلامی هېوادونو اکثر حاکم نظامونه يا پرديو تحميل کړي او لاس پوڅي او په اسلامي هېوادونو د زاړه استعمار د سلطې پاته شوني دي، يا خانداني دي چي خاصي کورنۍ د ولس د ارادې خلاف په زور او د پرديو په مرسته پر دوی حکومت کوي، يا قومي او فرقه اي بڼه لري، د يوې مذهبي فرقې پلويان اختيارات په واك کي لري، نور ئې له خپلو

ټولو انساني او اسلامي حقوقو محروم کړي، د دوی سیاسي او مذهبي مشران وژني، چا د شیعه تر نامه لاندې سنیان ځپلي او له خپلو ټولو اسلامي او انساني حقوقو ئی محروم کړي او چا د سني په جامه کې شیعه محروم کړی، د اسلامي هېوادونو په دې دردوونکې حالت به هغه څوك رضایت ښیي چې یا په غلامۍ او اسارت کې ستر شوی، د غلامۍ ذهنیت لري، آزادي نه پېژني او د آزادۍ خوند ئې نه دئ څکلی او یا هغه څوك چې په خپلې ټولنې کې له خور فساد، ظلم، بې عدالتۍ او بې امنیو خبر نه دئ، په دې نه پوهېږي چې دلته څه روان دي، هره ورځ څومره کورنۍ تباه کېږي، د څومره بې وزلو انسانانو په سر، مال او عزت تېری کېږي، بډایان څنگه بډای شوي او نادار ولې او د چا د ظلم او تېري له کبله له هر څه محروم شوي؟!! هغه ته د ټولنې موجود حالت د امن حالت برېښي، په دې نه پوهېږي چې دلته یوازې واکداران په امن کې دي، له حاکمانو پرته هېڅوك د امن احساس نه کوي، په سلو کې د پنځه نوي خلکو سر، مال او عزت خوندي نه دئ، که دلته تاسو له یوه عادي انسان پوښتنه وکړئ چې د یوه پولیس په خوا کې د تېرېدو په وخت کې څه احساس کوي، کله چې د ده کلي ته پولیسان ورشي کلیوال څه احساس کوي، آیا دا گمان کوي چې دا پولیسان د دوی حفاظت کوي او که دوی په یونیفورم کې د رټا ورځې غله گڼي او له دوی هومره وېره لري چې له غلو ئې نه لري؟!! د محکمې او قاضي په اړه څه فکر کوي، هغه د مظلوم مدافع گڼي که د ظالم حامي، د دفتر مأمور ته په کومه سترگه گوري، د ده په عدالت او امانت څومره باور لري، له نظام ئې څه تر لاسه کړي او څه خیر ئې ترې لیدلی، له کوم ظلم ئې ژغورلی، چېرې ئې د ده له سر، مال او عزت دفاع کړې او د چا په مقابل کې؟! راشئ وگورئ چې هر پولیس هره ورځ څومره خلك ځوروي، هره ورځ په هرکلي کې خان، ملك، شتمن او د زمکو خاوند په بې وزلو کلیوالو څومره ظلمونه کوي، د څومره کسانو زمکې او جایدادونه د ځواکمنو لخوا غصب کېږي، د بې وزلو څومره لوڼې په زور نکاح کېږي، د څومره پېغلو په عفت تېری کېږي، په هر دفتر کې هره ورځ څومره نارواوې او حق تلفۍ کېږي، په بیت المال کې څومره غدر او خیانت کېږي، چارواکو له هغه بیت المال په استفادې سره چې له بې وزلو انسانانو په یوه او بل نامه په ناروا تر لاسه شوي، ځانته څنگه اشرافي ژوند برابر کړی او عام خلك څنگه د فقر، لوږې، خوف او سپکاوي دردوونکی ژوند تېروي!! دا ډېره عجیبه ده چې څوك دې حالت ته د امن نوم ورکوي او وایي: باید داسې څه ونکړو چې دې موجود امن ته صدمه ورسېږي، باید هغه وخت د دې حالت د بدلولو هڅه وکړو چې مطمئن وو تر دې غوره حالت راوستی شو!! دغو له واقعیتونو بې خبره کسانو ته باید ووایو: ټولو پیغمبرانو ته همدا خبره شوې چې

دوی موجود امنیت ختموي، شرارت خوروي، د شخړو او جګړو باعث دي!! دوی ته باید ووایو: هغه امنیت چې د بې عدالتۍ او ظلم په خدمت کې، د ظالمانو په ګټه، د دوی د سلطې د دوام ضامن او د بې وزلو او مظلومانو په تاوان او په مظلومیت او محرومیت کې د دوی د دوامدار پاته کېدو باعث وي، دې ته اور اچول په کار دي، پیغمبران د دې لپاره راغلي چې دغه دروغجن امنیت ختم کړي او پر ځای ئې هغه واقعي امنیت راولي چې پر عدالت ولاړ وي او مظلوم له ظلم وژغوري. عجیبه ده که څوك په دې حقیقت نه پوهېږي چې د اسلامی نړۍ موجود حالت د داخلي ظالمانو او بهرني استعمارګرانو په ګټه دئ، په دې کې هره تبدیلي د دوی د منافعو خلاف او د ملتونو په نفع ده؛ اوس په اسلامی هېوادونو کې یوازې اسلامي احزاب او ډلې منظم او ځواکمن سیاسي قوتونه دي، فقط دا ډلې کولی شي له دې تبدیلي استفاده وکړي.

اما دا پوښتنه چې آیا مسلمان د دې حق لري چې ووایي: زه د مکي دور په څېر صبر کوم، د نوح علیه السلام، ابراهیم علیه السلام، عیسی علیه السلام، یوسف علیه السلام او نورو هغو پیغمبرانو علیهم السلام په شان له مسلحانه جهاد ډډه کوم چې د دښمن په خلاف ئې وسله نه ده استعمال کړې؟ په دې اړه لاندې وضاحتونه ضروري ګڼو:

• هیڅ په دین پوه انسان دا خبره نه کوي، څوك چې له اسلام ډېر لږ معلومات هم ولري دا خبره غلطه ګڼي او له کولو ئې ډډه کوي، هغه پوهېږي چې د جهاد له فرض کېدو وروسته هیڅوك دا حق نه لري چې ووایي: د جهاد ضرورت باید منتفي وګڼل شي او پر ځای ئې د مکي دور په څېر صبر ته مخه شي، په دې هم هر مسلمان پوهېږي چې د قرآن له نازلېدو وروسته ټول مخکیني کتابونه منسوخ شوي اوس له قرآن پرته په بل کتاب عمل کول حرام دي، هسې هم له قرآن پرته بله داسې ډاډمنه مرجع او کتاب نه دئ پاته چې د نورو پیغمبرانو په اړه موږ ته ثقه او ډاډمن معلومات راکړي او پر دې مو پوه کړي چې هغوی د کفري نظامونو د بدلولو لپاره کومه طریقه خپله کړې وه، د دغو پیغمبرانو علیهم السلام په اړه خو موږ ته قرآن په ټول صراحت سره وایي چې هر یوه په خپل وخت کې د مسلطو نظامونو مقابله کړې، ځیني زندان ته تللي، ځیني هجرت ته اړ شوي، ځیني په اور کې اچول شوي، د چا په صلیب د ځړولو او په دار کولو فیصله شوې، یاران ئې وژل شوي، د اور په کندو کې ژوندي اچول شوي، موږ نه پوهېږو چې د دغو پیغمبرانو په څېر له صبر کولو د دغو کسانو مراد څه دئ؟ له دغو پیغمبرانو خو یوه هم داسې صبر نه دئ کړی چې دوی ئې وایي، نه پوهېږم ته د موسی علیه السلام په سنت عمل کول غواړې، که د ابراهیم علیه السلام، که د نوح، داؤد، سلیمان او عیسی علیهم السلام؟!! ته خو د بې دینه، مفسدو

او ظالمو حکومتونو تر حکم لاندې آرام ژوند کوې، نه ته د واکدارانو په ناروا وو اعتراض کوې او نه حکومت ستا مزاحم کېږي، د همدې حکومتونو نوکري کوې، نه زندان ته لاړې، نه هجرت ته مجبور شوې، نه په اعدام محکوم شوې، نه په اور کې ولوېدې، نو زه نه پوهېږم تا د کوم پيغمبر په سنت عمل کړی او د دغو پيغمبرانو په سنت له عمل کولو ستا مقصد څه دئ؟!! د دوی په سنت د عمل کولو معنی خو دا ده چې ته د ابراهيم عليه السلام په څېر تبر راواخلې او د نمرودي نظام هغه بتان نسکور کړې چې د ټول نظام ماڼۍ ورسره ولړزېږي او د دې پروا هم ونلرې چې په اور کې دې اچوي او يا د موسی عليه السلام په څېر له يوې عصا سره د فرعون مقابلې ته ولاړ شې او يا د نوح عليه السلام په څېر له زر کاله پټ او څرګند دعوت ستومانه نه شې، يا د عيسی عليه السلام په څېر چې له يوه ښار بل ته وايستل شو او په پای کې د ده د وژلو او په دار کولو فيصله وشوه!! خو که مقصد دې دا وي چې په دې حکومتونو کې خپله نوکري د مصر په حکومت کې د يوسف عليه السلام له وزارت سره تشبيه کړې!! نو څو خبرو ته غور شه:

- يوسف عليه السلام دا کار په هغه وخت کې کړی چې لا په پيغمبرۍ نه وو مبعوث شوی. د پيغمبرانو عليهم السلام يوازې په هغو کارونو د استناد کولو حق لرو چې يا ئې له بعثت وروسته کړي وي او يا قرآن د هغه کار په تأييد کې څه ويلي وي.
- يوسف عليه السلام له زندان دربار ته رسېدلی، هغه ته په دربار کې د مصر پاچا او ملِك د وزارت عظمی وړانديز کوي او ورته وايي: غواړم تا د ټول مصر کامل واکدار (مکين) او د ټولو شتمنيو "امين" وټاکم، يعني د ټول مصر دوهم باصلاحيته او ځواکمن واکدار، خو يوسف عليه السلام د سياسي دندې پر ځای دا غوره وګڼله چې د اجتماعي خدماتو وظيفه په غاړه واخلي او د راتلونکي احتمالي قحطي د مقابلې کار ورته وسپارل شي. ده د صدارت او وزارت عظمی پر ځای د وزارت ماليې دنده غوره وګڼله. خو په عمل کې هغه د مصر داسې بې رقيبه واکمن وو چې د پاچا له مرګ وروسته دی د تخت او تاج خاوند شو. عجيبه ده چې ته د يوسف عليه السلام په دې کار باندې په موجوده حکومتونو کې خپل ذليل مأموريت توجيه کوې!! دا ډېره قبيح او شنيع توجيه او مقايسه ده.

په داسې حکومتونو کې د کار کولو په اړه پيغمبر عليه السلام فرمايي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالا: قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم:"لَيَأْتِيَن عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ يُقَرِّبُونَ شِرَارَ النَّاسِ وَيُؤَخِّرُونَ الصَّلاة عَنْ مَوَاقِيتِها؛ فَمَنْ أَدْرَكَ ذلِكَ مِنْكُمْ فلا يَكُونَنَّ عَرِيفاً وَلا شُرْطِياً وَلا جَابِياً وَلا خَازِناً" رواه ابن حبان و ابو يعلى

له ابو سعيد او ابو هريره روايت دئ چي دواړو وويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: داسي امراء به پر تاسو مسلط شي چي تر ټولو زيات شرير کسان به ځانته نژدې کوي او لمونځ به له خپل اصلي وخت ځنډوي، له تاسو چي هر چا دا حالت وموندو نو نه دي (په دې نظام کې) د خلکو استازيتوب کوي، نه دي پوليس شي، نه د زکات او عشر راټولوونکی او نه خزانه دار.

د دې مبارك حديث په رڼا کې راشئ وګورو چي د اسلامي ملکونو په موجوده نظامونو کې د کار کولو حکم څه دئ؟ که د داسي امراءو او حاکمانو تر قيادت لاندي له حکومتي کارونو منع شوي وو چي يوازي دوه عيبونه لري: شرير او مفسد کسان ځانته نژدې کوي او لمونځ له خپل وخت لرې ځنډوي، نو په هغو حکومتونو کې د کار کولو حکم به څه وي چي چارواکي ئې د کفري ځواکونو په لاس مسلط شوي، په ما انزل الله حکم نه کوي، په فساد، بې ديني، خيانت او غدر کې ترستوني غرق دي، د دين، ايمان او اخلاق د جرړو د ايستلو لپاره له هيڅ څه ډډه نه کوي، سود او قمار حلال ګڼي، د شرابو بازار ئې ګرم کړی، رقص، سرود، د ښځي او نارينه اختلاط، د دوی د هر محفل لوازم، نه په پټه بلکي په څرګنده او بربنډه توګه او د ټلويزيون په صفحه!!

او د جهاد د مخالفينو دا خبره چي له دښمن سره يوازي هغه وخت په مسلحانه جهاد مکلف يو چي د عدد او عدة له مخي ورسره برابر شو؛ هغوی ته وايو: پيغمبر عليه السلام هغه وخت د قريشو په ضد جهاد پيل کړ چي نه ئې د مجاهدينو شمېر د قريشو د جنګياليو په اندازه وو او نه ئې وسلې او جنګي وسائل او سامان. که زموږ پيغمبر عليه السلام دا تعادل ضروري او حتمي نه وي ګڼلی او دا ئې نه وي ويلي چي جګړه به له دښمن سره يوازي هغه وخت پيل کوئ چي د قوت او وسائلو تعادل او توازن رامنځ ته شي، نو ته څنګه او په کوم دليل دا حکم کوې؟ د شمېر او وسائلو له مخي خو د جنګ کيفيت او څرنګوالی ټاکل کېږي؛ نه فرضيت او ضرورت ئې، که ستا شمېر تر دښمن لږ وو نو د جنګ يو ډول غوره کړه او که زيات شو بل ډول ئې؛ آيا نه ګورئ چي په عراق او افغانستان کې مجاهدين د څنګه دښمن مقابله کوي او څنګه ئې کوي؟

دلته څو نور مهم وضاحتونه هم ضروري برېښي:

وسله واله مبارزه د يوه منظم او روزل شوي حزب او جماعت دنده ده نه د افرادو او وړو وړو ډلو او ټولګيو، دا د داسي حزب دنده ده چي د مکي دور مرحله ئې پلې کړې وي، داسي روزل شوي، متعهد او اسلامي اصولو ته ملتزم افراد په واك کې ولري چي وسله د خپل ايمان په حکم کاروي نه د خپلو جذباتو او احساساتو په غوښتنه او د انتقام او غچ په

موخه، داسې حزب چې له مکي دور بريالی وتلی وي او مدني دور ته ورته حالت او شرائطو ته ننوتی وي.

وسله به د هغه دښمن په ضد کاروي چې د مسلمانانو په ضد ئې خپله وسله له تېکي رااېستلې وي او جګړه د دښمن له لوري پيل شوې وي.

وسله واله مبارزه به هغه مهال پيلوي چې د سوله ييز دعوت امکانات په بشپړه توګه له منځه تللي وي، له نورو لارو په ټولني کې تغيير او بدلون راوستل ممکن نه وي.

دا به تل په پام کې نيسي چې د جنګي اقداماتو په ترڅ کې بې ګناه او غير محارب کسانو ته صدمه او تاوان ونه رسېږي، له هغه چا سره به له جګړې ډډه کوي چې نه ئې له مسلمانانو سره جګړه کړې او نه ئې د هغه چا مرسته کړې چې له مسلمانانو سره جنګېږي.

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱلطَّٰغُوتِ فَقَٰتِلُوٓاْ أَوۡلِيَآءَ ٱلشَّيۡطَٰنِۖ إِنَّ كَيۡدَ ٱلشَّيۡطَٰنِ كَانَ ضَعِيفًا ﴿٧٦﴾

[٧٦]- ايمان لرونکي د الله په لار کې جنګېږي او کافران د طاغوت په لار کې جنګېږي، نو د شيطان له ملګرو سره وجنګېږئ چې د شيطان ټول تدبيرونه کمزوري دي .

(٧٦)- په دې مبارك آيت کې څو مهمې لارښووني شوې:

- مؤمنان د الله په لار کې جنګېږي، د جنګ هدف ئې د الله دين قائمول وي او داسې جنګ د دوی د ايمان تقاضی دی.
- کافران د عاصي او باغي حکمرانانو د اقتدار لپاره جنګېږي، دوی د شيطان ملګري دي، په خپل جنګ سره هغه څه تر سره کول غواړي چې شيطان ئې خوښوي.
- د دوی هر چل، کيد او تدبير کمزوری دئ.

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمۡ كُفُّوٓاْ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقِتَالُ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ يَخۡشَوۡنَ ٱلنَّاسَ كَخَشۡيَةِ ٱللَّهِ أَوۡ أَشَدَّ خَشۡيَةٗۚ وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبۡتَ عَلَيۡنَا ٱلۡقِتَالَ لَوۡلَآ أَخَّرۡتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖۗ قُلۡ مَتَٰعُ ٱلدُّنۡيَا قَلِيلٞ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظۡلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧٧﴾ أَيۡنَمَا تَكُونُواْ يُدۡرِككُّمُ ٱلۡمَوۡتُ وَلَوۡ كُنتُمۡ فِي بُرُوجٖ مُّشَيَّدَةٖۗ وَإِن تُصِبۡهُمۡ حَسَنَةٞ

يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِ ٱللَّهِۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِكَۚ قُلْ
كُلٌّ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِۖ فَمَالِ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا ﴿٧٨﴾ مَّآ
أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ ٱللَّهِۖ وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَۚ وَأَرْسَلْنَٰكَ
لِلنَّاسِ رَسُولًاۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ﴿٧٩﴾

[۷۷]- هغو ته دې ونه کتل چې ورته وويل شو: لاسونه مو راتم کړئ، لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ؛ خو کله چې جهاد پر دوی فرض کړی شو نو يوه ډله ئې له خلکو داسې وېرېده لکه له الله او يا تر دې هم سخته وېره او ويل ئې: اې زموږ ربه! ولې دې پر موږ جنګېدل فرض کړل؟ ولې دې تر يوې نژدې نېټې ونه ځنډولو؟ ورته ووايه: د دنيا متاع خو وړوکی شيء دئ او آخرت غوره دئ؛ د هغه لپاره چې تقوا ئې غوره کړه او د بڅرکي په اندازه به پر تاسو تېری ونشي. [۷۸]- چې هر ځای وئ مرګ به مو بيا مومي؛ که څه هم په دنګو کلکو ماڼيو کې وئ؛ او چې کومه ښېګڼه ئې په برخه شي نو وايي: دا خو د الله له لوري ده؛ خو که کړاو ئې په برخه شي نو وايي: دا خو له تا دئ؛ ورته ووايه: ټول د الله له لوري دي؛ پر دې خلکو څه شوي چې په هيڅ خبري نه پوهېږي؟ [۷۹]- له ښېګڼې چې څه ستا په برخه شي نو د الله له لوري ده او چې کړاو او ستونزه درورسېږي نو هغه په خپله ستا لخوا ده؛ ته خو مو خلکو ته يو استازی لېږلی يې او الله د شاهد په توګه کافي دئ.

(۷۷-۷۹)- په دې مبارکو آيتونو کې لاندې لارښوونې زموږ مخې ته ايښودل شوې:

- ځينې خلك داسې وي چې له دښمن سره د جګړو د وخت له رارسېدو مخکې په جګړې ټينګار کوي او وايي: بايد له دښمن سره د يوې پرېکنده نښتې له لارې خبره پای ته ورسوو او ستونزه د تل لپاره حل کړو؛ خو دا ټينګار ئې له قوي ايمان او د الله په لار کې د قربانۍ له جذبې نه وي راولاړ شوی؛ بلکې له بيمار زړه راخوټېدلی وي؛ په دې بې وخته ټينګار سره غواړي چې ځان مخلص او انقلابي وښيي او په خپلو غلطو عملونو او غلطلو ويناوو پرده واچوي او خلکو ته وښيي چې که اوس او د سختې ورځې له رارسېدو مخکې هغوی څه قصور لري او په عمل کې تر نورو شاته پاته دي او د خپلو ديني او مذهبي دندو په اداء کولو کې لټي کوي؛ کله چې په دې اړه ورباندې اعتراض وشي نو وايي: که له دښمن سره د نښتې او له دين د دفاع وخت راورسېدو نو موږ به تر ټولو مخلص ومومئ، زموږ په اخلاص او صداقت به هلته پوه شئ چې په لومړي خط کې مو توره په لاس او متې بروهلې

وګورئ!! وبه ګورئ چې تر هر چا مخکې يو او په لومړي خط کې د دښمن مقابله کوو!! خو کله چې د جګړې اصلي وخت راورسېږي او په دې اړه صريح او واضح فيصله وشي او د قرآن صريح او واضح حکم د هغه غوښتنه وکړي نو دا کسان به داسې ومومئ چې سخته وېره به ئې په څېرو کې ځرګنده وي، خړې سترګې؛ د هغه چا په څېر چې د مرګ له وېرې او هيبته بې هوښه شوی، له خلکو به داسې وېرېږي لکه له الله او حتی له خلکو به ئې وېره هومره وي چې له الله به دومره نه وېرېږي!!

- بيا به وايي: اوس خو د جګړې مناسب وخت نه دئ، ضروري وسائل نه دي برابر شوي، څه نور وخت ته ضرورت لرو، بايد جګړه وځنډېږي!!
- دوی جګړه او له دښمن سره مخامخ کېدل داسې ګڼي لکه د مرګ په لوري چې خوځول کېږي، لکه مرګ چې تيار دوی ته خپل کومی پرانيستی وي او د مرګ نېټه ئې رارسېدلې وي!! وايي به: خدای ولې موږ ته د څه نوري مودې لپاره د ژوندي پاته کېدو موقع رانکړه او داسې ژر ئې له جګړو سره مخامخ کړو!!
- دې خلکو ته فقط يو ځواب په کار دئ او هغه دا چې: له دنيا سره افراطي مينه مو له مرګ وېروي، آخرت مو هېر کړی، دنيا ته پر آخرت ترجيح ورکوئ، د همدې لپاره له مرګ وېرېږئ او له جنګ ډډه کوئ. د الله په عدالت باور نلرئ، ګمان کوئ چې الله به د مسلمانانو هلې ځلې او قربانۍ ضائع کړي؛ حال دا چې الله د وړې ذرې په اندازه هم په خپلو بندګانو ظلم نه کوي.
- په دې پوه شئ چې په کور کې ناستې سره او کلکو مورچلو او دنګو کلاګانو ته په پناه وړلو سره هم له مرګ نه شئ خلاصېدی؛ په هر صورت به د مرګ داعي ته لبيك وايئ.
- دا کسان داسې دي چې که ستاسو په څنګ کې ئې څه ښېګڼه په برخه شوه نو دا ستاسو د ملګرتيا نتيجه نه بلکې په خپل ځان د الله پېرزوينه ګڼي؛ خو که له کومې ستونزې سره مخامخ شول نو دا ستاسو له لوري ګڼي!! دوی تهووايئ چې ښه او بد ټول د الله له لوري دي؛ دوی په دې نه پوهېږي چې د ښه او بد، خير او شر، ګټې او تاوان پرېکړه د الله له لوري کېږي.
- هره ښېګڼه د الله پېرزوينه ده، مبادا هغه د خپل عمل نتيجه وګڼئ، دا ځکه چې د نېك عمل توفيق هم د الله پېرزوينه ده.
- هر کړاو او ستونزه ستا د بد عمل او ګناه نتيجه ده، له ځان پرته بل څوك مه ملامتوه.
- د الله پيغمبر هم د خير او شر واکدار نه بلکې د استازي په توګه لېږل شوی. الله په دې شهادت ورکوي چې خير، شر د ده له لوري دئ او ستا په عمل پوري تړلی دئ، د ده

پیغمبر فقط د یوه امین استازي دنده تر سره کوي، د خیر او شر واك او پرېکړه د ده په اختیار کې نه ده.

مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ حَفِيظٗا ﴿٨٠﴾

[٨٠]- څوك چې د پیغمبر اطاعت وکړي، په حقیقت کې ئې د الله اطاعت کړی او څوك چې مخ واړوي نو ته مو پردوی څارونکی نه یې لېږلی.

(٨٠)- د پیغمبر اطاعت په حقیقت کې د الله اطاعت دئ او د ده مخالفت له الله سره مخالفت، د پیغمبر دنده دا ده چې د الله پیغام خلکو ته ورسوي، هغه د الله استازی دئ، نه د خلکو څارندوی، له ده دا پوښتنه نه کېږي چې ولې ئې خلك له مخالفت منع نه کړی شو، دی په دې نه دئ مکلف شوی، مکلفیت ئې دا دئ چې خلکو ته د الله دین ورسوي.

له دې آیت دا خبره هم معلومېږي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم اطاعت په حقیقت کې د قرآن اطاعت دئ؛ ده چې څه ویلي یا کړي ټول د قرآن په رڼا او مطابقت کې دي، دی نه یوازې د قرآن حامل، قاصد، مفسر او شارح دئ بلکې د قرآن عملي او عیني تجسم دئ؛ د هري وینا او حدیث لپاره به ئې په قرآن کې حتماً شاهد ومومئ.

وَيَقُولُونَ طَاعَةٞ فَإِذَا بَرَزُواْ مِنۡ عِندِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٞ مِّنۡهُمۡ غَيۡرَ ٱلَّذِي تَقُولُۖ وَٱللَّهُ يَكۡتُبُ مَا يُبَيِّتُونَۖ فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ﴿٨١﴾

[٨١]- او وايي: اطاعت (کوو)؛ خو کله چې ستا لخوا بهر ووځي نو یوه ډله ئې په شپه کې د هغه څه خلاف مرکې کوي چې دلته ئې وايي او الله د دوی دا د شپې مرکې لیکي، نو له دوی مخ واړوه او پر الله توکل وکړه او الله د وکیل په توګه کافي دئ.

(٨١)- منافقینو به د پیغمبر علیه السلام په وړاندې د ایمان او اطاعت دعوی کوله، خو له خپلو ملګرو سره به ئې د شپې په غونډو کې د خپلې مخکینۍ وینا خلاف نور څه ویل، دلته د دوستۍ خبره او هلته د دښمنۍ، دلته د اطاعت او هلته د بغاوت، دلته د اخلاص او هلته د نفاق؛ هر څوك چې مخامخ یو څه وايي او تر شا بل څه، هغه منافق دئ او د داسې منافقینو په اړه ستا وظائف دا دي:

- له دوی مخ واړوه او هيڅ اعتناء ورته مه کوه.
- يوازې پر يوه الله توکل وکړه، دا ځکه چې الله د وکيل په توګه کافي دئ.

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ ۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُوا۟ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ﴿٨٢﴾

[۸۲]- نو آيا په قرآن کې ئې تدبر نه دئ کړی، که هغه د ماسوی الله له لوري وی نو حتماً به ئې ډېر اختلاف په کې موندلی وو.

(۸۲)- قرآن په درويشتو کلونو کې بشپړ شو، په دې اوږدې مودې کې پر پيغمبر عليه السلام رنګارنګ حالات راغلل، هر حالت په انسان کې خاص مشاعر او عواطف راولاړوي، افکار او نظريات ئې تر خپل اغېز لاندې نيسي، د ضعف د حالت احساسات او خبرې ئې بېلې وې او د قوت د حالت جذبات او افکار ئې بېل، د غضب په حالت کې ئې وينا او پرېکړې له قهر او غصې ډکې، خو چې قهر ئې سوړ شي او غصه ئې کښېني نو پر خپلو مخکينيو خبرو پښېمان وي او د ترميم هڅه ئې کوي؛ خو پيغمبر عليه السلام په داسې حال کې چې په سر کې يوازې وو، د ګوتو په شمېر کسانو ورباندې ايمان راوړ، خپل قوم ورسره مخالفت وکړ، د مخالفينو سرخېل ئې يو تره وو، خپلو زامنو ته ئې وويل چې د محمد (عليه السلام) لوڼې طلاقې کړئ، هغوی دا کار وکړ، ياران ئې تر تعذيبونو لاندې، هجرت ته مجبور شو، سختې ورځې پرې راغلې، دا حالت ورو ورو بدل شو، پلويان ئې زيات شول، د برياوو او فتوحاتو مرحله ئې پيل شوه، دښمن ته ئې په وار وار ماته ورکړه او تر رحلت مخکې نژدې ټول حجاز د ده تر واکمنۍ لاندې راغی، دغه قرآن په ټولې دغې مودې کې، له خپلو ټولو لوړو ژورو، ستونزو، کړاوونو، ماتو او برياوو سره، ورو ورو بشپړ شو، خو نه ئې په الفاظو او کلماتو کې اختلاف رامنځته شو او نه ئې په مطالبو کې د حقيقت خلاف يوه وينا او يو لفظ تر سترګو شو، دا خبره د انسان له وس ډېره ډېره اوچته او ورته محال او ناممکنه ده چې د درويشتو کلونو ټولې خبرې ئې رښتيا ثابتې شي او يوه ئې د حقيقت خلاف او د ده د خپلو وينا ګانو خلاف ترسترګو نه شي، که دا قرآن له الله پرته د بل چا له لوري وی نو هرو مرو به ئې په متن کې هم او په مدعی او مفهوم کې هم ډېر اختلافات موندل شوی وو، دا کافي ده چې ومنئ پيغمبر عليه السلام د الله استازی او قرآن د الله کتاب دئ.

که څه هم د آيت مدعی عامه ده خو دلته خطاب منافقينو ته متوجه دئ او دوی ته ويل شوي چې ستاسو د منافقت اصلي وجه دا ده چې نه پر پيغمبر د الله د استازي په

توګه ایمان لرئ او نه پر قرآن د الله د کتاب په توګه.

وَإِذَا جَآءَهُمۡ أَمۡرٞ مِّنَ ٱلۡأَمۡنِ أَوِ ٱلۡخَوۡفِ أَذَاعُواْ بِهِۦۖ وَلَوۡ رَدُّوهُ إِلَى ٱلرَّسُولِ وَإِلَىٰٓ أُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنۡهُمۡ لَعَلِمَهُ ٱلَّذِينَ يَسۡتَنۢبِطُونَهُۥ مِنۡهُمۡۗ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ لَٱتَّبَعۡتُمُ ٱلشَّيۡطَٰنَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٨٣﴾

[۸۳]- او که کله د امن یا د وېرې کوم خبر ورته راشي؛ خپروي ئې؛ خو که هغه ئې پیغمبر او خپلو چارواکو ته رسولی وی نو د دوی استنباط کوونکي به حتماً پرې پوه شوي وو او که پر تاسو د الله فضل او رحمت نه وی نو له لږو پرته به تاسو ټولو د شیطان متابعت کړی وو.

(۸۳)- قرآن دا هم د منافقینو کار ګڼي چې کله په مسلمانانو کې وېره خوروي او کله بې ځایه طمع، کله له دښمن مسلمانان وېروي او کله ئې له هغه غافل کوي او د هغه په اړه بې ځایه هیلې په دوی کې راپیدا کوي، هم له دښمن بې ځایه وېره خطرناك عواقب لري او هم له هغه غافل کېدل او په خطر ئې سترګې پټول او د هغه له لوري د امنیت احساس کول. هر څوك چې دا کار کوي هغه منافق دئ؛ د پیغمبر علیه السلام په وخت کې هم او نن هم.

په دې سره مسلمانانو ته ویل شوي چې د هغو شائعاتو له خورولو ډډه وکړئ چې یا بې ځایه وېره راولاړوي او یا مسلمانان د دښمن له خطر غافل کوي، که د دښمن په اړه کومه اطلاع تر لاسه کوئ نو دا باید خپلو مشرانو ته ورسوئ.

څوك چې دا کار کوي هغه نه یوازې منافق دئ بلکې الله تعالی دلته د داسې خطرناك شیطان په نامه یاد کړی چې مسلمانان د الله په فضل سره د هغوی له شر خوندي پاته کېدی شي، دا د لستوڼي مار دئ، له نېش ئې یوازې د الله په فضل خوندي پاته کېدی شئ.

فَقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفۡسَكَۚ وَحَرِّضِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَكُفَّ بَأۡسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ وَٱللَّهُ أَشَدُّ بَأۡسٗا وَأَشَدُّ تَنكِيلٗا ﴿٨٤﴾

[۸٤]- نو د الله په لار کې وجنګېږه، له ځان پرته بل څوك مه مکلف کوه او مؤمنان وهڅوه؛ شایي الله د کافرانو جګړه بنده کړي؛ د الله خو هم جنګ شدید دئ او هم ئې عذابول.

(٨٤)- د مخکينۍ موضوع په ارتباط؛ د جنګ په اړه او پيغمبر عليه السلام ته د خطاب په ترڅ کې څو مهمې لارښووني شوې:

- د الله په لار کې وجنګېږه.
- د دې هڅه مه کوه چې نور جنګ ته اړ کړې، اړ شوي کسان په جنګ کې د ګټې پر ځای تاوان دررسوي.
- مؤمنان جنګ ته وهڅوه.
- هيله ده دا جګړه د دښمن د ماتې په نتيجه کې پای ته ورسېږي، ستا دښمن د اوږدې مودې لپاره مقاومت نه شي کولی، داسې کوم مقدس هدف په مخکې نلري چې د هغه لپاره تر اوږدې مودې د جګړې ستونزې وګالي.
- د دوی جنګ په اصل کې له الله سره دئ؛ څنګه به له دې جنګ کومه نتيجه تر لاسه کړی شي؟
- د الله هم جنګ سخت دئ او هم ئې عذاب.

مَّن يَشۡفَعۡ شَفَٰعَةً حَسَنَةٗ يَكُن لَّهُۥ نَصِيبٞ مِّنۡهَاۖ وَمَن يَشۡفَعۡ شَفَٰعَةٗ سَيِّئَةٗ يَكُن لَّهُۥ كِفۡلٞ مِّنۡهَاۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ مُّقِيتٗا ٨٥

[٨٥]- څوك چې د ښايسته سپارښتنې سپارښتنه وکړي؛ هغه ته به د دې څانګړې برخه وي او چا چې د ناوړې سپارښتنې سپارښتنه وکړه؛ هغه ته به د دې څانګړی د ګناه پېټی وي او الله په هر څه ښه څار کوونکی دئ.

(٨٥)-که څه هم د دې آيت الفاظ عام دي او په عامه توګه ويل شوي که څوك نېکه سپارښتنه وکړي نو ثواب به ئې په برخه شي او که ئې بده سپارښتنه وکړه ګناه به ئې په برخه شي؛ خو د آيت له سياق او سباق په واضح توګه معلومېږي چې دلته په څانګړې توګه د جهاد په اړه سپارښتنه مراد ده؛ چا چې مسلمانان جهاد ته تشويق کړل نو د مجاهدينو په ثواب کې به ورسره شريك شي او چا چې مجاهدين له دښمن ووېرول، له هغه ئې غافل کړل، د دوی شوق او جذبه ئې سړه کړه، د دوی عزم او اراده ئې متزلزله کړه نو په ګناه کې به ئې شريك وي او د جهاد د پرېښودو د ستري ګناه له پېټي به يو څه د ده په اوږو بار شي.

وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٖ فَحَيُّواْ بِأَحۡسَنَ مِنۡهَآ أَوۡ رُدُّوهَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ

حَسِيبًا ﴿٨٦﴾

[٨٦]- او که کله په کوم ښه سلام پر تاسو سلام وويل شو نو يا تر دې غوره سلام ووايئ او يا همغه وروګرځوئ؛ بې شکه چې الله په هر څه ښه حساب کوونکی دئ.

(٨٦)- د سلام، ښه راغلاست او ژوندی دي وې؛ ځواب به يا تر دې په غوره کلماتو ورکوئ او يا به همدغه کلمات په ځواب کې وايئ؛ په دې پوه شئ چې الله تعالی حسيب دئ له بنده سره په هر څه کې حساب کوي. هديه، تحفه او ډالۍ بايد په همدې قياس شي؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم د هري هديې او تحفې په اړه همداسي کول.

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِۗ وَمَنۡ أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ حَدِيثٗا ﴿٨٧﴾

[٨٧]- الله همغه دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، حتماً به مو د قيامت ورځې ته راغونډ کړي؛ او څوک به په وينا کې تر الله زيات رښتينی وي؟

(٨٧)- له الله پرته بل معبود نشته، د قيامت په ورځ د الله په وړاندې ستاسو راغونډېدل يو حقيقت دئ، دا د الله وينا ده، تر الله به څوک په خپلې وينا کې زيات رښتينی وي؟

فَمَا لَكُمۡ فِي ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِئَتَيۡنِ وَٱللَّهُ أَرۡكَسَهُم بِمَا كَسَبُوٓاْۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَهۡدُواْ مَنۡ أَضَلَّ ٱللَّهُۖ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلٗا ﴿٨٨﴾ وَدُّواْ لَوۡ تَكۡفُرُونَ كَمَا كَفَرُواْ فَتَكُونُونَ سَوَآءٗۖ فَلَا تَتَّخِذُواْ مِنۡهُمۡ أَوۡلِيَآءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَخُذُوهُمۡ وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡۖ وَلَا تَتَّخِذُواْ مِنۡهُمۡ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرًا ﴿٨٩﴾

[٨٨]- نو پر تاسو څه شوي چې د منافقينو په اړه دوه ډلې شوئ؛ حال دا چې الله تعالی دوی د خپلو لاسته راوړنو له کبله رانسکور کړل؛ آيا غواړئ هغه څوک هدايت کړئ چې الله بې لاري کړی؛ او الله چې څوک بې لاري کړي هيڅ لار به ورته ونه مومې. [٨٩]- خوښه ئې دا ده چې تاسو هم داسې کافران شئ لکه دوی چې کافران شول نو بيا به سره برابر شئ؛ نو تر هغه له دوی دوستان مه نيسئ چې د الله په لار

**کې هجرت وکړي او که ئې ډډه وکړه نو وئې نیسئ او هر ځای چې ئې مومئ وئې وژنئ او مه له دوی کوم دوست نیسئ او مه کوم مرستندوی.**

(۸۸-۸۹)- له دغو دواړو آیتونو معلومېږي چې دلته بحث د هغو خلکو په اړه دئ چې د ایمان دعوی ئې کوله خو په دارالکفر کې پاته شوي او په داسي حال کې ئې مدینې ته له راتلو ډډه کړې چې له یوې خوا د هجرت کولو امر ورته شوی وو او له بلې خوا په دې نتوانېدل چې هلته خپل دیني شعائر په ځرگنده توگه او په اطمئنان سره تر سره کړي، د هغو خلکو تر سلطې لاندې ئې ژوند کولو ته دوام ورکړی چې له مسلمانانو سره جنگېدل؛ په دارالحرب کې د دوی د پاته کېدا اصلي وجه دا وه چې د خپل دین او ایمان لپاره قربانۍ ته چمتو نه وو، دې ته تیار نه وو چې د اسلام لپاره له خپل کور، کلي ووځي، د کافرانو له سلطې آزاد شي او د اسلام تر بېرغ لاندې د ژوند کولو لپاره مدینې ته راشي، نه مجبوریت منع کړي وو او نه ضعف او ناتوانۍ. ډېر ځله به داسي هم واقع کېده چې دوی به د کافرانو په څنگ کې او د دوی تر قومندې لاندې د مسلمانانو په ضد په جگړو کې برخه اخیسته. ډېر ځله به له مجاهدینو سره دا اندېښنه راپیدا کېده چې که موږ د دښمن په کومې سیمې برید کوو او هلته داسي مسلمانان وي او یا دښمن پر موږ حمله کوي او داسي کسانو په دې حملې کې برخه اخیستي وي او زموږ په لاس ووژل شي؛ نو زموږ حکم به څه وي او د دوی حکم څه؟ الله تعالی د دوی د دغې اندېښنې د رفع کولو لپاره دا لارښوونه وکړه چې مهمې برخې ئې دا دي:

- دا منافقین دي.
- د دوی په اړه اختلاف مه کوئ.
- د دوی عملونه داسي دي چې دارالایمان ته د راتلو وړ نه دي، الله تعالی د دې وړ ونه گڼل چې ستاسو خوا ته ئې راولي، د اسلام په لوري د مخکې تلو پر ځای د کافرانو تر سلطې لاندې پاته کېدو باندې راضي شول، الله تعالی پرېښودل چې په هغه کې نسکور شي.
- د دوی په اړه به ستاسو خپل منځي اختلافونه څه گټه ولري او څنگه به د دوی د هدایت باعث شي؛ حال دا چې الله تعالی ئې د هدایت وړ نه گڼي او دا توفیق ئې نه دئ ورپه برخه کړی چې له هغه ناولي ډنډ راووځي؟!
- دوی خو دا خوښوي چې کاش تاسو هم د دوی په څېر وئ او له خپل ټاټوبي مو هجرت نه وی کړی. له نورو سره د گډ ژوند کوم صورت مو پیدا کړی وی، نه هغوی زموږ مزاحم کېدی او نه موږ د دوی. که موږ داسي ژوند کولی شو نو تاسو ئې ولي نه شئ کولی؟
- تر هغه چې دا خلك د الله په لار کې هجرت ونکړي؛ خپل اولیاء او دوستان ئې مه

ګڼئ.

- که له هجرت کولو ئې ډډه وکړه نو په نیولو او وژلو ئې هیڅ صرفه مه کوئ، د دښمن له ډلې ئې وګڼئ او همغه څه ورسره وکړئ چې له دښمن سره ئې کوئ؛ هیڅ یو ئې مه خپل دوست ګڼئ او مه ترې د مرستې طمع کوئ.

د دغو مبارکو آیتونو په رڼا کې د هغو خلکو وضع په څرګنده معلومولی شو چې اوس د امریکایانو تر واکمنۍ لاندې په افغانستان کې ژوند کوي او نورو ته هم بلنه ورکوي چې له مقاومت لاس واخلي او د دوی په شان دښمن ته تسلیم شي او د هغو وضع او حکم هم چې د ایمان دروغجنه دعوی کوي خو د امریکایانو تر قومندې لاندې له مسلمانانو سره جنګېږي.

إِلَّا ٱلَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٌ أَوۡ جَآءُوكُمۡ حَصِرَتۡ صُدُورُهُمۡ أَن يُقَٰتِلُوكُمۡ أَوۡ يُقَٰتِلُواْ قَوۡمَهُمۡۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَسَلَّطَهُمۡ عَلَيۡكُمۡ فَلَقَٰتَلُوكُمۡۚ فَإِنِ ٱعۡتَزَلُوكُمۡ فَلَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ وَأَلۡقَوۡاْ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَمَ فَمَا جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمۡ عَلَيۡهِمۡ سَبِيلٗا ﴿٩٠﴾

[٩٠]- له هغو پرته چې له کوم داسې قوم سره پیوست کېږي چې ستاسو او د دوی تر منځ کومه معاهده وي او یا تاسو ته په داسې حال کې راشي چې سینې ئې له دې تنګې شوې وي چې له تاسو سره وجنګېږي او یا له خپل قوم سره وجنګېږي او که الله غوښتی نو دوی به ئې درباندې مسلط کړي وو او بیا به حتماً درسره جنګېدل؛ نو که درنه یوې خوا ته شول او درسره ونه جنګېدل او روغه، جوړه ئې دروړاندې کړه، نو بیا الله تاسو ته پر دوی (د تېرې) کومه لار ګودر نه دئ ټاکلی.

(٩٠)- په دوه صورتونو کې د دوی له نیولو او وژلو ډډه وکړئ:

- له داسې قوم سره ئې خپل پیوستون اعلان کړی وي چې تاسو ورسره د عدم تعرض معاهده لرئ.
- تاسو ته په داسې حال کې راشي چې له جګړو کرکه څرګندوي، ستومانه دي، نه له تاسو سره جنګېدل غواړي او نه له خپل قوم سره.

دا چې یوه ډله ستاسو په خلاف له جګړې لاس اخلي؛ دا د الله یوه پېرزوینه وګڼئ، فوراً مثبت ځواب ورکړئ، غوښتنه ئې ومنئ او د دوی په خلاف له جګړې ډډه وکړئ. که

دوی يوې خوا ته شول، درسره ونه جنګېدل او روغه جوړه ئې دروړاندي کړه؛ نو بيا پر دوی د تعرض هيڅ حق نلرئ، الله تعالى د دې اجازه نه ده درکړې چي د دوی په خلاف وسله استعمال کړئ.

سَتَجِدُونَ ءَاخَرِينَ يُرِيدُونَ أَن يَأْمَنُوكُمْ وَيَأْمَنُواْ قَوْمَهُمْ كُلَّ مَا رُدُّوٓاْ إِلَى ٱلْفِتْنَةِ أُرْكِسُواْ فِيهَاۚ فَإِن لَّمْ يَعْتَزِلُوكُمْ وَيُلْقُوٓاْ إِلَيْكُمُ ٱلسَّلَمَ وَيَكُفُّوٓاْ أَيْدِيَهُمْ فَخُذُوهُمْ وَٱقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْۚ وَأُوْلَٰٓئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنًا مُّبِينًا ﴿٩١﴾

[٩١]- ژر ده چي نور هم داسي وموموئ چي غواړي هم له تاسو په امن کې وي او هم له خپل قوم په امان کې؛ خو که کله فتنې ته وبلل شي؛ په کې پرېوځي؛ نو که له تاسو يوې خوا ته نه شول او روغه جوړه ئې دروړاندي نه کړه او خپل لاسونه ئې راتم نه کړل؛ نو وئې نيسئ او چي هر ځای ئې مومئ وئې وژنئ او پر دې ډلي مو تاسو ته څرګند حجت درکړی.

(٩١)- له داسي خلکو سره به هم مخامخ شئ چي امن خوښي دي، غواړي له تاسو هم امان تر لاسه کړي او له خپل قوم هم خوندي وي، څوك پرې تېری ونکړي، جګړه فتنه ګڼي، غواړي له دې فتنې لري پاته شي؛ خو که تېری پرې وشي او جګړې ته اړ کړی شي نو بيا په ټول توان، طاقت په کې برخه اخلي، دوی مه چېړئ، جګړې ته ئې مه اړ کوئ، مثبت ځواب ورکړئ، له خپلې خوا ئې مطمئن کړئ؛ خو که سره له دې له تاسو يوې خوا ته نه شول، روغه جوړه ئې دروړاندي نه کړه او له تېري ئې ځان ونه ساتو؛ نو وئې نيسئ او چي هر ځای ئې مومئ وئې وژنئ؛ الله تعالى د دې حق او اجازه تاسو ته درکوي.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَـًٔاۚ وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَـًٔا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦٓ إِلَّآ أَن يَصَّدَّقُواْۚ فَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍۖ وَإِن كَانَ مِن قَوْمٍۭ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَٰقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍۖ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ

شَهۡرَيۡنِ مُتَتَابِعَيۡنِ تَوۡبَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿٩٢﴾

[٩٢]- او هيڅ مؤمن ته نه ښايي چې بل مؤمن ووژني؛ مګر په خطاء سره او چا چې کوم مؤمن په خطاء سره ووژلو نو بيا د يوه مؤمن مريي آزادول او ټبر ته ئې مسلم ديت ورکول دي؛ مګر دا چې معاف ئې کړي؛ او که هغه له داسې يوه قوم وو چې ستاسو دښمن وي؛ خو دی مؤمن وو؛ نو بيا د يوه مؤمن مريي آزادول دي او که له داسې قوم وو چې په خپلو کې کومه معاهده سره لرئ؛ نو بيا ئې ټبر ته مسلم ديت ورکول او د يوه مؤمن مريي آزادول دي؛ خو که څوک ئې ونه مومي نو بيا دوه مياشتې پر له پسې روژه نيول دي؛ يوه الهي توبه او الله باحکمت پوه دئ.

(٩٢)- دا د مؤمن له شأن لرې ده چې بل مؤمن قصداً او عمداً ووژني، يوازې په خطاء سره د داسې قتل احتمال شته؛ او د خطائي قتل په اړه دلته لاندې لارښوونې شوې:

- د مقتول ورثه ته به ديت ورکوي او يو مؤمن مريي به آزادوي. په دې سره به هم هغه تاوان څه ناڅه جبران شوی وي چې د مقتول ټبر ته رسېدلی او هم هغه تاوان چې د مقتول په وژل کېدو سره د ده اسلامي ټولنې ته رسېدلی.
- که دا مؤمن مقتول د داسې کوم قوم غړی وو چې له مسلمانانو سره د دښمنۍ او جګړې په حالت کې دئ؛ نو بيا به يوازې يو مؤمن مريي آزادوي.
- او که د ده قوم له مسلمانانو سره د عدم تعرض معاهده درلوده؛ نو هم ديت ورباندې لازم دئ او هم د يوه مؤمن مريي آزادول.
- که قاتل د مريي د آزادولو توان نه لرلو؛ نو بيا دوه مياشتې پر له پسې روژه پرې لازمه ده.
- الله تعالی ستاسو د توبې قبلول په دغو شرائطو پورې تړلې ده.
- دا د حکيم او عليم خدای له لوري حکيمانه لارښوونې دي؛ په دې کې ډېر حکمتونه مضمر دي.

وَمَن يَقۡتُلۡ مُؤۡمِنٗا مُّتَعَمِّدٗا فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَٰلِدٗا فِيهَا وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَلَعَنَهُۥ وَأَعَدَّ لَهُۥ عَذَابًا عَظِيمٗا ﴿٩٣﴾

[٩٣]- او څوک چې کوم مؤمن په قصد سره ووژني نو سزا ئې دوزخ دئ، تلپاته په هغه کې او الله پرې غضب کړی، لعنت ئې پرې ويلی او ستر عذاب ئې ورته تيار کړی.

(۹۳)- په ناروا سره او عمداً او په داسي حال کې د يوه مؤمن وژل چي ښه ئې پېژني، له ايمان ئې خبر دئ او پر دې هم پوهېږي چي د ده د وژلو حق نلري؛ نو د داسي کس اخروي سزا دا ده:

- جهنم او په هغه کې د تل لپاره پاته کېدا.
- د الله غضب.
- د الله لعنت.
- ستر عذاب.

او دنيوي سزا ئې هغه ده چي د البقرة سورې په ۱۷۸ آيت کې بيان شوې.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا ضَرَبۡتُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَتَبَيَّنُواْ وَلَا تَقُولُواْ لِمَنۡ أَلۡقَىٰٓ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَٰمَ لَسۡتَ مُؤۡمِنٗا تَبۡتَغُونَ عَرَضَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فَعِندَ ٱللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٞۚ كَذَٰلِكَ كُنتُم مِّن قَبۡلُ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمۡ فَتَبَيَّنُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٗا ﴿٩٤﴾

[۹٤]- اې مؤمنانو! کله چي د الله په لار کې د جهاد لپاره وځئ نو ښه څېړنه کوئ او هغه چا ته چي پر تاسو سلام اچوي؛ دا مه وايئ چي ته مؤمن نه يې؛ په داسي حال کې چي دنيوی مال متاع لټوئ؛ نو له الله سره ډېر غنائم دي، تر دې مخکې تاسو هم دغسي وئ، خو الله درباندي احسان وکړ؛ نو ښه تحقيق کوئ، بې شکه چي الله په هغه څه ښه خبر دئ چي تاسو ئې کوئ؟

(۹٤)- مؤمنانو ته لارښوونه شوې چي د جهاد په دوران کې به لاندي خبرو ته په کلکه پام کوئ:

- له خلکو سره په خپلي معاملې کې ډېر احتياط وکړئ، په دې اړه بايد ډېر محتاط وئ چي بې گناه انسان؛ مخصوصاً کوم مسلمان ستاسو په لاس ونه وژل شي.
- څوك چي پر تاسو سلام اچوي او د سلام له اچولو ئې معلومېږي چي هغه مسلمان او د مسلمانانو خواخوږی دئ؛ د هغه په اړه دا مه واياست چي مسلمان نه دئ، يا ئې له وېري سلام اچولی او يا خدعه کوي؛ په همدې الفاظو ئې اکتفاء وکړئ، مسلمان ئې وگڼئ او له ځورولو او وژلو ئې ډډه وکړئ.
- مبادا د غنيمت په غرض د هغه په وينو خپل لاسونه سره کړئ؛ له الله سره ډېر غنائم

دي، د هغو حلالو او له شك شبهې وتلو غنامو تر لاسه كول وغواړئ.

- تر دې د مخه تاسو هم د دوی په څېر وئ، الله تعالی پر تاسو فضل وكړ او د مسلمانېدو توفيق ئې دركړ؛ په كار ده تاسو هم له دغو خلكو سره همغسې احسان وكړئ چې له تاسو سره شوی.
- په دې پوه شئ چې خبير خدای ستاسو له هر عمل او د هغه تر شا ستاسو له موخې او غرض ښه خبر دئ.

لَّا يَسْتَوِي ٱلْقَٰعِدُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُوْلِي ٱلضَّرَرِ وَٱلْمُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْۚ فَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلْمُجَٰهِدِينَ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى ٱلْقَٰعِدِينَ دَرَجَةٗۚ وَكُلّٗا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْحُسْنَىٰۚ وَفَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلْمُجَٰهِدِينَ عَلَى ٱلْقَٰعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمٗا ﴿٩٥﴾ دَرَجَٰتٖ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةٗ وَرَحْمَةٗۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمًا ﴿٩٦﴾

[٩٥]- د مؤمنانو غير معذور ناست كسان له هغو سره برابر نه دي چې په خپل مال او ځان سره د الله د لارې مجاهدين دي؛ الله دغو په خپل مال او ځان سره مجاهدينو ته پر ناستو كسانو د ځانګړې درجې فضيلت وركړی؛ په داسې حال كې چې الله له هر يوه سره د ښې بدلې وعده كړې؛ خو مجاهدينو ته ئې پر ناستو كسانو د ستر اجر فضيلت وركړی. [٩٦]- د ده له خوا ځانګړې درجې، بخښنه او پېرزوينه او الله مهربان بخښونكی دئ.

(٩٥-٩٦)- دلته د مجاهد او غير مجاهد تر منځ د سترو توپيرونو په اړه لاندې وضاحتونه شوي:

- هغه مسلمان چې معذور نه وي او له جهاده وروسته پاته كېږي؛ له هغه چا سره نه شي برابرېدی چې د خپل سر او مال په بيع په جهاد كې برخه اخلي.
- هم د مجاهد مقام او درجه تر ده لوړه ده او هم ئې اجر؛ ناست كسان په بل هيڅ نېك عمل سره نه د دوی مقام ته رسېدی شي او نه د دوی په څېر اجر تر لاسه كوی شي.
- ناست كسان به هم د خپل ايمان، اخلاص او نېك عمل اجر تر لاسه كوي؛ خو د مجاهدينو فضيلت او اجر نه شي موندئ.
- دا توپيرونه د عادي درجو توپيرونه مه ګڼئ، دا د الهي معيارونو له مخې د لوړو لوړو

درجو توپيرونه دي.

- مهربان بخښونکی خدای د دوی گناهونه ورته بخښي او خپل ستر رحمت د دوی په حال شاملوي.

دې ته مو بايد پام وي چي دلته د هغه حالت په اړه بحث کېږي چي په جهاد کې برخه اخيستل د مسلمانانو خپلې خوښي ته پرېښودل شوی وي، فرض عين نه بلکې فرض کفايي وي، د نفير عام حالت نه وي او ټولو ته دا نه وي ويل شوي چي د جهاد لپاره ووځئ؛ په هغه حالت کې خو له جهاد وروسته پاته کېدا داسې ستره گناه ده چي د انسان ايمان او آخرت په خطر کې اچوي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِىٓ أَنفُسِهِمْ قَالُوا۟ فِيمَ كُنتُمْ ۖ قَالُوا۟ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ قَالُوٓا۟ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةً فَتُهَاجِرُوا۟ فِيهَا ۚ فَأُو۟لَٰٓئِكَ مَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾ إِلَّا ٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ لَا يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا ﴿٩٨﴾ فَأُو۟لَٰٓئِكَ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٩٩﴾

[٩٧]- بې شکه هغه کسان چي ملائکې ئې روح قبضوي؛ په داسې حال کې چي دوی پر خپلو ځانونو ظلم کوونکي وي؛ ورته وايي به: تاسې په څه حالت کې وئ؟ وايي: موږ په زمکه کې کمزوري او مستضعف وو؛ ورته وبه وايي: آيا د الله زمکه پراخه نه وه چي هجرت مو په کې کړی وی؟ نو دوی همغه دي چي مېشت ځای ئې دوزخ دئ او د ورگرځېدو ځومره بد ځای! [٩٨]- مگر هغه کمزوري نارينه، ښځې او ماشومان چي نه د کومې حيلې توان لري او نه د کومې لارې د موندو. [٩٩]- نو ښايي الله دوی ته عفو وکړي او الله بخښونکی تېرېدونکی دئ.

(٩٧-٩٩)- دلته د هغو کسانو په اړه بحث شوی چي د هجرت له فرض کېدو وروسته ئې له هجرته ډډه کړې، په دارالحرب کې پاته شوي، څه عذر ئې نه وو، هسې د الله لپاره له خپل کور، کلي وتل او له خپل مال، دولت لاس اخيستل ورته گران وو، د دوی په اړه لاندې وضاحتونه شوي:

- دوی پر خپل ځان ظلم کوي او خپله دنيا او آخرت تباه کوي.
- د مرگ په وخت کې به ئې ملائکې دا بهانه د منلو وړ نه گڼي چي وايي: مجبور او

ناتوانه وو.

- ملائکې به ورته وايي: آيا د الله دا پراخه زمکه دومره دربانديي تنګه شوې وه چې د هجرت لپاره مو کوم ځای نه شو موندلی چې له خپل دين او ايمان سره هلته تللي وی او د کفر له سلطې مو ځان آزاد کړی وی؟!
- د دوی مېشت ځای دوزخ دئ.
- خو هغه واقعي مستضعفين نارينه، ښځې او ماشومان ترې مستثنی دي چې نه کومه حيله او چاره لري او نه د وتلو کومه لار.
- ښايي چې الله تعالی به د دوی عذر ته په پام سره دوی ته عفو وکړي.

له دې معلومېږي چې په دارالحرب کې د طاغوت تر سلطې لاندې ژوند کول د الله په دين کې ډېره ستره ګناه ده، له دارالحرب وتل او د طاغوت له سلطې ځان ژغورل او د دې لپاره هجرت کول فرض دئ، تارك ئې د شديدې مواخذې وړ او د جهنم مستحق دئ.

وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يَجِدْ فِي ٱلْأَرْضِ مُرَٰغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ۚ وَمَن يَخْرُجْ مِنۢ بَيْتِهِۦ مُهَاجِرًا إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ يُدْرِكْهُ ٱلْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٠٠﴾

[١٠٠]- او څوك چې د الله په لار کې هجرت وکړي، په زمکې کې به ډېر آرام ځايونه او پراخې ومومي او څوك چې له خپل کور د الله او د ده د رسول لورې ته د مهاجر په څېر ووځي او مرګ ئې بيا ومومي نو په يقين سره ئې اجر د الله په ذمه شو او الله خو مهربان بخښونکی دئ.

(١٠٠)- دلته دغه په دارالحرب کې پاته مؤمنان هجرت ته هڅوي او د څو خبرو اطمئنان ورکوي:

- الله ستا د روزې ضامن دئ، دا ګمان مه کوه چې که د الله په لار کې هجرت وکړې او د روزې موجود وسائل او امکانات درنه پاته شي، نو له فقر او لوږې سره به مخامخ شې، رزاق خدای به نور څرځايونه درپه برخه کړي.
- د الله زمکه تنګه مه ګڼه، دا ګمان مه کوه چې دا پراخه نړۍ دربانديي تنګه شوې او په خپل ملك کې له پاته کېدو پرته بله چاره نلرې.
- که احياناً ستا دا هجرت ستا د مرګ باعث شي؛ هغسې چې ته ګمان کوې؛ نو ولې وېرېږې، الله تعالی ئې بدله درکوي، ستا اجر په خپله ذمه اخلي.

• آيا دا دې نه خوشبېرې چې د هجرت په نتيجه کې مهربان بخښونکی رب ستا گناهونه درته وبخښي او خپلې پېرزوينې او رحمت ستا په حال شامل کړي؟!

وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي ٱلْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُواْ مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ إِنْ خِفْتُمْ أَن يَفْتِنَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنَّ ٱلْكَٰفِرِينَ كَانُواْ لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِينًا ﴿١٠١﴾

[١٠١]- او کله چې په زمکه کې سفر کوئ، نو په دې کې پر تاسو کومه گناه نشته چې لمونځ رالنډ کړئ؛ که دا وېره مو وه چې کافران به مو په فتنه کې واچوي؛ بې شکه چې کافران ستاسو ښکاره دښمنان دي.

(١٠١)- د سفر په حالت کې او هغه وخت چې له دښمن مو څه وېره وي؛ نو کولی شئ خپل لمونځ رالنډ کړئ، څلور رکعته مو دوه رکعته، رکوع او سجده مو مختصر او قرائت او تسبيحات مو رالنډ کړئ. په قصر کې نوري آسانتياوي هم شاملې دي چې يوه برخه ئې د البقرې د سورې په ٢٣٩ آيت کې توضيح شوه.

دلته څو پوښتنو ته بايد ځواب ومومو:

• په سفر کې د قصر حکم له دغه آيت اخيستل شوی که بله مرجع لري؟

• دلته قصر د سفر په وجه جائز شوی که د خوف او خطر په وجه؟

• له قصر مراد يوازې د رکعتونو په شمېر کې قصر دئ که د لمانځه په هيئت او کيفيت کې هم او مخکې، وروسته کول ئې هم؟

دغو پوښتنو ته د ځواب موندلو په کار کې لاندې خبرې مرسته کوي:

• له وروستي آيت معلومېږي چې دلته د خوف او خطر په وجه د قصر اجازه ورکړی شوې.

• له همدې وروستي آيت معلومېږي چې له قصر د لمانځه په کيفيت او هيئت کې قصر کول هم مراد دي؛ ځکه دلته په لمانځه کې له يوه ځای بل ځای ته د خوځېدو ذکر او د هغه اجازه راغلې.

• پيغمبر عليه السلام په سفر کې په لمونځونو کې قصر کړی، تل ئې څلور رکعته نيمايي کړي، په داسې حال کې هم چې د هيڅ خطر وېره نه وه.

• د قصر په اړه له دې پرته بل آيت نه مومو.

له دغو خبرو په ډاگه معلومېږي چې د سفر قصر هم له دې آيت اخيستل شوی او د

خوف قصر هم او په قصر کې هم د رکعتونو قصر شامل دئ او هم د هيئت او کيفيت قصر.

د احزابو په جنگ کې چې له سفر پرته د خوف او خطر حالت وو؛ د قصر دوه صورتونه گورو: له جَمعي پرته يوازې يوازې لمونځ او ځنډول ئې او قضائې ئې اداء کول.

وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓاْ أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُواْ فَلْيَكُونُواْ مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّواْ فَلْيُصَلُّواْ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُواْ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ وَدَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَٰحِدَةً وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَن تَضَعُوٓاْ أَسْلِحَتَكُمْ وَخُذُواْ حِذْرَكُمْ إِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٠٢﴾

[١٠٢]- او که ته له دوی سره وې او په لمانځه ورته ودرېدې؛ نو د دوی يوه ډله دې له تا سره ودرېږي او خپلې وسلې دې ورسره واخلي، نو کله چې ئې سجده وکړه بيا دې له تاسو تر شا شي او هغه بله ډله چې لا ئې لمونځ نه دئ کړی هغه دې راشي او له تا سره دې لمونځ وکړي او خپل احتياطي تدابير دې ونيسي او اسلحه دې ورسره واخلي؛ کافران دا خوښوي چې تاسو له خپلو وسلو او مال متاع غافل شئ نو په يو واري درباندې رامات شي؛ خو که له باران ځوريدئ يا بيمار وئ نو څه گناه درباندې نشته چې خپله وسله کښېږدئ؛ خو احتياطي تدابير مو ونيسئ؛ بې شکه چې الله د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تيار کړی.

(١٠٢)- په دې آيت کې د صلوة خوف په اړه بحث شوی؛ له دې معلومېږي چې د دې سورې دا برخه په داسې وخت کې نازله شوې چې حالات سخت بحراني وو، هره شېبه د دې احتمال او وېره وه چې د مسلمانانو په کوم ټولگي له يوې او بلې خوا ناڅاپي بريد وشي؛ دا حالت د احد له جگړې وروسته راپيدا شو او د احزابو په جنگ منتج او د دغې جگړې په پای ته رسېدو سره پای ته ورسېد.

په دې آيت کې د صلوة خوف په اړه لاندې لارښوونې شوې:

- د لمانځه لپاره به خلك په دوو ډلو وېشل کېږي، يوه به په امام پسې اقتداء کوي او بله به پيره کوي.

- لومړۍ ډله به یو رکعت لمونځ وکړي او له سجدې وروسته به د پیړۍ لپاره تر شا شي. د لمانځه په وخت کې به خپله وسله له ځان سره لري.
- دوهمه ډله به راشي، اقتداء به وکړي او خپل لمونځ به پوره کړي. دوی ته ویل شوي چې هم به وسله له ځان سره لري او هم به احتیاطي تدابیر مراعاتوي؛ دا ځکه چې د پیړۍ کار بل ته حواله کول د احتیاط تقاضی کوي، هلته باید لمانځه ته راشي چې نورو د پیړۍ کار پیل کړی وي.
- لومړۍ ډله به هغه وخت خپل پاته لمونځ تکمیل کړي چې دوهمه ډله له لمانځه فارغه شي او د دوی ځای ونیسي.
- لمونځ هم په دوو برخو وېشل شوی او یوازې یو رکعت ئې یوه برخه ګڼل شوې؛ له دې معلومېږي چې د سفر او خطر په وخت کې د قصر لمونځ څلور رکعته نه دئ؛ یا دوه رکعته دئ یا درې. پیغمبر علیه السلام هم په سفر کې یوازې د ماښام لمونځ درې رکعته او د نورو وختونو دوه دوه رکعته لمونځ کړی.
- دلته د خوف متوسط او منځنی حالت بیان شوی، په کم خطر کې یو ځای جماعت کېدی شي او په زیات خطر کې جماعت پرېښودی شي، یوازې یوازې او حتی د قضاء کولو او وروسته اداء کولو اجازت شوی.
- په دې حالت کې یوازې په هغه صورت کې له ځان د وسلې لرې کولو اجازه شوې چې یا له ورښت په تکلیف وئ او یا دومره بیمار وئ چې د وسلې له حمل عاجز وئ.

فَإِذَا قَضَيْتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ قِيَـٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ ۚ فَإِذَا ٱطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ ۚ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتْ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ كِتَـٰبًا مَّوْقُوتًا ﴿١٠٣﴾

[١٠٣]- خو کله چې لمونځ اداء کړئ؛ نو الله په ولاړه، ناسته او پر اړخ ملاسته کې یادوئ، بیا کله چې مطمئن شئ نو همغه لمونځ اداء کړئ؛ بې شکه چې دا لمونځ پر مؤمنانو له مهال وېش سره سم فرض شوی.

(١٠٣)- دلته درې اساسي لارښووني زموږ مخې ته راځي:

- د سفر او خوف په حالت کې هغه په لمانځه کې قصر په دې جبران کړئ چې په ولاړه، ناسته او پر اړخ ملاسته کې الله یادوئ.
- په قصر کې دا هم شامل وو چې لمونځ مخکې یا وروسته کړئ؛ دا ځکه چې ورپسې ویل شوي چې د قصر د حالت له ختمېدو وروسته او کله چې مطمئن شوئ نو بیا مکمل لمونځ

په خپل خپل وخت کې اداء کړئ. له دې په څرګنده معلومېږي چې د جمع صلاتین رخصت (د دوو لمونځونو په یوه وخت اداء کولو جواز) هم له دې آیت اخیستل شوی.

• په مخکیني آیت کې په دې اړه په ډېر صراحت سره ویل شوي وو چې د سفر او خوف په حالت کې قصر کولی شئ؛ خو دا نه وه واضح شوې چې په بې خوفه سفر کې به قصر کوئ که نه؟ خو د دې آیت له فحوی معلومېږي چې په سفر کې به هم قصر کوئ؛ دا ځکه چې د پوره لمانځه لپاره ئې د اطمئنان شرط وضع کړی؛ که یوازې د خوف منتفي کېدل مراد وی نو د (اطمئنان) پر ځای به ئې د (امن) لفظ راوړ؛ د خوف په مقابل کې د امن لفظ راځي؛ لکه د بقرې د سورې په ١٩٦ آیت کې چې د خوف منتفي کېدو لپاره د امن لفظ راغلی؛ او ویل شوي: که په امن کې شوئ نو بیا تر حج مخکې د عمرې د اداء کولو حکم دا دئ. په سفر کې که هر څومره آرام او بې تکلیفه سفر وي خو انسان په کې لالهانده او پرېشان وي او زړه ئې نامطمئن.

• د لمانځه لپاره اوقات ټاکل شوي، هر لمونځ په خپل خپل وخت اداء کول فرض دئ. مخکینی رخصت د یوه ضرورت له مخي موقت رخصت وو، په عادي حالاتو کې به هر لمونځ په خپل ټاکلي وخت تر سره کوئ. خو د سفر او خوف په حالت کې به دا له خپل ټاکلي وخت لمونځ مخکې یا وروسته کول څنګه وي؟ په دې اړه دوه رأیي دي: د ماسپښین او مازدیګر لمونځونه یو ځای او په یوه وخت کې، یو په بل پسې، په یوه أذان او دوه اقامته اداء کول او د ماښام او ماخستن لمونځونه هم داسې< لکه څنګه چې د حج په دوران کې، په عرفات کې د ماسپښین او مازدیګر لمونځونه یو ځای او په مزدلفه کې د ماښام او ماخستن لمونځونه یو ځای اداء کېږي؛ دوهمه رأیه دا ده چې له حج پرته په نورو سفرونو کې د دوو لمونځونو یو ځای کول باید داسې وي چې یو په خپل آخري وخت کې او بل په خپل لومړني وخت کې همداسې یو ځای اداء شي؛ دې ته صوري او شکلي جمع صلاتین وایي؛ دا د احنافو رأیه ده؛ له احنافو پرته نور ټول مخکینی صورت غوره ګڼي او له دې لحاظه د حج او نورو سفرونو تر منځ په توپیر باور نلري؛ د دې لپاره څو دلائل وړاندي کوي: ١- د لمونځونو صوري جمع تر دې ډېر ګران کار دئ چې هر لمونځ په خپل خپل وخت او بېل بېل اداء شي، دوه لمونځونه یوه وخت ته رابرابرول او هغه هم په سفر کې ګران کار دئ، قصر او جمع صلاتین خو د تخفیف لپاره دي، د هر لمانځه لپاره پراخ وخت ټاکل شوی، صوري جمع دا پراخوالی او سهولت له منځه وړي او په یوه محدود وخت کې ئې راخلاصه کوي. ٢- په سفر کې لمونځ رامخکې کول یا وروسته کول داسې دئ لکه چې د مسافر او مریض لپاره دا رخصت ورکړی شوی چې روژه بل وخت او د کال نورو ورځو ته وځنډوي، روژه د

لمانځه په څېر ثابت وخت لري خو د مسافر او مریض لپاره ئې دا سهولت ورکړی. ۳- د حج په موسم کې دوه جمع صلاتین لرو، یو ئې په عرفات کې د ماسپښین او مازدیگر لمونځ د ماسپښین په لومړي وخت کې او بل ئې په مزدلفه کې د ماښام او ماخستن لمونځ د ماخستن په وخت کې؛ که جمع صلاتین د حج په حالت کې او د عرفات او مزدلفې په مقام کې جائز وي نو په نورو وختونو کې خو په اولی درجه جائز دئ.

احناف هم جمع صلاتین جائز ګڼي خو داسي چي مخکینی لمونځ به په خپل آخري وخت کې او ورپسې لمونځ به په لومړي وخت کې یو په بل پسي اداء کېږي؛ دې ته جمع صوري وايي؛ نور مذاهب جمع حقیقي جائز ګڼي.

په داسي حال کې چي د لمانځه د توقیت په اړه دا آیت ډېره واضح لارښوونه کوي او په داسي حال کې چي د پیغمبر علیه السلام سنت زموږ مخي ته پروت دئ، هغه مبارك نژدې اتلس زره لمونځونه په مدینه منوره کې کړې، د مدینې په سلګونو او په زرګونو اوسېدونکو پنځه وخته أذان اورېدلی، د پیغمبر علیه السلام په امامت کې ئې د جماعت لمونځ لیدلی، د أذان او اقامت الفاظ ئې اورېدلي، د ده او اصحابو د لمانځه کیفیت ئې لیدلی او دا ټول د مدینې مسلمانانو یو په بل پسي له یوه بل نسل ته انتقال کړي؛ خو سره له دې ګورو چي ځیني ټول لمونځونه په یوه وخت کې کول هم جائز ګڼي، له سفر او خطر پرته په عادي حالت کې د ورځي پنځه لمونځونه په درې وختونو کې تر سره کول هم جائز ګڼي، ځان ته د أذان خاص الفاظ او د لمانځه خاص ترتیب او ترکیب لري او د خپل مسلك په اړه هومره تعصب لري چي په بل کیفیت او هیئت کې لمونځ ورته لمونځ نه ښکاري، د بل مسلك په امام پسي لمونځ کول جائز نه ګڼي، د هغه په أذان روژه نه ماتوي او حتی هغه مسلمان نه ګڼي. ای کاش ټول امت لږ تر لږه په دغسي واضح مسائلو کې له اختلاف لري پاته شوی وی، د قرآن صریح نص، د پیغمبر واضح سنت او د مدینې د مسلمانانو د لمانځه هیئت او کیفیت ئې د ملاك په توګه منلی وی.

وَلَا تَهِنُواْ فِي ٱبۡتِغَآءِ ٱلۡقَوۡمِۖ إِن تَكُونُواْ تَأۡلَمُونَ فَإِنَّهُمۡ يَأۡلَمُونَ كَمَا تَأۡلَمُونَۖ وَتَرۡجُونَ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا يَرۡجُونَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ١٠٤

[۱۰٤]- او د دې قوم په لټه کې لټي او سستي مه کوئ؛ که تاسو دردمن کېږئ نو دوی هم ستاسو په څېر دردمن کېږي؛ په داسي حال کې چي تاسو له الله هغه هیلي لرئ چي دوی ئې نلري او الله باحکمت پوه دئ.

(۱۰٤)- د دښمن په تعقیب کې کسالت او لټې مه کوئ، ماتې، تلفات او زخمونه باید تاسو سست نه کړي او د دښمن له مسلسل او سترېيا نه منونکي تعقیب مو وانه ړوي، که تاسو ته درد او زخم دررسي، دوی هم تلفات ګوري، مړي او زخميان لري، تاسو له خپلو قربانيو دا طمع لرئ چې الله تعالى به ئې په خپل دربار کې قبولې کړي او تاسو ته به ئې عوض او بدله درکړي، خو هغوی دا هيله هم نلري؛ دا به ډېره عجيبه وي چې تاسو تر دوی د مخه ستړي او ستومانه شئ!! دا د دښمن د مسلسل تعقیب لارښوونه د هغه ذات لخوا ده چې په هر څه ښه پوه دئ او په هري پرېکړي او حکم کې ئې حکمتونه او مصالح مضمر دي.

إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِتَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُۚ وَلَا
تَكُن لِّلۡخَآئِنِينَ خَصِيمٗا ﴿١٠٥﴾ وَٱسۡتَغۡفِرِ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿١٠٦﴾
وَلَا تُجَٰدِلۡ عَنِ ٱلَّذِينَ يَخۡتَانُونَ أَنفُسَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ خَوَّانًا
أَثِيمٗا ﴿١٠٧﴾ يَسۡتَخۡفُونَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَلَا يَسۡتَخۡفُونَ مِنَ ٱللَّهِ وَهُوَ مَعَهُمۡ إِذۡ
يُبَيِّتُونَ مَا لَا يَرۡضَىٰ مِنَ ٱلۡقَوۡلِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطًا ﴿١٠٨﴾ هَٰٓأَنتُمۡ
هَٰٓؤُلَآءِ جَٰدَلۡتُمۡ عَنۡهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فَمَن يُجَٰدِلُ ٱللَّهَ عَنۡهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ
أَم مَّن يَكُونُ عَلَيۡهِمۡ وَكِيلٗا ﴿١٠٩﴾

[۱۰۵]- بې شکه چې تا ته مو دا په حقيقت ولاړ کتاب رانازل کړ؛ د دې لپاره چې د خلکو تر منځ د هغه څه مطابق حکم وکړې چې الله درښودلي او د خائنانو لپاره شخړه کوونکی مه شه. [۱۰٦]- او له الله بخښنه وغواړه؛ بې شکه چې الله مهربان بخښونکی دئ. [۱۰۷]- او د هغو لپاره مجادله مه کوه چې له ځان سره خيانت کوي؛ يقيناً چې الله هغه څوك نه خوښوي چې ګنهګار خائن وي. [۱۰۸]- له خلکو ئې پټول غواړي او له الله ئې نه پټوي! حال دا چې دی هغه وخت هم ورسره وو چې د شپې ئې په هغې خبري مرکه کوله چې نه ئې خوښوي؛ او الله په هغه څه احاطه کوونکی دئ چې دوی ئې کوي. [۱۰۹]- اې هغو کسانو چې تاسو د دنيا په ژوند کې له دوی د دفاع لپاره مجادله وکړه! د قيامت په ورځ به څوك له الله سره د دوی لپاره مجادله کوي او څوك به ئې وکيل شي؟!

(۱۰۵-۱۰۹)- د دې آیتونو په اړه چې کوم شأن نزول بیان شوی هغه د آیت په معنی ښه پوهېدو کې ډېره مرسته کوي: د یوه صحابي له کوره غلا وشوه، غل د مسلمانانو د یوې قبیلې غړی وو، د غلا مال ئې د خپل کور په ځای د یوه یهودي ملګري کور ته ورساوو او هغه ته ئې د خپل مال په نامه د ساتلو لپاره ورکړ، سبا د مال خاوند په همدغه کس د غلا شك وکړ، قضیه تر پیغمبر علیه السلام ورسېده، له پوښتنو ګوېږنو وروسته معلومه شوه چې غلا شوی مال د یهودي په کور کې دئ، هغه وویل چې دا خو همغه غله ده ته په دغه شپه امانت پرېښود، غله انکار وکړ، خپلوانو، ملګرو او قبیلې ئې له ده دفاع پیل کړه، پیغمبر علیه السلام ته راتلل او د ده په برائت به ئې تأکید کاوو، مال د یهودي له کوره وتلی وو، غله انکار کاوو او ډېرو مسلمانانو له ده دفاع کوله او هغه ئې بریځ ګاڼو، ځینو د دې لپاره له ده دفاع کوله چې خپله قبیله له بدنامۍ وژغوري، ځینو د دې لپاره دی بریځ ګڼلو چې دی مسلمان وو او هغه یهودي، خو له تحقیق پرته ئې له ده دفاع کوله، یوه او بل ته به ورتلل، دلته، هلته به مجلسونه او مشورې کېدې چې قضیه د غله په ګټه حل و فصل شي، نژدې وه د یهودي په خلاف فیصله وشي، چې دا آیتونه نازل شول، په دې مبارکو آیتونو کې د داسې قضایاوو په اړه پیغمبر علیه السلام او د ده له لارې مسلمانانو ته لاندې مهمې لارښوونې وشوې:

- دا په حقیقت ولاړ کتاب دئ، حق او حقیقت په دې کتاب کې راخلاصه شوی، حق به له دې کتاب پرته په بل ځه او بل ځای کې نه لټوئ.
- الله تعالی دا کتاب د دې لپاره نازل کړی چې د خلکو تر منځ ټول منازعات د دې په رڼا کې او همغسې حل و فصل شي چې الله تعالی تاسو ته درښودلي.
- له خائن به دفاع نه کوئ.
- که داسې غلطي درنه وشوه له الله ژر بخښنه وغواړئ.
- د هغه چا په ګټه مجادله مه کوئ چې له ځان سره خیانت کوي؛ الله ګنهګار او خائن نه خوښوي؛ نو تاسو به هم ترې کرکه لرئ.
- په کار دا ده چې د ګناه په هر کار کې تر خلکو د مخه له الله تعالی شرم او حیاء وکړئ، د دې پر ځای چې له خلکو ئې پټوئ له الله ئې په نه کولو سره پټ کړئ.
- د ناروا کارونو لپاره جرګې او مرکې مه کوئ او له داسې ویناوو ډډه وکړئ چې الله ئې نه خوښوي.
- نه مو وینا له الله پټه پاته کېږي او نه مو عمل؛ هم مو وینا اوري او هم مو د عمل څارنه کوي.

- ستاسو دا ناحقه دفاع دوی ته هیڅ ګټه نه شي رسولی؛ که په دنیا کې څوك ترې دفاع وکړي؛ د قیامت په ورځ به ئې مدافع او وکیل څوك وي؟

وَمَن يَعۡمَلۡ سُوٓءًا أَوۡ يَظۡلِمۡ نَفۡسَهُۥ ثُمَّ يَسۡتَغۡفِرِ ٱللَّهَ يَجِدِ ٱللَّهَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا
١١٠ وَمَن يَكۡسِبۡ إِثۡمٗا فَإِنَّمَا يَكۡسِبُهُۥ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا
حَكِيمٗا ١١١ وَمَن يَكۡسِبۡ خَطِيٓـَٔةً أَوۡ إِثۡمٗا ثُمَّ يَرۡمِ بِهِۦ بَرِيٓـٔٗا فَقَدِ ٱحۡتَمَلَ
بُهۡتَٰنٗا وَإِثۡمٗا مُّبِينٗا ١١٢

[١١٠]- او چا چي کومه ګناه وکړه او يا ئې پر خپل ځان ظلم وکړ؛ بيا ئې له الله بخښنه وغوښته؛ الله به مهربان بخښونکی ومومي. [١١١]- او څوك چي د ګناه کار کوي نو پر خپل ځان ئې کوي او الله باحکمت پوه دئ. [١١٢]- او څوك چي کومه خطاء يا ګناه وکړي او بيا کوم پاك کس پرې تورن کړي؛ نو ځرګند بهتان او ګناه ئې پر خپلو اوږو ايښې.

(١١٠-١١٢)- د دې آيتونو مهمي لارښووني دا دي:

- که له ګناه وروسته توبه وکړئ او له الله بخښنه وغواړئ؛ نو الله به مهربان بخښونکی ومومئ.
- د ګناه بدي پايلي تر هر چا د مخه په خپله ګنهګار ته ورګرځي.
- څوك چي په خطاء سره يا عمداً ګناه وکړي او بيا کوم پاك لمنی انسان پرې تورن کړي؛ نو د يوه ځرګند بهتان او يوې ښکاره ګناه پېټی ئې پر خپلو اوږو ايښی.

وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكَ وَرَحۡمَتُهُۥ لَهَمَّت طَّآئِفَةٞ مِّنۡهُمۡ أَن يُضِلُّوكَ وَمَا
يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡۖ وَمَا يَضُرُّونَكَ مِن شَيۡءٖۚ وَأَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ
وَٱلۡحِكۡمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمۡ تَكُن تَعۡلَمُۚ وَكَانَ فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكَ عَظِيمٗا ١١٣

[١١٣]- او که پر تا د الله فضل او د ده رحمت نه وی نو د دوی يوې ډلې غوښتل چي تا تېرباسي؛ له ځان پرته بل څوك نه تېرباسي او د هيڅ څه تاوان نه شي دررسولی او الله خو پر تا دا کتاب او حکمت نازل کړ او هغه څه ئې دروښودل چي نه پرې پوهېدې او پر تا د الله ډېر ستر فضل دئ.

(۱۱۳)- د دوی يوې ډلې غوښتل چې تا تېرباسي، د خائن په گټه پرېکړه تر لاسه کړي؛ د دوی استدلال او الحاح هومره وه چې نژدې وه تا تېرباسي؛ الله په خپل فضل او رحمت سره ته ترې وساتلې، تا ته ئې هيڅ تاوان نه شو رسولی؛ دا ځکه چې ستا هره پرېکړه به د هغو دلائلو له مخې وه چې درته وړاندې شوي وو، تا خو به د الله د کتاب له مخې او د هغې پوهې او حکمت له مخې پرېکړه کوله چې الله ستا په برخه کړې، په څه چې ته نن پوهېږې دا خو ټول الله درښودلي، له دې د مخه خو ته په دغو خبرو نه پوهېدې؛ الله تعالی پر تا ډېر ستر فضل کړی.

لَّا خَيۡرَ فِي كَثِيرٖ مِّن نَّجۡوَىٰهُمۡ إِلَّا مَنۡ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوۡ مَعۡرُوفٍ أَوۡ إِصۡلَٰحِۭ بَيۡنَ ٱلنَّاسِۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِ فَسَوۡفَ نُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمٗا ١١٤

[۱۱٤]- د دوی په ډېرو غوږو په غوږ کېدو کې څه خير نشته؛ مگر دا چې څوك د صدقې، کوم معروف کار او د خلکو تر منځ د روغې جوړې سپارښتنه وکړي او څوك چې د الله د رضاء په لټه کې دا کار وکړي ژر به ستر اجر ورکړو.

(۱۱٤)- نجوی او غوږ په غوږ کېدل اکثراً په بد نيت او د هغو خبرو په اړه وي چې په ښکاره کولو ئې انسان شرمېږي؛ د همدې لپاره ويل شوي چې د دوی په ډېرو غوږ په غوږ کېدو کې څه خير نشته؛ خو که دا په پټه چا ته د کومې صدقې ورکولو په غرض وي، يا د کوم ښه کار لپاره او يا د دوو کسانو تر منځ د روغې جوړې په نيت؛ نو دا نه يوازې دا چې جائز ده بلکې د الله د رضاء لپاره دا کار کول د ستر اجر وړ دئ.

وَمَن يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ ٱلۡهُدَىٰ وَيَتَّبِعۡ غَيۡرَ سَبِيلِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصۡلِهِۦ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ١١٥

[۱۱۵]- او څوك چې له پيغمبر سره له هغه وروسته مخالفت وکړي چې سمه لار ورته څرگنده شوې او له مؤمنانو پرته د بلې لارې متابعت وکړي؛ همغه لورې ته به ئې مخامخ کړو چې ده ورته مخ اړولی او په دوزخ کې به ئې ننباسو؛ او د ورگرځېدو څومره بد ځای.

(۱۱۵)- چا ته چې سمه لار او حقيقت معلوم شي خو سره له دې له پيغمبر عليه السلام او د هغه له پرېکړې او سنت سره مخالفت وکړي، د مؤمنانو لار پرېږدي او جاهليت او د

هغه ناروا تعصباتو ته مخه کړي؛ نو الله تعالی به ئې په همغه لوري تلو ته پرېږدي چې په خپله ئې غوره کړی؛ د دوزخ بد مېشت ځای به ئې په برخه شي.

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ﴿١١٦﴾

[١١٦]- يقيناً چې الله دا نه بخښي چې له ده سره شرك وشي او له دې راکوز هر څه هغه چا ته بخښي چې وئې غواړي او چا چې له الله سره شرك وکړ؛ نو يقيناً چې په ژور ضلالت سره بې لاري شوی.

(١١٦)- الله تعالی شرك نه بخښي، له شرك رالاندې گناه بخښي خو هغه چا ته چې دی ئې د دې بخښني وړ وگڼي؛ او شرك تر ټولوستره گمراهي ده.

إِن يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ إِنَٰثٗا وَإِن يَدۡعُونَ إِلَّا شَيۡطَٰنٗا مَّرِيدٗا ﴿١١٧﴾ لَّعَنَهُ ٱللَّهُۘ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنۡ عِبَادِكَ نَصِيبٗا مَّفۡرُوضٗا ﴿١١٨﴾ وَلَأُضِلَّنَّهُمۡ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمۡ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُبَتِّكُنَّ ءَاذَانَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلۡقَ ٱللَّهِۚ وَمَن يَتَّخِذِ ٱلشَّيۡطَٰنَ وَلِيّٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ فَقَدۡ خَسِرَ خُسۡرَانٗا مُّبِينٗا ﴿١١٩﴾ يَعِدُهُمۡ وَيُمَنِّيهِمۡۖ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿١٢٠﴾ أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُ وَلَا يَجِدُونَ عَنۡهَا مَحِيصٗا ﴿١٢١﴾

[١١٧]- دوی خو له الله پرته يوازې د ښځو عبادت کوي او له سرکښ شيطان پرته د بل څه عبادت نه کوي. [١١٨]- همغه چې الله رټلی او ويلي ئې دي: هرومرو به ستا له بندگانو ټاکلې برخه تر لاسه کوم. [١١٩]- او حتماً به ئې تېرباسم او حتماً به هيلې په کې راولاړوم او خامخا به ورته امر کوم نو د څاروو غوږونه به غوڅوي او هرومرو به ئې گمارم نو د الله د مخلوق جوړښت به بدلوي او څوك چې له الله پرته شيطان دوست ونيسي نو په ښکاره تاوان سره ئې تاوان وکړ. [١٢٠]- وعدې ورسره کوي او هيلې په کې راولاړوي او شيطان خو له تېرايستو پرته څه وعده نه ورسره کوي. [١٢١]- دوی همغه دي چې مېشت ځای ئې دوزخ دئ او له هغه به د خلاصون چاره

نه مومي.

(۱۱۷-۱۲۱)- د دې مبارکو آيتونو ستر ستر ارشادات دا دي:

- څوك چي له الله پرته بل ته د دعاء لاسونه اوچتوي، خپل حاجات وروړاندي کوي او د هغه عبادت کوي؛ په حقيقت کي ډېر کمزوري معبودان مرستي ته وربلي. ډېريو مشرکانو د ښځو په بڼه کي ځان ته معبودان جوړ کړي او عبادت ئې کوي، دوی يوازي د ښځو عبادت کوي، جنسي بې لاريتوب ئې هغه ځای ته ورسوي چي پر زړه او ذهن ئې بې مهاره جنسي تمايلات مسلط شي، ټول ژوند ئې د دې تر اغېز لاندي راشي، هر څه له دغي زاويې ګوري، د جنسي هوس بنده شي، هم ئې دوستي د دې لپاره وي او هم ئې دښمني، له دې پرته بله مينه نه پېژني، شراب دا اور لا تېز کړي، د ښځو او نارينه وو آزاد اختلاط او بربنډتوب مزيد تېل پرې توی کړي، مسته موسيقي، رقص او نڅا او د عشق او شهوت په ستاينې کي سندري لا زيات ورته لمن ووهي، هم ئې بتان او هم ئې مجسمي د ښځو انځورونه شي . که تاسو دا اوس غربي ټولني ته لږ په دقت سره ځير شئ نو د قرآن د دغه آيت مصداق به په خپلو سترګو وګورئ، هري خوا ته به دي د ښځو مجسمي ترسترګو شي، هم په معبد کي او هم په مغازه کي، هم د کشيش په وينا کي او هم د ټلويزيون په تجارتي اعلاناتو کي، هلته د تجارت لپاره ښځه او د دې ښايست استعمالېږي، هلته لوړو مراتبو ته رسېدل د ښځو له لاري وي، هلته مور او پلار هېر شوي، د دې ميني ټغر ټول شوی، ځای ئې جنسي هوس او تعلق ته خالي شوی، له نکاح او د کورنۍ له جوړولو ډډه کېږي؛ دا ځکه چي نکاح د آزاد جنسي تعلقاتو مانع کېږي، له اولاد سره د ښځي او مېړه علاقه او مينه نشته او دا د دې لپاره چي اولاد ساتل او روزل زحمت غواړي او د جنسي تلذذ او خوند اخيستو په وړاندي خنډ کېږي، مېړه او ښځه د دې پر ځای چي اولاد ولري؛ سپی او پشۍ ساتي، هلته به تاسو له کشيشانو هم واورئ چي مريم عليها السلام په زنا تورنوي او په دې خبري خاص تأکيد کوي او وايي چي هغې توبه وکړه او بيا ئې دا مقام تر لاسه کړ او دا د دې لپاره چي د يوه زناکار ولس معبود هم بايد د زنا سمبول وي، هلته به تاسو د فرويد په څېر د دوی له فيلسوفانو هم واورئ چي وايي: د انسان د ټولو کړنو، اړيکو او روابطو منشأ جنسي تمايل دئ، د پلار مينه له لور سره او د مور مينه له زوی سره له دغه تمايل راولاړېږي، هم د انسان د ويښې ټول فعاليتونه او هم ئې د خوب خوبونه جنسي منشأ لري.

دوی په اصل کي د شيطان عبادت کوي، شيطان غولولي، څوك ئې دې ته هڅولی چي د مريمې عليها السلام مجسمه جوړه کړي او څوك ئې دې ته چي د مناة، نائلة او عزیٰ په

ځېر ښځينه بتان معبودان ونيسي او په وړاندې ئې ګونډه شي.

دوى د هغه رټل شوي شيطان په تحريك د شرك مرتكب شوي چي په څو خبرو ئې لوړه كړې:

- د الله د بندګانو يوه برخه به هرو مرو په دام كې غورځوم.
- له سمي لاري به ئې تېرباسم.
- په كږو لارو تګ به ورته ښايسته كوم، داسي چي له هغې ډېري هيلي او طمعي ولري او رنګين رنګين خوبونه ورته وګوري.
- په دې به ئې ګمارم چي د خپلو بتانو لپاره څاروي په نښه كړي او غوږونه ئې ورغوڅ كړي.
- او په دې به ئې ګمارم چي الهي سنن بدل كړي، د فطرت خلاف ګام واخلي، د الله د مخلوق په جوړښت كې تغيير راولي.

په دغو څو لنډو جملو كې د شيطان ټول هغه خبيث كارونه په ګوته شوي چي په خپلو ملګرو ئې تر سره كوي. د شيطان ملګرتيا او ټول هغه كارونه كول چي د شيطان د حزب غړي ئې بايد تر سره كړي، له سمي لاري انحراف او كږېدل او په كږو لارو كې خپلو موخو ته د رسېدو هڅه كول، شرك، د دروغجن معبود لپاره قرباني، له فطرت سره جنګ او د هغو الهي سننو د بدلولو هڅه چي د ټولو مخلوقاتو په پيدايښت او جوړښت كې مراعات شوي. دا چي ګورئ څوك سالم او پاكيزه جنسي تعلقات پرېږدي او ناولې لاري او غير فطري طريقې غوره كوي، دا د همجنسانو تر منځ غير فطري جنسي تعلقات، د خپل فطرت خلاف هغه مخدره مواد استعمالول چي بې سده ئې كړي او د خپلو حواسو اداره كول له لاسه وركړي، دا چي نارينه غواړي ځان د ښځي په څېر كړي او ښځه ځان د نارينه په څېر، په لباس كې هم او په حركاتو او سكناتو كې هم، دا چي نارينه ږيره خريي، هره ورځ د خپل مخ د پوستكي په مليونونو حجرات ريبي، لنډه موده وروسته ئې مخ ګونځي ګونځي شي، د زنې لاندي غوښه ئې راوځړېږي، دا همغه له فطرت سره جنګ دئ چي شيطان خپل ملګري پرې ګماري، دا چي ګورئ څوك د دروغجنو معبودانو لپاره په انسان، حيوان او حتى په خپل ځان ظلم كوي، څوك د څاروي غوږ غوڅوي، څوك ځان وهي، څوك رياضتونه پر ځان مني، څوك رهبانيت ته مخه كوي او څوك له نكاح ډډه كوي؛ دا هر يو په حقيقت كې د شيطان هغه قسمونه رښتيني كوي.

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٍ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا

ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٗاۚ وَمَنۡ أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ قِيلٗا ﴿١٢٢﴾

[۱۲۲]- او هغه چې ایمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي؛ حتماً به ئې داسې جنتونو ته داخل کړو چې ترې لاندې ویالې بهېږي، تلپاته په هغه کې تر ابده، د الله رښتیني وعده او تر الله به څوك په وینا کې زیات رښتینی وي.

(۱۲۲)- د مشرکانو او د شیطان د ملګرو په مقابل کې هغه کسان دي چې ایمان لري او عمل ئې صالح دئ، د دوی اجر جنت دئ، په هغه کې تلپاته ژوند او دا د الله تعالی رښتینې وعده ده.

لَّيۡسَ بِأَمَانِيِّكُمۡ وَلَآ أَمَانِيِّ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِۗ مَن يَعۡمَلۡ سُوٓءٗا يُجۡزَ بِهِۦ وَلَا يَجِدۡ لَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ﴿١٢٣﴾

[۱۲۳]- نه ستاسو په هیلو پورې مربوطه ده او نه د اهل کتاب په هیلو؛ څوك چې بد کار وکړي په هغه به مجازات شي او ځان ته به له الله پرته نه کوم دوست ومومي او نه کوم مرستندوی.

(۱۲۳)- دلته د هیلو او تمنیاتو له مخې پرېکړه نه کېږي، له ډېرو سره کاذبې هیلې وي، ځان ورته تر ټولو غوره برېښي، جنت خپل مسلم حق ګڼي، ګمان ئې دا وي چې یوازې دی او د ده د مسلك پلویان به جنت ته درومي، خو کېدی شي دا هسې په شیطاني تلقیناتو ولاړ کاذب تمنیات وي، شیطان د دې لوړه کړې چې دغسې هیلې به په انسانانو کې راولاړوم. خبره دا ده چې ګنهګار به هرومرو خپله سزا ګوري، هیڅوك ئې له دې سزا نه شي ژغورلی، له الله پرته چې له هر چا طمع او هیله لري چې د ګناه له سزا به د هغه په لطف غورل کېږي؛ اشتباه ئې کړې؛ دا هسې خوشې او واهي هیله ده.

وَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ نَقِيرٗا ﴿١٢٤﴾

[۱۲٤]- او څوك چې صالح کارونه وکړي؛ له نارینه وو یا ښځینه وو؛ او هغه مؤمن وي؛ نو دوی به جنت ته ننوځي او د نقیر (د خرما د زړي ټاپکي) په اندازه به ظلم پرې ونشي.

(١٢٤)- دلته فیصله د ایمان او صالح عمل له مخې کېږي، د ایمان خاوند او صالح انسان به جنت ته درومي؛ سړی وي که ښځه؛ په الهي عدالت کې پر هیڅا ظلم نه کېږي. تاسو چې جنت او دوزخ ته د تلو په اړه کوم معیارونه وضع کړي او د هغې له مخې ځان د جنت مستحق ګڼئ او نور غیر مستحق؛ دا ظالمانه دي او د عدالت خلاف.

---

وَمَنۡ أَحۡسَنُ دِينٗا مِّمَّنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ وَٱتَّبَعَ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۗ وَٱتَّخَذَ ٱللَّهُ إِبۡرَٰهِيمَ خَلِيلٗا ١٢٥ وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٖ مُّحِيطٗا ١٢٦

[١٢٥]- او تر هغه چا څوك په دین کې غوره کېدی شي چې الله ته ئې ځان تسلیم کړی، نېك دئ او د حنیف ابراهیم د دین متابعت ئې کړی؛ او الله خو ابراهیم خپل خاص دوست ونیوو. [١٢٦]- او څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکې کې دي؛ ټول د الله دي او الله پر هر څه احاطه کوونکی دئ.

---

(١٢٥-١٢٦)- غوره او واقعي دیندار هغه دئ چې الله ته تسلیم وي، عمل ئې نېك وي او د ابراهیم دین ته منقاد وي؛ هغه ابراهیم چې حقپال وو، له باطل بې زار، حق ته مائل او د الله دوست. هغه الله چې د زمکې او آسمانونو هر څه د ده دي او پر هر څه ئې احاطه کړې.

---

وَيَسۡتَفۡتُونَكَ فِي ٱلنِّسَآءِۖ قُلِ ٱللَّهُ يُفۡتِيكُمۡ فِيهِنَّ وَمَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ فِي يَتَٰمَى ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِي لَا تُؤۡتُونَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرۡغَبُونَ أَن تَنكِحُوهُنَّ وَٱلۡمُسۡتَضۡعَفِينَ مِنَ ٱلۡوِلۡدَٰنِ وَأَن تَقُومُواْ لِلۡيَتَٰمَىٰ بِٱلۡقِسۡطِۚ وَمَا تَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِهِۦ عَلِيمٗا ١٢٧

[١٢٧]- او د ښځو په اړه له تا ځواب او فتوی غواړي؛ ووایه: الله د دوی په اړه هم ځواب درکوي او د هغه څه په اړه هم چې په کتاب کې د هغو ښځینه یتیمانو په اړه درباندې لوستل کېږي چې ټاکلی مهر ئې نه ورکوئ او غواړئ په نکاح ئې کړئ او د کمزورو هلکانو په اړه او دا چې د یتیمانو په اړه په عدل قائم اوسئ او د خیر هر کار چې وکړئ نو الله ورباندې ښه پوه دئ.

(۱۲۷)- د ښځو او يتيمانو د حقوقو په اړه تأکيداتو صحابه په دې انديښنو کې اچول چې خدای مه کړه د خپلو ديني مسئوليتونو په اداء کولو کې پاته رانشي او تېرى ترې ونشي، له پيغمبر عليه السلام ئې پوښتل چې د دوى په اړه له څه ډډه وکړو او څه وکړو چې الله راضي شي؟ په دې مبارك آيت کې د دوى پوښتنو ته دوه مختصر خو ډېر جامع ځوابونه ويل شوي:

- عدالت وکړئ.
- د خير له هيڅ كاره ډډه مه کوئ؛ ځکه د خير هر کار چې وکړئ نو الله پرې پوهېږي.

وَإِنِ ٱمۡرَأَةٌ خَافَتۡ مِنۢ بَعۡلِهَا نُشُوزًا أَوۡ إِعۡرَاضٗا فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَآ أَن يُصۡلِحَا بَيۡنَهُمَا صُلۡحٗاۚ وَٱلصُّلۡحُ خَيۡرٞۗ وَأُحۡضِرَتِ ٱلۡأَنفُسُ ٱلشُّحَّۚ وَإِن تُحۡسِنُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٗا ۝١٢٨

[۱۲۸]- او که کومه ښځه د خپل مېړه له کوم بد خويي يا بې اعتنائي ووېرېده؛ نو په دې کې څه گناه پرې نشته چې په خپلو کې کومه صلح وکړي؛ او دا صلح غوره ده او نفسونه خو د بخل او حرص سر ته حاضر ودرول شوي او که احسان او تقوى وکړئ نو الله پر هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

(۱۲۸)- که ښځې دا احساس کړه چې مېړه ورسره ښه سلوك نه کوي او د اعتناء او توجه وړ ئې نه گڼې؛ نو دا حق لري او کولى شي خپل حق وغواړي، داسې څه وکړي چې په روغې جوړې منتج شي، په خپله له مېړه سره خبره وکړي او يا د خپلوانو له لارې دا کار وکړي. دې کار ته به د گناه په سترگه نه گوري؛ انسان بخيل او حريص دئ، کله ئې بخل غلط کار ته وهڅوي او کله حرص، که ئې بل څوك خپل عيب ته متوجه نه کړي؛ نو په خپله نه متوجه کېږي، د ده په نفس کې دا د بخل او حرص خصلتونه ده ته غلط کارونه ښايسته کړي وي؛ په کار خو دا وه چې د ښځې او مېړه تر منځ د بخل او حرص پر ځاى احسان، له خپل حق بل ته تېرېدل او له هر راز تېري او تجاوز ځان ساتنه وى او دا په پام کې نيول شوي وى چې الله زموږ عملونه څاري او زموږ له هر څه خبر دئ. د گناه او تجاوز يوه وجه دا وي چې دغه احساس په انسان کې کمزورى شي. نو ځکه الله تعالى وفرمايل چې پام کوئ الله پر هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

وَلَن تَسۡتَطِيعُوٓاْ أَن تَعۡدِلُواْ بَيۡنَ ٱلنِّسَآءِ وَلَوۡ حَرَصۡتُمۡۖ فَلَا تَمِيلُواْ كُلَّ ٱلۡمَيۡلِ فَتَذَرُوهَا كَٱلۡمُعَلَّقَةِۚ وَإِن تُصۡلِحُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ١٢٩

[۱۲۹]- او هیڅکله به په دې ونه توانېږئ چې د ښځو تر منځ عدالت وکړئ که څه هم ډېره تلوسه او حرص ئې وکړئ؛ نو په ټول میلان سره یوې خوا ته داسې تمایل مه کوئ چې هغه د ځوړندې په څېر پرېږدئ او که صلح او تقوی وکړئ نو الله مهربان بخښونکی دئ.

(۱۲۹)- انسان ته دا ممکنه نه ده چې کامل عدالت مراعات کړي؛ داسې چې له یوه او بل سره ئې د زړه مینه هم برابره وي، دا نه د ښځو تر منځ ممکنه ده او نه د اولاد تر منځ، دا د ده له وس وتلې خبره ده، الله تعالی ئې په دې نه نیسي، له ده سره به د هغه څه محاسبه کېږي چې په وس کې ئې وي؛ له ټولو سره به ئې معامله ورته او پر عدالت ولاړه وي، د چا حق به نه تلف کوي، د یوه حق به د بل لپاره ترپښو نه لاندې کوي، داسې نه چې له یوې هومره بلې ته پام او توجه واړوي چې هغه ئې کاملاً له پامه غورځولې وي، نه د ښځې په سترګه ورته ګوري او نه طلاق ورکوي.

په داسې حالت کې هم د صلحې او تقوی سپارښتنه شوې. د روغې جوړې له لارې مشکل حل کړئ او یو د بل پر حقوقو له تېرې ځان وساتئ.

وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغۡنِ ٱللَّهُ كُلّٗا مِّن سَعَتِهِۦۚ وَكَانَ ٱللَّهُ وَٰسِعًا حَكِيمٗا ١٣٠

[۱۳۰]- او که سره بېل شي؛ الله به ئې هر یو په خپل پراخ رزق سره مستغني کړي او الله باحکمت د وسعت خاوند دئ.

(۱۳۰)- که لانجه یو له بله بېلېدو ته ورسېږي؛ باید په غوره توګه سره بېل شي، د رزق او روزي له وېرې دې دغه ستونزمن ګډ ژوند ته ادامه نه ورکوي، الله به ئې د رزق او روزي بله مناسبه چاره وکړي. دلته د الله دوه صفتونه یاد شوي چې له دوو مطالبو سره تعلق لري: الله حکیم دئ؛ په ټولو احکامو کې ئې حکمتونه مضمر دي. الله د وسعت خاوند دئ؛ که دلته مو د رزق ذمه وار له لاسه ورکړ؛ الله به ئې له خپلې سترې خزانې بله چاره وکړي.

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَلَقَدۡ وَصَّيۡنَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَإِيَّاكُمۡ أَنِ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ وَإِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا

فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَنِيًّا حَمِيدًا ﴿١٣١﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿١٣٢﴾ إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ أَيُّهَا ٱلنَّاسُ وَيَأۡتِ بِـَٔاخَرِينَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ قَدِيرًا ﴿١٣٣﴾

[١٣١]- او په آسمانونو کې هر څه او په زمکې کې هر څه د الله دي؛ او يقيناً چې موږ هغو ته هم د دې حکم کړی وو چې تر تاسو مخکې کتاب ورکړی شوی او تاسو ته هم؛ چې له الله ووېرېږئ او که کفر وکړئ نو په آسمانونو کې هر څه او په زمکې کې هر څه د الله دي او الله ستايلی غني دئ. [١٣٢]- په آسمانونو کې هر څه او په زمکې کې هر څه د الله دي او الله د وکيل په توګه کافي دئ. [١٣٣]- که وغواړي نو تاسو به له منځه يوسي؛ اې خلکو! او نور به راولي او الله خو پر دې ښه قادر دئ.

(١٣١-١٣٣)- د الله په ټولو رالېږلو کتابونو کې څو اساسي خبرې په تأکيد سره راغلې:

- له الله تعالی ووېرېږئ.
- د زمکې او آسمانونو هر څه د الله دي.
- ستاسو انکار او کفر د ده په واکمنۍ کې هيڅ کمی نه راولي. په دې سره هغه ته نه بلکې خپل ځان ته تاوان رسوئ.
- هغه ستايلی دئ، په خپل ذات، صفات او افعالو کې هم او په خپلو احکامو او اوامرو کې هم، هر حکم ئې حکيمانه دئ او له هرعيب او نقص منزه.
- هغه غني او بې نياز دئ؛ هيچا ته په هيڅ څه کې اړ او محتاج نه دئ.
- تاسو ته هم مکرر وايي چې د زمکې او آسمانونو هر څه د الله دي او هغه د وکيل په توګه کافي دئ.

مَّن كَانَ يُرِيدُ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا فَعِندَ ٱللَّهِ ثَوَابُ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ سَمِيعَۢا بَصِيرٗا ﴿١٣٤﴾

[١٣٤]- څوک چې د دنيا بدله غواړي نو د دنيا او آخرت بدلې خو دواړه له الله سره دي او الله پوه اورېدونکی دئ.

(١٣٤)- ځيني خلك يوازې د خپلې دنيا په فکر کې وي، د خپل هر عمل د نيوي ثمره او نتيجه لټوي، اهداف او مقاصد ئې په دنيوي اغراضو کې راخلاصه شوي وي او هغو ته د

رسېدو لپاره کړې او ناروا لاري غوره کوي؛ خو که دوی په الله ایمان راوړی وی او همغه لار ئې غوره کړې وی چې الله ورته ښودلې نو نه یوازې دا چې د خپلو عملونو دنیوي ثمره او نتیجه به ئې مکمله تر لاسه کړې وه بلکې د آخرت غوره بدله به ئې هم په برخه شوې وه.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَوِ ٱلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ ۚ إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا فَٱللَّهُ أَوْلَىٰ بِهِمَا ۖ فَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلْهَوَىٰٓ أَن تَعْدِلُواْ ۚ وَإِن تَلْوُۥٓاْ أَوْ تُعْرِضُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٣٥﴾

[١٣٥]- اې مؤمنانو! پر عدل قائم اوسئ، د الله لپاره شهادت ورکوونکي، که څه هم پر خپل ځان مو وي یا پر مور، پلار او یا خپلوانو؛ که غني وي یا فقیر؛ نو الله ترې اولی دئ؛ نو د عدول کولو لپاره د هوی او هوس متابعت مه کوئ، که خپلې ژبې تاو راتاو کړئ یا ډډه وکړئ نو یقیناً چې الله پر هغه څه ښه خبر دی چې تاسو ئې کوئ.

(١٣٥)- دلته د عدل او شهادت په اړه څو داسې اساسي او مهمې لارښووني شوې چې که ووایو یوازې همدا د عدالت قائمولو لپاره کافي دي نو مبالغه مو نه ده کړې:

- په عدالت ښه قائم اوسئ؛ مضبوط او دقیق ودرېدونکي.
- په ټولنې کې ستاسو حضور باید د هغو شهادت ورکوونکو حضور وي چې تل د الله لپاره د حق مدافع شهادت ورکونکي وي.
- که څه هم دا شهادت مو د خپل ځان په خلاف او ضرر وي یا د مور، پلار او یا د خپلوانو په خلاف.
- د چا فقر او غناء باید ستاسو شهادت متأثره نه کړي. نه به له چا د کومې طمعې لپاره له حق شهادت ورکولو ډډه کوئ او نه پر چا د زړه سوي او ترحم لپاره.
- د هوی او هوس بندګي مه کوئ او له عدل او حق مه کږېږئ.
- مجامله او د حق په ویلو کې زړه نازړه کېدل پرېږدئ، خپلې ژبې داسې مه تاو راتاووئ چې په څرګنده او ښکاره او واضح الفاظو د حق له بیانولو ځان تېر کړئ.
- د شهادت له ورکولو ډډه مه کوئ؛ نه دې وېره تاسو د شهادت له ورکولو منع کړي او نه طمع.
- الله تر هر چا اولی دئ، په خپلو شهادتونو کې الله ته پر هر چا ترجیح ورکړئ، د هیچا لپاره داسې خبره مه کوئ چې الله ناراضه شي، که مو د غني یا فقیر مور، پلار او خپلوانو

لپاره د رښتيني شهادت له ورکولو ډډه وکړه معنى ئې دا ده چې تاسو نورو ته پر الله ترجيح ورکړه. که څه هم د آيت د دې برخې بله ترجمه داسې شوې: الله پر دوى اولىٰ دئ، يعني الله پر دوى تر هر چا زيات مهربان دئ، د شهادت په ارتباط چې ئې کومه لارښوونه کړې ده په هغه کې د دوى خير او مصلحت هم مضمر دئ. خو په مخکينۍ ترجمه کې ( الله تر دوى اولىٰ دئ) په دې کې (اولىٰ) په هغه معنى اخيستل شوى چې په لاندې آيتونو کې راغلى:

ٱلنَّبِيُّ أَوۡلَىٰ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ مِنۡ أَنفُسِهِمۡۖ وَأَزۡوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمۡۗ وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ إِلَّآ أَن تَفۡعَلُوٓاْ إِلَىٰٓ أَوۡلِيَآئِكُم مَّعۡرُوفٗاۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَسۡطُورٗا ٦ ... الاحزاب

مؤمنانو ته دا نبي د دوى تر خپلو ځانونو لومړى توب لري؛ او مېرمنې ئې د دوى ميندې دي، او د الله په کتاب کې مؤمن او مهاجر خپلوان ځيني تر ځينو نورو لومړى توب لري؛ مګر دا چې له خپلوانو سره مو په معروفه توګه کومه ښېګڼه وکړئ؛ همدا په دې کتاب کې ليکل شوي.

دې ته مو بايد پام وي چې (شهادت) يوازې د قاضي په وړاندې د چا په اړه شهادت ورکولو کې نه راخلاصه کېږي، دا ئې يوازې يو مورد دئ، د شهادت مجال او ميدان ډېر پراخ او وسيع دئ، د انسان ټول ژوند احتواء کوي.

---

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلَّذِي نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ مِن قَبۡلُۚ وَمَن يَكۡفُرۡ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ١٣٦

[١٣٦]- اې مؤمنانو! پر الله او پيغمبر ئې او پر هغه کتاب چې پر خپل پيغمبر ئې نازل کړى او پر هغه کتاب چې مخکې ئې نازل کړى؛ ايمان راوړئ؛ او څوک چې پر الله، پر ملائکو ئې، پر کتابونو ئې، پر پيغمبرانو ئې او د آخرت پر ورځې کافر شي؛ نو بې شکه چې په ژورې تېروتنې سره تېروتى دئ.

---

(١٣٦)- دلته له مؤمنانو مراد هغه کسان دي چې ځان ته مؤمن وايي؛ دوى ته ويل شوي چې په واقعي معنى ايمان راوړئ.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ٱزْدَادُواْ كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًۢا ﴿١٣٧﴾ بَشِّرِ ٱلْمُنَٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٣٨﴾

[۱۳۷]- یقیناً هغه چې ایمان ئې راوړ، بیا کافر شول، بیا ئې ایمان راوړ، بیا ئې کفر وکړ، بیا ئې په کفر کې زیاتوالی وکړ؛ نو دوی ته خو نه الله بخښنه کوي او نه ئې په سمه لار هدایت کوي. [۱۳۸]- دغو منافقینو ته د دې زېری ورکړه چې دوی ته دردوونکی عذاب دئ.

---

(۱۳۷-۱۳۸)- منافقین له الهی مغفرت او بخښنې محروم دي او د هدایت دروازه ئې پر مخ تړل شوې ده. دوی چې له خپلو منافقتونو کومه طمع او هیله لري او خپلو ناولو غرضونو ته د رسېدو لپاره ئې دا د نفاق لار غوره کړې او گمان کوي په دې سره به خپلو موخو ته ورسېږي؛ دوی ته د خپل انتظار خلاف د دردناك عذاب زېری ورکړه.

---

ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ ٱلْعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ﴿١٣٩﴾

[۱۳۹]- همغو ته چې له مؤمنانو پرته کافران په دوستۍ نیسي؛ آیا د دوی څوا ته عزت لټوي؟ نو عزت خو ټول د الله دئ.

---

(۱۳۹)- دوی له کافرانو سره دوستي کوي، گمان او انتظار ئې دا دئ چې د کافرانو تر څنگ به عزت تر لاسه کړي؛ په دې نه پوهېږي چې په منافقت او دښمن ته په تسلیمېدو سره خپل موجود عزت او اعتبار هم له لاسه ورکوي، په دې نه پوهېږي چې د عزت پرېکړه الله کوي، عزت له ایمان پرته له بلې لارې نه شي تر لاسه کېدی، یوازې د الله مؤمن او صالح بنده د واقعي عزت خاوند دئ، منافق د هر چا له نظره سپك، ذلیل او بې اعتباره وي، هر څوك ئې یوه بې اعتباره وسله گڼي، هیڅوك د یوه مطمئن دوست په سترگه ورته نه گوري.

له دې آیت معلومېږي چې له کافرانو سره دوستي او ملگرتیا د نفاق نښه ده؛ منافق د عزت په طمع دا کار کوي او هغه وخت ئې کوي چې دښمن ورته قوي او مسلمانان ورته ضعیف معلوم شي.

وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي ٱلْكِتَٰبِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا
وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُواْ مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُواْ فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِۦٓ إِنَّكُمْ إِذًا
مِّثْلُهُمْۗ إِنَّ ٱللَّهَ جَامِعُ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْكَٰفِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا ﴿١٤٠﴾ ٱلَّذِينَ
يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ فَإِن كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ ٱللَّهِ قَالُوٓاْ أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ وَإِن
كَانَ لِلْكَٰفِرِينَ نَصِيبٌ قَالُوٓاْ أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُم مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَۚ
فَٱللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِۗ وَلَن يَجْعَلَ ٱللَّهُ لِلْكَٰفِرِينَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ
سَبِيلًا ﴿١٤١﴾

[١٤٠]- او يقيناً چې په کتاب کې پر تاسو دا نازل شوي چې کله واورئ د الله له آيتونو انکار کېږي او يا ملنډې پرې وهل کېږي؛ نو تر هغه مه ورسره کښېنئ چې له دې پرته په بله خبره بوخت شي؛ که نه نو تاسو به هم د دوی په څېر وئ؛ يقيناً چې الله په دوزخ کې د ټولو منافقانو او کافرانو راغونډوونکی دئ. [١٤١]- همغه منافقان چې ستاسو په اړه منتظر دي؛ که د الله له لوري مو کوم بری په برخه شوی وي نو وايي: آيا موږ درسره نه وو؟ او که د کافرانو کوم څه په نصيب شوي وي نو وايي: آيا موږ درباندې برلاسي نه وو او له مؤمنانو مو ونه ژغورلئ؟ نو الله به د قيامت په ورځ ستاسو تر منځ پرېکړه کوي او الله به هيڅکله کافرانو ته پر مؤمنانو د برلاسي لاره ونه ټاکي.

(١٤٠-١٤١)- الله تاسو ته امر کړی چې په داسې مجلس کې به نه کښېنئ چې هلته د الله له احکامو او اوامرو انکار کېږي، د الله پر دين ملنډې وهل کېږي، هلته داسې څه روان وي چې له دين د انکار او پر دين له تمسخر او استهزاء سره مترادف وي؛ ځوك چې په دغسې مجلسونو کې برخه اخلي نو د قيامت په ورځ به ئې الله تعالی له دغو کافرانو سره يو ځای حشر کوي.

له کافرانو سره به هغه منافقين يو ځای حشر کېږي چې د مسلمانانو د برياوو په وخت کې د دوی خوا ته راځغلي، له اسلام او مسلمانانو سره د اخلاص او ملګرتيا دعوی کوي او غواړي له دې حالت څه ګټه تر لاسه کړي؛ خو که وضعيت بدل شي او د اسلام دښمنان چېرې برلاسي شي، وضعيت د دښمن په ګټه واوړي؛ نو هغوی ته ورځغلي، له

هغوی سره خپله وفاداري او اخلاص اعلانوي، هغوی ته وایي: موږ له هغو متعصبو او افراطي مسلمانانو نه یو، هسې د خپلې سیمې حاکم وضعیت دې ته اړ کړي وو چې له هغوی سره یو ځای واوسېږو، خواخوږي مو تل له تاسو سره وه، افکار او نظریات مو ستاسو په څېر دي، مترقي او روښان فکره یو، نه مذهبي تعصب لرو او نه قومي، له دواړو کرکه لرو، آزاد فکر لرو، مه مو د مذهبي ډلو په لست کې نیسئ او مه د وطنپالو او ملت پالو په ډله کې، تل تاسو ته منتظر وو، ستاسو بریا مو غوښته او ستاسو په لاس د دغو افراطي عناصرو ماته مو د ټولو کړاوونو د حل یوازینۍ لاره ګڼله!!! که موږ ستاسو ملګري نه وی نو په جګړو کې به مو د دوی په ګټه او ستاسو په خلاف برخه اخیستې وه، په دې ښه توانېدلو؛ خو هیڅکله مو دا کار نه دئ کړی، تل مو د دې هڅه کړې چې ستاسو په ضد د دوی بریدونه شنډ کړو، موږ هم کولی شو غرونو ته وخېژو او د مجاهدینو په خوا کې ستاسو په ضد وجنګېږو، خو هیڅکله مو دا غلطي نه ده کړې؛ برعکس تل مو د دوی مخنیوی کړی، دا خبرې یوازې د مدینې منورې د منافقینو خبرې نه دي؛ د قیامت تر ورځې به ټول منافقین دغه خبرې تکراروي، د مسلمانانو د بریاوو په وخت کې هم او د اسلام د دښمنانو د برلاسي په وخت کې هم. دغه خبرې د روسانو د تېرې په وخت کې دېرو وکړې او همدا خبرې مو د امریکایانو د تېري په وخت کې له ډېرو واورېدې. بې شکه چې قرآن معجزه ده او ویناوې ئې تر قیامت ژوندۍ او نه زړېدونکې.

د دغو منافقینو د نفاق اصلي لاملونه دوه دي:

- په آخرت باور او ایمان نلري، په دې اړه ئې په زړونو کې شك دئ چې الله به د قیامت په ورځ د مؤمنانو، منافقینو او کافرانو په اړه فیصله کوي او هر چا ته به د خپلو عملونو مناسبه سزا ورکوي.
- ګمان کوي چې د دښمن دا موقتي سلطه او بریا به دائمي وي.

الله تعالی د دوی په ځواب کې فرمایي: د قیامت د ورځې محاسبه حتمي ده، د الله سنت دا نه دئ چې کافران به د تل لپاره پر مسلمانو برلاسي وي، دا لار ئې تړلې ده او هغوی ته ئې د داسي برلاسۍ هیڅ ګودر نه دئ پرېښی.

إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمۡ وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ
كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿١٤٢﴾ مُّذَبۡذَبِينَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ
لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِۚ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلٗا ﴿١٤٣﴾

[١٤٢]- بې شکه چې منافقين له الله سره خدعه کوي او هغه ئې هم په خدعه کې اچوونکی دئ او کله چې لمانځه ته پاځي نو لټ پاځي، خلکو ته ځان ښودنه کوي او الله نه يادوي مگر ډېر لږ. [١٤٣]- په همدې کې مذبذب او متردد، نه د دغو په لوري دي او نه د هغو په لوري؛ او الله چې څوك بې لارې کړي هيڅ لار به ورته ونه مومې.

(١٤٢-١٤٣)- دلته د منافق لاندې خصلتونه په گوته شوي:

- له الله سره خدعه کوي، د خپل نفاق او ناوړه عملونو لپاره داسې توجيهات برابروي چې هغه جائز ثابت کړي.
- په لمانځه کې لټ وي او د خپلو ديني وجائبو په تر سره کولو کې سستي کوي.
- رياکار وي، هر کار ئې نورو ته د ځان ښودنې لپاره وي، هيڅ عمل ئې د عقيدې او ايمان په حکم نه وي.
- له الله سره ئې اړيکې سستې وي، ډېر لږ ئې يادوي، هم ئې په ژبه لږ يادوي او هم په خپلو تبصرو او تحليلونو کې لږ د ده نوم په خوله اخلي او هم په خپلو تصميمونو کې ډېر کم په الله حساب کوي.

دې ته بايد متوجه وئ چې له دې آيت او دې ته ورته آيتونو يوازې د بل د تللو او د هغه په اړه د قضاوت کولو لپاره استفاده ونکړئ، بلکه تر دې د مخه خپل ځان د هغه په هينداره کې وگورئ، په خپله بايد له نفاق وېره ولرو او ځان ترې وساتو.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ عَلَيۡكُمۡ سُلۡطَٰنٗا مُّبِينًا ﴿١٤٤﴾

[١٤٤]- اې مؤمنانو! له مؤمنانو علاوه کافران په دوستۍ مه نيسئ؛ آيا دا غواړئ چې الله ته د ځان خلاف څرگند الزام او دليل ورکړئ؟

(١٤٤)- دلته بيا هم خطاب عام دئ خو په ضمن کې ئې د نفاق يوه بله ځانگړتيا ښودل شوې: له دښمن سره دوستي، له کافر سره ملگرتيا، د اسلام او مسلمانانو دښمن ته د دوستۍ لاس اوږدول. څوك چې دا کار وکړي؛ الله ته ئې داسې څرگند دليل مهيا کړی چې د ده په خلاف او د ده د تعذيب لپاره د الهي پرېکړې لپاره کافي دئ.

إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِي ٱلدَّرۡكِ ٱلۡأَسۡفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمۡ نَصِيرًا ﴿١٤٥﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ

تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَٱعۡتَصَمُواْ بِٱللَّهِ وَأَخۡلَصُواْ دِينَهُمۡ لِلَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَسَوۡفَ يُؤۡتِ ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَجۡرًا عَظِيمًا ١٤٦

[١٤٥]- يقيناً چې منافقين به د اور تر ټولو ټيټ تل کې وي او هيڅکله به کوم مرستندوی ورته ونه مومې. [١٤٦]- مګر هغه چې توبه ئې وکړه، صالح شول، له الله سره ئې اړيکې ټينګې کړې او خپل دين ئې الله ته خالص کړ؛ نو دوی له مؤمنانو سره دي او الله به ډېر ژر مؤمنانو ته ستر اجر ورکړي.

(١٤٥-١٤٦)- د منافقينو ځای د جهنم تل دئ، تر ټولو ژوره کنده ئې، تر هر چا لاندې، تر بد کافر او مشرك هم لاندې پرېوتې. له دې معلوموږی شئ چې د الله په نزد څومره منفور دي او اسلام ته ئې خطر څومره زيات او د مسلمانانو څومره بد دښمن.

دوی به يوازې په هغه صورت کې له دې بد عاقبت ژغورل کېږي چې له منافقت لاس واخلي، توبه وکړي، ځان اصلاح کړي، الله ته مخه کړي او خپلې اړيکې ورسره مضبوطې کړي، خپل دين له ناوړو او ناولو باورونو سوچه او خالص کړي. په دې سره به هغه د مؤمنانو په ډله کې شامل شي او د الله ستر اجر به ئې په برخه شي.

په دې آيت کې د واقعي مؤمن او د خالص منافق درې اساسي نښې او ځانګړتياوې په ګوته شوې:

- مؤمن صالح وي او عملونه ئې نېك او منافق بدعمله او په ګناهونو کې غرق.
- د مؤمن اړيکې له الله سره مضبوطې وي او تعلق ئې ټينګ او نه شلېدونکی او د منافق اړيکې سستې او شلېدلې.
- مؤمن مخلص وي او په هر څه کې يوازې د الله دين ته تابع او منقاد او منافق التقاطي او لاابالي وي او د دين هره برخه ئې په ناوړه کړنو او باورونو ککړه.

مَّا يَفۡعَلُ ٱللَّهُ بِعَذَابِكُمۡ إِن شَكَرۡتُمۡ وَءَامَنتُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ شَاكِرًا عَلِيمًا ١٤٧

[١٤٧]- الله به ستاسو په عذابولو څه کوي که شکر وکړئ او ايمان راوړئ؟ او الله خو پوه قدر کوونکی دئ.

(١٤٧)- که څه هم د دې مبارك آيت خطاب عام دئ خو له سياق او سباق ئې معلومېږي چې منافقينو ته متوجه دئ، هغوی ته ويل شوي چې که شکر وکړئ او ايمان راوړئ؛ نو الله به ولې تاسو تعذيبوي، الله خو شاکر دئ او د بنده د ښېګڼو قدر کوي.

دلته له ایمان مخکې د شکر یادونه هم خاص مفهوم افاده کوي؛ او هغه دا چې منافق په اصل کې یو ناسپاس او ناشکر انسان دئ، نه د الله د نعمتونو شکر کوي، نه د مسلمانانو د ښېګڼو او پېرزوینو او نه د ټولو هغو برکاتو چې د اسلام په وجه د ده او د ده د ټولنې په برخه شوي: امنیت، عدالت، ورورګلوي، عزت او سوکالي.

لَّا يُحِبُّ ٱللَّهُ ٱلْجَهْرَ بِٱلسُّوٓءِ مِنَ ٱلْقَوْلِ إِلَّا مَن ظُلِمَ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ سَمِيعًا عَلِيمًا ﴿١٤٨﴾

[١٤٨]- په بدې خبرې خوله پرانیستل د الله نه خوښېږي؛ مګر د هغه چا چې ظلم پرې شوی؛ او الله ښه اورېدونکی دئ.

(١٤٨)- د منافقینو د بحث په ضمن کې د دې مطلب د راتلو معنی دا ده چې نفاق او منافقت وغندئ او ټول هغه څه د نفاق او منافقت په ضد ووایئ چې قرآن ویلي؛ پرته له دې چې د چا نوم واخلئ او پرته له دې چې چا ته د منافق خطاب وکړئ؛ دا د الله تعالی نه خوښېږي چې څوك په داسې بدو خبرو او ښکنځلو خوله پرانیزي؛ مګر له هغه چا چې مظلوم وي، الله تعالی د مظلوم چیغه اوري، د ده او مظلوم تر منځ هیڅ حجاب نشته، د هغه فریاد مخامخ الله ته رسي.

رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي:

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنهما أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم بَعَثَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ، فَقَالَ « اتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، فَإِنَّهَا لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ » . رواه البخارى

له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم معاذ رضي الله عنه یمن ته ولېږو او هغه ته ئې وفرمایل: د مظلوم له دعاء ووېرېږه؛ د دې دعاء او الله تر منځ هیڅ حجاب نشته.

د آیت الفاظ دا راښیي چې الله تعالی نه یوازې د مظلوم چیغه اوري او هغه ته ئې د خپل مظلومیت څرګندولو او د ظالم په خلاف د غږ اوچتولو اجازه ورکړې بلکې د ده دا خبرې ئې خوښېږي، حتی د ده هغه خبرې هم چې په عادي حالت کې بدې برېښي او له مظلومیت پرته په بل حالت کې د الله تعالی نه خوښېږي، خو د مظلومیت په وخت کې ئې له یوه مظلوم انسان خوښوي، د ظلم او ظالم په خلاف خو د یوه مجاهد د اوچت غږ وینا جهاد اکبر دئ؛ خو له مظلوم هغه بده وینا هم خوښوي چې له ظالم د خپل حق تر لاسه کولو او د ده د ظلمونو د غندلو لپاره ئې کوي.

قرآن د یوه مؤمن شاعر یو صفت دا ښيي چي شعر ئې له ظالم د انتقام او له مظلوم د دفاع په خدمت کې وي.

إِن تُبْدُواْ خَيْرًا أَوْ تُخْفُوهُ أَوْ تَعْفُواْ عَن سُوٓءٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا ﴿١٤٩﴾

[١٤٩]- که کومه ښېګڼه ښکاره کړئ یا ئې پټه؛ او له کومي بدۍ سترګي پټي کړئ؛ نو الله قادر عفو کوونکی دئ.

(١٤٩)- په داسي حال کې چي په مخکیني آیت کې مظلوم دې ته تشویق شوی چي د ظالم په خلاف خپل غږ اوچت کړي او خپل حق وغواړي؛ خو دلته هغه ته ویل شوي چي که مصلحت د دې تقاضی کوله چي هغه ته عفو وکړې او له خپل حق تېر شې نو دا کار وکړه؛ ستا رب په داسي حال کې بنده ته عفو کوي چي په هر څه قادر دئ؛ ته هم د انتقام او غچ اخیستو له قدرت سره سره عفو وکړه. عفو باید د ضعف او ناتوانۍ له احساس نه وي راولاړه شوې، که یو مظلوم د دې لپاره عفو کوي چي ځان مجبور ګڼي او خپل حق نه شي تر لاسه کولی؛ دا بیا عفو نه ده؛ د آیت له وروستۍ برخي معلومېږي چي له قدرت او توان سره سره له انتقام تېرېدل او خپل حق بل مسلمان ته بخښل عفو ده.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُواْ بَيْنَ ٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ
وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيْنَ ذَٰلِكَ
سَبِيلًا ﴿١٥٠﴾ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَٰفِرُونَ حَقًّاۚ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٥١﴾
وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَلَمْ يُفَرِّقُواْ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ أُوْلَٰٓئِكَ سَوْفَ
يُؤْتِيهِمْ أُجُورَهُمْۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٥٢﴾

[١٥٠]- یقیناً هغه چي پر الله او د ده پر پیغمبرانو کافران کېږي او غواړي د الله او د ده د پیغمبرانو تر منځ بېلتون وکړي او وايي: پر ځینو ایمان راوړو او له ځینو انکار کوو او غواړي د دې تر منځ بله لار اختیار کړي. [١٥١]- دوی په رښتیا چي کافران دي او موږ دغو کافرانو ته سپکوونکی عذاب تیار کړی. [١٥٢]- او هغو چي پر الله او د ده پر پیغمبرانو ئې ایمان راوړ او د دوی په هیڅ یوه کې ئې تفریق ونکړ؛ دوی ته به ډېر ژر خپل اجر ورکړي او الله مهربان بخښونکی دئ.

(۱۵۰-۱۵۲)- په دې مبارکو آيتونو کې د يوه کافر او منافق او د يوه مؤمن تر منځ څو اساسي توپيرونه ښودل شوي:

- منافق کله خدای مني خو پيغمبر نه مني او د هغه اطاعت ضروري نه ګڼي او کله يو پيغمبر مني او بل نه مني او کله غواړي ځان ته داسي کومه لار غوره کړي چي نه صريح کفر وي او نه خالص ايمان، د کفر او ايمان له تلفيق د خپلي خوښي کوم مسلك او مذهب جوړ کړي. دوی له شکه پرته کافران دي او د سپکوونکي عذاب مستحق.
- د دوی په مقابل کي مخلص مؤمن هغه دئ چي پر الله او پيغمبر ئې ايمان لري، ټول پيغمبران مني، د پيغمبر اطاعت د ايمان تقاضی ګڼي، هيڅکله او د ژوند په هيڅ برخي کي دا دواړه يو له بل نه بېلوي، دوی به خپل اجر تر لاسه کوي او مهربان بخښونکی الله به ئې ګناهونه ورته بخښي.

يَسْـَٔلُكَ أَهْلُ ٱلْكِتَٰبِ أَن تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتَٰبًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ۚ فَقَدْ سَأَلُوا۟ مُوسَىٰٓ أَكْبَرَ مِن ذَٰلِكَ فَقَالُوٓا۟ أَرِنَا ٱللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ۚ ثُمَّ ٱتَّخَذُوا۟ ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ فَعَفَوْنَا عَن ذَٰلِكَ ۚ وَءَاتَيْنَا مُوسَىٰ سُلْطَٰنًا مُّبِينًا ﴿١٥٣﴾

[۱۵۳]- اهل کتاب له تا غواړي چي له آسمان کوم کتاب پرې نازل کړې! نو دوی خو له موسی تر دې لويه غوښتنه وکړه او وئې ويل: الله ښکاره راوښيه! نو د خپل ظلم له امله تندر ونيول؛ بيا ئې له هغه وروسته سخوندر معبود ونيولو چي څرګندي نښې ورته راغلې؛ نو موږ له دې ورته تېر شوو او موسی ته مو ښکاره حجت ورکړ.

(۱۵۳)- اهل کتاب داسي خارق العاده معجزه له تا غواړي لکه له آسمان مخامخ پر دوی د يوه کتاب راکوزېدل!! نه ته يوازينی هغه څوك يې چي داسي غوښتنه درې کېږي او نه دوی يوازيني هغه کسان دي چي داسي خارق العاده او غير طبيعي معجزه غواړي؛ جاهل قومونه تل خدای په خارق العاده حوادثو کي لټوي، د پيغمبر حقانيت هم نه د ده د دعوت له محتوی او نه د ده له اوچت شخصيت بلکي د ده له معجزو معلوموي! يوازي په هغه صورت کي ئې مني چي نادري او حيرانوونکې معجزې وړاندي کړي؛ موسی عليه السلام ته خپل قوم وويل: هلته ايمان راوړو چي خدای مخامخ په خپلو سترګو وګورو، که ته واقعي د خدای پيغمبر يې نو خدای موږ ته راوښيه!! نو ځکه تندر پرې راپرېوت؛ بيا ئې

له سخوندر څان ته معبود جوړ کړ او دا هم له هغه وروسته چې ډېرې څرګندې نښې ورته راغلې؛ الله له دې هم ورتېر شو، موسى عليه السلام ته ئې تورات ورکړ، تيار په لوحو کې ليکلى، د څرګندو دلائلو حامل تورات؛ خو بني اسرائيلو ايمان رانه وړ! جاهل قومونه په دلائلو نه قانع کېږي، که هر څومره قوي او څرګند وي، معجزې غواړي، څوك چې په څرګندو دلائلو او د قرآن په څېر سترې معجزې قانع نه شي په نورو معجزو هم نه قانع کېږي. آيا موسى عليه السلام او بيا عيسى عليه السلام بني اسرائيلو ته کمې معجزې وښودې؟ له دغو معجزو سره سره دوى له خپلو پيغمبرانو سره څه ونه کړل؟

وَرَفَعۡنَا فَوۡقَهُمُ ٱلطُّورَ بِمِيثَٰقِهِمۡ وَقُلۡنَا لَهُمُ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡبَابَ سُجَّدٗا وَقُلۡنَا لَهُمۡ لَا تَعۡدُواْ فِي ٱلسَّبۡتِ وَأَخَذۡنَا مِنۡهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا ﴿١٥٤﴾

[١٥٤]- او د دوى د ژمنې لپاره مو پر دوى طور رااوچت کړ او ورته ومو ويل: په دې دروازې سجده کوونکې ننوځئ او ورته ومو ويل: د شنبې په ورځ تېرى مه کوئ او کلکه ژمنه مو ترې واخيسته.

(١٥٤)-بني اسرائيل دې ته تيار نه وو چې تورات ومني او په هغه د عمل کولو ژمنه وکړي، الله تعالى د طور غر د دوى له پاسه رااوچت کړ، ورته وويل شو چې فلسطين ته ننوځي، خو د مغرورو فاتحانو په څېر نه بلکې د الله د مطيع بندګانو په څېر، په دې مأمور شول چې د شنبې د ورځې احترام به کوي او هغه به د عبادت لپاره مختص کوي؛ خو هغوى خپلې ټولې ژمنې ترپښو لاندې کړې.

فَبِمَا نَقۡضِهِم مِّيثَٰقَهُمۡ وَكُفۡرِهِم بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَقَتۡلِهِمُ ٱلۡأَنۢبِيَآءَ بِغَيۡرِ حَقّٖ
وَقَوۡلِهِمۡ قُلُوبُنَا غُلۡفُۢۚ بَلۡ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَيۡهَا بِكُفۡرِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُونَ إِلَّا قَلِيلٗا
﴿١٥٥﴾ وَبِكُفۡرِهِمۡ وَقَوۡلِهِمۡ عَلَىٰ مَرۡيَمَ بُهۡتَٰنًا عَظِيمٗا ﴿١٥٦﴾ وَقَوۡلِهِمۡ إِنَّا قَتَلۡنَا
ٱلۡمَسِيحَ عِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ رَسُولَ ٱللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ
لَهُمۡۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُۚ مَا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٍ إِلَّا ٱتِّبَاعَ
ٱلظَّنِّۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينَۢا ﴿١٥٧﴾ بَل رَّفَعَهُ ٱللَّهُ إِلَيۡهِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا ﴿١٥٨﴾

[۱۵۵]- نو د خپلو ژمنو د ماتولو له امله او د الله پر آیتونو د دوی د کفر په سبب او په ناحقه د پیغمبرانو د وژنې او د دې وینا په وجه ئې چې زړونه مو په پردو کې دي؛ بلکې الله د دوی د کفر په وجه پرې مهر لګولی؛ نو ایمان نه راوړي مګر ډېر لږ. [۱۵٦]- او د دوی د کفر له کبله او پر مریمې د دوی د ستر بهتان وینا (له امله). [۱۵۷]- او د دې خبرې له کبله چې موږ د الله پیغمبر مسیح د مریمې زوی وواژو؛ حال دا چې نه ئې وژلی دئ او نه ئې په صلیب ځړولی؛ بلکې ورته مشتبه کړی شو او یقیناً هغه چې په دې کې اختلاف کوي په دې اړه په شك کې دي، له ګمان پرته هیڅ علم پرې نه لري؛ په یقین سره ئې نه دئ وژلی. [۱۵۸]- بلکې الله خپل لوري ته اوچت کړ او الله باحکمت عزتمن دئ.

(۱۵۵-۱۵۸)- په دغو مبارکو آیتونو کې د بني اسرائیلو هغو انحرافاتو ته ګوته نیول شوې چې الله پرې مواخذه کړل او له دردناك عذاب سره ئې مخامخ کړل:

- خپلې ژمنې ئې ماتې کړې.
- د الله له آیتونو ئې انکار وکړ.
- د انبیاءو د وژلو لپاره ئې ملا وتړله.
- د خپل ذهن زیږنده جعلي مذهب په نسبت ئې داسې ړوند تعصب پیل کړ چې د هغه په خلاف د هیڅ دلیل اورېدو ته تیار نه وو.
- په خپل کفر کې هغه ځای ته ورسېدل چې الله تعالی د دوی پر زړونو مهر ولګاوو او د هدایت دروازې ئې پر مخ وتړل شوې.
- پر مریمې علیها السلام ئې د بدکارۍ تور ولګاوو.
- د عیسی علیه السلام د وژلو پرېکړه ئې وکړه او په افتخار سره به ئې ویل چې موږ هغه وواژو! دا په داسې حال کې چې هغه ئې نه وو وژلی، د ده پر ځای ئې بل څوك وژلی وو، سره له دې چې د ده د وژلو په اړه شکمن وو، خو دوی به په اوچت غږ او افتخار سره ویل: عیسی؛ هغه چې ځان ئې د خدای پیغمبر ګاڼو؛ هغه مو وواژو او د ده جسد مو په صلیب وځړاوو.

وَإِن مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ إِلَّا لَيُؤۡمِنَنَّ بِهِۦ قَبۡلَ مَوۡتِهِۦۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكُونُ عَلَيۡهِمۡ شَهِيدٗا ﴿١٥٩﴾

[۱۵۹]- او د اهل کتاب به هیڅوك نه وي مګر داسې چې له خپل مرګ مخکې به

هرومرو پر ده ایمان راوړي او د قیامت په ورځ به پرې شاهد وي.

(۱۵۹)- د دې آیت دوه ترجمې شوې:

۱- له اهل کتاب به هیڅوك داسي پاته نه شي چي له خپل مرګ مخکي د عیسی علیه السلام حقیقت ورته معلوم نه شي او په دې پوه نه شي چي هغه نه خدای وو او نه د خدای زوی؛ بلکي د خدای بنده او د هغه پیغمبر وو.

۲- د عیسی علیه السلام له راکوزېدو وروسته به ټول موجود اهل کتاب د ده له مرګ مخکي پر ده ایمان راوړي.

- په دغي دوهمي ترجمې او تفسیر کي دوه فقرې او مطالب مقدر ګڼل شوي: (د عیسی علیه السلام بیا راتګ) او (هغه وخت موجود اهل کتاب)؛ خو نه دا مطالب په آیت کي شته او نه داسي الفاظ چي دا مطالب ترې راووځي؛ له دې تقدیرونو پرته هیڅوك له آیت دا مطلب نه شي اخیستلی. خو په لومړۍ ترجمې کي د آیت له خپلو الفاظو پرته هیڅ لفظ او مطلب نه دئ علاوه شوی، لومړۍ ترجمه د دې لپاره هم غوره برېښي چي په آیت کي ټولو اهل کتاب ته اشاره شوې، حصر او استثناء په کي نشته، خو په دوهمي ترجمې کي یوازي د عیسی علیه السلام د راکوزېدو په وخت کي موجود اهل کتاب اخیستل شوي او نور مستثنی شوي.

د قرآن له بیاناتو معلومېږي چي د مرګ په وخت کي ډېر حقائق انسان ته څرګند شي، په خپلو غلطیو او اشتباهاتو پوه شي، لکه د دې سورې په ۹۷ آیت کي د هغو کسانو په اړه ویل شوي چي په دارالکفر کي پاته شوي وو، د ملائکو له وینا به پوه شي چي پر خپل ځان ئې ظلم کړی وو، هسي ئې د الله پراخه زمکه تنګه ګڼلې وه او له هجرت ئې ډډه کړې وه، په کار وه چي د خپل دین او ایمان د حفاظت لپاره ئې هجرت کړی وی او د کفر له سلطې ئې ځان آزاد کړی وی؟!

هغه اهل کتاب چي عیسی علیه السلام د خدای زوی ګڼي او ګمان کوي چي د ده په وجه به له عذاب او الهي مؤاخذې خوندي وي؛ د خپل مرګ په وخت کي به پوه شي چي دا هسي بې بنیاده هیلي وې، نه هغه خدای وو او نه د خدای زوی او نه له عذاب زموږ د ژغورني ذمه وار.

د قیامت په ورځ به هم وګوري چي عیسی علیه السلام د دوی خلاف شهادت ورکوي.

فَبِظُلۡمٖ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمۡنَا عَلَيۡهِمۡ طَيِّبَٰتٍ أُحِلَّتۡ لَهُمۡ وَبِصَدِّهِمۡ عَن

سَبِيلِ ٱللَّهِ كَثِيرًا ﴿١٦٠﴾ وَأَخۡذِهِمُ ٱلرِّبَوٰاْ وَقَدۡ نُهُواْ عَنۡهُ وَأَكۡلِهِمۡ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِۚ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ مِنۡهُمۡ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٦١﴾

[١٦٠]- نو پر يهودانو مو ځيني هغه پاکيزه شيان حرام کړل چې ورته حلال شوي وو؛ د دوی د ظلم له کبله او د الله له لارې د دوی د ډېر مخنيوی له امله. [١٦١]- او د دوی د سود اخيستو په سبب، په داسې حال کې چې ترې منع شوي وو او په ناحقه ئې د خلکو د مال خوړلو له کبله؛ او دغو کافرانو ته مو دردوونکی عذاب تيار کړی.

(١٦٠-١٦١)- دلته د يهودانو ځينو هغو سترو سترو گناهونو ته اشاره شوې چې دوی ئې د الله له دردناك عذاب سره مخامخ کړل:

- ظلم ئې کاوو.
- هم ئې په خپله د الله په سمې لارې له تلو ډډه کوله او هم ئې نور منع کول.
- سود ئې خوړلو؛ په داسې حال کې چې الله ترې منع کړې ول.
- په ناحقه او له ناراوو لارو ئې د خلکو مالونه خوړل: دوکه، رشوت، شکرانې اخيستل، فتوی گانې او د جنت اسناد پلورل.

لَّٰكِنِ ٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ مِنۡهُمۡ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ يُؤۡمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَۚ وَٱلۡمُقِيمِينَ ٱلصَّلَوٰةَۚ وَٱلۡمُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ أُوْلَٰٓئِكَ سَنُؤۡتِيهِمۡ أَجۡرًا عَظِيمًا ﴿١٦٢﴾

[١٦٢]- لکن د دوی راسخين في العلم او هغه مؤمنان ئې چې هم پر هغه څه ايمان راوړي چې پر تا نازل شوي او هم پر هغه څه چې له تا مخکې نازل شوي، لمونځ کوونکي، زکات ورکوونکي او پر خدای او آخرت ايمان لرونکي ئې؛ ډېر ژر به دوی ته ستره بدله او اجر ورکړو.

(١٦٢)- په دوی کې نېك خلك هم شته چې صفات ئې دا دي:

- علم ئې پوخ دئ نه کچه او نيمگړی.
- په هر هغه کتاب ايمان راوړي چې د الله له لوري نازل شوی وي.
- لمونځ کوي.
- زکات ورکوي.

• پر الله او د آخرت پر ورځ ایمان لري.

إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ
إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ
وَهَٰرُونَ وَسُلَيۡمَٰنَۚ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورٗا ﴿١٦٣﴾ وَرُسُلٗا قَدۡ قَصَصۡنَٰهُمۡ عَلَيۡكَ مِن
قَبۡلُ وَرُسُلٗا لَّمۡ نَقۡصُصۡهُمۡ عَلَيۡكَۚ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكۡلِيمٗا ﴿١٦٤﴾ رُّسُلٗا مُّبَشِّرِينَ
وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا
حَكِيمٗا ﴿١٦٥﴾

[١٦٣]- بې شکه چې موږ تا ته همغسي وحي کړې چې نوح او تر ده وروسته انبياءو ته مو وحي کړې وه او ابراهيم، اسمعيل، اسحاق، يعقوب او اولاد ئې، عيسى، ايوب، يونس، هارون او سليمان ته مو وحي کړې وه او داؤد ته مو زبور ورکړی وو. [١٦٤]- او داسي پيغمبرانو ته هم چي تا ته مو لا د مخه د دوی قصه کړې او داسي پيغمبرانو ته هم چي لا مو د دوی قصه نه ده درته کړې؛ او الله له موسى سره په ځانګړې تکلم سره تکلم وکړ. [١٦٥]- زېری ورکوونکي او انذار ورکوونکي پيغمبران؛ د دې لپاره چي خلکو ته د الله پر ذمه کوم حجت پاته نه شي او الله باحکمت عزتمن دئ.

(١٦٣-١٦٥)- تا ته د نورو پيغمبرانو په څېر وحي شوې، تر تا مخکي ډېر پيغمبران تېر شوي، د دوی مأموريت دا وو چي نېکانو ته د ښه راتلونکي زېرى ورکړي او بدکاران له خپل بد عاقبت ووېروي، الله د دې لپاره يو په بل پسي او د زمانې په هر پړاو کي پيغمبران رالېږلي چي په دې سره الهي حجت تکميل شي، انسان ته د کفر، شرك، ظلم او انحراف لپاره هيڅ بهانه پاته نه شي، دا عذر وړاندي نه کړی شي چي نه پوهېدو، چا راته سمه لار نه وه ښودلې، د حق او باطل تر منځ د تفکيك لپاره مو کوم معيار او ملاك او لارښود په واك کي نه وو.

د پيغمبرانو راتګ له دې کبله د حجت اتمام ګڼل شوی چي له دې وروسته او تر دې زيات څه له انسان سره نه شي کېدی؛ الله تعالى ده ته عقل ورکړی، پر ټولو مخلوقاتو ئې ده ته فضيلت ورکړی، د ده په فطرت کي ئې داسي استعدادونه او ملکې ايښې چي د سمي لاري په موندلو کي د ده مرسته کوي، پر خدای باور د ده د فطرت جزء دئ، په ضمير کي

ئې داسي ملامتوونکې او هڅوونکې ملکې ایښې چي په هر بد کار کي دی ملامتوي او په هر نېك کار کي ئې تشویقوي، له بدو ئې کرکه راپاروي او له ښو سره ئې مینه، پیغمبران راشي او انسان ته هغه خدای معرفي کړي چي دی ئې په لټه کي دئ، ویده ضمیر ئې راویښ کړي، ټول هغه څه وروښیي چي د ده فطرت ئې غواړي، د ده د ضمیر له صفحې هغه ګرد او زنګ وڅنډي چي غلط ماحول او محیط وربāندي لړلی، دوی همغه څه ورته ووايي چي د انسان فطرت ئې د اورېدو په انتظار کي وي؛ خو که له دې ټولو سره سره انسان له کړو لارو راونه ګرځي؛ نو له ده سره له دې وروسته یوازې یو کار کېدی شي او هغه دا چي استقلال او آزادي ئې سلب شي، د بې ارادې مخلوقاتو په څېر په زور او جبر په سمه لار روان کړی شي او دا هغه څه دي چي الله تعالی ئې نه کوي او په دې سره انسان؛ انسان نه پاته کېږي او خپله هغه ځانګړتیا له لاسه ورکوي چي ده ته ئې پر ټولو مخلوقاتو فضیلت ورکړی.

لَّٰكِنِ ٱللَّهُ يَشۡهَدُ بِمَآ أَنزَلَ إِلَيۡكَۖ أَنزَلَهُۥ بِعِلۡمِهِۦۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَشۡهَدُونَۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ١٦٦

[١٦٦]- لیکن الله د هغه څه په اړه چي پر تا ئې نازل کړی؛ د دې شهادت ورکوي چي هغه ئې له خپل علم سره سم نازل کړی او ملائکي هم شهادت ورکوي او الله د شاهد په توګه کافي دئ.

(١٦٦)- الله شهادت ورکوي چي قرآن د ده کتاب دئ، د الله پر علم مبني کتاب، هره وینا او هر حکم ئې له الهي علم راولاړه شوې وینا او حکم.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ قَدۡ ضَلُّواْ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ١٦٧ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَظَلَمُواْ لَمۡ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغۡفِرَ لَهُمۡ وَلَا لِيَهۡدِيَهُمۡ طَرِيقًا ١٦٨ إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٗا ١٦٩

[١٦٧]- یقیناً هغه چي کافران شول او د الله له لاري ئې مخنیوی وکړ؛ په رښتیا چي په ژور بې لاریتوب بې لاري شول. [١٦٨]- بې شکه هغه چي کافران شول او ظلم ئې وکړ؛ نو الله داسي نه دئ چي دوی ته بخښنه وکړي او نه داسي چي په کومي لاري ئې هدایت کړي. [١٦٩]- مګر د جهنم په لار؛ چي تل به په کي وي او دا خو

الله ته آسان دئ.

(١٦٧-١٦٩)- کفر او د الله له لارې انحراف ژوره گمراهي ده، ظلم دئ، هم د عدل او حقيقت په نسبت ظلم او هم د خپل عقل په نسبت ظلم؛ دوی له الهي بخښنې محروم دي او د هدايت ټولې لارې پرې تړل شوې. يوازې يوه لار ئې پر مخ پرانيستې پاته ده: د جهنم لار.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلرَّسُولُ بِٱلْحَقِّ مِن رَّبِّكُمْ فَـَٔامِنُوا۟ خَيْرًا لَّكُمْ ۚ وَإِن تَكْفُرُوا۟ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٧٠﴾

[١٧٠]- اې خلکو! بې شکه چې د خپل رب له لورې مو دغه پيغمبر دا حق درته راوړی؛ نو ايمان راوړئ چې دا درته غوره دئ او که انکار وکړئ نو بې شکه چې د آسمانونو او زمکې هر څه د الله دي او الله باحکمت پوه دئ.

(١٧٠)- دا د الله پيغمبر دئ، د هغه له لورې ئې دا حق دين درته راوړی، په ده ايمان راوړئ، ستاسو د دنيا او آخرت ښېگڼه په همدې کې ده، انکار او مخالفت مو په حقيقت کې له هغه الله انکار دئ چې د زمکې او آسمانونو هر څه د ده دي او له هغه دين انکار دئ چې عليم او حکيم خدای رالېږلی؛ هغه دين چې په الهي علم او حکمت ولاړ دين دئ.

يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ لَا تَغْلُوا۟ فِى دِينِكُمْ وَلَا تَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّ ۚ إِنَّمَا ٱلْمَسِيحُ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلْقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِّنْهُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ۖ وَلَا تَقُولُوا۟ ثَلَـٰثَةٌ ۚ ٱنتَهُوا۟ خَيْرًا لَّكُمْ ۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَـٰهٌ وَٰحِدٌ ۖ سُبْحَـٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٌ ۘ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿١٧١﴾

[١٧١]- اې اهل کتاب! په خپل دين کې غلو مه کوئ او د الله په اړه له حق پرته بل څه مه وايئ؛ بې شکه چې مسيح د مريمې زوی خو يوازې د الله رسول او د ده هغه کلمه وو چې مريمې ته ئې القاء کړې وه او د ده يوه روح؛ نو پر الله او پيغمبرانو ئې ايمان راوړئ او مه وايئ چې درې دي، ډډه وکړئ؛ چې دا درته غوره دئ؛ الله خو

يوازينى اله دئ، له دې منزه دئ چي كوم زوى ئې وي، څه چي په آسمانونو كې دي او څه چي په زمكې كې دي ټول د ده دي او الله د وكيل په توګه كافي دئ.

(۱۷۱)- په دې مبارك آيت كې د محرف مسيحيت د ترديد لپاره په موجزو او مختصرو الفاظو سره داسي پرېكنده او قاطع استدلال شوى چي د دې جعلي مذهب د ترديد لپاره يوازي همدا كفايت كوي:

- دوى په دين كې غلو كړې.
- د الله په اړه د دوى وينا د حق خلاف ده.
- مسيح په الوهيت كې شريكوي! حال دا چي هغه پيغمبر وو، هغه يو انسان وو، له مريمې پيدا شوى انسان، د الله په يوه امر له پلار پرته پيدا شو، الله ورته روح وركړه او راڅوندى ئې كړ.
- هم پر الله د دوى باور ناسم دئ او هم پر پيغمبرانو.
- د يوه الله پر ځاى په دريو خدايانو باور لري. حال دا چي الله يو دئ، نه شريك لري او نه زوى.
- زوى درلودل خو د فناء كېدونكي مخلوق د بقاء ذريعه ده او شريك درلودل خو د ضعيف او ناتوان واكمن اړتيا ده؛ الله خو له دې منزه دئ چي زوى، ځاى ناستى يا شريك ولري.
- هغه ذات چي د زمكې او آسمانونو هر څه د ده وي؛ ولې به ځان ته شريك، زوى او ځاى ناستى نيسي؟!!
- دوى له الله پرته بل خيالي معبود ځان ته وكيل او د چارو سمبالوونكى نيولى! حال دا چي الله د وكيل په توګه كافي دئ.

دا عجيبه مه ګڼئ چي څنګه د اهل كتاب ځينو مذهبي مشرانو د عيسى عليه السلام د وژلو دعوى كوله او پر دې ئې فخر كاوو او بلې ډلې هغه د خداى زوى او ځاى ناستى كړ، دا ځكه چي دوى د طاغوت د دربار سركاري مفتيان وو، د يوه طاغوت لپاره ئې پيغمبر ته باغي ويل او د بل لپاره ئې له همغه مزعوم باغي (اله) جوړ كړ: د تاريخ په اوږدو كې دين پلورونكو سركاري مفتيانو تل همداسي كړي، هر ځل او د تاريخ په هر پړاو كې چي كوم داعي او مصلح د ظلم خلاف قيام كړى، د محكومو او مظلومو انسانانو لپاره ئې آزادي او عدالت غوښتى او په اوچت غږ ئې ويلي: انسانان ټول برابر پيدا شوي، ظلم او جهل دوى په خپلو كې وېشلي، له يوه ئې بادار او له بل مريي جوړ كړى، دا د ظلم نظام ړنګ كړئ، دا د مظلومانو په لاس پښو كې پراته زنځيرونه مات كړئ، انسان بايد له خپل رب پرته بل

ته سر ټيټ نه کړي. مظلومانو ده او د ده دعوت ته د شك په سترګه کتلي، ظالمانو خطرناك ګڼلی، د امپراطور له نظام، دين او مذهب د بغاوت په جرم متهم شوی، مذهبي مشرانو ئې د وژلو فتوی ورکړې، قاضي په قتل محکوم کړی، په دار شوی، جسد ئې په اور کې اچول شوی، په صليب ځړول شوی، خو همدا مزعوم باغي، مطرود، محکوم او په صليب ځړول شوی؛ پس له لنډې مودې د يوه نوی امپراطور لپاره د خپل مخکيني رقيب په ضد يوه مؤثره وسيله ګرځېدلی، هغه ئې د ظلم قرباني ګڼلی، د ده مجسمې ئې جوړې کړې، همغه مخکينيو مذهبي مشرانو يوه سپېڅلې هستي ګڼلې، د ده د لمانځنې فتوی ئې ورکړې، له ده سره ئې هر مخالفت او د ده په ضد هره وينا او له عظمت ئې هر انکار له خدای او له نوی نظام او له دين او مذهب بغاوت ګڼلی، هومره تبليغات ئې ورته کړي چې عوام ئې خدای وګڼي، د هغه مجسمې ئې جوړې کړې، يو ئې د مجسمو دکان جوړ کړي، دا ئې حرفه شي، په خرڅولو ئې ډېر څه تر لاسه کړي، بل ئې د څه تر لاسه کولو لپاره مجسمې ته په سجده شي، هغه ته خپل حاجتونه وړاندې کوي، مرستې ته به ئې رابلي، د خدای ځای ناستی به ئې کړي، په دې ترتيب به د نوي سياسي نظام په څنګ کې نوی مذهب رامنځته شي، د زوړ نظام باغي به د نوي نظام (اله) شي، ټګمار مذهبي مشر به هم د (باغي) ګرځولو په فتوی سره خپله اجوره تر لاسه کړي او هم له هغه (باغي) د (اله) جوړولو په فتوی سره!! پرون د مخکيني نظام د معبد مجاور وو او نن د هغه (باغي) د قبر مجاور او متولي، دا د طاغوت په لاس د هر محرف مذهب د رامنځ ته کېدو قصه ده او دا د شخصيتونو، قبرونو او بتانو د لمانځونکو قصه ده. له عيسی عليه السلام سره همداسې وشول او له حسين رضي الله عنه سره همداسې.

حسين رضي الله عنه هم د ظالم او مفسد يزيد په ضد غږ اوچت کړ، د کوفې خلکو د ملګرتيا ډاډ ورکړ، خو دی ئې د کربلا په ميدان کې يوازې پرېښود، زړه ئې له ده سره خو تورې ئې له يزيد سره شوې، د خپلې کورنۍ له اوياوو کسانو سره په شهادت ورسېد؛ خو کله چې د يزيد واکمنې پای ته ورسېده، اقتدار د ده د کورنۍ د مخالفينو په لاس کې پرېووت، نو حسين رضي الله عنه نه يوازې په خپله له شهادت وروسته امام حسين شو، بلکه امارت د ده د اولاد مسلم الهي حق!! نه يوازې د ده پر قبر زيارت جوړ شو؛ بلکې د ده د پلار علي رضي الله عنه لپاره هم په دغه وخت کې قبر په ګوته شو او د وخت حاکم ورباندې زيارت جوړ کړ، قبر ئې هم د وخت حاکم د يوه (خوب او رؤيا) !!! په ترڅ کې وموند، تر دې وخته ئې قبر هيچا ته نه وو معلوم، له دې نېټې وروسته نه يوازې په نجف کې بلکه په ډېرو نورو ځايونو کې هم د ده په نامه زيارتونه جوړ شول، په مزار شريف او د

کابل په کارته سخی کې هم!! چا چي یزید ته د امام حسین رضي الله عنه د وژلو فتوی ورکوله د یزید له تلو وروسته د دې زیارتونو مجاور شو، د چا چي توري له یزید سره وې اوس د کربلا د پېښي په یاد خپلي سینې په زنځیرونو وهي، توري جامې اغوندي او ویر کوي، د کربلا له خاوري د سجدې مهر جوړوي!! همدا کسان د ده اولاد یوازیني حقیقي امامان ګڼي او یو پنځه کلن ملسی ئې داسي امام زمان ګڼي چي خدای ته په خپلو دعاګانو کې وایي: خدایه! امام زمان له موږ راضي کړه!! خدایه! د قیامت په ورځ مو د امام زمان په وړاندي شرمنده نه کړې!! خدایه زموږ دعاګانی امام زمان ته ورسوه!! اوس نو خدای د امام زمان قاصد شو، خدای د امام زمان په دربار کې یو شفیع شو، له هغه دا غواړي چي د امام زمان په وړاندي د دوی د شفاعت وکړي!!

چا چي له قصرونو او د قصرونو له واکمنانو کرکه درلوده او هر قصر ئې د ظلم نښه ګڼله او په همدې جرم له مخالفتونو سره مخامخ کېدو او چا چي هر جګ قبر ړنګاوو اوس د دوی له قبرونو داسي قصرونه جوړ شوي چي نه فرعون په خپل ژوند کې درلود او نه نمرود او نه هم یزید. عجیبه ده! ډېره عجیبه!! د ژوندي لپاره قصر حرام دئ او د مړي لپاره جائز او د صواب کار!!

مسیحي د عیسی علیه السلام مذهب هېر کړ او د ده د مجسمي لمانځل ئې مذهب شو او ده د امام حسین د جد دین ته شا کړه او د امام حسین د قبر لمانځل ئې مذهب شو. ګورئ چي مسیحي د صلیب طوق په غاړه ګرځوي او دا د کربلا له خاوري د جوړ شوي مهر ټاپې په خپل تندي!!

دا دئ ګورئ چي سیاست کله له پیغمبر د مذهب باغي جوړ کړي او کله له دیندار باغي خدای!!

که د ټګمارو مذهبي مشرانو او د مکارو سیاستوالو مکرونه عجیب دي نو تر دې د هغه چا سفاهت د لا زیات حیرت او تعجب وړ دئ چي د دوی د مکر په دام کې پرېوځي او (دروغ) د (مذهب) په نامه مني!! خو نه؛ تر هغه چي دنیا وي ساده لوح او سفیه انسانان به هم وي او د ټګمارو په دام کې به د دوی پرېوتل هم!! که سامري له سخوندر معبود جوړولی شي او هندو له غوا!!، که د یهودو ملایان د یوه واکمن په دربار کې مریم په زنا متهم کوي او زوی ئې ساحر ګڼي، خو د بل واکمن په دربار کې ئې دا د خدای مور ګڼي او زوی ئې د خدای زوی!! نو له پنځه کلن غائب ماشوم؛ امام زمان جوړول او خدای د ده قاصد ګڼل هم ډېره نادره نه ده!!

مسیحیان د عیسی علیه السلام بیا راتلو ته منتظر دي؛ خو که هغه راغی نو تر هر چا

وړاندې به دوی د ده مخالفت کوي، د خپلو پلرونو په څېر به د هغه د وژلو لپاره ملا تړي، پلرونو ئې له دې کبله د ده د وژلو هوډ وکړ چې دی يو انسان دئ، نه له ځان دفاع کولی شي او نه له خپلو ملګرو، د خدای پيغمبر خو بايد داسې نه وي، بايد ملائکه وي او د سترګې په يوه رپ او د ګوتې په يوې اشارې سره بايد زمکه او آسمان وخوځولی شي او د دوی اوسني زامن به ئې هم دروغجن ګڼي ورته وايي به: ته هغه عيسی نه يې چې موږ ورته منتظر وو، ته يو عادي انسان يې، عيسی خو د خدای زوی دئ او په مټو کې ئې د خدای زور.

که دا نن هغه امام زمان راشي چې ځيني ورته منتظر دي او وايي: د زمانې د فرعون او د وخت د يزيد په خلاف قيام وکړئ، له اسلام دفاع ته چمتو شئ، خپل هېواد د صليبي ځواکونو له سلطې آزاد کړئ؛ نو وبه ګورئ چې تر هر چا د مخه ئې هغه څوك مخالفت وکړي چې نن وايي: عجل الله فرجه الشريف: خدای دې له کړاو د ده راوتل رانږدې کړي!! دغه خلك به ورته وايي: ته خو هغه امام زمان نه يې چې موږ ئې په انتظار کې وو، ته خو له موږ مرسته غواړې او له هغه خو به موږ مرسته غوښته، ته موږ قيام او جهاد ته رابلې؛ حال دا چې امام زمان خو د يوې ګوتې په خوځولو سره زمکه او آسمان خوځولی شي!!

موږ هم د مسيح راتلو ته منتظر يو؛ خو (انسان مسيح) ته، هغه چې د يوه انسان په څېر به ژوند کوي او لومړی کار به ئې د صليب ماتول وي. موږ هم مهدي ته منتظر يو؛ خو يوه (انسان او مجاهد) مهدي ته، نه د خدای ځای ناستي مهدي ته، داسې مهدي ته چې د توحيد او عدالت لپاره به جهاد کوي او لومړی جنګ به ئې له هغو آخوندانو سره وي چې مشرك شوي، د جهاد مخالفت کوي او له دين ئې دکان جوړ کړی. په دې حيرانوونکو خبرو تعجب مه کوه؛ دا ځکه چې سياست له پيغمبر د مذهب باغي جوړولی شي او له باغي؛ خدای او معبود!!

لَّن يَسْتَنكِفَ ٱلْمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبْدًا لِّلَّهِ وَلَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ٱلْمُقَرَّبُونَۚ وَمَن يَسْتَنكِفْ عَنْ عِبَادَتِهِۦ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ إِلَيْهِ جَمِيعًا ﴿١٧٢﴾

[١٧٢]- نه مسيح هيڅکله له دې ننګ کړی چې د الله بنده وي او نه مقربو ملائکو؛ او څوك چې د ده له عبادت ننګ او تکبر وکړي نو ژر به ټول خپل لوري ته راغونډ کړي.

(١٧٢)- مسيح تل ويلي چې زه د الله بنده يم، تل ئې خلك د الله بندګۍ ته بللي، قرآن

مور ته وايي چې خلکو ته د عيسى عليه السلام لومړى وينا دا وه: اني عبد الله: زه د الله بنده يم؛ دا د ده د هغه وخت وينا هم وه چې د مور په غېږ کې وو او د هغه وخت هم چې خلك په صليب باندې د ده د ځړولو لپاره راغونډ شوي وو.

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضۡلِهِۦۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسۡتَنكَفُواْ وَٱسۡتَكۡبَرُواْ فَيُعَذِّبُهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ﴿١٧٣﴾

[۱۷۳]- نو هغه چې ايمان ئې راوړى او صالح عملونه ئې کړي؛ اجر به ئې پوره پوره ورکړي او له خپل فضل به مزيد څه ورکړي؛ او هغه چې ننگ او لويي ئې کړې وي؛ نو په دردناك عذاب به ئې تعذيب کړي او له الله پرته به نه کوم ولي ځان ته ومومي او نه کوم مرستندوى.

(۱۷۳)- الله تعالى له بنده سره د ده د ايمان او عمل له مخې معامله کوي؛ ځوك چې ايمان راوړي او صالح عملونه وکړي؛ نو خپل اجر به پوره پوره تر لاسه کړي او الله به د خپل فضل له مخې د دوى له اصلي حق زياته بدله ورکړي او هغه چې د الله له بندگۍ ننگ وکړي، تکبر وکړي او له داسې بندگۍ ځان لوړ وگڼي؛ دردناك عذاب به ئې په برخه شي، نه به داسې کوم دوست پيدا کړي چې له دې عذاب ئې وژغوري او نه کوم مرستندوى. دغه د عدالت تقاضى ده؛ ځوك چې له دې پرته بل څه الله ته منسوبوي هغه په حقيقت کې الله ته د بې عدالتۍ او ظلم نسبت کوي؛ که ځوك په دې باور وي چې عيسى به مسيحيان د الله له محاسبې ژغوري، د مسيح په لطف به جنت ته درومي، له دوزخ به د ده په وساطت ژغورل کېږي، ده د ټولو مسيحيانو د ټولو گناهونو فديه ورکړې!! په دې باور او عقيده کې الله تعالى ته د ستري بې عدالتۍ نسبت کېږي، الله د د نيا له يوه ظالم حاکم سره تشبيه کېږي، داسې حاکم چې پرېکړې ئې د درباريانو له سپارښتنو متأثره کېږي، ځوك چې واسطه ولري او د ده په دربار کې کوم دوست او مرستندوى؛ نو له هر راز مواخذې او محاسبې خلاص وي. که داسې کار د دنيا له حاکم سره نه ښايي نو د زمکې او آسمانونو له رب سره به څنگه ښايي؟!!

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُم بُرۡهَٰنٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ نُورٗا مُّبِينٗا

﴿١٧٤﴾

[۱۷٤]- اې خلکو! يقيناً چې د خپل رب له لوري مو برهان او دليل درته راغی او څرګنده رڼا مو درته نازله کړه.

(۱۷٤)- دا پورته آيت هم څرګند برهان او روڼ څراغ دئ او قرآن هم.

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱعْتَصَمُواْ بِهِۦ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِى رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَفَضْلٍ وَيَهْدِيهِمْ إِلَيْهِ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿١٧٥﴾

[۱۷۵]- نو هغه چې پر الله ايمان راوړي او له هغه سره اړيکي ټينګي کړي؛ نو حتماً به ئې په خپل رحمت او فضل کې ننباسي او خپل لوري ته به ئې په سمي لاري هدايت کړي.

(۱۷۵)- دغه څرګند برهان او ځلانده رڼا تاسو ته دوې اساسي خبري کوي:

- پر الله ايمان راوړئ.
- له الله سره خپلي اړيکي مضبوطي کړئ.

ځوك چې دا دوه كارونه وكړي؛ نو د الله فضل او رحمت به ئې په برخه شي او د الله په لوري د تګ په سمي لاري به هدايت شي.

يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ ٱللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِى ٱلْكَلَٰلَةِ ۚ إِنِ ٱمْرُؤٌاْ هَلَكَ لَيْسَ لَهُۥ وَلَدٌ وَلَهُۥٓ أُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ ۚ وَهُوَ يَرِثُهَآ إِن لَّمْ يَكُن لَّهَا وَلَدٌ ۚ فَإِن كَانَتَا ٱثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا ٱلثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ ۚ وَإِن كَانُوٓاْ إِخْوَةً رِّجَالًا وَنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ ٱلْأُنثَيَيْنِ ۗ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ أَن تَضِلُّواْ ۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌۢ ﴿١٧٦﴾

[۱۷٦]- له تا فتوی غواړي؛ ووايه: الله تاسو ته د کلالې (هغه چې نه ئې پلار وي او نه اولاد) په اړه فتوی درکوي: که ځوك ومري، زوی ئې نه وي او يوه خور ئې وي؛ نو دې ته د هغه څه نيمايي ده چې ده پرېښي؛ او دی به له دې خور هر څه په ميراث وړي که ئې زوی نه وو او که دوی دوه خوېندي وي؛ نو دوی ته له دريو دوه برخي د ميراث دي او که دوی نارينه او ښځي وروڼه او خوېندي وي؛ نو نارينه ته به د دوو

ښځو په څېر برخه وي؛ الله تاسو ته وضاحتونه کوي د دې لپاره چې بې لارې نه شئ او الله پر هر څه ښه پوه دئ.

(۱۷٦)- دا مبارکه سوره د ښځو او يتيمانو په بحث پيل او په همدې موضوع پای ته ورسېده، دلته د هغه چا د ميراث د وېش څرنگوالی بيان شوی چې نه ئې پلار وي او نه اولاد؛ يوازې وروڼه او خوېندې ولري؛ که ئې يوه خور وه د ميراث نيمايي به تر لاسه کوي او ورور به د داسې خور د ټول ميراث وارث وي؛ که ميراث دوو خوېندو ته پاته وو، له دريو دوه برخې به د دوی وي او که له يوه زيات وروڼو او خوېندو ته پاته شوی وو نو نارينه ته به د دوو ښځو برابر برخه ورکول کېږي.

دا د هغه الله له لوري لارښوونه ده چې ستاسو په خير او مصلحت تر تاسو ښه پوه دئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

## دې پوښتنې ته ځواب

## ادراک او احساس د زړه کار دئ که د دماغ؟

په دې سورتونو کې به تاسو څو ځایه داسي څه لیدلي وي چي قرآن ځیني خبري زړه ته منسوب کړې وې؛ لکه دا چي د کافرانو په اړه فرمایي: (لَهُمۡ قُلُوبٌ لَّا يَفۡقَهُونَ بِهَا)، (خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ) ...، په ګڼ شمېر نورو آیتونو کې هم دې ته ورته مطالب راغلي. د زړه په اړه د قرآن له دغو څرګندونو داسي معلومېږي چي ګواکې زړه د احساس او ادراک مرکز دئ؛ حال دا چي علمي تحقیقات زړه نه بلکې د انسان دماغ د احساس او ادراک مرکز ګڼي؛ او زړه یوازې د ویني د پمپ کولو وسیله بولي؛ دې ته په پام سره له حقائقو بې خبر خلک اعتراض کوي چي قرآن ولي هغه څه زړه ته منسوب کړي چي په اصل کې د زړه کار نه بلکې د دماغ کار دئ. ولي ئې دا خبري د انسان دماغ ته نه دي منسوب کړې؟!! دې پوښتني ته د ځواب او د دغو کسانو د تشویش رفع کولو لپاره لاندي وضاحت کوو:

قرآن چي څه زړه ته منسوب کړي؛ دا د نړۍ په هر ګوټ کې، د هر قوم لخوا او په هره ژبه کې زړه ته منسوب شوي، تاسو به په هر ځای کې له هر چا واورئ چي مینه او کرکه، جرأت او جبن، تصدیق او تکذیب، خوښي او خفګان، باور او انکار زړه ته منسوبوي؛ په دې اړه د قرآن وینا نه د تعجب وړ ده، نه اعتراض پرې وارد او معقول دئ او نه د علمي تحقیقاتو خلاف ده. دا خبري نه یوازې په تورات، انجیل، زبور او ټولو مذهبي کتابونو کې زړه ته منسوب شوې بلکې د مارکس، انګلز او لینین په څېر د ملحدینو په کتابونو کې هم، شعراءو هم زړه ته منسوب کړې او لیکوالانو هم، عوامو هم او علماءو هم، دیندارو شعراءو او علماءو هم او بې دینه شعراءو او ساینس پوهانو هم! دا ولي او د څه لپاره؟ دلیل ئې دا دئ:

زړه د دماغ لپاره د سترګو، غوږونو، پوزې او پوستکي په څېر یوه وسیله ده؛ که دغه پنځه حواس ئې د پېژندو او احساس وسائل دي نو زړه ئې د خپلو پرېکړو د انعکاس لپاره داسي وسیله ده چي له دې لاري خپلي پرېکړې اعلانوي. موږ په خپلو سترګو کوم خطرناک شيء وګورو، یا په غوږونو کوم خطرناک غږ واورو، یا د پزې له لاري د څه د سوزېدو بوی

او په ژبه کوم تریخ او زهرجن خوند احساس کړو؛ دماغ مو خطر درك کړي، غواړي موږ له دې خطر خبر کړي؛ نو د خطر دا اعلان زموږ د زړه له لارې کوي، خپله پرېکړه د زړه له لارې منعکس کوي، موږ د خطر لومړی زنګ په خپل زړه کې احساسوو، ناڅاپه مو د زړه دربا زیاته شي، همدا وجه ده چې په ټولو انساني ژبو کې وېره او د خطر احساس زړه ته منسوب شوی. هیچېرې به له هیچا وانه ورئ چې ډاډ او وېره له زړه پرته بل څه ته منسوب کړي؛ جرأتمند ته زړه ور او ډارن ته بې زړه د همدې لپاره ویل کېږي. د مینې او کرکې احساس په زړه کې کېږي؛ د خپل ګران زوی، لور او کوم دوست څېره راپه یاد شي او له همدې سره سم په خپل زړه کې خاص حرکت احساس کړو؛ د همدې لپاره وایو: په زړه کې مې ځای لري، د زړه سر مې دئ، زړه مې ورته پرېشان دئ؛ او له چا چې کرکه لرو؛ د څېرې په رایادولو سره ئې په خپل زړه کې خاص حالت احساسوو او وایو: زړه مې ترې موړ دئ، زما په زړه کې هیڅ ځای ورته نه دئ پاته. یوه خبره واورې، سمه درته معلومه شي، فیصله دې دماغ کړې، د غوږ له لارې لومړی دماغ ته رسېدلې، هلته پرې غور شوی، خو د دې غور نتیجه په خپل زړه کې محسوسوې او له همدې کبله وایې: دا خبره مې زړه ته ولوېده، زړه مې راته وایي چې دا خبره رښتیا ده؛ او د غلطې خبرې په اړه وایې: زما زړه ئې نه مني، دا خبره مې زړه ته ونه لوېده، د زړه دړه مې ورته خلاصه نه شوه.

زړه ته د دې خبرو منسوبول داسې دي لکه موږ چې لېدل سترګو ته منسوبوو؛ حال دا چې سترګې فقط دوه عدسیې دي چې له دې لارې نور دماغ ته انتقالېږي، د لیدل شوي شي په اړه پرېکړه په دماغ کې کېږي، لیدل په حقیقت کې د دماغ کار دئ نه د سترګو، که ستا د دماغ هغه برخه صدمه وګوري چې کار ئې لیدل او د سترګو له لارې د وررسیدلو وړانګو په اړه پرېکړه ده؛ نو ته به په خپلو روغو سترګو هم څه نه شې لیدلی. همدا راز زموږ غوږونه په حقیقت کې دوه کړکۍ دي چې له دې لارې غږ تر دماغ پورې رسېږي، د غږ تشخیص د دماغ کار دئ نه د غوږونو؛ همدا رنګه زموږ نور حواس هم چې هر یو ئې یوازې د دماغ لپاره د یوې وسیلې حیثیت لري، خپل راپور دماغ ته انتقالوي، تشخیص د دماغ کار دئ، نه د دغو حواسو. خو هیڅوك داسې نه وایي چې ما په خپل دماغ سره لیدلې یا اورېدلې یا څکلې یا بوی کړې یا لمس کړې؛ که داسې خبره وکړې نو هر څوك به پرې خاندي؛ حال دا چې ده غلطه خبره نه ده کړې، د ده اشتباه او غلطي دا ده چې د خلکو د معمول او عادت خلاف خبره ئې کړې.

ما ته ووایئ: تاسو وېره چېرې احساسوئ؛ په زړه کې که په دماغ کې؟ د مینې احساس د خپل وجود په کومې برخې کې کوئ؛ په زړه کې که په دماغ کې؟ د یوې خبرې پر حقانیت د

قانع کېدو احساس مو په زړه کې وي که په دماغ کې؟ دا او دې ته ورته ډېر نور څه موږ په خپل زړه کې احساسوو او د همدې لپاره ئې زړه ته منسوبوو؛ قرآن همدا کار کړی او ټول انسانان همدا کار کوي. په قرآن کې زړه ته منسوب شوي امور نه يوازې د حقيقت او واقعيت مطابق دي بلکې د انسانانو د عام عادت او معمول سره سم او په ټولو ژبو کې زړه ته منسوب شوي امور دي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

د میثاق ایثار نشراتي اداره

کابل - دارالامان

Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷